اجمل الحواشی

پښتو شرح د


اُصُولُ الشّاشی

مؤلف

حضرت مولانا جمیل احمد صاحب سکرودوی

مترجم

مولوی محمد موسیٰ کلیم (انیس) (غفرلہ ولوالدیہ)



اجمل الحواشی

پښتوشرح د

اصول الشاشی

مؤلف

مولناجمیل احمد سکهروډوی استاذ دارالعلوم دیوبند

(مترجم: مولوی محمد موسی کلیم ﴿انیس﴾ (غفرله ولوالدیه)

خپرونکي

مکتبه یوسفیه کاسی رود کوټه

موبایل: ۰۳۲۱۸۰۲۸۹۳۰

دکتاب نوم		اجمل الحواشي پښتو
مؤلف		مولاناجمیل احمد سکهروړوی
ترجمه		مولوی محمّد موسی کلیم {انیس}(غفرله ولوالدیه)
خپرونکي		مکتبه یوسفیه کاسی روډ کوټه
تصحیح اوسمون		ابوخالدمولوی عبدالاحد«مجروح»

داجمل الحواشی دمضامینوفهرس

مقدمة

بسم الله الرحمن الرحيم

دهر علم تر شروع کولو مخکی دپنځو شیانو پیژندل ضروری دي له دې وجه نه باید داصول الشاشی تر شروع وړاندی پنځه شیان وپیژنو.
هغه پنځه شیان (۱) تعریف داصول الفقه (۲) غرض او غایه داصول الفقه (۳) موضوع داصول الفقه (۴) تدوین (ایجاد داصول الفقه (۵) د مصنف رحمه الله د ژوند حالات.
د تعریف پیژندل ضروری دی ځکه چی په تعریف سره شی پیژندل کیږی نو کله چی شی پیژندل شوی نه وی د هغه طلب کول ممکن نه ده ځکه دا مطلب د مجهول ده او طلب د مجهول محال ده.
او غرض پیژندل ځکه ضروری ده دپاره ددی چی طالب خپل مطلب حاصل کړی او په عبثو شیانو اخته نه سی.
او تدوین پیژندل ضروری ده دپاره ددی چی تدوین (ایجاد) وپیژندل شی او ددی علم تاریخی حیثیت وپیژندل شی.
او د مصنف رحمه الله د ژوند حالات ضروری دی ددې لپاره چی د مصنف رحمه الله له علمي استعداد څخه د کتاب د علم اندازه کیږي چی مصنف رحمه الله څومره اندازه استعداد لري کتاب ئی هم په هغه اندازه وي لکه په دې مشهوره مقوله کي (كَلَامُ الْمُلُوكِ مُلُوكُ الْكَلَامِ د پادشاهانو خبري د خبرو پادشاه دي) یعنی چی ویونکی په کومه اندازه عظیم وي کلام (خبري) به ئی هم په هغه اندازه عظیمي وي.
تعریف: تعریف داصول الفقه داده مَا يَتَبَيَّنُ بِهِ حَقِيقَةُ الشَّيْءِ اصول الفقه هغه شی ده چی په ده سره دشی حقیقت پیژندل کیږي.
موضوع: او موضوع مَا يُبْحَثُ فِيهِ عَنْ عَوَارِضِهِ الذَّاتِيَه موضوع دفن هغه شی ده دکوم شی له عوارض ذاتیه وۀ څخه چی په فن کی بحث کیږی.
غرض: غرض مَا يَصْدُرُ الْفِعْلُ عَنِ الْفَاعِلِ لِاَجْلِهِ غرض دفن هغه شی ده چی فاعل یی دفعل وکولو ته هڅولی وی.
غایه: غایه هغه شی ده چی دذی فعل کولو باندی مرتب وی دبیلګی په توګه لکه څوک چی بازار ته دقلم اخیستلو لپاره ولاړشی او قلم واخلی نو دغه تګ و بازار ته غرض شو او قلم اخیستل غایه شوه.
تدوین: دیو شی شیندل شوو اجزاء ته ترتیب ورکولو ته تدوین وایی.
حاصل د کلام داده دعلم اصول الفقه دوه تعریفه دی (۱) حدِّ اضافی (۲) حدِّ لقبی

حداضافي:دی ته وایي چي د مضاف ځان ته تعریف وکړي او د مضاف الیه ځانته تعریف وکړي او حدلقبي دی ته وایي چي د مضاف او مضاف الیه دواړو یو تعریف وکړي.

حداضافي:حداضافي داصول الفقه داده چي اصول جمع داصل ده او اصل په ډیرومعنی وؤ باندي راځي (۱)اصل هغه شي ته ویل کیږي چي هغه بنسټ (بنیاد) وي د دوهم شي لپاره مثلاً لکه دیوال چي اصل ده د بام لپاره او همدارنګه لکه پلارچي اصل ده داولاد لپاره.

(۲) دوهم په معنی د راجح سره ده لکه په دی مثال کی اِنَّ الاصلَ فِی الاستعمالِ الحقیقۃُ په مخ ګرزولو کښي مخاخ کیدل راجح اصل ده.

(۳)دریيم په معنی د قاعدی کلیه مثال ئی لکه اِنَّ الفاعِلَ اصلٌ من النحو دفاعل مرفوع والی دنحوی اصل (قاعده ده.

(۴)په معنی دحجت دلیل سره ده مثال ئی لکه اِنّ اٰتُوالزّکوۃَ اَصلُ وُجوبِ الزّکوۃِ(ان اتوالزکوة) دا قول دخدای اصل (دلیل) ده دزکوة دوجوب لپاره.

(۵)په معنی د استصحاب سره ده استصحاب دیو شي اوسنی حالت پرمخکنی حالت قیاس کولو ته وائی مثال ئی لکه طَهَارَۃُ الماءِ اَصلٌ یعنی داوبو موجوده حالت باید پراولنی حالت باندی قیاس شي لکه څنګه چي اوبه ولوښی ته دورلیدلوپه وخت کی پاکی وی اوس هم پاکی دی مګردغه اوسنی حالت به ئی داسی حالت وی چي داوبوبه پاکی اوناپاکی دواړه معلومه نه وی که چیری په یو طریقه سره داوبوناپاکی معلومه شي بیا یی دغه حالت پر اول حالت باندی نه قیاسیږی.

او فقه دأحکاموشرعیه فرعیه وؤ هغه علم ته ویل کیږي چي داحکامولـه تفصیلي دلائلوڅخه حاصل وی دکوموا حکامو تعلق چي له عمل سره وی هغوته احکام فرعیه ویل کیږی .اوچي تعلق ئی له اعتقاد سره وی هغو ته احکام اصلیه ویل کیږی،

دسیدالمجتهدین امام اعظم ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ په نز دحلال اوحرام جائزوناجائز پیژندلوته فقه ویل کیږی،اودصوفیاءکراموپه نزد علم اوعمل ته فقه ویل کیږی.

حدلقبي :اوحدلقبي داصول الفقه داسی ده چي اصول الفقه دداسی قواعدو دپیژندلونوم ده په کوموقواعدوسره چي استنباط (راایستل) داحکاموشرعیه وو کیږی یعنی دکومو قواعدوپه ذریعه چي پراحکاموشرعیه باندی علم راځي هغه قواعد اصول الفقه دي.

دوهم :دوهم شي غرض داصول الفقه ده غرض ئی داحکاموشرعیه وؤ پیژندل په تفصیلي دلائلوسره ده اوهمدارنګه دهغوقواعدوپیژندل ده چي په هغو سره استخراج د مسائلو کیږی.

دریيم :موضوع داصول الفقه ده په دی کښي دری قوله دي.

(۱) اول داده چې داصول الفقه موضوع صرف دلائل دی .(۲)دوهم داده چې صرف احکام دی دریيم داده چې دلائل او احکام دواړه د اصول الفقه موضوع دی ،په دی درو قولونو کښی دریيم قول ته ترجیح ورکړه شوی ده.

څلورم :څلورم شي تدوین دفقه . ده دفقه تدوین چاکړی ده اوڅنګه یی کړی ده د فقه تدوین (ایجاد)فقهاء مجتهدینو کړی ده دوی د اجتهادی مسائلولپاره اصول اوضوابط کیښودل او د خپل اجتهاد مطابق ئی د مسائلو استناط وکی.

همدارنګه رئیس الاذکیاء امام الا تقیا سید المجتهدین امام اعظم امام ابوحنیفه رحمه الله چې اول مدوین(ایجادکونکی) داصول الفقه ده دفقه د تدوین سره سم داصول الفقه بنیادهم کیښودی. لکه څرنګه چې دنوموړی شاګردانو لکه حضرت امام ابویوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله پراصول الفقه باندی ډیرکتابونه لیکلی دی اود دوی څخه وروسته حضرت امام شافعي چې وفات یی په سنه ۲۰۴کې شوی ده پراصول الفقه باندی یوه رساله ولیکله چې په اصل کې دغه رساله دنوموړی دکتاب الأم لپاره مقدمه ده . او ددی نه بعد اسلامی علماء پراصول الفقه باندی ډیرکتابونه لیکلی دی اودافن یی مکمل (پوره) کی.

پنځم :پنځم شی د مصنف رحمه الله دژوند حالات دی .مصنف رحمه الله یوله هغو مخلصواوبزرګانو څخه ده چې هغه دډیرولویولویو کارونه په کولو سره هم خپل نوم نه ذکر کوی تاسووینی چې مصنف رحمه الله په اصول الفقه کښي څومره اهم کتاب لیکلی ده لیکن خپل نوم ئی په حیث دمصنف رحمه الله نه ده ښکاره کړی همداوجه ده چې تردی وخته هیڅ یوسړی ته دده نوم یقینی معلوم نه ده البته بعض علماء دومره ویلی دی چې دمصنف رحمه الله نوم اسحاق دي اودپلارنوم یی ابراهیم ده د سمرقند ده اوپه سمرقندکښی دشاش وؤ وفات ئی په سنه ۳۲۵په مصر کې شوی ده اوهلته یی خاورته سپارلی ده.

اودکشف الظنون مصنف رحمه الله دنوموړی نوم نظام الدین شاشي ښودلی ده اوده داهم ویلي دی چې دکتاب نوم (کتاب الخمسین) ده وجه تسمیه یی داده چې مصنف رحمه الله ددی کتاب د لیکلوپه وخت کښی پنځوس کلن وؤ نوځکه یی دکتاب نوم خمسین کیښودی او بعضویی دتسمیه وجه داسی بیان کړی ده چې دا کتاب مصنف رحمه الله په پنځوس ورځی کی مکمل کی نوځکه نوم دکتاب خمسین کیښودی .اوشاش دماوراء النهر دیوښارنوم ده دمصنف رحمه الله وطن ده لیکن کله چې مصنف رحمه الله دخپل کتاب نسبت ورته وکړ نوددی په وجه داکتاب په اصول الشاشي سره مشهورشو اوهمدارنګه امام بخاری دخپل کتاب بخاری نسبت وخپل وطن بخاراته کړی اوپه هم دی مشهورشو او همدارنګه امام ترمذی امام بیضاوی دانسبت کړی چې ترمذ اوبیضاء ته منسوب دی.

د مصنف رحمۃ اللہ علیہ دژوند حالات بیان کول گران کارده ځکه چې دده دژوند حالات یقیني معلوم نه دي چې یقیني معلوم نه شي نوبیان کول یې گرانه خبره ده لیکن دکتاب د کره کتنې څخه دا معلومیږي چې مصنف رحمۃ اللہ علیہ تکړه اوپیاوړی عالم وو اوپه فقه حنفي کښې ئې ډیر معلومات ترلاسه کړي وو اومصنف رحمۃ اللہ علیہ په ډیره کوتاه طریقه سره د احکام شرعیه د استخراج او استنباط اصول له دلائل اربعه وو څخه بیان کړي دي اودهر اصل لپاره ئې مثال اینبی دي ددی لپاره چې طالبان له دي اصولو څخه دفروع راخیستل په ښه طریقه سره وکړي ، .

حاصل دکلام دادی چې د اصول الشاشي له کره کتنې څخه دا اندازه کیږي چې ددی کتاب مصنف رحمۃ اللہ علیہ دڅومره فضل اوکمال خاوند دی ، .

لکه یوه هندی شاعره چې وایي ،

(درسخن مخفی منم چون بوی گل دربرگ گل +هرکه دیدن میل دارد درسخن بیند مرا)

زه په خپل کلام کښې پټ یم لکه دگل بوی چې د گل په پاڼه کښې پټ ده که څوک زما دلیدلو شوق لري زما په کلام کښې دی ما وگوری مطلب داکه څوک غواړي چې داصول الشاشی د مصنف رحمۃ اللہ علیہ علمي مرتبه ځانته معلومه کړي نوهغه دی د اصول الشاشی کره کتنې وکړي چې دمصنف رحمۃ اللہ علیہ علمي مرتبه ورته څرگنده شي.

دکتاب خطبه

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحمد الله اَلّذی اعلی مَنزِلَة اَلمُؤمِنینَ بِکَرِیم خِطَابِهٖ وَرَفَعَ دَرَجَةَ العَالَمِین بِمَعَانی کِتَابِهٖ وَخصَّ المُستَنبِطِین مِنهم بِمزِید الاصابة وثوابه -

ژباړه: ټول صفات هغه خدای لره دی چی پورته کړي ئی ده مرتبه دمؤمنانو په خپل عزتمند خطاب سره اوپورته کړی ئی ده درجه دعلماؤ په معنی ګانو دقرآن او خاص کړي ئی دي مجتهدین علماء په رسیدلو وحق ته او په زیات ثواب سره.

تشریح:مصنف رحمۃ اللہ علیہ دخپل کتاب اصول الشاشی شروع په بسم الله اوپه حمد سره وکړه له درو وجهو اوله وجه داده چی له قرآن سره ئی موافقت وکی دقرآن عظیم الشان شروع په بسم الله اوپه حمد سره وه ده هم دخپل کتاب شروع په بسم الله اوپه حمد سره وکړه .دوهم داچی په حدیث د نبی کریم ﷺ بیی عمل وکړی ځکه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی کُلُّ اَمرٍ ذِی بَالٍ لَم یُبدأ فِیه بِبِسم الله فَهُوَ اَبتَر او په بل حدیث کښی دبسم الله پرځای بِحَمدِالله اَقطَع وَاَجذَم راغلی ده او دریمه وجه ئي داسلافو طریقه اختیارول ده لیکن دلته یو سوال واردیږی

سوال:سوال داده چی په بسم الله اوپه حمد سره شروع څنګه کیدی شی؟ ځکه شروع خودی ته وائی چی یوشی ترټولو مخکی ذکرکی اوترټولو مخکی خو صرف یوشی ذکر کیدای شی دوه نه شی ذکر کیدای او حال داده چی مذکوره حدیث لکه څنګه چی دبسم الله په شان کی وارد دی همدارنګه دحمد په شان که هم وارد ده نو څنګه کیدای شی چی په دواړو حدیثو سره عمل وشی ؟

جواب:ددی سوال جواب داده چی ابتداء شروع دری قسمه ده اول ابتدأ حقیقی ده دویم ابتدأ اضافی دریم ابتدأ عرفی حقیقی دی ته وایی چی یو شی ترټولو مخته ذکرکی اوترده مخته هیڅ شی هم نه وی او اضافی دی ته وائی چی یو شی تربل شی مخته ذکرشی خواه که ترده مخته بل شی وی اوکه نه وی اوعرفی دی ته وایی چی یوشی ترمقصود مخته وی که څه هم غیرمقصود ترده مخته وی.نودلته موږ حدیث دبسم الله حمل کوو پرابتدأ حقیقی باندی اوحدیث دحمد پرابتدأ اضافی باندی اویادواړه حمل کوو پرابتدأ عرفی باندی ځکه چی بسم الله اوحمد دواړه پر مقصود مقدم دی.

سوال: بسم الله ئی ولی مخته کړه پرحمد باندی ؟

جواب: جواب داده چی بسم الله کی ذکر دذات دخدای پاک ده اوپه حمد کښی ذکرد وصف ده ذات خومقدم وی پروصف نوځکه بسم الله چی مشتمله پرذات وه مخته ئی کړه پر حمد باندی چی مشتمل پروصف ده.

دبسم الله (با) د استعانت (کومک غوښتل) لپاره هم کیدی شی او د تیمن لپاره هم او لفظ الله دهغه ذات لپاره نوم ده چې هغه ټولو صفاتو کمالیه وو لره جامع وی او ازلي او ابدی وی یعنی نه ئی ابتدأ وی او نه يې انتهاء وی او د رحمان اوالرحیم معنی احسان کونکی او فضل کونکی.

الحمد دغه الف لام دجنس لپاره هم کیدای شی او استغراق لپاره هم کیدای شی دالف لام اصلی تقسیم داده چې الف لام دوه قسمه ده اول اسمی دویم حرفی.

الف لام اسمی هغه ده چې پر اسم فاعل او اسم مفعول باندی داخلیږی او په معنی دالذی ده اوبیا الف لام حرفی دوه قسمه ده اول زائد دویم غیرزائد.الف لام زائد هغه ده چې پرعلم اسم باندی داخلیږی مثال ئې الحسن الحسین.اوبیا الف لام زائد څلورقسمه ده یوجنسی ده دویم استغراقی ده دریم عهدذهنی ده څلورم عهدخارجی دلیل دحصر ئی داده الف لام به له دو حالتوخالی نه وی یا به دده مدخول حقیقت او ماهیت وی اویابه افرادوی که اول وو نوالف لام جنسی ده اوکه دوهم وو بیا له دوو حالتوخالی نه ده یابه یې مدخول ټول افراد وی اویابعض که يې ټول افرادمدخول وو نو استغراقی ده اوکه بعض افرا دمدخول وو دابه هم له دوو حالتوخالی نه وی یابه دغه بعض معلوم وی اویا به نه وی معلوم که معلوم وو عهدخارجی ده اوکه نه وو معلوم عهدذهنی ده دالف لام جنسی مثال الرجل خیر من المراۃ په دی مثال الرجل اوالمرأۃ دجنس لپاره ده او دا استغراقی مثال إِنَّ الإنسَانَ لَفِی خُسْرٍ دلته دالانسان الف لام داستغراق لپاره ده دعهدذهنی مثال خَافُ أَن یَأْکُلَهُ الذِّئْبُ دلته دالذئب الف لام دعهدذهنی لپاره ده اوعهدخارجی مثال فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ دلته الرسول الف لام دعهدخارجی لپاره ده.

حاصل : حاصل دکلام دادی چې الف لام په لفظ دالحمدکښی دجنس لپاره هم کیدای شی اودا استغراق لپاره هم کیدای شی دجنس په صورة کی معنی داسی ده جنس دحمد او حقیقت دحمد الله ﷻ لره ثابت ده او د استغراق په صورة کی ئی معنی داسی ده ټول افراد دحمد الله ﷻ لره ثابت دی ځکه چې څومره خیرچې بنده ګانوته ورکړشوی ده هغه الله ﷻ ورکړی که باالواسطه دی اوکه بلاواسطه لکه الله ﷻ چې فرمائی وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ کوم نعمتونوچی تاسوته درکړی شوی دی هغه الله ﷻ درکړی دی.

تعریف دحمد : دحمد دوه تعریفه دی یو ئی لغوی تعریف ده اوبل ئی اصطلاحی تعریف ده لغوی داده چې حمد په لغت کښی صفت کولو اودیوچانیک اوصاف بیانولوته ویل کیږی اوپه اصطلاح کښی هوالثناء باللسان علی جمیل الاختیاری من نعمة اوغیرها بجهة التعظیم یعنی دیوچاه نیک صفت بیانول داسی صفت چې هغه دده په اختیاروی که په بدل دنعمت کښی وی او که نه وی لیکن دتعظیم په طریقه به وی.

او مدح هم دنیکو افعالو ذکرکولو ته وایی لیکن هغه دا شرط نه لری چی دغه افعال به دفاعل په اختیارکی وی.

شکر : دشکرلغوی تعریف داده فعل ینبیء عن تعظیم المنعم معنی شکرهغه کارده چی دمنعم نعمت ور کونکی دتعظیم لپاره شوی وی او اصطلاحی تعریف یی داده جمیع ما انعم الله به الی ما خلق لاجله معنی دالله ﷻ ټول نعمتونه په خپل ځای کښې استعمالول :یعنی دکوم مقصدلپاره چی درکړشوی په هغه کښې استعمالیدلو ته په اصطلاح کښې حمد ویل کیږی.

دحمد او دمدح فرق : دحمد اومدح په منځ کښې عموم اوخصوص مطلق ده یعنی حمد خاص مطلق ده اومدح عام مطلق ده که چیری حمد وو هغه مدح هم ده لیکن دانه ده ضروری چی که مدح وه نوحمدبه هم وی مثلاته ویلای شی مدحت خالدا علی حسنه مادخالددحسن (ښائستوب) مدح وکړه اوداسی نه شی ویلای حمدت خالدا علی حسنه ما دخالددحسن حمدبیان کړی ځکه حسن غیراختیاری شي ده په غیراختیاری شي سره دچاحمد نشي کیدای.

د حمد اوشکر فرق : دحمداوشکرپه منځ کښې عموم اوخصوص من وجه ده عموم اوخصوص من وجه هغه نسبت ده چی من وجه عام وی اومن وجه خاص وی او دامعنی په حمد اوشکرکښې شته ځکه چی حمددمتعلق په اعتبارسره عام ده اود مورد په اعتبارخاص ده او شکردمتعلق په اعتبارسره خاص ده اودموردپه اعتبارسره عام ده اوعموم اوخصوص من وجه دری مادی غواړی یومثال داسی ده چی په هغه کښې حمد اوشکردواړه وی لکه یوسړی بل سړی ته میلمستیاوکړی اومیلماپه ژبه سره دکور والا نیک اوصاف بیان کړی داحمد ده ځکه په ژبه سره ده اوشکر هم ده ځکه په مقابله دنعمت کی ده اودویم مثال لکه یوځوک چی دبل سړی نیک اوصاف په ژبه سره بیان کړی دنعمت په مقابل کی نه وی داحمد ده اوشکر نه ده او دریم مثال لکه یوسړی چی بل دعوت کړی او دی دداعی (بلونکی)تعظم په لاس یا په بل اندام سره وکړی شکرده اوحمد نه ده .اوهمدافرق دحمداودشکرپه منځ کښې معنوی ده اولفظاً ددوی فرق داسی ده چی حمدمقابل دذم ده ځکه حمدنیک اوصاف بیانولو ته وایی اوذم بداوصاف بیانولوته وائی ښه اوبد ظاهراً سره مقابل دی اوشکرمقابل دکفرده ځکه شکراظهاردنعمت ته ویل کیږی اوکفرکتمان (پټول) دنعمت ته ویل کیږی ښکاره اوپټ ظاهراً مقابل دی .الذی الذی اسم موصول ده اسم موصول دی ته وایی چی بغیرصله دجملی جز(حصّه) نه واقع کیږی اعلی اخذ (اخیستل) یی له اعلا څخه شوی ده دلوړوالی په معنی ده مؤمنین له مؤمنین څخه مخلص مسلمانان مراد دی کریم دی لره ډیری معنی وی دی اول شریف دویم غریب ته خیرات ورکونکی دریم چی لرشی ځنی وغواړی ډیروورکوی مطلب داچی کریم هرهغه شی ته ویل کیږی چی خیراونفع ئی ډیره وی لکه کتاب کریم رزق کریم

بکریم خطاب اضافت د کریم وخطاب ته اضافت دصفت ده وموصوف ته اصل عبارت داسی ده بخطاب کریم لکه اضافت دجر دقطفة (زوړ څادر) دلته هم اضافت دصفت وموصوف ته ده اصل عبارت ئی داسی ده قطفة جرد اوس ترجمه ددی عبارت داسی شوه چی پورته کړی ده الله ﷻ مرتبه دمؤمنانو په خپل کریم خطاب سره اوپردی باندی دلیل داقول دخدای ﷻ ده وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ تاسو به سرلوړی یاست ترڅو چی تاسي مخلص مؤمنان یاست اوخطاب ئی موصوفه په کریم سره کی دپاره ددی چی خطاب دکفاروته شامل نه شي رَفع په معنی دلوړوالی سره ده دَرَجه په معنی دمرتبی سره ده عَالِمِين جمع دعالم ده اوله دی څخه مطلق علماء نه دی مراد بلکه هغه علماء مراد دی چی عالم وی په معانی وو دقرآن ځکه هغه عالم چی هغه په معنی وو دقرآن علم نه لری هغه ته په شریعت کښي عالم نه ویل کیږی اود دارنګه عالم فضیلت نه په قرآن کښی بیان شوی ده نه په احادیثو کښی اوکوم علماء چی علم لری په معانی وو دقرآن هغه به په علم فقه اوعلم حدیث باندی عالمان وی ځکه چی احادیث تفسیر دقرآن دی.

لکه امام شافعی رحمه الله چی وایی كلما حكم به رسول الله فهو مما فهمه من القرآن کم څه چی رسول الله ﷺ بیان کړی دی هغه ئی له قرآن څخه رااخیستی دی.

أعلى منزلة المؤمنين ورفع درجة العلمين مصنف رحمه الله په دی عبارت سره مقصد اشاره ودی قول دالله ﷻ يَرْفَعَ الله الذين أوتوا العلم درجات مستنبطين ددی څخه مراد مجتهدین دی مصنف رحمه الله دوی خاص کړو په اصابت حق اوپه زیادت ثواب سره یعنی دمجتهدینو اصابت (رسیدل وحق ته) هم زیات ده اوثواب ئی هم زیات ده ، اصابت حق یی له دی وجه زیات وی چی د دوی غلطی ډیره لږ وی ځکه چی داجتهاد په وجه ټول احکام مخته رازی اوخلګوته آسانتیاوی پیدا کیږی هم داوجه ده چی داجتهاد سره دالله ﷻ نصرت شامل وی او اکثر اجتهاد صحیح وی.او کم چی غیر علماء دی هغه دارنګه نه دی بلکه دهغو غلطی ډیره وی اومجتهد ته زیادت ثواب له دی وجه ورکړی شوی ده چی که دی په اجتهاد کښي غلط شی هم الله ﷻ یوه نیکی ورکوی اوکه صحیح اجتهاد وکړی بیا دوی نیکی ورکوی یوه صرف داجتهاد (کوشش) په وجه اودویمه د صحیح اجتهاد په وجه اوغیرمجتهد که غلطه مسئلة ورکړی ثواب خو نشته بلکه ګناه ده.

لکه چی په حدیث شریف کښی هم راځي مَن أفتى بغير علم كان إثمه على من افتاه که څوک په مسئله باندی علم نه لری اوفتوی ورکړی ګناه ئی پرفتوی ورکونکی باندی ده.

فائده : مصنف رحمه الله دعامو مؤمنانو لپاره اعلی راوړه چی فعل ناقص ده دَی ته اشاره ده چی د دوی درجه ترعلماءُ او مجتهدینو کښته ده اودعلماء لپاره صحیح فعل راوړی چی رَفَعَ ده دی ته

اشاره شوه چې د دوی درجه ترعامو مؤمنانو لوړه اوتر مجتهدینو کښته ده او مجتهدینو لپاره فعل مضاعف راوړی دی ته اشاره ده چې د دوی درجه ترعامو مؤمنانو او علماءُ دواړو لوړه ده..

وَالصَّلٰوةَ عَلَی النَّبی وَأَصحابه وَالسلامُ علی ابی حنیفة وَأَصحابه-

ژباړه: نزول درحمت دی وی پرنبی ﷺ باندی اودده پراصحابانو باندی اوسلام دی وی پر امام ابو حنیفه رحمه الله علیه اودده پر شاګردانو باندی.

تشریح: دصلوة لغوی معنی دُعا ده لکه په دی قول دالله ﷻ وَصَلِّ عليهم ان صلوتك سَكَنٌ لهم ته ددوی په حق کښي دُعا کوه ځکه ستادُعا ددوی لپاره دآرام اوسکون ذریعه جوړیږی ، اوهمدارنګه لفظ دصلوة په معنی د دُعا سره ده په حدیث کی إذادُعی احدکم الی طعام فلیجب فان کان مفطرافلیاکل وان کان صائما فلیصل کله چې تاسو میلمستیا ته وغوښتل شی نوورشی که موروژه نه وه میلمستیا ورسره وخوری اوکه موروژه وه بیا دُعاورته وکړی.

لیکن بیا د مجازمرسل په طریقه سره په ارکان مخصوصه وو کښی استعمال شو په علاقه د کلیت اوجزئت سره ځکه دُعاجز له ارکان مخصوصه وو څخه ده .او بعض علماء بیا داسی وایی چې که صلوة د الله ﷻ له جانبه وو بیا په معنی د رحمت سره ده اوکه دملائکه وو له جانبه وو بیا داستغفارپه معنی ده اوکه د مؤمنانوله جانبه وو بیا د دُعا په معنی سره ده اوکه دطیور (مرغان) له جانبه وو بیا دشبح په معنی ده.

علی النبی: دنبی اورسول څه فرق ده ؟ دجمهوروعلماء مذهب داده چې دنبی او رسول په منځ کښي فرق نشته دلیل ئی داده چې که یوڅوک دا ووایي امنتُ بالله وملائكة وكُتُبِهٖ وَرَسُوله دی سړی ته داویل کیږی چې دغه سړی پرټولوانبیاءُ اورسولانوایمان راوړی ده اودلته لفظ رسول ذکرده نومعلومه شوه چې درسول اطلاق پرنبی اورسول دواړو باندی کیدای شی .اوبعض علماء وایی چې درسول اونبی په منځ کښی فرق شته دلیل یي دا قول دالله ﷻ ده وَمَاأَرسَلناكَ من قبلك من رَّسُولٍ ولانبيّ په دی آیات شریف کښي نبی عطف شوی ده پر رسول باندی اوعطف داتقاضی کوی چې معطوف غیرده له معطوف علیه څخه اوس دلته یوسوال کیږی.

سوال: کله چې دنبی اورسول ترمنځ فرق راغی نورسول چاته ویل کیږی اونبی چاته ویل کیږی.

جواب: بعض علماء داوائی چې رسول هغه ده چې مستقل شریعت لری اونبی هغه ده چې مستقل شریعت نه لری او دده متبع وی ،اوبعض علماء داوایی چې رسول هغه ده چې پرده کتاب نازل شوی وی اونبی هغه ده چې کتاب نوی باندی نازل شوی.

اوبعض علماء داوایی چې رسول هغه ده چې حضرت جبرائیل علیه السلام په ښکاره وحی ورته راوړی اونبی ته یی په خوب کښی راوړی اویا دپردی شاته.

سوال : مصنف رحمہ اللہ ولی لفظ دنبی ذکرکی اورسول یی ذکرنہ کی ؟

جواب : ددی سوال لپارہ یوجواب دادہ چی مصنف رحمہ اللہ دقرآن عظیم الشان اتباع کړی دہ لکہ پہ آیۃ شریف کی إِنَّ اللّٰہَ وَمَلٰٓئِکَتَہٗ یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ دلتہ اللہ جل جلالہ نبی ذکرکړی دہ.

دوھم جواب : دادہ چی نبی خاص دپیغمبرلپارہ استعمالیږی اورسول دپیغمبرنہ بغیرد بل چالپارہ ھم استعمالیږی لکہ پہ قول داللہ جل جلالہ کی إِنَّہٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ کَرِیْمٍ دلتہ رسول لفظ دحضرت جبرئیل علیہ السلام لپارہ استعمال شوی دہ نوکلہ چی داسی شو چی نبی خاص دہ رسول مشترک دہ نودتعریف پہ موقع کښی باید غیرمشترک مُستعمل شی ھم داوجہ دہ چی مصنف رحمہ اللہ لفظ دنبی استعمال کړی اورسول یی استعمال نہ کړی.

اصحاب یا جمع دصاحب دہ لکہ اطھارجمع دطاھردہ اویاصَحْبٌ جمع دہ لکہ انھار چی دنھرٌ جمع دہ اویا دصحبٌ جمع دہ لکہ انمارچی دنمِرٌ جمع دہ اویا دصحیبٌ جمع دہ لکہ اشرافٌ چی دشریف جمع دہ.

صحابی تعریف : صحابی ھغہ چاتہ ویل کیږی چی ھغہ نبی کریم ﷺ لیدلی وی اوایمان یی باندی راوړی وی اوپرھغہ ایمان باندی وفات شوی وی.

ابوحنیفہ دا د امام اعظم رحمہ اللہ اسم کُنیہ دہ اوددہ نوم مبارک نعمان دہ اودپلارنوم یی ثابت دہ امام اعظم تابعی دہ داخبرہ پہ سندرسیدلی دہ ھیڅ شک ھم نشتہ پکښی ځکہ دہ مبارک دہ حضرت انس رضی اللہ عنہ اوداسی نوروصحابوکرامو څخہ روایت کړی دی.

حاصل دکلام :حاصل دکلام دادہ چی دخیرالقرون څخہ دہ یعنی دتابعینودزمانی دہ اودی زمانی تہ نبی کریم ﷺ خیرالقرون ویلی دی نوموړی دډیربنہ علم اوتقوی خاندوو ددہ علم لہ دی واقع څخہ بنہ څرګندیږی چی خطب بغدادی پہ خپلہ رسالہ اکمال فی اسماء لرّجال کی لیکلی دی چی امام شافعی یوځل لہ امام مالک نہ تپوس وکړ چی تا ابوحنیفہ رحمہ اللہ لیدلی وو امام مالک ورتہ وویل ھومایوداسی شخص لیدلی دی چی کہ ھغہ ددی ستنی پرسوناوالی باندی دلائل پیش کړی نوثابتہ بہ ئی کړی اودتقوی اندازہ یي لہ دی واقعی څخہ بنہ معلومیږی ھغہ دا چی یوځل دعبداللہ بن مبارک پہ مخ کښي دامام اعظم ذکروشو دہ مبارک وویل چی دا داسی شخص دی چی کہ ټولہ دنیا ددہ پہ مخ کی کیښودل شی نودی بہ ئي قبولہ نہ کړی اوامام غزالی ویلی دی چی داسی روایات شتہ چی امام اعظم ابوحنیفہ دشپی نیمایی برخہ پہ عبادت تیرولہ.

یوځل امام صاحب پریوہ لارروان وو یوسړی خپل ملګری تہ امام صاحب پہ ګوتہ کړ او وہ یي ویل ھذا ھوالذی یحی کل الیل داھغہ څوک دہ چی ټولہ شپہ پہ عبادت رنوی امام صاحب چی داخبرہ واوریدلہ اولہ دی نہ وروستہ یی داعظم اوقصد وکړچی ټول شپہ پہ عبادت رنوم. اولہ ځان سرہ ئي داوویل

چی ماته په دی خبره شرم دریږی چی خلق پرما دیوشی گمان کوی او هغه له زما سره نه وی. احبابه له دی څخه مراد دده شاگردان او استادان اودده هم عصره دی.

والسلام علی ابی حنیفه پردی عبارت یو سوال کیږی لیکن ترسوال مخکی دڅه تفصیل ضرورت شته هغه داده چی صلوة، سلام، رحمة الله، رضی الله عنه. دا څلورکلمی دډعالپاره دی د اول چی صلوة ده استعمال یی دانبیاءُ اوملائکه لپاره د دوی نه بغیردبل چاه لپاره ئی استعال د جمهورو پرمذهب جائزنه ده او بعض حرام ورته ویلی دی لیکن دا هغه وخت چی

مستقل وربانده وویل شی اوکه چیری په طبع [په ځنگ] دنبی یا ملائکه کی وربانده وویل شی جائز ده لکه داسی چی وویل شی صَلِّ علی محمد واله واصحابه اوکه داسی وویل شی اللهم صل علی ابی بکر دارنگه ویل جائزنه دی.

سوال: اوس که څوک سوال وکړی چی صلوة په معنی درحمت ده اورحمت دُعاده بیا ولی ئی پرغیرنبی اوملائکه باندی مستقلاً ویل ناجائز دی.

جواب: ددی سوال جواب داده چی ددارنگه کلمات استعمال توقیفی ده موږته دانه ده رسیدلی چی اسلاف صلوة پرغیرنبی اوملائکه باندی مستقل ویلی ده لکه دعزوجل لفظ چی خاص ده ترالله پوری دبل چا لپاره نسی استعمالیدی.

سوال لفظ صلوة نبی کریم ﷺ د غیرنبی لپاره استعمال کړی ده څکه نبی کریم ﷺ داسی ویلی دی اللهم صل علی ال ابن اوفی دلته نبی کریم ﷺ پرآل د ابن اوفی باندی صلوة ویلی ده. **جواب**: ددی سوال جواب داده چی دا دنبی کریم ﷺ خصوصیت ده دی کولای شی چی دغیرنبی لپاره صلوة مستقلاً استعمال کړی لیکن بل چالره ددی اجازه نشته.

اوهمدارنگه لفظ د سلام دغیرانبیاء لپاره مستقلاً [ځانته] نشی استعمالیدای اوکه څوک داسی ووايي قال ابوبکرعلیه السلام دا ناجائزه ده اوهغه سوال ته راځو چی څه وراندی موږ دامو ږ دهغه ذکروکړ

سوال: کله چی دلفظ صلوة اوسلام استعمال دغیرنبی لپاره مستقلاً ناجائزه وو ولی مصنف رحمه الله پرامام ابوحنیفه رحمه الله باندی مستقلاً سلام ووایو ؟

جواب: امام شافعی رحمه الله په خپل تاریخ کښی داسی لیکلی دی چی په لفظ دصلوة کښی دا اختلاف چی ایا دا دغیرنبی اوملائکه لپاره مستقلاً استعمالیدای شی اوکه نه ؟ بعض علماء وایي چی داجائزه ده. اوبعض علماء وایي چی داجائزنه ده کوم علماء چی د نه جواز قول کوی هغه وایي چی صلوة لفظ دانبیاء اوملائکه لپاره خاص ده اودصحابه کرامو رضی الله عنهم او اولیاء وو علماء لپاره خاص ده او رحمة الله دهغومؤمنانولپاره خاص ده چی ترصحابی اوولی اوعالم په درجه کی کم وی اوعفی الله عنه دگنهگارانو لپاره خاص ده.

اوسلام دصلوة،او د رضی الله عنه، په منځ کی ده یعنی ترصلوة ئي درجه کښته ده او تر رضی الله عنه یی درجه لوړه ده د داسی چالپاره استعمالیږی چی مینځی درجه لری لکه هغه خلک چی ددی په نبوت کی اختلاف وی لکه لقمان ،خضر،ذوالقرنین، داترهغوانبیاء چی ددوی نبوت اتفاقی وی په درجه کښته دی اوترصحابه کرامو په درجه کی لوړ دی د داسی خلکو لپاره د سلام لفظ استعمالیږی.

مصنف رحمه الله د هغوعلماءُ مذهب اختیارکړی ده چی دوی صلوة اوسلام مستقلاً ویل باندی جائز بولی.

جواب : دوهم جواب داده چی مصنف رحمه الله د حضرت امام اعظم سره ډیرمحبت درلودی د هغه محبت په وجه ده د قلم له څوکی لفظ دسلام بی اختیاره ووتی.

وَبَعْدُ فَاِنَّ اُصُوْلَ الْفقه اَرْبَعَة كتابُ الله تَعَالى وَسُنَّةُ رَسُوله وَاِجْمَاعُ الأمَّةِ وَالقِيَاسُ فَلاَ بُدَّ مِنَ الْبَحْثِ فِى كُلِّ وَاحِدمِنْ هذه الْاَقْسَامِ لِيُعْلَمَ بِذَالِكَ طَرِيقُ تَخْرِيجِ الْاَحْكَامِ.

ژباړه:وروسته له حمد اوله صلوة اصول الفقه څلورشیان دی(۱)کتاب الله تعالی(۲) سنت رسول الله (۳) اجماع أمت (۴) قیاس

ددی هریوه څخه بیان کول ضروری ده دپاره ددی چی په دی بیان سره د احکام شرعیه د استنباط طریقه معلومه شی.

تشریح :وَبَعْدُ د لفظ دوبعد واو دعطف لپاره ده ددی واو په ذریعه جمله فعلیه من حیث المعنی چی بعد آه ده عطف شوه پرجمله فعلیه من حیث المعنی چی الحمد اه دا دواړه جملی من حیث المعنی فعلیه دی نه لفظاً څکه معني دعبارت داسی راځی اَحْمَدُالله وَاُصَلِّی وَاُسَلِّمُ ،واقول بعدالحمد والصلوة والسلام ان اصول الفقه .فَاِنَّ دغه فی لپاره د جزاده چی دجزاءلپاره شوه نوبه یادامّا محذوفی جواب وی چی تقدیردعبارت یی داسی ده امّابعد فانّ اصول الفقه امّا شرط شوه فائی جزاء شوه .امّاحذف شوه واوئی پرځای ودریدی ،اویا د اذا محذوف لپاره جزاء ده تقدیر دعبارت یی داسی ده اِذَافرغتُ من الحمدوالصلوة فاقول اِن اصول الفقها، او فالله هوالولی دافی هم دجزاء لپاره ده شرط محذوف ده تقدیردعبارت داسی ده ان ارادوا ولیا بحق فالله هوالولی که دوی دحق ولی (سرپرست)اراده لری نوالله حق ولی ده .دبعدُ اوقبلُ لفظ دظرف زمان، اوظرف مکان دواړولپاره استعمالیدلای شی دزمان لپاره لکه په دی مثال کی الغدبعداليوم (صباح راتلونکی له نن څخه وروسته ده اليوم قبلُ الغد(دنن ورځ ترصباح راتلونکی مخکی ده)،اودمکان مثال داری بعد دارك (زما کورستاترکورروسته ده)داری قبل دارك (زماکورستاترکور مخته ده)قبل اوبعد لره دری حاله دی(۱)داچی ددوی مضاف الیه ذکر وی (۲)داچی ددوی مضاف الیه نیساً منساًحذف کړشوی وی(۳)داچی ددوی مضاف الیه لفظاً حذف

وی او په نیت کی باقی پاته وی په او لودو حالتو کښی قبل او بعد دواړه معرب وی په عوامل سره او په دریمه حالت کښی مبنی پرضمه وی لیکن پردی باندی څو سواله کیږی
(۱) دا چی قبل او بعد خودواړه اسم دی او اصل په اسم کی اعراب ده باید معرب شی
(۲) دوهم دا که چیری د دوی بنا ضروری وی نو باید مبنی پرسکون شی ځکه اصل په بنا کښی سکون ده (۳) دا که چیری د دوی بنا پر حرکت ضروری وی باید پر اخف الحرکات مبنی شی چی فتحه ده ځکه اول خفیف سکون ده او بیا ورپسی فتحه ده باید مبنی پر فتحه شی.
ځواب: له اوله سواله داده چی کم اسم چی مشابهت لری له مبنی الاصل سره هغه اسم خپله هم مبنی دی مبنی الاصل دری دی(۱) ماضی (۲) امرحاضر(۳) جمله حروف نوکله چی قبل اوبعد له حروفو سره مشابهت وو نو موږ مبنی کی مشابهت یی له حروفو سره په احتیاج کی ده لکه څرنګه چی حروف بغیرددوهمی کلمی پرمعنی دلالت نه کوی دغسی قبل دبعدهم بی له مضاف الیه پرمعنی دلالت نه کوی.
ځواب: له دویمه سواله داده چی مبنی دوه قسمه ده(۱) مبنی الاصل(۲) مبنی عارض مبنی الاصل خو هغه دری شیان دی او مبنی عارض هغه ده چی له مبنی الاصل سره مشابهت لری او سکون خو اصل په اول قسم د مبنی کی ده او قبل او بعد مبنی عارض دی نو ځکه موږ مبنی پرسکون نه کیږه.
ځواب: له دریمه سواله داده چی قبل او بعد خو لازم الاضافته دی کله چی د دوی مضاف الیه حذف شو په دوی کښی ډیر خفت راغی د دی خفت دلری کولو لپاره د ثقیل حرکت ضرورت وؤ ځکه مو بعد مبنی پرضمه کړه ضمه ثقیل حرکت ده. مصنف رحمه الله لفظ د اصول مضاف کړ فقه ته پردی یو اعتراض کیږی خو موږ باید تر اعتراض مخکی د اضافت اقسام وپیژنو. اضافت دری قسمه ده(۱) اضافت په تقدیر دلام(۲) اضافت په تقدیر دفی(۳) په تقدیر من . وجه د حصر یی داده چی یا به مضاف الیه او مضاف یوشی وی او یا به نه وی که چیری سره یوشی وی بیا اضافت په تقدیر د من ده لکه په دی مثال کی خاتم فضّة یعنی خاتم من فضّته او که چیری یوشی نه وی بیا به له دوو حالو خالی نه وی یا به مضاف الیه د مضاف لپاره ظرف وی یا به نه وی که مضاف الیه د مضاف لپاره ظرف وو بیا په تقدیر دفی ده لکه په دی مثال کی (صلوۃ الیل)تقدیرئ صلوۃ فی الیل ده او که مضاف الیه ظرف نه وو بیا اضافت په تقدیر دلام ده لکه په دی مثال کی غلام زید یعنی غلام لزید اوس سوال داسی ده چی په عبارت د مصنف رحمه الله کی خو اضافت د اصول وفقه ته اضافت په تقدیر د لام سره ده او اضافت په تقدیر دلام خو د اختصاص لپاره وی بیا معنی د عبارت دا شوه چی دغه څلور صرف د فقه اصول دی نه د بل شی او دا خبره خو غلطه ده ځکه چی د قیاس نه بغیر دا نور دری واړه لکه څرنګه چی د فقه لپاره اصل دی همدارنګه د علم کلام لپاره هم اصل دی یعنی لکه څرنګه چی په دوی سره اثبات د احکامو شرعیه فرعیه کیږی همدارنګه په دوی سره اثبات د عقائد کیږی.

ځواب :داده چي دلته له فقه څخه شريعت مراد ده علم کلام که فقه نه ده ليکن شريعت خوده نومعنی دقول دمصنف رحمه الله اصول الفقه. اصول الشرع ده اوس هغه اعتراض نه وارید یږي.

دوهم ځواب : داده چي اضافت داصول وفقه ته په اعتبار دلفظ داربعه سره مطلب دا چي دغه څلورچي کتاب الله تعالی سنت رسول الله او اجماع اوقیاس ده اصول دفقه دي اودا خومعلومه خبره ده چي دغه څلورصرف دفقه اصول دي دعلم کلام که اصول دي خوڅلورسره نه دي بلکه دقیاس نه بغیردانوردري(۳)اصول دي اوس به راشودي ته چي اصول ولي حصردي په څلوروکښي دلیل دحصریي داده چي حکم به یا په وحي سره ثابت وي اويابه په غیروحي سره که په وحي سره ثابت وو دی لره دوه حالة دي يابه دغه وحي متلووي اويابه غیرمتلو که اول وو کتاب الله ده اوکه غیرمتلووو نوسنت رسول الله ده اوکه په غیروحي سره ثابت وو ددی هم دوه حالة دي يابه دغه حکم داجتها د په ذریعه ثابت وي يابه دغیراجتهاد که داجتهادپه ذریعه وو ددی هم دوه حالة ديريابه دټولومجتهدینوپه اجتهادسره وي یا به دبعض په اجتهاد سره وي که اول صورت وؤ نواجماع ده اوکه دوهم صورت وؤ قیاس ده اوکه بغیراجتهاد وؤنودغه حکم مردود ده ځکه غیراجتهادحجت نه ده دلته اوس يو سوال کيږي سوال داده چي احکام شرعيه لکه څرنګه چي په مزکوروڅلورو اصولوباندي ثابتيږي همدارنګه په مخکينوشرعواوپه تعامل الناس اوپه قول دصحابي اوپه استصحاب حال هم ثابتيږي نوداخواصول الفقه څلورنه بلکه اته(۸) شول اوتاخواصول په څلوروکي حصرکړوداحصردي صحيح نه شو.

ځواب : داده چي په شرائع سابقه باندي احکام هغه وخت ثابتيږي چي الله ﷻ یا دده رسول دهغه بیان کړي وي اوپرهغه باندي څه انکارنه وي که چيري الله،او یا دده رسول ئي بیان نه وي کړي اویاخوئي کړي وي ليکن پرهغه باندي صراحةً یا دلالةً منع وي نو بيا شرائع سابقه زموږلپاره حُجت نه دي اوپه دي سره احکام نه ثابتيږي اودغه شرائع سابقه که الله ﷻ بي له څه انکاره بيا ن کړي وي نوهغه بيا په کتاب الله کي داخل دي او که رسول الله ﷺ ددوي بیان کړي وؤ نوهغه بیا په سنت کي داخل دي په دي طريقه نو بيا شرائع سابقه مستقل حُجت نه دي بلکه په کتاب الله او په سنت کي داخل دي.

اوتعامل الناس دي ته وايي چي د ډيرو انسانانورأيه پريوشي متفقه شي اودغه اتفاق خونه ده بلکه اجماع ده نو تعامل الناس داخل په اجماع کي شو مستقل دليل نه شو.

او په قول دصحابي چي کوم حکم ثابت وي دابه یا له قیاس اوعقل سره موافق وي اویا به نه وي که موافق وي نوقول دصحابي داخل په قياس کي شو او که نه وي موافق نو بيا په سنت رسول الله کي داخل ده ځکه چي صحابي چي يوه خبره وکړي او هغه له عقله اوله قیاسه مخالفه وي ددي مطلب

داده چې دغه صحابي دا خبره له نبي کریم ﷺ څخه اوریدلې ده لیکن حواله ئې نبي کریم ﷺ ته نه دي کړې هرکله چې دصحابي خبره دارنګه شوه نوقول دصحابي هم مستقل دلیل نه شو.

او همدارنګه استصحاب حال داخل په قیاس کې ده ځکه چې استصحاب حال خو دې ته ویل کیږي چې دیو شي اوسنی حالت قیاس کړې پرمخکینې حالت باندې کله چې دامعنی داستصحاب ده نودې یوقسم د قیاس شو مستقل دلیل نه شو حاصل دکلام دادې کله چې داخبره ثابته شوه چې شرائع سابقه او تعامل الناس او قول دصحابي اواستصحاب مستقل دلائل نه دي بلکه په تیرو څلورو کښې داخل دي نوزموږ حصر ته په څلورو اقسامو کښې څه خلل نه رسیږي اصول دفقه څلوردي اته(۸)نه دي.

اوبل داخبره یاد ساته چې دلته له کتاب څخه ټول قران مراد نه ده بلکه هغه پنځه سوه آیاته مراد دي چې پرهغو د احکامو شرعیه وؤ بنسټ(بنیاد)بنودل شوي دي او همدارنګه له احادیثو څخه ټول مراد نه بلکه دري زره هغه احادیث چې داحکام شرعیه لپاره ننسټ او بنیاد دي.

او همدارنګه له اجماع امت څخه اجماع دأمت رسول اکرم ﷺمراد ده او له أمت څخه مطلق امت مراد نه ده بلکه مجتهیدین دامت مراد دي او دا اجماع چې معتبره ده دا ددې أمت دشرافت اوعزت په وجه ده اونورو أمتونو چې کله داشرافت او عزت نه درلودې ځکه ئې اجماع هم څه اعتبار نه درلودې.

اوله قیاس څخه قیاس شرعي مراد ده قیاس لغوي اوقیاس شبهي اوقیاس عقلي نه دي مراد قیاس شرعي دې ته وایي چې یا کتا ب الله اویا دسنت رسول څخه راایستل شوي وي.

اوقیاس لغوي دې ته وایي چې دیو شي اسم(نوم)دیو علت او سبب په وجه پربل شي هم کښیښنودل شي لکه دخمرلفظ اسم د لپاره دشرابو لیکن کله چې په شرابو کښې مخامره دعقل وه نو ورته خمر وویل شو اوس هر هغه شي چې په ده کښې مخامره دعقل وي او مسکر وي ورته خمر ویل کیدلای شي.

او قیاس شبهي دې ته وایي چې پر یو شي حکم شوي وي او هغه حکم پر دوهم شي هم وشي په دې وجه چې دغه دوه شیان هم جنسه دي او هم صورته دي مثال ئې لکه یو څوک چې پرنه فرضیت دا آخري ناستي دا دلیل ووائي چې آخره ناسته خو بعینه او له ناسته ده هیڅ فرق ئې نشته نو چونکه اوله ناسته نه ده فرض آخره ناسته هم نه ده فرض.

او قیاس عقلي هغه قول ده چې د داسي مقدمو څخه جوړوي چې دمنلو په وجه دریم قول منل پرتا لازمیږي مثلاً تا دا ومنله چې اَلْعَالَمُ مُتَغَيِّرٌ وَكُلُّ مُتَغَيِّرٍ حَادِثٌ نو دریمه خبره چې اَلْعَالَمُ حَادِثٌ ددې منل پرتا لازم ده .

البحث الاول فی کتاب الله

اولنی بیان دکتاب الله ده.

تشریح : مصنف رحمه الله دکتاب الله بیان مخته کړی ترنوروااصولوددی دوی وجه کیدی شی اول داچی کتاب الله په وجوداومرتبه کښی ترنورو درو مخکی ده نوځکه مصنف رحمه الله په ذکرکی هم مخته کی.دوهم وجه داده چی کتاب الله د دوی درو لپاره اصل دی اصل مقدم وی پر فرع باندی.

سوال : دلته سوال کیږی چی مصنف رحمه الله تعریف (پیژندنه) ونه کړه اوپه تقسیم یی شروع وکړه اوحال داده چی یوځل١١/٠١/١٩٨٠ شی پیژندل کیږی اوبیا تقسیم کیږی.

جواب : جواب داده چی قرآن یومشهورکتاب ده هرمسلمان ئي پیژنی چی یوسل (١٠٠) څوارلس (١٤) صورتونه لری اول صورة ئی فاتحه ده او آخری ئي والناس ده نوکله چی قرآن دومره مشهورکتاب وو اوهرمسلمان پیژندی بیا وتعریف کولوته ضرورت پاته نه شو ځکه تعریف خو دپیژندنی لپاره وی چی دمحدود اوغیرمحدود جلاوالی ورباندی راشی اودامقصددلته بغیرله تعریفه حاصل ده تعریف ته ضرورت نشته.

لیکن کله چی نورو مصنفینودقرآن کړی ده نوزه هم ستاسودګټی په خاطردقرآن تعریف درته کوم .فالقرآن المنزل علی الرّسول المکتوب فی المصاحف المنقول عنه نقلا متواترا بلاشبهة قرآن هغه آسمانی کتاب ده چی پرنبی کریم ﷺ باندی نازل شوی ده اوپه صفحوکښی نویشته ده موږ ته له ده څخه په تواترسره رارسیدلی ده بغیرله څه شکه اوشبهی نه.

په دی تعریف کښی لفظ دقرآن په مرتبه دجنس کښی ده چی محدود اوغیرمحدود دواړه لره شامل ده په دی طریقه سره قرآن به یا مهموزوی اویابه غیرمهموزوی که مهموزوی بیادقرأ یقرأ مصدرده اودمقروٌ اسم مفعول په معنی ده اوکه غیرمهموزوی بیادقرن یقرن مصدرده اومقرونٌ اسم مفعول په معنی ده په وجه دتسمیه په قرآن سره په اول صورة چی قرأ یقرأ مصدرشی داده چی قرَأَ یَقرأ په معنی دویلو سره ده نوکله چی دقرآن تلاوت (ویل)کیدی نو ځکه ئي تسمیه په قرآن سره وشوه اوپه دوهم صورة کی چی قرآن دیقرن مصدرشی وجه داده چی قرَنَ یُقرِنُ په معنی پیوست کیدل سره نوچی دقرآن آیاتونه یودبل سره پیوست وو ځکه قرآن ورته وویل شو.

حاصل دکلام داده چی که قرآن په هره یوه معنی سره شی لفظ دقرآن پرقرآن چی کتاب الله ده اوپرغیردواړو باندی صادقیږی ځکه لکه څرنګه چی قرآن ویل کیږی اویوآیت ئی له بل سره پیوست ده نورکتابونو هم داسی دی چی ویل کیږی اویوه کلمه ئي له بلی سره پیوسته وی.

اولفظ د(المنزل) ئي اول فصل ده په دی سره باقی ټولو آسمانی کتابونه خارج شول (علی الرسول) دا دوهم فصل ده په دی سره داخارج شو چی دقرآنه بغیرنوروآسمانی کتابوته قرآن نه ویل کیږی ځکه چی دلته له رسول څخه نبی کریم ﷺ مراد ده.

(المکتوب فی المصاحف) دادریم فصل ده په دی سره هغه آیاتونه خارج شول چی دهغو تلاوت منسوخ وی لکه الشيخ والشيخة اذا زنيا فارجموهما نكالا من الله المنقول منه نقلاً متواتراً داځلورم فصل ده په دی سره هغه آیاتونه ووتل چی نقل یی په تواترسره نه وی راغلی لکه دقضاء رمضان په باره کښی دابی ابن کعب ؓ په قرأت کی فعدة من ايام من اخر متتابعات د متتابعات لفظ په متواترسره نه دی راغلی.

اوهمدارنګه هغه آیاتونه په خارج شوچی په طریقه دشهرت سره راغلی وی لکه په حد د سرقی کښی دحضرت ابن مسعود ؓ په قرأت فاقطعوا ايمانهما کښی لفظ دایمانهما اود یمین دکفاری په قرأت فصيام ثلثة ايام متتابعات کښی لفظ دمتتابعات په طریقه دشهرت سره راغلی ده.

بلاشبهة داپنځم فصل ده دا دشی دخارج کولولپاره نه ده راغلی صرف دلفظ نقلا متواترا دتاکید لپاره راوړل شوی ده.

اوس د یوی خبری پیژندل ضروری ده هغه داچی قرآن د نظم (لفظ) نوم ده اوکه دمعنی اوکه د دواړو دبعض علماء رأیه داده چی قرآن صرف دنظم نوم ده ددوی لپاره دوه دلیله دی اول داده چی علماء دقرآن په تعریف کښی دری (۳) الفاظ ذکرکوی انزال ،کتابت،نقل، دری واړه دلفظ صفت دی کله چی دادری واړه دلفظ صفت شو نو بیا معنی قرآن نه ده دوهم دلیل یی داده چی الله ﷻ ووائي إنا انزلنه قرآنا عربيا موږ پرتاسوباندی قرآن په عربی ژبه باندی نازل کړی ده .دلته دقرآن توصیف په عربی سره شوی ده.

اوعربیت اوغیرعربیت تعلق نه لری بلکه له لفظ سره ئی لری کله چی عربیت صفت دلفظ شو نومعنی قرآن نه ده.

اوبعض ووائی چی قرآن دمعنی نوم ده دلیل ئي داویلی ده چی په لمانځه کی خوقرآن ویل فرض دی اوامام اعظم په فارسی سره قرأت ویل جائز بللی ده سره ددی چی پر عربی هم قدرت لری کله چی قرأت په فارسی سره جائزشو نومعلومه شوه چی الفاظ قرآن نه دی بلکه معنی قرآن ده دفارسی قرأت په صورة کی الفاظ نشته لیکن معنی شته.

دوهم دلیل ئی داده چی دقرآن په هکله الله ﷻ داسی ووائی وانه لفي زبر الاولين یعنی قرآن په نورو مخکنیوآسمانی کتابوکښی نغښتی دی.کله چی نورآسمانی کتابونه په غیرعربی زبان باندی وو نودقرآن وجودپه دوی کښی دمعنی په اعتبارسره ده نودامعلومه شوه چی قرآن دمعنی نوم ده

اودجمهوروعلماءمذهب داده چی قرآن دلفظ اومعنی دواړو نوم ده دلیل ئی دمخکنیو دومذاهبو دلائل دی ځکه داول مذهب په دلائلوسره داثابته شوه چی قرآن دنظم نوم ده اوددویم مذهب په دلائلو سره داثابته شوه چی قرآن دمعنی نوم ده نوددواړومذهبو له دلائلو څخه داثابته شوه چی قرآن دنظم اومعنی دواړو نوم ده.

جواب د دلائلو : داول مذهب اول دلیل ته داجواب ورکوؤ چی په انزال اوکتابت اونقل سره که څه هم مستقلاً معنی نه موصوفه کیږی لیکن په واسطه دلفظ بیا موصوفه کیدای شی یعنی په واسطه دلفظ سره معنی ته نازله هم ویل کیږی ده اومکتوب په مصاحیفوکښی هم ورته ویل کیږی او منقوله ورته ویل کیږی.

کله چی معنی په دی درو الفاظوسره په واسطه دلفظ موصوفه شوه نو تعریف پرنظم اومعنی دواړوباندی صادق شو اوقرآن دنظم اومعنی دواړو نوم ده اوددویم مذهب داول دلیل جواب داده چی امام اعظم چی په فارسی سره قرأت ویل جائزبللی ده داپر یو مصلحت.

(**فائده**) باندی بناء ده هغه داچی لمونځ د دُعا اومغفرت غوښتلوځای ده اوعربی عبارت وغیر عربی زبان لره ډیرسخت وی کیدای شی یولمونځ کونکی دی داسی عبارت نشی ادا کولای چی د خپل مقصد تعبیر په وکړی نوځکه دته په فارسی ژبه کی دقرأت ویلو اجازه ورکړشوه.

اویادا وجه ده چی که چیری دلمونځ کونکی ذهن دلمانځه په دوران کی دعربی الفاظو د فصاحت اوبلاغت جانب ته ولاړشی اویا دقرآن دمقفی (قافیه لرونکی) ومسجع (برابَر) الفاظوته په باریک نظری اوحرانتیاسره ولاړ شی په ددی وخت کښی دده توجوه د الله ﷻ طرفته نه شوه بلکه دقرآن دفصاحت اوبلاغت طرفته ولاړه چونکه امام اعظم دسلوک اوسیرفی الله مربتی ته رسیدلی وو اوپه لمانځه کښی به ئي حضورډیربرابروو ځکه ئي په لمانځه کښي په فارسی سره قرأت ته جوازورکی ددی لپاره چی حضوربرابرشی اودا خبره هم یادساته چی امام اعظم په وروسته کی له دی قول څخه پرشاشوی ده یعنی رجوع ئی کړی ده.

فَصلٌ فی الخاص والعام

فصلٌ فِی الخاص والعام فَالْخَاصُ لَفظٌ وُضِعَ لِمَعنی معلوم اولمسمی معلومٍ علی الانفرِد کَقَولُنَا فی تخصیص الفَرد زَیدٌ وَفِی تَخصِیص النوع رَجُلٌ وَفی تخصیص الجنس انسَانٌ.

ژباړه : دافصل دخاصواوعام په بیان کښی ده خاص هغه لفظ ده چی یواځی دیوی معلومی معنی لپاره وضع شوی وی اویا دمسمی معلوم لپاره دانفراد په شکل لکه زموږپه اقوالو کی دتخصیص دفردلپاره زیداوتخصیص نوع لپاره رجل اودتخصیص دجنس لپاره انسان.

تشریح : لفظ په اعتبار دوضع سره څلورقسمه ده (۱)خاص (۲)عام(۳)مشترک(۴)موؤل دلیل د حصر ئی داده چی لفظ به له دوحالوخالی نه وی یابه پریوه معنی دلالت کوی اویابه پرزیات تریوه که ئي دلالت کوی پریوه معنی دابه هم له دوو حالتوخالی نه وی یابه په هغه معنی کښی بل ورسره شریک وی اویا به نه وی که نه وو ورسره شریک خاص ده اوکه ورسره شریک وو عام ده اوکه ئی دلالت کوی پرزیات تریوه معنی دابه هم له دوو حالتوخالی نه وی یابه یوی معنی ته ترجیح ورکړ شوی وی پرنوروباندی اویابه نه وی که اول صورة وؤموؤل ده اوکه دوهم صورة وؤ مشترک ده.

مصنف رحمه الله علیه خاص اوعام په یوه فصل کی جمع کړل اوپه راتلونکی فصل کی ئی مشترک او موؤل جمع کړل پردی یو سوال کیږی.

سوال : ولی مصنف رحمه الله علیه عام اوخاص ،اومشترک اوموؤل ، په یوه فصل کښی جمع کړل.

جواب : کله چی خاص اوعام په دی کښی سره شریکان وو چی ددواړو وضع دیوی معنی لپاره ده لیکن دخاص ومعنی واحدی لپاره افراد نشته اودعام معنی واحدی لره افراد شته نوځکه مصنف رحمه الله علیه جمع کړل په یوه فصل کښی.

جواب : دوهم جواب داده کله چی عام خاص په دی شی کی سره شریک وو چی پرهریوه د دوی دوؤ سره حکم قطعاً ثابیتږ ځکه مصنف رحمه الله علیه په یوه فصل کی جمع کړل.

سوال : ولی مصنف رحمه الله علیه خاص مخکی کړ پرعام باندی.

جواب : ددی سوال لپاره اول جواب داده چی خاص په منزله دمفرد ده اوعام پرمنزله دمرکب ده مفردمقدم (مخکی) وی پرمرکب.

دوهم جواب داده چی خاص متفق علیه ده یعنی ټول ائمة پردی متفق دی چی خاص یقین فائده کوی اودعام په حکم کښي اختلاف ده داحنافوپه نزد عام هم یقین فائده کوی او د شوافع په نزد ظن (شک)فائده کوی هرکله چی خاص متفق علیه شو اوعام مختلف فیه شو نومتفق علیه خومقدم وی پرمختلف فیه باندی.

مصنف رحمه الله علیه چی کوم تعریف دخاص وکړ په دی تعریف کښی کلمه دلفظ جنس ده ټولو الفاظولره شامل ده خواه که معنی لرونکی الفاظ وی اوکه بی معنی الفاظ وی وُضِعَ لِمعنی دا اول فصل دتعریف ده په دی سره مهمل (بی معنی) الفاظ له تعریف څخه ووتل معلوم دا دویم فصل ده له معلوم څخه معلوم المراد مقصد ده یعنی خاص هغه لفظ ده چی دداسی معنی لپاره وضع وی چی دهغی مراد معلوم وی په دی سره مشترک خارج شو ځکه مشترک دداسی معنی لپاره وضع ده چی دهغی مراد معلوم نه ده وعلی الانفراد دا دریم فصل ده ددی په ذریعه سره دخاص له تعریفه څخه عام ووتی ځکه علی الانفراد مطلب داده چی دامعنی به دارنګه یوه وی چی نه به افراد لری نه به بله معنی ورسره وی.اوعام خودداسی معنی لپاره وضع شوی ده چی هغه افرادلری.

حاصل : دکلام داشو چی که له معلومه څخه معلوم المراد مقصد شی بیادمعلوم په قید سره مشترک ووتی اودعلی الانفراد په قید سره عام ووتی اوکه له معلوم څخه معلوم البیان مقصد شی بیا په معلوم قید سره مشترک نه وزی ځکه مشترک چی دکو مومعانی وو لپاره وضع شوی وی هغه معانی له لفظ څخه واضحی اوښکاره وی.
لیکن په دغه صورة کښی مشترک اوعام دعلی الانفراد په قید سره خارج شول ځکه دعلی الانفراد مطلب دا ده چی معنی به یوه وی افراد به هم نه لری اوبله معنی به هم نه وی ورسره په اول قید سره عام خارج شو ځکه عام دهغی معنی لپاره وضع ده چی هغه معنی افراد لری اوپه دویم قید سره مشترک خارج شو ځکه مشترک د مشترک هغه لفظ ده چی دډیرومعنی وولپاره ئی وضع راغلی وی.

تخصیص الفرد داشروع دپه تقسیم دخاص خاص دری قسمه ده (۱)خاص الفرد خاص او العین هم ورته ویل کیږی (۲)خاص النوع ده(۳)دریم خاص الجنس ده.
داول لپاره مثال لکه زیدده اود دویم لپاره مثال رجل ده اودریم لپاره مثال انسان ده.
دخاص الفرمطلب داده چی معلوم شخص به وی اودخاص النوع مطلب داده چی دمعنی په حیث به ئی نوع خاص وی اوله خاص الجنس څخه مطلب داده چی دمعنی په اعتبا به ئی جنس خاص وی که څه هم په مصداق کښی متعدد وی.
مصنف رحمه الله دخاص الجنس لپاره مثال په انسان سره ووایو اوحال داده چی مناطقه دی ته جنس وایي ددی وجه داده چی داصولین اومناطقه دجنس اونوع په تعریف کښی څه اختلاف شته وجه ئي داده چی اصولین له اغراض اومقاصد څخه بیان کوی اومناطقه له حقیقت دشی څخه بحث کوی.
اوداصولینوپه نزدنوع اوجنس تعریف داده چی جنس هغه کلمه ده چی پرداسی افرادو باندی صادق وی چی دهغواغراض مختلف وی.
اونوع هغه کلمه ده چی پرداسی افرادو باندی صادق وی چی دهغواغراض متفق وی.
اودمناطقه وؤ په نزدجنس هغه کلمه ده چی پرداسی افرادُ باندی محمول وی چی دهغو حقیقت مختلف وی.
اونوع هغه کلمه چی پرداسی افرادوباندی صادق وی چی دهغوحقیقت متفق وی.
اودانسان دافرادو اغراض خومختلف دی ځکه دانسان دوه فرده دی یو(نر)اوبل(ښځه) دنرله پیدائښت څخه غرض داده چی نبی به وی امام به وی دجمعمی اواخترلمونځ به اداکوی اوله ښځی څخه غرض داده چی دخاوندلپاره به فرش وی اودکورکاربه کوی کله چی دانسان دافرادُ اغرض

مختلف وؤ نوځکه اصولینوجنس ورته ووائي اومناطقه چونکه له حقائقوځخه بحث موی د نو انسان دافراد حقائق خو منتفق دی ځکه ئی ورته نوع وویل.

اورجل هغه کلمه ده چی پرداسی افرادُ باندی صادق وی چی دهغواغراض متفق وی ځکه اصولینو نوغ ورته وویل اوکلمه دزیدچی کله دیوه معلوم شخص لپاره وضع وو احتمال دشرکت نه وؤ پکښی په دی اعتبارچی وضع یوشی لیکن که وضع متعده شی بیا احتمال دشرکت شته نوځکه خاص الفرد یاخاص العین ورته وویل شو دمصنف رحمه الله پرتعریف باندی یوسوال کیږی.

سوال: مصنف رحمه الله دځه شی لپاره دمعنی معلوم نه وروسته مسمی معلوم ذکرکی ؟

جواب: جواب مسمی معلوم ئی ددی لپاره ذکرکی چی تعریف شامل شی خاص العین ته ځکه خاص العین دمعنی معلوم لپاره وضع نه ده بلکه دمسمی معلوم لپاره وضع ده.

وَالعام كلُ لفظٍ يَنتظِمَ جَمعاً مِنَ الاَفراد امَّالفظاً كَعولَنا مُسلمُونَ وَمُشرِكونَ وَامَّا مَعنى كَعَولَنا مَن ومَا.

ژباړه: عام هغه لفظ ده چی ټولوافرادُ لره شامل وی یالفظاً لکه مسلمون اومشرکون یا معناً لکه من اوما.

تشریح: دعام په تعریف کښی ئی لفظ ذکرکی په دی سره اشاره ده ودی ته چی عموم له عوارضُ د لفظ ده دمعنی له عوارض ځخه نه ده نوکله چی عموم له عوارض دلفظ شو د معنی نه شو نوداثابته شوه چی عام لفظ ده معنی نه ده هرکله چی عام لفظ شو معنی نه شوه نو دمصنف رحمه الله تعریف صحیح ده.

اوبل داخبره یادساته چی دلته له لفظ ځخه لفظ موضوع مراد ده مطلق لفظ نه مرادنه ده قرینه دادهٔ چی دلفظ دغه تقسیم چی عام اوخاص مشترک اومؤول ته ده داتقسیم په اعتباردمعنی سره ده نوځکه په ټولواقساموکښی له لفظ ځخه لفظ موضوع مراد ده.

ینتظم په معنی دشمول سره ده اوس دعام تعریف داسی ده عام هغه لفظ موضوع ده چی خپلوټولو افرادُلره په یو وارشامل وی یالفظاً لکه مسلمون اومشرکون اُویامعناً لکه من ما اوددتعریف دقیودوفائدی داسی دی کل لفظ دا په مرتبه دجنس کښی ده هرلفظ موضوع لره شامل ده ینتظم داد تعریف اول فصل ده په دی سره دعام له تعریفه ځخه خاص اومشترک خارج شول خاص ځکه خارج شو چی په هغه کښی شمول نشته اوپه عام کښی شمول ضروری ده اومشترک له دی وجه خارج شو چی مشترک په یو وار ټولومعانی وؤ ته شامل نه ده بلکه په طریقه دبدلیت دهرمعنی احتمال لری اوپه عام کی خوشمول ضروری ده دشمول اوبدلیت فرق شته ځکه شمول دی ته وائي چی په یو وارلفظ په ډیرو افرادو صادق شی اوبدلیت داسی نه ده بلکه هره معنی باندی په خپل وار صادقیږی.

جمعاً من الافراد دا دويم فصل دتعريف ده په دې سره تثنيه اونور اسماء عدد له تعريف دعام څخه خارج شول ځکه عام افرادولره شامل وی اواسم عدد او تنثيه،اوثلثة وغيره اجزاء ته شامل دی.
داجزاء اودافراد په منځ کښې ډيرفرق ده ځکه له اجزاء څخه کل مرکب وی له افرادُ څخه کلي مرکب نه وی کل پرجزباندی نشي حمل کيدای يعني داسي نشي ويل کيدای يَدٌزيدٌ (دزيدلاس زيدده)
اوکلي پرافراد باندی حمل کيدای شي زيدٌانسانٌ زيد انسان ده حاصل دکلام داده کله چې اسماءعدد اجزاءُته شامل وو افرادته نه وو شامل نوله تعريف دعا څخه خارج شول.

إمالفظاًوامامعناً دا د انتظام اوشمول تقسيم ده انتظام دوه قسمه ده (۱)لفظي(۲)معنوی.
انتظام لفظي دی ته وايي چې عام شامل وی خپلوافراد ته دلفظ اوصيغې په اعتبارلکه مسلمون اومشرکون.او انتظام معنوی هغه ده چې خپلوافرادُ ته ئي شمول په اعتباردمعنی سره وی لکه من وما.

وَحُكم الخَاصِ منَ الكتَاب وُجُوب اَلعمَل به لامَحالَةَ فَان قَابَلهُ خَبَرُ اَلوَاحد اَوالقيَاس فَان اَمكَنَ الجَمعُ بَينَهمَا بِدَون تَغير فِى حُكمِ اَلخَاص يَعمَلُ بهمَا وَلايُعمَلُ باالكتَاب وَيُترَكُ مَا يُقَابِلهُ.

ژباړه : دخاص دکتاب الله حکم داده چې عمل کول وربانديواجب ده قطعاً اوکه چيري دده مقابل خبرواحد اوياقياس راغلي بيابه وګورو که ددوی په منځ کښې جمع ممکنه وه بې له دی چې څه نقصان ورسوی وحکم دخاص ته بيابه په دواړوعمل وکړه اوکه ئې جمع ممکنه نه وه بيا خبر واحداوقياس پاته دی په کتاب الله به عمل کوو.

تشريح: دلته مصنف رحمه الله دخاص دکتاب الله حکم بيان کې هغه داچې دخاص حکم داده چې په ده سره عمل کول قطعاً اويقيناً واجب ده يعني خاص خپل مدلول ته داسي شامل ده چې احتمال دغير ورسره نشته کله چې احتماد غيرپيدانه شو نو په دی باندی عمل کول واجب ده.
اوداخبره يادساته چې دادمشائخ عراق اودقاضي ابوزيد اودشخينومذهب ده د دوی دليل داده چې مقصدله وضع دالفاظ داده چې لفظ بغيرقريني پرخپله معنی يقيني دلالت وکړی ځکه که دوی حتماً اويّقيناً دلالت پرمعنی ونه کړی بياوضع لری څه فائده پاته نه شوه.
اودمشائخ دسمرقنداوشوافع مذهب داده چې د خاص دکتاب الله سره حکم قطعي او يقيني نه ثابيتيږی.دليل يې داده چې هرلفظ احتمال ددی لری چې معنی غيرموضوع له يعني مجازی معنی ورڅخه مراد شي اودامسلمه خبره ده کوم ځای کښې چې احتمال وی هلته قطعيت نه وی نوځکه په خاص دکتاب الله سره حکم قطعاً اويقيناً نه ثابيتيږی.

داحنافو ځواب : موږ شوافعُ ته داجواب ورکوؤ چې تاسوداحتمال خبره وکړه داحتمال بلا دليله ده احتمال بلادليله دخاص وقطعت ته څه خلل نه رسوی.

ددی مثال داسی ده لکه یوسړی چی ترکاره دیواله لاندی ناست وی اودیوال باندی راړنګ شی داسړی ملامت ده ځکه دی ترداسی دیوال لاندی ناست ووچی هغه احتمال دنړیدلو درلودی ځکه کوړوو اوکه دیوال کوږ نه وی اودی ترلاندی کښینی اودیوال باندی راړنګ شی په دی صورة کښی دی ملامت نه ده ځکه دلته یودلیل پردی نه وؤ چی دیوال دی ونړیږی روغ رمټ دیوال وؤ.ددی مثال دراوړلونه مقصد داده چی کوم احتمال چی له دلیل څخه پیداشوی وی هغه معتبره ده اوکوم احتمال چی بی له دلیله وی هغه څه اعتبارنه لری نومشائخ دسمرقند چی کوم احتمال ذکرکړی داهم بلادلیله ده څه اعتبارنه لری.

مصنف رحمه الله داوویل چی که چیری خبرواحداوقیاس دخاص دکتاب الله سره مقابل یامعارض شو بیابه وګوروکه ددوی جمع داسی ممکنه وه چی خاص دکتاب الله ته ئي نقصان نه رسوی په دواړوبه عمل وکوؤ ځکه اصل په دلائلوکښی داده چی عمل وربادی وشی اومهمل نه پریښودل شی اوکه ئي جمع په مذکوره طریقه ممکنه نه وه بیابه په خاص دکتاب الله باندی عمل وکړو قیاس اوخبرواحد پریږدو ځکه خاص دکتاب الله قطعی ده اوقیاس اوخبرواحد ظنی دی خبرواحدله دی وجه ظنی ده چی داشبه پیداکیږی چی ایا دا متصل ده اوکه منقطع اوقیاس له دی وجه ظنی ده چی دار مدار ئی پررأیه ده اوپه رأیه کښی احتمال دغلط وی .پردی عبارت دمصنف رحمه الله یوسوال کیږی.

سوال : دمصنف رحمه الله داخبره صحیح نه ده چی خبرواحداوقیاس دکتاب الله مقابل اومعارض بولی ځکه معارضه دی ته وائي چی دوه دلیله معارض راشی اودا دوه دلیله په قوت کی برابروی اوخبرواحداوقیاس له کتاب الله سره په قوت کښی برابرنه دی نودی ته څنګه معارضه ویل کیدای شی.

جواب : ددی سوال جواب داده چی دغه تعریف دمعرضی چی تاذکرکی دا اصطلاحی معارضه ده لیکن په لغوی معارضه کښی مساوات شرط نه ده.

دوهم جواب داده چی دلته حقیقی معارضه مرادنه ده بلکه صوری معارضه مراد ده په صوری معارضه کښی مساوات شرط نه ده.

مثالُه فی قوله تَعالی یَترَبّصن بِأنفُسهنّ ثَلٰثَة قُروءٍ فَانّ لَفظَة ثَلٰثة خَاصٌ فی تَعریف عَدَد مَعلوم فَیَجبُ العملُ به ،ولَوحُملَ الأقراءُ عَلَی الأَطهار کَمَا ذَهَبَ الیه الشّافعیُ بِاعتبار اَنَّ الطُّهرمُذکّرٌ دَونَ الحَیض وَقَدوَرَدَالکتابُ فیالجَمع للَفظ التانیث دَلّ عَلی اَنّه جَمعُ المذکَّرِ وَهُوَ الطُهرُ لَزِمَ تَرکَ العَمل بهذَاالخَاص لاَنّ مَن حَمَلَهُ علی الطُّهرلاَیُوجِبُ ثَلٰثَة اَطهارٍ بَل طُهرینِ وَبَعض الثّالث وَهُوالذی. وَقَعَ فیه الطّلاقُ.

زباړه : دخاص مثال په دی قول دالله کښې یتربصن بانفسهن ثلثة قروء لفظ دثلاثة ده ځکه لفظ دثلاثة خاص ده دعددمعلوم لپاره عمل کول وربانددی واجب ده که چیری له اقراءٌ څخه طهر واخیستل شی لکه چی دامام شافعی مذهب هم ده په دی اعتبارچی لفظ دثلاثة مونث ده اوطهرمزکرده اواسماء عدد خو دمزکر لپاره په تا سره استعمالیږی نوبیا په خاص دکتاب الله سره عمل نه ووشو ځکه هغه ځوک چی داقرأ څخه طهراخلی هغه دری طهره نشی ثابیتولای بلکه دوه پوره او ددریم بعض ثابیتیږی اوددریم هغه طهرده چی اطلاق پکښې واقع شوی ده.

تشریح : په دی عبارت کښې مصنف رحمه الله ددی خبری یادونه وکړه چی د مطلقه مدخول بها ذات الحیض اوغیرحامله ښځی په عده کښې اختلاف ده داحنافوپه نزد عده دری حیضه ده اودشوافع په نزد عده دری طهره ده دواړه طرفه داآیات شریف وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ دځان لپاره دلیل ګرزوی په دی طریقه سره چی په آیات شریف کښې دطلاق شوو ښځولپاره دری قروء ښودل شوی ده اوقروء دقرء جمع ده قرء دحیض اوطهور په منځ کښې مشترک ده ،.

دشوافع دلیل : دشوافع دلیل داده چی په آیت شریف کښې لفظ دثلثة مونث ده اوپه عربی زبان کی داقاعده ده چی اسم عددله (۳)درو تر(۹) پوری خلاف القیاس استعمالیږی یعنی دمزکرلپاره په تاء اودمونث لپاره بغیرتاء کله چی داسم عدد استعمال په دی طریقه وو نو معلومه شوه چی دلته له قروء څخه طهرمراد ده ځکه طهرمزکرده که چیر ی حیض مراد وای نوباید بیا ئي لفظ دثلث مزکرراوړی وای اودشوافع لپاره دوه دلیله نورهم شته.

دشوافع دلائل : شوافع دوه دلیله نورهم لری اول دلیل داده چی په آیت کښې تربص لفظ راغلی ده تربص د تفعل له باب څخه ده تفعل خاصه (مشقت) ده یعنی طلاق شوی ښځي خپل ځای په ډیر تکلف باندی زاګرزوی او دامعلومه خبره ده چی په تکلیف سره ځان له یوشی نه راګرزول هغه وخت وی چی دانسان هغه ته ډیرشوق کیږی او همدارنګه دښځو رغبت (شوق) وجماع ته دطهرپه وخت کښې ډیر وی دد حیض د دوران په وخت کښې له دوی سره دارغبت نه وی نو په لفظ دتربص هم دی خبری ته اشاره شوه چی عده په طهرسره ده په حیض نه ده.

دریم دلیل : دشوافع دریم دلیل دا آیت شریف ده إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ شوافع وایی چی په لفظ دلعدتهن کښې لام دوقت لپاره ده دآیت معنی دارنګه شوه تاسو خپلوښځوته په خپله عده کښې طلاق ورکوی له دی څخه دامعلومه شوه چی دعدی او طلاق یووخت ده اوپردی خبره دټولو اتفاق ده چی دطلاق مشروع وخت طهورده نو دعدت وخت هم طهورده ځکه آیت شریف دی ته اشاره وکړه.

داحنافو دلیل : او داحنافودلیل داده چی په آیت شریف کی لفظ دثلثة خاص ده دمعنی معلومی لپاره یعنی د دری عدد لپاره وضع شوی ده اودخاص حکم داده چی خپل مدلول (معنی) لره به قطعاً

شامل وی نه به زیادت پکښی راځی اونه به کمبوت پکښی راځی لیکن په قروء سره دارنګه عمل کول چی خاص دری ورځخه مراد شی هغه وخت کښی ممکن ده چی له قروء څخه حیض مراد شی ځکه دطهور مرادولو په صورة کښي ضرور یا زیادت راځی او یا کموالی ځکه طلاق ورکول مشروع په طهرکی ده نوکله چی په طهر کښی طلاق ورکړشی یا به دغه طهور په عده کښي شمار وی اویا به نه وی که شمار شی بیا کموالی راځی ځکه دوه طهره پوره شو اود دریم څه حصه (برخه) موجوده شوه ولی هغه طهرچی طلاق پکښی ورکړشوی ده هغه پوره نه ده بلکه څه برخه تیره شوی ده.
اوکه دغه طهر چی طلاق پکښی ورکړی شوی ده په عده کښي نه شی شمار بلکه له ده بغیرنور دری طهره تیرکړی نو بیا خوزیادت راغی ځکه دری طهره پوره تیرشول اودڅلورمه یوه حصه.
حاصل دکلام داده چی که له قروء څخه طهرمراد شي په لفظ دثلثة چی خاص ده عمل نه وشو اوکه حیض ورڅخه مرادشی بیا دخاص حکم ته هیڅ نوع خلل نه رسیږی بلکه په خاص سره قطعی اویقینی عمل وشو.
داحنافو دلائل: احنافولره دوه دلیله نورهم شته.
اول دلیل: داحنافو اول دلیل دا آیت شریف ده وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ يَحِضنَ ترجمہ ستاسوله ښځوڅخه هغه ښځی چی دوی دحیض د راتلو اُمیدنه لری که چیری تاسو ته شک پیدا کړنوعده ددوی دری میاشتی ده اوهغه ښځی چی دوی ته حیض نه ورزی. په دی آیت شریف کښی الله ﷻ دغیرحائضي ښځی عده د عدم حیض په وجه دری میاشتی وښودی نومعلومه شوه چی دحائضی عده دری حیض ده نوکله چی له دی آیت څخه دامعلومه شوه نوله لفظ ثلثة قروء څخه هم حیض مراد ده ځکه دقرآن یوه برخه دبلی لپاره تفسیروی لکه چی ویل شوی دی إن القرآن يفسر بعضه بعضاً.
دوهم دلیل: داحنافودوهم دلیل دبی بی عائشة حادث ده ان رسول الله ﷺ قال: طلاق الامة تطليقتان وعدتها حيضتان دمینځی دوه طلاق دی اوعده ئی دوه حیضه ده کله چی دمینځی حق په نسبت وآذادی ښځی ته نیمی وَو نوځکه ئی طلاق هم داذادی ښځی نیمی شو لیکن لکه چی یو نیم طلاق اویونیم حیض نه شوکیدای ځکه دمینځی طلاق دوه اوحیض هم دوه شو .حاصل دکلام داده چی له دی حدیث څخه داثابته شوه چی دمینځی عده په حیض سره ده نوچی دمینځی عده په حیض سره شوه د آذادی ښځی عده هم په حیض سره ده. اوحدیث خوشارح دقرآن ده نومعلومه شوه چی په آیت شریف کښی له ثلثة قروء څخه حیض مراد ده.
دشوافع دلیل: دشوافع دلیل ته داحنافوجواب. داحنافوله طرفه جواب داده چی نحویان له لفظ څخه بحث کوی نوثلثة چی مونث راوړل شوی ده دا دلفظ قروء په اعتبارسره ده ځکه لفظ دقروء

مزکرده دحیض دمعنی په اعتبارنه ده کله چي ثلثة دقروء لفظ په وجه مونث راوړل شو نوله ثلثة قروء څخه حیض مراد کول دنحوی قاعدی مخالف نه شو .دشوافع دوهم دلیل لره جواب داده چی له ښځوسره که څه هم دحیض په وخت کښي د جماع رغبت (شوق) نه وی لیکن دنکاح شوق ئی وی نوځکه الله ﷻ له دی څخه منع کړی ده چی وښځوته دعدی په وخت کښي دنکاح خبره وشی کله چی دنکاح وطرفته دښځو رغبت وو نو په لفظ د تربص دی ته اشاره نه شوه چی مراد له قروء څخه طهر ده

فَيُخَرَّجُ عَلٰى حُكْمِ الرَّجْعَةِ فِي الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ وَزَوَالِهٖ وَتَصْحِيْحُ نِكَاحِ الْغَيْرِوَابْطَالُهٗ وَحُكْمُ الْحَبْسِ وَالْاِطْلَاقِ وَالْمَسْكَنِ وَالْاِنْفَاقِ وَالْخُلْعِ وَالطَّلَاقِ وَتَزَوُّجِ الزَّوْجِ بِاُخْتِهَا وَاَرْبَعٍ سِوَاهَا وَاَحْكَامِ الْمِيْرَاثِ مَعَ كَثْرَةِ تَعْدَادِهَا.

ژباړه : له دی اختلاف څخه دڅواحکامو استخراج وشو هغه دا په دریم حیض درجوع دصحت حکم اوږ نه صحت له غیرزوج سره دنکاح صحت اونه صحت اوپه کورکښی بندول اوپریښودل دسکنی اونفقی حکم دخلع اوطلاق حکم اودښځی له خورسره دخاوند نکاح اوددی نه بغیرد نورو څلورو نکاح اوهمدارنګه دمیراث احکام سره له دی چی دمیراث شعبی ډیری دی.

تشریح : مصنفؒ وائی چی دشوافع اواحنافو په منځ کښی پرذکرشوی اختلاف باندی ډیری مسائلی تفریع کیږی یعنی ددی اختلاف په وجه ډیرداسی مسائلو استنباط اواستخراج وشو چی په هغو مسائلو کښی داحنافو اوشوافع اختلاف ده.

حاصل دکلام داده کله چی داثابته شوه چی داحنافو په نزد عده دری حیضه ده اودشوافع په نزد دری طهره ده .نودا خبره هم ثابیته شوه چی که یوسړی خپلی ښځی ته په طهرکښی طلاق ورکړ اوبیا ئي عده دریم حیض ته ورسید له دغه دریم حیض داحنافو په نزد داخل په عده کښي ده اود شوافع په نزد داخل په عده کښی نه ده ځکه عده تردریم حیض مخکی پوره شوه .کله چی داسی شو چی داحنافو په نزد دریم حیض داخل په عده کی ده اودشوافع په نزد داخل په عده کښی نه ده نواوس راځو مخکښی ذکرشوو مسائلوته.

اوله مسئله : که چیری یوسړی خپلی ښځی ته په طهرکښی طلاق رجعی ورکی دغه سړی د احنافو په نزد په دریم حیض کښی درجعت حق لری اودشوافع په نزد ئي نه لری .ځکه ددریم حیض زمانه داحنافو په نزد دعدی زمانه ده اوپه عده کښی خاوندد رجوع حق لری اودشوافع په نزد عده تیره شوی ده اودعدی دتیردو ورسته خاوند درجوع حق نه لری.

دوهمه مسئله : که طلاق شوی ښځی په دریم حیض کښی له دوهم سړی سره نکاح وکړه دغه نکاح دشوافع په نزدصحیح ده ځکه ددوی په نزد تردریم حیض مخکی عده پوره شوه دعدی دپوره کیدلو وروسته ښځه کولای شی چی له دوهم سړی سره نکاح وکړی.

اوداحنافو په نزد دغه نکاح صحیح نه ده ځکه احناف دریم حیض داخل په عده کښې بولي ترڅوچې عده باقي وي ښځه نه شي کولای چې له دویم سړی سره نکاح وکړي.

دریمه مسئله : اوداحنافو په نزدطلاق شوی ښځې لره نه دجائزچې دخاوندله کوره ووزی ځکه داحنافوپه نزد عده باقي ده ترڅوچې عده باقي وی دادخاندله کوره نسی وتلای اود شوافع په نزد وتلای شي ځکه ددوی په نزدتردریم حیض مخکې عده پوره شوه اوبعد له عدې ښځه کولای شي چې دخاوندله کوره ووزی.

ځلورمه مسئله : ځلورمه مسئله داده چې داحنافوپه نزد په دریم حیض کې ددی نفقه پرخاوند واجبه ده ځکه داحنافوپه نزد عده باقي ده اودشوافع په نزد نه ده واجب ځکه ددی په نزد عده تردریم حیض مخکې پوره شوه.

پنځمه مسئله : پنځمه مسئله داده چې داحنافوپه نزد خاوندکولای شي چې په دریم حیض کې له خپله ښځي سره خلع کړي اویابل طلاق ورکړي ځکه عده باقي ده ترڅوچې عده باقي وی دلره خلع کول اوزیادت طلاق ورکول دواړه جائز دي اودشوافع په نزدجائزنه ده ځکه عده پوره شوی ده وروسته له عدی خاوندد خلع اوبل طلاق حق نه لري.

شپږمه مسئله :داده چې داحنافوپه نزد داجائزنه ده چې خاوندپه دریم حیض کښې دخپلې ښځې له خورسره نکاح وکړي اویاددی نه بغیرله نوروځلوروښځوسره نکاح وکړي ځکه د احنافوپه نزد عده باقي پاته ده په اول صورة کښې دوی خوندی دیوه سړی په نکاح کښې جمع شوی او داجائزه نه ده اوپه دوهم صورة کې پنځه ښځې جمع سوی په نکاح کښې داناجائزه عمل ده.

اودشوافع په نزد دواړه صورته جائزدی ځکه ددوی په نزدتردریم حیض مخکې عده پوره شوه نوکه دښځې له خورسره نکاح وکړي دوی خوندی په نکاح کښې نه جمع کیږي اوکه له دی بغیرځلورمه په نکاح کړي پنځه ښځې نه جمع کیږي.

اوومه مسئله : اوومه مسئله داده که چیری په دریم حیض کښې خاوندوفات شو داحنافو په نزد ددغه ښځه میراث وړلای شي ځکه عده باقي ده کله چې عده باقي وی نونکاح هم من وجه باقي وی نودنکاح په وجه میراث وړلای شي اودی ته وصیت نه شي کیدلای ځکه حدیث شریف ده لاوصیّة للوارث وارث لره وصیت نشته اودشوافع په نزد میراث نه شي وړلای ځکه ددوی په نزد عده پوره شوی ده کله چې عده پوره شوه نودا بیگانه ښځه شوه بیگانه ښځه میراث نه شي وړلای اودی لره وصیت کول هم جائزده ځکه بیگانه لره وصیت کول جائزده ص

وَكَذَاَلِكَ قُولِه قَدعَلمنَا مَافُرضنَا عَلَيهم فى اَزواجهم خَاصٌ فى التَقديرِاَلشرعى فَلايُترَكَ اَلعَملُ بِهِ باعتبارِ اَنَهُ عَقدٌ مَالىٌ فَيُعتَبرُبالعُقُودِ اَلمَالِيَة فَيَكُونَ تَقديرُ اَلمَال فِيهِ موكولاً الى راى الزَوجَين كما ذكره اَلشافعىُ وَفَرَعَ على هذا اَنَ التَخلّى لِنَفلِ اَلعبادةِ افضلُ مِن الاَشتَغَال بِالنكاح وَاَبَاحَ اِبطَالَهُ

بطلاقِ كَيفَ مَاشاءَ الزَوجَ مِن جمع وتفرِيق وَاَبَاح اِرسالُ الثلث جُملَةً وَاحِدةً وَجَعَلَ عَقدُالنكاحَ قَابِلاً لِلفسخ بِاالخُلع

زباړه : او همدارنګه داقول دالله ﷻ قد علمنا ما فرضنا علیهم خاص ده په تقدیرشرعی کښی باید په ده سره عمل نه پرښودل شی په وجه دقیاس پرعقدمالی باندی چی پرعقدمالی ئی قیاس کړی اوتقدیردمال ورأیه د زوجین ته وسپاری لکه هم دارنګه چی امام شافعی ویلی دی اوپردی باندی امام شافعی دا تفریع کړی ده چی ځان نفلی عبادت ته فارغ کول بهتره ده ترمشغولتیا په نکاح سره اوهمدارنګه ئي دنکاح ابطال په طلاق سره مباح بللی ده څنګه چی دخاوند خوښه شی هغه رنګه ئی کولای شی یعنی په هرطهرکی یویو ورکوی اوکه دری سره په یوه طهر کی ورکوی اوکه دری سره په یوه کلمه سره ورکوی او ده داهم ویلی دی چی په خلع سره فسخه کیدای شی.

تشریح : په دی عبارت کښی مصنف رحمه الله دخاص دوهم مثال ذکرکوی اودی وائی لکه څرنګه چی په مخکښی آیت کښی لفظ د ثلث خاص وو همدارنګه په دی آیت شریف کښی لفظ دفرض خاص دی په تقدیرمهر شرعی کښی. تحقیق ددی مسئلی داده چی دامام شافعی په نزد مقدارمهر معلوم نه ده بلکه دا ورأیه دزوجینو ته سپارل کیږی زوجین چی څومره مقدارمعلوم کړی هغه مهر ده.

دلیل ئی قیاس ده پرعقدمالی باندی یعنی دامام شافعی په نزد نکاح یوعقد مالی مالی ده لکه څرنګه چی په نورو عقودمالیه وؤ کښي مقداردمال وعاقدینوته سپارل کیږی همدارنګه دمهرمقدار ورأیه د زوجینوته سپارل کیږی اوهمدارنګه کوم شی چی په عقدمالی کښی ثمن جوړیدی شی هغه په عقدنکاح کښی مهرجوړیدای شی. اوپه نزد احناف اکثرمقدار دمهر که نه ده معلوم لیکن کم مقدار ئي معلوم ده چی لس درهمه ده تردی کم مهرپه شریعت کښي جائزنه ده .اواحناف په دی سلسه کښی له دی آیت شریف کښی استدلال کوی قَدْعَلِمْنَا مَافَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا

ترجمه: موږته معلوم دی هغه څه چی موږمقرر کړی د دوی دښځوپه حق کښی.طریقه داستدلال داده چی لفظ دفرض دتقدیراوتعین لپاره وضع ده څکه اکثراستعمال ئي په شرع کښي په معنی دتقدیرسره کیږی لکه په دی مثال فرض القاضی النفقة قاضی نفقه مقرره کړه اوهم دارنګه فرائض ورثا دوارثانوهغوحصوته وائي چی ددوی لپاره شرعاً مقرر شوی وی اوهم دارنګه په قرآن کښی هم راغلی دی فَنِصْفُ مَافَرَضْتُم ای نصف ماقدرتم او بعض علماء وائی چی ناضمیرخاص ده اوصاحب التوضیح لیکلی دی چی نسبت دفرض وناضمیرته داهم خاص ده لیکن په دی آیت شریف صرف داثابته شوه چی مهرالله ﷻ مقدر کړی ده اودانه ده معلومه چی څومره ده ددی اجمال دلری کولولپاره دشارع وبیان ته ضرورت شته نوکله چی دشارع وبیان ته ضرورت وو نوځکه نبی کریم ﷺ ددی بیان داسی وکړ لامهراقل من عشرة دراهم نوګواکی الله ﷻ چی کوم مهرمعلوم کړی ددغه اقل مقدار لس درهم ده اودا اندازه په قیاس سره هم معلومه، طریقه ئی داده چی په شریعت کښی

دغله دلاس پریکولولپاره لس درهمه معلوم شوی دی نودغه لس درهمه داسی شول لکه دده دلاس عوض نودلته هم موږدا وایوچی لکه څنګه چی لاس دانسان یوه عضوه (برخه) ده اوددی عوض شرعاً لس درهمه ده دارنګه بضع (اندام مخصوص) هم یوه عضوه ده ددی عوض هم شرعاً لس درهمه ده اوس دځومسائلوبیان کوو چی امام شافعی رحمه الله پرخپل اصل باندی تفریع کوی دده اصل داده چی نکاح عقد مالی ده سنت نه ده اوعبادت هم نه ده.

اوله مسئله : اوله مسئله داده چی امام شافعی وائی چی نفلی عبادت لره ځان فارغ کول بهتره ده ترمشغولتیاپه نکاح سره ځکه نکاح عقدمالی ده لکه څرنګه چی ترنورو عقود مالیه وؤ نفلی عبادت بهتره ده همدارنګه ترعقد نکاح هم بهتره ده ددی مسئلی لپاره دی استدلال کوی په کتاب الله اوپه سنت اوپه اجماع اوپه قیاس سره.

اول دلیل : اول دلیل ئی کتاب الله چی هغه داآیت ده سیدا وحصورا ونبیا من الصالحین په دی آیت کنبی الله ﷻ دحضرت یحی علیه السلام صفت کړی ده دنه نکاح په وجه نوکه نکاح بهتر شی وای نوبایدبیادده صفت په پرینبودلودنکاح نه وای شوی ځکه دبهترشی پرپریښودلودچاه صفت نه کیږی نونعلومه شوه چی نکاح افضله نه ده نوکله چی نکاح افضله نه شوه نواشتغال په نفلی عبادت بهتره ده تراشتغال په نکاح سره.

دوهم دلیل : دوهم دلیل ئی سنت درسول الله ﷺ ده نبی کریم ﷺ وائی ماترکتُ من بعدی فتنة اشد على الرجال من النساء دلته نبی کریم ﷺ وښځوته فتنه وویل اوپه دی فتنه هغه وخت سړی اخته کیږی چی نکاح وکړي نوځکه ترک دنکاح بهتره ده. اوهم دارنګه په بل حدیث شریف کنبي خیرالناس رجل خفیف الحاذ قیل وماخفیف الحاذ یارسول قال الذی لااهل له ولاولد له نبی کریم ﷺ وائی بهتر دانسانوهغه سړی ده چی خفیف الحاذ وی سوال وشو چی خفیف الحاذ څوک ده د وویل هغه څوک ده چی هغه ښځه نه لری او اولاد نه لری له دی څخه هم دا معلومه شوه چی نکاح افضله نه ده نو کله چی نکاح افضله نه شوه نوځکه تر اشتغال په نکاح سره اشتغال په نفلی عبادت سره بهتر ده.

دریم دلیل : دریم دلیل اجماع ده طریقه داستدلال ئی داسی ده چی پردی باندی اجماع ده چی کافراهل دنکاح ده کله چی کافراهل دنکاح شو نومعلومه شوه چی نکاح عبادت نه ده ولی که نکاح عبادت شی نوکافرخواهل دعبادت نه ده چی نکاح عبادت نه شوه اونفلی عبادت بلاشبه عبادت ده نواشغال په نفلی عبادت سره بهتره ده تراشغال په نکاح.

څلورم دلیل : څلورم دلیل قیاس ده طریقه داستدلال ئی داسی ده چی نکاح عقد مالی ده ځکه نکاح له نورو عقودمالیه سره مشابه ده اوپرنورو عقودمالیه باندی نفلی عبادت بهترده نوپرنکاح هم نفلی عبادت بهتر ده.

پنځم دلیل : پنځم دلیل ئی عقلی دلیل ده هغه داده چې په نکاح سره انسان خواهشات پوره کوي اوپه دی کښې دنفس اماره حصه ده اوپه نفلي عبادت سره دالله ﷻ دشمن شیطان اونفس مغلوب کیږي اودا ښکاره خبره ده چې نفلي عبادت ترنکاح بهتره ده.

او داحنافو لپاره پرفضیلت دنکاح هم پنځه دلائل دي.

داحنافو دلائل : اول دلیل کتاب الله ده وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ په دی آیت شریف کښې الله ﷻ نکاح مستحب وبلله اواهل نکاح ته ئی صالح وویل اونکاح ئی سبب دغنی وبلله داټول پردی دلالت کوي چې نکاح افضل کار ده کله چې نکاح افضله شوه نواشتغال په نکاح بهترده تراشغال په نفلي عبادت.

دوهم دلیل : داحناف دوهم دلیل حدیث شریف ده النكاح من سنتي فمن رغب عن سنتي فليس مني نکاح زما سنت ده که څوک زما له سنت سرغړونه کوي هغه زما څخه نه ده اودویم حدیث تزوجوا تناكحوا تكثروا فاني اباهي بكم الامم يوم القيمة ډیراولادونه وزیږوی زه به ورځ دقیامت نورو امتونه په تاسو فخرکوم که څه هم هغه اولاد پوره نه وی یعنی پوره انسان نه وی جوړ بلکه یوټوټه دغوښه وی. دادوړه حدیثونه دنکاح پرفضیلت دلالت کوي.

دریم دلیل : اجماع ده طریقه داستدلال ئی داسی ده چې پردی باندی اجماع ده چې دجهاد لپاره ځان تیارول باندی مصروفتیا بهتره ده ترمصروفتیا په نفلي عبادت اواشغال په نکاح سره له اوله قسمه ده یعنی دجهاد دتیاری له قسمه ده په دی طریقه چې دنکاح په وجه انسانان ډیریږي کله چې مسلمانان ډیرشي کافرغلبه نه شي پیداکولای .مطلب داده چې نکاح ځان تیارول دی وجهادته اوپردی اجماع ده چې ځان تیارول وجهاد ته بهتره ده ترنفلي عبادت نونکاح بهتره ده ترنفلي عبادت.

څلورم دلیل : قیاس طریقه داستدلال داده چې نکاح داولاد آدم علیه السلام دعصمت (ساتنې) او دنفقې اودتربیې سبب ده په دی معنی نکاح له بِر (نیکي) اواحسان سره مشابه شوه نیکي اواحسان ترنفلي عبادت غوره (بهتره) ده ځکه نیکي اواحسان متعدي عبادت ده اونفلي عبادت لازمي ده متعدي عبادت بهتره وي ترلازمي لهذا نکاح بهتره ده پرنفلي عبادت.

پنځم دلیل : عقلي طریقه داستدلال داده چې نکاح په وجه نفس اماره له بدو اوناړو کارو څخه ساتل کیږي اودنفس اماره راګرزول له بدوکارو څخه بهتره ده پرنفلي عبادت ځکه نبي کریم ﷺ چې دالله ﷻ دمنع کړشوو شیانو څخه یوه زره ځان منع کول د ثقلینو تر عبادت بهتره ده.

دشوافع دلیل ته داحناف جواب : دشوافع داول دلیل جواب داده چې موږهم دامنو چې د حضرت یحی علیه السلام صفت الله ﷻ په دی سره کړی ده چې دصبرله ښځو څخه کړی وو لیکن ددی معنی دانه

چې نکاح نه ده افضله بلکه نکاح کول افضل صفت ترنه کولو اویا دا جواب ورکوی چې دحضرت یحی ﷺ په شریعت کښې ترک نکاح افضل وؤ اوپه شریعت محمدی کښې نکاح کول بهتره ده مطلب داچې دا آیت دترک نکاح پرفضیلت دلیل نه ده.

دوهم دلیل جواب : کوم احادث چې امام شافعي ذکرکړوداده‌غه شخص په باره کښې دی چې هغه له ظلم اوناروا کولوڅخه ځان نه شي منع کولای اودا ویره ورسره وی چې کیدای شي حدود الهی قائم نه کړم اوکیدای شي پرښځه ظلم راڅخه وشي دداسي سړی لپاره موږهم نکاح بهتره نه بولو .اوددی لپاره دوهم جواب داده چې دنکاح په باره کښې احادیث مختلف دی نوموږ به وګوروچې آثارصحابه څنګه دی په دی باره کښې دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت ده چې ده ویل که چیری ماته دامعلومه شي چې زما دزنده ګی صرف لس ورځی باقی دی زه به دغه لس ورځی بغیردنکاح نه کړم تیری له دی څخه معلومه شوه چې اشتغال په نکاح افضله ده.

ددریم دلیل جواب : داده چې کافرکه څه هم اهل دنکاح ده لیکن دنکاح عبادت والی په نسبت موږته ده نه په‌نسبت وکافرته دا دوی خبری سره ضدنه دی چې کافر دی هم اهل دنکاح وی اونکاح دی په نسبت ودته عبادت نه وی.

دڅلورم دلیل جواب : دقیاس جواب داده چې موږدانه منو چې نکاح عقدمالی ده ځکه دعقدمالی اونکاح ترمنځ ډیرفرق ده هغه دا چې په نکاح کښې مال دالله ﷻ حق ده ددی لپاره چې اندام مخصوص عظمت ښکاره شي همداوجه ده چې زوجین بغیرماله نکاح نه شي کولای اودامال داسي ده لکه هغه مال چې دجهاد یاحج په لارکښې خرچ شي اوپه جهاداوحج کښې مال مصروف کول حج اوجهاد نه له عبادت والی څخه باسی اونه ئی په عقدمالی کښې داخلی وی لهذا نونکاح هم نه له عبادت والی خارج کوی نه ئی په عقدمالی کښې شمیری.

دپنځم دلیل جواب : دعقلی دلیل جواب داده چې نکاح که څه هم د لذت اوشهوت پوره کول دی لیکن نورډیرمصالح پرمرتب دی چې هغه خیردی.

دوهمه مسلئه : دوهمه مسلئه چې امام شافعي پرخپل اصل تفریع کړی ده هغه داده چې کله نکاح عقدمالی شوه نوعقدمالی نسخ خوپه هره طریقه سره کولای شي یعنی په اقاله په خیارعیب په خیارشرط اوپه خیار رویت په دی ټولوسره دبیع فسخه کیدای شي همدارنګه دنکاح په هرقسم دباطلولواوختمولو اجازه شته یعنی دیوطلاق په ذریعه اویا د دوو اویا د درو اویا دری طلاقه په یوه طهر کی اویا په هر طهرکی یویوطلاق په دی ټولو طریقوباندی دامام شافعي په نزد دنکاح ختمول جائز دی.

لیکن احناف ددی خلاف دی احناف وائی چې دوه طلاقه یادری طلاقه په طهر کښې او یا په یوه کلمه دری طلاقه دا بدعت ده.اومرتکب (کونکی) ئی ګنهګاره ده ځکه داعمل دسنت خلاف ده په

دی وجه چی نکاح یو سنت عمل ده دینی او دنبوی مصالح (فائدی) وربانډی مرتب دی نو باید سړی ئی دضرورت په اندازه باطله کړی چونکه ضرورت په یوه طلاق پوره کیږی د دوو او د درو طلاقو ضرورت نشته.

دریمه مسئله : دریمه مسئله داده چی امام شافعی په نزد په خلع سره فسخه کیدای شی لکه بیع چی په اقاله سره فسخه کیدای شی .لیکن داحناف په نزد خلع طلاق بائن ده فسخه نه ده ثمره دخلاف له مزکوره مثاله ښکاره ده.

وَكَذالكَ قوله تعالى حتّى تنكحَ زوجاً غيرهُ خاصٌ في وُجُود اَلنكَاح من المراة فلايُترَكَ اَلعَملُ به بماروِی عن النبی عَلَيه السلام اَيُّمَا امرَاة نَكحَت نفسها بغيرِ اذنوَلِيّها فَنكاحُها بَاطلٌ بَاطلٌ باطلٌ وَيَتَفرعُ منهُ الخلاف فِی حَلّ الوطئ وَلزوم المَهرِ والنَّفَقَة والسُّكنی ووقوعِ الطلاق وَالنكاح بَعدالطَّلَقَات الثلث علی ماذَهَبَ اليه قُدماءُ اَصحَابه بِخلاف مااختاره اَلمَاخِرُونَ منهم

ژباړه : اوهمدارنګه داقول دالله ﷻ حتی تنکح زوجاً غیره خاص ده په صحت کښي دنکاح په عبارت دښځی نو نه پرښودل کیږی عمل په دی خاص په قول دنبی کریم ﷺ چی دی وائی هره ښځه چی بغیرداجازی دولی نکاح وکړی نکاح ئي باطله ده باطله ده باطله ده او پردی باندی تفریع کیږی اختلاف په حلال والی دوطی کښی اوپه لزوم دمهرکښی اوپه لزوم دنفقی اوسکنی کښی اوپه دطلاق کښی اوپه نکاح کښی وروسته له درو طلاقو پر مذهب دمتقد یمینوشوافع نه پرمذهب دمتا خیرینو.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی لکه څرنګه چی لفظ دفرض خاص په مخکینی آیت همدارنګه لفظ تنکح خاص ده په دی آیت کښی تحقیق ددی مسلئی داده چی که چیری یوه بالغه او عاقله ښځه نکاح وکړی بِغیر داجازی دخپل ولی دغه نکاح په نزد دامام شافعی نه ده منعقده اوپه نزد دامام ابوحنیفه منعقده ده.

دشوافع دلیل : دامام شافعی رحمه الله یو دلیل حدیث دبی بی عائشه رضی الله عنها چی نبی کریم ﷺ کومه ښځه چی بغیرداجازی دخپل ولی نکاح وکړی نکاح ئی باطله ده باطله ده او دا الفاظ نبی کریم ﷺ دری ځله ذکرکړه ددی څخه دامعلومه شوه چی ښځه بغیر داجازی دولی نکاح نه شی کولای.

دوهم دلیل : دحضرت ابوموسی رضی الله عنه حدیث ده هغه داده لانکاح الابولی نشته مګر په اجازه دولی ده داحدیث هم داوائی چی بغیردولی نکاح منعقد نه ده.

داحناف دلیل : داحناف دلیل مذکورآیت شریف ده طریقه داستدلال ئی داسی ده چی په دی آیت شریف کښی لفظ دتنکح راغلی ده اولفظ دتنکح خاص ده په وجود دنکاح کښی څکه ددی لفظ وضع راغلی ده لپاره دنکاح.

سوال : لفظ د تنکح دمزکر حاضرا و مؤنث غائب په منځ کښی مشترک ده او حال دا ده چی ورته خاص وائی او په مثال کی دی دخاص راوړی ده.

جواب : دا ده چی تنکح مخکی ترا سناد و فاعل مشترک په منیځ دمزکر حاضرا و دمؤنث غائب کښی ده ځکه ددی احتمال لری چی اسناد دی ومزکرته وشی او ددی احتمال هم لری چی مؤنث غائب ته دی وشی لیکن وروسته له اسناده خاص ده ځکه که هر یوه ته ئی اسناد وشی په هغه پوری خاص دواړو ته خو اسناد نشی کیدای .او دلته ئی اسناد مؤنث غائب ته شوی ده پردی باندی دلیل دا قول دالله ﷻ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ که خاوند ښځی ته دری طلاق ورکړی بیا دغه ښځه ده ته نه ده حلاله تر هغه وخته چی دا یو ځل له بل سړی سره نکاح وکړی.

حاصل د کلام دا دی چی په دی آیت شریف کښی د نکاح اسناد ښځی ته شوی ده دا پردی دلالت کوی چی ښځه په خپله نکاح کښی مستقله ده دولی او بل چاه د اجازی ضرورت نشته نو دغه آیت شریف دلیل پر صحت دنکاح په عبارت دبالغی او عاقلی ښځی ده.

دشوافع دلیل ته جواب : دشوافع د دلیل چی حدیث د بی بی عائشه او حدیث دا بو موسی ﷺ ده داده چی دا اخبار احاد دی داخبار احاد په باره کښي موږ مخکښی دا خبره کړی وه چی که دخبر واحد او خاص دکتاب الله جمع ممکنه وه بیا په خبر واحد او خاص دکتاب دواړو باندی عمل کوو اوکه جمع ممکنه نه وه خبر واحد پریږدو په کتاب الله باندی عمل کوو او حال داده چی دلته جمع ممکنه نه ده نو موږ د خپل اصل پر بناء خبر واحد پریږدو او په کتاب الله عمل کوو.

داحناف دلیل : داحناف دمذهب دتائید لپاره دمذکوره آیت نه بغیر حدیث دابن عباس ﷺ ده الایمه احق بنفسها من ولیها .ښځه ډیره حقداره ده دخپل ځان په باب کښی تر ولی ددی او همدا رنګه دا قول دالله ﷻ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ او بل دا قول دالله ﷻ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ داحناف دمذهب تائید کوی.

مصنف رحمہ اللہ چی کله دا خبره ثابته کړه چی نکاح دحُری بالغی عاقلی بغیر د اذن د ولی په نزد داحناف جائز او په نزد دشوافع نه ده جائز نو پردی اختلاف باندی څو مسائلي چی ددوی پکښی اختلاف ده تفریع کوؤ.

اول داده چی کله دشوافع په نزد نکاح بغیر د اجازی دولی صحیح نه ده نو که چیری نکاح وشی شوافع وائی چی تر دی نکاح پوری دنکاح یو حکم هم تعلق نه نسی یعنی خاوند ته ئی وطی جائز نه دی او نه پر خاوند باندی مهر شته او نه ورباندی نفقه او سکنی شته او که چیری دغه خاوند دغی ښځی ته طلاق ورکړی طلاق واقع نه ده ځکه نکاح نشته ښځه بیګانه ده او پر بیګانه ښځی باندی طلاق نه واقع کیږی او که دغه خاوند دی ښځی ته دری طلاقه ورکړی .او بیا په اجازه دولی نکاح ورسره وکړی شوافع وائی چی بغیر د بل زوجه ئی نکاح صحیح ده ځکه اوله نکاح منعقده نه ده چی

نکاح منعقده نه ده نوطلاق واقع نه ده لیکن دغه آخری خبره چی نکاح وروسته له درو طلاقو بغیردزوجه حلاله بولی دا دمتقدمینو شوافع رأیه ده متأخرین شوافع له احناف سره موافق دی.

وَاَمَّاالعام فنوعان عامٌ خُصَّ عَنهُ اَلبَعضُ وَعامٌ لم يَخُصَّ عَنه شيءٌ فَاالعَامُ الذى لَم يخُص عَنهُ شيءٌ فهوبِمَنزلة اَلخَاص فِي حقِّ لُزُوم اَلعَمل به لامَحَالة.

ژباړه : بهر حال عام دوه قسمه ده يو قسم هغه چی دده څخه بعض افراد خاص کړشوی وی او بل قسم هغه ده چی يو شی هم نه وی ورڅخه خاص شوی دغه قسم دعام چی شئ نه وی ورڅخه خاص شوی دا په منزله دخاص په دی کښي چی په دواړو باندی عمل کول لازمه ده

تشریح : مصنف رحمة الله علیه دعام تعریف بیان کړی چی عام هغه لفظ ده چی دخپلی موضوع له معنی ټولو افرادلره شامل وی اوداشمول که لفظاً وی لکه مسلمون وغیره اوکه معناً وی لکه من.وما اواوس بیان په تقسیم دعام کښی ده دعام خومذکوره دوه اقسامه دی لیکن اوس دعام غیرمخصوص منه البعض بیان کوو دعام غیر مخصوص منه البعض حکم په نزد داحناف داده چی یقین فائده کوی اوپه ده باندی عمل کول لازم ده یعنی څرنګه چی په خاص سره عمل کول لازم وو دارنګه په ده سره هم قطعاً اوحتماً کول لازم ده. اودامام شافعی رح په نزدعام غیرمخصوص منه البعض دخبرواحد اوقیاس په مرتبه کښی ده یعنی لکه څرنګه چی خبرواحداوقیاس ظن فائده کوی همدارنګه دغه قسم دعام ظن فائده کوی یعنی په عام غیرمخصوص من البعض باندی عمل کول واجب ده لیکن اعتقاداویقین ورباندی کول واجب نه ده لکه په خبرواحد اوقیاس باندی چی عمل کول واجب ده لیکن اعتقاداویقین ورباندی کول واجب نه ده

دشوافعو دلیل : دلیل داده چی یوعام هم داسی نشته چی په هغه کښی دی احتمال دخصوص نه وی بلکه په هرعام کښی احتمال دخصوص شته کله چی داسی شوه چی هرعام احتمال دخصوص لری نوداخبره ثابیته شوه چی په ده سره عمل کول لازم نه ده څکه سره له احتمال خوقطیعت ه وی.

هو که داسی عام وی چی که په هغه کښی نه اوس احتمال دخصوص وی نه په وروسته کی دا احتمال پیدا کیږی په هغه عام عمل کول لازم ده او هغه قطعیت فائده کوی لکه <u>والله بکل شئ وعلیم</u> دا داسی عام ده چی نه اوس احتمال دخصوص لری نه په وروسته کښی دااحتمال پیدا کیږی.

داحنافو دلیل : داحناف دلیل داده چی دعام لفظ له وضع څخه مقصد عموم اوشمول ده او هر لفظ پرخپله معنی باندی دلالت قطعاً اوحتماً کوی څکه که قطعاً اوحتماً دلالت پرخپله معنی نه وکړی بیا وضع لره هیڅ فائده نه شوه پاته نوکله چی دعام موضوع له معنی شمول اوعموم وه نودلالت به ئي هم پردی معنی قطعی اوحتمی وی حاصل دکلام داده چی داخبره ثابیته ده چی عام غیرمخصوص من البعض قطعیت فائده کوی کله چی عام غیرمخصوص من البعض قطعیت فائده

کاوۇ نوځکه صحابه کرام رض هم په عمود دنص باندی استدلال کاوۇ لکه حضرت علی ﷺ د دوو خویندوپه جمع کیدو په ملک یمین اوپه وطی کښی داسی وائي چی دوی خوندی جمع کیدل په دی آیت سره جائزدی وَمَامَلکت ایمانکم په دی طریقه چی دغه آیت شریف پردی دلالت کوی چی له هری مینځی سره وطی کول حلال دی خواه که په جمع له خپله خورسره راغلي اوکه نه ویی راغلی.

اوهمدارنګه ددوو خوندو جمع کیدل حرام دی په دی آیت وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الأُخْتَيْنِ ددی معنی داشوه چی ددوو خویندو جمع کیدل حرام دی خواه که په طریق دنکاح وی اوکه په طریقه دملک یمین وطیاً وی مطلب حضرت علی ﷺ ددی دواړو آیتو په عموم استدلال کړی ده لیکن دلته د دوو خویندو جمع کیدل وطیاً په ملک یمین په حلال والی اوحرام والی کښی تعرض راغی یوآیت ئي حرمت ثابیتوی اوبل آیت حلت ثابیته وی ددی دفع داسی ده چی حلال اوحرام مقابل راشی نوهلته حرام ترجیح لری پرحلال باندی نوځکه دلته حرام ته ترجیح ورکړشوی چی جمع د دوو خویندووطیاً اوهمدارنګه واقعه دصدیق اکبر ﷺ چی ده دقریش دامامت کُبری داثبات لپاره په عموم ددی حدیث استدلال وکی الائمة من القریش.

وَعلی هذا قُلنَا اذاقُطِعَ يَدُ السَّادق بَعدمَاهلَکَ المَسروق عندهُ لاَيُحبُ عَليه الضَمانُ لاَنَ اَلقطعَ جَزاءُ جَميع مَااكتَبَه السَادقُ فَانَ كَلمَةَ مَاعَامَةٌ يَتَنَاولُ جَميعَ مَاوُجِدَ من السَّادق وَبتَقديرُ ايجَاب اَلضَمان يَكُونُ اَلجزَاءُ هوالمَجمُوعَ ولاَيُترکَ اَلعَمَلُ بِهِ بِاالقيَاس عَلی لَغَصَبَ وَالدَّليلُ عَلی اَنَ كَلِمَةَ مَاعَامَةٌ ماذكرمُحَمَّدٌ اذاقَالَ المولی لِجارِيته اِن كَانَ مافی بَطنکَ غُلاماً فَانت حُرَّةٌ فَولدت غُلاماً وَجاريةٌ لاَتَعتق.

ژباړه : بناه پردی اصل موږوایوکه دغله په لاس کی غلاکړشوی شی هلاک شواودده لاس پریکړشو نوپرده باندی دهلاک شوی شی ضمان واجب نه ده ځکه پریکیدل دلاس دټول هغه څه سزاء ده چی کړی ئی دی ځکه کلمه دماعامه ده وټولوجرمونوته شامله ده اوکه ضمان واجب شی بیاخوسزاء پریکول دلاس اوضمان دواړه شو اوهمدارنګه په ده سره عمل نه پرینبودل کیږی په قیاس کولوپرغضب باندی اودلیل پرعموم دماقول دمحمدؒ رحمة الله علیه چی که مولی مینځی ته وویل چی که ټول هغه څه چی ستاپه نس کی دی غلام وؤ نه ازاره ئي اوبیاددی مینځی هلک اوانجلی پیداشو نه ازاریږی.

تشریح : مصنف رحمة الله علیه پردی اصل چی عام غیر مخصوص منه البعض یقین فائده کوی عمل کول عمل کوی ورباندی قطعاً واجب ده یوه مسلئه بناه کوی هغه داچی که غله غلام وکړه اومال دده په لاس کښی هلاک شو وروسته دده لاس دغلام په وجه پریکړشو پرده ضمان شته کنه ؟ احناف وائی نشته اوشوافع وائي شته.

دشوافعو دلیل : شوافع وائی چی هرکله دغاصب په لاس مال دغصب هلاک شی پرغاصب ئي ضمان شته نوځکه پرغله هم دهلاک شوی مال ضمان شته.

داحنافو دلیل : احناف وائی چی په دی قول دالله ﷻ کښي فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا کلمه دما عامه ده ددی دعموم تقاضی داده چی پریکړه دلاس دغلادټولوجرمونوسزاء ده یعنی غلااودهلاک دواړوسزاء ده اوس ضمان واجب شی بیاقطع الیه تنها سزاء نه شوه بلکه قطع الیه اوضمان دواړه سزاء شوه اوپه دی سره دعام موجب باطل شو دعام په عموم عمل نه وشو اوحال داده چی دده په عموم باندی قطعاً اوحتماً واجب ده.

د شوافعو دلیل ته جواب :دشوافع قیاس ته داجواب ورکوو چی که په دی قیاس سره عمل وشی بیا عام دکتاب الله بلاعمله پاتیږی اودقیاس په مقابل کښی کتاب الله پریښودل جائزنه ده نوځکه موږقیاس پریږدو اوپه کتاب الله باندی عمل کوو.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ دما دعموم لپاره په قول دامام محمد رحمۃ اللہ علیہ باندی استدلال کوی دوی وائی چی که مولی وخپلی ته ښځي وویل إن كان ما في بطنك غلاماً فانت حرة که ټول هغه څه چی ستا په نس کي دی غلام وو ازاره ئی اوحال داوو چی مینځی هلک اوانجلی دواړه پیداشو دا مینځه نه ده آزاده ځکه چی دمینځی دآزادوالی شرط داوؤ چی که ټول هغه څه چی ستا په نس کی دی هلک وو اوداشرط خوپوره نه شو نومشروط چی مینځی آزادیدل دی هم نشته

اوداخبره یادساتهد چی امام محمد رحمۃ اللہ علیہ لکه څرنګه چی فقه ده همدارنګه امام دلغت هم ده دده قول په فقه اولغت دواړوکښی حجت (دلیل) ده.

فوائد : زه ددی مسلئی دوضاحت لپاره څومسائله ذکرکوم.

اوله مسلئه : که چیری له غله سره مال مسروق (غلاشو) موجودوی داماال بالاتفاق خاوندته ورکړکیږی.

دوهمه مسلئه : که غله داماال خرچ کړی وو اویا ئی بل چاه ته هبه (بخښلی) وؤ په دی صورة کښی داماال له مشتری (اخستونکی)اوله موهوب به څخه اخستل کیږی او خاوندته ورکړکیږی اودامام شافعی په نزد که داماال غله هلاک کړی وؤ اوکه ورڅخه هلاک شوی وی په دواړوصورته کښی پرده ضمان شته اوامام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ په نزد په دواړوصورتو کښی ضمان نشته دلیل ئی دعبدالرحمن ابن عوف حدیث ده چی نسائي روایت کړی ده لایغرم صاحب سرقة اذا اقیم علیه الحد یعنی کله چی حد قائم شی پرغله باندی بیازمان ورباندی نشته .ددی حدیث له اطلاقه دامعلومیږی چی دلاس پری کولونه وروسته غل دمال ضامن نه ده خواه که مال هلاک شوی وی اوکه غله پخپله هلاک کړی وی .دامام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ څخه حسن بن زیاد روایت کوی چی که مسروق مال په خپله هلاک شو ضمان نشته اوکه مسروق هلاک کی بیا پرده ضمان واجب ده دلیل ئی داده کله چی دغله

لاس په سبب دغلا پريکړشو نودغلا جنايت دلته ختم شو اومال دغله په لاس کښې بلا جنايته پاته شو داپه منزله د وديعت ده اوپه وديعت کې مسلئه داسې ده که مال هلاک شو ضمان نشته اوپه قصد سره هلاکولو باندې ضمان شته لهذا دلته هم که مال مسروق هلاک شي ضمان نشته اوکه ئې په قصد هلاک کړې ضمان شته.

وَبِمثله نَقُولُ فی قوله تَعالی فَاقرَءُ مَاتَيسرَ مِنَالقرانَ فَانَّهُ عامٌ فی جَميع ما تَسيرَ من القران وَمن ضَرورَته عَدمُ توقُف الجَوَازعَلی قراة اَلفَاتحَة وَجاءَ فی اَلخبرَانَّهُ قَالَ لاصلوة الابفَا تحة اَلكتَاب فَعمَلنَا بِهاعلی وجه لَايتَغيرُبه حُكم الكتَاب بانَ نَحملُ اَلخبرَعلی نفی اَلكمالِ حتّی يكُونَ مُطلَقُ القراةُفرضًابِحُكم الكتَاب وَقِراةُ الفَاتحة واجبهٌ بحكم الخبر

ژباړه: اوپه مثال ددې کښې موږ وايو په دې قول الله ﷻ کښې فَاقرءُ مَاتَيسرَ مِن القرآن چې د اما عامه ده شامله ده وټول هغه صورو دقرآن ته چې آسانه وي اوله دې څخه لازميږي عدم توقوف دصلوة پرقرأة دفاتحه اوپه حديث شريف کښې راغلي دي چې نبي کريم ﷺ وائي چې لمونځ نشته بغيردفاتحه نوموږعمل کوو په دواړو په داسې طريقه چې حکم د کتاب ته تغيرنه ورسيږي په دې طريقه چې خبرحمل کوو پرنفي دکمال چې مطلق قرأة فرض شي په کتاب الله اوفاتحه واجب په حکم دخبر.

تشريح: مصنف رحمه الله وائي لکه څرنګه چې په بما کسبا کښې ما عامه وه دارنګه فاقرأ مَاتَيسرَ من القرآن کښې هم عامه ده څکه دا ما شامله ده دقرآن هرې حصې ته چې ويل ئې آسانه وي که فاتحه وي اوکه بل صورة دا معنی موږ په دې وجه کوؤ چې دا آيت نازل په باره دلمانځه کښې ده نوکه لمونځ کونکي په لمانځه کې دقرآن هره حصه ووائي داکافي ده او داعموم دالازموي چې لمونځ موقوفه پرفاتحه نه ده اوپه حديث کې راغلي دي لاصلوة الابفاتحة الكتاب په حديث شريف کښې لا دنفي دوجود لپاره ده لهذا دحديث مطلب داده چې لمونځ بغيرفاتحه شرعاً موجود نه ده يعنی دلمانځه جواز موقوفه ده پرفاتحه باندې اودآيت عموم پردې دلالت کوی چې دفاتحې ويل ضروري نه ده مصنف رحمه الله ددې تعارض دفع په داسې طريقه کوی چې موږ په دواړو عمل کوو څکه په دواړو باندې عمل ممکن ده په دې طريقه چې حديث حمل کوو پر نفي دکمال باندې په دې صورة معنی د حديث داشوه لاصلوة كاملة الابفاتحة الكتاب لمونځ بغير دفاتحې کامل نه ده کله چې دارنګه شوه نو تعرض دفه شو اوس مطلق قرأة فرض په حکم دآيت او فاتحه واجب په حکم دحديث.

سوال: ددې آيت له عموم څخه مادون الايت (يعنی کم ترآيت) خارج ده څکه د مادون الايت په قرأة لمونځ جائز نه ده نوکله چې مادون الايت خارج شو نوبيا دا آيت عام مخصوص البعض شو اوحال داده چې عام مخصوص البعض ظن فائده کوی اوپه مفيد ظن نص سره فرضيت نه ثابيتږي لهذا په دې آيت فرضيت نه ثابيتږي.

جواب : جواب داده چي مادن الايت باندی قرأة دقرآن نه صادقيږي يعني كه قاري مادون الايت ووائي قاري نه ورته ويل كيږي كله چي مادون الايت ته قرأت قرآن نه ويل كيږي لهذا جنوب اوحائضه ته د مادون الايت قرأت جائزده نوځكه مادون الايت له دی آيت څخه خاص نه ده چي دده په خصوص سره دا آيت عام مخصوص البعض شي بلكه ددی آيت په عموم كښي داخل نه ده.

دوهم سوال :دوهم سوال داده چي په دی آيت كښي ما مشتركه ده دموصولي او نكره په مينځ كښي يعني دا ما په معنی دالذی موصوله هم راځي اوپه معنی دشيء نكره هم راځي موصوله عامه ده اونكره خاصه ده ځكه نكره يو فردلره شامله ده ليكن دلته ما نكره ده ځكه كه موصوله شي اوعامه شي بيا ئي معنی داسی ده چي چي څومره اندازه قرآن چي لمونځ كونكی ته آسانه وی دهغه ويل ورباندی واجب ده اوحال داده چي يو څوک هم په دی قائل نه ده چي دجميع ماتيسرويل واجب ده ځكه دبعض لمونځ كونكونيم قرآن زده وی اودابعض ټول قرآن زده وی نونيم اويا دټول قرآن ويل يو څوک هم واجب نه بولي نو معلومه شوه چي ما عامه نه ده.

جواب : جواب داده چي دلته كه څه هم مانكره په معنی دشی ده عامه نه ده ليكن په صفت عامه چي تَيسرّ ده موصوفه ده كوم شي چي موصوف په صفت عام سره وی هغه هم عام وی ټولوافرادلره شامل وی لهذا معنی دآيت داشوه فاقرأ كل آيته تيسرّ.

دويم سوال : داآيت دتهجد دلمانځه په باره كښي نازل شوی ده اوحال داده چي دتهجد د لمانځه فرضيت منسوخ ده لهذا په دی آيت سره استدلال نه صحيح كيږي.

جواب : جواب داده چي اعتبارعموم دلفظ لره خصوص دواقعي لره اعتبارنشته اوحال داده چي دآيت الفاظ تريوه لمانځه پوری هم نه دی خاص ،گر كه واقعه خاصه وی نو د عموم دلفظ په اعتبار استدلال صحيح ده.

وَقُلنَا كَزالكَ فِي قَولِه تَعَالى ولاتا كُلوممَالم يُذكَربسم الله عَليه انَّهُ يُوجبُ حُرمَةَ مَتروك اَلتَسمية عَامداً اوجَاء فِي اَلخَبرانَّهُ عليه السّلام سُئِلَ عَن مَتروك اَلتَسمية عَامداً فَقَالَ كُلُوهُ فَانَّ تَسميَةَ الله تَعالى فِي قَلبِ كُلِّ امرا مُسلم فَلايُمكنُ التَوفيقُ بَينَهمَا لانَهُ لَوثَبَتَ اَلحِلُ بِتركِهَا عَامداً لَثَبَتَ اَلحِلُ بِتركِهَا نَاسياً فَحِنئذِيَرتَفِعُ حُكمُ اَلكِتَاب فَيُترَكَ اَلخَبر.

ژباړه : اوهمدارنگه موږوايو په دی قول دالله ﷻ كښي وَلَاتاكلوما لم يذكربسم الله ، كلمه دما عامه ده اوداقول دمتروک التسميه عامدا حرمت ثابيتوی اوحال داده چي په حديث شريف كښي راغلي چي دآنحضرت ﷺ څخه دمتروک التسميه عامدا په باره كښي سوال وشو نبی كريم ﷺ ورته وويل چي خوری ئي ځكه دهر مسلمان په زړه كښي دالله ﷻ نوم شته اوس ددی حديث اودآيت په منځ كښي تطبيق ممكن نه ده ځكه كه دمترک التسميه عامدا حلالوالی ثابيت شي نودمتروک

التسمیه ناسیاً حلالو الی په دی حدیث په طریقه اولی ثابت ده او په دی طریقه د کتاب حکم رفع شو لهذا دلته په حدیث عمل نه کوؤ.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی کله چی عام غیر مخصوص من البعض مفید یقین وؤ او ظنی دده مقابله نشی کولای نو موږ وایو چی په حدیث دکلوه فان تسمیة الخ باندی د متروک التسمیة عامداً خوړل جائزنه دی.

تفصیل ددی مسلئی داده چی که یو مسلمان د ذبح کولو په وخت کښي قصداً بسم الله پریږدی حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله وائي چی ددی خوړل حرام دی او که ئی په هیره سره بسم الله پاته شی بیا ئی خوړل حلال دی.

او امام شافعی په نزد په دواړو صورتو کښي حرام ده. او د امام مالک رحمه الله مذهب داده چی په دواړه صورته کښی حرام ده

دامام مالک رحمه الله دلیل: دامام مالک دلیل داده چی په دی آیت ولاتاکلو مما الخ کښي کلمه د ما متروک التسمیه عامداً او ناسیاً داوړو ته شامله ده لهذا په دی آیت په دواړو صورتو کښي متروک التسمیه حرام بولی.

دشوافعو دلیل: یو دلیل دغه مزکور حدیث ده او دوهم حدیث داده المؤمن یذبح علی بسم الله سمّی اولم یُسمِّ د مؤمن ذبح د الله پر نام ده که بسم الله ووائی او که ئي نه ووائي.

داحنافو دلیل: د حضرت امام اعظم ابوحنیفه دلیل داده چی په دی آیت ولاتاکلو الخ کښي کلمه د ما عامه ده ظاهراً متروک التسمیه عامداً او ناسیاً دواړو ته شامله ده لیکن چی په دی کښی غور او فکر وشی دا به معلومه شی چی متروک التسمیه ناسیاً ته نه ده شامله یو وجه ئي داده چی ناسی حکماً ذاکر ده ځکه نسیان شرعی عذر ده ددی حدیث رفع عن امتی الخطاء والنسیان په وجه معاف ده او ذابح چونکه مسلمان ده دده مسلمان والی دذکر د الله داعی (بلونکی) ده همدا وجه ده چی دده مسلمانی دذکر پر ځای قائم مقامه ده لهذا ناسی تر دی آیت لاندی نه ده.

دوهمه وجه داده چی په آیت شریف کښي لم یذکر لفظ ددی معنی داده چی قصداً ذکر نه وکړی او کوم چی نسیاً لره شامل ده هغه لم یتذکر لفظ ده مطلب داده چی دغه آیت متروک التسمیه ناسیاً ته نه ده شامل صرف د متروک التسمیه عامداً پر حرمت دال ده او داحدیث کلوه فان تسمیة فی قلب کل امرء مسلم دهغه سوال په جواب کښی وو چی هغه د متروک التسمیه عامداً په باره کی شوی وو اوس د کتاب او خبر په مینځ کښی تعارض راغی او په دواړو سره عمل کول ممکن نه ده یعنی دا نه ده ممکنه چی په یوه وخت کښی په آیت او په حدیث داوړو عمل وکړو ځکه که په حدیث عمل وکړو چی متروک التسمیه عامداً حلال وبولو نو متروک التسمیه ناسیاً په طریقه اولی حلال ده ځکه د ناسی عذر تر عامداً ډیر ده او کله چی عامداً او ناسیاً دواړه حلال شو نو آیت په دی حدیث سره

منسوخ شو او حال داده چي مونږ مخکی داخبره وکړه چي عام غیرمخصوص منه البعض قطعی ده اوخبرواحد ظنی ده او قطعی په ظنی سره نشی منسوخ کیدای لهذا دلته په آیت عمل کوؤ اوخبر واحد پریږدو.

وكذالك قَولَهُ تَعالى وَاُمَّهاتُكُم التى اَرضَعنَكُم يَقتَضِي بِعُمُومه حُرمَةَ نَكاحَ اَلمَرضِعَ وَقَدجاءَ فى الخَبرِ لاتُحَرِمُ اَلمَصَّةُ وَلااَلمَصتَانِ وَلاالاملاجَةُ وَلَاالاملاجَتَانِ فَلَم يُمكَنِ التَوفِيقَ بَينَهُمَا فَيترَكَ الخَبر

ژباړه: اوهمدارنګه دالله ﷻ داقول وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ دخپل عموم په وجه دتی ورکونکی دنکاح دحرمت تقاضي کوی لیکن په حدیث کښی راغلی دی یوځل زبیښل او یا دوه ځله زبیښل اویوځل تي په خوله کي ورکول اویا دوه ځله په خوله کي ورکول حرمت نه راولی اوس د دوی دوو په مینځ کښی تطبیق ممکن نه ده لهذا حدیث پریږدو په آیت عمل کوؤ.

تشریح: منصف وائی چی دعام غیرمخصوص منه البعض په مقابله کښی دخبرواحد دپریښودلو یومثال داده چی الله ﷻ دهغوښځوذکرکوی چی له هغوسره نکاح کول حرام ده الله ﷻ وائي چي پرتاسوباندی هغه ښځی هم حرامی دی چی تاسوته ئي شیدی درکړی وی ددی آیت عموم داتقاضی کوی چی شیدی ورکړشوی هلک ته دشیدی ورکونکی ښځی نکاح حرامه ده خواه که ئي لږورکړی وی اوکه ئي ډیری دا مذهب داحناف ده.

دامام مالک اوامام احمد هم داسی یویوروایت شته.

لیکن حدیث ددی آیت خلاف ده لکه عائشه ﷺ چی وائي ولاتُحَرِّم المصة ولاالمصتان او همدارنګه أم فضل روایت ولاالملاجة والاملاجتان مصة زبیښل ته وائي دکوچنی فعل ده اواملاج تئ په خوله کی ورکولوته وائي دښځي فعل ده ددی دواړوحدیثومطلب داده چی که کوچنی یوځل یادوه ځله تئ وزبیښي اویاښځه یوځل یادوه ځله تئ په خوله کی ورکی حرمت نه راولی لکه امام شافعی چی وائي چي حرمت رضاعت کم ازکم پنځه ځله زبیښل غواړی حاصل داده چی د آیت له عموم څخه مطلق حرمت رضاعت ثابیت شو اوحدیث دا وائي چی په یوځل یادوه ځله زبیښلوسره حرمت نه راځي اودانه ده بلکه تعارض ده د آیت اوحدیث په مینځ کښی اوتطبیق هم ممکن نه ده لهذا دلته هم دمزکوره اصولومواقف حدیث پریږدو اوپه آیت باندی عمل کوو لیکن دلته یوسوال پرمونږ کیږی.

سوال: سوال داده چی دمدّت رضاعت څخه وروسته یعنی په لوبیني تي رودل بالاتفاق حرمت نه راولی لهذا دا آیت عام مخصوص البعض شو ځکه داقسم ځنی خاص شو او عام مخصوص البعض ظنی ده اوظنی معارضه خبرواحد کولای شی یعنی په خبرواحد باندی تخصیص ورتلای شی لهذا دآیت مطلب داشو چی په ډیروشیدو څښلوباندی حرمت راځی لیکن پرلږڅښلو باندی حرمت نه راځی اوحال داده چی احناف داسی نه وائي.

جواب : جواب داده چې د مدت رضاعت څخه وروسته تئ رودل په دی آیت کښی داخل نه ده ځکه په آیت شریف کښی لفظ دام راغلی ده ام په معنی د اصل ده اوتئ ورکونکی ښځه هغه وخت اصل ده چې هغه کوچنی چې دې تئ ورکړی ده ددی لپاره فرع شی لیکن داهغه وخت فرع ګرزی چې ددې په شید وسره دهغه په غوښه اوهډوکو کی زیادت راشی اوزیادت درضاع په مده کښی راځی یعنی چې هلک کوچنی وی اوکه په لویینی باندی ورکی بیا دا تئ رودونکی ددی جز اوبعض نه ده اونه تئ ورکونکی دده لپاره اصل ده ځکه پردی دټولو اتفاق ده چې که په لویینی باندی تئ ورودل شی هغه دده لپاره غذا نه ده چې غذا نه شوه نو دده په غوښه اوهډوکو کی زیادت نه راولی چې زیادت نه راغی نو جز اوبعض نه شو لهذا دا په دی آیت کښی داخل نه ده چې داخل نه شو نو دده په وتلو باندی آیت عام مخصوص البعض نه شو نو په دی وخت کښی بیا خبرواحد دده معارض نشی واقع کیدای.

وَاَمَّا اَلعَامُ اَلذي خُصَّ عَنهُ البَعض فَحُكمَهُ انهُ يُحب اَلعَمَلُ بِه فِی البَاقي مَعَ لاحتمَال فَاذا قَامَ الدَّليلُ عَلى تَخصص اَلبَاقي يَجُوزُ تَحصيصه بِخَبرِالوَاحِدِ وَالقِيَاسِ اِلي اَن يُبقى اَلثلثُ وَبَعدَ ذَالكَ لاَيَجُوزُ تَخصِيصُه فَيجبُ اَلعَمَلُ بِه.

ژباړه : اوهغه عام چې دده څخه بعض افراد خاص کړشوی وی حکم ئي داده چې عمل کول په باقی افرادو دده واجب ده سره له احتماله دتخصیصه نوکه دباقی افرادپرتخصیص دلیل پیداشو په خبرواحد اوپه قیاس باندی ئی تخصیص جائزده ترهغه وخته چې دری افراده ترعام لاندی پاتیږی ددی نه وروسته تخصیص جائزنه ده.

تشریح : مصنف رحمة الله علیه دلته دعام ددوهم قسم تعریف اوحکم بیانوی اوتردی مخکی باید تخصیص وپیژنو.

دتخصیص تعریف : تخصیص په لغت کښی دی ته وایی چې له مجموعی دافرادو څخه بعض افرادله حکمه څخه خارج کړی اوپه اصطلاح کښی دی ته وائي چې عام دکلام مستقل موصول په ذریعه باندی پربعض افرادباندی حصرکړی یعنی دکلام مستقل موصول په ذریعه بعض افرادخارج کړی اوبعض افرادترعام لاندی پریږدی.

کلام مستقل هغه ته وائي چې هغه حکم فائده کوی اوپه افاده دحکم کښي چاته احتاج نه لری اوکلام موصول دی ته وائي چې په عام اومخصص دواړوباندی یوځل تلفظ وشی اوکه ددوی دوؤ تلفظ بیل بیل وی هغه ته په اصطلاح کښی تخصیص نه ویل کیږی بلکه هغه نسخه ده اودتخصیص په تعریف کښي په قید دکلام سره عقل اوعادت خارج شو که دعقل اوعادت په ذریعه دعام بعض افرادخارج وؤ هغه ته هم په اصطلاح کښی تخصیص نه ویل کیږی .اوپه قید دمستقل سره استثناو اوصفت خارج شو که داستثنااوصفت په ذریعه دعام بعض افرادخارج

شوی وؤ هغه ته هم په اصطلاح کښې تخصیص نه ویل کیږی او د موصول په قید سره نسخه خارجه شوه. دا خبره یاد ساته چې د تخصیص دا تعریف په نزد د احناف ده.
او د شوافع په نزد تخصیص عام ده که کلام وی او که غیر کلام وی او کلام مستقل وی او که غیر مستقل وی او متصل وی او که غیر متصل وی په ټولو صورتو کښې امام شافعي تخصیص ورته وائي ځکه د امام شافعي په نزد عام هغه ده چې حصر شوی وی پر بعض افرادو خواه که په کلام سره وی او که په غیر کلام او که په مستقل وی او که په غیر مستقل کی په موصول وی او که په غیر موصول حاصل د کلام داده چې په دی قسم د عام کښې د اصولینو دری قوله دی.
اول مذهب: اول قول د شیخ ابوالحسن کرخی او ابوعبدالله جرجانی او عیسی ابن ابان رحمہ اللہ ده دوی حضرات وائی چې عام له تخصیص وروسته حجت نه ده نه حجت قطعي ده او نه ظني ده یعنی له تخصیصه بعد په ده باندی عمل کول واجب نه ده بلکه په دی کښې توقوف خواکه مخصوص افراد معلوم وی لکه په دی قول کښې اُقتلوا المشرکین ولا تقتلوا اهل الذمة او که نه وی معلوم لکه په دی قول کښې اُقتلوا المشرکین ولا تقتلوا بعضهم .
دوهم مذهب: د عامه علماءُ ده دوی حضرات وائی که مخصوص افراد معلوم وو بیا عام په باقی افرادو کښي قطعی ده لکه څرنګه چې مخکې تر تخصیص قطعی وو او که نه وو معلوم بیا د عام حکم ساقط ده په باقی افرادو کښي بالکل حجت نه ده آن تردی چې د متکلم له خواه ئي بیان راځی.
دریم مذهب: د قاضی امام ابوزید رحمہ اللہ او مصنف رحمہ اللہ چې په متن کی ذکر ده
مصنف رحمہ اللہ داسی وائی چې عام له تخصیص بعد قطعی نه ده بلکه ظنی ده لیکن کوم افراد چې له تخصیصه بعد باقی پاته دی په هغو باندی عمل کول واجب ده خواه که مخصوص افراد معلوم وی او که نه وی لیکن دا خبره یاد ساته چې په باقی افرادو کښې د عمل وجوب قطعی نه ده بلکه ددی احتمال سره واجب ده چې په باقی افرادو کښي هم تخصیص جائزده.
مصنف رحمہ اللہ وائی کله چې په یو ځل تخصیص سره دلیل قطعی ظنی شو نو اوس خبر واحد او قیاس دده معارض واقع کیدای شي او په باقی افرادو کښی د خبر واحد او قیاس په ذریعه تخصیص جائزده او دا خبره یادلره چې د عام ترکومه وخته تخصیص جائزده په دی باره کښی د مصنف رحمہ اللہ او بعض مشائخ رأیه داده چې د عام ترهغه وخته تخصیص جائزده چې ترده لاندی دری افراده باقی پاتیږی کله چې ده ته دری افراده پاته شو نو په دی باندی عمل کول واجب ده او له دی نه بعد نور تخصیص جائزنه ده دلیل ئي داده چې ټول اهل لغت پردی خبره متفق دی چې د جمع اقل (کم) افراد دری دی او که تردی هم کم شی بیا عام باقی نشو پاته بلکه نسخه شو او د عام نسخه په خبر واحد او قیاس سره جائزنه ده بلکه پر خبر مشهور یا متوتر سره نسخه کیدی شي.

اومصنف رحمۃ اللہ علیہ دا تعریف دهغه عام کوی چی هغه یالفظاً یامعناً داوړه جمع وی اونکره وی لکه مسلمون اومشرکون او یا صرف معناً جمع وی لکه قومٌ رحطٌ او هغه جمع چی معرفه په الف لام جنسی وی او همدارنګه من او ما ددغه قسم حمعوله درو څخه وروسته هم تخصیص جائزده لیکن یو فرد پریښودل ضروری دی.

څلورم مذهب : دجمهوروم‌مزاهب داده چی استثنانه بغیرپه ټولواوعاموالفاظوکښی تریوه پوری تخصیص جائزده.

وَاِنَّمَا جَازَ ذَالِکَ لِاَنَّ لِمُخَصِّصَ الَّذِی اَخْرَجَ اَلْبَعْضَ عَنِ الْجُمْلَةِ لَوْاَخْرَجَ بَعْضًامَجْهُولاً یَثْبُتُ الْاِحْتِمَالُ فِی کُلِّ فَرْدٍ مُعَیَّنٍ فَجَازَ اَن یَکُونَ بَاقِیاً تَحْتَ حُکْمِ الْعَامِّ وَجَازَ اَن یَکُونَ دَاخِلاً تَحْتَ دَلِیلِ الْخُصُوصِ فَاسْتَوَی الطَّرْفَانِ فِی حَقِّ اَلْمُعَیَّنِ فَاِذَاقَامَ الدَّلِیلُ الشَّرْعِیُّ عَلٰی اَنَّهُ مِن جُمْلَةِ مَادَخَلَ تَحْتَ دَلِیلِ الْخُصُوصِ تَرَجَّحَ جَانِبُ تَخْصِیصِهٖ وَاِن کَانَ الْمُخَصِّصُ اَخْرَجَ بَعْضاً مَعْلُوماً عَنِ الْجُمْلَةِ جَازَ اَن یَکُونَ مَعْلُولاً بِعِلَّةٍ مَوْجُودَةٍ فِی هٰذَالْفَرْدِ اَلْمُعَیَّنِ فَاِذَاقَامَ الدَّلِیلُ اَلشَّرْعِیُّ عَلٰی وُجُودِ تِلْکَ الْعِلَّةِ فِی غَیْرِ هٰذَالْفَرْدِ اَلْمُعَیَّنِ تَرَجَّحَ جِهَةُ تَخْصِیصِهٖ فَیُعْمَلُ بِهٖ مَعَ وُجُودِ الْاِحْتِمَالِ.

ژباړه : اوددلیل قطعی له تخصیصه بعدپه خبرواحداوقیاس دتخصیص دجوازوجه داده چی مخصیص (تخصیص کونکی) که بعض نامعلوم افرادخاص کړی وو بیاپه هرفرد معین کښی دااحتمال شته چی دغه فرد دی دعام په حکم کی پاتہ وی دااحتمال هم شته چی تردلیل دخصوص دی لاندی وی په هرفردمعین کښی داوده احتماله علی سویه (برابر) دی اوس که دلیل شرعی موجودشو پردی چی دافردمعین له هغه افرادوڅخه ده چی هغه تردلیل دخصوص لاندی دی نوجانب دتخصیص ته ئی ترجیح ورکوو اوکه مخصیص بعض معلوم افراد خارج کړی وو نوبیا دامکنه ده چی دابعض معلوم به دیوعلت په وجه خارج شوی وی اوس که له دغه معلوم فردنه بغیرپه بل فرد کی ددغه علت پر وجودباندی شرعی دلیل موجودشو نوبیاجانب دتخصص ته ترجیح ورکوو اوپه باقی افرادوباندی عمل کووسره له احتماله د تخصیص.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ داخبره مخکی کړی ده چی که یوځل ددلیل قطعی (آیت) اوحدیث مشهور (اجماع) په ذریعه په عام کښی تخصیص وشو بیاپه خبرواحداوقیاس سره هم تخصیص ورتلای شی په دی خبره کښي مصنف رحمۃ اللہ علیہ ددی دلیل بیان وکی چی خلاصه ئی داده چی کله ددلیل قطعی په ذریعه په عام کښي تخصیص وشویعنی له حکم دعام څخه بعض افرادخارج شو که معلوم افراد وی اوکه مجهول وی ددی عام قطعیت ختم شو بلکه ظنی شو اوخبرواحداوقیاس هم ظنی ده اوپه یوه ظنی دبل ظنی تخصیص کیدی شی لهذا په خبرواحداوقیاس سره دعام مخصوص منه البعض تخصیص کیدای شی.

تفصیل ئی داده هغه دلیل قطعي چې بعض افرادئی له حکم دعام څخه خارج کړی وی ددی دوه صورته دی یو دا چې معلوم افرادوی اوبل دا چې نامعلوم افراد وی .نامعلوم افراد لکه په دی مثال کې اقتلوبني فلان ولاتقتلوبعضهم دلته بعض نامعلوم دی او همدارنګه په أَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَوا کښې خاص کړشوی افرادنامعلوم دی ځکه دلته لفظ دبیع باندی الف لام دجنس راغلی ده ټولوافرادودبیع لره شامل ده که بیع بالتساوی وی اوکه باالتفاضل وغیره لیکن الله ﷻ دربوا په لفظ هغه بیعه خاصه کړه چې هغې کښې تفاضل (زیادت) وی لیکن چې دی ته وګوری چې دبیع بنیاد دفضل اوزیادت (نفع) لپاره ښودل شوی ده نومعلومه ده چې ربوا څخه مطلق زیادت او فضل مرادنه ده بلکه دفضل اوزیادت یوخاص صورة مرادده چې دآنحضرت ﷺ تربیانولو مخکښې مورته معلومه نه وُ نوتردی بیان مخکې ربوا مجهوله وه.

اودمعلوم مثال لکه الله ﷻ فاقتلوالمشرکین حیث وجدتموهم ددی قول نه وروسته هغه امن غوښتونکی مشرکین له حکم دقتل څخه خارج کړو په دی قول وان احد من المشرکین استجارك فاجره ترجمه که بعض مشرکین له تاڅخه امن وغواړی امن ورکه.

حاصل دادی چې که معلوم افرادخارج شوی وی اوکه نامعلوم خوپه هرفردکښې دااحتمال شته چې دعام ترحکم دی لاندی وی اودااحتمال هم شته چې دخاص ترحکم دی لاندی وی اودا داوړه احتماله په دی فردکښې علی السویه یعنی سره برابردی لیکن که له دی نه وروسته دلیل شرعي که ظني وی اوکه قطعي وی راشي او ددی ثبوت وکړی چې دا معلوم فردله افرادومخصوصه وُ څخه ده نوجانب دتخصیص ته ترجیح ورکړکیږی اودافرد له حکم دعام څخه خارج ده اوددی لپاره چې یوه جانب ته پربل ترجیح ورکړشي چونکه دلیل ظني کافی ده لهذا دلته هم جانب دتخصیص ته پرعدم تخصیص باندی ترجیح په قیاس اوخبرواحد سره جائزده.

اوکه دلیل دخصوص بعض معلوم افرادخارج کړی وُ په دی کښې دااحتمال شته چې دامعلوم افراد چې له حکم دعام څخه خارج شوی دی ضروربه دی لره یوعلت وی اوس که ددی فرده بغیرپه بل فردکښي ددی علت پروجوددلیل راشي نوبیاددی فرددتخصیص جهت راجح ده پرنه تخصیص باندی.خواه که دلیل قطعي پروجود دعلت قائم شي اوکه ظني ځکه مورمخکښې داخبره یادکړه چې دیوجهت دترجیح لپاره پربل جهت باندی ظني دلیل کافی ده.نوکله چې دارنګه شوه نوداخبره ثابته شوه چې ددلیل قطعي په ذریعه له تخصیصه وروسته په خبرواحداوپه قیاس سره هم تخصیص جائزده.په آخرکی مصنف رحمه الله داخبره کوی چې دعام په باقی (پاته) افرادو باندی عمل واجب ده.

فَصلُ فی المُطلَق وَالمُقید

فَصلُ فی المُطلَق وَالمُقَیدذَهَبَ اَصحَابُنَااِلٰی اَنّ المُطلَقَ من کتَاب الله تَعالٰی اذااَمکَنَ اَلعَمَلَ باطلاقِہ فَالزّیَادَۃُ عَلَیه بخَبَرِواحدوَالقیَاس لَایجُوزُ مِثَالُهُ فی قَولِه تَعالٰی فَاغسلُو وَجُوهَکُم فَالمَامُورُ بہ هُوالغسلُ عَلٰی الاطلاق فَلَایُزَادُ عَلَیه شَرطُ النیّة وَالتَرتیبُ وَالمُولَاۃ وَالتَسمیَة بالخَبَروَلکن یُعمَل بالخَبَرِعَلٰی وَجهِ لَایَتَغَیّرُ بِہ حُکم الکتَاب فَیُقَالُواَلغَسلُ المُطلَقُ فَرضٌ بِحُکمِ الکتَابِ وَالنیّة سُنّةٌ بحُکم الخَبَر

ژباړه: فصل دمطلق اومقید په بیان کښې ده زموږعلماء (احناف) وائی که دمطلق دکتاب الله په اطلاق عمل ممکن وؤ زیادت په خبرواحد اوقیاس وربا ندی نه ده جائز ددی مثال دا قول دالله ﷻ فاغسلووجوهکم ده په دی کښې مامورېه مطلق غسل ده لهذانیت اوموالاۃ اوبسم الله شرط بلل په خبرواحداوقیاس جائزنه ده لیکن په خبرباندی په داسی طریقه عمل کوؤ چی حکم دکتاب الله ﷻ نه تغیرونه رسوی نوبه مطلق غسل فرض وګڼو په کتاب الله ﷻ سره اونیت اوترتیب اوموالاۃ اوبسم الله به سنت وګڼو په حکم دخبر.

تشریح: مصنف رحمه الله وائي چی په دی فصل کښې دمطلق اومقید ذکرکوؤ مطلق اومقید دواړه دکتاب الله ﷻ اقسام دی ځکه دا دخاص اقسام دی اوخاص دکتاب الله قسم ده لهذا دوی هم دکتاب الله اقسام دی مطلق هغه لفظ ده چی صرف پرذات دلالت کوی بغیرد لحاظ دوصف اومقید هغه لفظ ده چی پرذات دلالت کوی لیکن سره د لحاظه دیووصف.

مصنف رحمه الله وائي چی زموږ دعلماء (احناف) مذهب داده چی ترکمه وخته چی دمطلق په اطلاق سره عمل ممکن وی زیادت په خبرواحداوقیاس وربا ندی جائزنه ده.

داحناف دلیل: داده چی پرمطلق دکتاب الله باندی زیادت په خبرواحداو قیاس سره تقید دکتاب الله ده اوتقید دکتاب نه ده بلکه نسخه داطلاق دکتاب الله ده اوداخبره موږ مخکی ذکرکړی ده چی کتاب الله قطعی ده اوخبرواحداوقیاس ظنی دی قطعی په ظنی سره نه شی نسخه کیدی لهذا په خبرواحداوپه قیاس سره نه اصل دکتاب الله نسخه کیږی اونه ئی وصف وجه داده چی په ناسخ کی داشرط ده چی له منسوخ سره به په قوت کښې برابروی اویاترمنسوخ په قوت کښې زیات وی اوظنی په قوت کښې له قطعی سره نه برابرده اونه زیات ده بلکه کم ده لهذا ظنی قطعی نشی نسخه کولای.

مصنف رحمه الله وائي چی دمطلق مثال په آیت وضوکښې فقط دغسل ده په دی کښې داحناف مذهب داده چی په اوداسه کښې داعضاء ثلاثه صرف پریمینځل فرض ده اودسر صرف مسح فرض ده نه مولاۃ شرط ده اونه نیت شرط ده نه بسم الله ویل فرض ده.

دامام مالک په نزد موالاة شرط ده او دليل ئي داده.

دامام مالک دليل : داده چې آنحضرت ﷺ پرموالاة هميشتوب کړی ده او دا ددی علامه ده چې موالاة شرط ده.

او اصحاب ظواهر وائي چې داودس د شروع په وقت کښې بسم الله فرض ده.

داصحاب ظواهر دليل : ددوی دليل دا حديث ده لاوضوء لمن لم يسم.

او د امام شافعی په نزد نيت او ترتيب فرض دی دليل ئی دا حديث ده.

دشوافع دليل : دليل دا حديث ده لايقبل الله صلوة إمرء حتى يضع الطهور فی مواضعه فيغسل وجهه ثم يديه الله ﷺ نه قبلوی لمونځ ترڅو چې داودا سه اندامونه پرترتيب نه پريمينځل شي يعنی اول مخ بيا لاسونه دلته لفظ د ثم د ترتيب لپاره ده او د نيت د فرضيت لپاره ئي دليل دا حديث ده انما الاعمال بالنيات ددی حديث مقتضی داده چې صحت د اعمال پرنيت ده او اودس هم يو عمل ده لهذا داودا سه صحت هم موقوف پرنيت ده نو ځکه نيت د وضو لپاره فرض ده.

داحناف دليل : او داحناف دليل داده چې په آيت د وضوء کښې الله ﷺ د دوؤ شيانو حکم کړی ده (۱) غسل (۲) مسح ،دا داوړه خاص دی او مطلق دی خاص په دی وجه دی چې ددوی معنی معلومه ده غسل دابوبهولوته وائي مسح پرسر لاس تيرولوته وائی او مطلق په دی وجه دی چې د نيت او ترتيب او موالاة او بسم الله په قيد سره مقيد نه دی يعنی دا يو وصف ورسره لحاظ نه ده نو پردی طريقه دآيت مطلب داشو چې په اوداسه کښې داعضاء ثلاثه يعنی لاس ،مخ ،پښی مطلق پريمينځل فرض ده که موالاة وی او که نه وی نيت وی او که نه وی ترتيب وی او که نه وی بسم الله وی او که نه وی .اوس که په مزکوره احاديثو سره د نيت او ترتيب او موالاة شرطيت زيات کړی نو د اخبار أحاد په ذريعه پرکتاب الله باندی زيات راغی او د کتاب الله اطلاق نسخه شو او حال داده چې داخبار أحاد په ذريعه نه اصل د کتاب الله ﷺ نسخه کيږی او نه وصف د کتاب الله ﷺ لهذا په مزکوره احاديثو سره نيت ترتيب او موالاة شرط کول جائز نه ده.

ليکن په مزکوره احاديثو باندی بايد په داسی طريقه عمل وشی چې حکم د کتاب الله ته تغير و نه رسيږی لکه مورچې وايو مطلق غسل او مسح فرض دی په حکم د کتاب او نيت او ترتيب او موالاة سنت دی په حکم د اخبار أحاد.

سوال : اخبار أحاد لکه څرنګه چې شی سنت کيدای شی همدا رنګه په واجب هم کيدای شی لکه په حديث لاصلوة الابفاتحة الکتاب باندی چې فاتحه ويل په لمانځه کښی واجب شوه نو لکه څرنګه چې په خبرواحد سره په لمانځه کښی فاتحه ويل واجب شو دارنګه دی په دی اخبار أحاد سره هم بسم الله او ترتيب او موالاة او نيت فرض شی.

جواب: داده چې پرولاغیره باندې دلالت کونکې اخبارآحاد داوداسه شرطیت په باره کښې راغلې دي او اودس تابع (شرط) دلمانځه لپاره اوحدیث دلاصلوۃ الخ دلمانځه دشرط په باره کښې راغلې دے نو اوس که موږ نیت وغیره واجب کړو بیا داصل (یعنی صلوۃ) دتابع اوفرع (یعني وضوء) دتابع (نیت وغیره) په منځ کښې فرق نه راغلې یعنی دلمانځه تابع چې فاتحه ده هم واجب شوه اودوضوء تابع چې نیت وغیره دی هم واجب شو اوحال داده چې داصولو یعني لمونځ اووضوء په منځ کښې فرق شته نوکله چې داصولو په منځ کښې فرق وؤ نو دفروع په مینځ کښې هم فرق شته اوکه فرق ورنه کړواودواړه واجب کړو. دا له موضوع شرعی څخه مخالفت ده ددې مخالفت څخه دځان ساتلو لپاره موږ ولاء وغیره سنت کړو.

څوفائدې: مصنف رحمة الله عليه دکتاب دبیان مطابق دکتاب دمسئلې تشریح وکړه لیکن پوره تحقیق په کتابو داحناف کې شوی ده چې مزکوره تولوحدیثوته ئي جوابونه ورکړی وی مثلاً امام مالک ته جواب داسې ورکوو چې دنبي کریم ﷺ همیشتوب پریوعمل دوجوب علامه نه ده ځکه نبي کریم ﷺ په آخر درمضان کې پراعتکاف همیشتوب کړی ده اوحال داده چې اعتکاف سنت مؤکد ده هوکه دهمیشتوب سره سره ئې پرپریښودلو باندې منع کړی وه بیا دجوب علامه ده.

اواصحاب ظواهر دحدیث دلاوضوء لمن لم یسم جواب داده چې په حدیث شریف کښې نفی دکمال ده دصحت نفی نه ده یعنی بغیر دبسم الله وضوء داسې کامل نه ده چې ثواب پر مرتب وی .اودترتیب دفرضیت لپاره چې حدیث د لایقبل راوړل شوی وؤ جواب ئي داده چې داحدیث په نزد دمحدیثینو ضعیف ده او همدارنګه ابوداؤدکښې یوروایت شته چې نبي کریم ﷺ اودس وکړ اومسح ئې هیره شوه لیکن داوداسه له فراغت څخه وروسته ئې مسحه وکړه نوکه ترتیب فرض وائي نبي کریم ﷺ به داوداسه اعاده کړی وائي خوچې اعاده ئی نه وکړه نومعلومه شوه چې ترتیب فرض نه ده اودحدیث إنما الاعمال بالنيات جواب داده چې ترلفظ اعمال مخکښه لفظ دثواب مقدر ده لهذا معنی دحدیث داشوه چې داعمالو ثواب موقوفه پرنیت ده نوپه دی حدیث سره نیت فرض نه شو.

وَكَذَالِكَ قُلْنَا فِي قَوْلِهِ تَعَالَى الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ اِنَّ الْكِتَابَ جَعَلَ جَلْدَ الْمِائَةِ حَدًّا لِلزِّنَا فَلَايُزَادُ عَلَيْهِ التَّغْرِيبُ حَدًّا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ اَلْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ بَلْ يُعْمَلُ بِالْخَبَرِ عَلَى وَجْهٍ لَايَتَغَيَّرُ بِهِ الْكِتَابُ فَيَكُونُ اَلْجَلْدُ حَدًّا شَرْعِيًا بِحُكْمِ الْكِتَابِ وَالتَّغْرِيبُ مَشْرُوعًا سِيَاسَةً بِحُكْمِ الْخَبَرِ.

ژباړه: اوهمدارنګه موږ وايو په دی قول دالله ﷻ الزانیة والزاني فاجلدوکل واحد منهما مائة جلدة کښې چې کتاب سل دوری حد ټاکلی ده دزنالپاره نوپه قول دنبي کریم ﷺ البکر بالبکرجلدمائة وتغریب عام په یوکال جلاوطنۍ حد ګرزولوباندې زیادت نشي کولای بلکه په خبرپه دی طریقه

عمل کیږي چې حکم د کتاب ته تغیرونه رسوی هغه طریقه داده چې سل دوري حد شرعی ده په حکم د کتاب او یو کال جلاوطنی حد ده په حکم د خبر.

تشریح : مصنف رحمہ اللہ وائی لکه څرنګه چې په آیت دوضوء کښی د غسل او مسح داطلاق په وجه په خبر واحد سره دنیت زیادت نشوای کیدای همدارنګه دحد زنا پر آیت دیو کال شړلو (جلاوطنی)زیادت په خبرواحد سره نشی کیدای ددی مسئلی تفصیل داده چې که یو غیر واده والا نراوښځی زنا وکړه ددوی سزاء په نزد داحناف صرف سل (۱۰۰) دوری ده اوداامام شافعی په نزد سل دوری او یو کال له وطنه شړل ده یعنی دامام شافعی په نزد یو کال شړل دحد جزده.

دشوافع دلیل : دامام شافعی داده دی وائی چې موږ سل دوری په کتاب الله الزانیة والزانی باندی ثابته وو اوو کال له وطنه شړل په حدیث دنبی کریم ﷺ باندی ثابته

وو نبی کریم ﷺ وائی چې که یو بې واده نرله بې واده ښځې سره زنا وکړی ددوی سل دوری او یو کال له وطنه شړل ده.

داحناف دلیل : دامام ابو حنیفه دلیل داده چې الله ﷻ وائی چې دزانی اوزانیې سزاء سل دوری ده اودا مطلق ده په جلاوطنی اوداسی بل شی باندی مقیدنه ده اوداطلاق تقاضی داده چې داسل دوری په هر صورت کښی کافی دي اوس که په حدیث البکر بالبکر باندی جلاوطنی پرزیات کړو یعنی دحدجز ئی وګرزوؤ نو په خبرواحد سره پر کتاب الله زیادت راغی اوکتاب الله یی مقیدکړ دازیادت اوتقید نه ده بلکه نسخه داطلاق دکتاب الله ده اوداخبره موږ مخکی کړی ده چې په خبرواحد سره نه دکتاب الله اصل نسخه کیدای شی اونه ئی وصف البته په خبرواحدباندی عمل کوؤ هغه په داسی طریقه چې حکم دکتاب الله ته تغیرنه ورسوی هغه داده چې سل دوری حد شرعی ده په حکم دکتاب الله اویو کال جلاوطنی دحد شرعی جز نه ده بلکه سیاسۃً مشروع ده یعنی که دوخت امام په جلاوطنی کښی مصلحت لیدی جلاوطنه دي کړی اوکه ئی نه لیدی نه دي جلاوطنه کوی اوهمداوجه ده چې جلاوطنی ترزناپوری خاص نه ده بلکه په هرجنایت کښی که امام په جلاوطني کښی مصلحت لیدی جلاوطنه دي کړي لکه یووخت چې نبی کریم ﷺ حیت نامی مخنث مصلحۃً له مدینې منورې څخه وشړی اوحال داوؤ چې دغه حد نه وؤ اوهمدارنګه حضرت عمر ؓ أمیه بن خلف زانی سل دوری وواهی اوبیا ئی جلاوطنه کړ اوهغه ولاړی وهرقل ته اونصرانی شو کله چې حضرت عمر ؓ په دی واقعه خبرشو بیا ئی وویل چې بیا به زه څوک جلاوطنه نه کړم له دی واقعی څخه هم دامعلومه شوه چې جلاوطني حد نه ده ځکه که حد وائي بیا حضرت عمر ؓ داسي نه ویل ځکه دحد په ساقطولو کښی دچاه اختیار شته.

فائدی : څوخبری ددی ځای مطابق یادساته (۱)داچې دلته په آیت کښی له زانیه اوزانی څخه غیرمحصنه اوغیرمحصن مراد ده یعنی داسل دوری دغیرمحصنه اومحصن سزاء ده اودمحصن

اومحصنی سزاء رجم ده لکه دالله ﷻ منسوخ التلاوته قول الشيخ والشيخة اذا زنيا فارجموهما نكالا من کښی اويا په حديث لنی ماعز رجم سره ثابت ده دوهمه خبره داده چی الله ﷻ دزنا په بيان کښی زانيه مقدمه کړه اوحد سرقه په بيان کښی ئی سارق مقدم کړ ددی وجه داده چی زنا له شهوته پيدا کيږی اوشهوت په ښځه کی ډيروی اوسرقه (غلا) په جرأت دلاوری سره کيږی اودلاوری په نرکښي ډيره وی اودوهمه وجه ئي داده چی په زنا کښي ښځه اصل وه اوپه غلا کښي نر اصل وه او اصل لره تقدم حاصل وی لهذا په زنا کښي ښځه مقدمه کړه اوپه سرقه کښي نر مقدم کړ.

وكذالكَ قُلنَا في قَوله تَعَالى وَالْيُطوَّفُوبِاالبَيت اَلعَتيقُ مُطلَقٌ في مُسمّى الطوَاف باالبَيت فَلايُزادعَليه شَرطُ اَلوُضوءِ باالخَبَر بَل يَعمَلُ به عَلى وَجه لاَيَتَغيّرَ به حُكمُ الكتَاب بأن يَكُونَ مُطلَقُ اَلطوَافَ فَرضٌ بحُكم الكتَاب وَاَلوَضُوءَ وَاجبًا بحُكم الخَبَرفَيُجبَرُالنُقصَانُ الأزم بترك اَلوَضوء الوَاجبَ باالدّم.

ترجمه : اوهمدارنگه داقول دالله ﷻ وليطوفوباالبيت العتق په حکم دطواف دبيت الله کښی مطلق ده زيادت په خبره سره نشي ورباندی کيدای دوضوء په شرط کولو سره بلکه په خبرسره عمل کيږی په دی طريقه چی حکم دکتاب ته تغير ونه رسيږی په دی طريقه چی مطلق طواف فرض شی په حکم دکتاب اووضوء واجب شی په حکم دخبرنوبيابدله ورکوی په وينه سره دهغه نقصان چی په پريښودلو داودسه سره راغلی دی..

تشريح : مصنف رحمه الله وائی لکه څرنگه چی پر آيت الزانيه والزانی الخ باندی ديوکال جلاوطنی زيادت په خبرواحد سره نشوای کيدای اوعام نه شوی په مقيد کيدی همدارنگه پر آيت دطواف باندی شرط دوضوء په خبرواحد سره نشی زيادت کيدای اونه اطلاق دعام مقيد کولای شی تفصيل داده.

داحناف مذهب : داحناف مذهب داده چی په فريضه دحج کښی طواف زيارت فرض ده ليکن اودس فرض نه ده بلکه واجب ده يعنی بی له اوداسه طواف صحيح ده ليکن په پريښودلو دواجب چی کوم نقصان راشی دهغه دفع به ددم په ذريعه کوی.

دشوافع مذهب : دامام شافعی په نزد طواف زيارت فرض ده دليل ئی مزکوره آيت ده او همدارنگه دده په نزد وضوء هم فرض ده دليل ئی حديث الطواف حول البيت مثل الصلوة ده.

داحناف جواب : دامام شافعی دليل ته داحناف جواب داده چی داقول دالله ﷻ وليطوف باالبيت په سلسله دطواف کښی مطلق ده ځکه دطواف معنی داده چی دکعبی شريفی پرشاه وخواه راگرزيدل خواه که په اوداسه سره وی اوکه بغيرد اوداسه وی يعنی په آيت کښی داوداسه دشرطيت اونه شرطيت قيد نشته لهذا دآيت مقتضی داده چی مطلق طواف فرض ده اوس که ددی خبر الطواف باالبيت مثل الصلوة په واسطه باندی اودس شرط وبلل شی لکه شوافع چی وائي نوپه خبرواحد سره پرکتاب

الله باندی زیادت راغلی او حال داده چی موږ مخکی داخبره کړی ده چی په خبرواحد سره نه د اصل دکتاب نسخه جائز ده اونه دصف بلکه په خبرواحد سره به په داسی طریقه عمل کوو چی حکم دکتاب ته تغیر نه ورسیږی لهذا مطلق طواف فرض ده په حکم دکتاب الله اووضوء واجب ده په حکم دخبرواحد نواوس که په طواف کنبی اودس پاته شی طواف صحیح ده لیکن څه نقصان نشته چی هغه ترک (پرینښودل) دا اوداسه ده دهغه دفع به په دم سره وکړو.

فائدی : په قرآن کی بیت په عتیق سره مصوفه کړدی خووجه شته (۱)داچی عتیق په معنی دقدیم (مخکینی) سره ده چونکه بیت الله یوقدیم کور وؤ لهذا ورته عتیق وویل شو (۲)دوهم دا چی عتیق په معنی دآزاد ده چونکه کعبه شریفه هم دجابره وؤ له لاسو آزاده وه لهذا ورته عتیق وویل شو تاسوته معلومه ده چی ابرهه یولوی لښکردفیلانودکعبی دنیست کولولپاره دمکی طرف ته روان کړ اوالله ﷻ دمرغانوپه ذریعه دکعبی حفاظت لپاره دهمیشه لپاره نیست اونابودکړل (۳)داچی عتیق له عتیق الطیرخخه اخذشوی ده په معنی دقوی ده چونکه دکعبی بیناقوی اوسخته ده لهذا ورته عتیق وویل شو.

سوال : په آیت شریف کنبي مطلق طواف ذکرده اوه (۷) شوطه له حجراسوددشروع قید نشته ورسره اوحال داده چی احناف داشرط بولی اودانه ده بلکه زیادت پرکتاب الله ده نوچی تاسوته زیادت پرکتاب الله جائزده په شرط کولو ده اوه (۷) شوطه اوشروء له حجراسوده نوشوافع ته زیادت کول په شرط والی دوضوء ولی نه ده جائز.

جواب : نورالانواردی جواب داسی کړی دی چی اوه (۷)شوطه اوشروء له حجره اسوده دا په خبرمشهورسره ثابت دی او په خبرمشهورسره زیادت پرکتاب الله په اتفاق سره جائزده.

وَكَذَالكع قَولُه تَعالی وَارکَعُو مَعَ الرَّاكِعين مُطلَقٌ فی مسمَّی الرّكُوع فَلایزادُعَلَیه شَرطُ التَّعدیل بحُكم الخَبرولكن يعمَلُ باالخَبرعَلی وَجهِ لاَيَتَغيَّرُ بِه حُكمُ الكتَاب فيكُونُ مُطلَقُ الرّكُوعِ فَرضًا بِحكمِ الكِتَابِ وَالتَّعديلُ وَاجبًابِحكم الخَبر.

ژباړه : اوهمدارنګه داقول دالله ﷻ ورکعومع الراکعین مطلق ده په مفهوم دركوع كنبي لهذا پرده باندی شرط دتعدیل زیادت کول په خبرواحد سره جائزنه ده بلکه په خبرباندی په دی طریقه عمل کیږی چی حکم دکتاب ته تغیرنه ورسوی نومطلق رکوع فرض ده په حکم دکتاب اوتعدیل واجب ده په حکم دخبر.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی لکه څرنګه چی پرآیت دطواف زیادت په شرط دوضوء سره په خبرواحد جائزنه وؤ همدارنګه پردی آیت شرط دتعدیل الارکان په خبرواحد سره جائزنه ده تفصیل داده چی تعدیل یعنی رکوع سجده قومه اوجلسه په اطمینان سره کول دحضرت ابو حنیفه اوامام محمد په نزدواجب ده فرض نه ده لیکن رکوع اوسجده فرض ده.

دشوافع مذهب : دامام شافعی اوامام یوسف په نزد لکه څرنګه چی رکوع اوسجده فرض ده همدارنګه تعدیل الارکان هم فرض ده.

دشوافع دلیل : دامام شافعی رحمة الله علیه ابو یوسف رحمة الله علیه دلیل حدیث داعرابی ده هغه داده چی خلادبن رافع مسجدته راغلی اونبی کریم ﷺ دمسجد په یوطرف کښی ناست وؤ خلادبن رافع بغیرتعدیله لمونځ په تلوارتلوارسره اداکړ اوراغی نبی کریم ﷺ ته ئی سلام وکړ نبی کریم ﷺ دسلام جواب ورکړ اوورته وه ئی ویل فارجع فصل فانك لم تصل لمونځ ادا کړه ځکه تالمونځ نه ده کړی حضرت خلادبن رافع دوهم ځل لمونځ اداکړ اوراغلی نبی کریم ﷺ ته ئی سلام وکړ نبي کریم ﷺ دسلام جواب ورکړ اوبیا ئي دا ورته وویل فارجع فصل فانك لم تصل حضرت خلاد په دغه واریاپه دریم واروویل علمنی یارسول الله ای دخدای رسوله ماته لمونځ وښیه نبی کریم ﷺ ورته وویل چی کله ته دلمانځه اراده وکړی نواودس په صحیح طریقه سره وکړه بیا مخ قبلی ته کړه اوتکبیرووایه اوورپسی قرأت ووایه اوبیا په اطمنان سره رکوع وکړه اوچی له رکوع پورته شی اودریږه اوبیا په اطمینان سره سجده وکړه اوچی له سجدی څخه راپورته شی په اطمینان سره کښینه اوبیا په اطمینان سره دوهمه سجده وکړه اوبیا پورته شه تردی چی ودریږی اونورلمونځ هم په دی طریقه اداکړه داحدیث دتعدیل الارکان په فرضیت دلالت کوی ځکه دالله ﷻ رسول په ترک دتعدیل الارکان سره لمونځ نفی کړاونفی دلمانځه نه وی بلکه په ترک دفرض شی سره وی لهذا تعدیل فرض ده.

د طرفینوجواب : دطرفینوجواب داده چی دالله ﷻ قول وارکعوا واسجدوا خاص ده اومطلق ده خاص له دی وجه ده چی رکوع له قیام څخه کږیدلوته وضع ده اوسجده تندی پرځمکه لګولومعنی لپاره وضع ده اومطلق په دی وجه ده چی په آیت کښی رکوع اوسجده په یوه وصف اوقیدسره نه دی مقیداوس که د اعرابی دحیث په ذریعه سره زیادت دفرضیت دتعدیل الارکان وکړو لکه امام شافعی اوامام ابویوسف رحمة الله علیه چی وائي نوددی حدیث په وجه اطلاق دآیت باطل شو اومنسوخ شو اوداخبره مونږ وړاندی کړی ده چی په خبرواحدسره دکتاب الله ﷻ نه اصل نسخه کیدای شی اونه وصف نوکله چی داسی شوه نوپه حدیث داعرابی سره تعدیل الارکان فرض ګڼل صحیح نه ده لیکن په خبرباندی عمل کوو هغه په داسی طریقه چی حکم دکتاب ته تغیرنه ورسوی نومطلق رکوع فرض ده په حکم دکتاب الله اوتعدیل واجب ده په حکم دخبر.

١ وَعَلى هذا قُلنَا يَجُوزُالتوضّي بِمَاءِالزَّعفرَانِ وبكُلِ مَاء خَالَطهُ شيءٌ طَاهِرٌ فغَيّرَ اَحَدَ اَوصَافه لأنّ شَرطَ المَصيرالى التَيَمُم عَدمُ المُطلَق المَاء وَهذبَقي مَاءً مُطلَقًا فان قَيدَ الاضَافَة مَازَالَ عَنهُ اسمَ المَاء بَل قرّره فيَدخُلَ تَحتَ حُكم مُطلَقِ اَلمَاء وَكَانَ شرطُ بُقائه عَلى صفَة المُنزَلَ مِنَ السَمَاء قَيداً لهذا المُطلَقِ وَبه يُخرَجُ حُكمُ مَاء الزَّاعفرَانِ وَالصَابُونِ وَلأشنَانِ وَاَمثاله وَخَرَجَ عَن هذاه القَضيَة المَاءُ اَلنَجسُ

بقوله تَعالی وَلکن یُرِیدُ لِیُطَهِّرکُم والنجسُ لَایفیدُ الطهارة وَبهذه الاشارَةُ عُلِمَ اَنَ اَلحَدَث شَرط یُوجُوبِ اَلوَضُوء فَانَ تَحصل الطُهارَة بِدُونِ وُجُودالحَدَث مَحَال.

ترجمه : اوبنا پردی مورِ وایو چی اودس جائزده په اوبودزعفران اوپه هرهغه شی چی له هغه سره پاک شی گډشوی وی اودابو له اوصافو څخه ئی یووصف بدل کړی وی ځکه چی تیمم ته هغه وخت تگ کیږی چی ماء مطلق نه وی اودزعفران اوبه اوداسی دنوری پرخپل اطلاق باقی پاته دی اوداشرط کول چی پرهغه صفت به باقی وی پر پرکوم صفت چی له آسمانه راغلی دی دادمطلق لپاره قیدده اوله دی څخه داشنان اوصابون وغیره دابوحکم معلوم شو اوهمدارنگه ماء نجس خارج شوی په قول دالله ﷻ ولکن یرید لیطهرکم ځکه په ناپاکه ابوباندی پاکی نه راځي اوهمدارنگه له دی آیت څخه دامعلوم شوه چی بی اودسی داودس دوجوب لپاره شرط ده.

تشریح : مصنف رحمه الله وائي کله چی داحناف په نزد داوؤ چی مطلق به پرخپل اطلاق پاته وی اوعمل کول ورباندی قطعی ده اوزیادت په خبرواحداوقیاس نشی باندی کیدای لهذا دوی وائي چی هغه اوبه چی زعفران ورسره گډ وی اویابل پاک شی ورسره گډ وی اودس کول په جائزده که څه هم دابویووصف تغیرخوړلی وی.

تفصیل داده که په ابوباندی زعفران یابل پاک شی گډشوی وی اودابویووصف ئی هم بدل کړی وی په دی شرط چی په اورنه وی پخ شوی اویابه دغه شی دومره زیات هم نه وی چی پرابوغالبه شوی وی نوپه دی صورت کښي په دی ابواودس جائزده اوکه به تیمم ووهی.

داحناف مذهب : داحناف وایی په دی ابو اودس جائزده.

شوافع اومالکیه دلیل : دشوافع اومالکیه مذهب داده چی په دغه ابوسره اودس جائزنه ده بلکه تیمم به ووهی.

دشوافع اومالکیه دلیل : د دوی دوهم دلیل داقول دالله ﷻ ده فان لم تجدوا ماءً فتیمموا صعیدًا طیبًا په دی آیت کښی ماء مطلق دی لهذا مطلب داده چی که ماء پیدا نه شوی نوتیمم به ووهی اوماء زعفران وغیره داضافت په وجه ماء مقیددی لهذا د دوی په وجوډ کښی هم ددی آیت مصداق موجود نه ده یعنی مطلق ماء نشته نوکله چی داسی شو نوپه دوی سره اودس جائزنه ده بلکه تیمم به ووهی.

دحضرت امام مالک اوامام شافعی رحمهما الله داهم وائی چی اوبه به پرهغه وصف باقی پرکوم وصف چی له آسمانه نازل شوی دی اوماء زعفران وغیره پرهغه وصف باقی نه دی لهذا ماء مطلق نه دی.

داحناف دلیل : داحناف دلیل اوهمدارنگه ددی په څنگ کښي ددوی جواب داده چی اضافت دوه قسمه ده (۱)اضافت تعریفی لکه لیث الاسد اوماء البیر اوماء العین په دی دری سره مثالو کښی اضافت لپاره دتعریف ده ځکه لیث مشهورنه وو کله چی مضاف اسدته شو دده تعریف وشو اوهمدارنگه په دی نورودوو مثالوکښي اضافت لپاره دتعریف ده (۲) اضافت تقیدی ده لکه ماء الورد دلته

مقیددی په قیدد ورد سره معنی ئي داده چی هغه اوبه چی له ګلابه څخه نښتیځل شوی وی او همدارنګه ماءبطیخ هغه اوبه چی له خټکی څخه نښتیځل شوی وی د دی دواړو اضافتو فرق داده چی داضافت تعریفی په صورت کښي ماء نفی کول صحیح نه ده یعنی په وخت دوجود دماء زعفران داویل چی اوبه نشته نه ده صحیح اوداضافت تقیدی په صورت کښي نفی صحیح ده یعنی دماءورد دوجود په وخت کښی ویلای شی چی اوبه نشته اوس موږ وایو دزعفران اوصابون وغیراضافت دتعریف لپاره ده نوماء زعفران وغیره په وخت کښی ماء مطلق موجودي دی داضافت په وجه نوم دماء نه ده زائل شوی اوبله وجه داهم ده چی کله ماء ذکرشی نودماءزعفران وغیره طرفته ذهن ځی لهذا دا هم د دی معنی ده چی دی اضافت اسم دماء نه ده زائل کړی لیکن ماء ورد ته ذهن انتقال نه کوی لهذادی اضافت اسم دماء زائل کړی ده مثال ئی لکه یوسړی بل ته ووائی چی اوبه راوړه اوهغه ماء زعفران راوړی نودی غلط نه ده اوکه ئی ماء ورد راوړی بیا غلط ده حاصل داده چی په وخت دابو دذکرکښی ذهن ماءزعفران ته انتقال کوی داد ماء زعفران دمطلق والی علامه ده لهذا په وخت دوجودماءزعفران کښی تیمم جائزنه ده ځکه تیمم هغه وخت جائزده چی ماء مطلق نه وی اوماء زعفران خوماء مطلق دی اوماء ورداودما بطیخ دوجود په وخت کښي ماء مطلق نشته لهذا ددوی دوجودپه وخت کښی اودس واجب نه ده بلکه تیمم کول جائزده اوامام شافعی چی وائی چی پرهغه صفت به باقی وی دکوم صفت سره چی له آسمانه راغلی دی ددی جواب داده چی دغه شرط لګول دآیت اطلاق مقیدکوی اوپرآیت باندی زیادت ده ځکه په آیت کښی ماء لفظ مطلق ده خواه که پرآسمانی صفت باقی وی اوکه نه وی لهذا شرط لګول تقید داطلاق دآیت ده اوزیادت پر آیت ده داجائزنه ده نودامام شافعی داشرط جائزنه ده. مصنف رحمة الله علیه وائی چی کله داثابته شوه چی مطلق به پرخپل اطلاق پاته وی اواضافت دماء وزعفران ته دتعریف لپاره ده یعنی اسم دماء نه زائله وی نوداهم ثابته شوه چی ماء زعفران وغیره سره اودس جائزده وخرج عن هذا التقیید په دی عبارت سره مصنف رحمة الله علیه دیو سوال دفع کوی.

سوال: لکه څرنګه چی ماء زعفران ماء مطلق دی اودس په جائزده همدارنګه ماء النجس هم ماء مطلق دی اوس دی په جائزشی اوحال داده چی اودس کول جائزنه ده.

جواب: داده چی دالله ﷻ داقول ولکن یرید لیطهرکم پردی دلالت کوی چی اوبه دتطهیراوپاکی آله ده اودوضوء مقصدهم دنجاست حکمیه زوال ده اوپاکی پیداکول ده اوماء نجس پاکی نه راولی اودوضوء مقصدنه په حاصلیږی لهذا په ماء نجس وضوء جائزنه ده نواوس ددی آیت فان لم تجدوماء مقصدداشو چی که تاسو پاکی اوبه نه کړی پیدا نوتیمم ووهی لهذا تردی آیت ماء نجس لاندی نه شوی.

مصنف رحمہ اللہ وائي چې دلته په اشارت النص يعني دآيت ولكن يريد ليطهركم څخه اشارةً داهم معلومه شوه چې دوضوء دوجوب لپاره حدث شرط ده اوپه دی آيت اذاقمتم الى الصلوة فاغسلوا كښې دالى الصلوة څخه وروسته وانتم محدثون مقدرده نومعنى داشوه كله چې تاسو دلمانځه اراده وكړى اوحال داوى چې تاسى بې اودسه ياست اودس وكړی .اودليل ددی داده چې دضوء مقصد طهارت حاصلول ده طهارت حاصلول دنجاست دزوال نوم ده او دنجاست زوال موقوفه پر طهارت باندی ده لهذا دطهارت دحاصلولو لپاره حدث شرط ده او بغيردوجودحدث نه طهارت حاصلول محال ده ځكه داتحصيل دحاصلو ده .

قال ابوحنيفة رحمہ اللہ المُظاهراذاجامع امرأتهُ فى خلالِ الاطعامِ لايستانف الاطعام لانّ الكتابَ مُطلقٌ فى حقِّ الاطعام فلايُزادُعليه شرطُ عدمِ المَسيس باالقياس علَى الصَومِ بَلِ المُطلق تَجرِى عَلااطلاقه وَالمُقيدعَلى تَقيد.

ترجمه : امام ابوحنيفه رحمہ اللہ وائي كه مظاهرد ډوډي دخوړلو په مينځ كښې دخپلې ښځې سره جماع وكړه دډوډی راګرزول نشته ځكه چې كتاب په حق داطعام كښې مطلق ده لهذا عدم جماع شرط كول په قياس كولو پرروژه باندی جائزنه ده بلكه مطلق پر خپل اطلاق پاته ده اومقيد پرخپل تقيد .

تشريح : ددی اصل مطابق چې مطلق به پرخپل اطلاق پاته وی دخبرواحداوقياس په ذريعه مقيدكول اوزيادت جائزنه ده امام ابوحنيفه يوه مسئله تفريع كوی تفصيل ئی داده كه يو سړی له خپلې ښځې سره ظهاروكړی يعنی له خپلو محرماتوسره ئي تشبيه وركړه مثلا د ښځي ته وويل انت علىّ كظهرامي ښځه ئی پرځان حرامه كړه بيرته كه خاونددا وغاړی چې ښځه ځانته حلاله كړی نوپرده كفاره واجبه ده ليكن كفاره دری شيان دی په دروكښې په يوه شی سره كفاره واجبه ده ترتيب ئي داده اول به غلام آزادكړی كه ئي ددی قدرت نه وؤ بيا دوی مياشتې پيوسته روژی نيول دی كه پردی هم قدرت نه لری نوشپيتو (۶۰)مسكينانوته دی ډوډی وركړی الله جل جلاله وائی وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ هغه خلك چې ظهاروكړی له خپلوښځوڅخه اوبيا دوی غواړی چې رجوع وكړی اونويوغلام دی آزادی كړی مخكې تردی چې دوی له خپلوښځو سره جماع كوی داستاسو لپاره نصيحت ده الله جل جلاله عالم ده په هغه څه چې تاسو ئی كوی اوكه څوك ددی قدرت نه لری دوی مياشتی روژی دی ونيسی مخكې تردی چې له خپلې ښځې سره جماع كوی اوكه څوك داقدرت هم نه لری نوشپيتومسكينانوته دی ډوډی وركړی دا ددی لپاره چې تاسو دالله جل جلاله اوددده رسول تابعدارشی اودالله امرنه منونكولره دردناك عذاب ده .

کله چی په دی آیت کښي مرییی آزادول اودوی میاشتی روژی مقید په قید دمن قبل ان یتماسا سره وؤ لهذا په دواړو کښی دتولو اتفاق ده چی که ئي له جماع وروسته رقبه آزاده کړه اویائي له جماع وروسته روژی ونیولی داسړی گنهگاره ده دالله ﷻ څخه دی بخښنه وغواړی اوهمدارنګه که ئي دروژو په مینځ کښی جماع وکړه ترجماع مخکی روژی ئی په کفاره کښی نه دی حساب هغه روژی به راګرزوی لیکن که ئی د ډوډی ورکولو په مینځ کښي جماع وکړه داحناف په نزد دا کفاره صحیح ده مخکی ترجماع چی ئی کومه ډوډی ورکړی وه هغه اعاده نه غواړی.

دحضرت امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد دا کفاره هم صحیح نه ده بلکه ترجماع مخکی ډوډی به راګرزوی د دوی درو دلیل داده چی اطعام که څه هم په قید دمن قبل ان یتماسا مقید نه ده لیکن رقبه اوروژی په دی قید مقید دی لکه څرنګه چی دروژو په مینځ کی دجماع کولو په وجه ترجماع مخکی روژو اعاده غوښته همدارنګه داطعام په مینځ په جماع کولو سره ترجماع مخکی اطعام اعاده غواړی او اطعام چی موږ پر روژه قیاسوؤ علت ئی داده چی اطعام اوروژه دواړه دکفاری هغه اقسام دی چی دزجراوعقوبت لپاره دی یعنی لکه څرنګه چی دروژو په مینځ کښی دجماع کولو په وجه اعاده سختی کول ده همدارنګه داطعام په مینځ کښي په جماع کولو سره سختی ورسره کیږی احناف وائي چی داطعام په حق کښي آیت مطلق په قبل الجماء قید سره مقید نه ده اوداخبره موږ مخکی کړی ده چی دخبرواحد او قیاس په ذریعه مطلق دکتاب الله مقیدکول اوزیادت کول جائزنه ده لهذا دلته هم اطعام طعام پر روژه باندی قیاس کول اوپه قید دقبل الجماء مقیدکول جائزنه ده بلکه مطلق چی اطعام طعام ده پر خپل اطلاق پاته ده یعنی دجماع کولو اونه کولو په دواړو صورتو کښی کفاره صحیح ده اومقید پرخپل تقید پاته ده. دلته محشی ډیره ښه خبرکړی ده اوددی خبری حواله ئي فصول الحواشی ته کړی ده هغه داده چی الله ﷻ رقبه اوصوم په من قبل ان یتماسا قید مقید کړی دی اوطعام ئی نه ده مقید کړی یعنی درقبی سره ئی داقید ذکر کړاودوباره ئي له صوم سره هم ذکرکی که په اطعام کښی هم داقید لحاظ وای باید ذکر کړی ئی وای اوکه ته داووائي چی داقید په تحریر رقبه کښي ذکرده دغه ذکر داطعام لپاره هم کافی ده نوزه داوایم چی په رقبه کښی ددی قید ذکر لکه څرنګه چی په اطعام کښي دمرادیدلو لپاره کافی ده همدارنګه د روژی لپاره هم کافی وؤ په روژه کښی د دوباره ذکر څه ضرورت وؤ د روژی له دوباره ذکر څخه دامعلومیږی چی په اطعام کښی داقید مراد نه ده که مراد وای ذکرکړی به ئی وای لکه په روژه کی چی ئی ذکرکی نومطلب داده چی چیرته چی داقید ذکر ده هلته لحاظ ده او چی نه ده ذکر هلته نه ده لحاظ.

وَكَذَالِكَ قُلْنَا الرَّقَبَةُ فِي كِفَارَةِ الظِّهَارِ وَالْيَمِينَ مطلقة فلايُزادعَلَيهِ شرط الايمان بِالقياس عَلى كِفارةِ القتل.

ترجمه اوهمدرنگه موږ وايو چې په کفاره دظهاراويمين کښې رقبه مطلقه ده لهذا په قياس پرکفاره دقتل شرط دايمان نشي زيادت کيدای.

تشريح مصنف رحمة الله عليه وائي لکه څرنګه چې په مسئله دظهارکښې اطعام طعام دقياس په ذريعه په قبل الجماء قيدسره نه شوای مقيدکيدای همدارنګه پرکفاره دقتل باندی په قياس کولوسره په کفاره ظهاراوپه کفاره يمين کښې په قيددايمان سره نه مقيدکيږی تفصيل داده چې الله ﷻ دقتل په کفاره کښې رقبه په مؤمنه قيدمقيده کړی ده لکه داقول دالله ﷻ من قتل مؤمنا خطأ فتحرير رقبة مؤمنة اوپه کفاره دظهاراويمين کښې رقبه مطلقه ذکر کړی ده .امام شافعی رحمة الله عليه وائي چونکه ټولې کفارات يوجنس دی لهذا موږ کفاره ظهاراوکفاره يمين پرکفاره دقتل قياس کوؤ اوداوايولکه څرنګه چې دقتل په کفاره کښې درقبې مؤمنې آزادول ضروری ده همدارنګه په کفاره ظهار اوکفاره يمين کښې هم ضروری ده.

احناف وائي چې په کفاره دقتل کښې يقينی درقبې مؤمنې آزادول ضروری ده ليکن په ظهاراوپه يمين کښې رقبه مطلقه ده په مؤمنه قيدسره مقيده نه ده اوموږ مخکښې داخبره کړی ده چې په قياس اوخبرواحدسره اطلاق دکتاب مقيدکول اوپرهغه باندی زيادت کول جائزنه ده لهذادلته هم پرکفاره دقتل باندی دقياس په وجه رقبه په کفاره ظهاراوکفاره يمين کښې په قيد دايمان سره مقيده کول جائزنه ده بلکه مطلق پرخپل اطلاق پاته ده او مقيد پرخپل تقييد يعنی په کوم ځای کښې چې رقبه په دايمان مقيده ده هلته دمومنې آزادول ضروری ده اوچې نه ده مقيده هلته دمطلق رقبې آزادول کافی ده.

فان قيل ان الكتاب في مسح الراس يوجب مسح مطلق البعض وقدقيدتموه بمقدار الناصية بالخبر والكتاب مطلق في انتهاء الحرمة الغليظة بالنكاح وقدقيدتموه بالدخول بحديث امراة رفاعة قلنا ان الكتاب ليس بمطلق في باب المسح فان حكم المطلق ان يكون الاتي باي فرد كان اتيا بالمامور به والاتي باي بعض كان ههنا ليس بات بالمامور به فانه لومسح على نصف اوعلى الثلثين لايكون الكل فرضا وبه فارق المطلق المجمل واماقيد الدخول به فقدقال البعض ان النكاح في النص حمل على الوطى اذالعقد مستفاد من لفظ الزوج وبهذا يزول السوال وقال البعض قيدالدخول ثبت بالخبر وجعلوه من المشاهير فلايلزمهم تقييدالكتاب بخبر الواحد.

ترجمه : که څوک سوال وکړی چې کتاب دمسح په باره کښې مطلق بعض يادکړی ده اوحال داده چې تاسودخبرپه ذريعه په مقدارناصيه مقيدکړی ده اوهمدارنګه کتاب مطلق په دې کښې چې حرمت غليظه په نکاح سره ختميږی اوتاسو مقيدکړی ده په دخول سره په حديث درفاعه دښځې جواب داده چې کتاب الله دمسح په باره کې مطلق نه ده ځکه مطلق حکم داده چې دهرفرد اداکولواداء ماموربه وی اودلته دهرفرداداءکولوته اداء دماموبه نه ويل کيږی ځکه که يوڅوک

دنیم سرمسح وکړی اویادثلثین داټول فرض نه ده اوپه دی سره دمجمل اومطلق فرق هم راغی بهرحال بعض داوائي چی نکاح لفظ په نص کښی حمل ده پروطی باندی ځکه عقدله لفظه دزوج ځخه معلوم شو اوپه دی سره سوال ختم شواوبعض وائی چی قید ددخول په خبرسره ثابت دی اومحدیثینو ودی خبرته مشهور ویلی ده لهذاداالزام نه کیږی چی په خبرواحدزیادت پرکتاب الله راغی.

تشریح : په دی عبارت کښي داحناف پراصل چی پرمطلق دکتاب الله باندی زیادت په خبر واحداوقیاس سره نه شی کیدی دوه سواله اودهغوجوابونه ذکرشول تفصیل ئی داده اول سوال داده چی په آیت وامسحوبروسکم کښی باء داحناف اوشوافع دواړوپه نزد دتبعیض لپاره ده اود وامسحوبروسکم معنی داشوه مسح وکړی پربعض دسرو ستاسو ځکه لفظ دمسحی چی متعدی شی بلاواسطه هلته ټول شی اودهغه استیعاب مراد وی اوچی متعدپه واسطه دباء شی دممسوح بعض برخه مرادوی اومام مالک رحمه الله اوامام احمد رحمه الله داباء زائده بولی وائي چی دټول سرمسح فرض ده اواحناف اوشوافع ئی زائده نه بولی اووائي چی دبعض سرمسح فرض ده لیکن داحناف اوشوافع میځ کښی فرق شته هغه دا چی شوافع وائي پرڅومره مقدارچی دبعض اطلاق کیږی هغه مقدارفرض ده حتی چی دده پرمذهب که څوک ددوؤ یا ځلورو ویښتانومسح وکړی فریضه ئی اداشوه اواحناف دناسیه مقدار مسح فرض بولی اودلیل ئی حدیث دمغیره بن شعبه ده ان النبی ﷺ اتی سباطة قوم فبال وتوضأ ومسح علی الناصیة وخفیه اوس دلته سوال کیږی چی په کتاب الله کښی دسرمطلق بعض ذکرده اوتاسودخبرواحدپه ذریعه په مقدارناصیه سره مقیدکړی او حال داده چی داتقید تاسو جائزنه بولی دوهم سوال داده چی په آیت ان طلقها فلاتحل له من بعدحتی تنکح زوجا غیره کښی نکاح دحرمت غلیظه په ختمولوکښی مطلق ده.

تفصیل داده که یوسړی خپلی ښځي ته دری طلاقه ورکړی اودهغی عده تیره شوه اوبیائی له بل نفرسره نکاح وکړه داښځه داول خاوندلپاره صرف په نکاح سره حلاله ده اوکه ددوهم خاوند دخول غواړی احناف وائي چی صرف نکاح کافی نه ده دخول غواړی لیکن انزال شرط نه ده دلیل ئي داده چی یوځل درفاعه ښځه نبی کریم ﷺ ته راغله اوعرض ئی وکړه چی زه خپل خاوندرفاعه په دری طلاقه کړم اوماعده تیره کړه اوبیا می له عبدالرحمن بن زبیرسره نکاح وکړه لیکن له هغه ځخه زما مراد حاصل نه شو اوهغه دښځوحق نه شی پرځای کولای آنحضرت ﷺ ورته وویل ایاته غواړی چی بیرته له رفاعه سره نکاح وکړی دی ورته وویل هو زه غواړم چی له رفاعه سره نکاح وکړم آنحضرت ﷺ ورته وویل چی ته له رفاعه سره ترهغه وخته نکاح نه شی کولای ځوچی تادعبدالرحمن بن زبیرخوندنه وی کتلی اوهغه ستاخوندنه وی کتلی یعنی ترڅوچی تاسوجماع نه وی کړی نه شی کولای چی له ده سره نکاح وکړی له دی حدیثه دامعلومه شوه چی بغیری دخوله صرف په نکاح اوله

سره خاوند ته نه ده حلاله اوس دلته سوال کیږی چې په کتاب الله یعنی حتی تنکح زوجا غیره کښې نکاح دحرمت غلیظه په ختمولو کښې مطلق ده یعنی آیت وائي چې صرف په نکاح دزوج ثاني حرمت غلیظه ختمیږی که وطی وی اوکه نه وی اوحال داده چې تاسو درفاعه دښځې په حدیث په دخول سره آیت مقید کړی ده او داخو ستاسو په نزد جائزنه ده.

داول سوال جواب مصنف رحمه الله داسی ورکړی ده چې آیت وامسحوا برؤسکم دبعض سر دمسح په باره کښې مطلق نه ده بلکه مجمل ده ددوی فرق داده چې مطلق هغه ته وائي چې په هرفردئي راتګ وشی هغه ته راتګ په ماموربه سره ویل کیږی اومجمل دی ته وائي چې دده معنی معلومه وی مګرمرادمعلوم نه وی اوس موږوایو چې په آیت کښې دبعض سر دمسح حکم شوی ده اودبعض سراطلاق پرهغه برخه کیږی چې ترټول سرکمه وی یعنی دوه یاځلوویښتان هم دبعض دافرادو دی ربع ثلث نصف هم دبعض افرادو دی لیکن په دی کښې بعض افراد داسی دی چې په هغوباندی عمل کول عمل په ماموربه سره نه بلل کیږی مثلا که یو سړی پرنصف رأس اویا ثلث مسح وکړی نودغه ټول فرض نه ده بلکه داحناف په نزد ربع هم ماموربه ده اوهم فرض ده اوتردی زیاته مسح ماموربه نه ده بلکه مستحب ده نو کله چې دارنګه شو نوآیت دبعض سرپه باره کښې مطلق نه ده مجمل ده ځکه آیت څخه دامعلومه شوه چې بعض دسرماموربه ده لیکن دانه ده معلومه چې کمه برخه ده اودامعنی دمجمل ده نوکله چې مجمل شو نودخبرواحدپه ذریعه سره تقیددکتاب نه راغلی بلکه خبرواحددآیت مجمل لپاره تفسیرشو یعنی دخبرواحدپه ذریعه سره دمجمل دکتاب الله مرادمعلوم شو اوس پراحناف داسوال نه کیږی چې تاسو دخبرواحدپه ذریعه مطلق دکتاب الله مقیدکړ.

دوهم سوال مصنف رحمه الله داجواب په دوؤ طریقوورکوی اوله طریقه داده چې دخول په حدیث درفاعه دښځې نه ده ثابت بلکه حتی تنکح زوجاً غیره سره ثابت ده لکه د بعض مشائخ چې دامذهب ده تفصیل ئی داده چې په آیت کښې لفظ دنکاح ذکر ده دا دوی معنی لری (۱)حقیقی او(۲)مجازی حقیقی معنی ئی وطی ده ځکه چې نبی کریم ﷺ وائی ناکح الید ملعون له لاسه سره وطی کونکی ملعون ده اومجازی معنی ئي عقدده دلته لفظ دنکاح پروطی باندی حمل کول بهتره ده ځکه دعقدمعنی له زوج لفظه معلومه شوه ځکه انسان ته هغه وخت زوج ویل کیږی چې عقدراشی نودلته هم لفظ دزوج پردی دلالت کوی چې نکاح منعقده ده نوکه له نکاح لفظه هم عقدواخلونوتکرارراغی اودتکرار ترراتګ دا بهتره ده چې نکاح لفظ پروطی حمل کوؤ نودآیت مطلب داشوچې له درو طلاقوورروسته دحرمت غلیظه ختمول ددوهم خاوند په وطی سره ده مطلب داچې وطی اودخول له هم دی آیت څخه ثابت ده نوپراحناف داسوال نه کیږی چې تاسومطلق دکتاب یعنی حتی تنکح زوجًا په حدیث درفاعه دښځی مقیدکړ.

سوال: کله چې له نکاح لفظه وطی مرادشوی نو بايد اسنادئی ښځې نه وای شوی بلکه زوج ته ئي اسناد شوی وای ځکه وطی دزوج فعل دی نه د ښځی.

جواب: جواب داده چې ښځې ته اسناد په دی وجه شوی ده چې ښځه محل دوطی ده او خاوندته قدرت پروطی ورکوی لهذا ښځي ته ئي مجازاً اسنادوشو اوددی مجازی اسناد بل مثال لکه نهاره قائم دلته دصوم اسناد نهارته شوی ده مجازاً او همدارنګه ليله قائم.

دوهمه طريقه داده چې درفاعه دښځی حديث مشهورده پرمذهب دجمهورو او په حديث مشهورسره پرمطلق دکتاب زيادت جائزده لکه صاحب هدايه چې وائي پرنص يعنی حتی تنکح باندی حديث مشهورلاتحل للاول حتى تذوق من عسيلته سره د دخول او وطی قيد زيادت شوی ده نوچې داحديث مشهورثابت شو نو په ده سره تقييد دمطلق دکتاب تقييد په خبر واحد سره نه شو نو دا سوال پراحنافو نه وارديږی چې تاسو مطلق دکتاب په خبرواحد مقيد کړ.

فصلٌ فی المشترک وَالمؤوَّل

فصلٌ فی المشترک وَالمؤوَّلَ اَلمشترکُ مَا وَضَع لَمعنين مُختَلفين اَولمَعانی مُختَلفَة اَلحقائق مثاله قولُناجَارية لانهاتتَنَاولُ الامَة وَالسفينَه وَالمُشتَریُ فَانَهُ يَتنَاوَل قابِلَ عَقد اَلبيعَ وَكوكبِ اَلسَّماءِ وَقولُنا باينٌ فَانَهُ تَحتَمِلَ اَلبين وَاَلبَيان.

ترجمه: فصل دمشترک اوموؤل په بيان کښې ده مشترک هغه لفظ ده چې وضع کړشوی وی د دوو مختلفومعنی ګانولپاره اويا دډيرمعنی وؤلپاره چې حقيقتونه ئی مختلف وی مثال ئی لکه لفظ جاريه دادمينځی اوکښتی دواړوته شامل ده اوهمدارنګه لفظ مشتری بيع کونکی اوستوری دواړولره شامل ده اوهمدارنګه لفظ دبائنٌ دجلاوالی طرف او ظهوردواړوته شامل ده.

تشريح: دکتاب په شروع کښې داخبره ياده شوه چې لفظ په اعتباردوضع څلورقسمه ده (۱)خاص (۲)عام (۳)مشترک (۴) موؤل خاص اوعام په مخکينی فصل کښی ذکرشول اوس دلته مشترک اوموؤل په يوه فصل کښی ذکرکوؤ په يوه فصل کښی دذکروجه ئي داده چې تأويل عارض ده لپاره دمشترک يعنی لفظ اول مشترک وؤ بيا ديوی معنی دترجيح په وجه موؤل وګرزيدی نوددی مناسبت په وجه ئي دواړه په يوه فصل کښي ذکرکړل.

فاضل مصنف رحمة الله عليه دمشترک تعريف داسی کوی چې مشترک هغه لفظ ده چې ددوؤ (۲) يا زيات تردوو معنی وو لپاره وضع شوی وی داسی معنی ګانی چې دهغوحقيقتونه مختلف وی او واضع ئی هم مختلف وی اوکه واضع يو وؤ بيا داسی ده چې د دوهمی وضع په وخت کښي به ئی اوله وضع هيره وه..د دوو معنی وؤ دمشترک مثال لکه جاريه دمينځی اوکښتی دواړولره وضع ده

اوهمدارنکه مشتری دبیع کونکی اوستوری داوړولره وضع ده اودریم لکه بائنٌ یوه معنی ئي جلاوالی اوبله ئی ظهورده.

اوتردوو زیات دمشترک مثال لکه عین لفظ په معنی دسترګی اوپه معنی دچشمه (چینه) اوپه معنی دقمر(سپوږمی) اوپه معنی دسونی اوپه معنی دمال اوپه معنی دجاسوس ددی شپږونه بغیرنوری معنی ګانی هم لری.

اوبل داخبره یادساته چی دمشترک معناوی کله دعین یعنی ذی صورته له قبیل څخه وی لکه جاریه اومشتری اوکله دااعراض له قبل څخه وی لکه بائن اولکه لفظ بیع په مقابله د ثمن کښي دملک د ازالی اوبیع کولولپاره وضع ده دا دواړی معنی داعرض له قبل څخه دی یعنی اعراض دی

وَحُکْمُ الْمُشترک اَنَّهُ اذاتَعَیَّنَ اَلْوَاحِدُ مُرادًا بِه سَقَطَ اعتبَار اُرَادَة غَیره وَلِهذا اَجمَعَ اَلعُلَمَاءَ رَحِمَهُم اللّٰه تَعَالی عَلی اَنَّ لَفظ القُروءِ المَذکُور فی کِتَاب اللّٰه تعالی مَحمُولٌ اِمَّاعَلی اَلحَیضِ کَمَاهُوَ مَذهَبُنَا وَعَلی الطُهرِکَمَاهُوَ مَذهَبُ الشافعی۔

ترجمه : اودمشترک حکم داده چی که دیوی معنی مرادوالی دیودلیل په ذریعه معلوم شی نو د دوهمی معنی مراد ساقط ده هم دا وجه داچی ټول علماء پر دی باندی جمع شوی دی چی له قروء لفظ چی مذکورپه کتاب کښی یابه حیض مرادوی چی دازموږ مذهب ده اویا به طهرمراد وی چی داامام شافعی رحمه الله مذهب ده.

تشریح : مصنف رحمه الله دمشترک حکم داسی بیانوی چی دمشترک حکم داده چی که دیوی معنی مراددیدل دیودلیل په ذریعه معلوم شی نود دوهمی معنی مراددیدل ساقط ده ددی تفصیل داده چی مشترک لفظ دمختلفواوموبائینو معانیوؤ احتمال لری اودمختلفو شیانوجمع کیدل ممکن نه ده لهذا که دیوی معنی مراد یدل ددلیل په ذریعه معلوم شی بیاددهمی معنی مرادکول نه شی کیدی څکه په دوهمه معنی کښي استعمالیدل دا لازموی چی اوله معنی مرادنه ده څکه په دواړومعنی وؤ کښی استعمالیدل په دی معنی ده چی دادواړه معنی مراددی اودانه بلکه اجتماع ده دمتنافینوده داجمع محاله ده حاصل داده چی کله له مشترک څخه دواړه معنی په یووخت کښی نه شی مرادکیدای نولهذا د یوی متعینی معنی دمعلومولوپه سلسله کښی محتهید ترهغه وخته توقف وکړی تر څو چی دی په دلائلوکښی غوراوفکرکوی نوکه ددلیل په ذریعه دیوی معنی مراددیدل یقینی شو بیاد دوهمی معنی مراددیدل جائزنه ده مطلب داده چی داحناف په نزد عموم دمشترک جائزنه ده اوشوافع دی ته جوازورکوی دهغه وخت چی دمعانی وؤپه مینځ کښی تباین نه وی.

دوشوافع دلیل :دلیل دعموم مشترک دجوازلپاره داآیت ده اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یَسْجُدُ لَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ وَكَثِیْرٌ مِّنَ النَّاسِ په دی آیت شریف کښی لفظ دسجود

ذکرده ددی دوی معنوی دی (۱)پرڅمکه تندی لګول (۲)په معنی دعجزاوذلت ښکارولو په اوله معنی سجده دناس اوپه دوهمه معنی سجده دغیرعقلاء اودلته په آیت کښې دسجوداسنادوناس اوغیرعقلاء دواړوته شوی دی لهذا دلته دواړی معنی مراد دی او عموم مشترک ده نوکله چی په آیت کښی عموم دمشترک شته نوبیا دعموم مشترک په جوازکښی هیڅ شبه نشته.

داحناف جواب : احناف وائي چی په آیت کښې سجود په معنی دانقیاد اوخشوع سره ده اودا معنی مخکنیودواړومعنی وؤ ته شامله ده لهذا داعموم مجاز ده عموم مشترک نه ده دشوافع دعموم مشترک دجوازلپاره داآیت دلیل نه ده.

مصنف رحمه الله وائي کله چی داحناف مذهب داوؤ چی مشترک دیوی معنی دمرادولو وروسته دبلی معنی مراددیدل جائزنه ده لهذا ټوله علماء پر دی متفق دی چی له لفظ دقروء چی په کتاب الله کښی ذکر ده له دی څخه به یاحیض مرادوی لکه احناف چی وائي او یابه طهرمراده وی لکه شوافع چی وائي یعنی ددی مشترک څخه هیڅ یوڅوک هم دواړه معانی نه مراد وی که امام شافعی رحمه الله اوکه نوردی.

وَقَالَ مُحَمَّد رحمه الله اذَا اوَصى لِمَوالِي بَنِي فُلَانٍ وبنی فُلَانٍ مَوَالٍ من اَعلی موالٍ من اَسفَلَ فَمَاتَ بَطَلَت الوَصِيَّةُ فِي حَقِّ اَلفريقين لاستحالَة اَلجمعُ بَينَهُمَاوَعدم الرُجحَان وقَالَ اَبوحَنِيفَة رحمه الله اذاقَالَ لِزوجَته اَنتَ عَلَيَّ مِثلَ اَمِّي لاَتكُونَ مُظَاهِراً لِاَنَّ اَلفُظَ مُشتركٌ بَين الكَرَامَةِ والحُرمَةِ فَلاَيَترَجَحُ جِهَةُ الحُرمَةِ الابالنِّيته

ترجمه : امام محمد وائي که یوسړی وصیت وکړ دفلانی وموالی وؤ ته اوحال دا وو چی دفلانی موالی وو لره موالی وو په لوړه درجه کښي یعنی هغه موالی چی آزادکونکی وو اوموالی وو په لاندی درجه کښي یعنی هغه آزادکړشوی اووصیت کونکی مړشو نو دده وصیت د دواړوډلو په حق کښی باطل ده ځکه ددواړویوځای کیدل محاله ده اودیوی خوا مرجح هم نشته اوامام ابوحنیفه رحمه الله وائی که سړی خپلی ښځی ته وویل انت علی مثل امّی داسړی مظاهرنه ده ځکه لفظ دانت علی مثل امّي دکرامت اوحرمت په مینځ کښی مشترک ده لهذا بغیرنیت دحرمت طرف ته ترجیح نه ورکول کیږی.

تشریح : دعموم مشترک دنه جوازدتائیدلپاره مصنف رحمه الله دوی مسئلی ذکرکړی یوه د امام محمد په حواله اودوهم دامام ابوحنیفه رحمه الله په حواله دامام محمد دمسئلی حاصل داده که یوسړی دبنی فلان وموالی وو ته وصیت وکړ اوحال داوؤ چی بنی فلان لره موالی وؤ من اعلی (په لوړه درجه کی) اوموالی وؤ من اسفل (په لاندی درجه کی) اوداسړی له وصیت وروسته مړشواووصیت ئی ددواړوفریقوپه حق کښي باطل ده ځکه موالی دمولا جمع ده دوی معانی لری (۱) په معنی دمعتیق (آزادکونکی) او(۲) په معنی دمعتق (آزادکړشوی) لیکن وصیت کونکي

دامعلوم نه کړه چې موالي څخه ئي کوم قسم مراد ده او له دی بغیربل دلیل هم دیوه پر ترجیح نشته اوددواړو معنی وؤ مرادکول محاله ده لهذل وصیت ئي باطل ده.

سوال : که څوک سوال وکړی چې دلته اولی معنی یعنی معتق پرمراددلیل شته هغه داچې معتق وصیت کونکی آزادکړی ده اووصیت کونکی داحسان په بدل کښی داوصیت ورته کوی څکه نبی کریم ﷺ ومن لم یشکرالناس لم یشکرالله څوک چې دخلکو شکراداء نه کړی هغه دخدای شکرنشي اداکولای لهذا دی هم دخپل معتیق دشکراداکول لپاره داوصیت ورته کوی نوکله چې دمعتیق پرمراددلیل موجودشو بایدوصیت دده په حق کښي باطل نه شي.

جواب : جواب داده چې دموالي اسفل پرمرادکیدلوهم دلیل موجودده هغه داده چې وصیت کونکی خوموالي اسفل آزادکړی دي احسان ئی پرکړی ده نواوس وصیت ورته کوی دخپل احسان دتکمیل لپاره مطلب داده چې دموالي اعلی پرمرادکیدلوهم دلیل شته اودموالي اسفل پرمرادکیدلوهم دلیل شته لهذا دواړه برابرشو نووصیت ئي باطل ده.

لیکن خادم وائي چې مولا اعلی دموصی منعم ده اومولااسفل ممنون اومنعم علیه ده اودمنعم اومحسن شکراداء کول واجب ده اوپرمنعم عَلیه باندی دانعمام پوره کول مستحب ده نو اداء دواجب اولی ده تر اداء دمستحب لهذا دمولا اعلی مراددیدل بهتره ده نوکله چې دارنګه شو نودمولی اعلی دمرادوالی مرجیح پیداشوبایدوصیت دده په حق کښي باطل نه شي اودا یو روایت دامام ابویوسف رحمة الله علیه ده.

دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه دمسئلی تفصیل داده که یوشخص خپلی ښځی ته ووائي انت علی مثل امي دی سړی ته مظاهر نه ویل کیږی مګرهغه وخت چې دده نیت وی څکه دالفظ دوو معنی وؤ په مینځ کښي مشترک ده (۱) حرمت (۲) کرامت اوبیادحرمت دوه صورته دی یوظهاراوبل طلاق اوته داهم ویلای شی چې دالفظ د درو معنی په مینځ کښي مشترک ده (۱) کرامت (۲) ظهار (۳) طلاق نوکله چې دالفظ ددرومعانی په مینځ کښی مشترک وو لهذا بغیرنیت یوی معنی ته هم ترجیح نه ورکول کیږی.

وَعَلی هذاقُلْنَا لَایُجِبُ النَّظِیرُفی جَزاءِ الصَّید لقوله تَعالی فَجَزاءٌ مثلُ مَاقَتَلَ من النَّعم لَاَنَّ المثل مُشترکٌ بَینَ المثلِ صوْرةً وَبَینَ المثل معنیً وَهُوَاَلقیمَةُ وَقَداُرِیدَالمثلُ من حَیثَ المعنی بهذَالنَّصِّ فی قَتْل اَلحمَام وَالعَصفور وَنحوهمَابِالاتفَاقِ فَلَایُرادُ المِثلُ مِن حَیثُ الصُّورَةِ اِذلَاعَمُومَ لِلمُشترک اَصلا فَیسقُطُ اِعتبارُ صورَةِ لاستحَالَة اَلجمع

ترجمه : اوددی اصل پربناء موږوایوچې په بدله دښکارکښی مثل صوری نه ده مرادڅکه الله ﷻ وائي چې بدله ددی هغه شی ده چې له مقتول سره برابروی څکه لفظ دمثل مثل صوری اومثل معنوی یعنی قیمت په مینځ کښي مشترک ده اوپه مرغی اوکوتره کښی دټولو په اتفاق مثل

معنوی مرادده لهذا مثل صوری مراد نه ده ځکه عموم مشترک لره نشته لهذا دجمع دمحال والی په وجه مثل صوری ساقط ده.

تشریح مصنف رحمه الله وائي چې داحناف ددې اصل پربناء چې عموم دمشترک جائز نه ده موږوایو که یوشخص په حالت احرام کښې ښکاروکړ پرده مثل صوری واجب نه ده بلکه مثل معنوی واجب ده.

تفصیل تفصیل داده چې په حالت داحرام کښي ښکارکول منع ده لکه الله ﷻ چې وائي ﴿وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ﴾ که څوک دغه ووژنی نوبدله ئي هغه شی ده چې دوژل شوی شی سره به برابروی دي دې فیصله وکړی پردووعدلانوله تاسوپه دی طریقه چې هغه حیوان دهدیه په شکل کعبی ته ورسیږی اویاکفاره ده څومسکینانوته دی ډوډی ورکړی اویادده برابرروزی ددی لپاره چې سزاء دخپل عمل ووینی.

حاصل داده چې له دی آیت څخه داثابته شوه چې په احرام کښی په ښکارکولوسره پرمحرم باندی مثل لازمیږی اودمثل دوه قسمه دی (١)اول صوری (٢) معنوی دصوری معنی داده چې یوشی له بل سره په جسم اوتخلیق کښي برابروی لکه دهوسی مثل صوری وزه ده اوله مثل معنوی څخه مرادقیمت ده .علماء حجازین امام مالک رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله او له احناف څخه امام محمد رحمه الله وائي چې کوم حیوان چې مثل صوری لری دهغه په قتل سره مثل صوری واجب ده مثلا دهوسی په ښکارکولوسره وزه واجب ده اودکوموحیوانانو چې مثل صوری نه وی لکه مرغی اوکوتره په هغوکښی مثل معنوی واجب ده لیکن ددی دری صورته دی (١)داده چې که په دغه قیمت سره دهدیه حیوان اخیستل ممکن وؤ حیوان به واخلی اوپه حرم کښی به ئي حلال کړی اویادی غنم په واخلی یوه مسکین ته دی نیمه کاسه ورکړی اویادی اوربشی اوخورماپه واخلی یوه مسکین ته دی یوه کاسه ورکړی او که غواړی چې روژی ونیسی نودهری یوی کاسی د اوربشواویادخورما وو په بدله کښی دی یوه روژه ونیسی په دی درو صورتوسره مثل معنوی اداء کول کیږی.

امام ابوحنیفه رحمه الله اومام ابویوسف رحمه الله وائي چې که دوژل شوی حیوان مثل صوری وی اوکه نه وی په دواړوصورتوکښي مثل معنوی واجب ده دلیل ئي داده چې په قرآن کښی لفظ دمثل ذکر ده اودادوو معانی وؤ په مینځ کښی مشترک ده (١)مثل صوری (٢)مثل معنوی اودمرغی اودکوتری په وژلو له دی آیت څخه بالاتفاق مثل معنوی مراد ده اوس که دهغوحیوانانولپاره چې مثل صوری لری له دی آیت څخه مثل صوری مراد کړی نوبیاخوعموم دمشترک راغی اوحال داده چې داحناف په نزد عموم دمشترک جائزنه ده نوکله چې داسی شوه نودمشترک دمعانی وؤ داجتماع دمحال والی په وجه مثل صوری ساقط ده دشخینو پردلیل څوسوالونه ذکرکوؤ.

اول سوال : داده تاسووایاست چی لفظ دمثل دصوری اومثل معنوی په مینځ کښې مشترک ده دا خبره غلطه ده ځکه مثل صوری معنی حقیقی ده اومثل معنوی معنی مجازی ده ځکه کوم دوه شیان چی په جنس کښې شریکان وی هغوته متجانسین ویل کیږی اوچی کیف کښې شریکان وی هغوته متشابهان ویل کیږی اوچی په کم کی شریکان وی هغوته متساویان ویل کیږی اوچی په نوع کی شریکان وی هغوته مماثلان ویل کیږی اوکه په یوه کی هم شریکان نه وؤ هغوته متخالفان ویل کیږی نومثل صوری چی کله له خپل مثل سره په نوع کښې شریک وؤ نوځکه مثل صوری ته حقیقةً مثل ویل کیږی اومثل معنوی ته مجازاً مثل ویل کیږی نوکله چی په یوه معنی کښې حقیقت اوپه بله کښې مجاز شو نودی لفظ ته مشترک نه ویل کیږی ځکه مشترک هغه لفظ ده چی ددواړوو معانی لپاره حقیقةً وضع شوی وی نوچی مشترک نه شو نودشیخین دااستدلال صحیح نه ده.

جواب : داده چی لفظ دمثل که څه هم په دغودوؤ معنی وؤ کښې لغتاً مشترک نه ده لیکن شرعًا مشترک ده اودلته زموږشرعاً مشترک مراد ده.

دوهم سوال : داده تاسووایاست چی دهغوحیوانانوچی مثل صوری نه لری لکه کوتره دهغه لپاره په دی آیت سره مثل معنوی واجب ده داخبره غلطه ده ځکه په دی نص کښې نعم ذکرده اونعم حمام اوعصفورته نه وائي نعم چارپایان دی اوحمام اوعصفور چارپاي نه دی نودا آیت دواړوته شامل نه ده چی دواړوته شامل نه شونوداخبره چی د حمام اوعصفورپه بدله کښې له دی آیت څخه باالاتفاق مثل معنوی مراد ده صحیح نه ده.

جواب :داده چی په آیت کښې له نعم څخه صید مراد ده لکه الله ﷻ چی فرمائي لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ نوپردی طریقه تقدیردعبارت داسی شو وَمَنْ قَتَلَهُ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ اولفظ دصید نعم (چارپاي)اوحمام اوعصفور دروسره وؤ ته شامل ده ځکه صید د هغه شی نوم ده چی ښکارئي کیږی حمام اوعصفورهم هغه دی چی ښکارئي کیږی اوس حمام اوعصفورترآیت لاندی شو کله چی په آیت کښې داخل شو نوداخبره صحیح ده چی دحمام اودعصفورپه صورت کښې له دی آیت څخه باالاتفاق مثل معنوی مراد ده.

ثُمَّ اذاتَرَجَّحَ بَعضَ وُجُوه المُشترک بغالب الرَّایٔ یَصیرمُؤوّلاً وَحکمُ المؤل وُجُوبُ اَلعَمَلِ به مَعَ احتِمَالِ الخَطَاء وَمثلُهُ فی الحَکمیَاة مَاقُلنَااذااَطلَقَ الثمَنُ فی البیعِ کَانَ علی غالبَ نقد اَلبَلَدَوذالک بطَرِیقِ التَاوِیل وَلَوکَانَت النّقُود مُختَلَفَة فَسَدَالبیعُ لما ذکرناوَحَملُ الاقراء علی الحَیض وَحَملُ النکَاح فِی الا یة علی الوَطی ء وَحَملُ الکنَایَات حَالَ مذاکرَة الطَلاق عَلی الطَلاقِ من هذا اَلقبیَل.

ترجمه : کله چی دمشترک له معانی وؤ څخه یوی معنی ته ترجیح په غالب رأیه ورکړشی بیا مشترک موؤل ګرزی دموؤل حکم داده چی په ده سره عمل واجب ده سره له دی چی احتمال دغلطی شته اوپه احکاموکښې ددی مثال دامسئله ده که چیری په بیع کښې ثمن مطلق ذکرشی بیاپرهغه

ثمن باندی حمل کیږی چی په ښارکښي ئي استعما ل زیات وی په طریقه دتاویل اوکه ثمن دښارمختلف وؤ په دی صورت کښي دذکرشوی دلیل په وجه بیع فاسده ده اوحمل داقراء پرحیض باندی اوحمل دنکاح پروطی اوحمل دکنایات په وخت مذاکری دطلاق کښی پرطلاق باندی داهم له دی قبیلی څخه دی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائي که دمشترک یوی معنی ته ددلیل ظنی یعنی خبرواحد او قیاس په ذریعه سره ترجیح ورکړشوه مؤول گرزی اومؤول دمشترک یوقسم شو یعنی مشترک دوه قسمه ده (۱)مشترک مؤول (۲)مشترک غیرمؤول اودمؤول حکم داده چی په ده باندی سره له احتماله عمل کول واجب ده دااحتمال له دی وجه ده چی مجتهد ددلیل ظنی په ذریعه تاویل کړی ده څکه احتمال دغلط لری نوترکومه وخته چی دتاویل غلطیا نه وی معلومه شوی په ده عمل کول واجب دی.

په احکام شرعیه وؤ کښی دمؤول مثال دامسئله ده که یو سړی په عقدبیع کښي ثمن مطلق ذکرکړی یعنی داسی وویل زه داقلم په لس (۱۰) روپی خرڅوم اوحال داوو چی دبایع (خرڅونکی)په ښارکښی مختلفی پیسی رواج وی دامطلق پرهغوپیسوباندی حمل کیږی چی دهغواستعمال زیات وی یعنی مشتری (اخستونکی) به بایع ته غالب نقد بلدورکوی او دغالب نقدبلدمعلومتیا په تاویل سره کیږی په دی طریقه کله چی شی مطلق ذکرشی نوفرد کامل څینی مرادکیږی اوفردکامل خوهغه پیسی دی چی دخلکوپه مینځ کښي زیات رواج وی نوځکه به غالب نقدبلدورکوی اوکه چیری بائع په ښارکښي داسی نقوداستعمالیدل چی دهغومالیت مختلف وو مثلادبعض دراهم مالیت کم وؤ اودبعض دازیات وؤ نوپه داسی صورت کښی بیع فاسده ده څکه دعموم مشترک دنه جوازپه وجه دټولوتوسیکو مرادیدل محاله ده اومرجح هم نشته نوڅکه بیع فاسده ده اوکه چیری دیوی سیکی بیان وشی بیا دمالیت داختلاف سره سره بیع صحیح ده څکه هغه جهالت (نامعلومتیا) چی دبیع دفساد سبب وو پورته شولهذا بیع صحیح ده.

مصنف رحمه الله وائي چی په دی آیت وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ لفظ دقروء پر حیض باندی حمل کول اوپه حتی تنکح زوجا غیره کښی لفظ دنکاح پروطي باندی حمل کول اوپه حال دذکردطلاق کښی کنایه الفاظ پرطلاق باندی حمل کول داټول د تاویل له قسمه دی داول حمل لپاره یعنی حمل قروء پرحیض ددی تاویل دوی قرینی دی اول لفظ دثلث اودوهم حدیث دنبی کریم ﷺ طلاق الامة ثنتان وعدتها حيضتان اودوهم حمل یعنی حتی تنکح زوجا کښی دلفظ تنکح تاویل په وطی لپاره قرینه لفظ دزوج ده چی پرعقد دلالت کوی نولهذا پروطي حمل کوؤ پرعقد ئی نه حمل کوو ددی لپاره چی تکرار رانشی.

وعلی هذاقلنا الدین المانع من الزکوة ینصرف الی ایسرالمالین قضاءً للدین وفرع محمد علی هذا فقال اذا تزوج امراة علی نصاب وله نصاب من الغنم ونصاب من الدراهم یصرف الدین الی الدراهم حتی لو حال علیهما الحول تجب الزکوة عنده فی نصاب الغنم ولاتجب فی الدراهم.

ترجمه: اوبناء پردی موږوایو که دین (پور) مانع له زکوة وؤ هغه پوربه له داسی ماله ورکول کیږی چی په هغه سره اداء دپور آسانه وی پردی باندی امام محمد یوه تفریع کوی چی که یوه سړی ښځه په نکاح کړه په یوه نصاب باندی اوده لره مختلف نصابه وؤ نصاب د پوسو(غنم) ئی وو او نصاب ددراهمُ ئي وؤ په دغودوو نصابوکښی اداء په دراهم آسانه ده لهذا دغه نصاب ته دین رجوع کوی اوکه پردواړو کال تیرشی په دراهم کښی زکوة نشته اوپه غنم کښي شته.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی چی بناء پردی اصولو چی که یوشی د دوو شیانو احتمال لری اودیوه پر مراد دلیل ظنی یاقرینه وه نوهغه مراد ده لکه په الفاظ مشترکه وو کښي چی احناف وائي چی که دیو سړی سره یوڅونصابه وو اودی قرض داره هم وو اوقرض مانع له زکوة وو له دی وجه څخه دین هغه نصاب ته رجوع کوی چی له هغه څخه اداء دقرض آسانه وی مثلاً یوه سړی ددراهم نصاب وو او ددنانیرنصاب ئي هم وو اودتجارت دسامان نصاب ئی هم وو اوپردی باندی دومره پور(قرض) باندی وو چی یونصاب پکښی تلی نوپه داسی صورت کښی قرض اولاً له دراهم اویا دنانیرڅخه ورکول کیږی ځکه په هغوسره اداء دقرض آسانه ده .امام محمد پردی یوه تفریع کوی چی که یوه سړی ښځه په نکاح کړه اومهر(ولور) ئی یونصاب کیښودی اوده لری مختلف نصابه وو یعنی نصاب دراهم وو اونصاب دغنم وو په دغه صورت کښی دین (مهر) دراهم ته رجوع کوی ځکه له دراهم څخه اداء دقرض آسانه په نسبت وغنم ته اوکه پردواړو کال تیرشی نوپه دراهم کښی زکوة نشته ځکه مشغول په دین ده اوپه غنم کښی زکوة شته.

ولوترجح بعض وجوه المشترک ببیان من قبل المتکلم کان مفسراً و حکمه انه یجیب العمل به یقیناً مثاله اذا قال لفلان علیّ عشر دراهم من نقد بخارافقوله من نقد بخارا تفسیر له فلولا ذالک لکان منصرفاالی غالب نقد البلد بطریق التاویل فتیرجح المفسر فلایجب نقد البلد

ترجمه :که دمتکلم په بیان سره دمشترک بعض معنی ته ترجیح ورکړشی نوبیاد امفسرګرزی او دمفسرحکم داده چی په ده سره عمل واجب ده په طریقه دیقین سره ددی مثال داده که یوچا وویل چی دفلانی پرما لس درهمه دی له دراهم دبخارا نودده داقول چی له دراهم دبخارا داتفسیرشو اوکه دده داقول نه وائي نوبیا به په طریقه دتاویل سره پرغالب نقد البلدباندی حمل کیدای نواوس نقد بلدنه ده واجب بلکه ترجیح مفسرلره.

تسریح: مصنف رحمه الله وائي که دمتکلم له طرفه دمشترک بعض معنی ته ترجیح ورکړشوی وه یعنی متکلم خپل مراد ښکاره کړی وو یا دمتکلم له طرفه یقینی دلیل وو نوپه داسی صورت کښی دا

مشترک مفسرده دمفسراوموؤل فرق داده چي موؤل هغه مشترک ده چي دده له معاني وۀ څخه بعض معنی ته دخبرواحدیاقیاس یعنی دلیل ظنی په ذریعه ترجیح حاصله وی اومفسرهغه مشترک ده چي دده معاني وۀ څخه بعض معنی ته دمتکلم په بیان سره ترجیح حاصله وی اودمتکلم بیان دلیل قطعی ده دمفسرحکم داده چي په ده سره عمل کول واجب ده په طریقه دیقین سره څکه دلته دمفسر او متکلم درأیه خلاف احتمال نشته مثلاکه یوسړی پرخپل ځان باندی اقرارو کړی او ووائي لفلان علی عشرة دراهم من نقد بخارا دویلو په صورت کښې غالب نقد بلد نه واجبیږی اومفسرته پرموؤل ترجیح په دی وجه حاصله ده چي په مفسرکښې دلیل دترجیح قطعی ده اوپه موؤل کښې ظنی ده قطعی راجح وی پرظنی.

في الحقيقه وَالمَجَازِ كُلُّ لَفظٍ وَضَعَ وَاضِعُ اللُّغَة بَازاءِ شيءٍ فَهُوَحَقِيقَةٌ لَهُ وَلَواستُعمِلَ في غَيرِهِ يَكونَ مَجَازًالاحَقِيقَةً.

ترجمه : دافصل دحقیقت اومجازپه بیان کښې ده هرلفظ چي واضع دلغت وضع کړی وی په مقابله د یوشی کښې ددغه لفظ استعمال ددغه شی لپاره حقیقت ده اوپه بل شی کښې ئي استعمال مجاز ده.

تشریح : مصنف رحمة الله عليه دلفظ ددوهم قسم بیان کوی دادلفظ دوهم قسم ده په اعتبارداستعمال سره اوددی څلوراقسامه دی(۱) حقیقة(۲) مجاز(۳)صریح(۴) کنایه دلیل دحصرئی داده چي لفظ به په خپله موضوع له معنی کښې مستعمل وی یابه دیوعلاقی په وجه په غیرموضوع له که مستعمل وی اول حقیقت ده دوهم مجاز ده اویابه دالفظ په ظاهره معنی کښیی مستعمل وی یابه په غیرظاهره اول صریح ده اودوهم کنایه ده.

مصنف رحمة الله عليه تقسیم دلفظ په اعتبارداستعمال سره اول ذکرکړ اوتقسیم دلفظ په اعتبار دظهور او بیان سره وروسته ذکرکوی چي ترهغه لاندی ظاهر،نص ،مفسر، محکم ، دی اوحال داده چي صاحب نورالانواراوصاحب حسامی ددی پرعکس کړی دی د دی وجه داده چي صنف نظرداوؤ چي ظهور ورسته له استعمال وی نوځکه ئي تقسیم په اعتبارداستعمال مخته کی پرتقسیم په اعتبار د ظهوړاوصاحب دنورالانوار اوحسامی نظرداوؤ چي استعمال ظهور مقصود ده نوځکه ئي تقسیم په اعتباردظهورمخکی کړ اوتقسیم په اعتبار داستعمال ئي وروسته کړ.

مصنف رحمة الله عليه حقیقة اومجازدواړه په یوه فصل کی راوړه وجه ئی داده چي مجازبناء پرحقیقة ده اویا له دی وجه چي دوی دواړه په عام اوخاص راتللوکښې شریکان دی یعنی لکه څرنګه چي حقیقة عام او خاص دواړه راتلای شی همدارنګه مجازهم دواړه راتلای شی.

دحقیقت اومجازلغوی تحقیق داده لفظ دحقیقت فعیلةٌ وزن ده اوتاء دپاره دنقل ده له وصفیت څخه واسمیت ته یعنی اول وصف وو بیا له دی معنی نقل شواسم وګرزیدی اوفعیل وزن داسم

فاعل او اسم مفعول دواړوپه معنی راتلای شی که ئي په معنی داسم فاعل کړی بیا له حَقّ یحقّ ثخه اخذ شوی ده په معنی دثبت سره ده او دحقیقة معنی ثابتۃٌ او حقیقت هم چونکه په خپله اصلی معنی کښی ثابت وو لهذا ورته حقیقت وویل شو اوپه دوهم صورت کښی له حقیقت الشی څخه ماخذده په دی صورت کښی حقیقة په معنی محقوقة (مشتة) سره ده چونکه حقیقت هم ددلائلو وضعیه په وجه په خپله موضوع اصلی کښی ثابت وو لهذا حقیقت ورته وویل شو اومجازٌ مفعل وزن ده مصدرمیمی ده که په معنی داسم فاعل سره شی بیا جاز یجوز څخه ماخذده په معنی دتجاوزکونکی سره ده چونکه مجاز هم له خپلی اصلی معنی څخه تجاوز کړی وو لهذا ورته مجازوویل شو دحقیقت او مجاز دلغوی معنی یومثال داده حُبُ فلان حقیقة دفلانی مینه په خپله أصلی موضیع کښی ثابته ده یعنی په زړه کښی ئی مینه ثابته ده.

حُب فلان مجازٌ دفلانی مینی له خپلی اصلی موضوع یعنی زړه څخه تجاوزکړی ده یعنی صرف په ژبه ئي مینه شته لیکن په زړه کی ئي نشته.

اودحقیقت اومجازاصطلاحی معنی مصنف رحمه الله داسی بیان کړی ده چی هرلفظ چی واضع دلغت دیومعلوم شی لپاره وضع کړی وی استعمال ددغه لفظ په دغه معنی کښی حقیقت ده اوکه په بله معنی کښی استعمال شی مجاز ده چونکه دحقیقت په تعریف کښی لفظ وضع ذکرده لهذا دوضع بیان کول ضروری ده وضع دی ته وائي چی یولفظ دیوی معنی لپاره په داسی طریقه معلوم شی چی استعمال ئی په هغه معنی کښی قرینی ته احتیاج نه لری.

وضع څلورقسمه ده : (۱) اول وضع لغوی ده (۲) وضع شرعی ده (۳) وضع عرف خاص ده (۴) څلورم وضع عرف عام ده دلیل دحصر ئي داده چی دلفظ تعین دمعنی لپاره یابه دواضع لغت له طرفه وی اویا به واضع شرع له طرفه وی اویابه دیوخاص جماعت (ټولی له طرفه وی اویابه دعامو خلکو له طرفه وی اول قسم وضع لغوی ده دوهم قسم وضع شرعی ده دریم قسم وضع عرف خاص ده او څلورم قسم وضع عرف عام ده داول مثال لکه دلفظ صلوة وضع لپاره ددعا اوددهم مثال لکه وضع دصلوة لپاره دارکان مخصوصه اودریم مثال لکه نحوینو چی اسم دهغی کلمی لپاره وضع کړی چی پرمستقله معنی دلالت کوی چی په زمانه پوری پیوسته نه وی اودڅلورم مثال لکه لفظ دآبه چی وضع ده لپاره دڅارپای.

حاصل دکلام داده چی دحقیقت دری اقسامه دی (۱) حقیقت لغویه (۲) حقیقت شرعیه (۳) حقیقت عرفیه مصنف رحمه الله چی کله په تعریف دحقیقت کښی لفظ دواضع الغت ذکرکړنوتریف د مصنف رحمه الله وحقیقت شرعیه اوعرفیه ته نه ده شامل دمصنف رحمه الله له طرفه بعض علماء داجواب ور کړی ده چی مصنف رحمه الله دعام علماء مذهب مختارنه کړبلکه دابوبکرباقلانی مذهب ئي اختیار کی دابوبکر باقلانی په نزدلغوی اسم که په شرعی یاعرفی معنی کښی مستعمل شی

حقيقت شرعي اوعرفي نه ورته ويل كيږي بلكه مجاز ده او بعض وائي چې لغت له لغا څخه ماخذ ده اودلغا معنى تكلم ده نومعنى داشوه چې واضع تكلم اودامعنى حقيقت شرعي اوعرفي دواړوته شامله ده نو كله چې داسي شوه نو دمصنف رحمه الله تعريف حقيقت شرعيه اوعرفيه ته هم شامل شو اوبله خبره داده چې مصنف رحمه الله په تعريف كښې لفظ دكل ذكركړ دى ته اشاره ده چې حقيقت اومجازله اوصافو د لفظه ده معنى اواستعمال دواړه حقيقي اومجازي نشي كيداى ليكن بعض حضرات وائي چې حقيقت او مجاز دمعنى صفت دى يعني معنى حقيقي اومجازي راځي لفظ حقيقي اومجازي نشي راتلاى او بعض حضرات وائي چې حقيقت اومجاز داستعمال صفت دى يعني دلفظ استعمال حقيقي وى او يا مجازي وى لفظ اومعنى حقيقي اومجازي نشي واقع كيدى

ثُمَّ اَلحَقِيقَةُ مَعَ اَلمَجَازِلَايَجتَمِعَانِ اِرَادَةً مِن لَفظٍ وَاحِدٍ فِي حَالَةٍ وَاحِدٍ وَلِهٰذَا قُلنَا لَمَّا أُرِيدَمَايَدخُلُ فِي الصَّاعِ بِقَولِهِ عَلَيهِ السَّلَامُ لَاتَبِيعُوالدَّارِهِمَ بِالدِّرهَمَينِ وَلَاالصَّاعَ بِصَاعَينِ سَقَطَ اعتِبَارُنَفسِ الصَّاعِ حَتّٰى جَازَ بَيعُ الوَاحِدِمِنهُ بِالاثنَينِ وَلَمَّا أُرِيدَ الوِقَاعُ مِن مَسِّهِ سَقَطَ اِرَادَةُ المَسِّ بِاليَدِ.

ترجمه : اوس له يوه لفظ په يوه حالت كښې حقيقت اومجاز نه اراده كيږي له همدى وجې موږ وايو كله چې په قول د رسول الله ﷺ له صاع څخه داخل دصاع مرادشو نودنفس صاع اعتبارساقط شو اويوه صاع ددوو صاعو په عوض كښې وركولاى شي اوكله چې له آيت د ملا مسى څخه جماع مرادشوه نو دمس بالاس اعتبارساقط شو.

تشريح : مصنف رحمه الله وائي چې له يوه لفظ څخه په يووخت كښې حقيقت اومجاز دواړه نه اراده كيږي ليكن داسي كيداى شي چې لفظ په اعتبارد ظاهردواړوته شامل كړى ليكن د دواړواراده په يوه حال كښې قطعاً جائز نه ده ليكن امام شافعي رحمه الله دى ته جواز وركړى ده دليل ئى داده چې لكه څرنګه چې حقيقت ددى توان لرى چې دلفظ مدلول شي همدارنګه مجاز هم دا توان لرى اوپه يووخت كښې ددواړو داراده كولوهيڅ مانع نشته لكه په دى قول كښې لاتنكحوا مانكح اباؤكم مجازي معنى چې عقدده هم اراده كولاى شي اواوحقيقي معنى چې وطى ده هم اراده كولاى شي نومطلب داشو چې دخپل پلارمنكوحې سره مه وطى كوه اومه نكاح ورسره كوه اوحال داده چې په دى اجتماع كښې هيڅ خلل (تاوان) نشته لهذا داثابته شوه چې دحقيقت اومجازدواړواراده كول جائزده.

داحناف دليل داده چې حقيقت په خپل ځاى كښې ثابت ته ويل كيږي اومجازهغه ته ويل كيږي چې له خپله ځايه ئي تجاوزكړى وى اودامحاله ده چې يوشى په يوه وخت كښې هم په خپل ځاى كښې ثابت اومتجاوز شى مصنف رحمه الله وائي كله چې زموږ مذهب داوو چې په يوه وخت كښې له يوه لفظ حقيقت اومجازدواړه نه اراده كيږي نوموږوايو چې دنبى كريم ﷺ په دى قول لاتبيعوالدراهم بالدرهمين والاالصاع بالصاعين كښې چې كله بالاتفاق داخل دصاع مرادشو نودمجازي معنى (نفس صاع)

مرادکول جائزنه ده لهذا دا جائزده چې یوه صاع دوو صاعوو په عوض کې ورکې یعنې یوه صاع خرڅه کړې په دوې صاع ځکه که داهم جائزنشي جمع په مینځ دحقیقت اومجاز کې راځي اودا احناف جائز نه بولي اوهمدارنګه چې په دې آیت لامَستُم النساء کښې هم بالاتفاق جماع (مجازی معنی) مراد شوه حقیقي معنی (مس بالیه) نه مراد یږې.

قَالَ مُحَمَّد رحمه الله وَاِذَا اَوصی لِمَوَالِیه وَلَهُ مَوَالٍ اَعتَقَهُم وَلِمَوَالِیه مَوَالٍ اَعتَقُوهُم کَانَتِ الوَصِیَّةُ لِمَوَالِیه دُونَ مَوَالِی مَوَالِیه وَفِی السِّیَرِالکَبِیرِ لَواستَامَنَ اَهلُ الحَربِ علی اٰباءِ هم لَاتَدخُلُ الاَجدَادُ فِی الاَمَانَ وَلَوِستَامَنُوعلی اُمَّهَاتِهِم لایَثبُتُ الاَمَانُ فِی حَقِّ الجَدَّاتِ.

ترجمه : امام محمد رحمه الله وائي که یو سړی وصیت وکړ خپلو مرییانوته چې ده آزاد کړې وی او دده مرییانولره مرییان وؤ چې دوی آزادکړې وؤ نووصیت دده مرییانوته ده دمرییانو ومرییانوته نه ده اوپه سیرکبیرکښې لیکلې دی که کفارودخپلو پلورو (آباء) لپاره امان وغوښتې نونیکه ګانولره نه ده شامل اوکه دمیندولپاره وغوښتی آناګانولره نه ده شامل.

تشریح : مصنف رحمه الله وائي چې دحقیقت اومجازدجمع دنه جوازپه وجه امام محمد رحمه الله وائي که یوحرالاصله سړی خپلو مرییانوته چې ده آزادکړي وي وصیت وکړ اوحال دا وؤ چې دی غلامان وؤ (مرییان) لره نورمرییان وؤ چې دوی آزادکړې وؤ نوپه داسې صورت کښې صرف وصیت کونکی مرییانوته داوصیت شامل ده دمرییانوومرییانوته نه ده شامل ځکه لفظ دموالی دده د آزادشوؤ مرییانولپاره حقیقت ده اودمرییانولپاره مجاز نوچونکه حقیقت پرمجازترجیح درلوده لهذا دلته حقیقت مراد ده اوکله چې جمع دحقیقت اومجاز جائزنه وه نوځکه دواړه مراد نه شو.

اوپه سیرکبیرکښې ذکردی که حربیانودخپلو پلورنولپاره امان وغوښتې اومسلمانانو امن ورکې نودغه امان صرف ددوی دپلورنه لپاره ده نیکاګانوته نه ده شامل اوهمدارنګه که ئې دمیندولپاره امان طلب کړ اومسلمانانوامان ورکړې دا امان صرف دمیندو لپاره ده اناګانوته نه ده شامل ځکه اب حقیقت په پلارکې اوأم حقیقت دمورلپاره ده لهذا کله چې حقیقت مراد شو نومجاز نه اراده کیږي ددې لپاره چې جمع دحقیقت مجازرا نه شي.

سوال : سوال داده چې په دې آیت حرمت علیکم اُمّهاتکم کښې له أم ځخه موراوانا دواړه مراد دی ځکه د دواړو تحریم په دې آیت سره ده اودا خوجمع ده دحقیقت اومجاز.

جواب : جواب داده چې په دې آیت کښې حرمت دمورپه عبارت النص سره ثابت ده او حرمت دانادعلاقې د جزئیت اوبعضیت په وجه یعنې دلالة النص سره نواوس جمع دحقیقت اومجاز نه راغله.

دوهم جواب : داده چې په آیت کښې له أمهات ځخه بالاجماع اصول مراد دی او داصول لفظ دواړو ته عام ده لهذا د دواړو اراده په طریقه دعموم مجاز ده نه نه په طریقه دجمع دحقیقت اومجاز.

وعلى هذا قُلنَا اذااوصى لأبكار بنى فلانٍ لاتَدخُلُ المَصابَةُ باالفُجُور فِى حُكمِ اَلوَصِيَة وَلواَوصى لِبَنى فلان وَلَهٗ بَنُونَ وَبَنوبَنيه كَانَت الوَصيّةُ لِبَنيه دَونَ بَنى بَنِيه .

ترجمه اوددی اصل پربناء باندی موږ وایو که ویوسړی وصیت وکړ و باکرو (پیغلو) دبنی فلان لره دا وصیت هغی پیغلی لره نه ده شامل چی له هغی سره جماع شوی وی او که ئي دبنی فلانٍ زامنولره وصیت وکړ نو دزامنو وزامنو ته نه ده شامل.

تشریح مصنف رحمه الله وائي چی ددی اصل پربناء چی دحقیقت اومجاز جمع جائزنه ده موږ وایو که یو سړی د وصیت وکړ چی زماله مرګه وروسته زما مال دپلانی قوم پیغلو نجونوته ورکړشی یعنی هغه نجونی چی ددوی بکارت نه وی زائل شوی نو داوصیت هغی ته نه ده شامل چی بکارت ئی دزنا په وجه زائل شوی وی وجه ئی داده داقسم نجلی چی بکارت ئي په زناسره زائل شوی وی امام دابوحنیفه رحمه الله په نزد باکره ده لکه دنکاح په باره کښی چی داصلی باکری سکوت رضاء ده همدارنګه دمصابه باالفجورسکوت هم رضاء ده او دصاحبین په نزد مصابه باالزنا دثیبی په حکم کښی ده یعنی لکه څرنګه چی په سلسه دنکاح کښی دثیبی سکوت اقرار نه ده همدارنګه دمصابه باالزنا سکوت اقرارنه ده لیکن مصابه باالزنا د دروسره حضرات په نزد په وصیت کښی داخله نه ده صاحبین په نزد له دی وجی نه ده داخله چی هغه باکره نه ورته وائي بلکه شیبه ئي بولی اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد له دی وجی چی داحقیقةً باکره نه لیکن مجازاً باکره ده لهذا دحقیقی باکرو په وصیت کښي داخله نه ده اوکه داخله شي جمع دحقیقت اومجاز راځی اومصنف رحمه الله چی مصابه په قید دفجورمقیده کړه دی ته اشاره ده چی که بکارت دحیض یا زخم اویا په بله وجه زائل شوی اوهغه اصلی باکره ده په وصیت کښی داخله ده اوهمدارنګه دفلان وزامنوته په وصیت دزامنو زامن نه دی داخل ځکه لفظ دابن حقیقت ده په زامنوکښی اومجاز په دلمسیانو کښی که دواړه اراده کړشی جمع په مینځ دحقیقت اومجازکښی راځی اودا دامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب ده اوصاحبین وائی چی لفظ دابن عرفاً ابن الابن دواړوته شامل ده نوداوصیت په طریقه دعموم مجازسره دواړوته شامل ده .

سوال : که حربیانو(کفارو) دزامنولپاره امان طلب کړ اومسلمانانوورکی نود احناف په نزد دا امان زامنواودزامنو زامنودواړوته شامل ده اوهمدارنګه که ئي دموالی لپاره امان وغوښتی او مسلمانانو ورکی نو دا امان موالی او دموالی موالی دواړولره شامل ده اوحال داده چی په دی صورت کښی جمع دحقیقت اومجاز راغله اوتاسو داجائزنه بولی.

جواب : داده چی لفظ دابناء ظاهراً ابناء اوابناء الابناء ته شامل ده لکه لفظ دبنو تمیم بنوآدم بنوهاشم چی ابناء اوابناء الابناء داوړته شامل ده همدارنګه لفظ دموالی هم بظاهره موالی اوموالی الموالی دواړوته شامل ده لیکن کله چی حربیانودا ابناء اوموالی لپاره امان طلب کړ

نو حقیقت پر مجاز مقدم شو په امان کښې صرف ابناء او موالي داخل شو لیکن کله چې ابناء او موالي په اعتبار د ظاهر سره ابناء الابناء او موالي الموالي ته شامل وؤ نو د دوی هم شبه پیدا شوه او امان لکه څرنګه چې په صراحت سره ثابتیږی همدارنګه په شبه سره هم ثابتیږی مثال داده لکه یو مسلمان چې ترقلعه لاندی ولاړوی او کافرلوړ وی مسلمان وکافرته اشاره وکړی چې که ته ئې راکښته به شی دکافر دا خیال شو چې امان ئې راکړی او کښته شو داهم امان ده ځکه دده په خیال کښې امان وؤ او امان په شبه سره هم ثابتیږی نوکله چې امان په شبه سره ثابتیږی نو دابناء او موالي لپاره په حقیقت سره شامل شو او ابناء الابناء او موالي الموالي ته په طریقه دشبه سره احتیاطاً شامل شو نو جمع د حقیقت او مجاز نه راغله.

قَالَ أَصحابنَا لَوحَلَفَ لاينكح فلانَ وَهِيَ أَجنبِيةٌ كَانَ ذالكَ عَلى العَقد حتى لَوزَنَابِهَالاَيحنَثُ

ترجمه: زمونږ احناف علماء وائی که چاه قسم وکړ چې له فلانی اجنبی سره نکاح نه کوی دا محمول پر عقد ده حتی که ئې زنا ورسره وکړه نه حانث کیږی.

تشریح: مصنف رحمة الله عليه وائی که یو سړی قسم وکړ چې دفلانی ښځی سره نکاح نه کوی او دا ښځه اجنبیه وه نو دا قسم پرعقد باندی حمل کیږی نوکه دی سړی له دغی ښځی سره زنا وکړه زانی نه حانث کیږی ځکه دلفظ دنکاح حقیقی معنی وطی ده او مجازی معنی ئې عقد ده نوکله چې عقد مراد شو بیا وطی نه مرادیږی ځکه بیا جمع دحقیقت او مجاز راځی او حال داده چې دا جمع جائز نه ده

سوال: داده چې لفظ نکاح په وطی کښې حقیقت ده او په عقد کښې مجاز ده نو لفظ چې ذکر شی له هغه څخه حقیقی معنی مرادیږی نو باید دلته هم حقیقی معنی مراد شی.

جواب: جواب داده چې له اجنبی ښځی سره وطی کول شرعاً منع دی لهذا عادتاً هم پرینښودل شوی او دامعلومه خبره ده چې کله حقیقت محجوروی معنی مجازی مرادیږی نو دلته هم مجازی معنی مراده ده.

وَلَئن قَالَ اذاحَلَفَ لاَيضعُ قَدمَه فِي دَارِ فُلان يحنَثُ لَودَخلَهَا حَافِياً اومُتَنعِّلاً اوراكِباً وَكَذَالِكَ لَوحَلَفَ لاَيسكُنُ دَارَ فُلان يحنَثُ لَوكَانَت الدَّارُملكا لفُلانِ اَوكَانَت بأُجرة اَو عَارِيَة وَذالِكَ جَمعٌ بَينَ الحَقِيقت وَالمَجازِ وَكَذَالِك لَوقَالَ عَبدُهُ حُرٌيوم يقدَمُ فُلانٍ فَقدم فَفُلاَنَ لَيلاًاَونَهاراً يَحنَثُ.

ترجمه: که وویل شی چې که یو سړی قسم وکړ چې دفلانی په کورکښې زه قدم (پښه) نه ږدم نو که په لڅو پښو ورننوتی او که له بوټو سره ورننوتی او که سپور ورننوتی حانث کیږی او که ئې قسم وکړ چې دفلانی په کورکښې نه هوسیږم نو که دفلانی سرای خپل او که په کرایه وی او که په خواست نیولی وی حانث کیږی او دا جمع ده دحقیقت او مجاز او همدارنګه که ئې وویل چې که فلانی راغلی زما عبد (مریبی) آزاد ده نو که فلانی دشپې راغلی او که دورځی دی حانث ده.

تشریح: په دی عبارت کښي دامام ابوحنیفه رحمه الله پراصل چی جمع دحقیقت اومجاز محاله ده یو څو سواله کیږی.

اول سوال: داده که یوسړی وویل والله لاضع قدمی فی دارفلان قسم په خدای که زما پښه دفلانی په سرای کی کښیدم دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد که ئي لڅه پښه سرای ته داخله کړه هم حانث ده اوکه ی له بوټوسره ورداخله کړه هم حانث ده اوکه سپور ورننوتی هم حانث ده اوحال داده چی وضع دقدم په اول صورت کښی حقیقت ده اودانورو دوؤ کښي مجاز ده نو کله چی دواړی معنی وی مرادشوی دا جمع دحقیقت اومجاز ده.

دوهم سوال: داده چی که سړی قسم وکړ اووئي ویل والله لااسکن فی دارفلان په خدای قسم که دفلانی په سرای کښي وهوسیږم داشخص که دفلانی خپل ځانی سرای ته داخل شی هم حانث ده اوکه دفلانی دکرایی سرای ته داخل شی هم حانث ده اوکه دفلانی داستعاری سرای ته داخل شی هم حانث ده اوحال داده چی دار په اوله معنی کښی حقیقت ده یعنی په مسکونه اوپه متاجره اومستعاره کښي مجاز ده نوکله چی دری سره معنی مرادشوی جمع دحقیقت اومجاز راغله اوتاسو دا جائزنه بولی.

دریم سوال: دریم سوال داده که یوسړی وویل عبدہ حر یوم یقدم فلان که فلانی راغلی زما عبد آزاد ده نوکه فلانی دشپی راشی اوکه دورځی داشخص حانث ده اولفظ یوم حقیقت ده په ورځ کښی اومجاز ده په شپه کښی نود دواړوپه مرادولو سره جمع دحقیقت اومجاز لازمیږی.

قُلنَا وَضعُ اَلقَدَمِ صَارَمَجَازا عَنِ الدُّخُولَ بِحُكمِ اَلعُرفِ وَالدُّخُول لَايَتَفَاوَتُ فِى الفَصلَينِ وَدَارُ فُلَانٍ صَارَمَجَازاً عَن دَارِمَسكُونٍ وَذَالِكَ لَايَتَفَاوَتُ بَينَ اَن يَكُونَ مِلكاً لَهُ اَوكَانَت بِاُجرَةٍ لَهُ وَاليَومَ فِى مَسالَة القُدُم عِبَارَةٌ اَن مُطلَقِ اَلوَقتِ لِاَنّ اَليَومَ اِذَااُضِيفَ اِلى فِعلٍ لَايُمتَدُّ يَكُونُ عِبَارَةً عَن مُطلَقِ الوَقتِ كَمَاعُرِفَ فَكَانَ اَلبَحثُ بِهذا الطَرِيقِ لَابِطَرِيقِ الجَمعِ بَينَ الحَقِيقَةِ وَالمَجَازِ.

ترجمه: موږ جواب ورکوؤ چی وضع دقدم مجاز ده له دخول څخه په حکم دعرف اودخول په دواړوصورتوکښي بی فرقه ده اوله دار فلان څخه مجازاً دارمسکونه مراد ده خواه که په خپل سرای کی سکونت کوی اوکه ئي د اجاری په سرای کی کوی اوکه ئي دعاریی په سرای کی کوی ټولوته شامل ده اوقدوم په مسئله کښي دیوم لفظ څخه مطلق وخت مراد ده خواه که شپه اوکه ورځ وی دواړوته شامل ځکه یوم چی فعل غیرممتدد ته مضاف شی مطلق وخت ورڅخه مرادیږی نودلته حنث په دغه طریقه سره ده نه په جمع دحقیقت اومجازسره.

تشریح: په دی عبارت کښی مصنف رحمه الله دمذکوره سوالوجوابونه ورکوی.

اول جواب: داول سوال لپاره جواب داده چی په والله لاضع قدمی په دغه قول کښی بعینه وضع دقدم مرادنه ده ځکه که حالف په دروازه کی کښینی اوپښه ور دننه کړی حانث نه ده ځکه دحالف دخول

مراد ده نو کله چې له وضع د قدم څخه دخول مراد شو نو د حالف مطلب دا ده والله لا دخل فی دار فلان او دخول عام ده که په لڅو پښو ورشي هم دخول ده او که له بوټو سره وی هم دخول ده او که سپور ورشي هم دخول ده لهذا حالف په دې ټولو صورتو کښې په طریقه د عموم مجاز حانث ده نه په طریقه د حقیقت او مجاز.

دوهم جواب : د دوهم سوال جواب داده چې د حالف په دې قول والله لا اسکن دار فلان کښې له دار څخه هغه دار مراد ده چې فلان په هغه دار کښې سکونت کوی ځکه د حالف د قسم کول وجه داده چې فلان ته په قهرده نو فلان چې په هر دار کښي او سیږی دده هغه مراد ده که فلان په خپل سرای کښې اوسیږی او که د کرایې په سرای کښي او سیږی او که د عاریه او حالف هغه سرای ته داخل شی حانث ده او که فلان په یوه سرای کی او سیږی او حالف د فلان بل سرای ته ورشي نه حانث کیږی نو معلومه شوه چې له داره ئي هغه دار مرادده چې فلان پکښې اوسیږی نو کله چې له دار څخه دار مسکونه مرادشو او دادار مملوکه او متاجره او عاریه دری سره وؤ ته شامل ده لهذا دا عموم مجاز ده جمع د حقیقت او مجاز نه ده.

دریم جواب : دریم سوال جواب داده چې په دې قول عبدی حر یوم یقدم فلان کښي له یوم څخه مطلق وخت مراد ده ځکه چې لفظ یوم چې کله فعل غیر ممتد ته مضاف شی مطلق وخت ځنې مرادیږی او چې کله فعل ممتد ته مضاف شی بیا ورځ ورڅخه مرادیږی فعل غیر ممتد لکه دخول، خروج، قدوم، او فعل ممتد لکه لبس، صوم، رکوب، اودلته یوم لفظ فعل غیر ممتد ته مضاف دی ځکه وخت ورڅخه مراد ده او مطلق وخت شپه او ورځ دواړو ته شامل ده نو ځکه په دواړو صورتو کښي حانث ده د عموم مجاز په وجه نه ده حقیقت او مجاز د جمع په وجه.

ثُم الحَقِيقَةُ أَنوَاعٌ ثَلَاثَةٌ مُتَعَذِّرَةٌ وَمَهجُورَةٌ وَمُستَعمَلَةٌ وَفِي القِسمَينِ الأَوَّلَينِ يُصَارُ الَى المَجَازِ بِالاتِّفَاقِ وَنَظِيرُ المُتَعَذِّرَةِ اِذَاحَلَفَ لَايَاكُلُومِن هذه الشَّجَرَةِ اَوَمِن هذه القَدرِ فَانَّ اَكَلَ الشَّجَرَةِ اَوِالقَدرِمُتَعَذِّرَةٌ فَينصَرِفُ ذَالِكَ اِلَى ثَمرهِ الشَّجَرَةِ وَاِلَى مَايَحِلُّ فِي القَدرِ حَتَّى لَواَكَلَ مِن عَينِ الشَّجَرَةِ اَومِن عَينِ القَدرِبنَوعِ تَكَلُّفٍ لَايَحنَثُ وَعَلى هذاقُلنَا اِذَاحَلَفَ لَايَشرَبُ مِن هذهِ البِيرِينصَرِفُ ذَالِكَ اِلَى الاِغتِرَافِ حَتّى لَوفَرَضنَا اَنَّهُ لَوكَرَعَ بِنَوعِ تَكَلُّفٍ لَايَحنَثُ بِالاِتِّفَاقِ.

ترجمه : او حقیقت دری قسمه ده متعذره او مهجوره ده او مستعمله ده په اولو دوؤ قسمو کښې په اتفاق مجاز ته تګ کیږی او د حقیقت متعذره مثال داده که یو سړی قسم وکړی چې زه د غه درخته نه خورم او یادغه دیګ نه خورم نو کله چې د درختی او د دیګ خوړل متعذر ده لذا دلته له درختی څخه مرادمیوه ده او له دیګ څخه هغه شی مراد ده چې په دیګ کښې دننه دی او که ئی په یو تکلیف سره له درختی او له دیګ څخه یو څه وخوړل حانث نه ده او ددی اصل پر بناء باندی موږ وایو که یو څوک

: اقسم وکړی چې زه د دغې ځاه اوبه نه څښم له دې څخه مراد په لپه اوبه را اخیستل ده او که ئې په
یو تکلیف سره خوله پرابوولګوله او به ئي وڅښلې نه حانث کیږي.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی چې حقیقت درې قسمه ده اول متعذره (۲) مهجوره (۳) مستعمله حقیقت متعذره هغه ته وائي چې هغه ته رسیدل بې له مشقته ممکن نه وي لکه عین درخته خوړل او مهجور هغه ته وائی چې په هغه سره عمل عامو خلکو پریښی وی که څه هم هغه ته رسیدل آسانه وی لکه وضع د قدم او حقیقت مستعمله هغه ته وائی چې هغه ته رسیدل هم ممکن وی او خلک عمل هم په کوی مصنف رحمه الله وائی چې په اولودوؤ قسمو کښې په اتفاق سره مجاز ته تګ کیږي د اول مثال لکه یو څوک چې قسم وکړي والله لاآكل من هذا الشجرة قسم په خدای که زه د غه درخته وخورم یا داوو ائی والله لاآكل من هذه القدر قسم په خدای که زه دا دیګ وخورم په اول صورت کښې له شجرې څخه میوه مراد ده او که شجره (درخته) میوه داره نه وه قیمت ئې مراد ده او په دوهم کښې له قدرڅخه هغه شی مراد ده چې په دیګ کښې دننه وی عین درخته او عین دیګ مراد نه ده ځکه د عین درختې او د عینې دیګ خوړل که څه هم عقلاً ممکن ده لیکن په عادت کښي متعذر ده لهذا له درختې څخه میوه مراد ده او له دیګ څخه هغه شی مراد ده چې په دیګ کښې پخ شوی وی او که د درختې میوه نه وه او په دیګ کښي شی نه وؤ بیا د دوی قیمت مراد ده مصنف رحمه الله وائی کله چې په متعذر او مهجور کښي بالاتفاق مجاز ته تګ کیدی نو موږ وایو که یو سړی قسم وکړ والله لااشرب من هذه البئر له دې قسم څخه په لپه او به څښل مراد دی او یا په بل لوښی یعنی که ئي له ځاه څخه په لوښي او به راواخستې او وه ئي څښلې حانث ده او که ئي په تکلیف سره پرځاه خوله کښیښودله او به ئي وڅښلې حانث نه ده ځکه د امعنی حقیقت ده او په لاس یا په لوښی را اخیستل مجاز ده او حقیقت چونکه متعذر ده لهذا دلته مجاز اراده کیږي.

وَنظِيرُ المَهجورة لَوحَلَفَ لَايَضعُ قَدمُهُ فِی دَارِ فلانٍ فَانَّ اِرَادَةُ وَضعِ اَلقَدَمِ مَهجُورةٌ عَادَةً وَعَلٰی هٰذا قُلنَا اَلتَوكِيلُ بِنَفسِ الخُصُومَةِ يَنصَرِفُ اِلی مُطلَقِ جَوَابِ اَلخَصمِ حَتّٰی يَسَعَ لِلوَكِيل اَن يُجِيبَ بِنَعم كَمَايسعَهُ اَن يجِيبَ بِلالاَنَّ اَلتَوكِيلَ بِنفسِ اَلخُصُومَةِ مَهجُورَةٌ شَرعًا وَعادَةً.

ترجمه: او د حقیقت مهجوره مثال داده که یو سړی قسم وکړچې زه خپله پښه د فلانی په سرای کې نه ږدم ځکه ښودل د قدم په عادت کښې پریښودل شوی ده او د دې اصل پربناء موږ وایو چې وکالت په صرف خصومة سره راجع ده ومطلق جواب ته حتی وکیل لره داهم جائزده چې جواب په نعم سره ورکړی لکه څرنګه چې داورته جائزده چې جواب په لا سره ورکړی ځکه په نفس خصومة سره وکالت په شرع او عادت دواړو کښې مهجور ده.

تشریح: مصنف رحمہ اللہ وائي چې د حقیقت مهجوره مثال داده که یو شخص قسم وکړی والله لااضع قدمي في دار فلان ددی کلام حقیقي معنی چې ښودل د پښې دی بغیرله ننوتو په عادت کښې پرېښودل شوی ده یعنی دخلکو عادت دا ده چې په دارنګه قسم سره دا معنی نه اراده کوی لهذا دلته مجازی معنی مراد ده چې دخول ده یعنی حالف په دخول ودارته حانث کیږی په صرف ښودل د پښې چې داخل نه شي نه حانث کیږی.

مصنف رحمہ اللہ وائي کله چې حقیقت مهجوره عادةً محال وؤ نوموږ وايو که یو سړی بل سړی وکیل کړی په صرف خصومة سره داسی ورته ووائی وکلتك بالخصومة او یا دارنګه انت وکیلي بالخصومة في هذه الدعوی په دی صورت کښې وکالت مطلق جواب ته رجوع کوی یعنی وکیل لکه څرنګه چې په لا(منع) سره جواب ورکولای شي همدارنګه په نعم سره هم جواب ورکولای شي ځکه چې مطلق خصومة شرعًا مهجور ده په دی آیت سره ولاتنازعو او عادةً هم مهجورده لهذا نومطلق جواب مراد ده یعنی وکیل کولای شي چې دخصم ددعوی انکاروکړی او دا هم کولای شي چې پرخپل وکیل باندی اقرار وکړی.

وَلَوْكَانَتِ الْحَقِيقَةُ مُسْتَعْمَلَةً فَاِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَامَجَازٌ مَتَعَارِفٌ فَالْحَقِيقَةُ اَوْلَى بِلَاْخِلَافٍ وَاِنْ كَانَ لَهَا مَجَازٌ مُتَعَارِفٌ فَالْحَقِيقَةُ اَوْلَى عِنْدَ اَبِي حَنِيفَةَ رحمہ اللہ وَعِنْدَهُمَا الْعَمَلُ بِعُمُومِ الْمَجَازِ اَوْلَى مِثَالُهُ لَوْحَلَفَ لَا يَاكُلُ مِنْ هٰذِهِ الْحِنْطَةِ يَنْصَرِفُ ذَالِكَ اِلَى عَيْنِهَا عِنْدَهُ حَتَّى لَوْاَكَلَ مِنَ الْخُبْزِ الْحَاصِلِ مِنْهَا لَايَحْنَثُ وَكَذَالِكَ لَوْ حَلَفَ لَا يَشْرَبُ مِنْ هٰذِهِ الْفُرَاتِ يَنْصَرِفُ اِلَى الشُّرْبِ مِنْهَا كَرْعًا عِنْدَهُ وَعِنْدَهُمَا اِلَى الْمَجَازِ الْمُتَعَارِفِ وَهُوَ شُرْبُ مَائِهَا بِاَيِّ طَرِيقٍ كَانَ.

ترجمه: اوکه چیرته حقیقت مستعمله وؤ اودلره مجاز متعارف هم نه وؤ نوبالاتفاق حقیقت بهتره ده اوکه دده لپاره مجاز متعارف وؤ بیا دامام ابوحنیفه رحمہ اللہ په نزد حقیقت اولی ده اودیارانو په نزد عموم مجاز اولی ده ددی مثال داده که یوسړی قسم وکړ چې زه غنم نه خورم دلته دامام ابوحنیفه عین غنم مراد ده حتی که ئي هغه ډوډی وخوړله چې له دغوغنمو څخه حاصله شوی وه نه حانث کیږی اودیارانو په نزد په طریقه دعموم مجاز سره هرهغه شی ته شامل ده چې له دغوغنمو څخه حاصل وی لهذا په عین غنم خوړلو هم حانث ده اوپه ډوډی خوړلو هم حانث ده اوهمدارنګه که ئي قسم وکړ چې ددغی ویالی اوبه نه څښم دامام صاحب په نزد په خوله څښل مراددی اودیارانو په نزد دمجاز متعرف په طریقه سره په هررنګ څښلو سره حانث ده.

تشریح: مصنف رحمہ اللہ وائي که چیرته حقیقت مستعمله وؤ یعنی واضع چې دکومی معنی لپاره لفظ وضع کړوؤ په هغه معنی کښي مستعمل وؤ ددی دوه صورته دی یا به دحقیقت لپاره مجاز متعارف وی اویا به نه وی له مجاز متعارف څخه مراد داده چې مجازی معنی په نسبت وحقیقیٰ ته ډیره استعمالیږی که دحقیقت لپاره مجازنه وؤ په دی صورت کښی بالاتفاق په حقیقت سره عمل

کیږي او که دحقیقت مجاز متعارف وؤ بیا دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد حقیقت اولی ده او دیارانو په نزد عموم مجاز اولی ده دامام صاحب دلیل داده چې خلف ته هغه وخت رجوع کیږي چې په حقیقت سره عمل کول ممکن نه وی اوچې په حقیقت سره عمل ممکن وی نوخلف ته رجوع نه کیږي نوچونکه په مذکوره صورت کښې په حقیقت سره عمل ممکن ده لهذا مجاز (خلف) ته رجوع نه کیږي.

اودیارانودلیل داده چې عموم مجاز داسی معنی ده چې یوفرد ئي حقیقت وی اوبل فرد ئي مجاز وی یعنی ترعموم مجازحقیقت اومجاز دواړه لاندی وی اودکلام څخه مقصود دغه معنی وی نومعنی مجازی دشمول اودعموم په وجه اولی ده لهذا دلته په عموم مجازسره عمل اولی ده. دحقیقت مستعمله او دمجاز متعارف لپاره مصنف رحمه الله دوه مثاله ذکرکوی اول مثال داده که یوشخص قسم وکړ والله لاآکل من هذه الحنطة په خدای قسم که زه داغنم وخورم دلته دامام ابوحینفه په نزد عین غنم مراد ده که ئی عین غنم وخوړل حانث ده اوکه ئی ددغوغنمودوډی وخوړله نه ده حانث له دی وجې چې حقیقت یعنی عین غنم خوړل دخلکوپه عادت کښې مستعمل ده اوموږویلی وؤ چې که حقیقت مستعمل وؤ بیاپه حقیقت عمل کول اولی ده لهذا په عین غنم خوړلوسره حانث ده اودیارانوپه مذهب مراد هرهغه شی چې له غنموڅخه حاصل وی نوکه عین غنم وخوری هم حانث ده اوکه ډوډی وخوری هم حانث ده او دوهم مثال والله لااشرب من الفرات قسم په خدای که ددغې ویالی اوبه وڅښم ددی کلام حقیقی معنی داده چې خوله پربیاله ولګوی اوبه وڅښی اودامعنی مستعمله ده لکه دصحراء اوغرنوپه خلکو کښې چې داعمل ډیرواقع کیږي په دی طریقه چې پرڅمکه لاسونه ولګوی اوخوله پراوبوکښیدی وئی څښي اومجازی معنی ئي څښل دی خواه که په خوله لګولوسره وی اوکه په لوښي رااخیستلوسره وی نودلته دامام صاحب په نزد حقیقی معنی مراد ده څکه حقیقت مستعمل ده که ئی په خوله اوبه څښلی حانث ده ددی نه بغیرپه بله طریقه څښلوباندی نه ده حانث اودیارانوپرمذهب که ئي پرهره طریقه سره وڅښلی حانث ده په عموم مجازسره.

ثُمَّ اَلمجازُ عنداَبي حنيفة رحمه الله خَلَفٌ عَن الحَقيقَة فی حَقِّ اللَّفظ وَعندهُمَا خَلَفٌ عَن الحَقيقَة فی حَقِّ اَلحُکم حَتّی لَوکَانَت اَلحَقیقَةُ مُمکنَةً فی نَفسهَاالاَّاَنَّهُ امتَنَعَ اَلعَمَلُ بهَالمَانع یصَارُ الی المَجاز وَالّا صَارَ الکَلاَمُ لَغواً وَعندَهُ یصَارُ الی المَجاز وَان لَم تَکُن اَلحقیقَةُ مُمکنَةً فی نَفسهَا مثَالُهُ اذاقَالَ لعَبده وَهُوَاَکبَرَ سنّامنهُ هذا ابنی لَایصَارُ الی المَجاز عندَهُمَالاستحَالَة اَلحَقیقَةُ وَعندَهُ یصَارُ الی المَجاز حَتّی یعتَقَ اَلعَبدُ.

ترجمه: اومجازپه نزد دامام ابوحنیفه رحمه الله خلف ده له حقیقت څخه په تکلم کښې اوپه نزد دیارانو خلف ده په حکم کښې حتی که حقیقت ممکن وؤ فی نفسه لیکن دیومانع له وجې عمل نه شوای باندی کیدای نودمجازطرفته رجوع کیږي اوکه ممکن نه وؤ کلام لغوه ده اودامام صاحب به

نزد مجازته تګ کیږی که څه هم حقیقت ممکن نه وی مثال ئی داده که مولی خپل غلام ته وویل هذا ابني او حال داوؤ چی غلام ترده په عمر کی مشر وؤ دلته دیارانو په نزد مجازته تګ نه کیږی ځکه حقیقت ممکن نه ده او دامام صاحب په نزد مجاز ته تګ جائزده مرییی (غلام) آزاد ده.

تشریح: مصنف رحمه الله په دی عبارت کښي دامام صاحب او صاحبین اختلاف بیانوی چی مجاز له حقیقت څخه څنګه خلف ده او دا اتفاقی خبره ده چی مجاز خلف د حقیقت ده او دا هم اتفاقی خبره ده چی د خلف لپاره داصل او حقیقت تصور ضروری ده او دا هم اتفاقی خبره ده چی حقیقت او مجاز صفات د لفظ دی لیکن په دی کښی اختلاف ده چی څنګه ئی خلف ده. امام ابو حنیفه وائي چی مجاز خلف له حقیقت څخه ده صرف په تکلم کښي یعنی په حقیقت تکلم اصل ده او په مجازسره تکلم فرع ده او دامام صاحب په نزد که کلام من حیث العربیة صحیح وؤ نو دده تکلم هم صحیح ده او مجاز ته د رجوع لپاره د کلام د تکلم صحت کافی ده خواه که د دی کلام ترجمه صحیح وی او که نه وی او بعض وائی چی د حضرت امام صاحب په نزد مجاز خلف په تکلم کښی ده په دی معنی چی کلام به د ترکیب نحوی له لحاظه هم صحیح وی او معنی به ئی هم صحیح وی بهرحال که د کلام معنی صحیح وه او د ترکیب نحوی له لحاظه هم صحیح وؤ یا د بعض په قول صرف د ترکیت نحوی له لحاظه صحیح وؤ او په معنی حقیقی سره ئي عمل ممکن نه وؤ نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد مجازی معنی ته رجوع کولای شی د دی لپاره چی کلام له لغویت څخه وساتل شی.

او د صاحبین په نزد مجاز خلف د حقیقت څخه په حکم کښي ده یعنی په حکم کښی حقیقت اصل ده او مجاز دده خلیفه ده او د مجاز د خلفیت د پاره په نزد دیارانو د معنی حقیقی امکان نه ده شرط لهذا که په معنی حقیقی سره عمل ممکن وؤ لیکن د یو مانع له وجه په ده سره عمل کول ممکن نه وؤ نو په داسی صورت کښی مجازته تګ جائزده او که په مجازسره عمل ممکن نه وؤ نو د صاحبین په نزد د کلام لغوه ده دامام ابو حنیفه رحمه الله او صاحبین د دغه اختلاف ثمره په دی مثال کښی ښکاره ده که یو سړی خپل غلام ته وویل هذا ابني او حال داوؤ چی غلام ترده مشروؤ نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد دغه غلام آزاد شو او د صاحبین په نزد آزاد نه ده بلکه کلام لغوه ده.

دامام ابو حینفه رحمه الله دلیل داده چی دا کلام د ترکیب نحوی په لحاظ هم صحیح ده هذا مبتدأ ده ابني ورله خبره ده او معنی هم صحیح ده ځکه دا کلام اثبات د حکم لپاره وضع شوی ده لیکن او س د یو خارجی شی له وجی محال ده هغه دا چی غلام تر قائل په عمر کښی هشرده نو کله چی دا کلام د عربیت په لحاظ صحیح ده او معنی هم صحیح ده نو د دی لپاره چی کلام له لغویت څخه وساتل شی پر حرییت باندی محمول ده یعنی له کومه وخته چی د مولی غلام وؤ له هغه وخته آزاد ده ځکه زوی همیشه پر پلار آزاد وی او حرییت معنی مجازی ده د دی کلام لپاره ځکه چی بنوت مستلزم ده

لپاره دحریت نو هذا ابنی ملزوم په داسې حالت کښې چې دده ځخه بنوت مرادوی او لازم په داسې حالت کښې چې له دځخه حریت مرادوی مطلب داده چې دلته ذکر ملزوم ده مراد لازم ده او دصاحبین په نزد چې کله مجاز خلف په حکم کښې وؤ او مجاز د رجوع کولو لپاره دمعنی حقیقی امکان شرط ده نو چونکه دلته معنی حقیقی ممکنه نه وه لهذا کلام لغوه ده مطلب داده چې دصاحبین په نزد مجازی معنی دمرادولو شرط موجونه ده لهذا کله چې شرط موجود نشی نو مشروط هم نشی موجودیدای.

وَعَلى هٰذَا يخَرجُ الحُكم في قوله لَهُ عَلَيَّ اَلفٌ اَوعَلى هٰذَا الجِدَار وقوله عَبدي اَوحِمَاري حُرٌ وَلايلزَم عَلى هٰذَا اذاقَالَ لامراته هٰذه ابنتي ولَهَانسَبٌ معرُوفٌ من غيره حيثُ لاتَحرُمُ عَلَيه ولايجعَلُ ذَالكَ مَجازًا عَن الطلاق سَوَاءٌ كَانَت المَرأةُ صُغرى سنًامنهُ اوكُبرى لِاَنَّ هٰذَ اللفظَ لوصَحّ مَعنَاهُ لَكَانَ مُنَافيا للنكاح فيكُونَ مُنَافيالحُكمه وَهُوَالطلاقُ وَلَاَاستعارةَ مَعَ وُجُود التنافي بخلاف قوله هٰذا ابني فَانّ البُنُوّةَ لاتُنَافي ثُبوتَ الملك للاَب بل يثبتُ الملكُ لَهُ ثُمّ يعتقُ عَلَيه .

ترجمه : اوددې اصل پر حکم باندې تخریج کیږي دده په قول له <u>علیّ الف اوعلی هذا الجدار</u> پر ما دده زر روپۍ دي او یا پر دغه دیوال او دده قول <u>عبدی اوحماری حرٌ</u> زما غلام او یا زما خر آزاد ده او پر دې باندې اعتراض نه کیږي چې سړی خپلې ښځې ته ووائی <u>هذا ابنتي</u> او حال داوؤ چې د ښځې نسب معلوم وؤ نو دا ښځه پر ده حرامه نه ده او دا قول مجاز له طلاقه نه ده که ښځه ترده په عمر کښې کوچنی وی او که لووی له دې وجه که دلفظ دا معنی صحیح شي نو دا لفظ له نکاح سره منافي ده لهذا دنکاح له حکم سره چې طلاق ده هم منافي ده او ددې منافات په وجه استعاره هم نه ده صحیح په خلاف ددې قول هذا ابنی ځکه چې بنوت دپلار لپاره له ثبوت ملک سره منافي نه ده بلکه دده لپاره ملک ثابت شو او غلام پر ده آزاد شو .

تشریح : مصنف رحمه الله وائي چې ددې اصل پر بناء چې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد مجاز خلف له حقیقت ځخه په تکلم کښې ده او دصاحبین په نزد خلف په حکم کښې ده دیوه حکم تخریج کیږي هغه داده چې که یوه سړی دبل لپاره اقرار وکړ او وه ئي ویل له <u>علیّ الف اوعلی هذا الجدار</u> دده پر ما زر روپۍ دي او یا پر دغه دیوال او یا داسې ووائي چې زما غلام او یا دغه خر آزاد ده دصاحبین په نزد دواړه کلامه لغوه دی او دامام صاحب په نزد مجازی معنی مراد ده یعنی په اول صورت کښې زر روپۍ لازمي شوی او په دوهم صورت کښې غلام آزاد شو وجه ئي داده چې په اول کلام کښې حقیقت داده چې یا پر متکلم او یا پر دیوال زر روپۍ لازمی دی او په دوهم کلام کښې حقیقت داده چې یا غلام او یا خر آزاد ده او په دې دواړو کلامو کښې حقیقت ممکن نه ده ځکه په اول صورت کښې دیوال دزرو روپو دثبوت استعداد نه لري او په دوهم صورت کښې خر ده آزادوالي استعداد نه لري.

حاصل داده چی په دواړه صورته کښي پرحقیقی معنی باندی حکم کول اوعمل کول محال ده اومحال په صورت کښي دصاحبین په نزدچونکه کلام لغوه ده اومجاز ته رجوع نه کیږی لهذا د صاحبین په نزد دواړه کلامه لغوه دی اوداامام صاحب په نزدپه داسی صورت کښي مجاز ته رجوع کیږی نوځکه په داړه صورته کښي اوپه معنی د واو سره ده په اول کلام کښي متکلم باندی زر روپی لازمی دی اوپه دوهم صورت کښي غلام آزاد ده ځکه په اول صورت کښی متکلم دزرو روپو دثبوت محل ده اوپه دوهم صورت کښی غلام دحرمت محل ده .ولايلزم على هذا داعبارت د یوه اعتراض جواب ده اعتراض داده چی تاسومخکی وویل چی که کلام دترکیب نحوی اودترجمی په اعتبارصحیح وؤ لیکن عمل ورباندی دیومانع له وجه ممکن نه وؤ په داسی صورت کښي هم کلام داامام صاحب په نزد لغوه نه ده اوحال داده چی موږ موږ ته دا معلومه ده که یو شخص خپلی ښځی ته وویل هذه ابنتی اوښځی لره له خاونده بغیر نسب معلوم وؤ په دی صورت کښي امام صاحب وائي چی دا ښځه پرخاوند حرامه نه ده اوداکلام مجازله طلاقه هم نه ده بلکه داکلام لغوه ده اوحال داده چی داکلام دترکیب نحوی ترجمی په اعتبارصحیح ده نودلته داامام صاحب د اصل تقاضی داده چی کلام لغوه نشی بلکه پرمجازحمل شی اوحال داده چی تاسوداسی ونه کړل ؟.

جواب داده چی داکلام که څه هم دترکیب نحوی اودترجمی په اعتبارصحیح ده لیکن په دی کلام کښی بنتیت (لوروالی) له نکاح سره منافی ده ځکه چی له لورسره په هیڅ حال کښی هم نکاح جائزنه ده نوکله چی بنتیت له نکاح سره منافی ده له طلاق سره هم منافی ده ځکه طلاق دنکاح له احکامو څخه ده او استعاره هم ددی منافات په وجه صحیح نه ده لهذا دلته داسی نشی کیدای چی ذکربنتیت وی اومراد طلاق وی نوکله چی دطلاق اراده صحیح نه شوه نوښځه پرخاوندباندی حرامه نه ده اوکه ته ووائي چی بنوت (زوی والی) هم ملک سره منافی ده ځکه زوی دچاه ملک نشی جوړیدای نوباید له عتق سره هم منافی شی اوتاوویل چی د دوؤ منافی شیانوپه مینځ کښي استعاره جائزنه ده لهذا هذا ابنی چی مولی ترده مشرغلام ته ووائي باید دمجاز یعنی عتق وظرفته راجع نشی اوحال داده چی امام صاحب وائي چی په دی صورت کښی داکلام پرمجازی معنی باندی حمل ده اوغلام آزاد ده ؟ بخلاف مصنف رحمه الله په دی عبارت سره ددی سوال جواب ورکوی هغه داده چی بنوت دپلار لپاره د ثبوت ملک سره منافی نه ده یعنی پلاردخپل زوی مالک جوړیدای شی لکه په حدیث شریف کی هم داسی راغی من ملك ذارحم محرم عتق عليه یعنی کوم شخص چی دخپل ذی رحم محرم مالک شی پرده آزاد ده اوزوی هم دخپل پلارذی رحم محرم ده لهذا پلار دخپل زوی مالک جوړیدای شی مطلب داده چی کله بنوت له ملک سره منافی نه شو نوله عتق سره هم نه ده منافی نوکله چی دبنوت اوعتق په مینځ کښی منافات نه نسته نوددوی په مینځ کښی استعاره هم صحیح ده لهذا له ابنی څخه عتق او حریت مرادول صحیح ده .

فَصلٌ في تَعريف طَريق اَلاستعَارَة

فَصلٌ في تَعريف طَريق اَلاستعَارَة اعلَم اَنّ الاستعَارَة فی اَحکَام الشّرع مَطردَةٌ بطَریقَین اَحدُهُمَا لوُجُود اَلاتصَال بَینَ اَلعلّة وَالحُکم وَالثَانی لوجَود اَلاتّصَال بَینَ السّبَب اَلمَحض وَالحُکم فالاَوّلُ منهُمَا یَجبُ اَلاستعَارَة منَ اَلطَرفین وَالثّاني یَجبُ صحّتُهَا مَن اَحد الطَرفین وَهُوَ استعَارَةُ الاصل للفرع

ترجمه: دافصل په بيان دپيژندلودطرقي داستعاري كښې ده پوسه چې استعاره په احكامو د شرعي كي په دوؤ طريقوسره رواج ده له دی دوؤ څخه يوه لپاره دپيوستوب ده دعلت اودحكم په مينځ كې اودوهمه دپيوستوب دسبب محض او حكم په مينځ كښې ده له دوی دوؤ څخه په اول قسم كي استعاره له دواړه طرفه جائزده اوپه دوهم كښي له يوه طرفه جائزده هغه استعاره داصل ده لپاره دفرع.

تشريح: كله چې مصنف رحمه الله له تعريفه دحقيقت اومجاز اوددوی داقسامو اوتفريعاتو څخه فارغ شو نوغواړی چې علاقی دمجاز راوپيژني دی وائي چې په دی فصل كښی داستعاری دطريقی پيژندل كيږی داهل اصول په نزد استعاره اومجاز دواړه يو شی دی يعنی مرادف دی يعنی دحقيقت او دمجاز داتصال اومناسبت په وجه لفظ په معنی مجازی كښي استعمالولوته هم استعاره هم وائي اومجاز هم ورته وائي اوداهل بيان په نزداستعاره دمجازقسم ده څكه كه دحقيقت اومجاز په مينځ كښی علاقه د تشبيه وه استعاره ورته وائي اوكه دسبب اومسبب لازم وملزم حال اومحل وغيره يعنی له پنځه ويشت علاقوڅخه يوه علاقه وه هغی ته مجاز مرسل وائي احقرپه قوت الخيار ج۲ص۲ كښی (۲۵) علاقی په تفصيل سره ذكركړی دی.

حاصل داده چی داهل بيان په نزد استعاره دمجاز قسم ده دمجاز مرادف نه ده اواهل اصول په نزد دمجاز مرادف ده اوس دمعنی حقيقی اومجازی په مينځ كی كه دغيرتشبيه علاقه وه دی علاقی ته اتصال صوری وائی اوكه دتشبيه وه اتصال معنوی ورته وائي اتصال صوری دی ته وائی چی دمعنی مجازی صورت دمعنی حقيقی له صورت سره دمجاورت په وجه متصل وی دارنګه چی معنی مجازی دمعنی حقيقی له پاره سبب ياعلت يا شرط ياحال وی اويا حقيقی معنی دمجازی معنی لپاره سبب ياعلت ياشرط ياحال وی مطلب داده چی دسبب اومسبب دعلت اومعلول په مينځ كښی چی كوم اتصال ده دا اتصال صوری ده اوداتصال معنوی مطلب داده چی معنی حقيقی اومجازی دواړه په يو داسی معنی كښی شريكی وی چی هغه معنی په مشبه به (معنی حقيقی) پوری خاص وی د اتصال معنوی مثال لكه اسدچی ذكرشی اورجل شجاع مراد وی اويا حمارذكرشی ګنده ذهنه انسان څينی مراد وی اول مثال كی مشترك فيه معنی شجاعت ده اوپه دوهم مثال كښی مشترك فيه معنی حماقت اوغباوت ده اوداتصال صوری لكه سماء (آسمان) چی

ذکرشي او وریځ ځنې مراد وی ځکه د اوریځی او د سماء صورت سره متصل ده په دی طریقه چې په عرف کښې هرلوړشی ته سماء ویل کیږی او اوریځ هم چونکه لوړه ده لهذا دی ته هم سماء ویل کیږی لکه په دی قول د الله ﷻ کښي اوکصیب من السماء دلته له سماء ځخه وریځ مراد ده مصنف رحمه الله د اتصال معنوی تفصیل باالکلیه پرینبودل او د اتصال صوری ئی هم ډیراقسام پرینبودل یعنی له ۲۴ اقساموځخه ئي صرف د دوؤ اقسامو چې اتصال دعلت اومعلول او اتصال دسبب اومسبب ده ذکرکړل په دی دوؤ کښې

مصنف رحمه الله وائی چې په احکامود شرع کښې استعاره په دوؤ طریقوسره استعمالیږی یوه د اتصال دعلت اومعلول ده اودوهم داتصال دسبب اومسبب په مینځ کښې لیکن ددی واړو ترپیژندنې وړاندی موږ ستاسوپه مخکښې دعلت اومسبب معنی ږدو په شرعت اسلامیه کښې علت هغه شی ته وائي چې حکم دیومطلوب لپاره وضع شوی وی نوکه چیری حکم متصورروؤ نوعلت مشروع ده اوکه حکم متصورنه وؤ علت مشروع نه ده نود حکم دوجود اووجوب داړو نسبت وعلت ته کیږی یعنی دعلت په وجه حکم موجودیږی هم اوواجبیږی هم لکه لفظ دنکاح دملک متعه دفائده کولولپاره وضع ده اوهم دی لفظ ته دملک متعی وجوداووجوب منسوب ده یعنی دنکاح په وجه خاوندلره ملک دمتعه حاصل ده اوپرښځه باندی دبضعي ورسپارل واجب ده اودلته دنکاح اوملک متعه په مینځ کښې بل شی هم نشته چې هغه ته ملک متعه منسوب کړو حاصل داده چې نکاح دملک متعه لپاره علت ده سبب نه ده سبب هغه شی ده چې دعلت رنګه مشروع نه وی بلکه سبب مفضی وحکم ته وی اودسبب اوحکم په مینځ کښې داشی وی چې هغه ته حکم منسوب شي نوسبب هغه ده چې ده ته نه ده حکم وجود منسوب وی اونه وجوب لکه شراء ملک متعه لپاره سبب ده ځکه شراء مفضی وملک متعه ته ده اودملک متعه وجوداووجوب منسوب وشراء ته نه ده بلکه دشراء او ملک متعه په مینځ کښې ملک رقبه ده چې دملک متعه وجود اووجوب ورته منسوب ده اوهمداوجه ده چې په بعض صورتوکښې شراء وی او ملک متعه نه وی مثلاً یو شخص خپله رضعی خور واخیسته په دی صورت کښې شراء شته لیکن ملک متعه نشته اوپه بعض صورتوکښې شراء هم موجوده وی اوملک متعه هم موجوده وی لکه یو ځوک چې اجنبیه مینځه واخلی دلته شراء هم شته اومشتری لره ملک متعه هم شته حاصل داده چې شراء دملک متعه لپاره سبب ده علت نه ده مصنف رحمه الله وائي چې داتصال دعلت اودمعلول په مینځ کښې له دواړه طرفه استعاره صحیح ده یعنی داهم جائزده چې علت ذکروی مرادمعلول (حکم) وی اوداهم جائزده چې ذکرحکم وی مرادعلت وی اوپه دوهم قسم چې اتصال دسبب اومسبب ده په دی قسم کې استعاره له یوه طرفه جائزده هغه داده چې سبب ذکر وی اومراد مسبب وی لیکن دانه ده جائز چې مسبب ذکروی اومراد سبب وی وجه ئي داده چې په استعاره کښې قاعده داده چې محتاج

الیه ذکروی او مراد محتاج وی محتاج الیه ملزوم وی او محتاج لازم وی او استعاره دهغه مجاز نوم ده چی ذکر ملزوم وی مراد لازم وی او معلول او علت هریو محتاج هم ده او محتاج الیه هم ده ځکه چی معلول په خپل وجود او ثبوت کښی علت ته احتیاج ده یعنی بغیر علت نه موجودیږی ځکه معلول اثر د علت ده او اثر په وجود کښی موثر ته احتیاج وی نو معلول محتاج شو او علت محتاج الیه ده او علت د مشروع والی په لحاظ معلول ته احتیاج لری ځکه علت خو بالذات مقصود نه وی بلکه په دی وجه چی پرده باندی حکم مرتب ده ځکه په کوم کښی چی معلول ثبوت ممکن نه وی هلته علت لغوه وی مثلاً یو سړی آزاد انسان واخلی دا اخستل لغوه ده ځکه حکم (ملک) نه ثابیتږی ځکه آزاد سړی د چاه ملک نه گرزی نو کله چی داسی شو چی علت په مشروعیت کښی معلول ته احتیاج لری نو علت محتاج شو او معلول محتاج الیه شو حاصل داده چی علت او معلول هریو محتاج او محتاج الیه دواړه دی او استعاره دذکر دمحتاج الیه مراد محتاج نوم ده لهذا چی علت ذکر کی مراد معلول وی او یا معلول ذکر کی مراد علت وی دواړه جائزدی.
او په دوهم قسم کښي استعاره له یوه طرفه جائزده هغه داده چی ذکر سبب وی مراد مسبب وی وجه ئی داده چی مسبب په خپل ثبوت کښی محتاج ده سبب ته ځکه مسبب اثر ده لپاره د سبب او اثر بی له موثره نه موجودیږی نو معلومه شوه چی مسبب محتاج ده او سبب محتاج الیه ده او مو ړ وړاندی داخبره وکړه چی استعاره دمحتاج الیه ذکر مراد محتاج نوم ده لهذا چی سبب ذکر شی مراد مسبب وی دا جائزده لیکن چونکه سبب په مشروعیت کښی مسبب ته احتیاج نه ده لهذا دا نه ده جائزچی ذکر مسبب وی او مراد سبب وی لیکن داخبره یادساته چی ذکر د مسبب مراد سبب هغه ناجائزده چی مسبب په سبب پوری خاص نه وی که مسبب په سبب پوری خاص وؤ بیا ذکر مسبب مراد سبب جائزده ځکه په دی صورت کښی سبب د علت په معنی ده او سبب ددغه مسبب لپاره مشروع ده نو کله چی سبب د علت په معنی شو نو مسبب د معلول په معنی ده او داخبره مخکی تیره شوه چی که معلول ذکر شی مراد علت وی داجائزده لهذا په مزکوره صورت کښی چی ذکر مسبب وی او مراد سبب وی داهم جائزده لکه حضرت یوسف علیه السلام دزندان دملگری په قول إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا کښی له خمر څخه انگور مراد دی او انگور خود خمر سبب دی او خمور له مسبب ده لیکن داهغه مسبب ده چی په سبب پوری خاص ده ځکه داحناف په نزد خمر صرف له انگورو څخه جوړیږی او له انگورو څخه بغیر له نورو شیانو چی نشه کونکی مشروبات تیاریږی هغه داحناف په نزد خمر نه دی نو په دی مثال کی مسبب په سبب پوری خاص ده او احتیاج له دواړو طرفو ده نو کله چی سبب او مسبب هریو محتاج او محتاج الیه دواړه شول نو له دواړو طرفو استعاره جائزده.
مصنف رحمة الله علیه په عبارت کښی سبب په قید د محض سره مقید کړ دی ته اشاره ده چی دلته سبب په معنی د علت نه ده ځکه کله کله مجازاً پر سبب باندی د علت اطلاق وشی لکه ویل کیږی چی شراء

دملک سبب ده اوحال داده چې شراء علت ده سبب نه ده لیکن مجازًا پرعلت باندې دسبب اطلاق شوی ده.

مِثَالُ الاوّلِ فِيمَا اِذاقالَ اِن مَلَكتُ عَبدًا فَهُوَ حُرٌ فَمَلَكَ نصفَ العَبدِ فَباعَهُ ثُمَّ مَلَكَ النصفَ الآخرَ لَم يَعتِق اِذلَم يَجتَمِعَ في مِلكِه كُلُّ العَبدِ وَلَوقالَ اِن شَترِيتُ عَبدًا فَهُوَ حُرٌ فاشتري نصف العَبد فَباعَهُ ثُمَّ اشتري النصفَ لاَ خَرِ عُتِقَ النصفُ الثاني وَلَوعَني بِالملك الشراءُ وَبِالشراءُ المِلكَ صَحَّ نيتُهُ بِطريق المَجازِ لِانَّ الشراء عِلّةُ المِلكِ والملكُ حُكمُهُ فَعَمَّت لاستعارةُ بَينَ العِلّةِ وَالمعلولِ منَ الطرَفَينِ الاّ اَنَّهُ فِيمايَكُونُ تَخفيفًا في حَقيه لايُصَدِّقُ في حَقِ القَضاءِ خَاصَّةً لِمَعنَي التُهمَةِ لاَلِعَدمِ صِحّةِ الاستعارة

ترجمه : داولی طریقی مثال په دې مسئله کی ده چې که یوسړی ووائي که زه دغلام مالک شوم نوهغه آزاد ده. بیا دنیمی غلام مالک شو هغه ئي خرڅ کړاوبیا ددوهم نیمی مالک شو نوداغلام نه آزادیږي ځکه پوره غلام ده په ملک کښې نه ده راغلی اوکه ئي وویل که ماغلام واخیستی نوهغه آزاده بیا دنیم غلام واخیستې هغه ئی خرڅ کړ اوبیائي دوهم نیمی واخیستی هغه باندې آزاد ده اوکه ده له ملک ځخه شراء (اخستل) مراد وؤ اوبیائي له شراء ځخه ملک مراد وؤ نودده نیت په طریقه دمجازصحیح ده ځکه شراء دملک لپاره علت ده اوملک حکم ده لهذا دعلت اومعلول په مینځ کښې له دواړه طرفه استعاره صحیح ده مګرپه هغه صورت کښې چې پرقائل تخفیف وی هلته دتهمت له وجه استعاره نه ده صحیح قضاءً دده تصدیق نه کیږی له دې وجه نه چې استعاره نه ده صحیح.

تشریح : مصنف داستعاری دعلت اومعلول لپاره مثال ذکرکی لیکن تردی مخکی یوتمهید ذکر کوؤ هغه داده چې که چیری یوسړی ان ملکت عبدًا فهوحر وویل اوبیائي دغلام نیمی برخه واخیسته اوهغه ئي خرڅ کړه اوبیا ئی دوهمه برخه واخیسته نودادوهمه برخه آزاده نه ده اوکه ئي ان اشتریت فهوحر وویل اوبیائي دغلام نیمه برخه واخیسته اوهغه ئي خرڅه کړه اوبیائی دوهم نیمی واخیستی دا دوهم نیم آزادده ددی دوؤ فرق داده چې په عرف کښې دشراء لپاره دمشتری دټولو اجزاءُ په ملک کښې راتلل شرط نه ده لکه یو ځوک چې یوشی په ټوټو ټوټوواخلی دته داویل کیدی شی چې فلانی سړی فلانی شی واخیستی اوعرفاً دیوشی دملکیت لپاره دټولواجزاءُ په ملک راتلل شرط ده که یوځوک یو شی په ټوټه ټوټه سره مالک شی دی ته دانشي ویل کیدای چې داشخص دفلانی شی مالک ده نواوس راځواولی مسئلی ته په اوله مسئله کی چونکه مالک دپوره غلام مالک شوی نه ده یعنی مکمل غلام ئي په ملک کښې نه ده راغلی نوځکه دوهم نیمی پرده آزاد نه ده اواول نیم چونکه دخرڅوالی په وجه دده له ملکه وتلی ده نه آزادیږي ځکه نبی کریم ﷺ وائي

لاعتق فیمالایملکه ابن آدم عتق نشته په هغه شی کښې چې ابن آدم ئې مالک نه وی نوځکه نصف اول هم نه ده آزاد په دی وجه چې دده له ملکه وتلی ده.

او په دوهمه مسئله کښې چونکه داختل شوی شی ټولی اجزاء وی په ملک راتلل شرط نه ده ځکه دوهم نصف آزاد ده ځکه دآزادیدو شرط موجوده چې دغلام اختتل ده که څه هم په متفرقه طریقه سره ده نوکله چې شرط موجود شو هغه حصه آزادده چې دشرط دوجود په وخت کښې دده په ملک کښې ده اوکومه حصه چې ئې له ملکه وتلی ده هغه نه ده آزاده له دی تمهیده ورسته

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائي که د قائل (ویونکی) له ملک څخه شراء مراد وه اویائی له شراء څخه ملک مراد وؤ نودده نیت په طریقه دمجاز صحیح ده له دی وجی چې شراء علت ده دملک اوملک ئي حکم ده شراء ئي په دی وجه علت ده چې شراء بلاوسطه داثبات دملک لپاره وضع ده نومخکی تیره شوه چې دعلت اومعلول په مینځ کښې له دواړه طرفه استعاره جائزده لهذا دلته هم ذکرشراء مراد ملک

او ذکر ملک مراد شراء دواړه جائزدی نوکه سړی وویل ان ملکتُ عبداً فَهُوَ حرٌ اومراد ئي ان اشتریت عبداً فهو حرٌ وؤ نودوهم نصف آزاد ده اوکه ئی ان اشتریت عبداً فَهُوَ حرٌ وویل مراد ئي ان ملکت عبداً فهو حرٌ وؤ

دیانةً دده اودخدای په مینځ کښې دغلام دوهم حصه نه ده آزاد الاان تخفیفاً داعبارت دیو سوال لپاره جواب ده.

سوال داده چې حکم دشراء اوملک په مینځ کښې له دواړوطرفواستعاره صحیح وه نوپه کوم صورت کښې چې شراء ذکرشی مراد ملک وی بایدقضاءً دده تصدیق وشی اودغلام دوهمه حصه آزاده نه شی اوحال داده چې قاضی دده تصدیق نه کوی بلکه د دوهم نصف دآزادوالی حکم ورکوی

جواب داده چې په دی نیت کښې دقائل فائده شته ځکه چې شراء ذکرشی مرادملک شی غلام نه آزادیږی اودا دقائل فائده ده لهذا دلته دتهمت په وجه قاضی دده تصدیق نه کوی که څه هم دیانتًا صادق وی اصل داده چې په دی صورت کښې قاضی دتهمت په وجه دده تصدیق نه کوی له دی وجه نه ده چې استعاره نه ده صحیح بلکه استعاره صحیح ده.

داخبره یادساته چې شراء اوملک په مینځ کښې مذکورفرق په هغه صورت کي ده که ددواړو مفعول نکره وؤ اوکه معرفه وؤ لکه ان اشتریت هذاالعبداوان ملکت هذاالعبد په دی صورت کښې شراء اوملک دواړه په دی کي شریکان دی چې ټولی اجزاء دمشتری په ملک کی راتلل شرط نه دی وجه ئي داده چې جمع اوتفریق اوصاف دی او اوصاف په غائب کښې معتبروی په معین کي نه وی معتبر.

وَمِثَالُ الثَّانِی اِذَا قَالَ لِاِمْرَأَتِهٖ حَرَّرْتُکِ وَنَوٰی بِهِ الطَّلَاقَ يَصِحُّ لِاَنَّ التَّحْرِيْرَ بِحَقِيْقَتِهٖ يُوْجِبُ زَوَالَ مِلْکِ الْبُضْعِ بِوَاسِطَةِ زَوَالِ مِلْکِ الرَّقَبَةِ وَکَانَ سَبَبًا مَحْضًا لِزَوَالِ مِلْکِ الْمُتْعَةِ فَجَازَ اَنْ يُسْتَعَارَ عَنِ الطَّلَاقِ الَّذِیْ هُوَ مُزِيْلٌ لِمِلْکِ الْمُتْعَةِ

ترجمه اود دوهمې طريقې مثال که سړی خپلې ښځې ته وويل ماته ازاده کړې يې او له دې څخه يې مراد طلاق وڼيت يې صحح ده ځکه لفظ د تحر ير د خپلې حقيقي معنی په اعتبار دزوال د ملک رقبی په واسطه زوال د ملک دبضع راولي نولفظ دتحر ير دزوال د ملک دمتعه لپا ره سبب محض ده لهذا داخبره جائز ده چې له هغه طلا قه استعا ره شي چې زوال د ملک دمتعه راولي .

تشريح : مصنف وايې چې داستعا ر ې ددوهمې طريقې مثال داده که يو سړی خپلې ښځې ته ووايي ما ته اذا دکړې يې او ايراده طلاق وی داصحيح ده ځکه چې لفظ دتحرير دخپلې حقيقي په عتبار په واسطه دزوال دملک درقبی زوال دملک دمتعه راولي يعنی اول زوال دملک دراولي اوبيا دزوال دملک درقبي په وا سطه زوال د ملک متعه راولي نو کله چې داسې شو نولفظ دتحرير سبب محض شو دزوال ملک متعه لپا ره ځکه دا لفظ نه دزوال ملک متعه لپاره وضعه ده او نه زوال د ملک د متعې وجود او وجوب ده ته منسوب ده بلکه دا لفظ دزوال ده ملک متعي لپاره مفضي ده يعنی په دې لفظ سره زوال د ملک رقبي يقيني ده او زوال دملک متعي اتفا قي ده کله وی اوکله نه وی مثلاً که دقائل خطاب منځی ته وو هلته زوال دملک متعي شته او که خطا ب غلام ته وو زوال د ملک دمتعي نشته اوزوال دملک رقبي په دوا ړه صو رته کښې شته حاصل داده چې لفظ دتحرير دزوال دملک متعي لپا ره سبب ده او زوال دملک دمتعي ورله مسبب ده اوکله چې سبب ذکر شي مراد مسبب وی دا جائز ده لهذا دلته هم په لفظ دتحرير سره طلاق ايراده کول جائز ده .

وَلَايقالُوجُعِلَ مَجازًا عَنِ الطلاقِ لَوَجَبَ اَن يكُونَ الطلاقُ اَلْوَاقِعُ به رَجَيعا كصريحُ الطَّلاقِ لَاَنَا نَقُولُ لَانَجعَلهُ مَجازًا عَنِ الطَّلاقِ بَل عَنِ المُزِيلِ لِمِلكِ اَلمُتعَةِ وَذالکَ فِي البَائِنِ اِذَا الرَّجعِي لَايَزِيلُ مِلك المتعَةِ عِندنَا .

ترجمه : ځوک دی دانه وائي چې کله له تحرير څخه طلاق مرادشو بايد په ده سره رجعي طلاق واقع شي لکه په طلاق سريح سره ځکه موږدا جواب ورکوؤچې تحريرمجاز له طلاق نه ده بلکه مجاز له هغه شي څخه ده چې هغه ملک متعه زائله وی اودا طلاق بائن ده ځکه زموږپه نزد رجعي طلاق متعه نه زائله وی.

تشريح : په دې عبارت سره ديوسوال جواب کيږي.

سوال داده چې تاسو وويل چې حررتکِ او انت حرٌمجاز له طلاق دی يعنی دوی ذکر وی مراد انت طالق وی نوکله چې دوی دانت طالق څخه مجاز وؤ دوی دانت طالق قائم مقام دی اوهرڅوک چې دغيرت قائم مقام شي هغه لره حکم دغير وی او حال داده چې په غير يعنی انت طالق سره رجعي طلاق واقع کيږی نو بايد په حررتُکِ اوپه انت حرٌ سره هم رجعي واقع شي اوتاسو په طلاق رجعي قائل نه ياست

جواب داده چی حررتک او انت حرٌ مجاز له لفظ د طلاق څخه نه دی بلکه لع هغه شی څخه مجاز دی چی هغه ملک متعه زائله وی اوکوم شی چی ملک متعه زائله وی په هغه سره طلاق بائن واقع کیږی ځکه طلاق رجعی زموږ په نزد ملک متعه نه زائله وی ځکه په طلاق رجعی کښی خاوند رجوع کولای شی نو هرکله چی حررتک او انت حرٌ مجازله مزیل ملک متعه څخه شو لهذا په دوی سره طلاق بائن واقع کیږی.

وَلَوقَالَ لِأَمته طَلَّقْتُکَ وَنَوی بِهِ اَلتَحرِیرُ لَایصِحُ لِاَنَ الاصل جَازَ اَن یثبُتُ بِهِ الفرعُ وَاَمَا الفَرعُ فَلَایجُوزَ اَن یثبُتَ بِه الاصلُ.

ترجمه : اوکه مولی خپلی مینځی ته وویل طلقتک اومرادئي تحریروؤ داصحیح نه ده ځکه دا جائزده چی په اصل سره ثبوت دفرع وشی لیکن په فرع سره اصل نه ثابیتیږی.

تشریح . مصنف رحمه الله وائی که یو سړی خپلی مینځی ته وویل طلقتک اومراد ئی تحریروؤ دانیت نه ده صحیح اومینځه هم نه ده آزاده ځکه چی مخکی داخبره تیره شوه چی تحریر سبب ده اوطلاق مسبب ده د سبب او مسبب په مینځ کښی له یو طرفه استعاره صحیح ده اوله بله طرفه نه ده صحیح هغه داده چی سبب ذکرمراد مسبب وی داصحیح ده اوچی مسبب ذکر وی مراد سبب وی دانه ده جائزلهذا دلته په طلاق سره تحریرمرادول جائزنه ده ځکه طلاق فرع ده اوتحریراصل ده په اصل سره اثبات دفرع کیدای شی اوپه فرع سره اثبات ته اصل نه کیږی.

وَعلی هذانَقُولُ ینعقدُالنکاحُ بِلَفظِ الهِبَة وَالتَملیک وَالبَیعَ لِاَنَ الهبة بحقیقَتهَاتُوجبُ ملک اَلرَقَبة وَملکُ الرَعقبَة یوجبُ ملکَ المُتعَة فِي الاَمَاء فَکَانَت الهبةُ سَبَبًا محضًا لِثُبُوت ملک المتعَة فَجَازَ اَن یستَعَارَ عَن النکَاحَ وَکَذَالکَ لَفظُ اَلتَملیک وَالبَیعَ وَلَاینعَکسَ حتي لَاینعَقدَا البَیعَ وَالهبةُ بِلَفظِ النَکاح ثُمَ فِي کُلِ مَوضِعِ یکُونَ المَحَلُ مُتعینًا لِنَوعِ مِنَ المَجَازِلَایحتَاجُ فیه الي النیة .

ترجمه : اوپردی بناء موږ وایو چی نکاح منعقده کیږی په لفظ دهبی اوبیع اوتملیک سره ځکه لفظ هبه دخپلی معنی حقیقی په اعتبارسره ثبوت دملک رقبی راوالی اوملک رقبه په مینځو کښی ملک متعه ثابیته وی نوداتول ثبوت دملک متعی لپاره سبب محض دی نولفظ هبه دنکاح لپاره په استعاره راوړل جائزده اوهمدارنګه لفظ دتملیک اودبیع اوداسی نه ده جائزچی لفظ دنکاح ذکرشی مرادهبه اویابیع وی اوهرځای چی یو محل دیومجازلپاره معلوم وی هلته دنیت ضرورت نشته.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی ددی اصل چی سبب په استعاره راوړل دمسبب لپاره جائزده پربناء باندی موږ وایو چی نکاح په لفظ دهبی اوتملیک اودبیع منعقده کیدل جائزده لکه یوه ښځه چی د دوؤ شاهدانو په مخکی یو سړی ته ووائي وهبت نفسي لك اوسړی په جواب کښی ورته ووائي ما قبوله

کړی ئي دانکاح جائزده معقده ده اوهمدارنګه که ښځي سړی ته وویل ملکت نفسی لك او سړی په جواب کی ورته ووائی ماته قبوله کړی ئي دانکاح هم منعقده ده وجه ئي داده چی لفظ هبه دخپلی حقیقی معنی په اعتبارسره موهوب له ته دموهوب شی ملک رقبه ثابیتوی اوثبوت دملک رقبی په مینځه کښی ثبوت دملک متعی ده لیکن لفظ هبه نه د ملک متعی لپاره وضع ده او نه دملک متعی وجوداوجوب ورته منسوب ده بلکه لفظ هبه وملک متعی لره مفضی ده یعنی کله کله په لفظ دهبی ملک متعه ثابیت شی لکه په هبه کولودمنیځي کښی اوکله بیانوی لکه په هبه کولودغلام کښي اوداامعنی دسبب ده لهذا لفظ هبه هم دملک متعی لپاره سبب محض ده اوملک متعه ورلره مسبب ده اوداخبره ثابیته ده چی سبب په استعاره راوړل دمسبب لپاره جائزده نودلته هم داجائزه ده چی ذکرهبه وی مراد نکاح وی.اوهمدارنګه لفظ دتملیک اوبیع دنکاح لپاره سبب دی که لفظ تملیک اوبیع ذکرشی مرادنکاح وی داجائزده.

مصنف رحمه الله وائي په هرځای کی چی مجازلره یومحل معلوم وی نوهلته دمجاز داراده کولو لپاره نیت ضروری نه ده مثلاکه یوسړی بیګانی ښځی ته وویل ته ماته ځان په ملک راکړه ښځی په جواب کی ورته وویل ماځان په ملک درکړی ده دانکاح منعقده ده دنیت ضرورت نشته ځکه نیت ددی لپاره وی چی دلفظ ددوؤ معنی وؤ څخه دیوی تعین په وشی اودلته خومجازمتعین ده لهذا دنیت ضرورت نشته مطلب داده چی په حرّه ښځه کښی چونکه ملکیت متعذر ده لهذا دهبه لفظ او تملیک لفظ نکاح مراد ده.

لَايُقَالُ وَلَمَّا كَانَ اِمْكَانُ اَلْحَقِيقَةِ شَرْطًا لِصِحَّةِ اَلْمَجَازِ عِنْدَهُمَا كَيْفَ يُصَارُ اِلَى اَلْمَجَازِ فِي صُوَرَةِ اَلنِّكَاحِ بِلَفْظِ الْهِبَةِ مَعَ اَنَّ تَمْلِيكَ الْحُرَّةِ بِالْبَيْعِ وَالْهِبَةِ مَحَالٌ لِاَنَّا نَقُوْلُ ذٰالِكَ مُمْكِنٌ فِي الْجُمْلَةِ بِاَنْ ارْتَدَّتْ وَلَحِقَتْ بِدَارِالْحَرْبِ ثُمَّ سُبِيَتْ وَصَارَ هٰذَا نَظِيرُ مَسِّ السَّمَاءِ وَاَخْوَاتِه .

ترجمه: داسوال دی ځوک نه کوی چی دصاحبین په نزد دمجاز دصحت لپاره امکان دحقیقت شرط ده نو دلفظ هبه په صورت کی څه رنګه مجازی معنی مراد ه وی سره له دی چی د بیع او هبی په وجه دحری ښځی مالک جوړیدل ممکنه نه ده ځکه موږ جواب داسی ورکوو چی دا فی الجمله ممکن ده په دی طریقه چی داښځه مرتده شی اودا رحرب ته ولاړه شی او بیا په بند را ویستل دا نظیر ده دمسح دا سمان او داسی نورو.

تشریح: مصنف رحمه الله دلته یو سوال اودهغه جواب را نقل کوی

سوال داده چی مخکی دا خبره یا ده شوه چی دصاحبین په نز د مجاز دصحت لپاره امکان دحقیقت شرط ده یعنی په حقیقت سره به عمل کیداشی لیکن دیو مانع له وجه عمل نشی کیدای په داسی صورت کښی مجاز ته رجوع کول جائز ده او که په حقیقت سره هیڅ رنګه عمل نشوای کیدای په دی صورت کښی کلام لغو ه ده لیکن موږ لیدلی دی چی دبیع او هبی په زریعه سره

دحري ما لک جوړيدل محا له ده او سره لدی صاحبین وای چی دبیع اوهبی په صورت کښی مجاز ته تګ کول جائز ده یعنی په بیع اوهبه سره نکاح منعقده کیږی او حال داده چی دصاحبین مزهب داوو چی حقیقت محال وی مجاز ته رجوع نه کیږی بلکه کلام لغوه ده

جواب داده چی دبیع او هبه په زریعه سره دحري ښځی ملکیت فی الجمله ممکن ده په دی طریقه چی حره ښځه مرتده شی اود ار حرب ته ولاړ شی اوبیا یی مسلما نان په بند (قید) را ولی نوپه دی صورت کښی دا د مسلما نانو مملو که شوه اوس دبیع او هیبی په زریعه سره ملک جوړیدا ی شی مطلب دا ده چی په حقیقت سره عمل کول فی الجمله ممکن ده لهذا مجاز ته رجوع کول جائز ده.

مصنف رحمۃاللہعلیہ وائی ددی مثال دا ده چی یو سړی قسم وکړی چی زه به اسمان مسح کوم او یا قسم وکړی چی زه دا ډبره زر(زهب) کوم دا قسم یی منعقد ده او پر حالف یی کفا ره وا جبه ده که څه هم کفا ره خو هلته وا جبیږی چی دقسم پو ره کول ممکن وی او سړی یی پوره نه کړی او په دغودوو صور تو کښی قسم پو ره کول عادۃ محا له ده نو باید کفا ره لازمه نشی لیکن ددی په جواب کښی موږ دا وا یو چی دا دوا ړصورتونه ممکن دی په دی طریقه چی کیدای شی چی دکرا مت په زریعه سره څوک اسما ن مسح کړی نو کله چی دا فی الجمله ممکن وو لهذا دقسم د نه پو ره کولو په صورت کښی کفا ره لا زمه ده.

فصلٌ فی الصّریح والکنا یة

فصلٌ فی الصَّریح والکنا یة الصَّریحُ لَفظٌ یَکُونُ اَلمُرَادُ به ظَاهِرٌ لقو له بعتُ واشتَریتُ وَاَمثَا له وَحُکمُهُ اَنَّهُ یُوجِبُ ثُبُوتَ مَعنا هُ بِاَیِّ طَرِیقٍ کَانَ من اخبَارٍ اَو نَعتٍ اَو نِدَاءٍ وَمِن حُکمهِ اَنَّهُ یَستَغنی عَن نیة

ترجمه: دافصل دصریح اوکنایه په بیا ن کښی ده صریح هغه لفظ ده چی مراد یی ښکا ره وی لکه بعت اواشتریت اوداسی نوراودصریح حکم داده چی دخپلی معنی اثبات کوی که په هره طریقه سره وی خواه که داخبارپه طریقه وی اوکه دنعت په (صفت) سره وی اوکه په طریقه دنداء سره وی اودائی هم حکم ده چی ته نیت ضرورت نه لری.

تشریح: دادویم تقسیم هم څلوره اقسام لری دوه یعنی حقیقت اومجازپه مخکینی فصل کښی ذکرشول اودانوردوه مصنف په دی فصل کښی ذکرکړل ددغودوؤیعنی صریح اوکنایه په یوه فصل کښی دجمع والی وجه داده چی ددوی تسمیه (نوم ښودل) دهریوه په نسبت هغه بل ته ده صریح هغه لفظ ده چی ددمرادښکاره وی په داسی طریقه چی صرف دلفظ په ذکرکولوسره مراد معلومیږی اوحکم ئي داده چی دخپلی معنی ثبوت کوی په هره طریقه سره وی که په طریقه داخباروی اوکه په طریقه دنعت وی اوکه په طریقه دنداء وی دوال مثال لکه طلقتک اودویم مثال

طالقٌ او دریم مثال لکه یاطالق او ادائی هم حکم ده چی نیت ته احتیاج نه لری که سړی دالحمد الله دویلو اراده لری او پرخوله ئي بی اختیاره انت طالق راشی هم طلاق واقع ده.

وَعلي هذا قُلنَا اذاقَالَ لامراته اَنت طَالقٌ اَوطَلقتُک اَوياطَالقُ يقعُ الطَّلَاقُ نَوي به الطَّلَاقَ اَولَم ينوي وَكَذالوقَالَ لعبده اَنت حُرٌّ اَوحَرَرتُکَ اَوياحُرُ وعَلي هذا قُلنَا انَّ التَّيمم مَفيدُ الطَّهَارَة لاَنَّ قَولُه تَعَالي وَلاكن يريدُ لِيطَهِّرَكم صَرِيحٌ في حُصُول الطَّهَارة وَللشَافعِي فيهِ قَولاَنِ اَحدُهُمَا اَنَّهُ طَهارةٌ ضَرورِيةٌ وَلاخَرَ اَنَّهُ لَيسَ بِطَهَارَةٍ بَل هُوَ سَاتِيرٌ للحَدَث.

ترجمه : او بناء پردی موږ وایو که یو سړی خپلی ښځی ته وویل انت طالقٌ او یا ئی وویل یاطالق نو طلاق واقع ده خواه دده نیت طلاق وی او که نه وی او همدارنګه که ئي خپل غلام ته وویل انت حُرٌّ او یا ئی وویل حررتُکَ او یائی وویل یاحُرٌّ نو غلام آزاد ده خواه که دده نیت وی او که نه وی او بناء پردی موږ وایو چی تیمم طهارت (پاکی) فائده کوی ځکه داقول دالله ولکن یرید لیطهرکم صریح ده په دی کښی چی تیمم طهارت فائده کوی او امام شافعی لره په دی کښی دوه قوله دی اول داده چی تیمم طهارت ضروری ده او دویم داده چی طهارت نه ده بلکه بی او دسی (حدث) پټوی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائي کله چی صریح ظاهر المراده وؤ او نیت ته احتیاج نه لری نو که یو سړی خپلی ښځی ته وویل انت طالق او یائی داسی وویل طلقتک او یائي داسی وویل یاطالق نو طلاق واقع ده خواه دده نیت دطلاق وی او که ئي نه وی ځکه داالفاظ دطلاق په معنی کښی صریح دی او صریح خو نیت ته احتیاج نه لری لهذا دغه الفاظ نیت ته احتیاج نه لری او همدارنګه که ئي خپل غلام ته وویل انت حُرٌّ او یائي داوویل حررتک او یائي داوویل یاحُرُّ نو غلام آزاد ده خواه که مولی دغلام دآزادوالی نیت لری او که ئي نه لری.

سوال : که یو سړی خپلی ښځی ته وویل توطلاق باشی په دی الفاظو سره بغیر نیت طلاق نه واقع کیږی او حال داده چی دلته دطلاق صریح لفظ موجود ده.

جواب : ددی سوال جواب داده چی دغه لفظ که څه هم دوضع په حیث ظاهر المراده ده لیکن چونکه دغه لفظ په طلاق کښی نه استعمالیږی په دی وجه ئي معنی مستتره (پټه) ده نو کله چی دده معنی من حیث الاستعمال مستتره ده لهذا داالفظ نیت ته ضرورت لری.

مصنف رحمه الله وائي چی صریح چونکه ظاهر المراد ده داخبار او نعت او نداء په دری سره طریقوئي معنی ثابیتیږی نو له دی وجه موږ وایو چی تیمم طهارت فائده کوی ځکه دالله جل جلاله له دی قوله فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ او وروسته دا قول وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ صریح ده په دی کښی چی تیمم طهارت فائده کوی ځکه دلته لفظ دتطهیر ذکر ده او تهیر دنجاست لری کولو او دطهارت دحاصلو لو لپاره استعمالیږی او له لیطهرکم څخه مراد داده چی

الله ﷻ وائی چی زه تا سو په دغه خاوره سره پاکوم لهذا دا آیت صریح شو په دی کی چی په تیمم سره پاکی حاصلیږی .

سوال : کله چی دا آیت صریح شو په دی کښی چی په تیمم سره پاکی حالیږی نو باید نیت ته احتیاج ونه لری ځکه صریح نیت ته احتیاج نه لری نو باید نیت شرط نه شی د تیمم لپاره لکه دا ودس لپاره چی نیت شرط نه ده اوحال داده چی تا سو په تیمم کښی نیت شرط بولئ . **جواب** : جواب داده چی دلته چی نیت شرط ده هغه د تیمم دحصول لپاره شرط ده لیکن د تیمم له حصوله ورسته دطهارت دحصول لپاره نیت شرط نه ده حاصل دا ده چی دا أیت چی په کوم شی کښی صریح ده په هغه کښی دنیت ضرورت نشته

او دامام شافعی رحمة الله عليه په دی کښی دوه قوله دی اول دا ده چی تیمم طهارت ضروری ده یعنی دضرورت په وجه مشروع شوی ده او دوهم قول ئی داده چی تیمم سا تر حدث ده رافع حدث نه ده یعنی تیمم موقت وخت لپاره حدث پټوی بالکلیه ئی نه ختموی دامام شافعی داول قول دلیل داده چی خاوره دخپل طبیعت په اعتبار ککړونکی ده پاکونکی نه ده لیکن شارع دضرورت په وخت کښی په دی سره طهارت جائز کړی ده اوددوهم قول دلیل ئی داده چی تیمم وهونکی چی کله اوبه ووینی نو مخکینی نجاست ئی بیرته راګرزی او پرده باندی واجبه ده چی په اوبو سره طهارت حاصل کړی او حال داده چی دابو لید ل خو وتل دنجاست نه ده چی ما تونکی داودا سه شی نو که تیمم طهارت مطلقه او رافع حدث وای نو دابو په لید لو سره به حدث نه راګرزیدائی ځکه چی زائل شوی شی نه راګرزی نو دا خبره ثابته شوچی له تیمم سره سره هغه اولنی حدث باقی پاته ده لیکن دضرورت په وجه له حدث سره لمونځ جائز ده .

داحناف دلیل پر دی باندی چی تیمم طهارت مطلقه ده دالله ﷻ ددی قول فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا اطلاق ده یعنی ددی آیت اطلاق دلیل ده پر دی باندی چی په تیمم سره طهارت مطلقه حاصلیږی او دوهم دلیل داقول دنبی کریم ﷺ ده الصعيد الطيب وضوء المسلم ولوالي عشر سنين مالم يجد الماء داحدیث ددی دلیل ده چی تیمم طهارت مطلقه ده دریم دلیل داده چی تیمم داوداسه خلف ده اوخلف لره حکم داصل وی او اصل وضوء طهارت مطلقه ده لهذا خلف هم طهارت مطلقه ده .

او اما شافعی رحمة الله عليه ددی قول چی په ابو لیدلو سره مخکینی حدث راګرزی لهذا تیمم سا تر حدث ده رافع نه ده جواب داده چی مخکینی حدث له دی وجه راګرزی چی دتیمم لپاره شرط داده چی اوبه به نوی نو کله چی اوبه پیدا شوی نو تیمم ختم شو ځکه شرط ئی نشته چی عدم دماء ده لهذا چی تیمم ختم شو نو مخکینی حدث راوګرزیدی .

وَعَلي هٰذا يخرجُ المسَائل علي مذهَبين من جوازِهٖ قبلَ الوَقت وَاَداء الفر ضَين بتَيمم وَاحد وَاما مَةُ المُتَيَمم للمُتوَضئين وجوازه بدُنِ خوفظف تَلف النَفسِ اَوالعضوِ باأ لو ضُوء وجوازه للعيدِ وَالجنا زَة وَجوا زُ ہ بنيةِ الطَهَارَ ت .

ترجمه : او ددی دوو مذهبو دا ختلا ف مطابق دځو مسا ئلو تخر یج کیږی یعنی تر وخت لمخه تیمم کول اودوه فرضه په یوه تیمم کول او دتیمم وهونکی اما مت و اودس کونکو ته او داودس په وجه داندام یا نفس دنه تلف کید و په وخت کښی دتیمم جائز والی او داختر او جنا زی لپا ره دتیمم جواز او دپا کی په نیت سره دتیمم جائز والی.

تشر یح : مصنف رحمه الله وا ئی چی زمو ږ اوداما م شا فعی رحمه الله په منځ کښی دتیمم په با ره کښی ددی اختلا ف چی مونږ وا یو تیمم طهارت مطلقه ده او دی وائی چی طها رت ضروریه ده په وجه دډیرومسا ئلوکښی اختلا ف پیدا کیږی مثلا دلما نځه تر وخت مخکی زمونږ په نزدتیمم جائز ده او دده په نزد جا ئز نه ده مو ږ ئی جائز بولو له دی وجه چی مونږ تیمم داوداسه په شا ن طها رت مطلقه بو لو لکه څرنګه چی اودس تر وخت مخکی جائز ده همدا رنګه تیمم هم تر وخت مخکی جائز ده

او داما م شا فعی رحمه الله په نزد تیمم طهارت ضروری ده اودلما نځه دادکولو ضرورت دلمانځه په وخت کښی وا قع کیږی لهذا نو کله چی ضرورت راغلی هلته تیمم کول جائز ده تر وخت وړاندی تیمم جائز نه ده دوهمه مسئله داده چی زمونږ په نز د په یوه تیمم سره دووۋ فرضو اداکول جائز ده او داما م شافعی په نزد نه ده جائز له دی وجه چی زمونږ په نزد تیمم داودس په شا ن طها رت مطلقه ده نولکه څرنګه چی په یوه اوداسه سره دوه فرضه اداکول جائز ده همدا رنګه په تیمم سره هم جائز ده او داما م شافعی رحمه الله په نزد طها رت ضروری ده کوم شی چی بقدر ضرورت ثابت وی هغه بقدر ضرورت ثابت ده او په یوه فرض سره ضرورت پوره شو لهذا په یوه تیمم سره یو فرض اداکول جائز ده.دوهم جائز نه د

دریمه مسئله داده چی زمونږ په نزد تیمم وهونکی اودس کونکولره امامت ورکو لای شی اودامام شافعی رحمه الله وائی نه ئی شی ورمولای زمونږ په مذهب له دی وجه جا ئز ده چی زمونږ په نزدتیمم کونکی اواودس کونکی مساوی دی لهذا احدالمتساویین امامت واخرته ورکولای شی اداما م شافعی رحمه الله په نزد تیمم طهارت ضروری ده اووضوطهارت مطلقه اواصلیه ده او طهارت اصلیه قوی ده په نسبت وطها رت ضروری ته اودامسلمه خبره ده چی دقوی اقتداء په ضعیف پسی اود ضعیف امامت قوی لره جائز نه ده لکه په اشاره سره لمونځ کونکی پسی دروغ اوسجدی کونکی اقتداء نه ده جائز همدارنګه داودس کونکی اقتداء نه ده جائز په تیمم وهونکی پسی څلورمه مسئله داده چی دمریض چی په اودس کولو سره ئی نفس اویا اندام نه تلف کیږی. داما م شافعی

په نزد دی ته تیمم جائز نه ده هوکه ئی اندام یانفس تلف کیدی بیا جائز ده . او زموږ په نزد که استعما ل دابوده لره نقصان وو دلره تیمم جائزده خواکه ئی اندام یا نفس تلف کیږی اوکه نه.
پنځمه مسئله داده چی که په اودس کولو سره داختر اوجنازی لمونځ تیریدی نو تیمم وهل جائز ده اودامام شافعی رحمه الله په نز دنه ده جا ئز دامام شافعی رحمه الله په نزد له دی وجه نه ده جائزچی دده په نزد ددی دواړو قضا راوړل کیداشی نو چی قضا ءراوړل کیداشی ضرورت متحقق نه شو اودی تیمم ته طهارت ضروری وائی لهذا چونکه دلته ضرورت نشته نوتیمم وهل جائز نه ده اوزموږ په نزد چونکه داختر اوجنازی قضاءنشته لهذا دفوت کیدو لو په وخت کی تیمم کول جائز ده شپږمه مسئله داده چی که د تیمم په وخت کښی دطها رت نیت وکړی دا جائز ده اودامام شافعی رحمه الله په نزد نه ده جائز بلکه دامام شافعی رحمه الله په نزد دفرض لما نځه داداکولو لپاره تیمم شرط ده ځکه دی تیمم طهارت ضروری بولی اوضرورت صرف دفرض لمانځه دادا کولو په وخت کښی شته په بل وخت کښی نشته اوزموږ په نزد چونکه تیمم طهارت مطلقه ده لکه وضوء چی طهارت مطلقه ده لهذا دطهارت په نیت سره تیمم کول جائز ده خواه که دفرض لما نځه داداکولو ضرورت وی اوکه نه وی۔

وَالكنَا يَةُ هِي ما استَتَرَ مَعنَا ه وَالمَجَا زُ قَبلَ اَن يصيرَ متَعَا رفًا بِمَنزلَه الكنَا يَة وَحُكمُ الكنَا يَة ثُبُوتُ الحُكم بِهَا عِندَ وُجُو د النية اَوبدَلَا لَة الحالِ از لاَ بُدَّ لَهُ من دَلَيل يزُولَ بِه التَرَ دُّ دَ وَيتَرجَّحَ بِه بَعضَ الوُ جُوه وبهذا المَعنيَ سُمِّيَ لَفظُ البَيْنُونَة وَالتَّحرِ يم كنَا يَةً في بَابِ الطَّلَاَ قِ لَمَعنَي التر دُّد واستِتَارِ المُرادِ الَا اَنَّهُ يعمَلَ عَمَلُ الطَّلَاق .

تر جمه : او کنایه هغه ده چی دده معنی پوشیده وی او مجاز مخکی تر دی چی متعارف ګرزی په مرتبه دکنایه کښی ده اود کنایه حکم داده چی ثبوت دحکم کوی په وخت دوجود دنیت کښی او یا په وخت ددلالت حال کښی ځکه دکنایه لپاره ددلیل ضرورت شته چی دهغه په زریعه تردد زائل شی او دهغه په زریعه یوی معنی ته تر جیح ورکړشی او ددی تر دد او استتارمراد په وجه سره لفظ بینونة او تحریم ته کنا یه ویل کیږی په با ب دطلا ق کښی داسی نه چی عمل هم دطلا ق کوی.

تشریح : مصنف رحمه الله دکنایه تعریف کوی چی کنایه هغه لفظ دی چی مرا دئی پو شیده (پټ) وی مصنف رحمه الله وائی چی مجاز تر څو چی متعارف نه وی ګرزیدلی په حکم دکنایه کښی د ه ځکه په ده کښی تردد ده دمعنی حقیقی احتمال هم لری اومعنی مجازی احتمال هم لری نوددی تردد په وجه ترمتعارف کیدومخکی په مرتبه کنایه کښی ده اودکنایه حکم داده چی په کنایه سره هغه وخت حکم ثابیتږی چی متکلم دیوی معنی نیت وکړی اویادده له نیته بغیر بله قرینه دیوی معنی پر مرادوالی موجوده شی یعنی سامع ته دامعلومه شی چی دمتکلم مراد داشی ده مثلا یامتکلم داسی ووائي نويت به كذا اوردت به كذا اویا په دلالت حال یا بله قرینه سره دامعلومه شی چی دمتکلم

مراد فلان شی ده مثلا دخاوندا وښځی په مینځ کښی مذاکره دطلاق وه اوپه دی دوران کښی خاوند دطلاق یوکنایه لفظ استعمال کړی مثلا انت بائن ئی وویل نوښځه پرطلاقه ده که څه هم خاوند داووائی چی زما اراده دطلاق نه وه اونیت له دی وجه ضروری ده چی په کنایه کښی تردد ده دډیرومعنی احتمال لری لهذا ددی تردد دزائل کولولپاره دداسی دلیل ضرورت شته چی یوی معنی ته ترجیح ورکړی اودا دلیل چونکه نیت اوقرینه ده لهذا په کنایه کښی دنیت اوقرینی ضرورت شته.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی لفظ بینونۃ اوتحریم چونکه دډیرومعناؤ احتمال درلودی او ددوی په معنی کښی تردد وو نوددوی معنی هم پوشیده ده له دی وجه څخه دوی ته باب دطلاق کښی کنایه وویل شول اودا الفاظو دخومعنی احتمال په دی طریقه ده که یوسړی خپلی ښځی ته ووائی انت بائنٌ ددی یو معنی داکیدای شی چی ته زماله نکاح څخه بائنه (جلا) ئی یعنی ته مطلقه ئی اوداهم احتمال لری چی ته له معصیت څخه بائنه ئی یعنی له تاڅخه معاصی نه صادریږی اوداهم احتمال لری چی ته له نیکوکارو څخه بائنه ئی اوداهم احتمال لری چی ته په شرافت او حسن کښی بائنه ئی یعنی په خپلوانخولو کښی ته ښکلی یی یعنی ستارنګه شرافت اوحسن اوتقوی په نوروکی نشته اولفظ دتحریم دمعناؤ احتمال داده چی که یوسړی خپلی ښځی ته وویل چی انت حرامٌ یو احتمال دالری چی ته پرما حرامه ئي یعنی طلاقه ئي اودا احتمال هم لری چی ته له مانه بغیر پرنورو حرامه ئي اوداحتمال هم لری چی ته له معاصی وؤ څخه بنده ئي اویا له نیکوکارونو څخه بنده ئی اویادموراوپلارله کوره بنده ئي وغیره. حاصل دکلام داده کله چی په انت بائنٌ اوانت حرامٌ کښی دډیرومعانی ؤو احتمال وو نوددوی مراد یقینی پوشیده ده ددی پوشیده والی په وجه دوی ته په باب دطلاق کښی کنایه وویل شول اوداخبره یادلره چی دی الفاظو ته داستتارمراد په وجه کنایه ویل کیږی حقیقتاً کنایه نه دی ځکه داالفاظ بذاتها په خپله وضعی معنی کښی ظاهرالمراد دی مثلا بائن بینونت څخه ماخذده په معنی دجداوالی سره ده په دی کښی هیڅ خفاء نشته اوحرام له حرمت څخه ماخذ ده په معنی دحراموالی سره ده لیکن ددی نه وروسته چی کوم احتمالات پیداشوه چی بعض له هغوی څخه دباب الطلاق په وجه دی لهذا دوی ته کنایه وویل شو .لانه یعمل عمل الطلاق په دی عبارت سره دیوسوال دفع کیږی.

سوال : کله چی داالفاظ له طلاق څخه کنایه وو نوبایددا الفاظ عمل دطلاق ؤکړی یعنی نکه څرنګه چی په لفظ طلاق سره طلاق رجعی واقع کیږی په دوی سره هم باید رجعی طلاق واقع شی لکه امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ چی وائی اوحال داده چی تاسوپه دی الفاظوسره بائن طلاق واقع کوی.

جواب : داده چی ددی الفاظو حقیقی معنی بیونۃ اوحرمت ده اوالفاظ په خپله حقیقی معنی سره عمل کوی اوددوی دحقیقی معنی جداوالی اوحرام والی وجود دطلاق بائن په صورت کښی ده

ځکه په طلاق رجعي کې جدا والی او حراموالی زموږ په نزد نشته لهذا په دې الفاظو سره بائن طلاق واقع کیږي او په دې الفاظو سره رجعي طلاق هغه وخت واقع کیږي چې دوی د طلاق په معنی سره شي لیکن موږ دا نه وایو چې دا الفاظ د طلاق په معنی سره دي او نه د دې ویلو څه ضرورت شته موږ دې الفاظو ته کنایه صرف په دې وجه وویل چې د دوی مراد مستتر ده.

وَيتفرّ عَ منهُ حُكم الكنايات في حقّ عَدم ولَا ية الرّجعَة ولوُجُود معنَي التّردُّ د في الكناية لاَ يقام بهَا العقُوبَاتُ حتّي لو اَقرَّ علي نَفسه في بَا ب الزّنَا والسّرقة لاَ يقَامُ عَلَيه الحَدُ مَالَم يز كَرِ اللّفظُ الصّريحُ ولهذا المَعني لا يقَامُ عَلَيه الحَد عَلي الاَ خرسَ بالا شَارة ولَو قَذفَ رَجلاً بِالزّ نَا فقَالَ الاَ خرُ صَد قتَ لاَ يجبُ اَلحَدُ عَلَيه لاحتمَال اَلتصديق لهُ في غَيره .

ترجمه: او پر دې باندې تفریع کیږي حکم د کنایه په حق د نه ولا یت د رجوع کښې او چونکه په کنایه کښې تردد شته لهذا په کنایه سره حد نه قا ئمیږي حتی که سړی پر خپل ځان باندې اقرار په غلاء او په زنا سره وکړ پر دغه سړی حد نه قائمیږي او که یو سړي تهمت د زنا ووایو پر بل باندې او هغه ئې تصدیق وکړ پر دغه با ندې حد نه ده واجب ځکه کیدا شي چې ده دې له تهمته بغیر په بل شي کې تصدیق کړی وي.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی کله چې زموږ په مخکینې بیان سره خبره ثابته شوه چې د طلاق په کنایه الفاظو سره بائن طلا ق واقع کیږي او نکاح ختمیږي نو پر دې باندې دا خبره هم تفریع کیږي چې که خاوند خپلې ښځې ته په انت بائنٌ او انت حرامٌ سره طلاق ورکړي حق د رجوع نه لر ی ځکه د رجوع حق د طلا ق رجعي په صورت کښې لري د با ئن په صورت کښې حق د رجوع نه لر ی او د امام شا فعي رح په نزد چونکه په دې الفاظو سره طلاق رجعي واقع کیږي لهذا دې وائي چې خاوند حق د رجوع لري.

مصنف رحمه الله وائي چونکه په کنایه کښې تردد ده او معنی ئې پوشیده ده نو که یو سړی په کنایه الفاظو سره په داسې شي اقرا رو کړي چې هغه د حد موجب او سبب وي پر دغه اقر ار کونکي باندې حد نه جاري کیږي تر هغه وخته چې په صریح لفظ سره اقرار کوی ځکه چې حدود او کنایات په شبه سره سا قطیږي او په کنا یه الفاظو کښې څه نا څه شبه شته لهذا که په کنا یه الفاظو سر ه اقرار وکړي په داسې شي سر ه چې سبب او موجب د حدوی حد نه پر جاري کیږي مثلاً یو سړی ووائي لاجامعت فلانة جماعًا حرامًا پر دې سړي با ندې حد د زنا نه جاري کیږي ځکه دا که د زنا احتمال لري لیکن د دې احتمال هم لري چې له خپلې ښځې سره دې په حالت د حیض کښې جماع کړې وي او دا احتمال هم لري چې په شبه سره دې وطی کړې وي دا جماع هم حرامه ده او په حالت د حیض کښې جماع هم حرامه ده حاصل دا ده چې دا کلا م چونکه صریح په زنا کښې نه ده لهذا په دې سره حد د زنا نه جاري کیږي او که ئې داسې وویل زینتُ فلانیةً بیا د زنا حد ور با ندې جاري کیږي ځکه د الفظ صریح ده په

زنا کښې مصنف رحمه الله وائی که ګونګی سړی په اشاره سره دزنا اقرار وکړی حد دزنا نه وربانــدی جاري کیږی ځکه په اشاره کښې هم مراد پوشیده دہ او ترددپکښې ده لهذا داهم په مرتبه دکنایه کښې ده لکه څرنګه چې په کنایه الفاظو سره حد نه جاري کیږی همدارنګه په اشاره سره هم حد نه جاري کیږی مصنف رحمه الله وائی که یو سړی بل سړی په زنا سره متهم کړ دریم سړی وقاذف ته وویل صدقت (رښتیا وائی)نو پر دغه دریم سړی باندی حد قذف نه جاري کیږی ځکه کیدای شی چې ده دی له تهمت نه بغیر په بل شی کښې تصدیق کړی وی او دا احتمال هم لری چې ددغه تهمت تصدیق دی کړی وی نو کله چې دا دواړه احتمال وو نو دالفظ صریح نه ده لهذا پر دریم سړی باندی حد قذف نه جاري کیږی ،

فَصلٌ فِي المُتَقَا بِلَاتِ نُعنِي بِهَا الظَا هِروَالنَّصَّ وَالمُفَسَّرَ وَالمُحكَمَ مَعَ مَا يقَا بِلهَا مِنَ الخَفِي وَالمشكِلِ وَالمجمَلَ وَالمُتَشَا بِه .

ترجمه: دافصل په بیان دمتقابلات کښې ده په متقابلات سره زمونږ مراد ظاهر نص مفسر محکم او ددوی مقابل خفی مشکل مجمل متشابه دی .

تشریح : په دی فصل کښې مصنف رحمه الله دلفظ ددریم قسم بیان کوی چې هغه په اعتبار دظهور دمعنی سره ده دی قسم لره هم څلور اقسام دی ظاهر نص مفسر محکم دلیل دحصر ئی داده چې که دلفظ معنی ظاهره وه بیا به له دوو حالتوخالی نه وی یا به دامعنی دتاویل او تخصیص احتمال لری او یا به ئی نه لری که ئی دتاویل او تخصیص احتمال لری دابه هم له دوو حالتو خالی نه وی یا به ظهور دمعنی په اعتبار دصیغی وی او یا به صرف په صیغه سره نه وی بلکه دالفظ به دد ی معنی دبیان لپاره راوړل شوی وی که ظهور دمعنی صرف په صیغه سره وو داظاهر ده او که صرف په صیغه سره نه ؤو بلکه دغه لفظ ددغی معنی دبیان لپاره راوړل شوی وو دا نص ده او که معنی دتاویل او تخصیص احتمال لری دابه هم له دو حالو خالی نه وی یا به دا دنسخه کیدو صلاحیت لری او یا به ئی نه لری که اول صورت وو مفسر ده او که دوهم صورت وو محکم ده اوعدم قبول دنسخی کله له دی وجه وی چې عقلاً په دی کښي دتبدیل احتمال نه وی لکه هغه آیاتونه چې پروجود الله ﷻ اوپرتوحید الله ﷻ اوپر صفاتو دالله ﷻ باندی دلالت کوی اوکله بیا دنبی کریم ﷺ دوفات اوقطع کیدلودوحی په وجه نسخه نه قبلوی اول قسم ته محکم لعینه ویل کیږی اودوهم ته محکم لغیره ویل کیږی. اودا خبره هم یاد ساته چې ددی څلورو په مینځ کښې تبائن حقیقی نه ده بلکه اعتباری ده اوداول اودوهم قسم داقسامو په مینځ کښې تبائن حقیقی ده اوددی تقسم داقسامو یعنی دظاهر ، اونص ، اومفسر او محکم په مینځ کښې تبائن اعتباری ده په داسی طریقه چې ظاهر هغه کلام ده چې راوړل ئی ددغی معنی لپاره نه وی اونص هغه کلام ده چې راوړل ئی ددغی معنی لپاره وی اومفسر هغه کلام دی چې نسخه قبلوی اومحکم هغه کلام ده چې نسخه نه

قبلوی او حقیقی تبائن ددوی په مینځ کښی له دی وجه نشته چی محکم په ظهو کی قوی ده تر مفسر اومفسر ترنص قوی ده اونص ترظاهر قوی ده اوظاهر په نص کی موجود ده اونص په مفسرکی موجود ده اومفسرپه محکم کی موجود ده نوکله چی دوه اقسام په یوځای کی موجود شی ددوی په مینځ کښی تبائن نشته.اوکله چی داول اودوهم تقسم داقسامو په مینځ تبائن حقیقی وو نوځکه ئی ددوی مقابل اقسام ذکر نه کړل او ددی تقسم داقسامومقابل اقسام ئی ذکر کړل هغه دادی چی مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی دا فصل په بیان دمتقابلاتو کښی ده چی ظاهر اونص اومفسر او محکم ده اوپه مقابل اقسامو کښی ده چی خفی اومشکل اومجمل اومتشابه دی په دی څلورو دحصر دلیل داده چی که دلفظ معنی خفی وه ددی دوه صورته دی یابه ئی خفا دنفس صیغی په وجه وی او یابه دبل عارض په وجه وی که دعارض په وجه وه دی ته خفی ویل کیږی اوکه دنفس صیغی په وجه وه ددی هم دوه صورته دی اول داده چی په سیاق اوسباق کښي په فکر کولو سره به یا دادراک امکان وی اویا به نه وی که ئی ادراک ممکن وو نومشکل ده اوکه ئی ادراک ممکن نه وو ددی هم دوه صورته دی یابه دمتکلم له جانبه دوضاحت امید وی او یابه نه وی که اول صورت وو نومجمل ده اوکه دوهم صورت وو متشابه ده.

اوداڅلوراقسام هم دخفاء په اعتبار سره یوتربل قوی دی یعنی متشابه په خفاء کښی تر مجمل قوی ده اومجمل تر مشکل قوی ده اومشکل تر خفی قوی ده خفی په مشکل کی موجود ده اومشکل په مجمل کی موجود ده اومجمل په متشابه کی موجود ده.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ دمتقابلات لفظ ذکرکی مراد ئي متضادات ده ځکه داهل اصول په نزد تقابل اوتضادیو شی دی یعنی په یوه وخت په یوځای کی اوله یوه جهته د دوو شیانونه جمع کیدوته تقابل هم وائي اوتضادهم ورته وائی.

فَالظَّاهِرُ اسمٌ لِكُلِّ كَلامٍ ظَهَرَ اَلْمُرادُ بِه لِلسَّامِعِ بِنَفْسِ السَّماعِ مِن غَيرِ تَأَمُّلٍ وَالنَّصُّ مَاسِيقَ الْكَلامُ لِاَجلِه وَمِثَالُهُ فِي قَولِه تَعالي اَحَلَّ اللهُ البَيعَ وَحَرَّمَ الرِّبوا فَالاٰيَةُ سِيقَت لِبَيانِ اَلتَّفرِقَةِ بَينَ اَلبيعِ وَالرِّبو رَدّاً لِمَاادَّعاهُ الكُفَّارُ مِنَ التسويةِ بَينَهُما حَيثُ قَالُو اِنَّما اَلبَيعُ مِثلُ الرِّبوا وَقَدعُلِمَ حِلُّ البَيعِ وحُرمَةُ الرِّبوا بِنَفسِ السَّماعِ فَصارَ ذَالِكَ نَصّاً فِي التَّفرِقَةِ ظَاهِراً فِي حِلِّ البَيعَ وَحُرمَةِ الرِّبوا -

ترجمه ظاهر دهغه کلام نوم چی دهغه مراد اوریدونکی ته بغیر فکره معلومیږی اونص هغه ده چی دده له وجه کلام راوړل شوی وی اوددی مثال داقول دالله ﷻ ده احل الله البیع وحرم الربوا داآیة دبیع اوربوا دفرق لپاره راوړل شوی ده او دکفارودهغی دعوی دردلپاره چی دوی وائی چی دبیع اوربوا فرق نشته لکه دوی چی وائی انما البیع مثل الربوا داآیة دبیع اوربوا دفرق لپاره راوړل شوی ده اورد ده دکفارو دهغی دعوی چی دوی وائی چی بیع اوربوا فرق نشته لکه دوی چی وائی انما البیع مثل الربوا اودبیع حلال والی اودربوا حراموالی صرف ددی آیت په اوریدلو سره معلومیږی

نودایت دربوا اوبیع دفرق لپاره نص ده اودبیع دحلاوالی اودربوادحراموالی په سلسله کښی ظاهره ده.

تشریح : په عبارت کښی مصنف رحمة الله علیه د ظاهرالنص تعریف بیانوی داسی وائی چی ظاهر هغه کلام ته ویل کیږی چی دهغه مراد اوریدونکی ته صرف دکلام په اریدولو سره معلومیږی.
اوریدونکی ته دغور اوفکر ضرورت نه پیداکیږی په دی شرط چی اوریدونکی به ددغی ژبی اهل وی .اومن غیرتامل قید دنفس صیغه دلفظ لپاره بیان ده ددی په ذریعه سره له خفی اومشکل څخه احتراز راغی ځکه د دوی د دواړو مراد له غور اوفکره بعد معلومیږی .اونص هغه ده چی دده له وجه کلام راوړل شوی وی یعنی دکلام دذکره چی کوم شی مقصود وی هغه ته نص ویل کیږی د دوی دوو فرق له دی مثال معلومیږی یوڅوک ووائی رأیت خالداحین جاءنی القوم په دی قول سره چونکه مقصود بیان دلیدلو دخالد ده نوداکلام دخالد دلیدلو په سلسله کښی نص ده اودقوم راتګ چونکه له دی قوله مقصونه ده لهذا داقول دقوم دراتګ په سلسله کښی ظاهر ده اوکه داسی ووائی جاءنی القوم حین رأیت خالدا نوبیاداقول دقوم دراتګ په سلسه کښی نص ده اودخالد دلیدلو په سلسله کښی ظاهره ده.

مصنف رحمة الله علیه دظاهراونص ددواړولپاره مثال دا آیت ذکر کی احل الله البیع وحرم الربوا ددی آیت مقصود دبیع اوربا فرق ده چی بیع حلاله ده اوربوا حرامه ده اودی فرق ته له دی وجه ضرورت پیداشوچی کفارو دبیع اوربوا ترمینځ فرق نه کاوو داسی ئی ویل انما البیع مثل الربوا یعنی دزیادت اوفضل په حاصلولو کښی دواړه یودی یعنی لکه څرنګه چی له بیع څخه مقصود زیادت ده همدارنګه له ربوا څخه مقصودزیادت ده لهذا دواړه په حلاوالی کښی برابر دی نو دکفارو ددی دعوی د رد لپاره الله تعالی جل جلاله وویل چی داسی نه ده لکه تاسو چی وایاست بلکه ددوی دوؤ په مینځ کښی فرق شته چی بیع حلاله ده اوربواحرامه ده نوداآیت دبیع اوربوا دفرق په سلسله کښی نص ده اودبیع دحلال والی اودربوا دحراموالی په سلسله کی ظاهرده.

وَكَذٰالِكَ قَوْلُهٗ تَعَالٰي فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰي وَثُلٰثَ وَرُبَاعَ سِيْقَ الْكَلَامُ لِبَيَانِ الْعَدَدِ وَقَدْ عُلِمَ الْاِطْلَاقُ وَلَاجَازَةُ بِنَفْسِ السَّمَاعِ فَصَارَ ذَالِكَ ظَاهِرًا فِي حَقِّ الْاِطْلَاقِ نَصًّا فِي بَيَانِ الْعَدَدِ وَكَذٰالِكَ قَوْلُهٗ تَعَالٰي لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَالَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْتَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً نَصٌّ فِي حُكْمِ مَنْ لَمْ يُسَمِّ لَهَا الْمَهْرَ وَظَاهِرٌ فِي اسْتِبْدَادِالزَّوْجِ بِالطَّلَاقِ وَاِشَارَةٌ اِلَي اَنَّ النِّكَاحَ بِدُوْنِ ذِكْرِ الْمَهْرِ يَصِحُّ وَكَذَا لِكَ قَوْلُهٗ عَلَيْهِ السَّلَامُ مَنْ مَلَكَ ذَارَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ عَتَقَ عَلَيْهِ نَصٌّ فِي اِسْتِحْقَاقِ الْعِتْقِ لِلْقَرِيْبِ وَظَاهِرٌ فِي ثُبُوْتِ الْمِلْكِ لَهٗ .

ترجمه: او همدارنګه د الله تعالی ﷻ قول ده تاسو نکاح کوی له هغه ښځو سره چې تاسو ته خوند درکوی دوی دوی او دری دری او څلور څلور داکلام دبیان دعدد لپاره راوړل شوی ده له صرف اوریدلو څخه ئی دنکاح اجازت اواباحت معلومیږی نودا آیت دنکاح داجازت په سلسله کښې ظاهر ده اوپه بیان دعدد کښی نص ده او همدارنګه دا قول پرتاسو باندی هیڅ سختی نشته که تاسو هغو ښځوته طلاق ورکړی چې تاسو له هغو سره جماع نه وی کړی او ددوی لپاره مو مهرنه وی معلوم کړی دا آیت نص ده په حکم دهغی ښځی کښی چې دهغی لپاره مهر معلوم نه وی اودخاوند دطلاق دورکولو استقلال په سلسله کښی ظاهره ده او اشاره ودی ته چې بغیر له ذکره دمهر نکاح صحیح ده او همدارنګه دنبی کریم ﷺ قول کوم سړی چې دخپل قریب محرم مالک شی هغه پرده آزاد ده داکلام دقریب دآزادی داستحقاق په سلسله کښی نص ده اودملک دثبوت په سلسله کښی ظاهر ده.

تشریح: مصنف رحمة الله عليه د ظاهر او نص دوهم مثال بیانوی چې دا قول دالله ﷻ فانکحوا ما طاب لکم من النساء مثنی وثلث ورباع دبیاد عدد لپاره راوړل شوی ده یعنی په دی آیت کښی دالله تعالی ﷻ مقصد داده چې دیو سړی لپاره څلور ښځی حلالی دی لهذا داآیت په بیان دعدد کښی نص ده او ددی آیت صرف په اوریدو سره اوریدونکی ته دنکاح اباحت او جواز معلومیږی دغور او فکر کولو ضرورت نشته نودا آیت دنکاح دحلالوالی په سلسله کښی ظاهر ده او دریم مثال دا قول دالله ﷻ ذکر کوی لاجناح علیکم ان طلقتم النساء مالم تمسوهن او تفرضوا لهن فريضة ددی کلا دراوړلو مقصد داده چې له کومی ښځی سره چې نه جماع شوی وی اونه مهر ورله معلوم شوی وی که ئی طلاقه کړی پرتاسو باندی نه ددی نفقه شته اون مهر مثل واجب اونه نصف مهر واجب ده بلکه صرف متعه واجب ده نوکله چې ددی آیت دراوړلو مقصددا وؤ نوپه دی سلسله کښی چې دکلام مراد صرف په اوریدو سره معلومیږی غوراوفکر ته ضرورت نه لری یعنی دامعلومیږی چې خاوند په طلاق ورکولو کښی مستقل ده دښځی رضاء ته احتیاج لری په دی سلسله کښی ظاهر د مصنف رحمة الله عليه وائي چې په دی آیت سره دی ته هم اشاره ده چې نکاح بغیر دمهر دذکر لو صحیح ده څکه په دی آیت کښی هغه ښځي چې ددوی لپاره مهر نه وی ذکر شوی محل دطلاق وبللی نومعلومه شوه چې نکاح صحیح ده څکه که نکاح صحیح نه وای بیا ښځه محل دطلاق نه ده بلکه بیګانه ښځه ده .څلورم مثال مصنف رحمة الله عليه دا قول دنبی کریم ﷺ ذکر کوی من ملك ذارحم محرم منه عتق عليه داکلام ددی مقصد لپاره راوړل شوی ده که یو سړی دخپل ذارحم مرحم مالک شو پرده باندی آزاد ده خواه که ده دآزادوالی اراده کړی وی اوکه ئی نه وی کړی نوکله چې دارنګه شو نودا آیت په دی سلسله کښی نص ده اوله دی حدیث څخه بغیر فکره دامعلومیږی چې اخستونکی لره ملک ثابت ده څکه حدیث د لاعتق فيما لم يملكه ابن آدم پردی

دلالت کوی چی غیر مملوک نه آزادیږی نوځکه چی داخبره بغیره فکره معلومیده نوداحدیث داخستونکی دثبوت دملک په سلسله کښی ظاهر ده ،

وَحُكْمُ الظَّاهِرِوَالنَّصِّ وُجُوبُ الْعَمَلِ بِهِمَا عَامَّيْنِ كَانَا اوخاصَّيْنِ مَعَ احْتِمَالِ ارادَةِ الغَيرِ وَذَالِكَ بِمَنْزِلَةِ الْمَجَازِ مَعَ الْحَقِيقَةِ وَعَلَى هٰذَا قُلْنَا اذَا اشْتَرى قَرِيبَهُ عُتِقَ عَلَيه يَكُونَ هُوَ مُعتِقاً وَيَكُونَ الوَلاءُ لَهُ .

ترجمه: اوحکم دخاص اوظاهر داده چی په دواړوسره عمل کول واجب ده خواه که دوی عام وی اوکه خاص وی سره له احتماله دغیر داپه منزله دمجازده له حقیقت سره اوبناء پردی باندی موږ وایوکه یو سړی خپل قریب واخستی اوپرده آزاد شو دی معتق ده اوولاء ئی دده .

تشریح : مصنف رحمه الله دظاهر اونص حکم داسی بیانوی چی ددوی حکم دادی چی په داوړوسره عمل کول واجب ده خواه که دوی عام وی اوکه خاص وی سره له احتماله دغیر یعنی لکه څرنگه چی حقیقت دمجاز احتمال لری همدارنگه ظاهراونص هم دتخصیص اوتاویل احتمال لری په ظاهر اونص کښی دوه مذهبه دی یومذهب دشیخ ابومنصور ماتر دی او اصحاب حدیث اوبعض معتزله وو ده دوی وائی چی دظاهر اونص حکم دادی چی دکومی معنی لپاره وضع شو په هغه باندی عمل کول واجب دی په طریقه دظن نه په طریقه دقطعیت یعنی دوی افاده دظن کوی یقین نه فائده دوهم مذهب دامام کرخی اوابوبکر جصاص اوقاضی ابوزید او عام معتزله وو ده داحضرات وائی چی په ظاهر دکتاب الله اوپه سنت متواترکښی چی کوم یوظاهروی پردوی باندی علم اوعمل دواړه په طریقه دیقین سره واجب ده. ددی اختلاف بناء پردی باندی ده چی ظاهر اونص مجاز هم کیدای شی اوحقیقت هم کیدای شی اوهر حقیقت دمجاز احتمال لری اوهر عام دخاص احتمال لری اوچونکه شیخ ابومنصور ما تردی اودده ملگرو دااحتمال معتبرکړی وو لهذا دوی وائی چی په ظاهر اونص سره عمل کول واجب ده په طریقه دظن سره او مصنف رحمه الله هم دی مذهب ته اشاره کوی ځکه دی وائی چی دظاهر اونص حکم داده چی په دوی سره عمل کول واجب ده سره له دی چی احتمال دغیر هم لری یعنی هریو ددوهم شی مثلاً مجازاحتمال لره .

اوامام کرخی وغیره چونکه دااحتمال نه معتبر وی لهذا دوی وائی چی په دواړوسره عمل په طریقه دیقین سره واجب ده مصنف رحمه الله وائی کله چی دظاهر په موجوب عمل کول واجب وو نوموږ وایو چی که یوسړی خپل نسبی قریب واخیستی هغه پرده آزاد ده اواخیستونکی ددغه قریب لپاره آزادکونکی بلل کیږی اوددغه قریب ولاء دده ده ځکه داحدیث من ملك ذارحم محرم منه عتق عليه ظاهراً پردی باندی دلالت کوی چی پرنسبی قریب باندی ملک راتلای شی او دده مالک دده په آزادیدلو معتیق بلل کیږی خواه که دده دآزادیدو اراده کړی وی اوکه ئی نه وی کړی اودآزادکړ شوی ولاء (میراث) چونکه دآزادکونکی وی لهذا دده ولاء هم دده دآزادکونکی ده .

دلته ددې اختلاف ذکرکول هم ضروری ده چې دولاء سبب څه شی ده په دې باره کښې دبعض خیال داده چې که دمالک پرملک عتق ثابت شي نودمالک لپاره ولاء ثابته ده خواه که ده په اراده سره آزادکړی وی اوکه بغیر اراده حاصل دکلام داده چې ددوی په نزد سبب دولاء عتق ده اعتاق نه ده اودلیل ئی داده چې سړی دخپل نسبي قریب وارث شي نودانسبي قریب دده پرملک باندې آزادده اودده ولاء دوارث ده که څه هم دمالک له طرفه اعتاق نه ده راغلی یعنی دمالک له طرفه په داسې ویلو اعتقت سره اعتاق نه ده راغلی اودبعض خلکو خیال داده چې دولاء سبب اعتاق ده دلیل ئی داده چې نبي کریم ﷺ وائی الولاء لمن اعتق ولاء ده هغه چاده چې ده آزادکړی وی.

داول قول دتائیدلپاره موږوایو چې فقهاء ولاء وعتق ته مضاف کړی ده یعنی ولاء عتاقه ئی وائی ولاء اعتاق ئی نه وائي اواضافت دلیل دسببیت ده یعنی کله چې ولاء وعتق ته مضاف شو نوداخبره ثابته شوه چې دولاء سبب عتق ده اعتاق نه ده جمیل احمد غفرله ولوالديه.

وَاِنَّمَا يَظْهَرُ التَّفَاوُتُ بَيْنَهُمَا عِندَالمُقَابَلَةِ وَلِهٰذَا لَوْقَالَ لَهَاطَلِّقِي نَفْسَکِ فَقَالَتْ اَبَنْتُ نَفْسِي يَقَعُ الطَّلَاقُ رَجَعِيا لِاَنَّ هٰذَا نَصٌّ فِي الطَّلَاقِ ظَاهِرٌ فِي الْبَيْنُونَةِ فَيَتَرَجَّحُ العَمَلُ .

ترجمه: دظاهراونص تفاوت دمعارضې په وخت کښې معلومیږی اوهمداوجه ده چې که یوسړی خپلې ښځې ته وویل طلقي نفسک ته خپل ځان طلاق کړه اودې وویل ابنت نفسي ماخپل ځان جلاکړی نوطلاق رجعي په واقع کیږی ځکه دښځې داقول ابنت نفسي نص ده په طلاق کښې اوظاهرده په بینونة کښې نونص باندې عمل کول راجح ده.

تشریح . وړاندې داخبره یاده شوه چې ظاهر ادنی (کم) ده ترنص اونص تر مفسر ادنی ده اومفسر ترمحکم ادنی ده اوتعارض په وخت کښې په اعلی سره عمل کول کیږی په ادنی سره نه کول کیږی له لهذا دتعرض په وخت کښې ددې تفاوت ښکاره کړی که دظاهر اونص تعارض وو په نص عمل کول کیږی اوکه دنص اومفسر تعارض وؤ په مفسر عمل کول کیږی اوکه د مفسر اومحکم تعارض وو په محکم عمل کول کیږی.

اوداخبره یادلره چې دلته مراد له تعارض څخه تعارض صوری دی تعارض حقیقي مراد نه ده تعارض صوری دی ته وائی چې دنفي اواثبات په اعتبار سره تعارض راغلی وی یعنی له یوه جهته دحکم اثبات وی اوله بله جهته ئی نفي وی اوتعارض حقیقي له دې وجه نه ده مراد چې تعارض حقیقي لپاره داشرط ده چې دکوموشیانو په مینځ کښې چې تعارض وی هغه به په قوت سره برابروی اودلته خوداسې نه ده کله چې ظاهر اونص په قوت کښې برابر نه دی او همدارنګه نص اومفسر برابر نه دی بلکه نص ادنی ده تر مفسر اوهمدارنګه مفسر اومحکم برابرنه دی بلکه مفسر ادنی ده نوځکه چې دوی په قوت کښې برابر نه وو لهذا ددوی په مینځ کښې تعارض حقیقي نه ده بلکه صوری ده.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ د ظاهر او نص تعارض دامثال ذکر کوی چی که یو شخص خپلی ښځي ته وویل طلقی نفسک دی په جواب کښی ورته وویل ابنت نفسی په دی سره رجعی طلاق واقع کیږی ځکه د ښځی داکلام ابنت نفسی د طلاق بائن په واقع کولو کښی ظاهر ده او د طلاق رجعی په واقع کولو کښی نص ده ځکه د ښځی کلام د هغه شی د واقع کولو پاره راوړل شوی ده چی خاوند دی ته سپارلی ده او خاوند دی ته په طلقی لفظ سره صریح طلاق سپارلی ده لهذا داقول نص ده په طلاق صریح کښی او صریح طلاق چونکه طلاق رجعی ده لهذا ددی په قول سره طلاق رجعی واقع کیږی حاصل داده چی د ښځی داقول بنت نفسی ظاهر ده په طلاق بائن کی او نص ده په طلاق صریح کښی مورړ داخبر مخکی یادکړه که د ظاهر او نص تعارض راشی په نص عمل کول کیږی او ظاهر پرېښودل کیږی نو دلته هم پر نص عمل کوو او ظاهر پریږدو.

وَكَذالِكَ قَوْلُهُ عَلَيهِ السَّلامُ لِأَهلِ عُرَينه اشربُو من أبوالِها وَالبانها نَصٌ فِي بَيَانِ سَبَبِ الشَّفَاءِ وظاهِرٌ فِي اجَازَةِ شُربِ البولِ وَقَولُهُ عَليه السَّلامُ اسْتَنْزِهُوامن البَولِ فَانّ عَامّةَ عَذابَ القَبرمنهُ نَصٌ فِي وُجُوبِ الاحتِرازِ عَنِ البَولِ فيَترَجّحُ النّصُ عَلي الظاهِرِ فَلَايحلُ شُربُ البَولِ أصلاً.

ترجمه: او همدارنګه د نبی کریم ﷺ قول و اهل عرینه ته چی تاسو د صدقی داوښانو بولی او شیدی وڅښی او نص ده په سبب د شفاء کښی او د بولو څښولو په اجازه کښی ظاهر ده او د نبی کریم ﷺ داقول چی له بولو څخه ځان وساتی ځکه ډیرخله د قبر عذاب د بولو په وجه وی په دی سلسله کی چی له بولو ځان ساتل واجب ده نص ده نو نص خو پر ظاهر راجح وی نود بولو څښل حلال نه ده.

تشریح : داچی د ظاهر او نص د مقابلی په وخت کښی په نص عمل کول کیږی او ظاهر پرېښودل کیږی ددی یو مثال داده چی یو وخت نبی کریم ﷺ د عرینه قبیلی څو خلک راغلو لیکن پردوی باندی د مدینی اوبه او هواء سمه نه ولګیده ناروغه شوا و مخونه ئی ژړ شول او نصو نوئی خراب شول بیا ئی نبی کریم ﷺ ته ددی ناروغی شکایت وکړ نبی کریم ﷺ ورته وویل چی تاسو ولاړ شی هغه ځای ته چیرته چی زموږ د صدقو اوښان دی د هغو بولی او شیدی وڅښی دوی ولاړو او داسی ئی وکړل ترڅنګه چی نبی کریم ﷺ ورته ویلی وو نو له دغی ناروغی څخه جوړ شول او بیا مرتد شول او هغه شپنیان چی نبی کریم ﷺ دوی پر اوښو درولی وو هغه ئی مړه کړل او اوښان ئی له ځان سره یووړل نو کله چی نبی کریم ﷺ ته ددی واقعی خبر را ورسیدی نو نبی کریم ﷺ سمدستی صحابه کرام ورپسی ولیږل او داخلک ئی ونیول لاس او پښی ئی ورڅخه پری کړل او په سخته ګرمی کی ئی وغورځول آن تردی چی مړه شول داحدیث نص ده په دی کښی چی شفاء په بولو حاصلیږی او په سلسله د اجازی د بولو کښی ظاهر ده او داحدیث استنزهوامن البول فانّ عامة عذاب القبرمنه بیا په دی سلسله کښی نص ده چی له بولو ځان ساتل واجب ده اصل داده چی اول حدیث د بولو د څښلو د جواز په

سلسله کښې ظاهر ده اوداحدیث بیاپه دې کښې نص ده چې له بولوځان ساتل واجب ده نودلته دظاهر اونص مقابله راغله او ددوی دوو دمقابلې په وخت کښې په نص عمل کول کیږی اوظاهر پریښودل کیږی نودلته دا ثابته شوه چې دبولوڅښل جائزنه ده.

فوائد : په حدیث کښې صرف اصولي تحقیق وشوو فقهي تحقیق نه دی شوی لهذا زه دفقهي تحقیق وړاندیزهم درته کوم هغه داده چې هغه حیوان چې غوښې ئې خوړل کیږی دامام ابوحنیفه رح په نزد دهغوبولوڅښل مطلقاً جائز نه دی اودامام محمدرح په نزد مطلقاً جائز دی اودامام ابویوسف په نزد دتداوی لپاره جائز دی دامام محمدرح دلیل حدیث داهل عرینه ده دی وائی چې که ئې څښل مباح نه وائی نونبی کریم ﷺ به اهل عرینه ته دتداوی لپاره هم اجازنه وای کړی ځکه په حرام شي سره شفاء حرامه ده دنبی کریم ﷺ په دې قول سره إنّ الله لم يجعل شفاءكم فيما حرّم عليكم يعنی الله ﷻ په حرام شي کښې ستاسو لپاره شفاء نه ده ایښې نودتداوی لپاره دڅښولواجازه ددې دلیل ده چې دماکوااللحم بولې حرامې نه دی بلکه مباح دی دامام محمد رحمه الله ودې قول ته زموږ څوجوابونه په دی شکل دی (۱) اول جواب داده چې په بعض احادیثوکښې دابوال لفظ نشته (۲) جواب داده چې داحدیث منسوخ ده (۳) جواب داده چې دنبی کریم ﷺ داحکم خاص داهل عریینه لپاره وو (۴) جواب داده چې نبی کریم ﷺ ته دوحی په ذریعه سره امعلومه شوه چې ددی خلکوشفاء په دی بولوکښې ده - جمیل احمد غفرله ولوالدیه.

وَقَوْلُهُ عَلَيهِ السَّلَامُ مَاسَقَتْهُ السَّمَاءُ فَفِيهِ العُشْرُ نَصٌّ فِي بَيَانِ العَشْرَ وَقَوْلُهُ عَلَيهِ السَّلَامُ فِي الخضرات صَدَقَةٌ مُؤَوَّلٌ فِي نَفيِ العُشْرِ لِاَنّ صَدَقَةً تَحتَمِلُ وُجُوهاً فَيَتَرَجَّحُ الاَوَّلُ عَلىَ الثاني

ترجمه: اودنبی کریم ﷺ داقول چې کومه ځمکه چې په باران سره اوبه شوی وی په هغه کښې عشرشته نص ده په بیان دعشر کښې اودنبی کریم ﷺ داقول چې په شنوشیانو کښې صدقه نشته مؤول ده په نفی دعشر کې ځکه صدقه دڅوشیانو احتمال لری نواول پردوهم راجح ده.

تشریح : مصنف رحمه الله دنص دترجیح لپاره پرظاهرباندې یوبل مثال ذکرکوی تفصیل ئې داده چې په دې کښې اختلاف ده چې په هغه شي کښې دځمکې پیداوار وی عشرڅنګه واجب ده دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په پیداوار دځمکې کښې مطلقاً عشر واجب ده خواه که هغه پیداوار داسې وی چې ټول کال باقي وی لکه غنم او اوربشې وغیره اوکه ټول کال نه وی باقي لکه سبزیات خواه که ددی پیداوار اندازه ترمقدارکمه وی اوکه زیاته وی.

اودامام ابویوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله په نزد عشرصرف په هغه کښې واجب ده چې هغه ټول کال باقي وی اوهغه به پنځه وسقه اویازیات وی یعنی ددوی په نزد دعشر دوجوب لپاره دوه شیان ضروری دی (۱) داده چې پیداوار به داسې شي وی چې ټول کال باقي وی (۲) داده چې مقدار به ئي ترپنځه وسقه کم نه وی داول لپاره ددوی دلیل داحدیث ده لیس

الخضرات صدقة په سبزو کښې صدقه نشته که څه هم داحدیث دزکوٰة اوعشر دواړو احتمال لری مطلب دحدیث داده چې په خضرات کښې نه زکوٰة شته اونه عشر لیکن دلته زکوٰة مراد نه ده ځکه خضرات چې خپل نصاب ته ورسیږی اوکال باندی تیرشی زکوٰاة پکښې واجب ده نوکله چې په دوی کښې زکوٰاة واجب لهذا په حدیث کښې نفی دعشر ده ځکه چې زکوٰة نه شوبل شی پاته نه ده نومعلومه شوه چې په دې نفی سره نفی دعشر ده اودامام ابوحنیفه رح دلیل داحدیث ده ماسقته السماء ففیه عشر کوم شی چې په باران سره اوبه شوی وی په هغه کښې عشرشته دامام صاحب له طرفه دی ته جواب داده چې داحدیث ماسقته السماء ففیه عشر نص ده په دی سلسله کښې چې په هرپیداوارکښې عشرواجب ده ځکه ددی حدیث دراوړلو مقصد داسی ده اوستاسو دحدیث لیس فی الخضرات صدقة دعشر اوزکوٰاة داوړواحتمال لری اوعشر په طریقه دتاویل سره ځینی مراد ده نوکله چې نص او مول مقابله راشی په نص عمل کول کیږی لهذا دلته هم په نص سره عمل راجح ده په مطلق پیداوار کښې عشر واجب ده.

سوال: مصنف رحمه الله دنص اومؤوّل په مینځ کښې دتعارض مثال ذکرکړ اوحال داده زموږ بحث دظاهر اونص په تعریض کښې وو.؟

جواب: داده چې حدیث دلیس فی الخضرات موول ده په بیان دنفی دعشر کی لیکن ددی سره ظاهر هم شته ځکه هر یوچې اهل ددی زبان وی ددی حدیث په اوریدولوسره دا فهموی چې په خضرتُ کښې عشر نشته حاصل داده چې داحدیث په سلسله دنفی دعشر کښې ظاهر ده اوحدیث دما سقته السماء ففیه عشرٌ دوجوب عشرپه سلسله کی نص ده نوکله چې دنص اوظاهر مقابله راشی په نص عمل کول راجح ده لهذا دلته هم په نص سره عمل کول راجح ده اوځمکی په هر پیدوارکی عشر واجب ده د دامام الهمام قدوة الانام حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مذهب ده

وَاَمَّا الفَسّرفهُومَا ظَهَرَ المُرادُ بِه منَ للَفظ بِبيَان من قبل المُتَكَلم بحَيث لَا يبقي مَعَهُ احتمالُ التَاويل وَالتَخصيص مثالُهُ فِي قوله تَعَالي فَسجَدَ اَلملَئكَةُ كلهُم اَحمعُون فاسمُ الملئيكَةُ ظَاهِرٌ فِي العُمُوم الاَ اَنَ احتمَالُ التَخصيص قَائمٌ فَا نسدَ بَابُ التخصيص بِقَولِه كَلهُم ثُمّ بَقي اِحتمَا لُ لتفر قة فِي االسُجُود فانسدَ بابُ التاويل بِقوله اَجمعُون.

تر جمه: اومفسرهغه ده چې دهغه مراد په بیان دمتکلم سره ظاهره وی په داسی طریقه چې بیا د تاویل اوتخصیص احتمال باقی نه وی پاته ددی مثال دالله ﷻ داقول ده فسجد الملئکة کلهم اجمعون دلته لفظ دملائکه په عموم کښې ظاهر ده لیکن دتخصیص اوتاویل احتمال لری په کلهم لفظ سره دتخصیص دروازه بنده شوه اوبیاپه سجده کښي دجلاجلا سجدی کولو احتمال وو په لفظ داجمعون سره دتاویل دورازه بنده شوه.

تشریح . مفسر د تفعل د باب اسم مفعول ده ماخذ ده له فسره څخه په معنی د کشف ده داسی کشف چی د شک هیڅ نمونه نه وی پکښی لکه دلته چی له مفسر څخه هغه کلام مراد ده چی داسی منکشف وی چی هیڅ شبه نه پکښی پیدا کیږی او بعض حضرات وائی چی فسر مقلوب د سفر ده سفر هم په معنی د کشف ده لکه په دی مثال کی والصبح اذا اسفر او همدارنګه په دی مثال کی سفرت المرأة عن وجهها النقاب : ښځی له خپله مخه نقاب پورته کی او له دی څخه ماخذ سفیر هم ده ځکه سفیر هم دیوه سړی مراد د بل سړی ته ښکاره کوی او مسافر ته مسافر له دی وجه وائی چی ده ته د هغو خلکو چی دی ورسره مخامخ ده احوال ښکاره وی او بعض حضرات وائی چی فسر او سفر په خپل مینځ کښی یو له بل څخه مقلوب نه ده بلکه دواړه مستقل الفاظ دی او دواړه وحیثیت یو ده او د دواړو معنی کشف ده البته دومره فرق لری چی سفر د ظاهری کشف لپاره ده او فسر د باطنی کشف لپاره ده.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ د مفسر تعریف داسی کوی چی مفسر هغه کلام ده چی مراد ئی له لفظه د متکلم د بیان په وجه داسی ښکاره وی چی نه د تخصیص احتمال لری او نه د تاویل احتمال لری په تعریف کښی د بیان لفظ بیان قاطع او غیر قاطع دواړو ته شامل ده بیان قاطع لکه نبی کریم ﷺ چی د لمانځه او زکوة بیان کړی ده او غیر قاطع لکه په حدیث والحنطة بالحنطة والشعیر بالشعیر سره چی د ربا بیان شوی ده داپه دی وجه غیر قاطع ده چی حضرت عمر رضی اللہ عنہ د نبی کریم ﷺ له وفات وروسته وویل خرج النبی ﷺ ولم یبین لنا ابواب الربوا بهر حال لفظ بیان دواړو ته شامل ده لیکن په لایبقی معه احتمال التاویل قید سره بیان غیر قاطع خارج شو ځکه په د غیر قاطع بیان څخه وروسته د تخصیص او تاویل احتمال باقی وی.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ د مفسر لپاره مثال د اقول د الله ﷻ راوړی فسجد الملئکة کلهم اجمعون تفصیل ئی داده چی لفظ د ملئکه وټولو افرد د ملائکه لره په عموم کی ظاهر ده ځکه د جمع صیغه ظاهراً پردی دلالت کوی لیکن په دی کښی د تخصیص احتمال شته ځکه د اویل کیږی چی کیدی شی چی ټولو ملائکه وو دی سجده نه وی کړی بلکه اکثرو دی کړی وی لیکن له اکثرو دی تعبیر په جمع سره شوی وی لکه په اذقالت الملئکة یامریم کښی چی ملائکه څخه حضرت جبرائیل علیہ السلام مراد ده نو لفظ ملائکه عام مخصوص منه البعض ده یعنی احتمال د تخصیص پکښی ده نو کله چی الله ﷻ وکلهم لفظ وو ایو د تخصیص دروازه بنده شوه لیکن د دی نه وروسته دا احتمال باقی پاته ده چی کیدی شی چی ملائکه وو دی په جمع واری سره سجده نه وی کړی بلکه جلا جلا دی کړی وی یعنی د دی احتمال هم لری چی کیدای شی چی په جمع واری سره دی ملائکه وو سجده کړی وی او داهم کیدای شی چی جلا جلا دی سجده کړی وی لیکن کله چی الله ﷻ د اجمعون لفظ راوړی د مذکوره تاویل دروازه بنده شوه.

وفي الشرعيات اذا قال تزوجت فلانة شهراً بكذا فقوله تزوجت ظاهر في النكاح الا ان احتمال المتعة قائم بقوله شهراً فسر المراد به فقلنا هذا متعة وليس بنكاح .

ترجمه: اوپه احکام شرعیه وو کی داده که یو چاه وویل ماله فلانی ښځه سره دیوی میاشتی لپاره په دومره مهر سره نکاح کړی ده نو دده داقول تزوجت ظاهر ده په نکاح کښی لیکن د متعی احتمال شته او په شهراً سره ددی مراواضح کړ نو موږ وآیو چی دا متع ده نکاح نه ده .

تشریح : په احکامو د شرعیه کښی د مفسر مثال داده چی که یو شخص ووائی تزوجت فلانة شهراً بکذا دلفظ دتزوجت په صرف اورید ولو سره نکاح معلومیږی نو د نکاح په سلسله کښی دا لفظ ظاهر ده لیکن د متعی احتمال شته یعنی لکه ځرنګه چی د نکاح صحیح احتمال لری د متعی احتمال هم لری لیکن کله چی متکلم لفظ د شهراً ووایو او نکاح ئی په یوه محدد وخت پوری خاص کړه نو داسی شو لکه متکلم چی خپل مراد ښکاره کړی او وه ئی ویل چی زما مراد نکاح متعه ده نکاح صحیح نه ده نو دلته په مفسر سره عمل کول کیږی او دا کلام پر نکاح متعه باندی محمول ده .

فائده : تر یو معلوم وخت پوری نکاح کولو ته نکاح متعه ویل کیږی دا نکاح په اول کی جائز وه بیاد خیبر په ورځ چی دخره غوښه حرامه شوه نکاح متعه هم حرامه شوه او بیادا وطاس په جنګ کښی ددرو ورځو لپاره حلاله شوه اوله دی نه وروسته دهمیشه لپاره حرامه شوه اوس دشیګانو بغیر یو څوک هم نکاح متعه جائز نه بولی.

او صاحب هدایه چی جواز د نکاح متعه وه امام مالک رحمه الله ته منسوب کړی ده داد صاحب هدایه سهوه ده ځکه امام مالک رحمه الله په خپله موطا کښی یو حدیث ذکر کړی ده چی هغه د نکاح متعه پر نه جواز دلالت کوی او امام مالک رحمه الله په موطا کښی هغه احادیث ذکر کوی چی دده مذهب وی لهذا معلومه شوه چی دامام مالک رحمه الله مذهب عدم جواز د نکاح متعه ده .

ولوقال لفلان علي الف من ثمن هذا العبد اومن ثمن هذا المتاع فقوله علي الف نص في لزوم الالف الا ان احتمال التفسير باق فقوله من ثمن هذا العبد اومن ثمني هذا المتاع بين المراد به فيترجح المفسر علي النص حتي لايلزمه المال الا عند قبض العبد اوالمتاع وقوله علي الف ظاهر في الاقرار نص في نقد البلد فاذاقال من نقد بلد كذايترجح المفسر علي النص فلايلزمه نقد البلد بل نقد بلد كذا وعلي هذا فنظائره .

ترجمه: اوکه ئی وویل چی دفلانی پرماددغه غلام زر روپی دی او یادد غه سامان زر وپی دی دده داقول :علی الف ، دزرو روپو دلزوم په سلسله کښی نص ده لیکن دتفسیر احتمال باقی پاته ده او بیان دده داقول من ثمن هذا العبد اومن ثمن هذا المتاع ، دده دمراد بیان ده لهذا مفسر راجح ده پر نص باندی حتی چی پرده باندی مال لازم نه ده لیکن هغه وخت چی دغلام یا سامان قبض وشی او دده قول لفلان علی الف ظاهر ده په اقرار کښی او نص ده په نقد بلد کښی نو کله چی من نقد بلد

کذا ووایو مفسرپرنص باندی راجح شو دارنګه چی پرده باندی نقد بلد لازم نه دی بلکه نقد بلد کذا باندی لازم ده او پردی باندی ددی نظائر دی.

تشریح: مصنف رحمه الله پرنص باندی دمفسر دترجیح لپاره مثال ذکرکوی اووئی چی که یو سړی وویل چی دفلانی پرمازر درهمه دی ددی غلام له روپواویاددسامان له روپونو په دی کلام کښی ؛علیّ الفٌ ، دزور روپودلزوم په سلسله کښی نص ده ځکه لفظ دعلیّ دالزام لپاره وضع شوی دی اوقائل دلفظ پرځان باندی دزرو روپو دلازمولو لپاره رواړی ده لیکن په دی کښی دتفسر احتمال شته په دی طریقه چی زر روپی څنګه لازمی دی اوسبب ئی څه شی ده نوکله چی قائل من ثمن هذالعبد اویامن ثمن هذالمتاع ووایو نود خپل مراد ښکاره کړ چی زر روپی یا دغلام روپی دی اویادسامان روپی دی.

حاصل داده چی دنص تقاضی داده چی پرقائل باندی مطلقاً زر (۱۰۰۰) روپی دی اودمفسر تقاضی داده چی دغلام یادسامان په بدله کښی زر (۱۰۰۰) روپی دی اودنص اومفسر دمقابلی په صورت کښی مفسر ته ترجیح ورکول کیږی نوپرمقرباندی هغه وخت زر روپی لازمی دی چی مقرله د ته غلام اویاسامان په لاس ورکړی.

مصنف رحمه الله وائي که یوسړی وویل دفلانی پرمازر روپی دی داکلام ظاهر ده په اقرار کښی ځکه ددی کلام په صرف اوریدولوسره اقرارمعلومیږی اونص په نقدبلد کښی ځکه مقرپرځان باندی دخپل ښار دنقد دلازمولولپاره داکلام راوړی ده نوکه قائل پردی تورو ؛لفلان علی الف ،باندی سکوت وکړی نوپه نص باندی عمل کیږی پرده باندی نقد بلدلازم ده یعنی هغه روپی لازمی دی چی دده په ښار کښی استعمالیږی لیکن که ده من نقد بلد کذا ووایو یعنی یوښار ئی معلوم کړ مثلانقد بخارائي وویل په دی صورت کښی پرده دهغه ښار روپی لازمی دی چی ده معلوم کړی ده دخپل ښار روپی نه دی پرلازمی ځکه من نقد کذا مفسر ده اومفسر خو راجح وی پرنص باندی لهذا من نقد بلدکذا راجح ده پرنقدبلد باندی.

مصنف رحمه الله وائی دمفسر دترجیح لپاره پرنص اودنص دترجیح لپاره پرظاهر ډیرمثالونه دی.

وَاَمَّا المُحکَم فَهُوَ مَا ازدَادَ قُوَّةً عَلَى المُفسَّرِ بَحَیثُ لاَ یجُوز خِلاَفُهُ اَصلاً مثاله في الكِتَاب اِنَّ الله بكُلِّ شَيءٍ عَلِیمٌ وَاَنّ الله لاَیَظلِمُ عَلَي النَّاسِ شَیئاً .

ژباړه: اومحکم هغه ده چی مفسر په قوت کښی زیات وی په دی طریقه چی دهغه مخالفت بالکل جائزنه ده په کتاب کښی ددی مثال داده چی الله تعالی پرهر شی عالم ده اوالله پرخلکوهیڅ ظلم نه کوی.

تشریح: مصنف رحمه الله په دی عبارت کښی دمحکم تعریف ذکر کوی دی وائی چی محکم هغه کلام ده چی مراد ئی په نسبت ومفسرته زیات وی په داسی طریقه چی دهغه خلاف جائز نه وی یعنی

دتبدیل اونسخی په ذریعه دده موجوب پریښودل جائز نه وی یعنی په داسی اندازه سره قوی وی چی نه دتبدیل احتمال لری او نه دنسخی ددی مثال په کتاب الله کښی إِنَّ اللهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ او إِنَّ اللهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئاً ده ځکه دالله ﷻ علم پرټولو شیانوباندی داسی شی ده چی دتبدیل اونسخی او زوال احتمال نه لری او الله ﷻ پاکوالی له ظلمه څخه هم داسی شی ده چی دتبدیل اونسخی اوزوال احتمال نه لری اودا یاد لره چی دنسخی دنه احتمال دوه صورته (۱) صورت داده چی دکلام په ذات کښی داسی معنی موجوده وی چی دنسخی احتمال ئی ختم کړی وی لکه آیات دتوحید اودصفات (۲) صورت داده چی دنبی کریم ﷺ دوفات په وجه دنسخی احتمال قطع شوی وی اول ته محکم لعینه وائی اودوهم ته محکم بغیره وائی.

سوال: مصنف رحمه الله د محکم په تعریف کښی داذکر کړل چی دده مخالفت بالکل جائز نه ده یعنی دتبدیل او نسخی په ذریعه دده موجوب پریښودل جائز نه ده له دی څخه دالازمیږی چی هرهغه کلام چی په هغه سره الله ﷻ اخبار کړی وی محکم ده خواه که هغه ظاهر وی اوکه نص اوکه مفسر وی ځکه دالله ﷻ له اخبار وروسته دهغه کلام مراد دتبدیل اونسخی احتمال نه لری نوچی کله داسی شو نوظاهر اونص اومفسر هم محکم شو.

جواب: داده چی د مصنف رحمه الله ددی تورو لايجوز خلافه اصلا مطلب داده چی دکلام دذات په اعتبار خلاف جائزنه ده یعنی کلام به دذات په اعتباردتبدیل اونسخی احتمال نه لری اوظاهر اونص اومفسر دذات په اعتبار دنسخ احتمال لری لیکن دعارض په اعتبار یعنی په دی اعتبار چی الله ﷻ په هغه سره اخبار کړی وی دنسخ اوتبدیل احتمال نه لری لهذا مذکوره سوال نه واردیږی.

وَفِى الحَكمِيات مَاقُلنَا فِي لاِقرارِ انَّهُ لِفُلانٍ عَلَيَّ اَلفٌ مِن ثَمَنِ هٰذاالعَبدِ فَاِنّ هٰذَ ا اللَّفظ مُحكَمٌ فِي لُزُومه بَدَلاً عَنهُ وَعَلَى هٰذَا نظائره.

ترجمه: اوپه احکامو دشرع کښی مثال هغه ده چی موږ په اقرار کی وویل چی دفلان پرما زر روپی باندی دی ددی غلام نودالفظ دغلام په بدل کښی د زرو روپو په لازمولو کښی محکم ده اوپردی بناء دده نظاهر دی.

تشریح: په احکامو دشرع کښی دمحکم دمثال دذکر کولوپه باره کښی مصنف رحمه الله وائی چی دمحکم مثال هغه ده چی موږ په مفسر کی ذکر کی هغه داده چی که یو شخص دبل لپاره دزرو روپو اقرار وکړی اووائی لفلان علي الف من ثمن هذا العبد په دی مثال کی عَلَيَّ اَلفٌ دمختلفو اسباب دوجوب احتمال لری یعنی دااحتمال لری چی دا زر روپی دی دقرض حسن په وجه پرده واجب وی اودااحتمال هم لری چی مقردی دغصب شو زرو روپو اقرار کړی وی اودااحتمال هم لری چی دغلام نه بغیر دبلی مبیع ثمن دی وی اودا احتمال هم لری چی ددی غلام دثمن اقرار دی کړی وی اصل

داده چی دمختلفو اسبابو دوجوب احتمال لری لیکن کله چی مقر من ثمن هذا العبد وویل نو داکلام دغلام دزرو روپو په لازمولو کښی محکم ده او نور دواړه احتمالات ختم شو مصنف رحمة الله علیه وائی چی ددی کلام ډیر نظاهر دی چی دمحکم لپاره مثال جوړیدای شی دلته یو اعتراض کیږی.

سوال: داده چی مخکی داخبره ثابیته شوه چی علی الف من ثمن هذا العبد مفسر ده او محکم تر مفسر په قوت کښی زیات ده یعنی مفسر مزید علیه ده او محکم مزید ده او دمزید علیه او مزید په مینځ کښی تغایروی دواړه یو ځای نه جمع کیږی او دامثال موږ مخکی دمفسر لپاره ذکر کی نو دمحکم لپاره څنګه دامثال جوړیږی یعنی دداوړو لپاره څنګه مثال کیدای شی.؟

جواب: داده چی په احکامو دشرع کښی چونکه دمفسر او محکم فرق نشته نو ځکه مصنف رحمة الله علیه دواړو لپاره یو مثال ذکر کی.

دوهم جواب: داده چی من ثمن هذا العبد حقیقتاً محکم نه ده بلکه په دی وجه دنسخ احتمال نه لری چی دمحکم په مرتبه کښی ده نو کله چی داقول حقیقة محکم نه شو نو دمفسر او محکم په مینځ کښی تغایر راغی او مخکینی سوال نه واریدیږی.

وَحُكْمُ الْمُفَسَّرِ وَالْمُحْكَمِ لُزُومُ الْعَمَلِ بِهِمَا لَامَحَالَةَ .

ترجمه: دمفسر او محکم حکم داده چی په دواړو سره قطعاً عمل واجب ده.

تشریح: مصنف رحمة الله علیه وائی چی مفسر او محکم حکم داده چی دهریوه په موجوب باندی عمل قطعاً واجب ده یعنی په دواړو سره عمل هم لازم ده او یقینی اعتقاد کول هم لازم ده.

سوال: دمفسر او محکم په مینځ کښی چونکه تغایر شته لهذا دهر یوه حکم باید جلا بیان وشی.؟

جواب: داده چی مفسر او محکم په درو شیانو کی موافق دی اول داده چی په دواړو سره عمل کول لازم ده دوهم داده چی پر داوړو باندی اعتقاد لازم ده دریم داده چی په دواړو کښی دتاویل او تخصیص احتمال نشته نو چونکه ظاهر او نص دتاویل او تخصیص دنه احتمال په وجه په یو حکم کښی جمعه شو همدارنګه مفسر او محکم ددی برابری په وجه په یوه حکم سره ذکر شول.

ثُمَّ لِهٰذِهِ الْاَرْبَعَةِ اَرْبَعَةٌ اُخْرٰى تُقَابِلُهَا فَضِدُّ الظَّاهِرِ الْخَفِىُّ وَضِدُّ النَّصِّ الْمُشْكِلُ وَضِدُّ الْمُفَسَّرِ الْمُجْمَلُ وَضِدُّ الْمُحْكَمِ الْمُتَشَابِهُ .

ترجمه: او بیا ددی څلورو لپاره نور څلوردی چی ددوی مقابل دی لکه مقابل دظاهر چی خفی دی او مقابل دنص مشکل ده او مقابل دمفسر مجمل ده او مقابل دمحکم مشابه ده.

تشریح: له ضد څخه مراد هغه ده چی له خپل مقابل سره په یوه وخت او په یو ځای او له یو جهته نشی یو ځای کیدای تقابل څلور قسمه دی (۱) تقابل دمتنافینو ده یعنی مقابله دنفی او اثبات لکه دانسان او لا انسان په منځ کښی (۲) متضائفینو ده لکه اب او ابن (۳) تقابل دضدینو ده یعنی دواړه وجودی وی او جمع ئی ممتنع وی لکه سواد او بیاض (۴) تقابل عدم وملکه

ده لکه حرکت او سکون د دی په منیځ کی تقابل عدم وملکه ده په نزد دهغه چا چی د سکون تعریف په عدم حرکت سره کوی.

اودفقهاء په نزد پردی ځلوروسره دضد اطلاق کیږی له دی تمهید څخه ورسته داوایو چی ددی ځلورو اقسامو لپاره چی ظاهر اونص اومفسر اومحکم دی ځلورضدین چی خفی مشکل اومجمل اومتشابه دی یعنی لکه څرنګه چی اول ځلورپه ظهورکښی متفاوت دی همدارنګه دانورځلورپه خفاءکښی متفات دی طریقه ئی داده چی خفی چونکه په خفاء کښی ادنی درجه لری مقابل ده دظاهر چی هغه په ظهورکښی ادنی درجه لری اومشکل چونکه په نسبت وخفی ته په خفاءکښی قوی ده مقابل ده دنص چی په ظهور کښی قوی ده ترظاهر اومجمل چونکه په نسبت ومشکل ته قوی ده په خفاء کښی مقابل ده دمفسر چی په نسبت ونص ته په ظهور کښی قوی ده اومتشابه چونکه په نسبت وه مجمل ته قوی ده په خفاءکی مقابل ده دمحکم چی په نسبت وه مفسرته قوی ده په ظهورکښی حاصل داده چی دظاهر ضدخفی ده اودنص ضدمشکل ده اودمفسرضد مجمل ده اومحکم ضد متشابه ده.

فَالخَفِیُّ مَاخَفِیَ اَلمُرادُ بِه بِعارِضٍ لاَمِن حَیثَ اَلصِّیغه مِثَالُهُ فِي قَولِه تَعَالٰی وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقطَعُوا اَیدِیهُمَا فَانَّهُ ظَاهِرٌفِي حَقِّ السَّارِقِ خَفِيٌ فِي حَقِّ الطَّرَّارِ وَالنَّبَّاشِ.

ترجمه: خفی هغه کلام ده چی مراد ئی دعارض په وجه پټ وی نودصیغه په اعتبار مثال ئی داقول دخدای ﷻ والسارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما ده ځکه داکلام ظاهر ده په حق دسارق کښی اوخفی ده دجیب وهونکی اوکفن کښونکی په حق کښی.

تشریح: مصنف رحمه الله دخفی تعریف داسی کوی چی خفی هغه کلام ده چی مراد ئی دصیغی په وجه نه بلکه دبل عارض په وجه پټ وی یعنی دنفس صیغی په مدل کښی خفاء نه وی بلکه له یوبل عارض څخه خفاء پیداشوی وی مصنف رحمه الله دخفی دری مثال له ذکر کوی اول مثال ئی السارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما ده ددی مطلب داده چی که غل نر وی اوکه ښځه چی غلا باندی ثابته شی لاس ئی پریکیږی داآیت دغله په حق کښی ظاهر ده لیکن دجیب وهونکی اوکفن غلاکونکی په حق کښی خفی ده یعنی داآیت دخپل لغوی او شرعی مفهوم په اثبات کښی ظاهر ده په دی طریقه چی دسرقی لغوی معنی غلاکول ظاهر ده اوشرعی مفهوم چی لاس پریکول ده هم ظاهره ده اودطرار اونباش په حق کښی خفی ده لیکن داخفاء دعارض په وجه ده چی هغه عارض په طرار اونباش کښی موجود ده هغه عارض داده چی اهل زبان دوی دواړو ته دسارق نه بغیر بل نوم یښی ده چی جیب وهونکی له طرار وایی اوکفن کښونکی له نباش وائی نوکه جیب وهل اوکفن کښل غلا وائی نوباید دوی ته هم سارق ویل شوی وائی نوکله چی دجیب وهونکی لپاره طرار اودکفن کښونکی لپاره نباش استعمال شو ددی خبری ثبوت کوی چی طرار اونباش سارق نه دی چی سارق نه شو لهذا پردوی

باید حکم دسارق جاری نه شی او حال داده چې پر طرار باندی داحکم جاری کیږی مطلب داده چې په دوی دواړو کښی دسارق جکم خفی ده نوددوی دحکم دمعلوملولپاره که ته غوراوفکر وکړی نوتاته به دامعلومه شی چې دجیب وهونکی لپاره دسارق نه بغیر دبل نوم وجه داده چې جیب وهل په نسبت وسرقی ته قوی ده ځکه دسرقی معنی داده چې یوداسی مال په پټه ورل چې هغه مال محترم وی اوقیمت لرونکی وی اوشرعاً پرهغه باندی فائده اخیستل کیدای شی اوهغه محفوظ یعنی خوندی وی لږترلږه لس درهمه قیمت به لری نو که یو سړی له بل څخه شراب غلاکړی لاس ئی نه پریکیږی ځکه که څه هم شراب مال متقوم ده لیکن شرعاً پرهغه فائده اخیستل جائز نه ده مطلب داده چې که مذکوره شرائط موجودنه وی لاس ئی نه پریکیږی اودطرار (جیب وهل) معنی داده چې داسی مال غلاکول چې مالک ئی بیداره وی اوددغه مال دحفاظت اراده لری لیکن مالک لږ څه غافله شی اودی ئی جیب ووهی اوکفن غلاونکی ته ئی له سارق بغیر بل نوم غوره کی وجه ئی داده چې دکفن غلاکول په نسبت وسرقی ته ناقص ده ځکه داله داسی نفرڅخه غلاکول ده چې هغه دمال دحفاظت اراده نه لری اودامال محفوظ نه ده لهذا ده له ئی نوم دنباش غوره کړ.

حاصل دکلام داده کله چې طرار تر سارق په معنی کښی قوی وو نوچې په سرقه سره لاس پریکړکیږی حال داده چې ترطرار ضعیف هم ده نوپه طرار کښی په طریقه اولی سره لاس پریکړ کیږی یعنی کله چې وکوچنی مجرم چې سارق ده داسزاء ورکول کیږی ولوی مجرم ته چې طرار په طریقه اولی سره ورکول کیږی اونباش چونکه په نسبت وسارق ته ناقص ده نوددی نقصان په وجه داشک اوشبه پیداکیږی چې ایا نباش ددی سزاء مستحق ده اوکه نه ده لهذا کله چې داشبه پیداشوه نوداحکم له ده څخه ساقط ده ځکه حدود په شبهاتو سره نړیږی .

وَكَذَالِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى اَلزَّانِيَةُ وَلِزَّانِي ظَاهِرٌ فِي حَقِ الزَّانِي خَفِيٌ فِی حَقِّ اللُّوطِیْ وَلَوحَلَفَ لَاَيَاكُلُ فَاكِهَةً كَانَ ظَاهِراً فِيمَا يَتَفَكَّهُ بِهٖ خَفِيا فِي حَقِّ الْعِنَبِ وَالرُّمَّانِ .

ترجمه : اوهمدارنګه داقول دالله ﷻ الزانیة والزانی دزناکونکی په حق کښی ظاهرده او دلوطی په حق کښی خفی ده اوکه چا ه قسم وکړی زه فاکهه(میوه) نه خورم دا ظاهر ده په هغو شیا نو کښی چې په هغو سره تفکه حاصلیږی او خفی ده په حق دانګورو او انا رو کښی.

تشریح : مصنف رحمة الله علیه دخفی دوهم مثا ل دا ذکر کو ی الزانية والزاني الآيه داآیت دزانی په حق کښی ظاهر ده یعنی څوک چې ددی ژبی اهل وی هغه صر ف ددی آیت په اورید لو سر ه دا فهموی چې زانی که نر اوکه ښځه ده دزناحد پرجاری کیږی دلوطی په حق کښی خفی ده وجه ئی داده چې اهل زبان له نرسره زناکونکی ته زانی نه وائی بلکه ددی لپاره ئی له زانی نه بغیر بل نوم چې لوطی ده غوره کړی ده نوکله چې له نر سره زناکونکی ته زانی نه ویل کیږی نوداخبره ثابته شوه چې ددی عمل کونکی زانی نه ده چې زانی نه شو باید پرده باندی دزنا حکم نشی جاری حاصل داده چې

دلوطی په حق کښې خفی ده نوددی خفاء دلری کولو لپاره اودلوطی دحکم معلومولولپاره موږ غوراوفکر وکړ داموږ معلومه کړه چې دلوطی لپاره له زانی څخه سواء دبل نامه دغوره کولووجه داده چونکه لواطت په نسبت وزناته ناقص ده ځکه چې زنا دداسې شهوت په وجه موجود شوی ده چې هغه شهوت دښځې اونر ددواړوله طرفه پیداشوی ده اولواطت صرف دفاعل په شهوت سره موجودیږی دمفعول له طرفه نه وی بلکه دهغه څه ناڅه له دی عمله څخه نفرت هم وی نو ددی فرق پربنیاد دا ثابته شوه چې زنا ترلواطت ډیره واقع کیږی ځکه دواعی ئې ډیر دی دکوم شی چې دواعی ډیر وی هغه شی ډیر واقع کیږی اودلواطت دواعی چونکه لږ دی نودی هم لږواقع کیږی نو کله چې لواطت په نسبت وزنا ته ناقص وو لهذا داشبه پیداکیږی چې لوطی ددی سزاء مستحق ده اوکه نه ده نوکله چې داشبه پیدا شوه لهذا پر ده باندی حد نه جاری کیږی ځکه حدود په شبهاتو سره نړیږی دخادم (جمیل احمد)

داتشریح دحضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ دمذهب موافقه ده لیکن دده شاګردانو امام ابویوسف رحمۃ اللہ علیہ اوامام محمد رحمۃ اللہ علیہ په نزد لوطی مستحق دحد زناده دلیل ئې داده چې لواطت په نسبت وزناته کم نه ده بلکه زیات ده ځکه چې زنا او لواطت چونکه دواړه په حرام محل کی زناکول دی لیکن فرق ئې سته هغه داده چې لواطت په داسې محل کی کیږی چې هغه دنجاست ځای ده اوتنګ ده اوزناپه داسې محل کی کیږی چې په هغه کښې دادواړه شیان نسته نوکله چې داسې وو لهذا حرمت دلواطت زیات ده پرحرمت دزنا کله چې لواطت زیات ده په حرمت کښې تر زنانوپه لواطت کښې دزنا حد

پر طریقه اولی سته دخفی دریم مثال داده واللہ لاياكل فاكهة په خدای قسم که زه میوجات دخورم داکلام هغومیوو ته شامل ده چې له هغوی څخه خوند مقصدوی غذا حاصلول نه وی ورڅخه مقصدد یعنی دهغومیوو چې له هغوی څخه خوند مقصدوی په خوړه لوبی له شکه حانث ده لیکن دانارو اوانګور وپه حق کښې خفی ده لکه امام حنیفه په نزدچې ددی دوو شیانو په خوړلو سره نه حانث کیږی ځکه فاکهه ماخوذ له تفکه څخه ده اودتفکه معنی خوند حاصلول ده خوند اولذت حاصلول تر غذا زیا دت شی ده ځکه په غذا سره قوام دبدن راځی او په فاکهه سره قوام دبدن نه راځی او انګور چونکی په دوی سره قوام دبدن راځی لهذا انګور په مکمله توګه په غذا کښې داخل دی اوانار چونکه دد واء کار اجراء کوی نوکله کله داهم دبدن دبقاء او قوام لپاره خوړل کیږی نو کله چې په دوی کښې معنی دتفکه ثابته شوه نو په دوی کښې معنی دفاکهه خفی ده لهذا په مذکوره قسم کښې دوی نه دی داخل. او دامام ابویوسف اوامام محمد مذهب داده چې دانګور و او انارو په حق کښې فاکهه له دی وجه خفی ده چې په دوی کښې دتنعم (خوند) معنی په نسبت ونورو فاکهو ته زیاته ده یعنی په نورو کښې صرف تنعم ده او په دوی کښې تنعم او

غذا دواړه سته نو کله چی داسی شو نودوی دواړه په مذکورقسم کښی داخل دی او ددوی په خوړولو سره حانث ده.

وَحُكمُ الخَفِيْ وُجُوبُ الطَّلَب حَتّى يزُو لَ عَنهُ الخفاء.

ترجمه: اوحکم دخفی وجوب دطلب ده تردی وخته چی خفاء ختمیږی.

تشریح: دخفی حکم داده چی طلب به کوی چی ددی معنی څه شی ده او دکومو شیانو احتمال لری ددی لپاره چی دامعلو مه شی چی دکلام مراد له دی وجه پوشیده ده چی دخفی معنی زیا ته ده تر معنی دظاهر اوکه له دی وجه چی دخفی معنی کمه ده تر معنی دظاهر اوکله چی داطلب وشی نو دخفی مراد ظاهر ه کیږی ځکه که دامعلومه شی چی دخفی معنی زیاته ده نو بیا ئی هغه حکم ده کوم حکم چی دظاهر وو او که دابل صورت ثابت شی بیا ئی حکم دظاهر نه ده

وَاَمَّا المُشكِلُ فَهُوَ مَا از دَارَ خفاءً عَلى الخَفيّ كَانَّهُ بَعدَ مَا خَفِيَ عَلى السَّا معِ حَقِيقَتُهُ دَخَلَ فِي اَشكَا لِه وَ اَمثَا لِه حَتّي لاَ يَنَالُ اَلمُرادَ الاَّ بِا الطَّلَبِ ثُمّ بِالتَّامُلِ حَي يَتَمَيزَ عَن اَمثَا لِه .

ترجمه: او بهر حال مشکل هغه کلام ده چی په ده کښی خفا ء په نسبت وخفی ته زیا ته وی ګواکی دی وروسته له دی چی پر اوریدونکی ئی حقیقت خفی وو په خپلو هم شکله او هم مثله کښی داخل شو په داسی اندازه چی مراد ئی نه معلو میدی بلکه په طلب سره او په غوراو فکر کولو سره آن تردی چی دی له خپلو هم مثله څخه جلا کړو.

تشریح: مشکل له اشکل الشی څخه ما خوذده داالفاظ هغه وخت ویل کیږی چی یو شی په خپلو هم شکله او هم مثله کښی داخل شی لکه احرَم لفظ هغه وخت ویل کیږی چی کله سړی حرم کښی داخل شی او همدارنګه اشتی هغه وخت ویل کیږی چی یو شخص په ژمی کښی داخل شی اویا مشکل له هغه اشکل څخه ما خوذ چی هغه په معنی سخت والی سره ده چونکه اوریدونکی لره دمشکل معنی فهمول سخت وو لهذا ورته مشکل وویل شو اود فقها ؤپه اصطلا ح کښی مشکل هغه ته وائی چی خفا ء په نسبت وخفی ته زیا ته وی په دی طریقه چی اول ځل پر اوریدونکی با ندی دکلام مراد خفی وی او بیا هغه کلام په خپلو هم شکله او هم مثله کښی داخل شی په داسی اندازه چی بیا ئی مراد بی له طلبه او فکره نه معلو میږی یعنی اول ځل به ددی کلام ټولی معانی او محتملا ت معلو موی بیابه په هغوی کښی غور اوفکر کوی چی په دوی کښی کومه معنی مراد ده نو چونکه دخفی دمراد معلومولو لپاره صرف طلب کافی ده او دمشکل دمرا د معلو مو لولپار ه له طلبه ورسته تا مل هم ضروری ده له دی وجه دمشکل خفا ء زیا ته ده.

وَنَظِيرُهُ فِي الاَ حكَام حَلَفَ لَا يا تَد مُ فَانَّهُ ظَا هِرٌ فِي الخَلِّ وَالدِّبسِ فَانَّمَا هُوَ مُشكِلٌ فِي اللَّحمِ وَالَبيضِ وَلجُبنِ حَتّي يطلَبَ فِي مَعَنَي الاِيتِدَامَ ثُمّ يَتَاَمَلُ اَنَ ذَالِكَ المَعَني هَل يو جَدُ فِي اللَّحمِ والَبيضِ وَالجُبنِ اَم لاَ .

ترجمه :اوپه احکامو دشرع کنبی ددی مثال داده چی قسم وکړی چی ادام (کتغ) به نه خوری داظاهر ده په سرکه او دخورما په شیره کنبی او په غوښه او هګی او پنیر کی مشکل ده داسی چی اول به د ادام دمعنی طلب کول کیږی او بیاغو ر اوفکر کیږی چی ایا دامعنی په غوښه او هګی او پنیر کنبی شته او که نه ؟

تشریح :مصنف رحمة الله علیه وائی چی دشر عی په احکامو کنبی دمشکل مثا ل داده چی یو شخص قسم وکړی او ووائی والله لایتئدم قسم په خدای کی زه ادام وخورم داکلام په سرکه او دخو رما په شیر ه کنبی ظاهرده لیکن مشکل ده په غورمه شوی غوښه کنبی او په هګی کنبی او په پنیر کنبی او اول ځل به دایتدام دمعنی طلب کیږی او بیا به په هغه کنبی غور اوفکر کول کیږی چی ایادا معنی په غورمه اوهګی او پنیر کنبی سته او که نه. او په سرکه او دخورما په شیره کنبی ظاهر ده ځکه ادام ماخوذ ده له موادمت ځخه او موادمت دموافقت په معنی سره ده او ادام له ډوډی سره هغه وخت موافق کیږی چی دډوډی او ادام په مکمله توګه ګډوالی راشی او ډوډی په کتغ کنبی ډوبه شی همداوجه ده چی داادام تعریف داسی کیږی چی ادام هغه شی ده چی دډوډی په تبع خوړل کیږی او ډوډی په ده کنبی ولاړه شی اوپه کنبی ډوبه شی اوکوم شي چی بغیر د ډوډی خوړل کیږی نوچونکه داپه سرکه اوخورما په شیره کنبی په مکلمه توګه سره وو لهذا په دوی کنبی ظاهرده اوپه غورمه اوهګی اوپنیر کنبی چونکه داطریقه نه وه لهذا په دوی درو کنبی مشکل ده لکه امام ابوحنیفه رح چی وائی چی که له مذکوره قسمه ورسته قسم کونکی غورمه شوی غوښه اویاهګی اویاپینر وخوری نه ده حانث او دصاحبین په نزد حانث ده دوی وائی چی کوم شي چی له ډوډی سره خوړل کیږی هغه له ډوډی سره موافق ده اودادری مذکوره شیان چونکه له ډوډی سره خوړل کیږی لهذا ددوی په خوړلوسره قسم کونکی حانث اوهمدارنګه نبی کریم ﷺ سیّد ادام اهل الجنة اللحم دجنتیانو ستر کتغ غوښه ده په دی حدیث کنبی په غوښه داادام اطلاق شوی ده.

دامام اعظم رحمة الله علیه **جواب** :دامام صاحب له طرفه داجواب ورکول کیږی چی دمذکوره شیانو که څه هم له ډوډی سره موافقت سته لیکن په کامله طریقه ئی موافقت نسته په کامله طریقه موافقت هغه وخت ده چی دده اود ډوډی مکمل اختلات (ګډوالی) راشی اودحدیث جواب ئی داده چی ددی حدیث تعلق له آخرت سره ده اوزموږ خبره له ددی دنیاسره تعلق لری لهذا په حدیث سره استدلال صحیح نه ده.

ثُمَّ فَوقَ المشكل المَجمَلُ وَهوَ مَا اِحتَمَلَ وُجُوهاً فَصَارَ بِحَالٍ لَايُوقَفُ عَلَي المُرَادِبه الاّ بِبَيانٍ مِن قِبَلِ المُتَكَلِّم .

ترجمه : اوبیاترمشکل لوړ مجمل ده مجمل هغه کلام ده چی دځوصورتو احتمال لری په داسی حال کنبی چی دهغه پرمراد بیله له بیانه دمتکلم خبرتیانه حاصلیږی.

تشریح : دمفسر ضد مجمل ده دی ماخوذ ده له اجمل علیهم الامر ځکه دا هغه وخت ویل کیږی چی په خلکو باندی کار مشتبه (شکمن) شی مصنف رحمة الله علیه وائی چی مجمل په خفاء کښی تر مشکل زیات ده وجه ئی داده چی دمشکل مراد له طلبه اوفکره وروسته معلومیږی اودمجمل مراد له طلبه اوفکره وروسته دمتکلم په بیان سره معلومیږی لکه مصنف رحمة الله علیه چی وائی مجمل هغه کلام ده چی ځوصورتوا احتمال لری اوده پرمراد باندی خبرتیا بغیر له بیانه دمتکلم نه حاصلیږی اوداخبره یادلره چی مجمل چی کوم بیان دمتکلم ته احتیاج لری هغه دری صورته لری (۱) داده چی متکلم کافی اوشافی بیان وکړی لکه صلوة اوزکواة چی دواړه مجمل دی لیکن صاحب شریعت آنحضرت ﷺ ئی په خپلواقوالواو افعالوسره داسی واضح اوتفصیلی بیان کړی ده چی هیڅ شبه هم باقی نه وی پاته (۱) دوهم بیان شافی غیر قطعی ده یعنی بیان شافی ده لیکن قطعی نه بلکه ظنی ده لکه دمسح دسر په باره کښی الله فرمائی وامسحوابرؤسکم دلته باء دتبعیض لپاره ده لهذا داآیت دبعض سردمسح په باره کښی مجمل ده یعنی له دی آیت ځخه دامعلومه شوه چی دبعض سر مسح فرض ده لیکن دانه ده معلومه چی کوم بعض مراد ده اوبیاچی ئی په حدیث دمغیره بن شعبه سره بیان شوی ده چی نبی کریم ﷺ په ناصیه باندی مسح وکړه نودمسح دبعض سر په سلسله کښی چی کوم احتمال وو هغه پورته شو لیکن حدیث دمغیره بن شعبه چونکه خبر واحد ده لهذا مفید دظن ده نودابیان دنبی کریم ﷺ شافی ده لیکن ظنی ده له داسی شافی اوظی بیانه وروسته مجمل موؤل گرزی (۳) داده چی بیان شافی نه وی بلکه غیر شافی وی اوله بیان غیر شافی وروسته مجمل مشکل گرزی داوخت مجمل هغه حکم ده کوم حکم چی دمشکل ده.

وَنَظِيرُهُ فِي الشَّرعِيَاتِ قَولُهُ تَعَالي حَرَّمَ الرِّبٰوي فَاِنَّ المَفهُومَ مِنَ الرِّبٰوي هُوَ الزِّيَادَةُ المُطلَقَةُ وَهِيَ غَيرُمُرَادَةٍ بَلِ المُرَادُ الزِّيَادَةُ الخَالِيَةُ عَنِ العِوَضِ فِي بَيعِ المُقَدَّرَاتِ المُتَجَانِسَةِ وَاللَّفظُ لَادَلَالَةَ لَهُ عَلَي هٰذَا فَلَايَنَالُو المُرَادُ بِالتَّامُّلِ.

ترجمه : اوده نظیرپه شرعی احکاموکښی داقول دالله ﷻ حَرَّمَ الربوی ، ده ځکه دربوی مفهوم مطلقاً زیادت ده اوهغه مراد نه ده بلکه هغه زیادت مراد ده چی مکیلات اوموزونات دخپل هم جنسه په عوض کښی بیع کړشی اوزیادت له عوضه خالی وی اولفظ ربوی پردی خاص زیادت باندی دلالت کوی لهذا مراد دتامل په رزیعه سره حاصل نه شو.

تشریح : مصنف رحمة الله علیه په احکاموشرعی کښی دمجمل مثال ذکرکوی چی داآیت ده حَرَّمَ الربوی دلته ربوی مجمله ده په دی طریقه چی درباء معنی مطلقاً زیادت ده اوداخبره ثابته چی مطلقاً زیادت حرام نه ده ځکه بیع دزیادت اونفع لپاره مشروع شوی ده حاصل داده چی هر زیادت حرام نه ده بلکه په بعض صورتوکښی حلال ده اوپه بعض صورتوکښی حرام ده مصنف رحمة الله علیه داوائی چی مطلقاً زیادت حرام نه ده بلکه هغه زیادت حرام ده چی مکیلات اوموزونات دخپل هم جنسه په عوض

کښې خرخ کړشي اودزيادت عوض نه وي دا مراد نه درباء دمعنی له طلب کولو څخه معلوميږي او نه په تأمل اوفکرسره معلوميږي نوځکه ددې زيادت په باره کښې لفظ درباء مجمل ده او ددې اجمال دلرې کولو لپاره اودمعنی مراد معلولو لپاره صاحب شريعت انحضرت ﷺ ويلي دي.

الحنطة بالحنطة والشعير بالشعير والتمر بالتمر والملح بالملح والذهب بالذهب والفضة بالفضة مثلاً بمثلٍ يداً بيدٍ والفضل ربوی

ربوی يعنی په شپږوشيانو کښې که هريو دخپل هم جنسه په عوض کې خرخ کړشي اوددواړه برابر وي اوددواړوقبض په هغه مجلس کې وشي اوکله يوطرف زيات وي هغه ته ربوی ويل کيږي اوشرعاً حرامه ده په دې حديث شريف کښې دشپږوشيانو حال معلوم شو ليکن له دوی نه بغير دنوروحال معلوم نه شو نوځکه حضرت عمرؓ ويلي دي چې نبی کريم ﷺ له دنيا څخه رخصت شواومونږ ته دربوی دمسئلې وضاحت ونه کړ حاصل داده چې دنبی کريم ﷺ دابيان غير شافي ده لهذا په مذکوره شپږوشيانو کښې درباء حکم موو‌ّل ده اوپه نورو کښې مشکل ده اومشکل لپاره چونکه دطلب اوتعامل ضرورت وو لهذا مجتهدينو له غوره اوفکره وروسته درباء دعلت استنباط وکړ لکه حضرت امام ابوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ چې وائي درباء علت کيل اوياوزن سره له جنسه ده اوشوافع وائي چې درباء علت په مطعوماتو کښې طعم ده اوپه اثمان کښې ثمن ده اومالکيه کښې وائي چې درباء علت.

ثُمَّ فَوقَ المجملُ فی الخفاءِ المُتَشابَهُ مثالُ المُتَشابِه الحُرُوفُ المُقَطَّعَاتِ فِی أَوَائِلِ السُّوَرِ وَحُکمُ المَجمَلِ وَالمُتَشابِه اعتِقادُ حَقيَةِ المُرادِ بِه حَتّي ياتِيَ البَيَانُ .

ترجمه : اوبياپه خفاء کې زيات ترمجمل متشابه ده چې دمتشابه مثال حروفومقطعات دي په اول دسورتوکې اودمجمل اومتشابه حکم داده چې ددوی پرمراد باندې دحقيقت اعتقاد کول تردې وخته چې بيان راځي.

تشريح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائي چې ترمجمل په حفاء کښې زيات متشابه ده يعنی په آخری درجه دخفاء کښې متشابه ده لهذا ضددهغه ده چې هغه په آخری درجه دظهورکښې وي دفقهاء په اصطلاح کښې متشابه هغه کلام ده چې دمراد دحاصلولوئي يوه لاره اواميد نه وي متشابه دوه قسمه ده.

اول قسم : اول قسم دُمتشابه هغه ده چې دهغه بالکل نه لغوی معنی معلومه وي اونه ئې اصطلاحی معنی معلومه وي لکه حروف مقطعات.

دوهم قسم : دوهم قسم دمتشابه هغه ده چې لغوی معنی ئي معلومه وي ليکن معنی مراد نه وي معلومه څکه متشابه په لغوی اوظاهری معنی کې دمحکم مخالف لکه يدالله ، وجه الله ، الرحمن علی العرش استوی په دې آيت کښې دلفظ ديد معنی لاس ده اودلفظ دوجه معنی مخ ده اودلفظ داستوی معنی سيده دريدل ده دامعنی خوئې معلومه ده ليکن دانه ده معلومه چې له دې شيانو څخه دالله ﷻ څه شی مراد ده اومتشابه چې کله دمحکم مخالف وو په لغوی اوظاهری معنی کښې او دا آيت ليس

کښلہ شوې په دی باره کښی چی الله ﷻ لره مثل نشته محکم ده او داخبره ئی ثابته کړه چی په مذکوره متشابهاتو کښی په ید (لاس) سره داسی لاس نه ده مراد لکه انسان او مخ سره داسی مخ نه ده مراد لکه دانسان او په ناستی سره داسی ناسته نه ده مراده لکه دانسان بلکه دی شیانو څخه دالله ﷻ نورشیان مراد دی چی یقینی او قطعی علم ئی صرف له الله ﷻ سره ده مصنف رحمة الله علیه وائی دمجمل اومتشابه اومحکم حکم ددوی دمراد دحقیقت اعتقاد ده ترهغه وخته چی بیان راځی یاپه دنیا کښی لکه دمجمل اویاپه آخرت کښی لکه دمتشابه دایعنی دابه وائی په مجمل او متشابه سره چی دالله ﷻ کوم شی مراد ده هغه حق ده که څه هم زموږ په هغه علم نسته او دا اعتقاد له دی وجه ضروری ده چی داکلام له حکیم صادق څخه صادر شوی ده او داسی حکیم مهمل کلام نه وائی لهذا مجمل اومتشابه مهمل کلام نه دی.

او داخبره یادلره چی تربیان مخکی چی مراد معلوم نه ده داخاص په امت پوری ده ځکه رسول کریم ﷺ په دی مراد خبرده دلیل داده چی که چیری نبی کریم ﷺ ته هم مراد معلوم نه وی بیا دالله خطاب ده ته بی فائدی ده اوباطل ده نعوذبالله په دی سره خو الله ﷻ ته مهمل خطاب منسوب شو مطلب داده چی نبی کریم ﷺ ته په داسی حال کښی په مجمل اومتشابه خطاب کول چی ده ته ئي مراد معلوم نه وی باطله ده اوشی چی مستلزم وابطال ته وی هغه په خپله باطل ده نونبی کریم ﷺ ته په هغه مجمل اومتشابه چی د ته ئی مراد معلوم نه وی خطاب کول باطل ده زموږ ددی خبری اثبات دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دی قول في کل کتاب سر وسر الله في القرآن هذا الحروف په هرکتاب کښی یوراز وی اوپه قرآن کښی دالله ﷻ اورسول ﷺ راز داحروف دی نونبی کریم ﷺ دمتشابهاتو راز دار هغه وخت کیدای شی چی دی مبارک ئی په مراد خبر وی حاصل داده چی داخبره ثابته شوه چی دمتشابهاتو مراد که څه هم امت ته معلوم نه ده لیکن نبی کریم ﷺ ته معلوم ده زیات تحقیق داحقر په کتاب قوت الاخیال اوفیض سبحانی کښی وګوری.

فَصلٌ فیمَا یترک به حَقَائقُ الاَلفَاظ

فَصلٌ فیمَا یترک به حَقَائقُ الاَلفَاظ وَمَایترک به حَقیقَةُ الَفظ خَمسَةُ اَنواعٍ اَحَدُ هَا دَلَا لَةُ العُرف وذالکَ لاَ نَ ثُبُوت الاَحکَام با لاَ الفَاظ انَمَا کَا نَ لدَلاَلَةَ اللَفظ عَلَي المَعني المُراد للمُتَکَلم فَاذَا کَانَ المَعني مُتعَا رِفاً بَینَ النَا سِ کَانَ ذالکَ المعنَي المُتَعَارَفُ دَلِیلاً عَلي اَنَهُ هُوَ المُرَادُ بِه ظَا هراً فَیتَرَتَبُ عَلَیه الحُکمُ .

ترجمه :دافصل دهغو شیانو په بیان کښی ده چی دهغو په زریعه سره دالفا ظو حقیقی معنی پر ینبودل کیږی او هغه شیا ن پنځه قسمه دی له هغو څخه یو دلا لت دعرف ده ځکه چی احکام په الفا ظو سره هغه وخت ثا بیتیږی چی لفظ دمتکلم پر معنی مراده دلالت وکړی نو کله چی معنی دخلکو

په مینځ کښې متعا رفه شي هغه متعارفه معنی پر دی دلالت کوی چی ظاهراً دغه متعارف معنی مراد ده له لفظه لهذا په دی معنی با ندی حکم مرتب ده.

تشریح : په دی فصل کښې مصنف رحمه الله دهغو ځایو بیا ن کوی چی هلته معنی حقیقی پر ېښودل شوی وی او په معنی مجازی سره عمل شوی وی مصنف رحمه الله وائی چی هغه پنځه ځا یه دی اول دلالت دعرف ده عرف دوه دی یو عام او بل خاص ده دعرف عام مطلب داده چی ټول خلکو عرف اود عرف خاص مطلب داده چی دمخصوص جماعت عرف اودلالت عرف مطلب داده چی لفظ دعرف عام یا خاص په وجه په یو معنی کښې مشهور وی چی هغه معنی غیروی دلفظ له حقیقی معنیٰ څخه په دی صورت کښې دلفظ حقیقی معنی مرادنه وی بلکه هغه متعا رفه معنی مراد وی دلیل ئی داده چی احکام په الفاظو سره ثابت وی او لفظ پرهغه معنی دلالت کوی چی دمتکلم مراد وی نو که دلفظ داسی معنی موجوده وی چی دخلکو په مینځ کښې متعارفه (مشهور) وی دامعنی ددی دلیل ده چی له دی لفظه دامعنی مراد ده نو کله چی دامعنی دمتکلم دمراد دلیل وه نوحکم پردی معنی باندی مرتب ده او حقیقی معنی پر ېښودل کیږی اودا خبره یا دلره چی دعرف ددلالت په وجه حقیقی معنی هغه وخت پر ېښودل کیږی چی معنی حقیقی مستعمله نه وی او که حقیقت مستعمل وی دامام صا حب په نزد تر مجاز په حقیقت سره عمل کول بهتره ده.

مثالُهُ لَو حَلَفَ لَا يشتَرِي را ساً فَهوَ عَلي مَا تَعَارَفَهُ النّا سُ فَلَا يحنَثُ برائسِ العَصفو رِ وَالحَما مَة وَكَذالِكَ لَو حَلَفَ لَا يا كُلُ بَيضاً كَانَ ذَالِكَ عَلي المَتَعَارَف فَلاَ يحنَثُ بِتَنَا وُلِ بَيضِ العَصفورِ وَالحَمَامَة

ترجمه :دعرف ددلالت په وجه دحقیقت دپر ېښودلو مثال که ئی قسم وکړچی سر نه اخلم نو دا قسم پر هغوسرو باندی محمول ده چی دخلکو عرف باندی راغلی وی نو نه حانث کیږی په سر د مرغی او کوتری او که ئی قسم وکړ چی هګی نه خورم له دی څخه هغه هګی مراد ده چی عرف باندی وی دمرغی اوکوتر دهګی په خوړلو نه حانث کیږی.

تشریح :دعرف ددلالت په وجه دحقیقت دپرېښودلو مثال مصنف رحمه الله داذکر کو ی چی که یو شخص قسم وکړی والله لا اشتری راساً په خدای قسم که سرواخلم دقسم کونکی دا کلا م صرف هغو سروته شا مل ده چی په عرف کښې دهغو اخستل او خرڅول کیږی لکه دموږه،غوا ، وزی) وغیره سرونه اود کومو سروچی خر څول اواخستل عادت نه وی دهغه په اخستلو سره نه حا نث کیږی مثلاً لکه دکوتری او مرغی سرکه څه هم لفظ دسر ورله شامل ده لیکن دخلکوعرف داسی نه ده چی دکوتری اومرغی سرا خلی لهذا دعرف په وجه دا حقیقت پرېښودل شو اوهمدارنګه که یو شخص قسم وکړی والله لا اکل بیضاً قسم په خدای که هګی وخورم داقسم کونکی داکلام صرف هغوهګیوته شامل ده چی دهغو خوړل په خلکوکښې مشهوره وی اوهغه هګی چی خوړل ئی په خلکو کښې

مشهور نه وی لکه دمرغی ،کوتری وغیره هغو ته کلام شامل نه ده لهذا که قسم کونکی دمرغی اوکوتری هگی وخوری نه حانث کیږی اوکه دچرگی وغیره هگی وخوری حانث ده.

فائده: داخبره ښکاره ده چی عرف بدلیږی لکه په یوزمانه کښی دچرگی هگی خوړل کیږی دکوتری وغیره دانه خوړل کیږی اوبله زمانه داسی وی چی دکوتری وغیره هگی خوړل کیږی دچرگی دانه خوړل کیږی مطلب داده چی دعرف بدلیدو سره حکم هم بدلیږی.

وَبِهذَا ظَهَرَ اَنّ تَركَ الحَقِيقَةِ لاَيُوجِبُ اَلمَصِيرَ اِلي المَجَازِ بَل جَازَ اَن تَثبُتَ بِه اَلحَقِيقَةُ القَاصِرَةُ وَمِثَالُهُ تَقيدُ العَامِ باالبَعضِ وَكَذَالِكَ لَونَذَرَ حَجّاً اومَشيا اِلي بَيتِ الله تَعَالي اَو اَن يَضرِبَ بِثَوبِه حَطِيمَ الكَعبَةِ يَلزَمُهُ الحَجُّ بِاَفعَالٍ مَعلومٍ لِوُجُودِ العُرفِ.

ترجمه: اوله دی څخه داظاهره شوه چی دحقیقت پریښودل رجوع ومجازته نه واجبوی بلکه په دی سره دحقیقت قاصره ثبوت ممکن ده اوددی مثال عام مقید کول په بعض سره په دی طریقه چی که ده نذرکی حج اویاتگ کول وبیت الله ته اویا په خپلو جامو سره حطیم دکعبی وهل نو پرده باندی حج کول په معلوموافعالو سره واجب ده ځکه عرف موجود ده.

تشریح: په دی عبارت کی مصنف رحمة الله علیه یوه قاعده بیانوی هغه داده چی لمخکنیو دوو مسئلو څخه داخبره ظاهر شوه چی کچیرته حقیقت پریښودل شی نو دمجاز طرفته رجوع کول ضروری نه ده ځکه کله کله دحقیقت په ترک سره حقیقت قاصره هم مرادیږی حقیقت قاصره داده چی دحقیقت بعض افراد مراد شی مثلاً لفظ رأس څخه دغوایی او وزی وغیره سرمراد کړشی اوله لفظ بیض دچرگی هگی مراد کړشی داحقیقت قاصره ده حاصل داده چی په مخکنیودوو مسئلو کښی حقیقت قاصره مراد کړشوی ده مجازته تگ نه ده شوی داورڅخه معلومه شوه دحقیقت په پریښودلو سره مجازته رجوع ضروری نه ده بلکه کله کله حقیقت قاصره هم مرادیږی.

مصنف رحمة الله علیه وائی چی دحقیقت قاصره مثال داده چی عام په بعض افراد سره مقید کړی یعنی که دعام بعض افراد خارج کړی له حکمه اوبعض افراد پریږدی دی ته حقیقت قاصره وائی او همدارنگه که مطلق په یوقید سره مقید کړشی ورته حقیقت قاصره ویل کیږی مصنف رحمة الله علیه وائی لکه څرنگه چی په مخکنیو دوو مسئلوکښی حقیقت پریښودل شوی ده او حقیقت قاصره مراد ده دارنگه په دی مسئلوکښی هم حقیقت پریښودل شوی ده اوحقیقت قاصره مراد ده اوله مسئله داده که یو شخص پرځان باندی حج نزرکی نو پرده باندی هغه حج لازم ده چی په خلکوکښی مشهور وی یعنی داحرام طواف عرفات منی مزدلفه په افعالوسره اودحج لغوی اوحقیقی معنی مرادکول دعرف په وجه پاته ده.

دوهم مسئله که یوشخص وبیت الله شریفی ته په پښوتګ پرځان نذرکی نوپرده باندی په دغه طریقه حج کول لازم ده یعنی په پښوورتلل اوبیاشرعی حج کول فرض ده دتجارت اوعمری لپاره په پښوتلل نه ده مراد په خلکو کښې اوله معنی مشهوره ده لهذا اوله معنی مراد ده.

که یوشخص داپرځان نذر کړوچی حطیم دکعبی به په خپلوکپړوباندی وهی له دی ځخه مطلق کپړی وهل مراد نه ده بلکه حج شرعی مراد ده ځکه داکلام په حج شرعی کښې متعارف ده.

وَالثّانی قدتُترک الحَقِیقَۃُ بِدلَالَۃ فِي نَفس الکلامِ مثَالُہٗ اذاقَال کُلُ مَملُوک لِي فَھُوَ حُرٌ لَم مُکَاتَبُوہٗ وَلاَ مَن أعتِیقَ بَعضُہٗ الاّ اذَا نَوِي دُخُولَھُم لاَنَ المَملُوک مُطلَقٌ یَتَنَاوَلُ المَملُوکَ من کُلّ وَجہٍ وَالمُکَاتَبُ لَیسَ بِمَملُوک من کُلّ وَجہٍ وَلِھٰذَا لَم یَجُز تَصَرُّفُہٗ فِیہِ وَلاَ یَحِلّ لَہٗ وَطیءُ المُکَاتَبَۃ وَلَوتَزَوَّجَ المُکَاتَبُ بِنتَ مَولاَہٗ ثُمَّ مَاتَ المَولِي وَوَرِثَتہُ البِنتُ لَم یفسد النّکَاحُ وَاذا لَم یکُن مَملُوکاً من کُلّ وَجہٍ لاَیدخُلُ تَحتَ لَفظ المَملُوک المُطلَقِ وَھٰذا بِخلاَاالمُدَبّرِ وَأمّ الوَلَد فَاَنّ المِلک فِیھَا کَاملٌ وَلذَا اَحَلّ وَطيءُ المُدَبَّرِۃ وَأمُ الوَلَد وَانّمَا النُقصَانُ فِي الرّقِ من حَیثُ اَنّہٗ یَزُولُ باالموت لاَمَحَالَۃَ .

ترجمه : کله حقیقت دنفس کلام په وجه پرېښودل شوی وی ددی مثال داده که ئی وویل چی زما هر مملوک آزاد ده نودده مکاتب نه ده آزاد اوهغه غلام هم نه ده آزاده چی بعض برخه ئی آزاده شوی وی لیکن هغه وخت داخل ده که ددخول نیت شوی وو ځکه مملوک مطلق ده ومملوک من کل وجة ته شامل ده اومکاتب خومملوک من کل وجه نه ده له دی وجه ځخه په مکاتب کښې دمولی تصرف جائز نه ده اونه له مکاتبی سره وطی کولای شی اوکه مکاتب دخپل مولی لورپه نکاح کړه اوبیائی مولی مړ شو اوددهلور وارثه دمکاتب شوه نکاح ئی نه ده فاسده نوکله چی مکاتب من کل وجه نه وو نوترلفظ مملوک چی مطلق ده لاندی نه ده اوداحکم دمدبر اواوم الولدی نه ده ځکه په دوی دواړو کښې ملک کامل ده اوددی ملک په وجه له مدبر اوام الولدی سره وطی حلالی دی اوپه دوی کښې چی کوم نقصان ده هغه په رق کښې ده پردی معنی چی له مرګه وروسته یقیناً زائلیږی.

تشریح :دوهم هغه ځای چی په هغه کښې حقیقت پرېښودل کیږی داده چی لفظ په خپله پرهغه دلالت کوی یعنی دلفظ دلالت په وجه هم حقیقت پرېښودل کیږی اودفی نفسه دلالت معنی دا چی لفظ دخپل ماخذ اشتقاق اومادی په اعتبار دلالت کوی نه دخپل اطلاق په اعتبار مثلا لفظ دداسی معنی لپاره وضع شوی وی چی هغه کښې قوی وی نوپه ده سره هغه لفظ خارج شو چی په هغه کښې دغه معنی ضعیفه وی اویا بالعکس حاصل داده چی دالفظ دخپلی وضعی معنی په اعتبار عام طور ټولوافرادوته شامل ده لیکن دماخذ اشتقاق اومادی په اعتبار تربعضو افرادوخاص وی نوکه دماخذ اشتقاق اومادی په اعتبارسره لفظ پر زیات معنی دلالت کوی نوددی ځخه هغه افرادخارج دی چی په هغوکښې دامعنی ناقصه وی اوکه ئی دماخذ اشتقاق په وجه پرناقصه معنی دلالت کاوو بیاله دی ځخه هغه افراد خارج دی چی په هغوکښې دامعنی زائده

وی که څه هم معنی زائده ددی لفظ حقیقی معنی ده داسی لفظ ته مشکک ویل کیږی ځکه کلی مشکک هم هغه کلی ته ویل کیږی چی پربعض افراد ئي دلالت په زیادت سره وی اوپربعض افرادئی په نقصان سره وی مثلاً ابیض (سپین) یوکلی ده پرشیدوباندی ئی دلالت په قوت اوزیادت سره ده اوپرغابن ئی دلالت په ضعف اونقصان سره ده دنفس کلام ددلالت په وجه دحقیقت پربینبو دلو مثال مصنف رحمه الله ذکرکوی هغه داده چی که یوشخص وویل کل مملوک لی فهو حر زما هریوغلام آزاد ده په سره مکاتب اوهغه غلام چی بعض برخه ئی آزاده شوی وی نه آزادیږی لیکن که دهغه دآزادوالی نیت مولی وکړی بیادی هم آزادیږی دلیل ئی داده چی په کل مملوک کښی لفظ دکل مطلق ده اوپه مطلق هغه وخت عمل کول کیږی چی فردکامل ورڅخه ایراده کړشی اودمملوک فرکامل هغه چی هغه مملوک من کل وجه وی یعنی په هر اعتبار سره مملوک وی اودمکاتب چونکه رفیه مملوک ده اوید ئی نه ده مملوک لهذا مکاتب په هر اعتبار سره مملوک نه ده بلکه من وجه مملوک ده اومَن وجه آزاد ده نوکله چی مکاتب داسی وو لهذا په ده کښی مولی دبیع اوهبی وغیره تعریف نه شی کولای اونه له مکاتبی سره وطی کولای شی اوکه من کل وجه مملوک وائي مذکوره ټول تعریفات مولی ته جائز وو اودمکاتب پرنه ملکیت من کل وجه باندی مصنف رح یره تفریع کوی هغه داده چی که مکاتب دخپل مولی له لورسره نکاح وکړی اوبیامولی مړشو اوده وارث دمکاتب شوه نکاح ئی نه ده فاسده نوکه مکاتب من کل وجه مملوک وائی بایدنکاح فاسده شوی وای ځکه هریوله خاوند اوښځی څخه یودبل مالک شی نکاح ئی فاسده ده .

سوال : زموږپه مذهب خوپه مکاتب کښی میراث نه جاری کیږی نومصنف رحمه الله وائی وورثته البنت .؟

جواب : جواب داده دمصنف رحمه الله مکاتب سی دمولی دلورمیراث جوړیږی هغه دعقد کتابت په وجه حاصل داده چی مکاتب چونکه من کل وجه مملوک نه ده نودی تر مملوک لفظ لاندی نه ده داخل او آزاد نه ده اوهمدارنګه معتق البعض هم چونکه من کل وجه مملوک نه ده نوتر لفظ مملوک نه ده لاندی مصنف وائی چی مدبر اوام الولد حکم له مکاتب اومعتق البعض څخه مخالف ده یعنی داتر دی مطلق لاندی دی اوپه دی لفظ سره آزادیږی ځکه پردوی باندی دمولی ملک تام ده ځکه مولی پردوی هم یداً ملک لری اوهم رقباً اوځله مدبری اوام الولدی سره مولی ته وطی کول هم جائز ده .ولهذا النقصان په دی کلام سره مصنف رحمه الله دیوسوال دفع کوی.

سوال : سوال داده چی په مدبر اوام الولد ه کښی چی دمولی ملک تام وو نودوی باید په کفاره کښی آزادکړ شی اوحال داده چی دوی په بدل دکفاری کښی نه آزادیږی. ؟

جواب : جواب داده چی په دوی کښی که څه هم ملک تام ده لیکن په دوی دواړو کښی رقبه ناقصه ده داځکه چی تدبر او استلاد تعصر ف لازمه دی په یوحال کښی هم تغیر نه خوری یعنی که مولی

غلام مدبر کړ او یائی مینځه ام الولده کړه یقیناً دده له مرګه وروسته آزاد دی نو ځکه په دوی کښې رقبه ناقصه ده او دا نقصان چونکه دکفاری مانع وو لهذا دوی په کفاره کښې آزادول جائز نه ده.

وَعَلٰى هٰذَا قُلْنَا اِذَا اَعْتَقَ الْمُكَاتَبَ عَنْ كَفَّارَةِ يَمِينِهٖ اَوْظِهَارِهٖ جَازَ وَلَايَجُوْزُ فِيْهِمَا اِعْتَاقُ الْمُدَبَّرِ وَاُمِّ الْوَلَدِ لِاَنَّ الْوَاجِبَ هُوَ التَّحْرِيْرُ وَهُوَ اِثْبَاتُ الْحُرِّيَّةِ بِاِزَالَةِ الرِّقِّ فَاِذَاكَانَ الرِّقُّ فِي الْمُكَاتَبِ كَامِلاً كَانَ تَحْرِيْرُهٗ تَحْرِيْراً مِنْ جَمِيْعِ الْوُجُوْهِ وَفِي الْمُدَبَّرِ وَاُمِّ الْوَلَدِ لَمَّا كَانَ الرِّقُّ نَاقِصاً لَايَكُوْنُ التَّحْرِيْرُ تَحْرِيْراً مِنْ كُلِّ الْوُجُوْهِ .

ترجمه : اوبناء پردی باندی موږ وایو که مولی مکاتب په کفاره دیمین اویاظهار کښې آزاد کی جائزده او ددوی دواړو په کفاره کښې مدبراو ام الولده نه آزادیږی ځکه په کفاره کښې خو آزادیدل واجب ده او آزادیدل دی ته وائي چی رقیت زائل شی چونکه په مکاتب کښې رقیت کامل وو لهذا دده آزادیدل په هره وجه سره تحریر ده او په مدبر اوام الولده کښې چونکه رقیت ناقص وو لهذا ددوی آزادیدل من کل وجه تحریرنه ده.

تشریح : مخکښې داخبره یاده شوه چی دمولی په دی قول کل مملوک لی فهو حر سره مکاتب نه آزادیږی اومدبر اوام الولد آزادیږی ځکه په کل مملوک کښې مملوک مطلق ده اوله مطلق ځخه فرد کامل مرادیږی او په مکاتب کښې چونکه ملک دمولی کامل نه وو صرف رقبه ئی دمولی ملک وه ید ئی نه ده دمولی ملک لهذا په دی قول سره نه آزادیږی او په مدبر اوام الولده کښې چونکه دمولی ملک پوره (کامل) وو لهذا دوی په دی قول سره آزادیږی او د رقیت په باره کښې داخبره بالعکس ده یعنی په رقیت (غلاموالی) کښې مکاتب کامل ده او په ام الولد اومدبر کښې ناقص ده په دی عبارت کښې مصنف رحمة الله علیه وائی چی ددی فرق ښکاره ده اوددی فرق پربناء موږ وایو که حانث یمین اویاد ظهارپه کفاره کښې مکاتب آزادکی داجائز ده اوکه ئی مدبر اوام الولده آزاد کړنه ده جائز وجه ئی داده چی په دی آیت فتحریر رقبة سره تحریر واجب ده اوتحریر دی ته وائی چی رقیت زائل شی نو په کوم کښې چی رقیت کامل وی دهغه آزادیدل جائز ده لکه مکاتب او په کوم کښې چی رقیت ناقص وی دهغه آزادیدل نه ده جائزلکه ام الولده اومدبر او په مکاتب کښې رقیت په دی وجه کامل ده چی کوم شی چی دده دآزادوالی سبب لکه عقدکتابته هغه لازمی نه ده فسخ کیدای شی نوچی کله دافسخ کیدای لهذاپه ده کښې رقیت کامل او په ام الولده اومدبر ددوی دواړو کښې رقیت ناقص ده ځکه درقیت سبب چی تدبیریعنی داقول دمولی وغلام ته چی ته زماله مرګه وروسته آزاد ئی اواستیلاد دواړه لازمی دی فسخ قبلوی لهذا په دوی کښې رقیت ناقص ده اودمولی له مرګه بعددواړه آزاد دی حاصل داده چونکه په مدبر اوام الولده کښې آزادیدل لازمی وو لهذا په دوی کښې رقیت ناقص ده او په مکاتب کښې چونکه آزادوالی لازمی نه وو لهذا په ده کښې رقیت کامل ده اودآزادوالی دامراد درقیت پرزائل والی باندی ده نو په کوم کښې چی رقیت کامل وی لـ

مکاتب په هغه کښې تحریررا تلای شي او په کوم کښې چې رقیت ناقص وی لکه مدبر او ام الولده په هغه کښې تحریرنشي راتلای نو په مذکوره مسئله کښې د مکاتب آزادیدل جائزده ځکه رقیت ئې کامل ده اومدبر او ام الولده آزادیدل جائزنه ده ځکه رقیت ئې ناقص ده ځکه په مکاتب کښې تحریر من کل وجه ده په دی وجه چې رقیت ئې کامل ده او په ام الولده اومدبر کښې چې رقیت کامل نه ده لهذا تحریرئې هم من کل وجه نه ده.

فائده : مکاتب هغه غلام ته وائي چې ده ته خپل مولی ووائي چې که دی دومره مال راکړ ته آزاد ئې اودی داقبول کړی دی ته عقد کتابت ویل کیږی اومدبر هغه غلام ته ویل کیږی چې د ته مولی ووائي چې ته زما له مرګه وروسته آزادئې او ام الولده هغې مینځې ته ویل کیږی چې دی د مولی دله نطفې څخه اولاد راوړی وی اومولی هم وائي چې دا اولاد ئې له ما څخه ده.

وَالثَّالِثُ تُترَکُ الحَقِيقَةُ بِدَلَالَةِ سِيَاقِ الكَلَامِ قَالَ فِي السِّيَرِ الكَبِيرِ اِذَاقَالَ اَالمُسلِمُ لِلحَربِي اُنزِل کَانَ امناً وَلَو قَالَ انزِلَ ان کُنتَ رَجُلاً فَنَزَ لَ لاَ يکُونَ امناً وَلَو قَالَ الحَر بِي اَلاَمَانَ اَلاَمَانَ کَانَ امناً وَلَوقَالَ اَلاَمَانَ سَتَعلَمُ مَاتَلقِي غَداً وَلاَيجعَل حَتّي تَرَي فَنَزَلَ لاَيکُونُ امناً .

ترجمه : اودریم ځای داده چې حقیقت په دلالت دسیاق سره پریښودل کیږی امام محمد رحمه الله په سیرکبیرکښې لیکلی دی که مسلمان وحربي ته وویل راکښته ته شه نوهغه لره امن ده اوکه ئې ورته وویل چې که نر ئې راکښته به شي اوهغه راکښته شو امن ئې نشته اوکه حربي وویل ماته امان راکه ماته امان راکه اومسلمان ورته وویل امان ده امان ده دی دامن والا ده اوکه مسلمان ورته وویل چې امان زر ده چې ته به پوه شي په هغه شي چې ته ساورسره ملاقي کیږی ته تلوار مه کوه تروخته چې ته ئې ویني اوهغه راکښته شي امن ئې نشته.

تشریح : دریم ځای له هغوځایونوڅخه چې هلته حقیقت پریښودل کیږی دلالت دسوق دکلام ده ددلالت دسوق دکلام داده چې داسی کلام راوړل شي چې له هغه سره لفظي قرینه خواه که پرکلام مخکې وی اوکه وروسته وی موجوده وی اوهغه قرینه پردی دلالت کوی چې دلته حقیقي معنی مراد نه ده امام محمد رحمه الله په سیر کبیر کښې څومسائلې ذکرکړی دی چې ددی لپاره مثال جوړیدای شي مثلا امام محمد رحمه الله ووائي که یوحربي ته چې هغه په قلعه کښې بند وو مسلمان وویل راکښته سه اوهغه هم سمدستي راکښته شو دلره امن ده اوکه مسلمان داسې ورته وویل ان کنت رجلا راکښته شه که ته نر ئې اوهغه هم سمدستي راکښته شو دی حربي لره امان نشته ځکه که څه هم دالفظ داجازی په معنی ده لیکن ددی حکم ان کنت رجلا په قرینه سره معنی حقیقي پریښودل شوی ده ځکه دالفظ په داسی ځای کښې استعمالیږی چې دمتکلم مراد زجر اوتوبیخ وی مطلب داده چې په سیاق دکلا یعنی ان کنت رجلا سره دانزل حقیقي معنی متروکه ده او پرمجازي معنی ئې یعنی زجراوتوبیخ باندی محمول ده.

اوکه حربی وویل الامان الامان ماته امان راکه ماته امان راکه او مسلمان هم په جواب کښی ورته وویل الامان الامان ماتاته امان ذرکړی ماتاته امان درکړی نو په دی کلام سره حربی راکښته شو ده لره امان ثابت ده لیکن که مسلمان په جواب کښی ورته ووائی الامان ستعلم ماتلقی غداً ولاتعجل حتی تری هوامان به تاته معلوم شی سباه چی ته له څه سره مخاخ کیږی ته تلوارمه کوه په داسی ویلو سره بیا امان حربی لره نه ثابتیږی ځکه دا کلام پردی باندی دلالت کوی چی معنی حقیقی نه ده مراد.

وَلَوقَالَ اشتَرلی جَارِيَةً لِيَتَخدمني فَاشتَري العُمياءَ اَوالسَلاءَ لاَيجُوزُ وَلَوقَالَ اشتَرلي جَارِيَةً حَتّي اَطَاهَا فَاشتَرَ اُختَهُ مِنَ لرِضَاعِ لاَيكُونُ عن المُوَكّلَ وَعَلَي هَذَا قُلنَا في قَوله عَلَيه السّلام اذا وَقَعَ الذّبَابُ فِي طَعَامِ اَحَدِكُم فَامقُلُوهُ ثُمّ انقُلوهُ فَانّ في احدي جَنَاحَيه داءً وَفي لاُخري دَوَاءً وَانّهُ لَيقَدّمُ الدّاءَ عَلَي الدّوَاءِ دَلّ سِيَاقُ الكَلاَمِ عَلي اَنّ اَلمَقلَ لِدَفعِ الاَذي عَنَا لاَلاَمرٍ تَعَبّدِي حَقّا لِلشَرعِ فَلاَيكُونُ للاِيجَابُ.

ترجمه: اوکه ئی وویل چی ته زما لپاره داسی مینځه واخله چی زه خدمت په وکړم او وکیل ړنده یا شله مینځه ورله واخسته دا جائزنه ده اوکه ئی ورته وویل چی ته زما لپاره داسی مینځه واخله چی زه وطی ورسره کوم اووکیل دده رضعی خور ورته واخسته دا اخستل هم نه ده جائز اوپردی بناء باندی نبی کریم ﷺ ددی قول چی که ستاسو په خوړوکی مچ ولویدی نو تاسوئي پکښی ډوب کړی اوبیائی بیرته راوکاږی له دی وجه چی دده په یوه وزر کښی زهر دی او په بل وزر کښی دوا ده او دی مخته کوی هغه وزر چی زهر پکښی پرهغه وزر باندی چی دواء ده پکښی سیاق پردی دلالت کوی چی ډوبیدل ددی لپاره ده چی زموږ تکلیف لری شی دعبادت شرعیه حکم نه ده لهذا دا امرده دوجوب لپاره نه ده.

تشریح: دهغه دریم ځای چی هلته حقیقی معنی پریښودل کیږی دویم مثال داده چی که یو سړی بل ته وویل چی ته زما لپاره داسی مینځه واخله چی زما خدمت کوی اووکیل ړنده اویا شله مینځه واخیسته دا اخیستل پرمؤکل باندی لازم نه ده له دی وجه چی که څه هم دجاریه حقیقی معنی مطلق جاریه (مینځه) ده لیکن دا قول لتخدمنی پردی دلالت کوی چی دلته حقیقی معنی مراد نه ده بلکه داسی جاریه مراد ده چی هغه دخدمت کولو توان لری دوهمه مسئله داده چی که یو سړی بل ته وویل چی ته زما لپاره داسی مینځه واخله چی زه وطی ورسره کوم او وکیل دمؤکل رضعی خور ورته واخیسته دا اخیستل هم پرمؤکل باندی لازم نه ده ځکه که څه هم دمینځی حقیقی معنی مطلق مینځه ده لیکن دموکل دا قول اطاها پردی دلالت کوی چی دلته مطلق مینځه مراد نه ده بلکه داسی مینځه ده چی مؤکل ته ئی وطی جائز وی.

مصنف رحمة الله عليه وائی کله چي ددلالت سياق په وجه سره حقيقت پريښودل کيدی لهذا مورږ وايو چي په دی قول دنبی کريم ﷺ کښې اذا وقع الذباب في طعام احدكم فامقلوه ثم انقلوه که څه هم حقيقی معنی داده چي دمچ ډوبيده واجب ده ځکه صيغه دامر ده ليکن په دی قول فان في احد جناحيه داء وفي الاخرى دواء سره حقيقت مراد نه ده بلکه دا وايو چي ډوبيدل واجب نه ده ځکه نبی کريم ﷺ دډوبيدلو حکم په دی وجه کړيده چي مورږله تکليفه څخه بچ کړی حاصل داده چي په دی حديث کښې هم دسياق دکلام په وجه حقيقت پريښودل شوی ده.

وَقَوْلُه تَعَالى انَمَا الصَدَقَات للفُقراءَ عَقِيبَ قَوله وَمِنهُم مَن يلمزُ کُ في الصَدَقَات يدَلُ عَلَي اَنَ ذکرُالاصنَاف لقَطعَ طَمعهِم مِن الصَدَقات بَبيانِ المَصَارِف لَهَا فَلاَ يَتوَ قَفُ الخُروجُ عَنِ العُهدَ ةِ عَلي الاَ داء الي الکل.

ترجمه: اودالله تعالی دا قول انما الصدقات ورسته له دی قوله ومنهم من يلمزك پر دی ددلالت کوی چي دصدقی دمصارفو او اقسامو ذکر ددی لپاره ده چي دمنا فقينو طمع (اميد) ختم شی لهذا دزمی دفاغولو لپاره دټولو اقسامو وجود شرط نه ده.

تشريح: په دی عبارت کښې هم مصنف رحمة الله عليه ددی مثال ذکر کوی چي په دلالت دسياق دکلام سره حقيقت پريښودل کيږی تفصيل ئی داده چي الله ﷻ دلته مصارف دزکوة (۸) اته ذکرکوی اول فقراء دی دوهم مساکين دی دريم عاملين دی څلورم مؤلفة القلوب دی داهغه خلق دی چي دوی ته ددی لپاره صدقه ورکول کيږی چي اسلام ته مائل شي پنځم غارمين دی يعنی قرضداران، شپږم اقارب يعنی مکاتب دی اووهم فی سبيل الله يعنی مجاهدين اسلام اتم ابن سبيل يعنی هغه مسافرچي له دوی سره خرچه نه وی الله ﷻ دغه ټول دجمع په صيغه سره او په واو عاطفه سره ذکر کړل امام شافعی په واو عاطفه سره دليل نسی وائی چي دا واوا دجمع لپاره ده لهذا دا ضروری ده چي ذکوة دی ټولو اقسام ته ورکوی کی ئی بعض ته ورکوی او بعض ته ئی ورنه کړی دغه اداء صحيح نه ده او په صيغه دجمع سره دا استدلال کوی چي له هره قسمه به کم ازکم دری نفره وی که ديو قسم ددرو افراد کم ته ئی ورکړی هم ذکوة نه ده صحيح ددی جواب مورږ داسی ورکو و چي ددی کلام حقيقت هغه ده چي امام صاحب وه ښودی ليکن داحقيقت دسيا ق دکلا م په وجه دلته پر يښودل شوی ده او سيا ق دکلام دالله تعا لی ﷻ هغه قول چي تردی قول انما الصدقات مخکی ئی ذکر کړی ده هغه داده ومنهم من يلمزك في الصدقات فان اعطوا منها رضوا وان لم يعطوا منها اذا هم يسخطون ترجمه بعض منا فقين داسی دی چي دزکوة دتقسيم په سلسله کښې پرتاسوباندن طعن وائی که تا سو دوی ته له صدقاتو څخه يو څه ورکړی دو ی خوشحاله کيږی اوکه ئی ورنه کړی نا راضه کيږی مطلب داده چي الله ﷻ مصارف ذکوة ددی لپاره بيا ن کړو چي دمنا فقينو طمعه ختمه شی ددی تفصيل داده چي دفتح

مکی څه وروسته چی په حنین وغیره کښی نبی کریم ﷺ ته دغنیمت ما ل حاصل شو نو نبی کریم ﷺ دمکی دخلکو دراجلب کولو لپا ره دوی ته له دغنیمت له مال څخه ډیره بر خه ورکړه په دی کار سره منا فقین ډیرپه قهر شول او پر انحضرت ﷺ ئی داطعن ولګاوی چی دابی انصافه اواقرباء فرسته ده په دی ځای کښی الله ﷻ دا آیت إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ نا زل کړ او دصدقی مصارف ئی په دی طریقه بیان کړل چی صدقا ت صرف دغو خلکو لره دی او ددوی نه بغیر منا فقینو ته نه ورکول کیږی او بیا داآیت وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ نازل شو اودا پردی دلالت کوی چی مذکوره آیت چی انّما الصدقات ده ددی حقیقی معنی متروکه ده هغه معنی حقیقی داده چی امام شا فعیؒ ئی ذکر وکړچی ده ویل چی له هره قسمه به دری نفر ضروری وی نو کله چی داحقیقت متروک شو مراد له آیت څخه صرف دمنا فقینو دامید ختمیدل دی لهذا داثابته شوه چی دامام شا فعیؒ دوه استدلا له چی یو ئی له واو څخه کاوو اوبل ئی له صیغې دجمع څخه کاوو داصحیح نه دی بلکه دامعنی دلته متروکه ده نو دانه ده لازمه چی دمصارفینو ټول اقسام به وی اوله هره قسمه به کم ازکم دری نفره ضروری وی.

وَالرَّابِعُ قَد تُترَ كُ الحَقِيقَةُ بِدَلَالَةٍ مِن قِبَلِ المُتَكَلِّمِ مِثَالُهُ قَو لُهُ تَعالى فَمَن شَاءَ فَليُؤمِن وَمَن شَاءَ فَليَكفُر وَذَا لِكَ لِأَنَّ اللهَ تَعَا لَى حَكِيمٌ وَالكُفرُ قَبِيحٌ وَالحَكِيمُ لا يَأمُرُ بِهِ فَيُترَ كُ دَلَا لَةُ اللَّفظِ عَلَى الأَمرِ بِحِكمَتِهِ الا مرُ.

ترجمه: او څلورم ځای داده چی کله حقیقت دداسی دلالت په وجه پر ینبودل کیږی چی دمتکلم له طرفه څخه وی مثال ئی دالله ﷻ داقول ده او که دچاه خو ښه وی ایمان دی راوړی او که ئی خوښه وی کا فردی شی اودا له دی وجه چی الله ﷻ حکیم ده او کفر قبیح ده او حکیم دقبیح فرمو دنه نه کوی نو دآمر دحکمت په وجه دلالت دلفظ متروک ده.

تشریح: څلورم ځای هغه ده چی حقیقت دداسی دلالت په وجه پر ینبودل کیږی چی هغه دلالت دمتکلم له طرفه وی یعنی که دا معلو م شی چی دمتکلم مقصود دحقیقت پر ینبودل ده نو په داسی صورت کښی حقیقت پرینبودل کیږی او په مجاز سره عمل کیږی لکه په دی قول دالله ﷻ کښی فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُر په دی آیت کښی دامر صیغه استعمال شوی ده او د امر حقیقت طلب ده نو ګواکی کفر مطلوب ده یا داباحت په صورت کښی یا دندب په صورت کښی او یا دوجوب په صورت کښی مطلب داده چی دفلیکفر حقیقت داده چی کفر مطلوب ده لیکن دا حقیقت دداسی دلالت په وجه پرینبودل شوی ده چی هغه دمتکلم یعنی الله ﷻ له طرفه ده په دی طریقه چی الله ﷻ حکیم ذات ده دده هر قول اوفعل له حکمته خالی نه ده او کفر قبیح ده نو حکیم دقبیح شی امر نه کوی ځکه دالله ﷻ وائی إِنَّ اللهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ نو الله ﷻ حکیم والی پردی دلالت کوی چی دی په کفر

چی قبیح شی ده حکم نه ورکوی او نه دکفر طلب کوی لهذا دلته دکفر حقیقت متروک دد بلکه پر توبیخ(زجر) باندی حمل ده

وَعَلى هَذَا قلنَا اذا وكّل بالشرَاء اللّحم فان مُسَا فراً نزَلَ على الطّرِيق فهُوَ على المَطبُوخِ اَو عَلي المَشوي وَاِن كَا نَ صَا حِبَ مَنزِ لٍ فهُوَ عَلَي النّيّ.

ترجمه :او بناء پر دی باند موږ وایو که یو چاه بل دغوښی په اخستلو سر ه وکیل کړ نو که داسی مسافر ؤو چی پر لاره ئی اړولی ؤو نو دا وکالت په پخه او یا غو رمه شوی غښه سره ده او که موکل دکور والا ؤو بیا وکالت په اومه غوښه سره ده.

تشریح :مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی کله چی حقیقت دداسی دلالت په وجه سره پر ېښودل کیدی چی دمتکلم له طرفه څخه ؤو له دی وجه موږ وایو که یو سړی بل وکیل کړی په اخستلو دغوښی سره نو که موکل مسا فر وو بیا دغه وکالت په پخه اویا غورمه شوی غوښه سره ده او که موکل صاحب منزل وو داوکالت په اومه غوښه سره ده ځکه په دی دواړه صورتو کښی حقیقت مطلق غوښه اخستل ده لیکن دمتکلم له حاله څخه دامعلو میږی چی دلته حقیقت مراد نه ده تفصیل داده چی که موکل مسا فر وو او په لاره کښی ئی یو ځای اړولی وو نو دده حال پر دی دلالت کی چی دده داسی غوښه په کار ده چی هغه پخه وی او یا غورمه وی او که موکل مقیم وو بیا دده حا ل پر دی دلالت کوی چی دده اومه غوښه په کار ده لهذا په دواړه صورته کښی معنی حقیقی مرادنه ده.

وَمن هَذاالنّو عِ يمينُ الفَوْر مثَا لُه اذَا قَالَ تَعَالَ تَغَدّ مَعى فقَالَ وَللهِ لَا اَتَغدّ ى ينصَرِ فُ ذَالكَ الَي الغَدَاء المَد عُوِّ اَلَيه حتّي لَو تَغدّ ي بَعدَ ذَالكَ في مَنزِله مَعَهُ اَو مَعَ غيرِه في ذَالكَ اليوم لا يحنَثُ وَكَذَا اذَاقامَت المَراَءةُ تُرِيدُ الخرُ جَ فقَالَ الزّو جُ اِن خرَجتِ فَاَنت كذَا كَا نَ الحُكمُ مقصو داً عَلَي الحالَ حتّي لَو خرَجَتْ بَعدَ ذَالكَ لايحنَثُ

تر جمه :اوله دی قسمه څخه یمین فور ده ددی مثال داده که ئی وویل را سه له ما سره ډوډوی وخوره اوهغه وویل په خدای که زه دغرمی ډوډی وخورم نو دا قسم دسهار هغه ډوډی ته را جع ده کومی ته چی دی بلل شوی ده حتی که ده له دی نه وروسته دهغه په کور کښی دسهار ډوډی وخوړه او یا په دغه ورځ له ده نه بغیر له بل چاه سره وخوړه نه دحانث اوهمدارنګه که ښځه دوتلو په اراده ولاړه شوی وه خاوند ورته وویل که ته وو تلی ته به دارنګه ئی (یعنی طلاقه) داحکم پر دغه حالت باندی حصر ده که له دی نه وروسته ووتله نه ده حانث.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی دمتکلم دحال ددلالت په وجه دحقیقت دپر ېښودلو یو مثال یمین فور هم ده فور مع خوذده له ؛فارت القدر؛ څخه فارت القدر هغه وخت ویل کیږی چی هګی جوش شی او بیا دغضب دجوش په وجه هغه حالت دغضب ته فو رو ویل شو چی هغه کښی قسم واردشی حاصل داده کوم قسم چی دغصی په حالت کښی وویل شی هغه ته یمین فوروائی او دده اطلا ق په

حالت دغضب باندی ده دغضب له حالته بغیر پر بل حال باندی ئی اطلاق نه کیږی مثال ئی داده لکه یو شخص چی دسها رډوډی خوری اوبل شخص ته ووائی تعال تغدمعی راسه له ماسره دسهار ډوډی وخوره او هغه په جواب کښی ورته ووائی والله لا اتغدی په خدای قسم که زه دسهار ډوډی وخورم دا قسم دهغی ډوډی وطرفته رجوع کوی کومی ډوډی ته چی دی بلل شوی ده که دغه قسم کونکی له دی څخه ورسته دبلونکی په کور کښی ډوډی وخوړه اویائی په دغه ورځ له بل سره ډوډی وخوړه نه ده حانث لیکن که ئی په دغه ورځ په دغه وخت کښی له دغه بلونکی سره ډوډی وخوړه حانث ده وجه ئی داده چی د لااتغدی معنی حقیقی مطلق تغدی ده یعنی قسم کونکی په هره تغدی سره حانث کیږی که له بلونکی سره وی او که له بل چا ه سره وی او که تنها وی که په دغه ورځ وی او که په بله ورځ وی لیکن دمتکلم دحال په وجه حقیقت مراد نه ده بلکه دمتکلم دغصی په وجه صرف مذکوره دعوت (بلنه) پوره کول مرا د ده یعنی که ئی له بلونکی سره ډوډی وخوړه په دغه حالت بیا حانث او په نورو صورتو کښی نه د حانث مصنف رحمه الله وائی همدارنګه که ښځه له کوره دوتلو په اراده ولاړه شوی وه او خاوند ورته وویل ان خرجت فانت طالق که ته ووتلی طلاقه ئی داحکم صرف په دغه حالت پوری خاص ده که ښځه په دغه حالت کښی ووتله طلاقه ده او که په دغه حالت کښی نه ووتله بلکه دخاوند دغصی دختمیدلو ورسته ووتله نه دطلاقه وجه ئی داده چی داکلام ان خرجت فانت طالق حقیقی معنی عامه ده یعنی که ښځه په هر صورت کښی ووتله طلاقه ده که په دغه وخت کښی ووزی او که دخاوند دغصی له کراریدو ورسته ووزی لیکن دمتکلم دحالت دغضب پردی دلالت کوی چی دمتکلم مراد دامعلوم وتل دی چی دمتکلم دغصی حالت ده مطلق وتل نه دی مراد مطلب داده چی دمتکلم دحال ددلالت په وجه حقیقی معنی متروکه ده مجازی معنی مراد ده یعنی دغه معین خروج چی په حالت دغضب کښی وی.

وَالْخَامِسُ قَد تُترکُ الحَقِیقَۃُ بِدَلَالَۃِ مَحَلِّ الکَلَامِ بِاَنَّ المَحَلُّ حَقِیقَۃً لِلَّفظِ ومِثَالُہٗ انعِقَادُ نِکَاحِ الحُرَّۃِ بِلَفظِ البَیعِ وَالھِبَۃِ وَالتَّملِیکِ وَالصَّدَ قَۃِ وَقَولِہٖ لِعَبدِ ہٖ وَھُوَمَعرُوفُ النَّسبِ مِن غَیرِہٖ ھٰذَاابنِي وَکَذَا اِذَا قَالَ لِعَبدِہٖ وَھُوَ اَکبَرُ سِنّاً مِنَ المَولیٰ ھٰذَا ابنِي کَانَ مَجَازاً عَنِ العِتقِ عِندَ اَبِي حَنِیفَۃَ رَضِيَ اللّٰہُ عَنہُ خِلَافاً لَھُمَا بِنَاءً عَلیٰ مَاذَکَرنَا اَنَّ المَجَازَ خَلَفٌ عَنِ الحَقِیقَۃِ فِي حَقِّ اَللَّفظِ عِندَہٗ وَفِي حَقِّ الحُکمِ عِندَھُمَا.

ترجمه :او پنځم ځای داده چی حقیقت کله دکلام دمحل ددلالت په وجه پریښودل کیږی په دی طریقه چی محل داسی وی چی لفظ حقیقت نه قبلوی ددی مثال صحت دنکاح دحری ده په لفظ دبیع او هبی او تملیک اوصدقه سره اودمولی قول وخپل غلام ته هذاابنی په داسی حال کښی چی دهغه غلام نسب معلوم وی او همدانګه که خپل غلام ته ووائی هذا ابنی او حال داوی چی غلام تر

مولی مشروی نو داکلام په نزد دامام ابوحنیفه رحمه الله مجازده له تحریر څخه اودصاحبین په نزد ددی خلاف دی او دا اختلاف مبنی پرهغه ده چی موږ ذکر کړل چی دامام صاحب په نزد مجاز خلف ده له حقیقته په لفظ کښی اودصاحبین په نزد خلف ده په حکم کښی.

تشریح: پنځم ځای له هغور ځایو څخه چی هلته حقیقت پریښودل کیږی دلالت دمحل دکلام ده دکلام له محل څخه مراد هغه محل ده چی په هغه محل کښی کلام وارد شوی وی اوله دلالت څخه ئی مراد داده چی دکلام محل حقیقی معنی نه قبلوی یعنی دحقیقی معنی صلاحیت نه لری مثلاً ددی حدیث دنبی کریم ﷺ: إنما الاعمال بالنيات؛ معنی حقیقی داده چی اعمال په نیتوسره دی یعنی موقوف پر نیت دی بی له نیته عمل موجودنه ده اوحال داده چی داله مشا هدی (دستر ګولیدلی حال) څخه خلاف ده خکه موږ وینوچی بی له نیة ډیر اعمال موجود دینو چونکه داکلام دمعنی حقیقی صلاحیت نه لری لهذا داکلا محمول ده پرمجازی باندی هغه داده چی دلفظ اعمال مخته لفظ دثواب یاحکم مقدر ده په اول صورت کښی ئی ترجمه داده چی داعمالوثواب موقوفه پرنیت ده یعنی پرعمل باندی دوثواب دمرتب کیدولپاره ئیت ضروری ده که نیت نه وؤنوثواب هم نشته لیکن بی نیته عمل کول باندی دثواب دنه مرتب کیدوڅخه دانه لازمیږی چی عمل موجودنه ده بلکه کیدای سی چی دنیت دنه کولوپه وجه دی پرعمل ثواب مرتب نه وی لیکن عمل دی جائز وی اوموجوددی وی اوپه دوهم صورت کښی ئی معنی داده چی داعمالوحکم موقوفه پرنیت ده اوحکم دوه قسمه ده (۱) دنیوی لکه دعمل جواز (۲) اخروی ده لکه پرعمل باندی ترتب دثواب اوپردی باندی ټوله متفق دی چی دلته اخروی حکم مراد ده نودحدیث مطلب داشو چی داعمالواخروی حکم یعنی ثواب موقوفه پرنیت ده مصنف رحمه الله دپنځمی موقع لپاره مثال داذکرکوی که یوشخص ته حری ښځی وویل بعت نفسي منك بمائة درهم زه خپل ځان پرتاباندی په سل (۱۰۰) درهمه خرخوم اوسړی هم قبوله کړه نوداکلام محمول ده مجازاً پرنکاح باندی ځکه ددی کلام حقیقی معنی داده چی خپل ځان اوخپله غاړه په ملک ورکول اوحال داده چی حرّه ښځه ددی صلاحیت نه لری چی دادیوچاه ملک نشو نوځکه چی دکلام محل یعنی آزاده ښځه ددی کلام دحقیقی معنی صلاحیت نه لری نوداکلام مجازاً محمول ده پر نکاح باندی اوپه دی کلام سره نکاح منعقده ده اوهمدارنګه که آزادی ښځی وه یوشخص ته وویل وهبت نفسي منك یاملکت نفسي منك یاتصدقت نفسي منك هغه سړی قبوله کړه نوداکلام هم مجازاً محمول ده پر نکاح باندی ځکه ددی ټولوالفاظو معنی حقیقی داده چی خپل ځان په ملک ورکول اوآزاده ښځه ددی معنی صلاحیت نه لری نودلته دټولوالفاظو حقیقی معنی متروکه ده اومجازاً نکاح ځینی مراد ده اوهمدارنګه که مولی خپل غلام ته وویل هذا ابني اوحال داوی چی دغلام نسب معلوم وو اوپائی دغه مذکورالفاظ داسی غلام ته وویل چی هغه ترده په عمر کښی مشر وؤ نوداکلام مجازاً پرعتق باندی محمول ده

ځکه ددی کلام محل چی غلام ده دکلام دحقیقی معنی صلاحیت نه لری یعنی په دواړه صورته کښی دغلام زوی والی محاله ده لهذا په دواړه صورته کښی غلام دامام ابوحینفه په نزد آزاد ده او د صاحبین پرنزد داکلام لغوه ده امام صاحب اودصاحبین مذکوره اختلاف بناء پرهغه مخکښی اختلاف ده چی امام صاحب وویل مجازخلف له حقیقت څخه ده په لفظ کښی اوصاحبین ویل چی مجاز خلف په حکم کښی ده.

فَصلٌ فی مُتَعلّقَات النُصُوص

فَصلٌ فی مُتَعَلّقَات النُصُوص نَعنی بِهَا عِبَارَةَ النّصِّ وَاشَارَتَهُ وَدُلَالَتَهُ وَاقتضَاهُ فَاَمّا عِبَارَةُ النّصِّ فَهُوَ مَاسِیقَ الکَلَامُ لِاَجله وَاُرِیدَ بِه قَصداً وَاَمّا اشَارَةُ النّصِّ فَهِي مَاثَبتَ بِنَظمِ النّصِّ مِن غَیرِزِیَادَة وَهُوَ غَیرُ ظَاهِرٍ مِن کُلّ وَجه وَلاَ سِیقَ الکَلَامُ لِاَجله

ترجمه : دافصل نصوص دمتعلقات په بیان کښی‌ده زموږ مراد په متعلقات سره عبارة النص اواشارة النص ده اودلالت النص ده اواقتضاء النص ده بهر حال عبارة النص هغه ده چی دهغه له وجه کلام راوړل شوی وی اوله دغه کلام څخه ثابت وی بی له زیادته اوهغه پّه مکلمه طریقه سره ښکاره نه وی او نه دده له وجی څخه کلام راوړل شوی وی.

تشریح : په دی فصل کښی مصنف رحمه الله دڅلورم تقسم بیان کوی ددی تقسم هم څلوراقسام دی (۱) دلیل په عبارت النص (۲) دلیل په اشارت النص (۳) دلیل په دلالت النص (۴) دلیل په اقتضاء النص دلیل دحصر ئی داده چی استدلال به یاپه لفظ سره وی اویا به په معنی سره وی که اول صورت وو دابه له دوو حالوخالی نه وی یابه لفظ دمعنی دقصدکولولپاره راوړل شوی وی اویا به نه‌وی که‌اول‌صورت‌و و عبارت‌النص‌ده‌اوکه‌دوهم‌وو اشارا النص‌ده‌اوکه‌استدلال‌په‌معنی‌سره وو ددی هم دوه صورته دی یابه دامعنی بغیر له فکره اواجتهاده له لفظ پهمیږی اویابه نه نه پهمیږی که اول صورت وو دلالت النص ده اوکه دوهم صورت وؤ دی لره هم دوه حاله دی یابه پردغه معنی صحت دلفظ شرعاً اوعقلاً موقوف وی اویابه نه‌وی که‌اول‌صورت‌وؤ اقتضاء النص ده اوکه دوهم صورت وؤ استدلال فاسدده ددی بیان انشاء الله مخکی راروان ده دتعریف تر ذکر کولو مخکی داخبره ضروری ده چی متعلقات لفظ په فتحه دلام سره په معنی دمتمسکات سره ده اومتعلق په فتحه دلام یاظرف ده اویامصدر میمی ده که ظرف شی بیائی اضافت ونصوص ته بیانی ده اومعنی ئی داده دافصل په بیان دهغونصوصوکښی ده چی متمسکات دی اومحل داستدلال دی په دی صورت کښی د مصنف رحمه الله تفسیر دمتعلقات په عبارت النص اشارت النص اودلالت النص اواقتضاء النص سره بالکل صحیح ده ځکه داڅلورسره محل دتمسک دی اوکه متعلق مصدرمیمی شی نوبیااضافت د ادنی ملابست په وجه ده اومطلب ئی داده چی دافصل دنصوصوپه ذریعه دتمسکاتواواستدلالاتوپه بیان کښی ده اود مصنف رحمه الله دمذکوره

تفسير څخه مراد استدلال په عبارت النص ده اوپه اشارة النص ده اوپه دلالت النص ده اوپه اقتضاء النص ده ځکه که دامراد نه شي نو تفسير دمصنف رحمه الله صحح نه ده.

مصنف رحمه الله دعبارت النص تعريف داسی کوی فاما عبارة النص فهو ماسيق الكلام لاجله واريدبه قصداً ليکن پردی تعريف باندی يو اعتراض کيږی.

سوال: داده چی عبارت دلفظ اونظم نوم ده اوماسيق الكلام لاجله حکم ده اودلفظ اوحکم په ميځ کښی تباين ده نوديوشی تعريف کول دده په مباين سره صحيح نه ده لهذا ماسيق الكلام لاجله په ذريعه سره دعبارت النص تعريف کول صحيح نه ده.

جواب: داده چی دا دعبارت النص تعريف نه ده بلکه دادعبارت النص دحکم تعريف ده مطلب داده کوم حکم چی په عبارت النص ثابت وی هغه داده چی دده له وجه کلام راوړل شوی وی اوله دی کلام مراد دغه حکم وی ليکن له دی څخه التزاماً دعبارت النص تعريف معلوميږی دوهم قسم استدلال په اشارة النص سره په دی سره هم هغه حکم مراد ده چی په اشارة النص سره ثابت وی اوتعريف ئی داده کوم حکم چی په اشارة النص سره ثابت وی هغه ده چی دکلام په ضمن کښی بغير له زيادت اوبغير له الفاظو دنص ثابت وی اوهغه په مکمله طريقه سره ظاهره نه وی اونه دده له وجه کلام راوړل شوی وی مطلب داده لکه څرنګه چی په عبارت النص سره ثابت حکم په لفظ اونظم سره ثابت وی همدارنګه په اشارت النص سره ثابت حکم هم په لفظ اونظم سره ثابت وی ليکن دافرق ئی سته چی په عبارت النص سره ثابت حکم دکلام مقصود هم وی اوکلام دده لپاره راوړل شوی وی اوپه اشارت النص سره ثابت حکم که څه هم په نظم اولفظ سره ثابت ده اومفهوم ده ليکن نه له کلام څخه مقصود ده اونه کلام دده لپاره راوړل شوی اونه من کل وجه ظاهر ده ددی دواړو په مينځ کښی فرق داسی کيږی لکه يوسړی چی يوچاه ته وګوری اودته کتل ئی مقصد وی اوله ده سره سره نورخلک هم ووينی بلاايراده نوهغه اول سړی ته کتل عبارت النص ده اوددی نورو ليدل اشارت النص ده دااشارة النص په تعريف کښی په دی قيد مااثبت بنظم النص سره احترازده له دلالت النص څخه ځکه دلالت النص هغه ده چی په معنی دنص سره ثابت وی په نظم دنص نه وی ثابت اوپه من غيرزيادة قيد سره احتراز ده له اقتضاء النص څخه ځکه دااقتضاء النص کښی دزائد الفاظو راوړل ضروری ده وهوليس ظاهر من كل وجه په دی قيد سره احتراز ده له ظاهر څخه ځکه په ظاهر کښی مراد من کل وجه ښکاره وی ماسيق الكلام لاجله په دی قيد سره احترازده له عبارت النص څخه.

مِثَالُهُ فِی قَولِه تَعَالٰی لِلفُقَرَاءِ المُهَاجِرِينَ الَّذِينَ اُخرِجُوا مِن دِيَارِهِم الايه فَاِنَّهُ سِيقَ لِبَيَانِ اِستِحقَاقِ الغَنِيمَةِ فَصَارَ نَصًّا فِي ذَالِكَ وَقَدثَبَتَ فَقرُهُم بِنَظمِ النَّصِّ فَكَانَ اِشَارَةً اِلٰی اَنَّ اِستِيلَاءَ عَلٰی مَالِ المُسلِمِ سَبَبُ ثُبُوتِ المِلكِ لِلكَافِرِ اِذلَوكَانَت الاَموَالُ بَاقِيَةً عَلٰی مِلكِهِم لَايَثبُتُ فَقرُهُم.

ترجمه : ددی مثال د الله ﷻ داقول ده لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ ځکه داقول دغنیمت دمستحقینو دبیان لپاره راوړل شوی ده نو داقول په دی سلسله کښی نص ده اوددوی فقردنص په نظم سره ثابت ده اوپه نص سره دی اشاره ده چی دمسلمان پرمال باندی دکافرغلبه دکافرملک سبب ده ځکه که دمسلمانانو مالونه ددوی په ملک کی باقی پاتېږشي بیا ددوی فقرنه ثابتیږی.

تشریح : عبارت النص او اشارت النص لپاره دمصنف رحمه الله دامثال ذکر کوی لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ داآیت یاددې آیت ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنَ السَّبِيلِ ځخه بدل ده اویاداآیت ورباندی عطف ده بی له واو ځخه لکه په دی مثال کښی هذا المال لزيد لبكر لعمرو په دواړو صورتو کښی یعنی دبدل اوعطف کښی ددی آیت مقصد دخمس دمصارف بیان کول ده هغه مصارف دادی چی (۱) اول به خمس دنبی کریم ﷺ واقرباء ته ورکول کیږی (۲) دوهم یتیمانوته (۳) مسکینانوته (۴) مسافروته (۵) دهغه فقراءُ چی کور اوهر څه ئی پریښی وی بهرحال ددی آیت مقصد داده چی په دغنیمت په مال کښی دمهاجر حق شته اوددوی لره په غنیمت کښ برخه ورکول واجب ده اودامطلب په دی آیت سره په عبارت النص ثابت اودا مطلب چی مهاجر فقراء دی په اشارت النص ثابت ده په دی طریقه چی الله ﷻ ددوی نوم فقراء کښیښودی ځکه الله ﷻ وائی لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ اودفقر حقیقت داده چی فقر دزوال دملک نوم ده اودیوځه وخت لپاره مال ستاله قبضی وتلوته فقراء نه وائی ځکه مسافرکه څه هم له ځان سره مال نه لری بلکه په کورکښی ئی لری غنی ورته ویل کیږی حاصل داده چی زوال دملک دمهاجرینو په اشارة النص سره ثابت ده مقصودله کلام نه ده ځکه دمهاجرینو فقرپه اشارت النص سره ثابت ده مصنف رحمه الله وائی چی په دی آیت سره دی ته هم اشاره ده چی دمسلمان پرمال باندی دکافرغلبه ددی خبری دلیل ده چی کافرلره ددغه مال ملکیت ثابت ده یعنی دمهاجرینوهغه مال چی په مکه کښی پاته شو دمهاجرو له ملکه ووتی اودکفاروپه ملک کښی داخل ده ځکه که دمهاجروله ملکه نه ووزی بیا مهاجرو ته فقراء نه ویل کیږی نوکله چی داثابته شوه چی مهاجر فقراء دی اومال ددوی له ملکه وتلی ده نوداخبره هم ثابته ده چی ددغو اموالو مالکان کفاردی نودامعلومه شوه چی په اشارت النص سره دمهاجر وفقر هم ثابت ده او داهم ثابته ده چی دمهاجرو دمال مالکان کفاردی یعنی ددوی مالونه دکفاروپه ملک کښی داخل دی.

سوال :تاسوداشارت النص په تعریف کښی وویل چی اشارت النص هغه ده چی په لفظ او نظم د نص سره ثابت وی یعنی په اشارة النص سره چی کوم شی ثابت وی په نص کښی به دهغه لپاره الفاظ وی لیکن پردی باندی چی دمسلمان پرمال باندی دکافرغلبه دده دملکیت سبب ده په نص کښی الفاظ نسته یعنی په نص کښی ددی خبری وطرفته اشاره نشته نوداځنگه په اشارت النص

سره ثابت بولی او د مصنف رحمه الله داتوری فکان اشارة الی ان استیلاء الکافر علی مال المسلم وثبوت الملک الکافر به ځنګه صحیح شی ؟

جواب :داده چی په اشا رة النص سره داثابته شوه چی دمهاجرو اموال ددوی له لاسه دوتلی دی لیکن له دی سره دا لا زمه ده چی دکفارو دمکی چی ددوی پرمالوباندی قبضه راغلی ده دا دکفارو په ملک کنبی دی ځکه په استلام کنبی ضیاع نشته یعنی دانشته چی یوداسی مال دی وی چی هغه دهیچاپه ملک کنبی نه وی نو چی دمهاجرو له لاسه مال ووتی اود کفارو قبضه پر راغله نو لا زما داد کفارو ملک ده حاصل داده چی دمهاجرو فقر یعنی مالونه ددوی له لاسه وتل په اشارة النص سره ثابت ده او ددوی پرمالو باندی دکفار و ملکیت التزاماً ثابت ده او یوشی چی کله ثابتیږی نو دخپلو لوازمو سره ثابتیږی ځکه داقاعده ده الشئ اذا ثبت ثبت بلوازمه نوکه یوشی په اشارة النص سره ثابت شی اوبل شی له ده سره ملحق وی هغه هم په اشارة النص سره ثابت ده لهذا د مصنف رحمه الله مذکوره قول صحیح ده.

وَيَخرُجُ منهُ الحكمُ فی مَسئالَةِ الاَ ستیلَا ء وَحُكمُ ثُبُوت الملك للتّاجرِ باالشّرَ اء منهُم وَتَصرُفًا تهِ من البَيعِ وَالهِبَتهِ وَالاعتَاقِ وَحُكمُ ثُبُوتِ لَاستغنَامِ وثُبُو تِ المَلكَ للغَازِ يِ وَعَجزِ المَا لكَ عَن ا نتزَاعهِ من يدهِ وتَفرِيعَا تهِ .

ترجمه :اوله دی ځخه راوزی حکم داستیلاء اوحکم دملک تجارلره په اخستلو له کفارو ځخه اوده دتصرف حکم یعنی هبه او بیع او اعتاق او دغنیمت بللوحکم او غازی ته دثبوت د ملک حکم اود غازی په قبضه سره دمالک دعاجزو والی حکم او ددی دنوروتفریعات تخریج کیږی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی چی دمذکوره نص ځخه اشارة چی کوم شی ثابت شو هغه داچی دمسلمان پرمال دکافر غلبه اوده لره ثبوت ده ملک باندی ډیر ی مسئلی تفریع کیږی (۱) داده چی که دکافر دمسلمان پرمال باندی غلبه راغله او دامال ئی دار حرب ته نقل کی نو داحناف په نزد کافر ددی مال مالک ده (۲) داده که یو تجار دغه مال له کافر ځخه واخیستی تجارددی مال مالک ده ځکه تجار داmال له هغه چاه واخیستی چی هغه دمال مالک وه نوکله چی تجار ددی مال مالک شو نو ده ته هر قسم تصرف په دی مال کنبی جائز ده یعنی خرخولای ئی شی او بل ته ئی هبه کولای شی اوکه دغه مال غلام او یا مینځه وه نو دهغه آذادول جائزده (۳) که دمسلمانانو پر دارحرب باندی غلبه راغله اوله کفارو ځخه ئی هغه مال غنیمت کړ کوم مال چی کفارو له مسلمانانو ځخه په غلبه وړی وو نو دامال دمسلمانانو لپاره غنیمت ده لکه ځرنګه چی نورمالونه ورته غنیمت دی او همدارنګه مجاهدینو ته هم ددی ی مال ملک ثابت ده او دکفاروتر غلبی مخکی چی دامال دکوم مسلمان وو اوس ددی حق نه لری چی له مجاهدینو ځخه ئی واخلی داپه هغه وخت کنبی چی دامال مجاهد ته دتقسیم په وخت کنبی په برخه ورغلی وی اوکه تقسیم نه وو شوی بیادغه مسلمان ددی

حق نه لري چې دا مال ده ته مفت ورکړشي مصنف رحمة الله عليه وائي چې له دې نه بغير نور احكام هم ورباندې تفريع كيږي مثلاً كه دغه مال غلام وو او يا مينځه وه او په تقسيم كښې يو غازي ته په برخه ورغي دې مجاهد ته داجائزده چې وطی ورسره وکړي اویا ئی ازاد کړي اوکه مجاهد دا مال تلف کي پر ده باندې ضمان شته.

وَكَذَالِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى قَوْلِه تَعَالٰى ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى اللَّيْلِ فَالْاِمْسَاكُ فِي اَوَّلِ الصُّبْحِ يَتَحَقَّقُ مَعَ الْجَنَابَةِ لِاَنَّ مِنْ ضَرُوْرَةِ حِلِّ الْمُبَاشَرَةِ اِلَى الصُّبْحِ اَنْ يَكُوْنَ الْجُزْءُ الْاَوَّلُ مِنَ النَّهَارِ مَعَ وُجُوْدِ الْجَنَابَةِ وَالْاِمْسَاكُ فِي ذَالِكَ الْجُزْءِ صَوْمٌ اُمِرَ الْعَبْدُ بِاِتْمَامِه فَكَانَ هٰذَا اِشَارَةً اِلٰى اَنَّ الْجَنَابَةَ لَا تُنَافِي الصَّوْمَ وَلَزِمَ مِنْ ذَالِكَ اَنَّ الْمَضْمَضَةَ وَالْاِسْتِنْشَاقَ لَا يُنَافِيْ بَقَاءَ الصَّوْمِ.

ترجمه: اوهمدارنګه دالله تعالى ﷻ داقول چې تاسو ته په شپه درمضان جماع حلاله کړې ده تردې قوله الله ﷻ چې تاسو ترمانبامه روژه ونيسى نو امساک په اول جز دسهار کښې سره دجنابته ده ځکه چې تر سهاره جماع كولو له حلالوالى سره دالازمه ده چې اول جزدې په حال دجنابت كښې واقع شي اوپه دې جزکښې روژه ده او بنده ته له دغه ځايه داتمام حكم شوى ده نودې خبرې ته اشاره شوه چې جنابت له روژې سره منافى نه ده اوله دې سره دالازمه ده چې په خوله اوبه غړوى اوپه پوزه کښى اوبهٔ اچوى دروژې له بقاء سره منافى نه ده.

تشريح: مصنف رحمة الله عليه داشارة النص دوهم مثال داذكر كوى اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ. تاسو ته په شپو درمضان كښې له خپلو ښځو سره جماع حلاله ده هغه ستاسو لپاره جامه دي او تاسو ددوى لپاره جامه ياست الله ﷻ ته معلومه ده چې تا سو له خپلو ځانو سره خيانت کړې ده او الله تعالى تاسوته متوجه ده او تا سوته عفوه كوى اوس تاسو له دوى سره جماع كوى اوتاسو هغه طلب کړ ى چې الله ﷻ تاسو ته مقدرکړې دی او خورى څښى تر هغه وخته چې صبح صادق طلوع کو ى اوتر شپى پور ى روژه پوره کړى.

داآيت ددې مقصدلپاره راوړل شوى ده چې دروژه دارلپاره په شپه کښى خوړل اوڅښل او جماع جائزدې نو داآيت په دې مقصدکښې عبارت النص ده ليکن په داآيت اشارةً پردې هم دلالت کوی چې بقاء دجنابت منافى له روژې سره نه ده يعنى كه په حال دجنابت کښې روژه شروع شي داجائز ده ځکه الله ﷻ په دې آيت کښى تر اخره دشپې دخوړلو او څښلو او جماع اجازه کړې ده اودا خبره په عبارت النص سره ثابته ده نو كله چې تر اخره دشپې دمذكوره شيانو اجازه وشوه نو داخبرچې دشپې اخرجز او داول جز دروژې په مينځ کښى دومره وخت نشته چې هلته سړى غسل وکړي نو لازماً دروژې څه حصه په داسې وخت کښى راځى چې حالت دجنابت وى نو كله چې داسې شوه چې

ضروریو جز دروژی په حال دجنابت کی راځی نو دا ثابته شوه چی وجود دجنابت منافی له روژی سره نه ده او داخبره په اشارة النص سره ثابته ده چی جنابت منافی له روژی سره نه شو له دی سره دالازمه ده چی په خوله کنبی اوبه اچول اوپه پوزه کنبی اوبه اچول له بقاء دروژی سره نه ده منافی ځکه چی جنابت نه ده منافی نو داهم نه دی منافی ځکه دالازمی دی په غسل کنبی ځکه دغسل له ارکانو څخه دی.

وَيَتَفَرَّعُ منهُ اَنَّ مَن ذَاقَ شَيْئًا بِفَمِه لَم يفسدُ صَومُهُ فَانَّهُ لَو كَانَ الماء مَالحاً يجدُ طُعمَهُ عند المَضمَضَة لَايفسدُ بِه الصَو مُ وَعُلِمَ منهُ حُكمُ الا حتلام والا حتِجَام وَلَادَ هَان لأنَّ الكتَابَ لَمَّا سَمَّي الا مسَاكَ اللَّازمُ بوَسطَة الا نتهَاء عَنِ االاشياء الثَلثَة المَذكُو رَة في اَوّلِ الصُبحِ صَوماً فعُلِمَ اَنَّ رُكنَ الصَّومِ يتمُ باالانتهَاء عَنِ الا شياء الثَلثَة .

ترجمه :اوپردی با ندی داخبره تفریع کیږی چی که یو شخص په خوله سره وڅکی روژه ئی نه ده فاسده ځکه که اوبه داسی تروشی وی چی په خوله کی داچولو په وخت کنبی ئی خوند معلومیږی په هغه سره روژه نه فاسدیږی اوله دی څخه داحتلام حکم هم معلوم شو او دسر غوړولو حکم هم معلوم شو ځکه قرآن چی کله هغه امساک ته چی په اول سهار کنبی له مذکوره دروشیانو څخه وی روژه وویل نو معلومه شوه چی دروژی ارکان دغه دری شیان دی.

تشریح :مصنف رحمة الله علیه وائی کله چی داخبره ثا بته شوه چی په خوله او پوزه کنبی اوبه اچول روژه نه ماتوی نو له دی څخه داخبره ثابته شوه چی که روژه دار یوشی وڅکی او بیا ئی بیرته توء کړی روژه ئی فاسده نه ده ځکه که دغسل اوبه تروشی وی اوپه خوله کنبی ئی تروشکی معلومه شی په دی خوروژه نه فاسدیږی نو دشی په څکلو سره هم روژه نه ماتیږی .

مصنف رحمة الله علیه وائی چی دا الله تعالیٰ له دی قوله بَاشِرُوهُنَّ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا څخه ورسته له دی قوله ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ دامعلومیږی چی په احتلام او حجامت اوتیل استعمالولو سره روژه نه فاسدیږی ځکه الله ﷻ چی کله له خوړلو څښلواو جماع څخه دځان ساتلونوم روژه کیښودی نو دامعلومه شوه چی دادری شیان داسی ارکان دی چی له دوی څخه په ځان سا تلوسره روژه پوره کیږی ځکه که دروژی شرعی وجودله دی شیا نو نه بغیر پربل شی موقوف وای نوبیا الله ﷻ صرف ددی درو شیانو دځان ساتلوته روزه نه وائی ویلی لهذا داخبره ثابته شوه چی روژه دی ته وائی چی له مذکوره دروشیانو څخه امساک وشی اوله دی درو شیانوبغیر له بل شی څخه ځان ساتل ضروری نه ده نوداسابته شوه چی احتلام اوحجامت اوتیل استعمالول روژه نه فاسده وی اودنبی کریم ﷺ ددی حدیث افطر الحاجم والمحجوم جواب داده چی ددوی روژه ماتیدلوته نژدی ده ځکه په محجوم کنبی ئی وجه داده چی دوینی په وتلو سره ضعف پیدا کیږی اواکثره وخت داسی وی چی محجوم روژی

ماتیدلو ته مجبور شی او حاجم چونکه په خوله سره وینه کشه وی لهذا دا احتمال شته چی وینه دی دده نس ته تیره شی مطلب داده چی په حدیث کی باالفعله ماتیدل مراد نه ده بلکه په دی معنی چی ماتیدلو نژدی ده.

وَعَلَي هٰذَا يَخْرَجُ الحُكْمُ فِي مَسَائلَهُ التَبِييت فَانَّ الاتيان باالمَامُور به انّمَا يلزَمُ عندَ تَوَجُّه الآمْرِوالأمرُ انّمَا يَتوجَّهُ بَعدَ الجزءِ الأوّلِ لقولِه تعاليِ ثُمَ أَتمُو الصِّيَامَ الَي اللّيل.

ترجمه :اوددی نص پرموجب باندی له شپی څخه دنیت کولو دمسئلی حکم تخریج کیږی څکه دمامور به ادا ینه په هغه وخت کښی وی چی امر متوجه شی او امر له اول جز څخه ورسته متوجه کیږی څکه الله ﷻ وائی ثُمّ اتمُو الصِّيَامَ الی اللیل.

تشریح :مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی دمذکوره نص یعنی وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ له موجب څخه دمسلی دتبییت حکم ښکاره شو مسئله دتبییت داده چی درمضان دروژو لپاره دشپی له اول څخه نیت کول ضروری ده اوکه نه ده؟ داحناف مذهب داده چی له اوله دشپی څخه نیت کول ضروری نه ده بلکه تر زوال وړاندی نیت کول کافی ده یعنی که ترصبح صادق مخته نیت وشی هم جائز ده اوکه تر زوال مخته وشی هم جائز ده او دامام شا فعی په نزد داده چی تر صبح صادق مخته نیت کول ضروری ده دلیل ئی داحدیث ده لاصیام لمن لم ینو من اللیل دهغه شخص روژه صحیح نه ده چی له شپی څخه نیت نه وی کړی.

احناف وا ئی چی حدیث پر دی دلالت کوی چی نیت صر ف تر صبح صادق وړاندی جائز ده اوله صبح صادق ورسته جائز نه ده اوآیت شر یف کلوا واشربوا پردی دلالت کوی چی نیت دقصد کولو اوارادی کولو نوم ده او دمامور ادا هغه وخت لا زمه ده چی امر متوجه شو یعنی الله ﷻ ئی طلب وکړی او دلته دمامور یعنی روژی داداکولو امر دصبح صادق دراختلو ورسته متوجه کیږی څکه الله ﷻ چی تاسوروژه پوره کړی تر شپی پوری نوکله چی دروژی داتمام امر وشو او حال داده چی اتمام موقوف ده پر شروع باندی نودابه معلومه کړو چی الله ﷻ دشروع کولو امر له کومه ځایه کوی نورابه شودی ته چی الله ﷻ وائی چی تاسو خورک او ښنبک کوی تر صبح صادقه ددی معنی داده چی ترصبح صادق پوری خورک او ښنبک کوی لیکن چی صبح صادق طلوع وکړی خورک اوښنبک بند کړی نو دامعلومه شوه چی روژه دصبح صادق له طلوع څخه ورسته شروع کیږی لهذا نوامر هم دصبح صادق له طلوع ورسته متوجه کیږی نو داثابته شوه چی نیت د صبح صادق له طلوع ورسته ضروری ده حاصل داده چی له آیت څخه داثابته شوه چی نیت ترصبح صادق وړاندی ضروری نه ده اوله حدیث څخه داثابته شوه چی تر صبح صادق وړاندی ضروری ده لهذا حدیث

اوآيت سره معارض شوو نودلته مور په دواړو سره عمل کوو په دی طريقه چی په شپه کښی نيت کول هم جائز ده او دصبح صادق له طلوع ورسته هم جائز ده.

وَ اَمَّا دَلَالَةُ النَص فَهِيَ مَا عُلِمَ عِلَّةً لِلحُكمِ المَنصُوصِ عَلَيه لُغَةً لَا اجتِهَاداً وَلَا استِنبَاطاً مِثَالُهُ فِي قَولِه تَعَالٰي وَلَا تَقُل لَهُمَا اُفٍّ وَلَا تَنهَر هُمَا فَالعَالِم بِاَوضَاعِ اللُّغَةِ يَفهَمُ بِاَوَّلِ السَّمَاعِ اَنَّ تَحرِيمَ التَّافِيفِ لِدَفعِ الاَذيٰ عَنهُمَا وَحُكمُ هٰذَاالنَّوعِ عُمُومُ الحُكمِ المَنصُوصِ عَلَيه لِعُمُومِ عِلَّتِه وَلِهٰذَاالمَعنيٰ قُلنَا بِتَحرِيمِ الضَّربِ وَالشَّتمِ وَالاستِخدَامِ عَنِ الاَبِ بِسَبَبِ الاِجَارَةِ وَالحَبسِ بِسَبَبِ الدَّينِ وَالقَتلِ قِصَاصاً.

ترجمه: اودلالة النص هغه معنی ده چی دحکم علت والی ئی دمنصوص لپاره لغتاً معلوم وی په اجتهاد او استنباط سره نه وی مثال ئی داقول دالله ﷻ ولاتقل لهما اف ولاتنهرهما ده کوم څوک چی دعربی په وضعه خبروی صرف په اوريدلودری کلام دافهموی چی دمور اوپلار په مخ کښی اف ويل په دی وجه حرام ده چی له دوی څخه تکليف دفع شی او دداسی نوع حکم دعلت دعموم په وجه حکم دمنصوص عليه عام وی اوددی معنی په وجه مونږ وايو چی دموراوپلار وهل ښکنځل کول اوله پلاره طلب دخدمت په اجرت سره او بندی کول دقرض په وجه اوپه قصاص کښی وژل حرام دی.

تشريح: دڅلورم تقسيم دريم قسم دلالت النص ده او دلا لته النص هغه معنی ده چی دهغی په باره کښی لغتاً دامعلومه وی چی منصوص عليه لپاره علت ده يعنی څوک چی په لغت دعرب باندی عالم وی بغير له اجتهاده او فکره داورته معلومه وی چی دامعنی دحکم لپا ره علت ده چی پرهغه باندی نص وارد شوی وی مثلاً ولاتقل لهما اف په دی کښی له کلمی داف څخه منع ددی کلام موضوع له معنی ده په دلا لت النص سره ثابته ده ليکن معنی التزامی چی لغتاً مفهوم ده :ايلام: يعنی تکليف رسول ده دحکم منصوص عليه لپاره علت ده يعنی په نص کښی ددی علت په وجه داُف دکلمی له ويلو منع راغلی ده.

حاصل داده چی دلالة النص هغه معنی ده چی لغتاً دامعلومه شی چی دحکم منصوص عليه لپاره علت ده او په تعريف ددلالة النص کښی له کلمی د :ما: څخه مرادمعنی ده په دی قيد سره اشارة النص خارج شو ځکه داشارة النص ثبوت دنص له لفظه او نظمه څخه وی او ددلالة النص ثبوت دنص له معنی څخه وی ليکن داخبره يا دلره چی له معنی څخه لغوی معنی مرادنه ده ځکه دا معنی دعبارت النص له قبيلی څخه ده بلکه زمونږ مراد التزامی معنی ده چی لغتاً فهميږی خلاصه داده چی په دلالت النص سره ثابت شوی حکم له لغوی معنی څخه مستفادده ليکن بعينه لغوی معنی نه ده اوپه عبارت النص او اشارة النص سره ثابت شوی حکم بعينه په لغوی معنی سره ده نو لکه څرنګه چی په معنی قيد سره عبارت النص او اشارت النص خارج شول همدارنګه محذوف هم په خارج شو ځکه دمحذوف ثبوت هم له نظمه دنص څخه وی وجه ئی داده چی محذوف داسی ده لکه مذکور اوپه تعريف ددلالة النص کښی لغةً تميز د ما ده او له دی څخه مراداده چی ددلالة النص

دحکم پیږندل پر لغت باندی موقوفه ده پر عقل او شریعت باندی نه ده موقوفه لهذا په دی قید سره مقتضی خارج شو ځکه مقتضی شرعاً ثابت وی او یا عقلاً لغتهً نه وی ثابت د لغتهً: قید په وجه ددلالة النص له تعریف څخه قیاس هم خارج شو ځکه قیاس هم لغتهً ثابت نه ده او مصنف رحمه الله داقولولا اجتهاداً ولا استنباطاً ؛ دلغتهً قید لپاره تاکید ده ییره دردپرهغو خلکو باندی چی دلالة النص ته قیاس جلی وائی ددی خلکو دلیل داده چی په دلالة النص کښی پیژندل دحکم موقوف ده پر معنی لازمی باندی نو په دلالة النص کښی دری شیان موجود شو یو اصل چی معنی لغوی ده او بل فرع چی معنی لازمی ده او بل ددوی په مینځ کښی علت مشترکه ده مثلاً کلمه داف ویل اصل ده او ضرب اوشتم فرع ده او ایلام علت مشترکه ده یعنی لکه څرنگه چی والدینو ته په کلمه داف سره تکلیف رسول منع ده همدارنگه په ضرب اوشتم سره تکلیف رسول منع ده نو کله چی دادری شیان موجود شو نو د قیاس معنی متحققه شوه او ددلالة دلالت چونکه ظاهره وو لهذا ددی نوم قیاس جلی کیښودل شو اود مصنف رحمه الله دردوجه داده چی دقیاس او دلالة النص په مینځ کښی په ډیروو وجوه فرق شته اول داده چی قیاس عام طورظنی وی اودلالة النص قطعی وی اودوهم فرق داده چی پرقیاس باندی صرف مجتهد خبرتیاحاصله ولای شی اوپردلالة النص هرسړی پیژنی چی هغه اهل زبان وی اولغت پیژنی دریم فرق ئی داده چی هغه خوک چی قیاس نه منی هغه هم دلالة النص څخه انکار نه کوی اوڅلورم فرق ئی داده چی ددلالة النص مشروعیت مخکی ده ترمشروعیت دقیاس داڅلورسره فرقونه ددی خبری دلیل دی چی دلالة النص قیاس نه ده مصنف رحمه الله ددلالة النص مثال داوائی لاتقل لهما اف ولاتنهر ځکه کوم خوک چی لغات دعربو پیژنی هغه صرف ددی کلام په اوریدلو سره دامعلومه وی چی دکلمی داف ویل په دی وجه حرام ده چی په دی سره والدینو ته تکلیف رسیږی نوددی کلمی ویل دوالدینو په مخکښی منع ده اودامنع په دلالة النص سره ثابته ده اوله دی څخه چونکه لازماً دامعلومیده چی دوالدینو وهل اوهغوته ښکنځل کول اونوری طریقی دتکلیف هم ممنوع دی اوددی خبری فهمول اجتهاد اوغور اوفکر ته هم ضرورت نه لری لهذا منع هم په دلالة النص سره ثابته ده مصنف رحمه الله وائی چی دلالة النص حکم داده چی دعلت دعموم په وجه دمنصوص علیه حکم هم عام وی نو په مذکوره نص کښی ؛ لاتقل لهما اف حکم داده چی د والدینو په مخکی کی داف لفظ ویل حرام ده علت ئی ایلام ده یعنی والدینو ته تکلیف رسیدل علت دتحریم ده نو په کوموشیانو سره چی دی ته تکلیف رسیږی دهغه کول حرام ده لکه دوالدینو وهل اوددوی ته ښکنځل کول اوپه دوی باندی په مزدوری خدمت کول وغیره ټول حرام دی اوکه الدینو خپل ذوی په قصد سره قتل کی نوددوی قتلول په قصاص کښی حرام ده.

ثُمّ دَلَالَةُ النصّ بمَنزِلَةِ النّصّ حتّي صَحّ اثبَاتُ العقُوبَة بدَلَالَة النّصّ قَالَ اَصحَابُنَا وَجَبَت الكفّارةُ بالوِقاع باالنّصّ باالاكل وَالشّرب بدَلَالَة النّصّ وَعَلي اعتبَارِهٰذالمعنَي قِيلَ يدَارُالحكمُ عَلي تلك العلته قا ل الامَام القَاضِي بُوزيدلَوانّ قومًايعدون التافيف كرامة لايحرم علهيم تافيت الابوين .

ترجمه : اودلالة النص په مرتبه دنص کښې ده تردی اندازی چې په دلالة النص سره عقوبات ثابتول هم صحيح ده زموږعلماء وائی چې دجماع په وجه سره كفار، په نص ثابته ده اودخوړلواوڅښولو په وجه کفاره په دلالة النص سره ثابته ده اوددی معنی په اعتبار سره دا ویل کيږی چې دحکم دار مدار پرعلت باندی ده قاضی امام ابوزید رحمه الله ويلی دی که که يو قوم داسی وی چې اف ته اکرام وائي نوبيا ددی لفظ استعمال دوالدينو په مخکښې حرام نه ده.

تشريح :مصنف رحمه الله وائی چې د يقين په فائده کولو کښې دلالة النص په مرتبه دنص کښې ده يعنی لکه څرنګه چې نص يقين فائده کوی همدارنګه دلالة النص هم يقين فائده کوی لکه څرنګه چې حدود اوکفارات په نص سره ثابيتيږی همدارنګه په دلالة النص سره هم ثابيتيږی زموږ داحناف علماء وائی چې په جماع سره دروژی فاسدولو په صورت کښې کفاره دنص په ذريعه ثابيتيږی اودخورک اوڅښک په ذريعه دروژي فاسدولو په صورت کښې کفاره په دلالة النص سره ثابيتيږی په دی طريقه چې په حديث کښې راغلی دی چې حضرت ابوهريره رضی الله عنه وائی چې يوځل موږ په مدينه منوره کښې دنبی کريم ﷺ په مجلس کښې حاضر وو ناڅاپه يوسړی راغلی او وويل دالله ﷺ رسوله زه مړشوم نبی کريم ﷺ وويل څه پيښه شوه ده وويل ما په حال دروژی کښې له خپلی ښځی سره جماع وکړه آنحضرت ﷺ ورته وويل ستاسره داسی غلام سته چې آزادئی کړی ده ورته وويل يانسته بيانبی کريم ﷺ ورته وويل چې د دوومياشتومتصل روژو توان لری ده وويل يانه ئی لرم بياآنحضرت ﷺ ورته وويل وشپيتومسکينانوته ډوډی ورکولای شی ده وويل داتوان هم لرم بيانبی کريم ﷺ ورته وويل کښينه څه وخت وروسته نبی کريم ﷺ ته خورما راغله نبی کريم ﷺ وويل سوال کونکی چيرته ده دهآوازوکړ زه حاضر يم نبی کريم ﷺ ورته وويل داخورما واخله اوصدقه ئي کړه ده وويل ای دخدای رسوله ترما اوزماتراولاد ډيرحجت مندبل څوک ده ؟ نبی کريم ﷺ وخندل اوورته وه ئی ويل داخورما خپل اولاد ته ورکړه په دی حديث سره په جماع سره د روژی دفاسده ولوذکر ده اوهمدارنګه دکفاری دجوب ذکر ده نوځکه دجماع په ذريعه سره دروژی دفاسدولو په صورت کښې دکفاری وجوب په عبارت النص سره ثابت ده ليکن چونکه له حديث څخه التزاماً دامعلوميده چې دکفاری دوجوب سبب جماع نه ده بلکه عمداً روژه فاسدول ده نوله دی وجه ئی قصداً په خورک کولو سره روژی فاسدولو په صورت کښې وجوب دکفاری په دلالة النص ثابت ده اوهمدارنګه دماعزاسلمی رجم دزناپه وجه په عبارت النص سره ثابت ده اوله دی نه بغيردنورو زانيانورجم دزناپه وجه په دلالة النص سره ثابت ده ځکه ماعزاسلمی نه دماعزيت په

وجه رجم شوی ده او نه دصحابیت په وجه بلکه محض دزنا په وجه رجم شوی ده لهذا داخبره په دلالة النص سره ثابته ده که محض زنا وکړی رجم کیږی.
مصنف رحمة الله علیه وائی چی دلالة النص چونکه یقین فائده کوی له دی وجه دنص دحکم دارمدار دهغه پرعلت باندی ده یعنی په وخت دوجود کښی حکم موجود ده اودعدم په وخت کښی حکم نیستی ده که څه هم صورت دنص له دی مخالف وی څکه قاضی ابوزید وائی چی که داسی قوم وی چی دوالدینو په مخکښی داف لفظ استعمالول اکرام اوتعظیم بولی نو هلته ایلام نشته اوددی لفظ استعمالول حرام نه ده که څه هم داخبره له دی نص ولاتقل لهمااف څخه مخالفه ده.

وَكَذٰلِكَ قُلنَا فِي قَولِه تَعَالي يٰاَيُّهَاالَّذِينَ اٰمَنُوااِذَا نُودِيَ الاٰيَة وَلَوفَرَضنَا بَيعاً لَايَمنَعُ العَاقِدَينِ عَنِ السَّعيِ اِلَي الجُمُعَة بِاَنْ كَانَا فِي سَفِينَة تَجرِي اِلَي الجَامِع لَايُكرَهُ البَيعَ.

ترجمه : اوهمدارنګه موږ دالله ﷻ په دی قول یاایها الذین امنو کښی وایو که موږ فرض کو هغه بیع چی عاقدین له سعی څخه نه منع کوی په دی طریقه چی دواړه په داسی کښتی کښی سپاره وی چی هغه دجامع مسجد پرلور روانه وی نو دا بیع مکروه نه ده.

تشریح :مصنف رحمة الله علیه وائي دالله ﷻ په دی قول یاایهاالذین امنو اذانودی للصلوٰة من یوم الجمعة فاسعواالي ذکرالله وذروالبیع کښی هم دلالة النص ده په دی طریقه چی الله ﷻ دجمعی له اذانه وروسته دسعی امرکړی ده اودبیع دپریښودلو امر ئی کړی لیکن ددی څخه داخبره معلومیږی چی دجمعی له اذانه وروسته مطلقاً بیع منع نه ده بلکه هغه بیع منع ده چی په هغه سره سعی ته خلل رسیږی لهذا دجمعی له اذانه وروسته داسی بیع منع ده چی سعی ته خلل رسوی په دلالة النص سره ثابته ده اودمنع وجه ئی داده چی سعی ته خلل رسوی نو که موږ فرض کړو داسی بیع چی سعی ته خلل نه رسوی مثلاً داسی بیع چی عاقدین دواړه په یوه کښتی کښی سپاره وی چی هغه دجامع مسجدپرلورروانه وی په دی صورت کښی بیع چونکه سعی ته خلل نه رسوی ممنوع نه ده.

وَعَلٰي هٰذَا قُلنَا اِذَا حَلَفَ لَايَضرِبُ امرَاَتَهُ فَمَدَّ شَعرَهَا اَوعَضَّهَا اَوخَنَقَهَا يَحنَثُ اِذَاكَانَ بِوَجهِ الاِيلَامِ وَلَووُجِدَ صُورَةُ الضَّربِ وَمَدُّ الشَّعرِ عِندَالمُلَاعَبَة دُونَ الاِيلَامِ لَايَحنَثُ وَمَن حَلَفَ لَايَضرِبُ فُلَاناً فَضَرَبَهُ بَعدَمَوتِه لَايَحنَثُ لِانعِدَامِ مَعنَي الضَّربِ وَهُوَالاِيلَامُ وَكَذَالَوحَلَفَ لَايَتَكَلَّمُ فُلَاناً فَكَلَّمَهُ بَعدَ مَوتِه لَايَحنَثُ لِعَدَمِ الاِفهَامِ وَبِاعتِبَارِهٰذَا المَعنٰي يُقَالُ اِذَا حَلَفَ لَايَاكُلُ لَحماً فَاَكَلَ لَحمَ السَّمَكِ اَوالجَرَادِ لَايَحنَثُ وَلَواَكَلَ لَحمَ الخِنزِيرِاَوِالاِنسَانِ يَحنَثُ لِاَنَّ العَالِمَ بِاَوَّلِ السَّمَاعِ يَعلَمُ اَنَّ الحَامِلَ عَلٰي هٰذَااليَمِينِ اِنَّمَا هُوَ الاِحتِرَازُ عَمَّا يَنشَأُ مِنَ الدَّمِ فَيَكُونُ الاِحتِرَازُ عَن تَنَاوُلِ الدَّمَوِيَّاتِ فَيُدَارُالحُكمُ عَلٰي ذٰلِكَ.

ترجمه : او بنا پردی چې دحکم وجود اوعدم پر علت باندی ده موږ وایو که چاه قسم وکړ چې دی خپله ښځه نه وهي اوبیا ئی ښځه تر ویښتانو کش کړه اویائی خوله په ولګوله اویائی خفه کړه نودی حانث دی پدی شرط که داشان په طریقه دالم وو اوکه دبازیو په طریقه وؤ نه ده حانث اوکه چاه قسم وکړچې فلانی به نه وهم اودغه فلان له مرګه وروسته وواهی حانث نه ده ځکه دلته دضرب معنی چې ایلام ده نشته اوهمدارنګه که چاه قسم وکړ فلانی سره خبری نه کوم له هغه سره له مرګه بعد خبری وکړی حانث نه ده ځکه دلته افهام نسته او ددی معنی په اعتبار موږ وایو که ئی قسم وکړ چې غوښه نه خورم اوبیائی دماهي اوملخ غوښه وخوړه حانث نه ده اوکه ئی دخنزیر اویائی دانسان غوښه وخوړه حانث ده ځکه هغه څوک چې په لغت علم لری هغه ته صرف په اورید ولو دامعلومیږی چې ددی قسم باعث ځان ساتل دی له هغو غوښوچې له وینی پیداشوی وی نو مقصودله هغوشیانوځان ساتل ده چې وینه لری اودحکم دارمدار هم پردی ده.

تشریح : مصنف رحمه الله وائي چونکه دحکم دوجود اوعدم دارمدار پرعلت ده له دی وجه موږ وایو چې که سړی قسم وکړی چې زه خپله ښځه نه وهم لیکن وه ئي نه وهله خوترویښتانوئي کش کړه اویائي خوله په ولګوله اویائی خفه کړه نودی حانث ده په هغه وخت کی که په دی افعالودی ته ایلام رسیدی ځکه له ضرب څخه هغه فعل مراد ده چې ښځي ته تکلیف رسوی لهذا دنه وهلو مطلب داده چې زه تاته تکلیف نه رسوم نوکه دخاوند په هر فعل دی تکلیف ته رسیدی دهغه په کولو سره خاوند حانث ده اوپه کوموکاروچې ښځی ته تکلیف نه رسیږی دهغوکاروپه کولوسره حانث نه ده مثلاً لکه مذکوره قسم څخه وروسته خاوند په ګفه او خنداکښی ښځه ووهی اویائي ویښتان کش کړی اوپه دی عمل سره دی ته تکلیف نه ورسیږی خاوند حانث نه ده اوکه یوسړی قسم وکړی چې زه فلانی نه وهم اوبیا قسم کونکی دی له مرګه وروسته ووهی هم حانث نه ده ځکه له ضرب څخه مراد ایلام ده اودلته ایلام نشته لهذا دایلام دعدم په صورت کښی دی حانث نه ده اوهمدارنګه که ئی قسم وکړ چې زه له فلانی سره خبری نه کوم او بیائی له مرګه وروسته خبری ورسره وکړی هم حانث نه ده ځکه له خبروکولوڅخه مراد افهام ده اوله مرګه وروسته افهام نشته یعنی مړی خبری نشی فهمولای لهذا په دی صورت کښی هم دی حانث نه ده له دی وجه چې دحکم وجود اوعدم دائر پرعلت وی نوچې علت نه وی حکم هم نشته اوکه ئی قسم وکړی چې زه غوښه نه خورم اوبیا ئي دماهي اویادملخ غوښه وخوړه حانث نه ده ځکه څوک چې په لغت علم لری هغه ددی په اوریدولو سره دامعلومه وی چې هغه غوښه مراد ده چې له وینی څخه پیداشوی وی لهذا دحالف مراد دوینه لرونکی شیانوغوښه مراد ده نوکه ئی دانسان اویا خنزیر غوښه وخوړه حانث ده.

سوال : دماهي په نس کښی خووینه شته باید دده دغوښی په خوړلو سره حانث شی ؟

جواب : داده چی دماهی په نص کښی یو قسم رطوبت ده وینه نه ده ځکه دوینی خاصه داده چی ګرمی ته ئی کښیدی دې طوریږی او دماهی وینی چی ګرمی ته کښیدی سپینیږی.

سوال : دماهی غوښه خو حقیقتاً غوښه ده له دی ځخه دغوښی نفی کول صحیح نه ده او الله ﷻ هم دی ته غوښه ویلی دی لکه په دی آیت کښی لحماطریا.

جواب : داده چی حالف دلته غوښه مطلق ذکر کړی ده او له مطلق ځخه فرد کامل مراد وی او دماهی په غوښه کی چونکه وینه نشته او په غوښه کښی شدّت هم نشته لهذا ددی په غوښوالی کښی ځه قصور شته نو کله چی دا قصوروو ددی په خوړلو سره نه حانث کیږی اصل داده چی که علت موجود وو حکم هم موجود ده او که علت موجود نه وو حکم نشته.

وَاَمَّا الْمُقْتَضٰي فَهُوَ زِيَادَةٌ عَلَي النَّصِّ لَايَتَحَقَّقُ مَعْنَي النَّصِّ اِلاَّ بِه كَاَنَّ النَّصَّ اقْتَضَاهُ لِيَصِحَّ فِي نَفْسِه مَعْنَاهُ مِثَالُهُ فِي الشَّرْعِيَاتِ قَوْلُهُ اَنْتِ طَالِقٌ فَاِنَّ هٰذَا نَعْتُ الْمَرْاَةِ اَنَّ النَّعْتَ يَقْتَضِي الْمَصْدَرَ فَكَاَنَّ الْمَصْدَرَ مَوْجُوْدٌ بِطَرِيْقِ الْاِقْتِضَاءِ .

ترجمه : په تحقیق سره مقتضی هغه زیادت ده پر نص باندی چی له هغه نه بغیر دنص معنی نه متحققه کیږی داسی ده لکه نص چی ئی تقاضی کوی ددی لپاره چی دده معنی صحیح شی په شرع کښی ددی مثال دخاوند داقول ده ؛ انت طالق ، ځکه طالق دښځی صفت ده لیکن صفت دمصدر تقاضی کوی ګواکی مصدر اقتضاءً موجود ده.

تشریح : دځلورم تقسم ځلورم قسم مقتضی ده مقتضی پر منصوص علیه باندی هغه زیادت ده چی له هغه نه بغیر دمنصوص علیه معنی نه متحقق کیږی لکه فتحریر رقبة کښی چی مملوکة زیادت مقدر ده ځکه تحریر درقبی له ملک ورسته وی مصنف رحمه الله دمقتضی دتسمیه وجه داسی بیانوی چی کلام منصوص علیه دمکمل کیدو لپاره چونکه نص دزیادت ته تقاضی کوله لهذا نص مقتضی (په کسره دضاد) ده او دا معنی یعنی هغه زیادت مقتضی (په فتحه دضاد) ده تفصیل ئی داده چی ډیروختو نه منصوص علیه کلام شرعاً ددی تقاضی کوی چی یو زائد عبارت مقدر شی ځکه که دغه زائد عبارت مقدر نه شی نو دمنصوص علیه کلام معنی نه صحیح کیږی بلکه منصوص علیه کلام لغو وی لهذا دمنصوص علیه کلام دمعنی دصحت لپاره او له لغو کیدو ځخه دستاتلو لپاره دهغه زیادت تقدیر ضروری ده او پردی زیادت چونکه دمنصوص علیه صحت موقوفه ده له دی وجه هغه زیادت دمنصوص علیه کلام لپاره شرط ده او شرط د شی مخکی وی پردغه شی باندی لهذا هغه زیادت به پر منصوص علیه کلام باندی مخکی وی که ته فکر وکړی تا ته به دا معلومه شی چی دلته ځلور شیان دی (۱) اول داده هغه منصوص علیه کلام چی دده صحت پر هغه زیادت باندی موقوفه ده هغه ته مقتضی (په کسره دضاد) ویل کیږی (۲) هغه زیادت چی پر هغه باندی منصوص علیه کلام موقوفه ده هغه ته مقتضی (په فتحه دضاد) ویل کیږی (۳) دشرع دلالت پردی باندی چی

منصوص علیه کلام بغیرله دغه زیادت درست نه ده اقتضاء ده اوبعض وائی چی دمنصوص علیه کلام دزیادت طلب کول اقتضاء ده اوبعض وائي چي دمقتضی اومقتضی په مینځ کښی نسبت اقتضاء ده ددی دری سره اقوالوتعبیر بیل بیل ده لیکن حاصل دټولو یو ده (۴) هغه حکم ده چی له مقتضی څخه ثابت وی مصنف رحمه الله وائی چی په احکام شرعیه کښی دمقتضی مثال داده چی خاوند خپلی ښځی ته ووائی انت طالقٌ دلته طالق دښځی صفت ده اوصفت تقاضی دمصدر کوی ځکه دصفت صیغی لکه اسم فاعل اسم مفعول صفت مشبه پرمصدر دلالت کوی لکه فعل چی پرمصدر دلالت کوی نوکله چی طالق دښځی صفت وو اوصفت تقاضی دمصدر کوی نوطالق دمصدر تقاضی کوی چی طلاق ده نوکله چی طالق دطلاق یعنی مصدر تقاضی کوی نوانت طالق انت طلاقاً ده لهذانو مصدر اقتضاء ثابت ده.

فوائد: مقدر اومحذوف اومقتضی دری سره غیر منطوق ده یعنی په الفاظو کښی ذکر نه دی داصولینو متقدمین اودشوافع له متاخرینو څخه قاضی ابوزید وائی چی ددوی په مینځ کښی هیڅ فرق نشته اوعلامه فخر الاسلام اوعام متاخرین وائی چی ددوی په مینځ کښی فرق شته هغه داده کوم شی چی شرعاً یالغتاً یاعقلاً دصحت لپاره ثابت وی هغه ته مقدر وائی اوچی لغتاً دصحت لپاره ثابت وی هغه ته محذوف وائی اوچی شرعاً دصحت لپاره ثابت وی هغه ته مقتضی وائی جمیل احمد غفرله ولوالدیه.

وَاِذَاقَالَ اَعتِقْ عَبدَکَ عَنِّي بِاَلف دَرهم فَقَالَ اَعتَقْتُ يَقعُ العتقُ عَن الامر فَيجبُ عَلَيه الاَلفُ وَلَوکَانَ الاَمر نوي بِه الکَفَّارَةُ يَقعُ عَمَّا نَوي وَذٰلکَ لِاَنَّ قَولَهُ اَعتِقهُ عَنِّي بِاَلف درهم يَقتَضِي مَعنی قَوله بِعهُ عَنِّي بِاَلف ثُمَّ کُن وَکِيلِي بالاعتِقاقِ فَاعتِقهُ عَنِّي فَيثبتُ البَيعَ بِطريقِ الاقتِضَاءِ وَيثبُتُ القَبولُ کَذٰلکَ لِاَنَّهُ رُکنٌ فِي بَابِ البيعِ.

ترجمه: اوکه یوچاوبل ته وویل ته ستاغلام زماله طرفه په زر روپی أزاد کړه اوهغه وویل ماآزادکړی ده نودآمرله طرفه آزاد ده لهذا پرآمر باندی زر روپی واجب دی اوکه آمر په دی کښی دکفاری نیت کړی وو نوهغه واقع ده چی ده ئی نیت کړی ده اودا له دی وجه چی دده داقول چی ته دی زماله طرفه دزرو روپو په عوض کی آزاد کړه دده ددی قول تقاضی کوی چی ته داپر ماخرخ کړا په زر روپی اوبیازماله طرفه دده په آزادیدو کښی وکیل ئي زما له طرفه ئی آزاد کړه نودلته بیع په طریقه داقتضاء ثابته ده اوقبول په طریقه داقتضاء ثابت ده ځکه دی دباب دبیع رکن ده.

تشریح: مصنف رحمه الله دوهم مثال ذکرکوی او وائی چی که چیری یوشخص بل ته ووائی چی ته ستاغلام زماله طرفه دزورو روپوپه مقابل کښی ازاد کړه او هغه ورته وویل ماآزادکړی ده نو غلام دآمرله طرفه آزاد ده او پر آمر باندی زر روپی واجب دی اوکه آمردغلام په آزادوالی کښی دکفاری نیت کړی وو دانیت ئی هم صحیح ده ځکه چی دآمر قول اعتق عبدک عنی بالف درهم: دبیع تقاضی

کوی نوګواکی ده داسی وویل اعتق عبدک عنی بالف ثم کن وکیلی بالاعتاق فاعتقه عنی ستا غلام پرما خرخ کړه په زررو پی اوبیا ته زما له طرفه وکیل ئی آزاد ئی کړه او د آمر مذکوره قول له دی وجه دبیع تقاضی کوی ځکه چی دغلام دآزادوالی سره دالازمه ده چی آزاد کونکی به دغلام مالک وی نو دده دا قول اعتق ددی تقاضی کوی چی ته یوځل ما دغلام مالک کړه اوبیا ئی زماله طرفه آزاد کړه اودملک سبب خوهبه صدقه اوبیع وغیره دی لیکن دلته دبالف درهم په قرینه سره بیع مراد ده نو دآمر دا قول اعتق عبدك عنی بالف درهم ددی تقاضی کوی چی اول ځل غلام پر ما په زررو پی خرخ کړه او بیا زما وکیل شه اوآزادئی کړه.

اودایادلره کله چی بیع اقتضاءً ثابت شوه لهذا امر دا قول اعتق عبدك عنی بالف درهم مقتضی ده اوبیع مقتضی ده اوپر غلام باندی دآمرملک ثابتول مقتضی (په فتحه) حکم ده حاصل داده چی په دی مثال کښی بیع هغه زیادت ده چی پر هغه باندی صحت دعتق موقوف ده اومصنف رحمۃ اللہ علیہ په دی قول ویثبت القبول کذلك دیو سوال جواب ورکوی

سوا ل :داده چی دعتق په ضمن کښی مذکوره بیع بی له ایجابه اوقبوله ده او حال داده چی ایجاب اوقبول دبیع ارکان دی با ید دابیع صحح نه شی.؟

جواب :داده چی دلته چی خرنګه بیع اقتضاءً ثابته ده همدارنګه ایجاب او قبول هم اقتضاءً ثابت دی نوکله چی بیع اقتضاءً ثابته وه ددی لپاره دایجاب اوقبول ثبوت اقتضاءً کافی ده په لفظ کی ذکر ته ضرورت نشته.

وَلِهَذا قَالَ اَبُويوسف رحمۃ اللہ علیہ اذاقال اَعتق عَبدَكَ عَنّي بِغَيرشيء فَقَالَ اَعتَقتُ يَقَعُ العتقُ عَن الامر وَيكُونُ هَذَ امقتضياللهبة وَالتّو كيل وَلَايحتاج فيه الي القبض لَانَّهُ بِمَنزِلَة القَبُول في بابِ البَيعَ وَلكنّا نَقُولُ القَبولُ رُكنَ في بابِ البَيعِ فاذا اثبَتنَا البيعَ اقتضاءً اثبَتنَا القَبُولَ ضَرورةً بخلافِ القَبض في بَابِ الهِبَة فانَّهُ لَيسَ بِركَن في الهِبة ليكونَ الحُكمُ باالهِبَة بطَرِيقِ الا قتضاءِحُكمًا باالقبضِ.

ترجمه :او له دی وجه امام یوسف وائی که یو شخص بل ته وویل چی ته زماله طرفه ستا غلام بی له عوضه آزاد کړه او هغه وویل ماآزاد کړی ده اودا غلام دآمر له طرفه آزاد ده او داکلام دهبی او توکیل تقاضی کوی اوپه دی کښی دقبض ضرورت نشته ځکه قبض په مرتبه دقبول کښی ده په باب دبیع کښی لیکن موږ جواب ورکوو چی قبول په باب دبیع کښی رکن ده نوکله چی بیع اقتضاءً ثابته شوه نو دقبول ضرورتًا ثابت شو او په باب دهبی کښی قبض داسی نه ده یعنی رکن نه ده چی په طریقه دااقتضاء دهبی ثبوت دقبض حکم شی.

تشریح :حضرت امام ابویوسف رحمۃ اللہ علیہ وائی لکه خرنګه چی ددی قول :اعتق عبدك عنی بالف درهم په جواب کښی په اعتقت ویلو سره غلام آزدیږی او داکلام دبیع او دقبول دبیع مقتضی ده همدارنګه که

یو سړی بل ته ووائی اعتق عبدک عنی بغیرشی ء ته ستا غلام زماله طرفه بی له عوضه آزاد کړه او مخاطب په جواب کښی ورته وائی اعتقت په دی صورت کښی هم غلام دآمر له طرفه آزادیږی او هبه اوتوکیل اقتضاءً ثابتیږی نومطلب ئی داده هب لی عبدك ثم کن وکیلی بالاعتاق ته ما ته ستا غلام هبه کړه اوبیاته زماله طرفه وکیل ئی آزادئی کړه حضرت امام ابویوسف رحمه الله وائی چی دهبی داتمام لپاره او په دی سره دملک دثبوت لپاره که څه هم داشرط ده چی موهوب له به موهوب شی قبض کوی لیکن لکه څرنګه چی په بیع کښی قبول اقتضاءً ثابت ده دارنګه په هبه کښی قبض هم داسی حیثت لری لکه په بیع کښی قبول لهذلکه څرنګه چی په اقتضاءً ثابت شوی بیعه کښی قبول اقبضاءً ثابت ده اوپه دی سره آمرته ملک ثابت شو او بیا دده له طرفه غلام آزادشو هم دارنګه په اقتضاءً ثابت شوی هبه کښی دموهوب قبض اقتضاءً ثابت ده اوپه دی سره موهوب له ته ملک ثابت ده او دده له طرفه غلام آزادده مصنف رحمه الله دطرفین له طرفه امام ابویوسف ته جواب ورکوی چی قیاس دقبض پر قبول باندی صحیح نه ده ځکه قبول په ضمن ربیع کښی ثابت ده اوقبض په ضمن دهبی کښی ثابت نه ده وجه ئی داده چی قبول دبیع رکن ده اوشی بغیر له رکنه نشی موجودیدای لهذا کله چی اقتضاءً بیع ثابته شوه ددی په ضمن کښی قبول هم ثابت شونو کله چی قبول ثابت شو بیع منعقده شوه اوبیع چی منعقده شوه نوآمر دغلام مالک شو چی ملک ثابت شونو دآمر له طرفه غلام آزاد شواوقبض دهبی لپاره رکن نه ده بلکه شرط ده او شرط خوله شی څخه خارج وی نو کله چی شرط خارج ده لهذا قبض په ضمن دهبی کښی نشی ثابت کیدای نو چی دموهوب له قبض ثابت نه شو نود موهوب (غلام) مالک هم نه شو او چی دمو هوب مالک نه شو نو موهوب دموهوب له (آمر)له طرفه آزادنه ده بلکه دمامورله طرفه آزاد ه حاصل داده چی دقبض او قبول په مینځ کښی فرق شته نوکله چی ددوی په مینځ کښی فرق شته نو دیوه قیاس پربل باندی صحیح نه ده لیکن دلته یو سوال کیږی.

سوال :لکه څرنګه چی دشی وجود پر رکن موقوف ده همدارنګه ئی وجود پر شرط هم موقوف ده نولکه څرنګه چی دبیع په ضمن کښی قبول ثابت ده دارنګه دهبی په ضمن کښی قبض هم ثابت ده

جواب: داده چی هبه قولی شی ده او قبض فعلی او حسّی شی ده فعل او حسّی شی دقولی تابیع کول صحیح نه ده له دی وجه قبض په ضمن دهبی کښی نشی ثابت کیدای..

وَحُكْمُ المُقتضي اَنَّهُ يثبتُ بطريق الضّرورةفيقدّرُ بِقدرِ الضَّرُورَة ولَهَذا قُلنَا اذا قَالَ اَنت طَالِقٌ وَنَوي به الثلثَ لَا يصحُ لاَنَ الطلاقَ يقدّرُ مَذكوراً بِطرِيقِ لَا قِيضاءفيقَدّ رُ بِقدرِ الضَّرُورَةِ والضَرُودةُ تَرتَفِعُ باالوَاحد فيقَدّ رُ مَذكَوراً في حَقِّ الوَاحِد.

ترجمه :اودمقتضی حکم داده چی هغه په طریقه دضرورت ثابتیږ لهذا په اندازه دضرورت مقدرده او له دی وجه موږ وایو چی که یو سړی وویل انت طالق او په دی سره ئی ددی طلاقه مرادوونه ده

صحیح څکه طلاق په طریقه داقتضاء سره ثابت ده لهذا باید په قدر دضرورت اراده کړشي او ضرورت په یوه طلاق پوره کیږي باید په حق دیوه کښې فرض کړشي.

تشریح: مصنف رحمه الله وائي چي مقتضي ضرورةً ثابته ده یعني دکلام دصحت لپار ه ثابته ده اودا خبره منل شوی ده چي کوم شي چي ضرورةً ثابت وی هغه په قدردضرورت ثابت ده لهذا مقتضی ثبوت به هم په قدر دضرورت وی یعني له مقتضی څخه به دومره اندازه ثابتیږي چي ضرورت په پوره کیږي دی قاعدی ته په پام لرنه سره موږ وایو که خاوند خپلی ښځی ته وویل انت طالق او مرادئی دری طلاقه وو په دی سره صرف یو طلاق واقع کیږي څکه له انت طالق څخه چي کوم طلا ق ثابت ده هغه اقتضاءً ثابت ده لهذا طلاق باید په اندازه دضرورت ثابت شي او ضرورت چونکه په یوه طلاق پوره کیږي څکه موږ وایو چي په دی قول سره یو طلاق واقع کیږي نو دلته پر ښځه باندی یو طلاق وقع ده.

وَعَلَي هٰذَا يخرّجُ الحُكمُ في قوله انْ اكلتُ ونَوي به طعامًا دُونَ طَعَام لايصحّ لاَنّ الاَ كل يقتضي طَعَامًا فكَانَ ذَالكَ ثابتًا بطريق الاَقتضَاء فيقدّرُ بقدَر الضّرُورة والضّرورَةُ تَر تَفعُ بِاالفرْد المُطلَق وَلاَ تَخصيصَ فِي الفَرْد اَلمُطلَق لاَنّ التّخصيصَ يعتَمدُ العُمُومَ.

ترجمه: اوبنا پردی باندی راوزی حکم ددی قول ؛ان اکلت ؛ اوله دی څخه مراد بعض خورک وی او بعض نه وی دانیت ئی صحیح نه ده څکه چي لفظ داکل دخوراک دشی تقاضی کوی نو دخوراک شی په طریقه داقتضاء ثابت ده لهذا دلته خوراک په اندزه دضرورت اخستل کیږي اوضرورت په مطلق سره پوره کیږي اوپه فرد مطلق کښې تخصیص نشته څکه تخصیص اعتماد پر عموم لري.

تشریح: مصنف رحمه الله وائي چي مقتضی په اندازه دضرورت ثابته وی ددی قاعدی پر بنا دان اکلت حکم معلومیږي په دی طریقه که سړي وویل ان اکلت فعبدی حرّ که ماخوراک وکی زما غلام آزاد ده او حال داوو چي قسم کونکي یوخاص شي مراد وو مثلا ډوډی ئی مراد وه داحناف په نزد دانیت صحیح نه ده بلکه دهرشي په خوړلو سره حانث کیږي یعني غلام ئی آزادیږي او دامام شافعي په نزد دیانتۃً دده دنیت تخصیص جائزده یعنی که ئی ان اکلت فعبدی حرّ وویل اومراد ئی ډوډی وه دانیت ئی دیانۃً (فیمابینه وبین الله)معتبر ده لیکن قضاءً معتبر نه ده یعنی قاضی به ئی تصدیق نه کوی دامام شافعي دلیل داده چي اکل فعل متعدی ده اودفعل متعدی لپاره مفعول ضروری ده که لفظًا وی اوکه تقدیراًوی نو کله چي داسی شونوله اکلت ورسته شي اویا طعام مقدره او داداوړه عام دی په عام کښې دتخصیص نیت کول جائز ده لهذا دحالف دخاص خورک داراده کولونیت صحیح ده لیکن چونکه په داسی نیت کولو پرحالف باندی څه تهمت ویل کیدی په دی طریقه چي قسم ئی کړی ده اودخفتت لپا ره داووائي چي زمانیت فلاني شی ده .نو څکه قضاءً دده تصدیق نه کیږي داحناف دلیل داده چي له ان اکلت ورسته لفظ دشي او طعام مقدرنه ده بلکه مقتضی ده

یعني اکل دطعام تقاضی کوی لهذا طعام په طریقه داقتضاء ثابت ده اومخکی داخبره یا ده شوه چی مقتضی په قدر دضرورت ثابت وی اوضرورت په فردمطلق سره پوره کیږی اوپه مطلق کنبی تخصیص نشی کیدای ځکه تخصیص هلته کیږی چی عموم وی اود مقتضی لپاره عموم نه وی لهذا چی فرد مطلق مقتضی ده په دی کنبی تخصیص نه ده جائز نو چی په مقتضی کنبی تخصیص نه کیږی نو دتخصیص نیت کول هم صحیح نه ده حاصل داده چی که چاه داقول ان اکلت فعبدی حر وکړ اونیت ئی یوخاص خورک وو دانیت صحیح نه ده بلکه حالف دخوراک په هرشی سره حانث کیږی.
سوال: کله چی طعام مقتضی شومونږ دامنو چی په هغه کنبی عموم نشته او تخصیص ئی هم له دغی وجه جائز نه ده لیکن مطلق خوده او دمطلق تقیید جائز ده لهذا باید په مخصوص طعام سره مقید کول جائز شی چی داجائز شو نو دخاص طعام نیت کول هم جائز ده.
جواب: داده چی دطعام بعض انواع متعین کول یا بعض افراد متعین کول تخصیص ده تقیید نه ده مثلا چی رجال ذکر شی اوله هغه څخه خاص قوم مرادکول مثلا قریش اویا تمیم داتخصیص ده تقیید نه ده ځکه تقیید دی ته وائی چی په یوشی کنبی یو زیادت وصف معتبر کړی مثلا په رجل کنبی صفت دعلم معبرکول.

وَلَو قَالَ بَعدَ الدُّخُولِ اعتَدّ وَنوی به الطَّلَاقِ فَیقعُ الطَّلَاقُ اقتضَاءً لِاَنَّ الاعتدَادَ یقتَضِي وُجُودَ الطَّلَاقِ فَیقَدَّرُ الطَّلاقُ مَوجُوداً ضَرورَةً وَلِهَذاکَانَ الوَاقِعُ بِهِ رَجعِیا لِاَنَّ صِفَةَ البینونَة زَائدَةٌ عَلَي قَدرِ الضَّرُورَةِ فَلَایثبُتُ بِطَرِیقِ الاقتضَاء وَلَا یقعُ اِلَّاواحدٌ لِمَا ذَکرنَا.

ترجمه: اوکه یوچاه له خپلی ښځی سره جماع وکړه اوبیائی ورته وویل اعتدی اوپه دی سره ئی نیت دطلاق وو نو اقتضاءً طلاق واقع ده ځکه اعتداد (عده شمیرل) دطلاق دوجود تقاضی کوی نو ضرورةً طلاق مقدرده او له دی وجه په دی سره رجعی طلاق واقع کیږی ځکه چی دبینونت صفت پراندازه زیات ده نو بنیونت په طریقه داقتضاء ثابت نه ده اوطلاق صرف یوواقع ده دهغه دلیل په وجه چی مونږ ذکرکی.
تشریح: ددی اصل چی مقتضی په قدر دضرورت ثابت وی پر بنا مصنف رحمه الله وائی که یوشخص له خپلی ښځی سره جماع وکړه ورسته ئی ورته وویل اعتدی (ته عده شماره) اوپه دی لفظ سره دده مراد طلاق وو نوپه دی سره اقتضاءً یوطلاق واقع کیږی له دی وجه چی داعتدی معنی شمیرل ده په دی کنبی خواحتماله شته دااحتمال هم لری چی کیدای شی دده مراداوی چی دخدای ﷻ درکړشوی نعمتونه شمار کړه اودااحتمال هم شته چی دده مراد داوی چی حیض یعنی عده شمارکړه نوکله چی دخاوند مراد دوهمه معنی وه نو مذکوره ابهام پورته شو او دعدی دشمیرلو امر معلوم شو او دعدی شمیرل تقاضی دطلاق کوی لهذا په لفظ داعتدی سره اقتضاءً طلاق ثابت ده او دااصل مخکی یا دشو چی مقتضی په قدردضرورة ثابتیږی لهذا دلته هم طلاق په قدرد

ضرورت ثابت ده او ضرورت چونکه په یوه رجعي طلاق پوره کیږی نو په دی کلام سره پر مدخول بها بنځه باندی یو رجعي طلاق واقع ده له دی وجه مصنف رحمه الله وائی چی صفت د بینونت تر مقدار زائد شی ده او اقتضاءً ثابت نه ده او تر یوه زیادت طلاق هم چونکه تر مقدار زائد وو لهذا دا هم په طریقه د اقتضاء ثابت نه دی.

فصلٌ فی الأمر

فصلٌ فِی الأمرِ اَلأمرُ فِي اللُّغَة قَولُ القائل لِغَيره افعَل وَفِي الشَّرعِ تَصَرُّفُ اِلزَامِ الفعل عَلَي الغير .

ترجمه : دا فصل په بیا ن د امر کښی ده امر په لغت کښی قول د قائل ده وه بل ته افعل او په شریعت کښی الزام د فعل ده پر بل باند ی.

تشریح :پر دی فصل باندی یو سوال کیږی.

سوال : امر او نهی دواړه له قبیلی د خاص څخه دی باید په فصل د خا ص کښی ذکر شوی وای

جواب : داده چونکه پر دوی دواړو اکثره مسائلی شرعیه موقوفه دی له دی وجه دوی د کتاب الله له اهم مبا حثو څخه دی او اهم مباحث والی ددی مقتضی ده چی په مستقلو فصلو کښی ذکر شی نو په دی وجه یه ځانته فصل کښی ذکر شول او په ذریعه د امر چی کوم شی مطلوب ده هغه عدمی ده او وجود ی چونکه اُپر عدمی مقدم ده لهذا دلته هم امر مقدم کړشو پر نهی باندی دوهمه وجه داده چی ټول موجود ات په کلمه د کن پیدا شوی دی او کلمه د کن امر ده لهذا داخبره ثابته شوه چی د امر ظهور په اعلی مرتبه کښی ده لهذا پر نورو مراتبو باندی مقدم شو.

مصنف رحمه الله د امر دوه تعریفه ذکر کوی یو لغوی او بل شرعی لغوی تعریف داده قول القائل لغیره افعل یعنی د قائل قول په افعل سره و غیر ته امر ده دلته د قول لفظ د مصدر په معنی سر ه نه ده بلکه د اسم مفعول اُپه معنی سره ده ځکه امر د لفظ له اقسامو څخه ده او لفظ مقول وی قول نه وی نو کله چی داسی شوه نو قول په معنی د مقول سره ده د مصدر په معنی سر ه نه ده او لفظ د قول د امر په تعریف کښی په مرتبه د جنس کښی ده هر لفظ ته شا مل ده او قول القائل اول فصل ده په دی سر ه فعل د رسول له امر څخه خارج شو لغیره دویم فصل ده په دی سر ه هغه صیغه خارجه شوه چی په هغی سر ه خطاب ځان ته وی لکه په دی مثال کی ولنحمل خطایاکم په دی سره ځان ته خطاب کول مقصود ده غیر ته خطاب کول مقصود نه ده افعل دریم فصل په دی سره نهی او د امر غائب ټولی صیغی خارج شوی تصرف الزام الفعل علی الغیر د تصرف اضافت والزام ته بیانی ده مطلب داده چی امر پر غیر باندی د تصرف نوم ده یعنی پرغیر باندی د فعل لازمولو نوم ده او په تعریف کښی لفظ د فعل د ژبی وفعل او د نورو اندامو دواړو فعل ته شامل ده لکه څنګه چی د امر د اتعریف ماموربه قول ته هم شامل ده لکه فاقم

ماليس من القرآن او مامور به فعل ته هم شامل ده لکه اقيموا الصلوٰة او په على الغير قيد سره نذر خارج شو ځکه نذر هغه شي ده چې د ده په ذريعه سره پرځان فعل لازميږي نه پرغير باندې دامر پر شرعی تعريف باندي يو سوال کيږي.

سوال :که يو سړی خپل واحب الاطاعت غلام ته وويل اوجبت عليك ان تفعل كذا وطلبت منك فعل كذا په دې عباراتو سره پرغير باندې فعل لازميږي ليکن شرعاً دی عباراتو ته امر نه ويل کيږي.

جواب : داده چې په تعريف کښې الزام دفعل څخه مطلق فعل مراد نه ده بلکه هغه فعل چې په صيغه دافعل سره وی اودامور ځکه وايو چې دامر په لغوی تعريف کښې دافعل قيد ذکر ده اودا منل شوی خبره ده چې معنی لغوی په معنی شرعی کښې محفوظ وی لهذا چې په معنی لغوی کښی افعل قيد ذکر ده په معنی شرعی کښې هم ملحوظ ده نودامعلومه شوه چې امر هغه الزامی فعل ته ويل کيږي چې دافعل په ذريعه سره وی اوکوم فعل چې افعل په ذريعه سره نه وی هغه ته امر نه ويل کيږي دامر متعلق پنځه قسمه دمسائلودی (۱) نفس امراوده دموجب بيان (۲) ماموربه (۳) مامورفيه يعنی زمانه (۴) مامور يعنی مکلف (۵) امر ځکه دامر لپاره يودداسی شخص وجود ضروری ده چې له هغه څخه امر صادريږي اوبل دداسی شی وجود ضروری ده چې امر واجب کوی يعنی ماموربه دريم دداسی شی وجود ضروری ده چې پر هغه باندی امر واجب وی يعنی مامور څلورم دداسی زمانی وجودضروری ده چې په هغه کښې ماموربه واقع کيږي اوپنځم امر ده اودده موجب ده.

وَذكرَ بَعضُ الأئمّة اَنّ المُرادُ بِاَالامرِ يختَصُّ بهذه الصفَة وَاستَحَالَ اَن يكُونَ مَعنَاهُ اَنّ حَقيقَةُ الأمرِ يختَصُّ بهذه الصِّيغَة فَانّ الله تَعالي مُتَكلّمٌ في الأزَلِ عندَنَا وَكَلامُهُ اَمرٌ وَنَهي وَاخبَارٌ وَاستخبَارٌ وَاستحَالَ وُجُودُ هَذه الصّيغَة في الأزَلِ وَاستَحَالُ اَيضاً اَن يكون مَعنَاهُ اَنّ المُرادَ بالأمرِ للامرِ يختَصُّ بهذه الصّفَة فَانّ المُرَادَ للشّارعِ بالامرِ وُجُوبُ الفعلِ عَلَي العبد وَهُوَ معني الابتلاء عندَنَا وَقدثَبَتَ الوُجُوبُ بدُونِ هَذه الصّفَةَ اَلَيس اَنّهُ وَجَبَ الايمَانُ مَن لَم تَبلُغهُ الدّعوَةَ بدُونِ وَرُودِ اَلسَمعِ قالَ اَبوحَنيفه رحمه الله لَولَم يبعَث اللهُ تَعَالي رَسُولاً لَوَجَبَ عَلَي العُقَلاء مَعرفَتُه بعُقُولهم فيحمَلُ ذَالكَ عَلَي اَنّ المُرادُ بالامرِ يختَصُّ بهَذا الصّيغة في حَقّ العَبد في الشّرعَيات حَتّي لاَيكُونَ فعل الرّسُول بمَنزلَة قَوله افعَل وَلاَيلزَمُ اعتقَادُ الوُجُوب وَالمَتَابَعَةُ في اَفعَاله عَلَيه السّلامُ انمَا تَجبُ عندَ المَواظَبَة وَانتفاء دَليل الاختصَاص .

ترجمه : بعض آئمه وو ذکر کړی دی چې له امره څخه چې کوم شی مراد (يعنی وجوب) ده هغه دافعل تر صيغی پوری خاص ده اودامحاله ده چې دامر حقيقت (يعنی طلب دفعل) دی دافعل ترصيغی پور ی خاص کړشی ځکه الله تعالی زموږ په نزد په ازل کښی متکلم ده اودده کلام امر،نهی . اخبار، استخبار، ده اوددی صيغی وجود په ازل کښی محاله ده اوداهم محاله ده چې

معنی ئی داشی چی له امر چی دآمر کوم شی مراد ده هغه دافعل ترصیغی پوری خاص ده څکه له امر څخه دشارع مراد وجوب دفعل ده پربنده باندی اوزمور په نزد وجوب دفعل دابتلاء په معنی سره ده اووجوب دفعل بغیره له دغی صیغی په بل شی سره هم ثابتیږی ایا ایمان بی وروده دسمع پرهغوخلکو نه ده واجب چی هغولره دعوت داسلام نه وی رسیدلی امام ابوحنیفه وائی که الله ﷻ یورسول هم نه وای رالیږلی نوپرعقلاء باندی دعقل په ذریعه دده پیژندل واجب وؤ نودبعض ائمه داقول پردی باندی محمول کیږی چی له امر څخه کوم شی مراد (یعنی وجوب) ده هغه خاص په دی صیغه پوری په احکامو شرعیه وو کښی په حق دبنده کی ده حتی چی درسول فعل دده دقول ؛ افعلو ؛ په مرتبه کښی نه ده اوپه فعل درسول باندی اعتقاد لازم نه ده اودرسول الله ﷺ دافعال لومتابعت هغه وخت واجب ده چی پر هغه درسول همیشتوب وی اودلیل داختصاص موجود نه ده.

تشریح : له بعض ائمه څخه مراد علامه فخر الاسلام بزدوی اوشمس الائمه سرخسی مصنف رحمہ اللہ ددی نوم ذکر کوی اوپه بعض ائمه سره ئی تعبیر کوی وائی چی بعض ائمه داقول کوی چی له امر څخه چی کوم شی مراد یعنی وجوب ده هغه خاص ده ترصیغی دافعل پوری یعنی وجوب صرف په صیغه دافعل سره ثابت ده له دی نه بغیر په بل شی سره نه ثابتیږی مصنف رحمہ اللہ دبعض ائمه وو پردی قول دوه سواله کوی.

اول سوال : په دی عبارت سره کوی واستحال ان یکون معناہ حاصل ئی داده چی بعض ائمه که له دی قوله ان المراد بالامر یختص بهذه الصیغه مراد داوی چی حقیقت یعنی طلب دفعل خاص ده په دی صیغه پوری نودامطلب بالکل محال ده څکه داهل سنت والجماعة په نزد الله ﷻ په ازل کښی متکلم ده یعنی ده ته وصف دکلام په ازل کښی ثلابت ده اودالله ﷻ کلام امر ، نهی ، اخبار ، اواستخبار ده نودحقیقت دامر خاص کول په صیغه دافعل پوری دامعنی ورکوی چی داصیغه په ازل کښی موجوده ده څکه په ازل کښی دالله ﷻ توصف په کلام سره اودمتکلم والی مطلب داده چی ده په ازل کښی دفعل طلب کړی ده اوتاسو وایاست چی حقیقت دامر یعنی طلب دفعل بغیر دافعل دصیغی نه موجودیږی لهذا دصیغی دافعل وجود هم په ازل کښی ضروری ده اوحال داده چی په ازل کښی نه ده افعل صیغه موجوده ده اونه بله صیغه موجوده څکه صیغی له حروفو او اصواتو څخه دمرکبوالی په وجه حادث دی او ازل چونکه له حدوث سره منافی ده لهذا کوم شی چی حدیث وی هغه ازلی نه ده نودحقیقت دامر دافعل ترصیغی پوری له تخصیص ورکولو سره دالازمه ده چی افعل صیغه دی په ازل کښی موجوده وی اوحال داده چی دامحاله ده اوکوم شی چی مستلزم محال لره وی هغه په خپله هم محال ده له دی وجه دحقیقت تخصیص ورکول ترصیغی دافعل پوری دامحاله ده حاصل داده چی دبعض ائمه وو دعبارت ان المراد بالامر یختص بهذا الصیغه دامطلب چی حقیقت

دامر اوطلب دفعل په صیغه دافعل پوری خاص ده داغلط ده او ددی جواب مصنف رحمه الله نه ده ذکرکړی.

دوهم جواب : مصنف رحمه الله په دی عبارت سره ذکر کوی ؛ **واستعال ایضاً** حاصل ئی داده که دبعض ائمة وو دمذکوره قول مطلب داوی چی په امر سره چی دشارع کوم شی مرادوی هغه خاص ده په صیغه دافعل پوری یعنی دشارع مراد صرف په صیغه دافعل سره حاصلیږی په بله صیغه سره نه حاصلیږی دامطلب بیانول هم غلط ده ځکه که امر څخه مراد دشارع وجوب دفعل ده پرعبدباندی یعنی شارع چی کله امر کوی مرادئی داوی چی دا فعل پربنده باندی واجب ده او مصنف رحمه الله دجملی معترضی په طریقه سره وویل چی زموږ په نزد وجوب دفعل پربنده باندی ابتلاء اوتکلیف ده ځکه صاحب شریعت چی کله بنده په یو فعل کولو سره مکلف کړی دهغه ازمانیه کوی په دی طریقه چی که دافعل وکړی په بدل کښی ئی ثواب ورکول کیږی اوکه ئی نه وکړی عذاب ورکول کیږی غرض داده چی دشارع مراد له امر څخه پربنده وجوب دفعل ده لیکن موږلیدلی دی چی وجوب دفعل بغیر ددغی صیغی هم ثابتیږی لکه یوڅوک چی ټول وخت په غره کښی اوسیږی اودوخت نبی راوړل شوی پیغام ده ته نه ورسیږی پردغه شخص ایمان راوړل واجب ده په دی شرط چی دغوراوفکر کولووخت پیداکړی اوددی خبری تائید دحضرت امام ابوحینفة په قول سره هم کیږی امام صاحب وائی چی که بالفرض الله ﷻ یورسول هم نه وائی رالیږلی نوپرعاقلانوباندی دځپل عقل په وجه ایمان راوړل واجب ده یعنی دالله ﷻ په مخلوق کښی په غوراوفکر کولوسره پرده ایمان واجب ده دحضرت شیخ الهند رحمه الله شعرهم دی ته اشاره کوی.

انقلابات جہاں واعظ رب ہیں سن لو= ہرتغیرسے صدا آتی ہی فافہم فافہم.

ترجمه : په دنیاکښی راتلونکی تغیرات واعظین درب دی غوږ ورته ونیسه له هرتغیر څخه آواز راځی ته فکر وکړه فکروکړه.

حاصل داده چی داخبره ثابته شوه چی وجوب په صیغه دافعل پوری خاص نه ده افعل دصیغی نه بغیر په بل شی سره هم وجوب ثابتیږی لکه لږ څه وړاندی چی موږ دایمان وجوب بغیر له ورد دسمع او بغیر له صیغی دا فعل ثابت کړ نو کله چی داسی شونو داخبره څنګه صحیح ده چی دآمر چی له امر څخه کوم شی مرادوی هغه په صیغه دافعل پوری خاص ده.

مصنف رحمه الله په دی قول **فیحمل ذالك** سره ددی سوال جواب ورکوی دی وائی چی دبعض ائمة قول پر دی محمول ده چی مراد دامر خاص ده په صیغه دافعل پوری په احکامو شرعیه کښی په حق دبنده کی اودعقائداوشارع په حق کښی په دی صیغه پوری خاص نه ده یعنی شارع دیوشی په واجبوالی کښی دی صیغی ته ضرورت نه لری اونه مسائل اعتقادیه مثلاً دایمان وجوب دی صیغی ته ضرورت لری غرض داده چی مصنف رحمه الله په دی جواب سره داثابته شوه چی په احکامو شرعیه وو

کي په حق دبنده کي دامر مراد يعني وجوب په دي صيغه پورې خاص ده بغير له دي صيغې په بل شي سره وجوب نه ثابتيږي لهذا فعل درسول د ؛ افعلوا ؛ په مرتبه کښې نه دی يعنی لکه څرنګه چې په قول درسول سره وجوب ثابيتيږي په فعل درسول سره داشان اثبات دوجوب نه کيږي اوپه قول درسول چې کوم وجوب ثابت ده پرهغه باندي اعتقاد کول لازم نه ده مصنف رحمه الله په دی تفصلي تقرير سره دی ته اشاره کوی چی په فعل درسول سره وجوب ثابيتيږي او که نه ؟
داحنافو مذ هب : داده چې په فعل درسول سره وجوب نه ثابيتيږي البته بعض شوافع اومالکيه داوائي چې په فعل درسول اوقول درسول دواړو سره وجوب ثابيتيږي ددوی دليل داده چې په دغزوه خندق په موقع کښې آنحضرت ﷺ قضاء شوی لمنځونو په ترتيب سره اداء کړواوبيائي صحابه کرام رض ته ووېل صلوا کما رأيتموني اصلي داسی لمونځ وکړی لکه ماچې اداکړی اوتاسی وليدی دلته نبی کريم ﷺ دخپل فعل په متابعت سره تصريح وکړه لهذا دا خبره ثابته شوه چې دآنحضرت ﷺ دافعالو متابعت واجب ده نوداهم معلومه شوه چې په فعل دنبی کريم ﷺ باندی وجوب ثابيتيږي
زموږ جواب : زموږ له طرفه دوی ته جواب داده چې په دی حديث کښې دقضائی لمونځو اداء په ترتيب سره په صيغه دامر داصلوا سره واجب ده نه په فعل درسول الله ﷺ سره څکه که فعل دنبی کريم ﷺ دوجوب لپاره کافي وائی نونبی کريم ﷺ به داصلو په صيغه امر نه وای کړی لهذا دنبی کريم ﷺ داصلو ويل ددی داثبات کوی چې فعل دنبی کريم ﷺ دوجوب لپاره کافی نه ده.
داحناف دليل : زموږ دليل داده چې يوځل نبی کريم ﷺ دلمانځه په دوران کښې خپلي څپلي وه استلي ده چې وه کتل صحابه کرامو هم خپلي څپلکي وه استلي چې له لمانځه څخه فارغه شول نبی کريم ﷺ ددوی دمنع کولو لپاره ووېل چې تاسوولي څپلکي وکښلي ؟
صحابه کرامو ورته ووېل موږ تاته وکتل ده مبارک ورته ووېل ماته جبرائيل عليه السلام راغی او هغه ماته ووېل چې ستا پرڅپلکوباندی نجاست ده څکه ماوکښلی تاسوفکر وکړی دنبی کريم ﷺ دفعل اطاعت واجب وائي نونبی کريم ﷺ ولی صحابه کرام منع کول لهذا دامنع پردی دلالت کوی چې په فعل دنبی کريم سره وجوب نه ثابيتيږي.
والمتابعة في افعاله په دی سره ديو سوال جواب کيږي.
سوال : که فعل درسول موجب نه وائی لکه احناف چې وائي نوبايد درسول ﷺ په افعالو کښې بلکل متابعت واجب نه شي اوحال داده چې موږليدلي چې په ډيرو افعالو کښې متابعت واجب ده ؟
جواب : جواب داده چې د آنحضرت ﷺ چې دمطلق فعل اطاعت واجب نه ده بلکه په هغو افعالو کښې واجب ده چې پرهغوباندی نبی کريم ﷺ هميشتوب کړی وی اوکله کله ئی پريښی وی اوهغه افعال دده خصوصيت نه وی مثلاً لکه ترڅلورزيا توښځو سره واده کول اوتهجد وجوب دنبی کريم ﷺ خصوصيت ده.

فَصلٌ اختَلَفَ النَّاسُ في الاَمرِ اَلمُطلَقِ اَي المُجَرَّدُعَن القَرِينَۃِ الدَّالَّۃِ عَلَي اللّزُومِ وَعَدَمِ اللّزُومِ نَحوَقَولِه تَعَالي وَاِذَا قُرِئَ القُرانَ فَاستَمِعُو لَهُ وَانصِتُوا لَعلَكُم تُرحَمُون وَقَولِه تَعَالي وَلاَ تَقرَبَا هٰذِه الشَّجَرَۃَ فَتَكُونَا مِنَ الظّٰلِمِين .

ترجمه : په امر مطلق کښې دعلماء اختلاف ده یعنې دهغه امر په موجوب کښې چې پر لزوم او یاپرعدم لزوم دلالت کونکی قرینې څخه خالي وی لکه دالله ﷻ قول کله چې قرآن ویل کیږی غوږ ورته وه نیسی اوخاموش کښینې پرتاسوبه خدای ﷻ رحم وکړی اودالله ﷻ داقول دی درختی ته مه نژدی کیږی اوکه داسی نه وی له ظالمانو څخه به شی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی چې په امر مطلق کښې اختلاف ده یعنې هغه امر چې له داسی قرینې څخه خالي چې هغه پرلزوم اوپرعدم لزوم دلالت کوی لکه دمذکور عبارت په اول آیت کښې ؛ اسمعوا وانصتوا؛ دامر په صیغو کښې داسی قرینه نشته چې پرلزوم اویاعدم لزم دلالت کوی په دوهم آیت کښې ؛ ولاتقربا؛ مقابل ؛د اجتنبا؛ دامر صیغه ده هم له مذکوره قرینې څخه خالي ده یعنې که په امر کې داسی قرینه نه وه چې پروجوب یاعدم وجوب دلالت کوی دداسی امر په موجوب کی اختلاف ده چې ایا ددی امر موجوب څه شی ده ؟

بعض حضرات وائی دداسی امر موجوب ندب (استحباب) ده دندب تعریف داده چې ندب هغه شی ده چې فعل اوترک فعل ئی دواړه جائز وی مگر فعل ئی راجح ده اوترک ئی مرجوح ده ددوی دلیل داده چې امر دطلب لپاره ده اوپه طلب جانب دفعل پرترک باندی ترجح ورکول ضروری ده اوترجح ادنی درجه ندب ده لهذا ندب دامر موجوب ده ددی دتائید قرآن هم کوی لکه په دی آیت کښې والذین یبتغون الکتاب مماملکت ایمانکم فکاتبوهم ان علمتم فیهم خیرا هغه خلک چې له خپلو مینځو او مریانوسره کتابت کول غواړی نوکه تاسوپه دوی کښې خیر ووینې مکاتب ئی کړی په دی ځای کښې دمکاتبت امر دندب لپاره ده حاصل داده چې دا آیت پردی دلالت کوی چې دامر موجب ندب ده او بعض حضرات داوائی چې دامر موجوب اباحت ده اباحت دفعل اوترک جوازته ویل کیږی اودیوه پربل ترجح نه وی ددی دلیل داده چې امر دطلب دفعل لپاره راځی اودطلب مقصد داده چې ددی فعل اجازه شته حرام نه ده اوددی ادنی درجه اباحت ده ځکه په اباحت کښې دفعل دکولو اجازه وی اوهغه فعل حرام نه وی نومعلومه شوه چې دامر موجوب اباحت ده اوددی تائید دالله ﷻ په دی قول سره کیږی واذاحللتم فاصطادو ځکه په دی آیت کښې له احرام نه دوتلو وروسته دښکار امر شوی ده اوپردی باندی دټولو اتفاق ده چې ښکار کول مباح ده واجب اومندوب نه ده له دی آیت څخه معلومه شوه چې دامر موجوب اباحت ده.

اودبعض په نزد په موجب دامر کی دوجوب اوندب په منیځ کښی اشتراک لفظی ده یعنی امر وجوب ته هم وضع شوی ده اوندب ته هم وضع شوی ده اودبعض په نزد دوجوب اوندب په مینځ کښی اشتراک معنوی دامر موجوب ده یعنی دامر صیغه دطلب دفعل لپاره وضع ده اوهغه طلب کله وجوباً وی اوکه ندباً وی.

اودبعض په نزد په موجب دامر کښی دوجوب اوندب اواباحت دری سره وو اشتراک لفظی ده یعنی دری سره دامر حقیقی معنی دی اودبعض په نزد ددری سره وو په مینځ کښی مشترک معنوی ده څکه امر داذن لپاره وضع شوی ده اواذن دری سره وو ته شامل ده اودبعض په نزد دامر په موجوب کښی توقف ده څکه امر په یویشت (۲۱)معانی وو باندی راځی (۱) وجوب لپاره لکه اقیموالصلوٰة (۲) ندب لپاره لکه فکاتبوهم ان علمتم فیهم خیراً (۳) داباحت لپاره لکه حللتم فاصطادوا (۴) دتهدید(یعنی یوچاته په غضب سره خطاب کول) لکه اعملوا ماشئتم (۵) دتعجیزلپاره (یعنی دیوچاعجزښکاره کول) لکه فاتوبسورة (۶) دارشادلپاره (یعنی ددینوی مصالحوته په پام لرنه سره لارښوونه کول) لکه واشهدوا ذوای عدل منکم (۷) دتسخیرلپاره (یعنی دیوه ماهیت بدلیدل په بل سره) لکه کونوا قردة خاسئین (۸) دامتنان لپاره (یعنی داحسان دیادولولپاره) لکه کلوا مما رزقکم الله (۹) داکرام لپاره لکه ادخلوها بسلام آمنین (۱۰) داهانت (یعنی دمخاطب دذلیل کولولپاره) لکه ذق انک انت العزیز الکریم او فلذوقوا فلن نزیدکم الا عذاباً (۱۱) دتسویه (یعنی د دووشیانوپه مینځ برابری ښکاره کول) لپاره لکه اصبروا ولاتصبروا (۱۲) ددعاء لپاره لکه اللهم اغفرلی (۱۳) دتمنی لپاره لکه الایهاالليل الطویل انجلی ای اوږدی شپی کشکی سهار شوی وائی یامالک لیقض علینا ربک ای مالکه د دوزخ کشکی ستا رب زموږ په هکله فیصله کړی وائی (۱۴) داحتقار (یعنی دمخاطب دفعل حقارت ښکاره کول لکه حضرت موسی علیه السلام چی دفرعوم جادوګروډ دوی دجادو دحقارت لپاره ویل القوا ما انتم ملقون (۱۵) دتکوین(یعنی یوشی له عدمه څخه ووجودته راوړل) لپاره لکه کن فیکون (۱۶) دتادیب (یعنی داخلاقواوعاداتو دښائسته کولو) لپاره لکه کل ممایلیک (۱۷) دتعجب لپاره لکه اسمع بهم وابصر(۱۷) داخبار لپاره لکه فلیضحکوا قلیلاً ولیبکوا کثیراً (۱۹) دانزال لپاره لکه کل قل تمتعوا فان مصیرکم الی النار (۲۰) دالتماس لپاره لکه ارجعوالی ابیکم (۲۱) دانجام (دمخاطب دساکت کولو) لپاره لکه دحضرت ابراهم علیه السلام قول وه نمرود ته فات بها من المغرب حاصل داده چی امر په یویشت معانی وو راځی نوکله چی داسی وو نوبی له قرینی څخه دیوی معنی مراد کول اوپه هغه بل باندی عمل کول ممکن نه ده توقوف واجب ده بهرحال داثابته شوه چی دامر موجب توقوف ده مصنف رحمه الله وائی صحیح مذهب داده چی دامر موجب وجوب ده اوداد جمهورو قول ده ددی تفصیل په راتلونکو صفحو کښی کیږی.

فائده : اشتراک لفظی دی ته وائی چی یو لفظ ډیرو معانی وو لپاره بیل بیل وضع شوی وی لکه لفظ د عین دسترګی اوسونا اوچینی وغیره لپاره وضع ده او اشتراک معنوی داده چی یو لفظ د داسی کلی معنی لپاره وضع وی چی هغی لره ډیرافراد وی لکه لفظ د انسان دحیوان ناطق لپاره وضع ده اوموجب په فتحه دجیم او مقتضی اوحکم دری سره مرادف الفاظ دی کوم شی چی په صیغه دامر ثابت وی هغه ته موجب مقتضی اوحکم دری سره ویل کیږی . جمیل احمد غفرله ولوالدیه.

وَالصَّحِیحُ مِنَ المذهَبِ اَنَّ مَوجَبَهُ الوُجُوبُ الاَّ اذا قَامَ الدَّلِیلُ عَلَي خِلاَفِه لِاَنَّ تَرکَ الاَمرِمَعصِیةٌ کَمَا اَنَّ الائتِمَار طَاعَةٌ قَالَ الحُمَاسي :

اَطَعت لاَمریک بصَرمِ حَبلِي + مریهم في اَحَــــ++ـبَّتِهِم بِذَالِکَ

فَمِ ان طَاوَعُوکَ فَطَاوِعِیهِم + وَاِن عَاصُوکَ فَاعصِي مَن عَصَاکَ

وَالعِصیَانُ فِیمَا یرجِعُ الي حَقِّ الشرعِ سَبَبٌ للعقاب وَتَحقِیقُهُ اَنَّ لُزُومَ الاَئتِمَار اِنَّمَایکُونُ بِقدرِ وَلاَیةِ لاَمرِ عَلَي المُخَاطَبِ ولِهَذَا اذَا وَجِهتُ صِیغَةَ الاَمرِ الي مَن لاَیلزَمهُ طَاعَتُکَ اَصلاً لاَیکُونُ ذَالِکَ مُوجِباً للاِیتِمَار وَاذَا وَجِهتَهَا الي مَن یلزَمُهُ طَاعَتُکَ مِنَ العَبِید لَزِمَهُ لاِیتِمَار لاَمَحَالَةَ حَتي لَوتَرکَهُ اختِیاراً یستَحِقُّ العِقَابَ عُرفاً وَشَرعاً فَعَلَي هَذَا عَرَفنَا اَنَّ لُزُومَ لاِیتِمَار بِقَدرِ وَلاَیةِ الامرِ اذَا ثَبَتَ هَذَا فَنَقُولُ اَنَّ لله تَعَالي مِلکاً کَامِلاً فِي کُلِّ جُزءِ من اَجزاءِ العَالَمِ وَلَهُ التَّصَرُّفُ کَیفَ مَا شَاءَ وَاَرَادَ وَاذَا ثَبَتَ اَنَّ مَن لَهُ المِلکُ القَاصِرُ فِي العَبدِ کَانَ تَرکَ الاِیتِمَار سَبَباً لِلعِقَابِ فَمَا ظَنُّکَ فِي تَرکِ.اَمرِمَن اَوجَدَکَ مِنَ العَدمِ وَاَدَرَّ عَلَیکَ شَابِیبَ النِّعَمِ .

ترجمه : اوصحیح مذهب داده چی دامرموجب وجوب ده مګر هغه وخت نه ده که ددی پر خلاف دلیل پیداشو ځکه دامر پریښودل ګناه ده لکه څرنګه چی ئی تعمیل طاعت ده لکه حماسی چی وائی ؛ای محبوبی ته زما دمحبت په قطع کولوکښی دخپلوحکم کونکو اطاعت کوی ته دوی ته هم ددوی ددوستانو په باره کښی داحکم ورکړه که دوی ستا اطاعت وکړته هم ددوی اطاعت وکړه اوکه دوی ستانافرمانی وکړه ته هم ددوی نافرمانی وکړه ؛ اوپه دی شیانو.کښی نافرمانی دحق شرع وطرفته په رجوع کولوسره دعقاب سبب ده اوددی تحقیق داده چی تعمیل یعنی دحکم لزوم په مخاطب باندی به دآمر له ولایت سره سم وی همداوجه ده چی که تادامر صیغه داسی شخص ته متوجه کړی چی پرهغه باندی ستااطاعت بالکل لازم نه وی نوپه دی باندی عمل کول واجب نه ده اوکه ته دامر صیغه داسی شخص ته متوجه کړی چی پر هغه باندی ستا اطاعت لازم وی لکه غلام نوپرده باندی ستااطاعت یقینی واجب ده حتی که ده په خپل اختیارسره پریښودی نودی شرعاً اوعرفاً مستحق دسزاء ده اوبناء پردی باندی موږ وپیژندل چی دعمل لزوم په اندازه دولایت دآمر

ده څکه چې دا ثابته شوه نو موږ وایو چې پرهرجزله اجزاءُ دعالم څخه دالله ﷻ ملک کامل ده اودلره څنګه چې ده خوښه هغسې تصرف ده او کله چې دا خبره ثابته شوه چې هغه بادار چې دده ملک په غلام کښې قاصر وی دده دحکم تعمیل پرېښودل سبب دعقاب ده نو ستاڅه خیال ده په پرېښودلو دحکم دهغه ذات کښې چې ته ئي له عدم څخه وجودته راواستلي ئي اوپرتاباندی ئی دنعمتونو باران کړی ده.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی داحناف په نزد صحح مذهب داده چې دامر موجب وجوب ده یعنی امر وجوب فائده کوی لیکن داهغه وخت ده چې دوجوب په مقابل کښې دندب اویا اباحت دلیل نه وی اوکه موجود وؤ نوبیا دغه شی ته ترجح ورکول کیږی پروجوب باندی اوکه هیڅ دلیل اوقرینه موجودنه وؤ په دی صورت کښې داحناف په نزد امر مفید دوجوب ده.

مصنف رحمه الله دصحح مذهب دلیل دا بیانوی چې ترک دامرمعصیت ده لکه څنګه چې ئی تعمیل اطاعت ده ددی خبری اثبات مصنف رحمه الله ددیوان حماسه په شعر سره کوی په دی طریقه چې په شعر کښې هم تعمیل دامرته اطاعت اوترک دامر ته معصیت ویل شوی ده اومعصیت هغه وخت لازمیږی چې ترک دواجب وشي په ترک دمباح اومندوب سره معصیت نه لازمیږی اودامعلومه خبره ده چې دهغو شیانونافرمانی اعصیان ده چې دشارع له طرفه راغلی وی دعقاب اوسزاء سبب ده لکه په دی آیت کښې <u>من یعص الله ورسوله ویتعد حدوده یدخله نارا خالدا فیها</u> اودامعلومه خبره ده چې اعقاب پرترک دواجب وی نه پرترک دمباح اومندوب سره نودترک دامر معصیت والی اودشارع په نافرمانی سره دعصیان اوعقاب مستحق والی ددی دلیل ده چې دامر موجب وجوب ده مصنف رحمه الله وائی چې ددی خبری تحقیق داده چې لزوم دتعمیل پرمخاطب باندی دآمر دولایت په مقدار ده که مخاطب عالی وؤ پرمخاطب باندی ایتمار واجب ده اوکه آمر له مخاطب سره برابر وؤ بیا ایتمار مندوب ده اوکه آمر په مرتبه کښې ترمخاطب کم وو نوایتمار مباح ده همداوجه ده که آمر صیغه دامر وداسی شخص ته متوجه کړه چې پرهغه باندی دآمر اطاعت بالکل لازم نه وی نه دولایت په اعتبار اونه دمحبت په اعتبار په دی صورت کښې صیغه دامر تعمیل نه واجبوی اوکه ئی داسی شخص ته متوجه کړه چې پرهغه باندی دامر اطاعت لازم وی مثلاً آمر غلام ته امر وکړ په داسی صورت کښې یقینی پر مخاطب باندی دآمر اطاعت لازم ده نوکه په دی صورت کښې مخاطب په خپل اختیار سره بلاعذره دامر تعمیل ترک کړ نودی شرعاً اوعرفاً دواړه مستحق دعقاب ده حاصل داده چې له مذکوره دواړو مثالو څخه داخبره معلومه شوه چې دتعیمیل لزوم پر مخاطب باندی به دآمر دولایت مطابق وی یعنی په څومره اندازه چې دآمر ولایت وی په هغه اندازه تعمیل لازم ده کله چې داخبره ثابته شوه نوموږ وایو چې دالله ﷻ پرهرجز دعالم ملک کامل ده په دی طریقه چې دالله ﷻ دعالم خالق ده اودی قدرت کامله لری اوخالق دخپل مخلوق ډیر قادر دخپل

مقدور مالک وی لهذا الله ﷻ دعالم دهر جز مالک ده او الله ﷻ چی ځرنګه خوښه وی هغسی تصرف پکښې کولای شي اوداخبره وړاندی ثابته شوه چی دبادار ملک پرغلام که هم قاصر وی پرغلام باندی دده دامر تعمیل واجب ده اوپه ترک سره ئی مستحق دعقاب اوسزاء ده نوته فیصله وکړه چی دهغه ذات چی حقیقی مالک ده اوملک ئی هم تام ده اوتاته ئي وجودهم درکړی ده اوقسم قسم نعمتونه ئی درکړی دی دداسی شخص داطاعت په ترک سره اونافرمانی سره به ولی مستحق دعقاب اوسزاء نه وی نومعلومه شوه چی دداسی ذات دحکم تعمیل یقینی واحب ده اوپه ترک دتعمیل سره یقیناً مستحق دعقاب اوسزاء ده له دی بیان څخه داثابته شوه چی دشارع دامر تعمیل واجب ده کله چی داوجوب ثابت شو نوداخبره ثابته شوه چی دامر موجب وجوب ده

فصلٌ الأمرُ با الفعل لاَيقتضي التكرارَ ولَهٰذاقُلنا لَوقالَ طَلِّق امرَاتي فطَلَّقها الوَكيلُ ثُمَّ تَزوَّجها المُوَكِّلُ لَيسَ للوكيل اَن يطَلِّقَها باالاَمرالاَوَّلِ ثانياً وَلَوقالَ زَوِّجني امراةً لاَيتَناوَلُ هٰذاتَزويجاً مَرَّةً بَعدَ اُخري وَلَوقالَ لَعبده تَزَوَّجَ لاَيتَناوَلُ هٰذاالاَمرَةَ وَاحدَةً لاَنَّ الامرَ باالفعل طَلَبَ تَحقيقَ الفعل عَلي سَبيلَ الاختصَار فَاِنَّ قَولَهُ اضرِب مُختصَرٌ مِن قوله افعل فِعلَ الضَّربِ وَالمَختَصَرُ مِنَ الكَلاَمِ وَالمُطَوَّلُ سَوَاءٌ فِي الحُكم.

ترجمه : امر په فعل سره تقاضی دتکرار نه کوی له دی وجه مونږ وایو که یوچاه بل ته وویل ؛ طلق امرأتی ، ته زما ښځه طلاق کړه او وکیل طلاق ورکی اوبیا موکل له دغی ښځی سره نکاح وکړه وکیل ته دا نه ده جائز چی داول امر په وجه دوهم طلاق ورکړی اوکه ئی وویل ماته یوښځه په نکاح کړه نودا امر له یوځل وروسته دوهم ځل ته نه ده شامل اوکه ئی خپل غلام ته وویل ته خپله نکاح وکړه داامر هم صرف یوځل نکاح کولو ته شامل ده ځکه امر په فعل سره طلب دایجاد دفعل ده په طریقه داختصار سره ځکه دده داقول اضرب مختصر ده دده له دی قوله اِفعل فعل الضرب اوکلام مختصر اومطول دواړه په حکم کښې سره برابر دی.

تشریح : مصنف رحمه الله دامر دموجب اومقتضی دبیان له فراغت څخه وروسته ددی بیان کوی چی امر په فعل سره دتکرار تقاضی کوی اوکه ئی نه کوی په دی کښې څلورمذهبه دی (١) مذهب دابواسحاق الفرائنی اوعبدالقادر بغدادی ده دوی وائی چی امر په فعل سره ده تکرار تقاضی کوی یعنی تکرار دامر موجب ده (٢) حضرت امام شافعی وائی چی امر په فعل سره دتکرار تقاضی نه کوی لیکن دتکرار احتمال لری یعنی تکرار دامر موجب نه ده بلکه دامر محتمل ده اودموجب اومحتمل فرق داده چی موجوب بی له نیته ثابت وی اومحتمل بغیر له نیته نه ثابیتیږی اودبعض شوافع مذهب داده چی امرپه فعل سره نه دتکرار تقاضی کوی اونه دتکرار احتمال ری لیکن که امر متعلق په شرط پوری وو لکه <u>انکنتم جنباًفاطهروا</u> اویا په وصف مقید وو لکه <u>الزانية والزاني فاجلدوا</u> په دی صورت کښې دشرط اووصف په تکرار سره امر هم مکرر کیږی (۴) داحناف مختار مذهب داده چی

امر په فعل سره نه دتکرار تقاضی کوی اونه دتکرار احتمال لری که مطلق وی او که معلق په شرط پوری وی که په وصف مقیدوی اوکه نه وی له که یو شخص چی دخپلی ښځی په طلاق بل وکیل کړی اوورته ووائي طلق امرأتی او هغه دوکالت پربناء ښځه طلاقه کړه اوبیا موکل دغه ښځه دوهم ځل په نکاح کړه نووکیل داول امر په اعتبار سره دوهم ځل طلاق نشی ورکولای ځکه زموږ په نز د امر نه تکرار قبلوی اونه دتکرار احتمال لری لهذا دامر دصیغی (یعنی طلق) په ذریعه یوطلاق ورکولای شی دوهم ځل ئی نشی ورکولای اوهمدارنګه که یو شخص بل ته وویل زوجنی امرأۃ ماته یوه ښځه په نکاح کړه داامرهم له یوځل نکاح وروسته دوهم ځل ته شامل نه ده یعنی وکیل ددی امر په وجه صرف یوځل دنکاح کولو مجاز لری ددوهم ځل نکاح مجاز نه لری اوهمدارنګه که یو بادار خپل غلام ته وویل تزوج ته خپله نکاح وکړه دبادار دغه امر صرف یوځل نکاح ته شامل ده یعنی غلام ددی امر په وجه صرف یوځل نکاح کولای شی حاصل داده چی داحناف په نزد امر نه دتکرار تقاضی کوی اونه ده تکرار احتمال لری امر که مطلق وی اوکه معلق په شرط پوری وی که وصف په سره مقید وی اوکه نه وی مقید داحناف دلیل داده چی امر په فعل سره طلب دایجاد دفعل کوی په طریقه داختصار سره مثلاً اضرب اختصار افعل فعل الضرب ده اویضرب دا فعل فعل الضرب فی زمان الاتی اختصار ده او کلام که مختصر وی اوکه مطول وی په افاده دمعنی اوپه اثبات دحکم کښی مساوی دی ځکه داختصارفائده کم الفاظ راوړل ده اومطول کلام ته تغیر ورکول مقصود نه ده حاصل داده چی امر په فعل سره دطلب دایجاد دفعل نوم ده مثلاً اضرب دافعل فعل الضرب خلاصه ده اوافعل فعل الضرب چی طویل کلام مشتمل پر مصدر ده لهذا کلام مختصر اضرب هم مشتمل پرمصدر ده اومصدر فرد ده اوفرد دعدد احتمال نه لری ځکه دفرد اوعدد په مینځ کښی منافات ده په دی طریقه چی فردهغه ده چی له افرادو مرکب نه وی اوعدد هغه ده چی له افرادمرکب وی دترکیب اوعدم ترکیب په مینځ کښی منافات ده لهذا دافراد اوعدد په مینځ کښی هم منافات شته اوهر شی دخپل منافی احتمال نه لری ځکه په فردکښی دعدد احتمال نشته نوچونکه مصدر دعدد احتمال نه لری نوله دی وجه امر چی مشتمل پرمصدر ده هم احتمال دعدد نه لری اوعدد اوتکرار چونکه دواړه یوشی دی له دی وجه امر چونکه دعدد احتمال نه لری اودتکرار احتمال هم نه لری نوداخبره ثابته شوه چی امر دتکرار احتمال نه لری لهذا تکرار دامر موجب اومقتضی نه ده.

ثُمَّ الْأَمْرُ بِالضَّرْبِ اَمْرٌ بِجِنْسِ تَصَرُّفٍ مَعْلُومٍ وَحُكْمُ اسْمِ الْجِنْسِ اَنْ يَتَنَاوَلَ الْاَدْنَي عِنْدَ الْاِطْلَاقِ وَيَحْتَمِلُ كُلَّ الْجِنْسِ وَعَلَي هٰذَ قُلْنَا اِذَا حَلَفَ لَا يَشْرَبُ الْمَاءَ يَحْنَثُ بِشُرْبِ اَدْنَي قَطْرَةٍ مِنْهُ وَلَوْنَوَي بِهِ جَمِيعَ مِيَاهِ الْعَالَمِ صَحَّتْ نِيَّتُهُ وَلِهٰذَا قُلْنَا اِذَاقَالَ لَهَا طَلِّقِي نَفْسَكَ فَقَالَتْ طَلَّقْتُ يَقَعُ الْوَحْدَةُ وَلَوْنَوَي الثَّلٰثَ صَحَّتْ نِيَّتُهُ وَكَذَالِكَ لَوْقَالَ الْاٰخِرَ طَلِّقْهَا يَتَنَاوَلُ الْوَاحِدَةَ عِنْدَالْاِطْلَاقِ وَلَوْنَوَي الثَّلٰثَ صَحَّتْ

نِيَّتُه وَلَوْنَوَي الثِّنْتَين لَاصحَّ الّاذاَ كَانَت الْمَنْكُوحَة اَمَةً فَانَّ نِيَّته الثِّنْتَين فِي حَقِّهَا نِيَّة بِكُلِّ الجنسِ وَلَوقَالَ لِعَبْدِه تَزَوَّجَ يَقَعُ عَلَي تَزَوَّجِ امراةٍ وَاحِدَةٍ وَلَونَوَي الثِّنْتَين صَحَّتَ نِيَّتُه لِاَنَّ ذَالِكَ كُلُّ الجَنسِ فِي حق الْعَبد .

ترجمه : او امر په ضرب سره امر ده تصرف په معلوم جنس سره او د اسم جنس حکم داده چې په وخت دا طلاق کښې ادنی ته شامل وی او د کل جنس احتمال لری بناء پردی باندی مونږ وایو که یو چاه قسم وکړی چې دی او به نه څښی دی داوبو په ادنی تونه (څاڅکی) سره حانث کیږی او که د حالف په دی قسم سره د دنیا ټولی او به مراد وی د دمه انیت صحح ده له دی وجه مونږ وایو که یو چاه خپلی ښځی ته وویل طلقی نفسک ته خپل ځان طلاق کړه او ښځی ورته وویل ماځان ته طلاق ورکی نو یو طلاق واقع ده او که د خاوند نیت درو طلاقو ؤ نیت ئي صحح ده او همدا رنګه که یو چاه بل ته وویل طلقها ته زما ښځه طلاقه کړه دا امر په وخت دا طلاق کښی یو ه ته شامل ده او که ئی د درو طلاقوؤ نیت وو نیت ئی صحح ده او که ئي د دوو طلاقو نیت وو نه ده صحح مګر هغه وخت صحیح ده که منکوحه منځه وه ځکه چې د وه طلاقه د مینځی په حق کښی د کل جنس نیت ده او که یو چا خپل غلام ته وویل تزوج ته نکاح وکړه دا امر د یوی ښځی نکاح ته شامل ده او که ئی د دوو نیت کړی وو نیت ئی صحیح ده ځکه د غلام په حق کښی دا کل جنس ده .

تشریح : مصنف رحمة الله عليه وائی چې د اضرب په ذریعه سره امر دا امر تصرف ده په معلوم جنس سره یعنی د اضرب په ذریعه د جنس امر ده او د جنس حکم داده چې په وخت د عدم د نیت او قرینی کښی ادنی (یعنی یوه فرد) ته شامل وی د کل جنس احتمال لری او ته داهم ویلای شی چې جنس ضرب یعنی مصدر فرد ده او فرد دوه قسمه دی یو فرد حقیقی ده او دوهم فرد حکمی ده حقیقی هغه ده چې ترده لاندی یو عدد هم نه وی مثلا (یو) او فرد حکمی هغه ده چې د ټولو مجموعه دی مثلاً د درو طلاقو مجموعه فرد حکمی ده لیکن دا یاد لره چې فرد حقیقی د فرد موجب ده او فرد حکمی ئی محتمل ده لهذا فرد حقیقی بی نیته ثابت ده او که ئی د فرد حکمی نیت کړی وو په هغه صورت کښی فرد حکمی ثابت ده .

مصنف رحمة الله عليه وائی د دی اصولو پر بناء مونږ وایو که یو شخص وویل والله لااشرب الماء په خدای قسم که زه او به و څښم او په دی کلام سره یو نیت هم نه وو نو دا شخص د اوبو ادنی څاڅکی په څښلو حانث کیږی ځکه داوبو ادنی څاڅکی فرد حقیقی ده بغیر نیته ثابت ده او که دده د دنیا ټولی او به په نیت کښی وی دا نیت ئی صحح ده ځکه د دنیا ټولی او به فرد حکمی ده په دی صورت کښی دا شخص هیڅ کله هم نه حانث کیږی ځکه د دنیا ټولی او به څښل د انسان تر وس تیره خبره ده او دا متعذر ده لهذا دی نه حانث کیږی او که ئي نه ادنی قطره مراد وه او نه ئي ټولی او به مراد دی بلکه یوه پیاله

يادوی پیالی ئی مراد وی دانیت ئی معتبر نه ده ځکه دامقدار نه فردحقیقی داوبوده اونه فرد حکمی.

مصنف رحمه الله وائی امر چونکه نه دتکرار تقاضی کوی اونه دتکرار احتمال لری له دی وجه موږ وایو که یوسړی خپلی ښځی ته وویل طلقی نفسک اوښځی ورته وویل طلقت په دی عبارت سره دخاوند یونیت هم نه وؤ په دی صورت کښی پرښځی یوطلاق واقع کیږی اوکه دخاوند نیت دری طلاقه وؤ په دی صورت کښی نیت صحیح ده اودری طلاقه واقع دی اوکه ئي نیت دوه طلاقه وو دانیت معتبرنه ده یعنی دوه طلاقه نه واقع کیږی بلکه په دی صورت کښی هم یوطلاق واقع کیږی اوهمدارنګه که یوشخص بل ته وویل طلقها یعنی ته زما ښځه طلاقه کړه داامر بی له نیته یوه طلاق ته شامل ده یعنی که دخاوندنیت د درو طلاقونه وو وکیل په دی امر سره دیودطلاق تصرف لری اوکه دخاونددورطلاقونیت کړی وو دانیت معتبرده اووکیل ددروطلاقو تصرف کولای شی یعنی وکیل دده ښځی ته دری طلاقه ورکولای شی اوکه ئی نیت دوه طلاقه ووصحح نه ده ځکه دوه طلاقه دطلاق نه حقیقی فردده اونه حکمی بلکه محض عدد ده اوامر دعدد احتمال نه لری لهذا دا نیت صحح نه ده لیکن که منکوحه مینځه وه بیاد دوؤ نیت صحح ده ځکه دوه طلاقه په حق دمینځی کښی کل ده حکمی اوفرد ده لکه دازادی ښځی په حق کښی چی دری طلاقه کل جنس ده اوکه بادار خپل غلام ته وویل ؛ تزوج داامر هم صرف یوځل ته شامل ده یعنی دیوی ښځی له نکاح وروسته بله نه شی په نکاح کولای داپه دی صورت کښی که دبادار نیت دشی نه وو اوکه دبادار ددوو نیت وو دانیت صحیح ده اوغلام ددغه امر په وجه له دوو ښځوسره نکاح کولای شی ځکه د دوو ښځونکاح دغلام په حق کښی کل جنس ده او حکمی فردده لکه له څلور ښځو سره نکاح چی دآزاد شخص په حق کښی کل جنس ده اوفرحکمی فرده اومخکی داخبره یاده شوه چی دحکمی فرد نیت کول صحیح ده.

وَلَا يَتَا تي عَلي هذَا فضلُ تَكرَارِ العبَادَات فَانَّ ذَالِكَ لَم يَثبُت بِالأمرِ بَل بِتَكرَارِ اَسبَابِهَا الَّتي يَثبُتُ بِهَا الوُجُوبُ وَلَامرُ لِطَلَبِ اَدَاء مَا وَجَبَ في الذِّمَّة بِسَبَبٍ سَابِقٍ لَا لِاثبَاتِ اَصل الوُجُوب وَهذَا بِمَنزِلَة قَولِ الرَّجُل اَدّ ثَمَنَ المَبِيع وَاَدّ نَفَقَةَ الزَّوجَة فَاذَا اَوجَبَت العِبَادَةُ بِسَبَبِهَا فَتَوجَهَ الاَمرُ لِاَدَاء مَاوَجَبَ منهَا عَلَيه ثُمّ الاَمرُ لَمَا كَانَ يَتَنَاوَلُ الجنس يَتَنَاوَلُ جِنسَ مَاوَجَبَ عَلَيه وَمِثَالُهُ مَايُقَالُ انَ الوَاجِبَ في وَقتِ الظُّهرِ هُوَ الظُّهرُ فَتَوَجَّهَ الاَمرُ لِاَدَاء ذَالِكَ الوَاجِب ثُمّ اذَا تَكَرَّرَ الوَقتُ تَكَرَّرَ الوَاجِبُ فَيَتَنَاوَلُ الاَمرُ ذَالِكَ الوَاجِبَ الاخَرَ ضَرُورَةَ تَنَاوُله كُلَّ الجِنسَ الوَاجِب عَلَيه صَوماً كَانَ اَوصَلوةً فَكَانَ تَكرَارُ العِبَادَة المُتَكَرِّرَ بِهذَا الطَرِيقِ لَابِطَرِيقِ اَنَ الاَمرَ يَقتَضِي التَّكرَار.

ترجمه : او پر دی باندی دتکرار دعبارت سوال نه کیږی ځکه داتکرار ثابت په امر سره نه ده بلکه دعبادت دهغواسبابو په تکرار سره ثابت ده چی په هغو سره وجوب ثابت ده او امر دهغه شی داداء لپاره راوړل شوی ده چی په مخکینی سبب سره واجب شوی ده داسی نه ده چی امر داصل وجوب لپاره راوړل شوی ده اوداپه منزله دیوجاددی قول کښی ده چی دی ووائی ثمن دبیع اداکړه اویادښځی نفقه اداکړه نوکله چی دعبادت په سبب سره واجب ده نو امر دهغه عبادت د اداء لپاره ده کوم عبادت چی پرده واجب ده اوهر کله چی امر شامل وو جنس لره نوهر هغه شی چی پرده واجب ده دهغه جنس لره شامل ده ددی وجه داده چی ویل کیږی چی واجب کونکی په وخت دماپښین کی وخت دماپښین ده نو امردهغه و ادادته متوجه ده اوکوم وخت چی مکرر وی هغه مکرر واجب ده اوامر دهغه اخر واجاب ته شامل ده اوددی وکل جنش ته دشمول په وجه پرده باندی روژه اویالمونځ واجب ده نومکرر واجب تکرار په دی طریقه ده په دی طریقه نه امر دتکرار تقاضی کوی.

تشریح : مصنف رحمه الله په دی لفظ ولایتاتی سره دیو سوال جواب کوی.

سوال : تاسو وایاست چی امرنه دتکرار تقاضی کوی اونه دتکرار احتمال لری داخبره غلطه ده ځکه اقیموصیغه دامر ده اوددی په ذریعه سره روزانه پنځه لمونځونه واجب دی حتی په ټوله زندګی کښی که امر دتکرار تقاضی نه کولای نوباید په اقیموسره صرف یولمونځ واجب شوی وائی اوهمدارنګه اتوالزکوة دامرصیغه ده ددی په ذریعه سره په هرکال کښی دزکوة اداکول واجب ده اوهمدارنګه په دی آیت کښی من شهد منکم الشهر فلیصمه دلته هم فلیصمه په ذریعه روژه په هرکال کښی واجب ده له دی ځخه دامعلومه شوه چی امر تقاضی دتکرار کول لهذا ستاسو خبره غلطه ده.

جواب : داده چی په مذکوره شیانو کښی چی کوم تکرار ده هغه د دامر دصیغی په وجه نه ده بلکه داسبابو په وجه ده یعنی دلمانځه سبب وخت ده اودزکوة سبب نصاب ده اودروژی سبب میاشت درمضان ده چونکه دا اسباب مکرر راتله لهذا مسبّبات ئی هم مکرر دی اودحج سبب چی بیت الله ده چونکه مکررنه ده لهذحج هم په کښی یوځل ده تفصیل داده چی وجوب دوه قسمه ده یونفس وجوب اوبل وجوب اداء نفس وجوب ثابت په سبب سره وی او وجوب اداء ثابت په امر سره وی لکه دبیع دثمن نفس وجوب په عقدبیع سره ده اووجوب اداء ئی په امر سره ده یعنی دبائع په دی قول سره اد ثمن البیع اوهمدارګه دښځی دنفقی وجوب په عقدنکاح سره ده لیکن وجوب اداء ئی په امر دقاضی سره ده یعنی په دی قول دقاضی اد نفقة الزوجة نوداثابته شوه چی دعباداتو نفس وجوب په اسبابو سره ده اواداء ئی ثابته په امر سره ده او مصنف رحمه الله په عبارت کښی هم داسی وویل چی تکرار دعباداتو ثابت په امر سره نه ده بلکه په هغواسبابو سره ده چی په هغو سره نفس وجوب ثابت ده اوامر دهغه عبادت د اداء دطلب لپاره ده کوم عبادت چی دمخکینی سبب په وجه واجب شوی ده. دنفس وجوب لپاره نه ده حاصل داده چی عبادت دسبب په وجه واجب شوی ده اودهغه دادائی

لپاره مامورته امرمتوجه ده او سبب چونکه مکرر ده لهذا دعبادت وجوب هم مکرر وی داسی نه ده چی امرتقاضی د تکرار کوی.

سوال: تاسو وایاست چی دسبب دتکرار په وجه نفس وجوب مکرر ده او مونږ سوال په دی طریقه کړی ده چی وجوب اداء ده امر په وجه ده او په دی تاسو هم قائل یاست چی وجوب د اداء په امر سره ده لهذا داثابته شوه چی امر تقاضی د تکرار کوی مصنف رحمه الله په دی قول ثم الامر سره ددی جواب ورکوی حاصل د جواب داده چی د امر په ذریعه چی دکوم فعل حکم ورکول شوی ده امر د هغه فعل جنس ته شامل ده او مخکی داخبره یاده شوه چی جنس د اطلاق په وخت کښی ادنی (فرد حقیقی) ته شامل وی لیکن دکل جنس (فرد حکمی) احتمال لری مثلاً دماپښین دوخت په وجه دماپښین لمونځ واجب ده او دغه ماپښین لمانځه دادا کولو لپاره دالله ﷻ له طرفه ده ته امر متوجه شو لیکن کله چی دماپښین وخت مکرر وو لهذا واجب یعنی دماپښین لمونځ هم مکرر ده لیکن دراتلونکی ماپښین هم هغه پرونی امرده او همدارنګه نوروته هم شامل ده په دی وجه نه چی امر تقاضی دتکرار کوی بلکه په دی وجه چی دټول عمر ماپښینونه ددی لپاره فرد حکمی ده او دا خو مونږ وویل چی جنس د فرد حکمی احتمال لری لهذا دټول عمر لمونځ نه فرض دی.

دوهم جواب: دوهم جواب ددی سوال لپاره نوالانوار ورکړی ده په دی طریقه چی دهر سبب دوجود په وخت کښی الله ﷻ له طرفه امر تقدیراً مکرر وی یعنی هرکله چی دلمانځه وخت داخل شی الله ﷻ وائی صلو لمونځ وکړی او همدارنګه دزکواة ده نو کله چی هر سبب دوجود په وخت کښی دالله ﷻ امر تقدیراً وو نو ګواکی دعبادت دادا ینی په وخت کښی دنوی نوی امر په وجه سره تکرار راغی.

فَصلٌ اَلمَامُورُ بِه نَوعَانِ

فَصلٌ اَلمَامُورُ بِه نَوعَانِ مُطلَقٌ عَنِ الوَقتِ وَمُقَيَّدٌ بِه وَحُكمُ المُطلَقِ اَن يَكُونَ الاَدَاءُ وَاجِبًا عَلَي التَّرَاخِي بِشَرطِ اَن لَا يُفَوِّتَهُ فِي العُمرِ وَعَلَى هٰذَا قَالَ مُحَمَّدٌ رح فِي الجَامِعِ لَو نَذَرَ اَن يَعتَكِفَ شَهراً لَهُ اَيعتَكِفَ اَيَّ شَهرٍ شَاءَ وَلَونَذَرَ اَن يَصُومَ شَهراً لَهُ اَن يَصُومَ اَيَّ شَهرٍ شَاءَ وَفِي الزَّكوٰةِ وَصَدَقَةِ الفِطرِوَالعُشرِ المَذهَبُ المَعلُومُ اَنَّهُ لَا يَصِيرُ بِالتَّاخِيرِ مُفرِطاً فَاِنَّهُ لَو هَلَكَ النِّصَابُ سَقَطَ الوَاجِبُ الحَانِثُ اِذَا ذَهَبَ مَالُهُ وَصَارَ فَقِيراً كَفَّرَ بِالصَّومِ.

ترجمه: مامور به دوه قسمه ده یو مطلق عن الوقت ده او بل مقید با الوقت ده د مامور به مطلق عن الوقت حکم داده چی اداء په طریقه دتراخی سره واجبوی په دی شرط چی له ده څخه به په ټول عمر کښی نه فوت کیږی او ددی حکم پر بنا امام محمد رحمه الله په جامع کبیر کښی فرمائی که یو چاه یوه میاشت اعتکاف پر ځان باندی نذر کړی ده نه داجائز ده چی که په هره میاشت کی دده زړه وغواړی په هغه میاشت کښی دی وکړی او که ئی یوه میاشت روژی پرځان نذر کړی په کومه میاشت کښی

چی ئی خوبنه وی په هغه میاشت کښې د ی روژې ونیسي او دصدقة الفطر او زکوة اوعشر کښې معلوم مذهب داده چی په تاخیر سره گنهگارنه ده ځکه په هلاک دنصاب سره واجب سا قطیږی او دحانث که مال هلاک شي او دی فقیر شی کفاره په روژه سره وکولای سی.

تشریح: په دی فصل کښې مصنف رحمه الله د مامور به تقسیم بیانوی مامور به دوه قسمه ده (۱) ماموربه مطلق عن الوقت (۲) مامور به مقید باالوقت دمطلق عن الوقت معنی داده چی شریعت دمامور به داداء لپاره وقت نه وی مقرر کړی لکه صدقة الفطر زکوة عشر او داسی نور شیان چی دادا ء لپاره ئی شریعت هڅ وخت نه وی معلوم کړی اودماموربه مقید باالوقت معنی داده چی شریعت دماموربه دادا ء لپا ره وخت ټاکلی وی لکه لمونځ اودرمضان روژه اودماموربه مطلق عن الوقت حکم داده چی واجبوی اداء دماموربه په طریقه دتراخی په دی شرط چی تر مرګ وړاندی باید اداء کړسی یعنی دده په ژوند کښې که اداء نشي په دی صورت کښې گنهگار ده او دایادلره چی دغه دجمهورو احناف مذهب ده دامام ابویوسفاواما م کرخی رحمه الله مذهب داده چی اداء علی الفور واجب ده او دوی وائی چی په تاخیر سره گنهگاره ده.

دمامور به مطلق عن الوقت ددی حکم پربنا باندی اما م محمد رحمه الله په جامع کبیر کښې وائی که یو سړی پرځان دیوی میاشتی اعتکاف نذرکی ده ته داجائز ده چی په کومه میاشت کښې چی دده خوښه په هغه کی دی اعتکاف وکړی اوکه ئی یوه میاشت روژی نذر کړی دلته هم دا جائز ده چی په کومه میاشت کښې چی دده خوښه وی په هغه میاشت کښې دی ونیسي.

مصنف رحمه الله وائی چی دصدقة الفطر او دزکوة او عشر په باره کښې معلوم مذهب داده چی په تاخیر سره گنهگار نه دهپه دی طریقه چی مکلف دکال له تیریدو ورسته زکوة اداء نه کی او صدقة الفطر ئی ادا ء نه کړی اود ځمکی دحاصل لسمه ئی ورنه کړه بلکه ددوی په ادا ء کښې ئی ځنډ وکړ گنهگار ه نه ده دزکواة امر اتوا الزکوة اود صدقة الفطر اا مر ادوا عن کل حر وعبد او دعشر امر ما سقتة السماء ففیه العشر دادری سر ه مطلق عن الوقت دی او د مطلق عن الوقت حکم مخکی ذکر شو چی حکم ئی وجوب علی التر اخی ده لهذا ددوی په تاخیرسر ه سړی گنهگا رنه ده دلیل ئی داده چی که دکال تر تیریدو ورسته او دزکواة تراداء مخکی نصاب هلاک شی دده زمه له اداء دزکواة څخه فارغه ده ځکه داشخص په تاخیر د زکواة سر ه کوتا هی کونکی نه ده ځکه دتاخیر اجازه شریعت ورکړی ده اوهمدارنګه که دځکمی حاصل دعشر ترادا ء مخکی هلا ک شی دځمکی د مالک زمه فارغه ده لیکن که یو سړی مالک دنصاب وی او په ورځ داختر صدقة الفطر اداء نه کړی او ورسته ئی مال هلاک شی او دی فقیر شی دده زمه فارغه نه ده ځکه قدرت دوه قسمه ده (۱) ممکنه ده (۲) میسر ه ده قدرت ممکنه هغی ادنی درجی دقدرت ته ویل کیږی چی دهغه په وجه مکلف دواجب پر ادانیه قادر وی او قدرت میسره هغه قدرت ده چی مکلف ته دمامور به اداء کول آسانه کوی دزکواة او

عشر داداء دوجوب لپاره قدرت میسره شرط ده په دی طریقه چی دملک دنصاب اودمال تر نماء ورسته ده ته اسانی پیدا کیږی او نفس قدرت خو صرف په ملک نصاب سره ثابت ده او همدارنګه په عشر کښې نفس قدرت ممکنه په نفس زراعت سره ثابت ده لیکن دا شرط لګول چی څمکه به له مالک سره پاته وی دمالک لپاره اسانتیا ده اوصدقة الفطر دوجوب لپاره چونکه نه حولان دحول شرط ده اونه نما دمال شرط ده بلکه صرف دا شرط ده چی داختر په ورځ به تر صبح صادق مخکې مالک دنصاب وی نو له دی وجه دصدقة الفطر دوجوب لپاره قدرت ممکنه شرط ده او قدرت مَیسَره شرط نه ده حاصل داده دزکوة او عشر داداء لپاره قدرت میسره شرط ده او دصدقة الفطر داداء لپاره قدرت ممکنه شرط ده میسره شرط نه ده او صاحب دنورالانوار وائی چی دقدرت میسره دوام شرط ده لپاره ددوام دوجوب یعنی ترکومه وخته چی قدرت میسره باقی وی تر هغه وخة به وجوب باقی وی او چی قدرت میسره ختم شو وجوب هم ختم ده اوقدرت ممکنه داسی نه ده یعنی دده دوام شرط نه ده دوجوب ددوام لپاره نو کوم شی چی دقدرت ممکنه په وجه ثابت وی دهغه بقاء موقوفه نه ده پر بقاء دقدرت ممکنه بلکه دقدرت ممکنه دختم کیدو په صورت کښې هم دده وجوب باقی وی مثلا بقاء دنکاح موقوفه نه ده پر شاهدانو دنکاح بلکه دشاهدانو له مرګه ورسته هم نکاح باقی وی حاصل داده کله چی دوام دواجب او دبقاء دواجب لپاره دقدرت میسره بقاء او دوام شرط ده او د قدرت ممکنه بقاء او دوام شرط نه ده نو دعشر اوزکوة اداء واجب نه ده هغه وخت چی قدرت میسره ختم شی څکه دقدرت میسره بقاء ددوی لپاره شرط ده او دصدقة الفطر چ داداء لپاره قدرت ممکنه شرط ده او قدرت میسره شرط نه ده لیکن دقدرت ممکنه دختم کیدولو ورسته وجوب داداء باقی ده ددی فرق په وجه موږ وراندی داعرض وکړی چی د مال نصاب دهلاک په صورت کښې زکوة دمکلف له زمی څخه ساقط ده اوهم دارنګه دځمکې دحاصلاتو دهلاک په صورت کښې عشر دمکلف له ذمی څخه ساقط ده لیکن د مال نصاب دهلاک په صورت کښې او دغناء دختم کیدلو په صورت کښې صدقة الفطر دمکلف له ذمی څخه ساقطه نه ده داصول الشاشی له دی عبارت لوهلك النصاب سقط الواجب له اطلاق څخه دا څرګندیږی چی دنصاب دهلاک په صورت کښې دادا دوجوب دساقیط کیدلو حکم زکوة اوصدقة الفطر او عشر دری سره وو ته عام ده لیکن بعض حضرات ددی لپاره جواب ورکړی ده چی دلته مرادله واجب څخه مطلق واجب نه بلکه دلته الف لام دعهد خارجی لپاره ده مراد زکوة او عشر ده اوله نصاب څخه مراد نصاب دزکوة او عشر ده.

خلاصه داده چی مصنف رحمه الله په دی عبارت کښې صدقة الفطر ته تعرض نه ده کړی بلکه صرف زکواة او عشر ته ئی تعرض کړی ده لهذ اپر عبارت باندی هڅ اعتراض نه کیږی او په دی عبارت والحانث اذا ذهب سره مصنف رحمه الله دماموربه مطلق پرحکم باندی یوه مسئله تفریع کوی مسئله داده

چی قسم ماتونکی اول څل ماموردہ په اداء دکفار ی په مال سره که پردی قادرنه وو دوهم څل په روژه سره ماموردہ لکه الله ﷻ چی فرمائی فکفارته اطعام عشرة مساکین من اوسط ماتطعمون اهلیکم او کسوتهم او تحریر رقبة فمن لم یجد فصیام ثلثة ایام یعنی هغه څوک چی حانث وی پر هغه باندی کفاره لس مسکنانو ته میانه ډوډی او کفړ ی ورکول دی یا غلام ازادول ده اوکه پردی قادیر نه وی دری ورځی روژی دی ونسیی په د ی آیت کښی کفاره مالیه مطلق عن الوقت ده لهذا دحانث کیدلو ورسته دمال دوجود په صورت کښی دکفاری داداء کولو په وروسته والی سره ګنهګارنه ده او که له دی څخه ورسته مال هلاک شی اودی فقیر شی په روژه سره کفاره اداء کول صحیح ده څکه مامور به مطلق ده په تاخیر سر ګنهګا ره نه ده.

وَعَلٰی هٰذَا لَا یَجُوزُ قَضَاءُ الصَّلٰوةِ فِی الْاَوْقَاتِ الْمَکْرُوهَةِ لِاَنَّهُ لَمَّا وَجَبَ مُطْلَقًا وَجَبَ کَامِلًا فَلَایَخْرُجُ عَنِ الْعُهْدَةِ بِاَدَاءِ النَّاقِصِ فَیَجُوزُ الْعَصْرُ عِنْدَ الْاِحْمِرَارِ.

ترجمه: اوبناء پردی باندی جائز نه ده قضاء دلمانځه په مکروه وختو کښی له دی وجه کله چی قضاء واجب مطلقاً ده له دی وجه کامله واجب ده نوکله چی داسی سوه نو دمکلف زمه په ناقصه اداء سره نه فاریغه کیږی پر دی باندی په طریقه دتفریع مصنف رحمه الله وائی چی دشمس داحمرار په وخت یعنی دلمر لویدلو په وخت کښی دمازدیګر لمونځ اداء کول جائز نه ده.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی چونکه دماموربه چی مطلق عن الوقت وی تا خیر جائز ده له دی وجه موږ وایو چی په مکروه وخت کښی (طلوع، غروب، نصف نهار) دلمانځه قضاء رواړل جائز نه ده وجه ئی داده لمونځ چی کله په وخت کښی ادا نه سی نو هغه لمونځ قضاء ده او دقضاء لپاره شریعت هیڅ وخت نه ده معلوم کړی لهذا قضاء مطلق عن الوقت ده نوکله چی قضاء مطلق عن الوقت ده ددی دوجوب سبب دلمانځه پوره وخت ده او کامل وخت ده په سبب کامل سره شی کامل واجب وی لهذا مکروه وخت چونکه ناقص ده په دی کښی قضاء راوړل دلمانځه جائز نه ده څکه په مکروه وخت کښی لمونځ په ناقصه طریقه سره ادا کیږی په کامله طریقه سره نه ادا کیږی پردی خبره مصنف رحمه الله یوه تفریع کوی هغه داده چی دشمس داحمرار یعنی غروب په وخت کښی دمازدیګر دلمانځه اداء جائز نه ده یعنی دنن مازدیګر دلمانځه اداء جائزده لیکن دپرون مازدیګر قضاء جائز نه ده داداء دجواز وجه داده کله چی داحمر ار شمس په وخت کښی اداء شروع کړشی نو دوجوب سبب ئی هغه وخت ده چی له اداء سره متصل وی اوله اداء سره متصل وخت مکروه اوناقص وخت ده نودسبب ناقص په وجه دنن مازدیګر لمونځ هم ناقص ده نو داداء واجب ناقص ده په ناقصه طریقه دواجب ناقص اداء په ناقصه طریقه چونکه اداء ده لهذا د نن مازدیګر دلمانځه اداء په ناقص وخت کښی جائز ده او قضاء دنه جواز وجه داده کله چی په پوره وخت کښی ادا نه سونو ددغه مازدیګر سبب دوجوب پوره او مکمل وخت ده هر کله چی ئی سبب پوره او کامل وو نودد ی

عصر وجوب هم کامل ده نواوس داشخص ددغه لمانځه او قضاء دلمر دغروب په وخت کښې راوړی نودا ادا په ناقصه طریقه ده او مونږ مخکې دا خبره وکړه چې داکامل واجب ده په ناقصه طریقه سره ادا کول ادا ء نه ده لهذا دپر ون ما زدیګر لمونځ نن دغروب په وخت کښې ادا کول جائزنه ده.

وَعَنِ الكَرخِيِّ اَنّ موجَبَ الأمرِ المُطلَقِ اَلوُجُوبُ عَلَى الفَورِ وَالخِلَافُ مَعَهُ فِي الوُجُوبِ وَلَا خِلَافَ فِي اَنّ المُسَارَعَةَ اِلَى الاِيتِمَارِ مَندُوبٌ اِلَيهَا.

ترجمه: له امام کرخی رحمة الله عليه روايت شوی ده چې دمطلق امر موجوب وجوب علی الفور ده او له دسره اختلاف په وجوب کښې ده په دی کښې اختلاف نشته چې په عمل کښې تلوار مستحب ده.

تشریح: مامور به چې مطلق عن الوقت وی د جمهور په نزدئی حکم وجوب علی التراخی ده لیکن دامام کرخی رحمة الله عليه په نزدوجوب علی الفور ده یعنی په اداء کښې تلوار دده په نزد واجب ده یعنی په اول وخت کښې داداء له مکان سره سره په تاخیر کولو سره مکلف ګنهګاره ده که څه هم موقوفاً ګنهګار ه ده دمو قوفاً مطلب داده چې که ورسته ادا کړشی ګنا ه پورته کیږی مصنف رحمة الله عليه فرمائي چې دجمهو رو احنافو اوداامام کرخی رحمة الله عليه په مینځ کښې اختلاف په دی کښې ده چې دمامور به په ادا ء کښې تلوار کول ښه کار ده یعنی پر دی خبره ټول احناف متفق دی چې دمامور به په ادا ء کښې تلوار کول مستحب ده.

وَ اَمّا المُوَقّتُ فَنَوعَانِ نَوعٌ يَكُونُ الوَقتُ ظَرفاًللفعل حَتّى لَا يَشتَرِطَ استِعَابُ كُلِّ الوَقتِ بالفعل كَالصّلوةِ وَمِن حُكمِ هٰذَا النّوعِ اَنّ وُجُوبَ الفعلِ فِيهِ لَايُنَافِي وُجُوبَ فعلٍ اٰخَرَ فِيهِ مِن جِنسِهٖ حَتّى لَونَذَرَ اَن يُصَلّيَ كَذَاوَكَذَ ارَكعَةً فِي وَقتِ الظُّهرِ لَزِمَهُ وَمِن حُكمِهٖ اَنّ وُجُوبَ الصّلوةِ فِيهِ لَايُنَافِي صِحّةَ صَلوةٍ اُخرى فِيهِ حَتّى لَو شَغَلَ جَمِيعَ وَقتَ الظُّهرِ لِغَيرِ الظُّهرِ يَجُوزُ وَمِن حُكمِهٖ اَنّهُ لَا يَتَادّى المَامُورُ بِهٖ اِلّا بِنِيّةٍ مُعَيّنَةٍ لِاَنّ غَيرَهٗ لَمّا كَانَ مَشرُوعًا فِي الوَقتِ لَا يَتَعَيّنُ هُوَ بِالفِعلِ وَاِن ضَاقَ الوَقتُ لِاَنّ اعتِبَارَالنِّيّةِ بِاعتِبَارِ المُزَاحِمِ وَقدبَقِيَتَ المُزَاحَمَةُ عِندَضِيقِ الوَقتِ.

ترجمه: بهر حال موقوف دوه قسمه ده یو قسم داده چې دفعل لپاره ظرف وی په داسې طریقه چې له فعل سره ټول وخت استعاب شرط نه ده لکه لمونځ ددی قسم یو حکم داده چې په وخت کښې دفعل له وجوب سره ددغه جنس ددوهم فعل وجوب منافی نه وی حتی که یو سړی ماپښین په وخت کښې څلور رکعته نذرکړی وو دغه پر ده باندی لازم دی اوبل حکم ئی داده چې په وخت کی به دلمانځه له واجبوالی سره په دغه وخت کښې دبل لمانځه صحت منافی نه وی حتی که یو شخص ټول وخت دماپښین په غیردماپښین دلمانځه په بل شی سره مشغول کی جائز ده اوبل حکم ئی داده چې مامور به بغیرله نیته نشی اداء کیدای ځکه کله چې دغیر مامور به په وخت دمامور به کښې

مشروع ده نو د اوخت د فعل لپاره متعین نه ده که څه هم وخت تنګ وی له دی وجه چی اعتبار د نیت د مزاحم په وجه ده او مزاحم په وخت د تنګی کښی هم باقی وی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی مامور به موقت دوه قسمه ده یو قسم داده چی وخت د مامور به د اداء لپاره ظرف وی او ظرف په لغت کښی عام ده هغه ته هم شامل ده چی تر مظروف زیات وی او هغه ظرف ته هم شامل ده چی تر مظروف زیات نه وی لیکن د اهل اصول په نزد ظرف په هغه پوری خاص ده چی تر ظروف زیات وی لکه د لمانځه وخت چی لمونځ د سنت مطابق اداکولو سره سره وخت باقی پاته وی او هغه ظرف چی دی او مظروف سره برابر وی یعنی نه وخت زیات وی تر مظروف او نه مظروف تر وخت زیات وی هغه ته معیار ویل کیږی لکه د روژی وخت چی معیار ده لپاره د روژی او د لته له ظرف څخه هغه ظرف مراد ده کوم چی د اهل اصول اصطلاح ده همدا وجه ده چی په مامور به سره د ټول وخت استعاب شرط نه ده مصنف رحمه الله د دی نوع لپاره دری حکمه بیانوی اول داده چی په وخت کښی د فعل له وجوب سره دا نه ده منافی چی په د غه وخت کښی د ده له جنسه دوهم فعل هم ادا کړشی یعنی داسی کیدای شی چی په یوه وخت کښی یو فعل واجب وی مګر له ده سره په دغه وخت کښی بل فعل واجب شی مثلا د ماپښین په وخت کښی د ماپښین لمونځ واجب ده او فرض ده لیکن که یو شخص په دی وخت کښی یو څور رکعته نذر کړی د غه رکعتو نه یرده باندی واجب دی او د دی وجه مخکی تیره شوه چی د ماپښین ټول وخت د ماپښین په لمانځه سره نیول شرط نه ده بلکه د وخت په یو حصه کښی ماپښین لمونځ ادا کول کافی ده دوهم حکم داده چی په وخت کښی د لمانځه وجوب د بل لمانځه له صحت سره منافی نه ده یعنی داسی کیدای سی چی په یوه وخت کښی یو لمونځ واجب وی لیکن په هغه وخت کښی بل لمونځ وکړی مثلا که یو شخص د ماپښین ټول وخت په بل لمانځ سره مشغول کړی د المونځ صحیح ده کیکن د ماپښین د لمانځه په پرېښودلو سره داشخص ګنهګاره ده دریم حکم داد چی مامور بغیر له معلومه نیته نسی اداء کیدای ځکه د وخت د ظرف والی په وجه لکه څرنګه چی مامور به مشروع ده هم داشا ن غیر مامور به هم مشروع ده لهذا مامور به بغیر د نیته نشی متعین کیدای بلکه د ده د تعین لپاره نیت ضروری ده که څه هم وخت تنګ وی حتی که د ماپښین له وخته صرف دومره باقی وی چی په هغه کښی د ماپښین څلور رکعته ادا کیږی هم نیت کول ضروری ده ځکه تعین د نیت هلته ضروری ده چیر ته چی مزاحم موجود وی او مزاهم خود وخت د تنګی په صورت کښی موجود ده په دی طریقه چی په دغه تنګ وخت کښی چی صرف څپل څلور رکعته په کښی ځایږی که یو شخص نفلی او یا قضائی لمونځ وکړی او د وخت لمونځ پر یږدی جائز ده لهذا د وختی لمانځه لپاره تعین د نیت ضروری ده.

وَالنوعُ الثانی مَایکُونُ الوَقتُ معیارًا لَهُ وَذالکَ مثلُ الصَوم فانه یَتقَدرُ بالوَقت وَهُوَ الیَومُ وَمن حُکمه اَنّ الشَرعَ اذَاعَیّنَ لَهُ وَقتًا لَایَجبُ غَیرُهُ فی ذَالکَ الوَقت وَلَا یَجُوزُ اَدَاءُ غَیره فیه حَتّی اَنّ الصَحیحَ المُقیمَ لَواَوقَعَ امسَاکَهُ فی رَمَضَانَ عَن وَاجب اٰخرَ یَقعُ عَن رَمَضَانَ لَاعَمّانَوی وَاذَااندَفَعَ المُزَاحمَ فی الوَقت سَقَطَ اشترَاطُ التَعین فَانّ ذالکَ لقَطع المُزَاحمَة وَلَا یَسقُطُ اَصلُ النّیَة لَانّ الامسَاکَ لَایَصیرُ صَومًا الّا بالنّیَة فَانّ الصَومَ شَرعاً هُوَ الامسَاکُ عَن لاکل وَالشرب وَالجماعِ نَهَارًا مَعَ النّیَة

ترجمه :اودوهم قسم داده چی وخت ما موربه لپاره معیار وی مثلا روژه څکه روژ ه په وخت سره مقیده ده ددی قسم حکم داده کله چی شریعت دروژی لپاره وخت متعین کی نو په دی وخت کښی دروژی نه بغیر بل واجب نشي کیدای او په دغه وخت کښی له دغی رو ژی نه بغیر دبلی اراده کول جائزنه ده حتی که جوړ اومقیم سړی په رمضان کښی خپل امساک دواجب اخر لپاره کی داهم درمضان لپاره ده دواجب اخر څخه نه ده نوکله چی په وخت کښی مزاحم دفع شو نو دنیت دتعین شرط سا قط شو څکه داشر ط دمزاحم دختم کیدلو لپاره ده او اصل نیت شاقط نه ده څکه امساک بغیر له نیته روژه نه ده څکه شرعی روژه په ورځ کښی له خوړلو او څښلو جماع څخه دځان ساتلو نوم ده سره لره له نیته.

تشریح : دماموربه موقت دوهم قسم داده چی وخت ماموربه لپاره میعاروی یعنی دمامور به له ادا څخه ورسته نه وخت زیات وی اونه ماموربه تروخت زیات وی بلکه مامور به وخت داسیمشغولوی چی دوخت په زیات سره ماموربه هم زیات کیږی او دوخت په کمبوت سر ه مامور به کمیږی ددی مثال روژه ده څکه روژه له ورځی سر ه داسی برابر ه وی چی دورځی په لویښت سر ه روژه لویږی او په کمبوت سره ئی روژه کمیږی اودانوع بیا پر دوه قسمه ده یو داده کوم وخت چی مامور به لپاره میعاروی هغه به دمامور به لپاره متعین وی اودوهم داده چی وخت دماموربه لپاره متعین نه وی مصنف رحمه الله له ومن حکمه څخه ددی دووقسمو داول قسم بیان کوی دی داسی فر مائی هغه مامور به چی دده لپاره وخت متعین وی یعنی درمضان روژه ددی حکم داده کله چی شریعت دروژی لپاره وخت متعین کی نو په دغه متعین وخت کښی له دغی روژی بغیر بله روژه واجب نه ده لکه یوشخص چی په رمضان کښی څوروژی نذر کړی دهغو روژو ادا ء په رمضان کښی واجب نه ده څکه وخت ددوو روژ و صلاحیت نه لری نوکله چی وخت ددوو روژو صلاحیت نه لری نو په رمضان کښی درمضان روژه او دنذر روژه دواړه نشی ادا کیدای او ناذر لره داهم جائز نه ده چی دشریعت حکم بدل کړی یعنی داسی نشی کولای چی دشریعت دمعلوم کړشو روژو پر ځای باندی دنذر روژه واجب کړی لهذا پرناذز باندی په رمضان کښی هغه روژه واجب ده چی شریعت واجب کړی وی څکه په دی آیت فمن شهید منکم الشهرفلیصمه او حدیث إذاانسلخ شعبان فلاصوم الاعن الشعبان په وجه رمضان

دروژی درمضان لپاره متعین شو ی ده نوکله چی میاشت درمضان دروژی درمضان لپاره شرعاً متعینه وه نو درمضان دروژی نه بغیر دبلی روژی اداء جائز نه ده.

مصنف رحمه الله پر خپل دی قول باندی چی په رمضان کښی بغیر درمضان له روژی دبلی روژی اداء جائز نه ده یوه تفریع کوی چی که یو شخص جوړوی او مقیم وی او هغه په رمضان کښی دبل واجب یعنی قضاء او یا کفاری دروژی داداکولو نیت وکړی نو دده داروژه له رمضان څخه ده له واجب اخر څخه نه ده ځکه کله چی شریعت ورځ درمضان په صوم رمضان سره موصوفه کړه مکلف دی صفت ته تغیرنشی ورکولای ددی مثال داسی لکه یو شخص چی خیاط ته جامی ګنډل په مزدوری ورکړی اوبیا خیاط ده ته خپلی کپړی ورکړی اودی هغه روپی ورکوی نیت دتبرع په کښی وکړی داتبرع نه ده مزدوری ده یعنی دی پر دی باندی قادرنه ده چی دی داو صف ته تغیر ورکړی دده په نیت سره تبرع نه ګرزی او داخبره یا دساته چی مصنف رحمه الله دجوړ او مقیم قید ذکر کول دامام ابو حنیفه رحمه الله مذهب موافق ده له مسافر او مریضه احتراز ده ځکه د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب داده که چیری مسافر اویا مریض په رمضان کښی دواجب اخر نیت وکړ نیت ئی صحیح ده یعنی روژه ئی له هغه څخه ده دکوم شی چی ده نیت کړی ده له رمضان څخه نه ده.

مصنف رحمه الله وائی کله چی وخت معیار وو نو مزاحم دفع شو یعنی په رمضان کښی دغیر رمضان دروژی احتمال ختم شو او دمتعین نیت شرط کول هم ختم شو ځکه تعین دنیت دمزاحم له وجی وو نو کله چی په رمضان کښی دبلی روژی احتمال نه وو لهذا دتعین دنیت هم ضرورت نشته یعنی دا ایراده ضروری نه ده چی داووائی چی درمضان روژه نیسم بلکه داایراده کافی ده چی ووائی چی روژه نیسم.

<u>ولایسقط اصل نیته</u> په دی عبارت سره دیوه سوال جواب کوېږی.

سوال : چی درمضان ورځ دروژی لپاره متعینه ده نو با ید اصل نیت هم ساقط شی دتندرست او مقیم سړی له طرفه باید بی له نیته روژه اداء شی اوحال داده چی بغیر له نیته روژه صحیح نه ده بلکه اصل نیت غواړی.

جواب: داده چی امساک یعنی له خوړلو او څښلو او جماع څخه ځان راګرزول بغیر له نیته شرعاً روژه نه ده ځکه شرعی روژه دی ته ویل کیږی چی له خوړلو او څښلو او جماع څخه ځان راوګرزوی په نیت دروژی یعنی دشرعی روژی لپاره دری شیان ضروری دی اول له خوړلو اوڅښلو اجماع ځان راګرزول دوهم ورځ دریم نیت له دی څخه که یوشی کم وی شرعاً روژه نه ده.

دوهم جواب: اوداجواب هم ورکولای شی چی په ورځ کښی له څښلو او خوړلو اوجماع څخه دځان ساتلو دوی طریقی دی یو په طریقه دعادت اوبل په طریقه دعبادت او دامسلمه خبره ده چی عبادت بغیر له نیته نه وی ځکه الله ﷻ فرمائی <u>وماامروا الالیعبدوا الله مخلصین له الدین</u> په دی آیت کښی

اخلاص ضروری وکنل شو او اخلاص په نیت سره وی بغیر له نیته نه وی نو نتیجه داشوه چی عبادت په نیت سره ده بغیر نیته نه وی حاصل داده چی عبادت او عادت فرق په نیت سره ده لهذا اصل نیت ساقط نه ده.

وَان لَم يُعين الشرعُ لَهُ وَقتاً فانَّهُ لَا يَتعَينُ الوَقتُ له بتَين العَبد حَتّی لَوعَيَنَ العَبدُ اَيَا مًا لقَضاء رَمَضَان لَاتَتعَينُ هِی للقَضَاء وَيَجُوزُ فِيهَا صَومُ الكَفَارَة وَالنَفل وَيَجُوزُ قَضَاءُ رمضان فِيهَا وَغير هَا وَمِن حَكمِ هذَاالنوعِ اَنَهُ يُشتَرطُ تَعيينُ النِيَة لوُجُودالمُزَاحم.

ترجمه: اوکه چیری شریعت مامور به لپاره یووخت معلوم کړی نه وو نو دبنده په تعین سره نه متعین کیږی حتی که بنده دقضاء رمضان لپاره څو ورځی معلومی کړی وی هغه ورځی دقضاء لپاره متعین نه دی په دغو ورځو کښی نفلی اودکفاری روژه جائز ده او قضاء درمضان هم دغو ورځو کښی هم جائز ده اوددی ورځو بغیر په نورو کښی هم جائز ده ددی نوع حکم داده چی تعین دنیت شرط ده ځکه مزاحم موجود ده.

تشریح: کوم وخت چی مامور به لپاره معیاروی دهغهِ مورِ دوه قسمه بیان کړو یوداده چی دمامور به لپاره وخت معین وی او دوهم داده چی متعین نه وی داول قسم تفصیلی بیا ن تیر شو اوددوهم قسم بیان کوو.

تفصل: داده که شریعت مامور به موقت لپاره وخت نه وو متعین کړی لکه دقضاء ددرمضان لپاره چی وخت متعین نه ده په دی صورت کښی دبنده په تعین سره تعین نه ورځی مثلاً که بنده قضاء رمضان لپاره څوورځی معلومی کړی دا تعین تعین نه ده بلکه په دغو ورځو کښی دکفاری اونفلی روژی نیول هم جائز ده اوکه قضاء درمضان په دغوورځوکی هم جائز ده اوپه نوروکښی هم جائز ده دلیل دا آیت ده من کان منکم مریضاً اوعلی سفرٍ فعدة من ایام اخر په دی آیت کښی دقضاء رمضان وخت مطلق ده اوس که بنده دقضاء رمضان لپاره وخت متعین کړی دادکتاب اطلاق مقید کول اوحال داده چی تقیید دکتاب دبنده له وسه بهر خبره ده اودا خبره مورِ مخکی ذکر کړه چی بنده دشرعی حکم ته تغیرنه شی رسولای.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی ددی نوع حکم داده چی تعین دنیت شرط ده یعنی داسی نیت کول چی زه درمضان روژه نیسمه دفرض روژی یادمطلق قضاء نیت کافی نه ده وجه ئی داده چی دلته مزاحم شته یعنی په دغو ورځوکښی لکه څرنګه چی قضاء روژه نیول جائز ده همدارنګه نفلی اودکفار روژه هم جائز ده لهذا دمزاحم دختم کولو لپاره دنیت ضرورت شته.

ثُمَ للعَبد اَن يُوجبَ شَيأً عَلی نَفسه مُوَقتاً اَوغير مُوقت وَلَيسَ لَهُ تَغيرُ حُكم الشرع مِثَالُهُ اذا نَذَرَ اَن يَصُومَ يَوماً بِعَينه لَزِمَهُ ذَالک وَلَوصَامَهُ عَن قَضَاءِ رَمَضَانَ اَوعَن كَفَارَة يَمِينه جَازَ لِاَنَ الشَرعَ جَعَلَ القَضَاءَ مُطلَقًا فَلَاَ يَتَمَكَنُ العَبدُ من تَغييرِه بِالتَقييد بِغَيرِ ذَالک اليَوم.

ترجمه: اوبنده لره داجائز ده چې پرځان يوشي واجب کړي موقت اوغير موقت اودانه ده ورته جائز چې حکم دشرعي ته تغير ورکړي مثال ئې داده که يوشخص ديوه معلومي روژه پرځان باندې نذر کړي پرده باندې په دغه معلومه ورځ کښي روژه لازمه ده اوکه په دغه ورځ کښي درمضان قضائي روژه يادکفارې روژه ونيسي جائز ده ځکه شرعت قضاء مطلقه ذکر کړې ده نوبنده قادر نه ده چې مطلق مقيد کړي په غير ددغي ورځي.

تشريح: په مذکوره عبارت سره مصنف رحمه الله ديوسوال جواب کوي.

سوال: داده چې ستاسودا قول غلط ده چې تاسو واياست چې که يوشخص دقضاء رمضان لپاره څوورځي متعين کړي داتعين نه ده ځکه که يوشخص پرځان باندې داسې شي واجب کړي چې هغه پرده باندې واجب نه وي که موقت اوکه غير موقت وي ليکن دده په واجب کيدو سره هغه پرده باندې واجب ده نوکله چې دغير واجب په واجب کولو اختيار لري نوبايد دواجب شوي شي لپاره دوخت دتعين اختيار هم وه لري ځکه ديوشي واجب کول اثبات داصل ده اودواجب شوي شي لپاره تعين اثبات وصف ده اواثبات دوصف ادني ده په نسبت واثبات داصل ته نوکله چې داعلي شي اختيار لري دا ادني شي بايد په دې طريقه اولي سره وه لري.؟

جواب: داده چې ديوشي په واجب کولو سره پرځان باندې حکم دشرعي ته دتغيرورکول اختيار نه ده ليکن دقضاء رمضان لپاره دوخت په تعين سره دحکم مطلق مقيد کول لازميږي په دې طريقه چې دقضاء حکم يعني فعدة من ايام اخر مطلق ده يعني کوم چې غواړي هغه وخت قضاء راوړلي شي نودلته دوخت تعين ددغه مطلق تقيد ده اودمطلق تقيد حکم شرع ته تغيرده اودشرعي دحکم دتغير اختيار بنده لره نشته داوجه ده چې بنده لره دا اختيار نشته چې حکم دشرعي تغير ورکړي اودغير واجب په واجب کولو سره چونکه دشرعي حکم مغير کول نه ده لهذا ده ته ددې اختيار شته مصنف رحمه الله ددې لپاره يومثال ذکرکوي که يوشخص ديومعلومي ورځي مثلاً پر(۱۵) درجب دجمعي دورځي روژه نذر کړي په دې صورت کښي بيله شکه ددغي ورځي روژه پرده لازمه ده ليکن که په دغه ورځ قضائي يادکفارې روژه ونيسي هم جائز ده ځکه شرعت دقضاء رمضان لپاره وخت نه ده معلوم کړي له دې آيت فعدة من ايام اخر داخبرواضحه ده اوهمدارنگه دکفارې دروژو لپاره وخت معلوم نه ده لکه په دې آيت فصيام شهرين متتابعين اوله دې آيت فصيام ثلاثة ايام څخه ظاهر ده نواوس که چيرته داسې وويل شي کومه ورځ چې دنذر دروژې لپاره معلومه ده په هغه کښي دقضائي اوکفارې روژه نيول جائز نه ده بلکه لدې څخه بغير په بله ورځ کښي جائز ده دانه ده بلکه دمطلق دکتاب دتقيد ده اودمطلق تقيد نه ده بلکه تغير دحکم شرعي ده اوموږ داخبره بار بار ذکر کړې ده چې دشرعي حکم دتغير اختيار بنده لره نشته.

فائدی : فصول الحواشی مصنف رحمہ اللہ پرعبارت یو اعتراض کوی اودفصول الحواشی محشیان جواب ورکوی.

سوال : داده چی مصنف رحمہ اللہ وائی چی دغیر واجب په واجب کولو سره دحکم شرعه تغیر نه لازمیږی په دی خبره زه پوه نه شوم په دی وجه چی غیر واجب یعنی مباح هم شریعت مطلق کړی ده یعنی دبنده ته ئی دکول اونه کول دواړه جائز دی لیکن که داپرځان واجب کړی نوداخومقید شو په کولواوکه ئی پرځان حرام کړی په نه کولومقید شو اودانه ده بلکه تقید دمطلق ده اوتقید دمطلق نه ده بلکه حکم دشرع ته تغیر ورکول ده مطلب داده چی په واجب کولو دشی سره هم تغیر دحکم دشرع راځی اوتاسو وویل چی داتغیر نه لازمه وی.؟

اول جواب: داده چی موږ هغه ایجاب علی النفس جائز بولوچی حکم دشرع نه متغیر کوی اومباح اونفل چونکه دبنده حق ده په کولواونه کولو اوپه ایجاب علی النفس باندی حکم دشرع نه متغیر کوی چی حکم دشرع نه متغیر کوی نوستاسو سوال پرموږ نه واردیږی.

دوهم جواب: داده چی موږدا نه منو چی په ایجاب علی النفس باندی حکم دشرع متغیر کیږی ځکه دحکم دشرع دتغیر څخه مراد داده چی په ایجاب سره دشریعت حق وګرزی او واجب شی لیکن مباحات داسی نه دی یعنی دشریعت حق جوړیږی لیکن واجب کیږی نه لهذا دمباح په واجب کولوسره حکم دشرعی نه متغیر کیږی.

دریم جواب: داده چی تغیر دحکم شرعی له دی وجه جائز نه ده چی بنده ته شریعت دااختیار نه ده ورکړی اومباح دنذر په ذریعه پرځان باندی واجب کول چونکه دشرعی په اجازه ده لکه په دی آیت کښی والیو فواندورهم داخبره واضحه ده له دی وجه داتغیر بنده لره جائز ده.

وَلَایَلْزَمُ عَلٰی هٰذا مَااِذا صَامَهُ عَن نَفلٍ حَیثُ عَنِ المَنذُورِ لَاعَمَّانَوٰی لِاَنَّ النَّفلَ حَقَّ العَبدِ اِذا هُوَ یَستَبِدُّ بِنَفسِه مِن تَرکِه وَتَحقِیقِه فَجَازَ اَن یُؤثِّرَ فِعلُه فِیمَا هُوَ حَقُّه لَافِیمَا هُوَ حَقُّ الشَّرعِ وَعَلٰی اِعتِبَارِ هٰذَاالمَعنٰی قَالَ مَشَایِخُنَا اِذا شَرطَا فِی الخُلعِ اَن لَا نَفقَةَ لَهَا وَلَاسُکنٰی سَقَطَتِ النَّفَقَةُ دُونَ السُّکنٰی حَتّٰی لَایَتَمَکَّنَ الزَّوجُ مِن اِخرَاجِهَا عَن بَیتِ العِدَّةِ لِاَنَّ السُّکنٰی فِی بَیتِ العِدَّةِ حَقُّ الشَّرعِ فَلَا یَتَمَکَّنُ العَبدُ مِن اِسقَاطِه بِخِلَافِ النَّفَقَةِ .

ترجمه : اوپرده باندی نه لازمیږی هغه کوم وخت چی ناذر په هغه معلومه ورځ کښی نفلی روژه ونیسی بلکه دنذر روژه ئی ادا ء شوه هغه نه ده اداء کوم چی ده ئی نیت کړی ده ځکه نفل دبنده حق ده له دی وجه چی دی په پریښولو اوکولو کښی مستقل ده لهذا داخبره جائزده چی دده فعل دده په حق کښی مؤثرشی نه په حق دشرع کښی اودی معنی ته په پام سره زموږ مشائخ وائی کله چی زوجین په خلع کښی داشرط بیان کړی چی دښځی نفقه اوسکنی نشته نونفقه ساقطه ده اوسکنی

نه ده ساقطه ترهغه وخته چې خاوند پردې نه وي قادر شوی چې ښځه دعدی دتیرېدو په وجه له کوره ځخه خارج کړي ځکه عده دشرعت حق ده لهذا بنده ددې پرساقط کولو باندې قادر نه ده.

تشریح: په دې عبارت سره دیوه سوال جواب کیږي.

سوال: داده چې شریعت نفل مطلق مشروع کړی لکه څرنګه چې ئې دقضاء اوکفاری روژه مطلق مشروع کړې ده یعنې دشریعت له طرفه لکه څرنګه چې دقضاء اوکفارې درژو لپاره معلومه ورځ نه ده ټاکل شوې همدارنګه نفلي روژې لپاره هم معلومه ورځ نه ده ټاکل شوې بلکه علی الا طلاق په هر ورځ کښې جائز ده په دې شرط چې هغه ورځ به منهي عنه نه وي نو که ناذر دنذري روژو لپاره په معلومه شوې ورځ کښې نفلي روژه وینوله تاسووایاست چې هغه په نفلي کښې نه دریږي بلکه نذري ده دانه ده بلکه تقید دمطلق ده په دې طریقه چې نفلي ررژه خوعلی الطلاق مشروع وه یعنې په هره ورځ کښې دنیولو اجازت شته خواه که دنذر ورځ وي اوکه بله ورځ وي مطلب داده چې په دې کښې هم مطلق په دې مقید شو چې دنذر له ورځې نه بغیر بله ورځ به وي اوتاسوویل چې داناجائزه ده ځکه تاسووړاند داخبره وکړه چې که ناذر دنذر لپاره په معلومه شوې ورځ کښې دقضاء اوکفاز ی روژه ونیوله نود قضاء او کفاری روژه ئې اداء شوه دنذر روژه ئي نه ده اداء ځکه که موږ دلته دقضاء اوکفاری روژه جائز نه وبولو داتقید دمطلق ده ځکه قضاء اوکفاره خوعلی لاطلاق مشروع دې اودلته په دې مقید شو چې له یوم نذر نه بغیر بله ورځ به وي.

جواب: داده چې نفل دبنده حق ده په دې وجه چې بنده دنفلوپه کولو اونه کولو کښې مستقل ده او قضاء اوکفاره دشریعت حق ده نوبنده که څه هم دشریعت په حق کښې تغیر نه شي کولای لیکن په خپل حق کښې دتغیر اختیار لري لهذا دده فعل به دده په حق کښې مؤثر شي یعنې کومه ورځ چې ده دنذر لپاره معلومه کړې وي په هغه کښې دنفلي نیت وکړي باید داروژه نفلي نه شي بلکه دنذر شي اوشارع په حق کښې مؤثر نه شي چې نفلي روژه ده یعنې په دغه ورځ کښې نفلي روژه مشروع نه ده بلکه په دغه ورځ دنذر روژه ده که څه هم ناذر دنفلي نیت کړی وي قضاء اوکفاره چونکه دشریعت حق ده په هغه کښې فعل دبنده مؤثر نشي کیداې ددې وجې بنده چې کومه ورځ دنذري روژې لپاره معلومه کړې وي په هغه کښې دقضاء اوکفاری روژه غیر مشروع ده مصنف رحمه الله وائي چې دبنده فعل دده په حق کښې مؤثر ده دشارع په حق کښې مؤثر نه ده ددې معنی په اعتبار سره مشائخ احناف وائي که په خلع کښې خاونداوښځې په رضامندی داشرط کیښودی چې دښځې نفقه اوسکنی پر خاوند نشته په دې صورت کښې پرخاوندنفقه واجب نه ده اوسکنی وربانډې واجب ده نو ځکه خاوند دا قدرت نه لري چې ښځه دعدت په وخت کښې له کوره وشړي ځکه سکنی دخاوند په کور کښې دشریعت حق ده نو که الله ﷻ چې فرمائي لاتخرجوهن من بيوتهن ولايخرجن په دې آیت کښې خاوند له دې ځخه منع ده چې ښځه دعدت په وخت کښې له کوره وشړي اوښځه هم له وتلو ځخه منع

ده له دی څخه معلومه شوه چی معتده ښځو او سیدل په کور کښی د شرع حق ده او بنده دا اختیار نه لری چی د شارع حق ساقط کړی لهذا د خاوند او ښځی مذکوره شرط چی د ښځی لپاره به د عدی په وخت کښی دده په کور کښی سکنی نه وی نه ده صحیح لیکن نفقه ددی خلاف ده یعنی خاوند او ښځه دا اختیار لری چی نفقه ساقطه کړی ځکه نفقه د ښځی حق ده په دی وجه چی ښځه خپل ځان خاوند ته سپارلی ده او خاوند په عوض کښی دی ته نفقه ورکوی مطلب داده چی نفقه د ښځی حق ده د دوی په اسقاط سره ساقیطیږی.

فصل اَلْاَمْرُبِالشَّیْءِ یَدُلُّ عَلٰی حُسنِ الْمَامُورِ بِهٖ اِذَاکَانَ الاٰمِرُحَکِیماً لِاَنَّ الاَمْرَ لِبَیَانِ اَنَّ الْمَامُورَ بِهٖ مِمَّایَنبَغِی اَنْ یُوْجَدَ فَاقتَضٰی ذَالِکَ حُسنَهٗ .

ترجمه :فصل امر په شی سره د مامور به پر حسن دلالت کوی په هغه وخت کښي چی آمر حاکم وی ځکه امر ددی بیان کولو لپاره وی چی مامور به داسی شی ده چی باید موجود کړشی نو دحکیم امر د مامور به د حسن تقاضی کوی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی چی د مامور به حسن ضروری ده لکه څرنګه چی منهی عنه قبحه ضروری ده وجه داده چی آمر او ناهی یعنی شارع صاحب حکمت ده حاکم خود ښو شیان امر کوی اوله بدو شیانو څخه منع کوی نو حاکم چی د کوم شی امر وکړی هغه یقیناً حسن ده اوله کومه شی څخه چی منع وکړی هغه یقیناً قبیح ده حاصل داده چی د مامور به حسن او د منهی عنه قبح ضروری ده او مصنف رحمه الله هم داسی وائی که آمر حاکم وو دده امر د مامور به پر حسن دلالت کوی ځکه له امر څخه دا بیان کول مقصود ده چی مامور داسی شی ده چی هغه باید موجود کړشی او قبیح هغه شی ده چی د هغه طلب کول له حکمت سره منافی ده له دی وجه حکم د قبح شی د وجود طلب نه کوی نو کله چی داسی ده نو د حاکم امر دا تقاضی کوی چی مامور به حسن لکه په قول د الله ﷻ کښی قل ان الله لایامربالفحشاء.

فوائد : حسن او قبح عقلی دی او که شرعی او د دوی معنی څه شی ده دابیان خادم په قوت الاخیار ؛ او ؛ فیض سجانی ؛ کښی په تفصیل سره ذکر کړی ده دلته هم مختصر بیان کول ضروری ده حسن او قبح په ډیرو معنیو راځی (۱) داده چی حسن د فعل معنی صفت کمال ده لکه علم ،عمل او شجاعت حسن دی او صفت کمال دی او قبح فعل یعنی صفت نقصان لکه ؛ جهل ؛ ظلم او بزدلی قبیح دی او صفت نقصان دی (۲) حسن معنی له غرض دنوی سره موافق کیدل او د قبح فعل معنی له دنیوی غرض نه موافقت (۳) حسن فعل هغه ته وائی چی کونکی ئي مستحق د صفت وی او قبح فعل دی وائي چی کونکی ئی مستحق د زم او عقاب وی په اولو دوو معنی حسن او قبح بالاتفاق عقلی دی او په دریمه معنی په دوی کښی اختلاف د شیخ ابوالحسن اشعری وائي شرعی دی یعنی د اشاعره وو په نزد د شریعت تر ورود مخکی ټول افعال یعنی زنا ایمان کفر لهو نغ وغیره ټول برابر

وو کونکی ئی نه مستحق دثواب وو اونه داعقاب لیکن کله چی شارع وویل چی دفلانی افعالوکونکی مستحق دثواب ده نودهغو دکولوامر ئی وکړ اودبعض په باره کښی وویل چی کونکی ئی مستحق دعقاب ده اومنع ئی ورڅخه وکړه نوشارع چی دکوموافعالوامر کړی هغه حسن دی اودکوموافعالومنع چی ئی کړی ده هغه قبح دی اوماتریدیه یامعتزله وو په نزد حسن اوقبح دواړه عقلی دی موقوف په شریعت نه دی یعنی دشریعت تر ورود مخکی په نفس الامر کښی بعض افعال حسن وو اوبعض افعال قبح وو نوکوم افعال چی حسن وو شارع دهغوامر وکړ اوکوم چی قبح وو له هغو څخه ئی منع وکړه مطلب داده چی دشارع په امر سره یوفعل نه حسن شوی ده اونه ئي په منع سره یوفعل قبح شوی ده بلکه شارع صرف دومره وکړل چی ددوی پر حسن اوقبح چی پرده هواره وه هغه ئی پورته کړه مثلاً طبیب نه په دواء کښ نفع پیدا کولای شی اونه ضرر بلکه په نفس الامر کښی چی په دواء کښی کوم نفع اویاضرر موجود وو طبیب دهغه کشف وکی.

ثُمَّ المَامُورُ بِهٖ فِی حَقِّ الحُسنِ نَوعَانِ حَسَنٌ بِنَفسِهٖ وَحَسَنٌ لِغَیرِهٖ فَالحَسَنُ بِنَفسِهٖ مِثلُ الایمَانِ بِاللّٰهِ تَعَالٰی وَشُکرِ المُنعِمِ وَالصِّدقِ وَالعَدلِ وَالصَّلٰوةِ وَنَحوِهَا مِنَ العِبَادَاتِ الخَالِصَةِ فَحُکمُ هٰذَا النَّوعِ اَنَّهٗ اِذَا وَجَبَ عَلَی العَبدِ اَدَاؤُهٗ لَا یَسقُطُ اِلَّا بِالاَدَاءِ وَهٰذَا فِیمَا لَا یَحتَمِلُ السُّقُوطَ مِثلَ الاِیمَانِ بِاللّٰهِ تَعَالٰی وَاَمَّا مَا یَحتَمِلُ السُّقُوطَ فَهُوَ یَسقُطُ بِالاَدَاءِ اَو بِاِسقَاطِ الاَمرِ وَعَلٰی هٰذَا قُلنَا اِذَا وَجَبَتِ الصَّلٰوةُ فِی اَوَّلِ الوَقتِ سَقَطَ الوَاجِبُ بِالاَدَاءِ اَو بِاعتِرَاضِ الجُنُونِ وَالحَیضِ وَالنِّفَاسِ فِی اٰخِرِ الوَقتِ بِاعتِبَارِ اَنَّ الشَّرعَ اَسقَطَهَا عَنهُ عِندَ هٰذِهِ العَوَارِضِ وَلَا یَسقُطُ بِضِیقِ الوَقتِ وَعَدَمِ المَاءِ وَاللِّبَاسِ وَنَحوِهٖ .

ترجمه : اومامور به دحسن په اعتبار دوه قسمه ده یوحسن لذاته ده اوبل حسن لغیر ده حسن لذاته لکه پرالله ایمان راوړل اودمنعم شکر اداکول ریښتیاویل انصاف کول لمونځ کول او نور داسی خالص عبادات ددی قسم حکم داده چی کله پربنده دحسن لذاته اداء واجب کړ شی نوهغه نه ساقطیږی بلکه په ادا کولو سره ساقطږی او دا په هغه کښی چی دسقوط احتمال نه لری لکه پر الله ﷻ باندی ایمان راوړل بهر حال هغه چی دسقوط احتمال نه لری بلکه په اداکولو سره ساقط کیږی او یاده امر په ساقط کولو او پر دی بنا باندی موږ وایو کله چی لمونځ په اول وخت کښی واجب شی نو هغه واجب په ادا ء سره ساقط کیږی اویا په جنون سر ه اویا دحیض او نفاس په اخر وخت کښی په عارض کیدو سر ه په دی اعتبا رچی شر یعت ددی عوارضو په وخت کښی له مکلف څخه لمونځ ساقط کړی ده اود وخت په تنګی او دابودنیستی په وخت کی او دجامی نه درلود لو په وخت کښی واجب نه سا قطیږی

تشریح :مامور به ته دحسن له ثابت کولو ورسته مصنف رحمه الله دمامور به هغه دوه اقسام بیانوی چی په اعتبار دجنس دی یوحسن لذاته ده اوبل حسن لغیره ده دحسن لذاته معنی داده چی حسن مامور به لره بغیر دواسطی دبل ثابت وی او حسن لغیره دی ته وائی چی حسن مامور به ته په واسطه دبل

ثابت وی دحسن لذاته مثال مصنف رحمۃ اللہ علیہ دابیانو ی چی پر الله ﷻ باندی ایمان راوړل او دمنعم یعنی دذات خدای ﷻ شکر ادا کول ربښتیا ویل انصاف کول لمونځ کول اوروژه حج او داسی نور خالصه عبادات.

اوایمان له دی وجه مامور به ده ځکه الله ﷻ فرمائی یا ایهالذین آمنوا آمنو ددی په زریعه دایمان امر شوی ده اوددی آیت په زریعه وشکرولی ولاتکفرون دشکر امر شوی ده اوددی آیت قولواقولاً سدیدا په زریعه سره دربښتیا ویلو امر شوی ده او واعدلواهواقرب للتقوی په زریعه سر ه دعدل امر شو ی ده ددی آیت په زریعه اقیموالصلوٰة دلمانځه امر شوی ده اود آتوالزکوٰة په زریعه دزکوة امر شوی ده او من شهد منکم الشهر په زریعه دروژی امر شو ی ده او ولله علی الناس حج البیت من استطاع په زریعه دحج امر شوی ده.

الحاصل :حاصل داده چی داټول شیا ن ماموربه دی او ټول حسن لذاته دی او دحسن له دی دوو اقسامو څخه یو هغه ده چی دسقوط احتمال نه لری لکه ایمان په معنی دتصدیق اودوهم هغه ده چی دسقو ط احتمال لری لکه لمونځ روژه وغیر ه داول قسم حکم داده کله چی دمامور به ادا پر بنده لا زمه شو ه بیا صرف په ادا سر ه ساقط کیږی له اداء نه بغیر په بل شی سر ه نه ساقط کیږی او دوهم حکم داده چی په دوی طریقی سر ه ساقط کیږی یو په اداء سره اوبل دشارع په سقوط سر ه.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی دوهم قسم پر بنا باندی موږ وایو چی که په اول وخت کښی لمونځ واجب شی دسقوط ئی دوی طریقی دی یو داچی مکلف ئی اداء کړی اوبل هغه وخت چی په اخردوخت کښی پرمکلف باندی جنون راشی اویا حیض اونفاس جاری شی ځکه ددغو عوارضو په وخت کښی شارع له مکلف څخه لمونځ ساقط کوی مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی که چیری دلمانځه وخت تنګ شو اویا او به نه وی او یا کپړه نه وه په دغو صورتو کښی لمونځ ساقط نه ده بلکه که دتنګی دوخت له وجه فوت شو قضاء ئی واجب ده او دابو دنیستی په صورت کښی په تیمم سر ره لمونځ واجب ده او که جامی نه وی لوڅ لمونځ کول واجب ده مطلب دده اختیار ده چی که په ولاړ ه لمونځ کوی اوکه په ناستی په اشاره سر ه کوی.

اَلنوعُ الثانی مَایکُونُ حَسنًا بواسطَة الغیرِ وَذالکَ مثلُ السّعی الَی الجُمُعَة وَالوُضُوءِ للصّلوٰة فَاِنّ السّعیَ حَسَنٌ بواسطَة کَونه مُفضیًا الَی اَدَاءِالجُمُعَة وَالوُضوءَ حَسَنٌ بواسطَة کَونه مفتَاحاً للصّلوٰة وَحکمُ هذَا النَّوعِ اَنَّهُ یَسقُطُ بسقُط تلکَ الوَاسطَة حَتّی اَنّ السّعیَ لَا یَجبُ علَی مَن لَا جُمُعَةَ عَلَیه وَلَا یَجبُ الوُضُوءُ علی مَن لَا صلوٰةَ عَلَیه وَلَو سعی الَی الجُمُعَة فَحُملَ مکر هاً الَی مَوضعٍ اخرَ قبلَ اَدَاءِ الجُمُعَة یَجبُ عَلَیه السّعیُ ثَانیاً وَلَوکَانَ مُعتکفاً فی الجَامعِ یَکُونُ السّعیُ سَاقطاً عَنهُ وکَذالکَ لَو تَوَضّاَ فَاَحدَثَ قَبلَ اَدَاءِ الصّلوٰة یَجبُ عَلَیه الوُضُوءُ ثَانیاً وَلَو کَانَ مُتَوَضّیًا عندَ وُجُوب الصّلوٰة لَایَجبُ عَلَیه تَجدیدُ الوُضوء

ترجمه :او د مامور به دوهم قسم داده چې حسن ئې په واسطه د غيروی مثلا لکه د جمعې لپاره سعي کول او د لمانځه لپاره او دس کول او سعي له دې وجه حسن ده چې مفضي واداء د جمعې ته ده او او دس له دې وجه حسن ده چې د لمانځه لپاره مفتاح ده او د دو قسم حکم داده چې مامور به د واسطې په سقوط سره ساقط کيږي حتی چې سعي پر هغه شخص واجب نه ده چې پر هغه باندې جمعه واجب نه وی او او دس په هغه شخص واجب نه ده چې پر هغه باندې لمونځ واجب نه وی او که يو شخص د جمعې لپاره سعي وکړه ليکن داداء کولو څخه مخکې يو چاه په زور بل ځای ته يووړی پر ده باندې دوهم ځل سعي واجب دی او که يو شخص په جامع مسجد کښې معتکف وو له هغه څخه سعي ساقط ده او همدارنګه کو يو شخص او دس وکړ او تر اداء د لمانځه مخکې ئې او دس مات شو پر ده باندې دوهم ځل او دس واجب ده او که د وجوب صلوة په وخت کښې ئې او دس وو پر ده باندې نوی او دس واجب نه ده.

تشريح : مصنف رحمه الله وائي حسن لغيره هغه ده چې مامور به په خپله حسن نه وی بلکه د دوهم شي په وجه حسن وی مثلا سعي وجمعې ته د الله ﷻ په دې قول فاسعوا الى ذكر الله وذروا البيع سره مامور به ده او او دس د لمانځه لپاره په دې قول د الله ﷻ اذا قمتم الى الصلوة فاغسلوا وجوهكم سره مامور به ده ليکن په دوی کښې لزاته هيڅ حسن نشته ځکه سعي تګ کولو ته وئي او وضو داندامو پاک کولو ته وائي په دې کار وکښې چونکه د عبادت معنی نشته له دې وجه په دوی کښې بذاته حسن نشته ليکن سعي چونکه داداء د جمعې لپاره ده او اداء د جمعې د عبادت والي په وجه حسن ده نو داداء د جمعې په وجه سعي هم حسن ده او او دس چونکه د لمانځه لپاره مفتاح ده او لمونځ بذاته حسن ده نو د لمانځه په وجه او دس هم حسن ده مصنف رحمه الله وائي د دغه قسم حکم داده چې د واسطې په سقوط سره مامور به هم ساقطيږي لکه پر کوم شخص چې جمعه واجب نه وی پر هغه باندې سعي هم واجب نه ده او پر کوم شخص چې لمونځ نه وی پر هغه او دس هم نشته او که يو شخص چې جمعه پر واجب وی د جمعې لپاره سعي وکړی او د جمعې تر اداء مخکې يو چاه په زور بل ځای ته يو وړی او بيا د جمعې له لمانځه مخکې راخلاص شو پر دغه شخص دوهم ځل سعي واجب ده ځکه په اولنی سعي مقصور پوره نه شو نو د دغه مقصود د حاصلولو لپاره دوهم ځل سعي واجب ده او که من عليه الجمه په جامع مسجد کښې معتکلف وو پر ده سعي واجب نه ده او همدارنګه که يو شخص د لمانځه لپاره او دس وکی او د لمانځه تر اداء کولو مخته ئې او دس مات شو پر ده باندې دوهم ځل او دس واجب ځکه له او دسه چې کوم شي مقصد وو هغه پوره نه شوه نو د هغه د حاصلولو لپاره دوهم ځل او دس واجب ده او که ديو شخص د وجوب صلوة په وخت کښې او دس وو پر ده نو ی او دس کول واجب نه ده.

وَالقَرِيبُ من هذَا النوعِ الحُدودُ القِصَاصُ وَالجهَادُ فَانَّ الحَدَّ حَسَنٌ بوَاسطَة الزَجرِ عَن الجِنَايَة وَالجِهَادُ حَسَنٌ بوَاسطَة دَفعِ شَرِّ الكَفَرَة وَاعلَاء كَلمَة الحَقِّ وَلَو فَرَضنَا عَدمَ الوَاسطَة لَا يَبقي ذَالكَ مَامُورٌ بِه فَانَّهُ لَولَا الجِنَايَةُ لَايَجِبُ الحَدُّ وَلَولَاكُفرُ المُفضِيُ الَى الحَربِ لَايَجِبُ عَلَيه الجِهَادُ .

ترجمه :او دی نوع ته نزدی حدود قصاص او جهاد هم دی ځکه حد حسن ده په دی وجه چی د جنابت سزاء ده او جهاد حسن ده په دی وجه چی دکفارو دشر دفع ده او اعلاء دکلمة الله ده او که موږ عدم دواسطی فرض کړو بیا دا اماموربه نه وای ځکه که جنابت نه وای حد ود به نه وائی او که کفر مفضی وجنګ ته نه وای نو جهاد به واجب نه وای.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی حسن لغیره ته حدود قصاص او جهاد هم قریب دی یعنی دا شیان هم حسن لغیردی ځکه حد په معنی د سزاء ورکولو ده او دا ښکاره ده چی داکار بذا ته حسن نه ده لیکن چونکه په دحد سره له زنااو شرابو وغیره څخه منع راځی په دی واسطه حد حسن ده ځکه منع له شرابو اوزنا څخه حسن ده لهذا ددوی په واسطه حد حسن ده او کله چی حد په واسطه دغیرمنع حسن ده لهذا موږ ورته حسن لغیره وایو او همدارنګه قصاص دقتل کولو نوم او دا هم حسن کارنه ده لیکن چونکه په ده سره دظالمانو دفع کیږی یعنی دده په واسطه مظلوم دظالم له ظلمه ساتل کیږی په دی واسطه سره قصاص حسن ده او همدارنګه جهاد دښارو ورانول او دالله دبندګانو وژل ده دا هم بذاته حسن کارنه ده لیکن چونکه په ده سره دفع دکفارو کیږی او اعلاء دکلمة الله ﷻ راځی په دی واسطه جهاد هم حسن ده اودا خبره چی دالله ﷻ دبندګانو وژل حسن لذاته نه ده له دی قوله دنبی کریم ﷺ څخه معلو میږی <u>الادمی بنیان الرب ملعون من هدم بنیان الرب</u> انسان درب ودانی ده څوک چی درب ودانی نړوی هغه ملعون ده بهر حال جهاد بذاته حسن نه ده لیکن ددفع دکفارو اوداعلی دکلمة الله په واسطه حسن ده.

مصنف رحمه الله وائی که مذکوره واسطی معدوم فرض کړی په دی صورت کښی به حدود اوقصاص او جهاد ماموربه پا ته نه شی ځکه که جنابت نه وائی حدود به نه واجب کیدل .

فوائد: دلته اعتراض کیږی.

سوال :داده مصنف رحمه الله ولی داسی وویل چی حدود اوقصاص او جهاد نژدی وحسن لغیره ته دی داخو بعینه حسن لغیره دی.

جواب : داده چی حسن لغیره دوه قسمه ده اول داده چی هغه غیر چی دده په زریعه ماموربه حسن ګرزیدلی ده دماموربه په اداء سره دده اداء نه راځی بلکه دمامور به لپا ره به مستقله اداء وی او دده لپاره به مستقله اداء وی لکه سعی او وضو چی ماموربه دی لیکن ددوی په اداء کولو دغیر یعنی واسطی چی جمعه او لمونځ اداء نه راځی بلکه واسطه مستقله اداء غواړی دوهم قسم داده چی واسطه دماموربه په اداء سره اداء کیږی مستقله اداء نه غواړی لکه حد او قصاص اوجهاد

ددوی په ادا ء سر ه دغیر یعنی جنایت وغیره اداهم راځي په دی دواړو قسمو کښي اول قسم په حسن لغیره کښي کامل ده او دوهم قسم نا قص ده له دی وجه مصنف رحمه الله داوویل حسن لغیره ته نژدی ده بعینه حسن لغیره ئی نه ورته وویل.

فَصلٌ اَلوَاجِبُ بِحُکمِ الاَمرِ نَو عَانِ

فَصلٌ اَلوَاجِبُ بِحُکمِ الاَمرِ نَو عَانِ اَدَاءٌ فَالاَدَاءُ عِبارَةٌ عَن تَسلیمِ عَینِ الوَاجِبِ اِلٰی مُستَحِقّه وَالقَضَاءُ فَالاَءُ تَسلیم مِثلَ الوَاجِبِ اِلٰی مُستَحِقِّه ثُمَّ الاَدَاءُ نَوعَانِ کَامِلٌ وَقَاصِرٌ فَالکَامِلُ مِثلُ اَدَاءِ الصَّلٰوةِ فِی وَقتِهاَ بِالجَمَاعَةِ اَوطَوَافِ مُتَوَضِیاً وَتَسلِیمِ المَبِیعِ سَلِیماً کَمَا اقتَضَاهُ العَقدُ اِلَی المُشتَرِی وَتَسلِیمِ الغَاصِبِ العَینَ المَغصُوبَةَ کَمَا غَصَبَهَا .

تر جمه: دامر په زریعه واجب کړشو ی دوه قسمه ده یو اداء ده اوبل قضا ء ده اداء داده چی عین واجب وخپل مستحق ته وسپاری او قضاء داده چی مثل دواجب ومستحق ته وسپاری او بیا داداء دوه قسمه دی یو اداء کامله او بله ناقصه کا مله لکه اداء دلمانځه په خپل وخت کښی په جماعت سر ه اویا په اوداسه سر ه طواف کول تسلیم او سالمه مبیعه ومشتر ی ته تسلمول په داسی طریقه چی بیع ئی تقاضی کوی او تسلیم کول دغاصب بعینه دهغه شي چی ده غصب کړی وی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی دامر په زریعه چی کوم شي واجب شوی وی هغه دوه قسمه ده یو اداء اوبل قضاء اداء دی ته وائی چی عین واجب خپل حقدار ته وسپاری او قضاء دی ته وائی چی مثل دواجب خپل حقدار ته وسپاری.

سوال: داده چی داداء اوقضا ء دواړو په تعریف کښي لفظ دتسلیم ذکر ده او تسلیم دی ته وائی چی ستاسره یوشی وی اوهغه بل ته ور کړی او واجب هغه شی ده چی پر زمه باندی وی او اداء کول ئی فعل ده اوفعل له قبیله داعراض ده اعراض خو انتقال نه قبلوی نوکله چی اداء دواجب فعل ده اوفعل له قبیله داعراضو ده او اعراض انتقال نه قبلوی نو داء او قضاء په تعریف کښی لفظ دتسیلم ذکرکول صحیح نه ده ؟

جواب: داده چی دتسلیم معنی داده چی یوشی له عدم څخه وجود ته راولی اودامعنی په اداء او قضاء کښی سته ځکه مکلف واجب فعل له عدم څخه وجودته راولی نوکله چی دتسلیم معنی په اداءاوقضاء کښی وه نو ددواړو تعریف صحیح ده ستا سوسوال نه وارید یږی.

مصنف رحمه الله وائی اداء هم دوه قسمه ده یوه اداء کامله ده اوبله ادا ء ناقصه ده له اداء کاملی څخه مراد داده چی په داسی طریقه سره اداء کول په کومه طریقه سر ه چی مشروع شوی ده اوله اداء قاصری څخه مراد داده چی په داسی طریقه اداء کول چی له مشروع څخه مخالف وی داداء کاملی مثال لکه ادا ء دفرض لمانځه په خپل وخت کښی په جماعت سر ه اوطواف په اوداسه سر ه کول

ځکه ددواړو مشروعیت په دغه طریقه سره ده دا دواړه مثالونه دهغو شیانودی چی حقوق الله ﷻ دی او په حقوق العباد کښی داداء کاملی مثال لکه مشتری ته داسی مبیعه تسلیم کول چی له عیبه خالی وی اوعقدبیع ئی تقاضی کوی اوبل مثال ئی داده چی غاصب بعینه هغه مال خاوند ته ورکړی کوم چی ده غصب کړی وی.

وَحُكْمُ هٰذَا النَّوعِ اَن يُحكَمَ بِالخُرُوجِ عَنِ العُهدَةِ بِه وَعَلٰى هٰذَا قُلنَا الغَاصِبُ اِذَا بَاعَ المَغصُوبَ مِنَ المَالِكِ اَورَهنَهُ عِندَهُ اَووَهَبَهُ لَهُ وَسَلَّمَهُ اِلَيهِ يَخرُجُ عَنِ العُهدَةِ وَيَكُونُ ذَالِكَ اَدَاءً لِحَقِّه وَيَلغُومَاصَرَّحَ بِه مِنَ البَيعِ وَالهِبَةِ وَلَوغَصَبَ طَعَاماً فَاَطعَمَهُ مَالِكَهُ وَهُوَلَايَدرِى اَنَّهُ طَعَامُهُ اَو غَصَبَ ثَوبَهُ فَاَلبَسَهُ مَالِكَهُ وَهُوَ لَايَدرِى اَنَّهُ يَكُونَ ذَالِكَ اَدَاءً لِحَقِّه وَالمُشتَرِى فِى البَيعِ الفَاسِدِ لَوَاَعَارَ المَبِيعَ مِنَ البَائِعِ اَورَهنَهُ عِندَهُ اَو اٰجَرَهُ مِنهُ اَوبَاعَهُ مِنهُ اَووَهَبَهُ لَهُ وَسَلَّمَهُ يَكُونُ ذَالِكَ اَدَاءً لِحَقِّه وَيَلغُو مَا صَرَّحَ بِه مِنَ البَيعِ وَالهِبَةِ وَنَحوِهٖ.

ترجمه: او حکم ددی نوع داده چی په اداء کامله سر حکم په فراغت دزمی کیږی او بناپر دی باندی موږ وایو که غاصب مغصوب مال خرڅ کی پر مالک باندی اویائی په ګروی ورکی او یا ئی ورته هبه کی دغاصب زمه فارغه ده اود مالک حق اداء شواو کوم چی غاصب په بیع اوهبه اورهن سره تصریح وکړه هغه لغوه دی اوکه چیری غاصب طعام غصب کی او بیائی په مالک باندی وخوړ مالک په دی خبرنه وو چی دازمال ده او یائی جامه غصب کړه مالک ته ئی ورواغوسته اومالک خبر نه وو چی دازماجامه ده په دی سره دمالک حق اداء کړشواوکه په بیع فاسده کی مبیع مشتری بائع ته په خواست ورکړه په دی سره دبائع حق اداء سو او په کوم شی چی مشتری تصریح کړی ده لکه بیع اوهبه وغیره دالغوه دی.

تشریح: داداء کاملی حکم داده چی زمه دمکلف په کامله اداء سره فارغیږی یعنی چی مکلف اداء په کامله طریقه وکړی ذمه ئی فارغه ده ددی حکم پربناباندی موږ وایو که غاصب معضوب شوی مال پر مالک باندی خرڅ کی او یائی له مالک سره ګروکیښودی اویائی مالک ته هبه کی اوده ته ئی وسپاری په دی سره دغاصب ذمه فارغه ده او مالک ته چونکه دبیع اورهن او هبه په ذریعه بعینه خپل مال حاصل شو له دی وجه دابیع اورهن اوهبه دمالک دحق اداء کول ده لیکن غاصب چی په بیع اورهن او هبه سره تصریح کړی ده دا بیع اورهن اوهبه لغوه دی ځکه غاصب دمغصوب مال مالک نه ده لهذا مذکوره تصرفات ئی هم صحیح نه دی او همدارنګه که یوچا له بل ځخه دخورک شی غصب کی اوبیا ئی بیر ته په هغه سړی باندی وخوړاوهغه خبر نه وو چی دازماخپل شی ده او یا ئی له یو چاه جامه غصب کړه اوبیائی مالک ته ورواغوسته که څه هم مالک په دی خبرنه وی چی دازما خپله جامه ده په دی دواړو صورتو کښی دمالک حق اداء شو او همدارنګه که مشتری په بیع فاسده سره مبیع قبض کړه اوبیا ئی بائع ته په خواست ورکړه اویائی بائع ته په

گرو(رهن) ورکړه اویائی بایع ته په کرایه ورکړه اویا ئی پر خرڅه کړه اویائی ورته هبه کړه او ورتسلیم ئی کړه په دی ټولوصورتوکښې دبایع حق ادا ء شو اوپه مذکوره شیانو چی مشتری تصریح وکړه لکه بیع هبه وغیره ټول لغوه دی.

فوائد : له بیع فاسدی څخه مراد بیع په شرابوپه خنزیر او دعقد بیع دمقتضی مخالف شرطونو ښودل دبیع فاسدی دفساد لری کولو لپاره پر مشتری باندی دمبیعی واپس کول واجب ده نوکه مشتری بائع ته مبیع عارية ورکړی او یا ئی په گروی ورکړه او یا ئی په اجرت ورکړه اویائی بایع ته هبه کړی اوبایع دا قبض کړی په دی ټولو صورتو کښې داویل کیدا ی شی چی مشتری دبایع حق اداء کی یعنی پر مشتر ی چی دمبیعی واپس کول واجب وو هغه حق ئی اداء کړی.

وَاَمَّا الاداءُ القَاصِرُ فَهُوَ تَسليمُ عَين الوَاجِب مَعَ النُّقصَان فِی صِفَةٍ نَحوُ الصَّلوة بِدُون تَعديل الارکَان اَوالطَّوَاف مُحدِثاً وَرَدّ المَبِيع مَشغُولاً بالدَّين اَوبالجِنَايَة وَرَدّ المَغصُوب مُبَاحَ الدَّم بِالقَتل اَومَشغُولاً بالدَّين اوالجِنَايَة بِسَبَب عِندَ الغَاصِب وَاَدَاء الزّيُوف مَکَانَ الجِيَاد اذَ لَم الدّائِنُ ذٰلکَ

ترجمه : بهر حال اداء قاصر ه هغه ده چی عین واجب سر ه له نقصانه اداء کړی لکه لمونځ اداء کول بی له تعدیل دارکانو یا بی له او داسه طواف کول او مبیعه په داسی حالت کی واپس کول چی هغه په دین او یاجنایت سره مشغوله وی او مغصوب په داسی حالت کښې واپس کول چی هغه دقتل په وجه مباح الدم وی او یا په دین او جنایت باندی مشغول وی په داسی سبب سره چی هغه دغاصب له وجی راغلی وی اودصفا دراهم پر ځای کوټه دراهم اداء کول په دی شر ط چی دائن دانه پیژنی.

تشر یح : مصنف رحمه الله فرمائی چی اداء قاصره دی ته وائی چی عین واجب له داسی صفت کی نقصان کول چی هغه دواجب صفت وی په ذات کښې ئی نه وی مصنف رحمه الله داداء قاصری لپاره پنځه مثاله ذکر کړل دوه دحقوق الله په باره کښې اودری دحقوق العباد په باره کښې دحقوق الله یو مثال لکه بغیر تعد یله دارکانو لمونځ کول او دوهم مثال ئی لکه بغیره اوداسه طواف کول تعدیل دارکانو دی ته وائی چی سجده اود رکوع اوله رکوع ورسته قومه او ددوؤسجدو په مینځ کښې جلسه په اطمنان سره کو ل تعدیل دار کانو چونکه دامام یوسف او امام شافعی په نزد فرض دی په پر ینښودلو سره لمونځ صحیح نه ده اودطرفین په نزد چونکه واجب دی که پر ینښودل شی لمونځ ئی ناقص ده حاصل داده چی بغیر له تعدیل دارکان لمونځ کول اوبی له اودسه طواف کول دواړه اداء قاصره ده اود حقوق العبادمثال داده چی بایع مشتر ی ته داسی مبیع تسلیم کړی چی مشغوله په دین او یا په جنایت سره وی مثلا یو غلام وی او هغه غلام له بایع سر هو سیړی او دچا مال تلف کړی اوددی مال زمان په غلام پاته وی اویاداغلام مشغول په دین سر ه شی اوکه غلام له بائع سره هو سیدی داسی جنایت ئی وکړچی دهغه په وجه دده رقبه او یا څه حصه مستحق شوه داغلام مشغول په جنایت ده اوس که بائع په دین یا جنایت سره مشغول غلام مشتر ی ته

ورکړی دا قاصره اداء ده ځکه پر بایع د داسی مبیعی سپارل واجب ده چی هغه له ټولو عیبو ځخه فارغه وی او دلته مبیع داسی نه ده لهذا داسی اداء ناقصه او قاصره ده دوهم مثال داده چی غاصب داسی غلام غصب کړی چی هغه له عیبو ځخه پاک وی او بیا دا غلام د غاصب په لاس کښی یو انسان قصدا قتل کړی حتی چی دا غلام مباح الدم شی او یا دغه غلام د غاصب په لاس کښی په دین او یا جنایت سره مشغول شی له دی ورسته غاصب دا غلام مالک ته وسپاری دا سپارل اداء قاصره ده ځکه غاصب باندی دا واجب ده چی له عیبو پاک غلام ورته وسپاری او حال داده چی ده داسی غلام وسپاری چی له عیبو ځخه پاک نه ده لهذا ددی غلام سپارل اداء ناقصه ده دریم مثال داده چی هغه مدیو ن چی پرده باندی جید دراهم واجب وی او دی دجید پر ځای زیوف ادا کړی او حال داوی چی دائن ئی نه پیژنی.

سوال : د مصنف رحمه الله له عبارت ځخه معلومیږی چی که دائن په وصف زیافت عالم نه وو نو د مدیون له طرفه دا اداء قاصره ده او که عالم وو یا اداء قاصره نه ده او حال داده چی په دواړه صور ته کښی اداء قاصره ده ؟

جواب : داده چی مصنف رحمه الله د دائن د نه علمیت قید له دی وجه ذکر کی ځکه که چیری دائن ته معلو مه وی او دراهم واپس نه کړی چشم پوشی وکړی په دی صورت کی اداء کامله ده ځکه صاحب حق یعنی دائن خپل حق ساقط کی چی وصف جودت ده .

سوال : کامله اداء دا تقاضی کوی چی له کوم وصف سره چی اداء واجب وی دا داء په وخت کښی به هغه وصف باقی وی او دلته خو هغه وصف یعنی جودت نسته که څه هم دائن چشم پوشی کړی وی نو دا ثابته شوه چی نه علم دا داء قاصری لپاره شرط نه ده .

جواب : که دائن ته دا معلومه وی چی مدیون ما ته زیوف دراهم راکړه ظاهره داده چی ده ددی اجازه نه ده کړی او چی اجازه نشته نو اداء قاصره متحققه نه ده بلکه بالکل اداء متحققه نه ده چی بالکل اداء متحققه نشو ه نو اداء قاصره هم متحققه نه ده نو مذکوره قید دا داء قاصری دبقاء لپاره ده .

وَحُکمُ هذَا النَّوعِ اَنَّهُ اِن اَمکَنَ جَبرُ النُّقصَانِ بِالمِثلِ یَنجَبِرُ بِه وَاِلاَّ یَسقُطُ حُکمُ النُّقصَانِ اِلاَّ فِی الاِثمِ وَعَلٰی هٰذَا اِذَا تَرَکَ تَعدِیلَ الاَرکَانِ فِی الصَّلٰوةِ لاَیُمکِنُ تَدَارُکُهُ بِالمِثلِ اِذَا لاَ مِثلَ لَهُ عِندَ العَبدِ فَیَسقُطُ وَلَو تَرَکَ الصَّلٰوةَ فِی اَیَّامِ التَّشرِیقِ فَقَضَا هَا فِی اَیَّامَ التَّشرِیقِ لاَیُکَبِّرُ لاَنَّهُ لَیسَ لَهُ التَّکبِیرُ بِالجَهرِ شَرعاً .

ترجمه : او ددی نوع حکم داده که په مثل سره د نقصان جبیره ممکنه وه په مثل سره به جبیره ورکوی او که ممکنه نه وه د نقصان حکم ساقط ده لیکن په ګناه سره او پردی بنا باندی موږ وایو که په لمانځه کښی تعدیل دارکانو پریښودل شی په مثل سره ئی تدارک ممکن نه ده ځکه له بنده سره ددی مثل نشته لهذا تعدیل ساقط ده او که په ایام تشریک کښی لمونځ پریښودل شی او بیا په

غیر د ایام تشریق کښې ددې قضاء راوړي هلته به تکبیر تشریق نه وائي ځکه غیر د ایام تشریق لره شرعاً په جهر تکبیر نشته.

تشریح: مصنف رحمه الله وائي د اداء قاصري حکم داده که په مثل سره دفع د نقصان ممکنه وه نو په مثل سره به ئې دفعه کوي مثل خوا که معقول وي او که غیر معقول وي او مثل معقول که صورتاً او معناً دواړه وي او که صرف معناً وي او که په مثل سره ممکن نه وو نو د نقصان حکم ساقط ده یعنې د نقصان په وجه پرده شي هم واجب نه ده لیکن د هغه نقصان په وجه ګنهګاره ده.

مصنف رحمه الله پر دې حکم باندې تفریع کوي وائي که یو شخص په لمانځه کښې تعدیل د ارکانو پریښود په مثل سره ددې دفع ممکنه نه ده ځکه له بنده سره د تعدیل لپاره هیڅ مثل نشته نه عقلاً او نه شرعاً نو کله چې د بنده سره د تعدیل د ارکانو مثل نشته نو تعدیل ساقط ده یعنې د تعدیل ارکانو په وجه پرده شي واجب نه ده لیکن ګنهګاره ده او تعدیل د ارکانو په مثل دفع له دې وجه ممکنه نه ده ځکه هغه شخص چې تعدیل د ارکانوئي پر ایښې ده یا به صرف د تعدیل قضاء رواړي او یا به د اصل سره د تعدیل قضاء راوړي په دې طریقه چې یا به له تعدیل سره د ټول لمانځه قضاء راوړي او یا به له تعدیل سره د هغه رکن قضاء راوړي له کوم سره چې تعدیل تعلق لري دادواړه صورتونه باطل دي اول په دې وجه چې د وصف تعدیل معقول مثل نشته او نه ددې لپاره په نص موجود ده او دوهم له دې وجه چې په داسې کولو سره د وصف د بطلان په وجه بطلان د اصل راځي او دا باطله ده ځکه په دې کښې د اصل نقض ده او د معقول قلب ده د اصل نقص په دې وجه ده چې اصل خو داده چې د اصل په وجه د وصف باطل کیدای شي او د وصف په وجه اصل نشي باطل کیدای او دلته د وصف په واسطه ابطال د اصل راځي ځکه په داسې کولو سره نقض د اصل وي او چونکه عقلي خبره هم داده چې د اصل په وجه وصف باطلیږي نه داسې چې د وصف په وجه اصل باطلیږي له دې وجه په مذکوره صورت کښې قلب د معقول هم ده او همدارنګه که یو چاه په ایام تشریق کښې لمونځ قضاء کړ او بیا ئي د ایام تشریق نه بغیر په نورو ورځو کښې قضاء راوړله نو له قضاء د لمانځه سره به تکبیر تشریق نه وائي ځکه ایام تشریق نه بغیر په نورو ورځو کښې شرعاً په زوره ویل تکبیر نشته لیکن په ایام تشریق کښې جهر د تکبیر شرعاً ثابت ده.

او دا یاد ساته که د غه شخص راتلونکې کال کښې د تیر کال د ایام تشریق د لمونځو قضاء راوړله دلته هم له قضائي لمانځه سره تکبیر نه ویل کیږي لیکن که ئې په دې کال په ایام تشریق کښې په جماعت سره قضاء راوړله نو له دې لمانځه سره تکبیر ویل کیږي ځکه د تکبیر وخت موجود ده چې ایام تشریق دي امام شافعي رحمه الله په دې مسئله کښې زموږ سره مخالف ده دده په نزد په ایام تشریق کښې قضاء شوي لمونځونو که څه هم په غیر د ایام تشریق کې قضاء راوړي له تکبیر سره له دې چې له قضاء شوي سره برابر شي.

وَقُلنا فِی تَرک قِراءَ ة الفَاتِحَة وَلقُنوت وَالتَشَهد وَتَکبِیرات العِدَین اَنَّهُ یَنجَبِرُ بِالسَّهوِ وَلَو طَافَ طَوَافَ الفَرضِ مُحمدثاً یَنجَبِرُ ذالکَ وَهُوَ بِالدَمِ وَهُوَ مِثلٌ لَهُ شَرعاً .

ترجمه : اودقرأة دفاتحه اوقنوت اوتشهد اودتکبیرات داخترود پریښودلو په صورت کښې مونږ وایو چې دانقصان په سجده سهوه سره پوره کیږی اوکه بې اودسه فرض طواف وکړی دا نقصان ددم په ذریعه سره پوره کیږی اودا دم ئی شرعاً مثل ده.

تشریح : دامسئله هم پرمذکور اصل بناء ده مذکوره اصل داده که دنقصان طلافی په مثل سره ممکنه وه په مثل سره به کیږی اوکه نه وه ممکنه نقصان ساقط ده مخکینی مسائلی ددی اصل پردوهم جزء بناء وی اودا مسائلی ئی پراول جزء بنادی لکه مونږ چې وایو که یوچاه په لمانځه کښې الحمدالله پریښودله اویائی قنوت اویائی تشهد پریښودی اویائی داخترنو تکبیرونوپریښودل ددی نقصان طلافی په سجده سهوه سره کیدای شی ځکه شریعت دواجباتو دلمانځه لپاره مثل سجده سهوه ګرزولی ده لهذادواجباتو په ترک سره چې کوم نقصان راشی دهغه دفع په سجده سهوه سره کیږی هم دارنګه که یوچاه طواف زیارت بې اوداسه وکی دانقصان په دم سره دفع کیږی ځکه شریعت دحج دواجباتو مثل دم ګرزولی ده.

وَعَلٰی هٰذَا لَوادّی زَیفًا مَکَانَ جَیّد فَهلَکَ عَنَ القَابِض لَا شَیءَ لَهُ عَلَی المَدیُون عِندَ اَبی حَنِیفَةَ لِاَنَّهُ لَا مِثلَ لِصفَة الجُود مُنفَرِدَةً حَتّٰی یُمکِن جَبرُهَا بِالمِثل وَلَوسَلّمَ العَبدَ مُبَاحَ الدَمِ بِجِنَایَة عِندَالغَاصِب اَو عِندَ البَائع بَعدَ البَیع فَان هَلکَ عِندَ المَالک اَوالمُشتَرِی قَبلُ الدفع لَزِمَهُ التَمَنُ وَبَرِئَ الغَاصِبُ بِاِعتِبَار اَصل الاَدَاءِ وَاِن قُتِلَ بِتِلکَ الجِنَایَة اِستَنَدَ الهَلَاکُ اِلی اَوّلِ سَبَبِه فَصَارَ کَاَنّهُ لَم یُوجَد الاَدَاءُ عِندَاَبِی حَنِیفَةَ .

ترجمه : اوپر دی بناء که ئی دجید پرځای زیوف ورکړه اوهغه زیوف دقابض په لاس کښې هلاک شو دامام ابوحنیفه په نزد دده لپاره پرمدیون یوشی هم واجب نه ده ځکه یواځې دصفت جودت مثل نشته چې دمثل په ذریعه ددی نقصان دفع وشی اوکه غاصب او یابائع داسی غلام وسپاری چې داسی جنایت په وجه مباح الدم وی چې هغه جنایت دغاصب اویادبائع په لاس کې پیدا شوی وو اوکه چیری داغلام دمالک په لاس کې اویا دمشتری په لاس کې هلاک شو مخکې تر ورکول ولی دمقتول ته پرمشتر ی باندی ثمن لازم دی اوغاصب داصل اداء په اعتباربری شو اوداددی جنایت په وجه قتل کړشو داهلاکت داسی سبب ته منصوبیږی کوم سبب چې دمباح الدم تر تسلیم کولومخکې وو نودامام صاحب په نزد داسی شو لکه اداء چې موجوده نه شوه.

تشریح : ددی اصل پربناء که چې په ذریعه دمثل دنقصان دفع ممکنه وه په مثل سره دی تلافی وکړی اوکه نه وو نقصان ساقط ده امسئله هم تفریع کیږی چې که مدیون دجید دراهم پرځای زیوف ورکړو اوبیادازیوف ددائن په لاس کښې هلاک شو دامام صاحب په نزد دائن لره پرمدیون یوشی

واجب نه ده ځکه مدیون چې کوم وصف جدت طلب کړی ده دهغه یو اخی مثل نشته نه صورتاً اونه معناً صورة له دی وجه چې وصف خو یو عرض ده اودعرض قیام بذاتها محاله ده عرض له عین څخه بیلول ممکن نه ده او معناً له دی وجه چې له مثل معنوی څخه مراد قیمت ده اوپه اموال ربویه کښې جودت هیڅ قیمت نه لری ځکه صاحب شریعت فرمائی جیدها وردیها سواءٌ حاصل داده چې وصف جیودت نه صورة مثل لری اونه معنیً نودمثل په زریعه دوصف جیودت تلافی ممکنه ده

مصنف رحمه الله دفهلك عند القابض قید ددی لپاره چې که چیری زیوف دراهم ددائن په لاس کې موجودوو او دقبض په وخت کښې ئې ددراهم پرزیوف والی علم نه وی په دی صورت کښې دی دفسخ حق لری یعنی کولاشی چې زیوف دراهم بیرته مدیون ته واپس کړی او ددراهم جیاد غوښتنه وکړی مصنف رحمه الله دامام ابوحنیفه رحمه الله ذکر له دی وجهه وکړ ځکه امام ابویوسف رحمه الله استحساناً داوائی چې دائن کولای شی چې دمقبوضه زیوفو مثل مدیون ته ورکړی او هغه څخه جیادواخلی ځکه ددائن حق لکه څرنګه چې په مقدار ددراهم کښې لحاظ ده همدارنګه په وصف کښې هم ملحوظ ده.

مصنف رحمه الله وائی که یوشخص یوغلام غصب کی اوبیادی غلام دغاصب کښې داسی جنایت وکړ چې دهغه په وجه دی مباح لدم وګرزیدی مثلا مرتد شو اویائی څوک قصداً قتل کی اوغاصب له دی جنایت وروسته مالک ته وسپاری اویائی مذکوره جنایت دبایع په ولاس کی وکړ بایع له مذکوره جنایته وروسته مشتری ته وسپاری نوکه دا غلام دمالک په لاس اویاد مشتری په لاس کښې هلاک شو نو پرمشتری باندی دبایع ثمن واجب دی او غاصب بری شو ځکه اداء معتبره ده یعنی دبائع سپارل هم معتبرده اوغاصب سپارل هم معتبرده نوکله چې سپارل معتبر شو نوبائع لره پرمشتری باندی ثمن لازم دی اوغاصب بری ده اوکه چیری دغه غلام دمذکوره جنایت په وجه دمالک اویا دمشتری په لاس کښې قصاص شو دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد داقتل هغه سبب ته منسوب کیږی کوم سبب چې دمباح الدم غلام تر سپارلومخکی وو یعنی هغه جنایت ته منسوب کیږی چې دغاصب او بائع په لاس کښې راغلی ده نوکله چې دغلام قتل دغه جنایت ته منسوب کیدی نو مالک له غاصب څخه دغلام قیمت اخستلای شی اومشتری له بائع څخه ثمن اخستلای شی.

وَالمَغصُوبَةُ اِذَا رُدَّت حَامِلاً بِفِعلٍ عِند الغَاصِب فَمَاتَت بِالوِلَادَةِ عِندَ المَالِكِ لَايَبرَاءُ الغَاصِبُ عَنِ الضَّمَانِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ

ترجمه: اومغصوبه منیځه چې مالک ته وسپارل شی په داسی حال کښې چې له داسی فعله حامله وی چې هغه فعل دغاصب په لاس کی پیداشوی وی اوبیا دغه مینځه دولادت په وجه مالک په لاس کی مړه شی دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد غاصب له زمان څخه بری نه ده.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی که غاصب مغصوبه مینځه په داسی حال کښی مالک ته وسپارله چی دا حامله وی په هغه فعل چی دمالک په لاس کی پیداشوی وی اوبیادا مینځه دمالک په لاس کښی دولادت په وجه مړه شوه دامام ابوحنیفه په نزد غاصب دزمان څخه بری نه ده بلکه پرده باندی دمینځی قیمت واجب ده اودصاحبین په نزد
غاصب ضامن نه ده دامام ابوحنیفه دلیل داده چی دمینځی دهلاک سبب ولادت ده او دولادت سبب علوق ده او علوق دغاصب په لاس پیدا شوی ده نو کله چی دارنګه شو چی علوق په لاس کی دغاصب پیداشوی ده نو داسی شولکه غاصب چی مینځه نه ده سپا رلی بلکه دغاصب په لاس کښی هلاک شوه لهذا غاصب دمینځی ضامن ده او دمینځی دقیمت اداء پر ده باندی واجب ده صاجبین وائی دمنیځی دهلاک سبب ولادت ده علوق نه ده او ولادت چونکه دمالک په لاس کښی راغلی ده لهذا پرغاصب باندی ظمان نشته.

ثُمَّ الْاَصلُ فِی هٰذَا الْبَابِ هُوَ الْاَدَاءُ کَامِلاً کَانَ اَوناقِصًا وَاِنَّمَا یُصَارُ اِلَی الْقَضَاءِ عِنْدَ تَعَذُّرِ الْاَدَاءِ وَلِهٰذَا یَتَعَیَّنُ الْمَالُ فِی الْوَدِیعَةِ وَالْوَکَالَةِ وَالْغَصبِ وَلَو اَرَادَ الْمُودِعُ وَالْوَکِیلُ وَالْغَاصِبُ اَن یُّمسِکَ الْعَینَ وَیَدفَعَ مَایُمَاثِلُه لَیسَ لَه ذٰلِکَ وَلَوبَاعَ شیاءً وَسَلَّمَهُ فَظَهَرَ بِه عَیبٌ کَانَ الْمُشْتَرِی بِالْخِیَارِ بَینَ الْاَخذِ وَالتَّرکِ فِیهِ وَبِاعتِبَارِ اَنَّ الْاَصلَ هُوَ الْاَدَاءُ یَقُولُ الشَّافِعِیُّ اَلْوَاجِبُ عَلَی الْغَاصِبِ رَدُّ الْعَینِ الْمَغصُوبَةِ وَاِن تَغَیَّرَت فِی یَدِالْغَاصِبِ تَغَیُّرًا فَاحِشًا وَیَجِبُ لارشُ بِسَبَبِ النُّقصَانِ .

ترجمه : او اصل په دی باب کښی اداء ده که کامله وی اوکه ناقصه وی او قضاء ته هغه وخت رجوع کیږی کوم وخت چی اداء متعذره شی په دی وجه په امانت وکالت اوغصب کښی مال متعین کیږی اوکه مو دع او وکیل او غاصب داایراده وکړه چی هغه متعین مال بندکړی اودهغه مثل په عوض کی ورکړی دوی لره داجائز نه ده اوکه یوچا شی خرڅ کړ ورسته دهغه عیب ښکاره شو نو مشتری لره اختیار ده راګرزوی ئی اوکه ئی واپس کوی او په دی اعتبارچی اصل اداء ده اما م شافعی وائی پر غاصب باندی دعین مغصوب واپس کو ل واجب ده که څه هم دغاصب په لاس کښی هغه شی تر اندازه زیات تغیر خوړلی وی او دنقصان په وجه ضمان دنقصان واجب ده.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی دحقوقو دسپارلوپه باب کښی اصل اداء ده که کامله وی اوکه قاصره وی یعنی ددی باب لپاره ضابطه داده چی اداء مخکی ده پر قضاء باندی اوقضاء ته هغه وخت رجوع کیږی چی اداء متعذره شی کا اداء ممکنه وی قضاء ته رجوع نه کیږی پردی ضابطه باندی مصنف رحمۃ اللہ علیہ داتفریع کوی چی په امانت وکالت او غصب کښی مال متعین ده یعنی که یو شخص بل ته دراهم امانت کښیدی اویا یوڅوک وکیل کړی چی په دونه درهمه ئی خرڅ کړه اویا په دونه درهمه شی راواخله اویا یوڅوک له بل څخه یوشی غصب کړی په دری سره صورتو کښی دراهم متعین دی که مودع اویاکیل اویاغاصب وغواړی چی دا متعین دراهم په نورو بدل کړی داورته

جائزنه ده یعنی که دوی وغواړی چی دودیعت دراهم اودموکل دراهم او مغصوبه دراهم له ځان سره کښيدي اوددوی مثل نوردراهم وکړی داجائزنه ده ځکه دلته دمعین دراهم اداء ممکنه ده.
اودایاد ساته چی داحناف په نزددراهم اودنانیر په عقد اوفسخ کښی په تعین سره نه متعین کیږی اودمام شافعی رحمه الله په نزد په تعین سره متعین کیږی لیکن په ودیعت وکالت اوغصب کښی بالاتفاق متعین کیږی مصنف رحمه الله وائی که یو چا یوشی خرڅ کی او مشتری ته ئی حواله که او ورسته په مبیع کښی داسی عیب ښکاره شو چی هغه دبایع په لاس کښی پیداشوی وو په دی صورت کښی مشتر لره اختیار ده که عقد بیع باقی پر پریږدی اوکه ئی فسخ کوی چی مبیع بایع واپس کړی او خپلی ثمنی ورځخه واخلی لیکن داسی نه شی کولا ی چی میبع له ځان سره کښیدي او له بایع ځخه دعیب نقصا ن واخلی ددی خبری دلیل داده بایع چی کله عیبجنه مبیع مشتری ته حواله کړه داداء قاصره ده او مقصود له مبیع داده چی له عیبه به سالمه وی لیکن ددی مقصد دفوت کیدو په وجه مشتری داا ختیار لری چی مبیعه واپس کړی او دبایع له طرفه چونکه اصل اداء موجوده ده لهذا مشتری لره داا ختیار هم شته چی مبیعه ځان لره وګرزوی یعنی بیع فسخه نه کړی مصنف رحمه الله وائی دمذکوره ضابطی یعنی اداء اصل ده پر بنا ء امام شا فعی وائی پر غاصب باندی دعین مغصوبه اداء واجب ده که څه هم مغصوب شی تر اندازه زیات متغیر شوی وی لیکن دنقصان په وجه پر غاصب باندی دنقصان ضمان واجب ده په دی طریقه چی هغه وخت چی مغصوب معیوب نه وو مثلا زر(۱۰۰) روپی ئی قیمت وو اوله عیبه ورسته اته سوه ۸۰۰ روپی قیمت ده پرغاصب دنقصان دوه سوه روپواداء واجب ده لیکن داحناف مذهب داده چی که مغصوب په داسی اندازه تغیر خوړلی وو چی دهغه لویی لویی منافع ذائلی شوی وی په دی صورت کښی دمالک ملک زائل ده او غاصب ئی مالک ده اوپر ده باندی ددغه شی ضمان واجب ده تر کومه وخته چی ئی ضمان اداء کړی نه وی له دهلره پر مغصوب نفع اخستل جائز نه ده.

وَعَلی هذَا لَو غَصَبَ حنطَةً فَطَحَنَهَا اَو سَاجَةً فَبَنی عَلَيهَا دَارًا اَوشَاةً فَذَ بَحَهَا وَشَوَاهَا اَوعِنَبًا فَعَصَرَهَا اَوحنطَةً فَزَرَ عَهَا وَنَبَتَ الزَّرعُ كَانَ ذالِكَ مِلكاً لِلمَالِك عِندَهُ وَقُلنَا جَمِيعُهَا لِلغَاصِبِ وَيَجِبُ عَلَيهِ رَدُّ القِيمَةِ.

ترجمه : اوبنا پردی باندی که یوچاغنم غلاکړه اويائی ساج لرګی غصب کړ پر خونه ئی واچوی اويائی پوسه غصب کړ حلال ئی که او يائی کباب کړ او يائی انګور غصب کړه اوله هغو ځخه ئی اوبه وایستلی اويائی غنم غصب کړه اوذراعت لپاره ئی په ځمکه کی وشیندل اوکښت ئی شین شو دامام شافعی رحمه الله په نزد دادمالک ملک ده او مو ږ وايو داټول دغاصب ملک دی اوپر ده باندی قیمت ورکول واجب ده .

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی دامام شافعی رحمۃ اللہ علیہ پر مذکوره اصل باندی دامسائلی تفریع کیږی که چیری یو چاغنم غصب کړه او اوړه ئی کړه او یا ئی دساج لرګی غصب کی اوپر خونه ئی کینبودی اویائ پوسه غصب کی حلال ئی کی اویائی کباب کی اویائی انګور غصب کړه اوړه ئی کړو اویائی غنم غصب کړه په څمکه کښی ئی وشندل شنه شول دامام شافعی رحمۃ اللہ علیہ په نزد په دی ټولو صورتو کښی مغصوب دمالک ملک ده څکه سره له تغیر فاحشه عین شی باقی د ه لهذا دمالک ملک باقی ده لیکن دمغصوب په قیمت کښی چی دمذکوره تغیر په وجه کمبوت راغلی ده دهغه ضمان پر غاصب باندی واجب ده احناف وائی چی په مذکوره ټولو صورتو کښی دتغیر فاحش په وجه عین مغصوب باقی نه ده بلکه نوم اواعظم منافع ئی بدلی شو دی لهذا مغصوب دغاصب ملک ده اوپر ده باندی دمغصوب قیمت ورکول واجب ده.

وَلَوْغَصَبَ فِضَّةً فَضَرَبَهَا دَرَاهِمُ اَوتبراً فَاتَّخَذَهَا دَنَانِيرَ اَوشَاةً فَذَبَحَهَا لاَ يَنقَطِعُ حَقُّ المَالِک فِی ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَكَذٰالِکَ لَو غَصَبَ قُطناً فَغَزَلَهُ اَو غزلاً فَنَسَجَهُ لاينقطِعُ حَقُّ المالِک فِی ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ.

ترجمه : اوکه غاصب سپین زر غصب کړه اودراهم ئی ورڅخه جوړ کړو اویائی سره زر غصب کړو او دنانیر ئی ورڅخه جوړ کړو اویائی پوسه غصب کړی حلال ئی کړو دظاهر الروایت په مطابق دمالک حق منقطع نه ده او همدارنګه که ئی پمبه غصب کړه له هغه ئی تارونه جوړکړه اویائی تارونه غصب کړه وه ئی او جامه ئی څنی جوړه کړه دظاهر الروایته مطابق دمالک حق منقطع نه ده.

تشریح : په دی عبارت کښی مذکوره پنځه مسائلی دامام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ په نزد له مخکی مسائلو څخه مخالفی دی په دی طریقه په دی پنځو مسئلو کښی دامام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ په نزدسرهله تغیره دمالک حق منقطع نه ده اوپر غاصب باندی له مذکوره تغیراتوسره مغصوب سپارل واجب ده اوپه مخکی مسائلو کښی دتغیر په وجه دمالک حق منقطع وو اوپر غاصب باندی دمغصوب دقیمت ورکول واجب وو وجه ئی داده چی دامام صاحب په نزد دتغیر فاحش په وجه له مغصوبه شی څخه دمالک حق منقطع ده اودتغیر فاحش لپاره له درو شیانو څخه یوضروروی ده (۱) داده چی دغاصب دعمل په وجه به مغصوب داسی متغیر شوی وی چی نوم اواعظم منافع به ئی بدلی شوی وی(۲) داده چی مغصوب شی به دغاصب له ملک سره داسی ګډشوی وی چی فرق کول ئی ممکن نه وی (۳) مغصوبه شی به دغاصب له ملک سره داسی ګډشوی وی چی امتیاز ئی ممکن وی لیکن جلا کولوئی تکلف وی.

اوپه پنځو مذکوره مسائلوکښی مغصوب ته تغیر رسیدلی ده لیکن فاحش نه ده څکه له فضه وو څخه دراهم جوړول اوله ذهب دنانیر جوړولو سره سره عین مغصوب باقی ده په دی طریقه چی دراهم اودنانیر وله جوړیدلوسره سره دفضه او دذهب نوم باقی ده څکه اهل عرب دراهم ته فضه او دنانیر ته ذهب وائی او ددوی معنی اصلی هم باقی ده څکه ددوی معنی اصل ثمنیت او موزون ده

او دا معنی لکه څرنګه چې په فضه او ذهب کښې شته همدارنګه په دراهم او دنانیر و کښې شته لکه څرنګه چې دثمنیت او موزون والي په وجه ربا راځي. همدارنګه په دراهم او دنانیر کښې هم ربا راځي حاصل داده چې په دراهم او دنانیر سره دتغیر ورکولو سره سره ذهب او فضه بعینه باقي دي من کل وجه نو کله چې دوی من کل وجه باقي دي نو دا تغیر فاحش نه ده او چې تغیر فاحش نه ده لهذا له مغصوب څخه دمالک ملک منقطع نه ده چې دمالک ملک منقطع نه ده پر غاصب باندې دعین مغصوب اداء واجب ده او همدارنګه پوسه په حلال والي سره تغیر راغلی ده لیکن فاحش نه ده څکه ذبح ورسته هم پوسه نوم باقي ده لکه څرنګه چې ژوندې پوسه ویل کیږي همدارنګه حلال شوی پوسه هم ویل کیږي نو کله چې په ذبح سره تغیر فاحش نه ده نو دمالک حق منقطع نه ده او هر کله چې دمالک حق منقطع نه شو نو پر غاصب باندې دمغصوب واپس کول واجب ده او همدارنګه که ئې پمبه غلا کړه او تارونه ئې څنې جوړ کړه اویائې تارونه غلاکړه جامه ئې څنې جوړه کړه په دواړو صورتو کښې تغیر شته لیکن فاحش نه ده څکه له پمبه وو تارونه جوړولو سره اعظم مقصود پوره شو اوله تارو څخه جامه جوړول هم اعظم معقود ده او حصول دمقصود خو په تغیر کښې نه شمارل کیږي نو کله چې دا تغیر نه شو ملک دمالک منقطع نه ده او چې دمالک ملک منقطع نه شو پر غاصب باندې دمغصوب واپس کول واجب ده.

وَيَتَفَرَّعُ من هذَا مَسالَةُ المَضمُونَات وَلِذَا قَالَ لَوظَهَرَ العَبدُ المغصُوبُ بَعدَ مَا اَخَذَ المَالِكُ ضَمَانَهُ مِن الغَاصبِ كَانَ العَبدُ ملكاً للمَالك وَالوَاجِبُ عَلَى المَالك رَدُّ مَا اَخَذَ من قِيمَة العَبد.

ترجمه: او پر دې باندې مسئله دمضمونات تفریع کیږي له دې وجه ویل کیږي که چیرې ښکاره شو مغصوب ورسته له دې چې مالک ئې ضمان اخستی وي نو غلام دمالک ملک ده او پر ده باندې دغلام قیمت واپس کو ل واجب ده

تشریح: مصنف رحمه الله وائي چې پر مخکینې خبره چې مغصوب له تغیر فاحش څخه ورسته داحناف په نزد دغاصب ملک ده او پر ده باندې دمغصوب قیمت ورکول واجب ده او دامام شافعي رحمه الله په نزد له تغیر فاحش سره سره دمالک ملک ده او پر غاصب باندې دمغصوب واپس کول واجب ده پر دې باندې مسئله دمضمونات تفریع کیږي یعني داحناف په نزد پر غاصب باندې دمغصوب قیمت واپس کول واجب ده او دامام شافعي په نزد عین مغصوب واپس کول واجب ده له دې وجه امام شافعي رحمه الله وائي که یو چاله بل چا څخه غلام غصب کې او هغه له غاصبه وتښتیدل او پر غاصب باندې ضمان واجب شو او بیا داغلام پیدا شو پر مالک باندې واجب ده چې اخستل شوی ضمان واپس کړي او احناف وائي غاصب چې کله دغلام قیمت ورکی نو غلام دمالک له ملکه ووتی دغاصب ملک شو له دې ورسته دمالک په ملک کې دوهم ځل نه داخلیږي څکه دغاصب دقیمت ورکول قضاء ده او غلام ورکول اداء ده له قضاء ورسته اداء نه وي.

وَاَمّا القَضاءُ فَنوعَانِ کامِلٌ وَقاصِرٌ فالکَامِلُ منهُ تَسلیمُ مثلِ الوَاجبِ صُورَةً وَمَعنًی کَمَن غَصَبَ قَفیزَ حنطَةٍ فاستَهلَکَها ضَمِنَ قَفیزَ حِنطَةٍ وَیَکُونُ المودّی مثلاً للاَوّلِ صُورةً وَمَعنیً وَکَذالکَ الحُکمُ فی جَمیعِ المثلیاتِ .

ترجمه : او قضاء دوه قسمه ده یوه کامله اوبله قاصره کامله داده چی د واجب مثل وسپاری هغه شی چی صورة او معنیً دواړه مثل لکه هغه شخص چی دغنمو یوه قفیضه غصب کړی او هغه هلاک کړی نو پرده یوه قفیزه غنم ضمان واجب ده او دغه دادا داول مثل دصورةً او معنیً ده او هم داحکم ده په ټولو مثلیاتو کښی.

تشریح : مصنف رحمہ اللہ وائی داداء په شان قضاء هم دوه قسمه ده یوه کامله اوبله قاصره کامله دی ته وائی چی د واجب صورةً او معنیً مثل اداء کړشی مثلاً یو شخص یوه پیمانه غنم غصب کړی او هغه هلاک کړی غاصب به مالک ته یوه پیمانه غنم ورکوی داغنم چی غاصب ئی ورکوی له اولو سره مثل دی صورةً هم او معنیً هم یعنی په نوع او صفت کښی هم مثل دی او په قیمت کښی هم مثل دی مصنف رحمہ اللہ وائی دا د ټولو مثلیاتو حکم ده.

وَاَمّا القَاصِرُ فَهُوَ مَالاَیُماثِلُ الوَاجبَ صُورةً وَیُماثِلُ مَعنی کَمَن غَصَبَ شَاةً فَهلَکَت ضَمِنَ قیمَتَها وَالقیمَةُ مثلِ الشّاةِ من حَیثُ المعنی لامِن حَیثُ الصُّورَةِ .

ترجمه : بهر حال قضاء قاصره هغه ده چی صورة مثل نه وی او معنیً مثل وی لکه یو شخص چی پوسه غصب کړی او هغه هلاک شی غاصب دده قیمت ضامن ده او قیمت د پوسه معنی مثل ده.

تشریح : قضاء قاصره هغه ده چی د واجب صورةً مثل نه وی لیکن معنیً مثل لری مثلاً یو شخص دیو چاه پوسه غصب کړی او هغه هلاک شی نو غاصب ددی پوسه دقیمت ضامن ده او قیمت د پوسه صورةً مثل نه ده بلکه معنیً مثل ئی ده ځکه دقیمت صرف مالیت له پوسه سره برابر ده له دی وجی ئی نوم قیمت اینبودل شوی ده او د پوسه مثل معنیً په دی وجه ده چی پوسه اونور حیوانات ذوات الامثال نه دی .

وَالاَصلُ فی القَضاءِ اَلاکامِلُ عَلی هذا قَالَ اَبُوحَنیفَةَ رحمہ اللہ اذا غَصَبَ مثلیًا فَهلَکَ فی یدهِ وَانقَطَعَ ذالکَ عَن اَیدی النّاسِ ضَمِنَ قیمَتَهُ یَومَ الخُصُومَةِ لاَنّ العجزَ عَن تَسلیمِ المثلِ الکَاملِ انّمَا یَظهرُعند الخُصُومَةِ فَاَمّا قبلَ الخُصُومَةِ فَلاَیتصوّرِ حصُول المَثلِ من کُلِّ وَجهٍ فَاَمّا مَالاَ مثلَ لَهُ لاَصُورَةً وَلاَمعنی لاَیُمکنُ ایجابُ القَضاءِ فیه بالمَثلِ وَلهذا المعنی قُلنَا انّ المَنافعَ لاَتُضمَنُ بالاتلاف لاَنّ ایجابَ الضمانِ بالمثلِ مُتَعذّرٌ وَایجابَهُ بالعَینِ کَذالکَ لاَنّ العَینَ لاَتُماثلُ المنفَعَةَ لاَصورةً وَلاَمعنی کَمَا اذا غَصَبَ عبداً فَاستَخدَمَنُ شَهراً اَودَارٍ فَسکَنَ فیهاَ شَهراً ثُمّ رَدّ المَغصُوبَ الی المَالکِ لاَیَجبُ عَلَیه ضَمانُ المَنافعِ خلاَفاً للشّافعی رحمہ اللہ فَیَبقَی الاثمُ حُکماً وَانتَقَلَ جَزاءُهُ الی دَارِ الاخرَةِ .

ترجمه: او په قضاء کښې کامله اصل ده بناپر دی باندې امام ابوحنیفه رحمه الله وائی که یو چا د شی مثل غصب کې او هغه د غاصب په لاس کښې هلاک شو او دامثلی شی دخلکو له لاسو ووتی نو غاصب دداسې قیمت ضامن ده کوم قیمت چې دخصو مت په وخت کښې وو ځکه دکامل مثل دسپارلو جزدخصومت په وخت کښې ښکاره شو بهر حال تر خصومت وړاندې عجز موجودنه ده له دی وجه چې دمن کل وجه مثل حصول ممکن ده بهر حال دکوم شی چې نه صورةً مثل وی اونه معنیً دهغه قضاء په مثل سره ممکنه نه ده اوددی معنی په وجه موږ وایو چې منافع داتلاف په وجه مضمونی نه دی ځکه وجوب دضمان په مثل سره متعذر ده او همدارنګه په زریعه دعین وجوب دضمان له دی وجه متعذرده چې منفعت له عین سره نه صورةً مماثل ده اونه معنیً مثلا لکه یو شخص چې غلام غصب کړی اویو ه میاشت خدمت په وکړی اویا مکان غصب کړی او په هغه کښې یوه میاشت استوګنه وکړی او بیا مغصوب مالک ته واپس کړی نو پر غاصب دمنافع ضمان واجب نه ده امام شافعی رحمه الله مخالف ده اودګنا ه حکم پر ده باقی ده بدله به ئی په آخرت کښې ورکول کیږی.

تشریح: مصنف رحمه الله دقضاء دوه قسمه بیان کړه اووائی چې په قضاء کښې کامله اصل ده یعنی دضمان په واجب کید لو کښې اصل دا ده چې ضمان باید په داسې شی وکړشی چې هغه له هلاک شوی شی سره صورةً او معنی برابروی ځکه په دی کښې دمستحق دحق مکمل رعایت موجودده نو هر کله چې قضاء کامله اصل ده قضاء قاصری ته هغه وخت رجوع کیږی چې قضاء کامله متعذره شی له دی وجه حضرت امام ابوحنیفه وائی که یو شخص له بل څخه مثلی شی غصب کې او هغه ئی هلاک کې اوهغه مثلی شی دخلکو له لاسو څخه ووتی یعنی دهغه شی پیدا کیدل مشکل شو په دی صورت کښې دی دهغه قیمت ضامن ده کوم قیمت چې په ورځ دخصومت ده یعنی په کومه ورځ چې دغاصب مقدمه قاضی ته وړاندی شی په دغه ورځ چې قاضی پر کوم قیمت فیصله وکړی هغه قیمت معتبرده دلیل داده چې غاصب عجز دمثل کامل له سپارلو هغه وخت ظاهر ه کیږی چې دده مقدمه قاضی ته وړاندی شی ځکه تردی مخکی ممکنه ده چې من کل وجه مثل دی پیدا کړشی ځکه کوم شی له بازاره قطع شی هغه شی کله کله داسې هم وی چې پر یما نه وی مطلب داده چې دخصومت تروړځ مخکی چونکه دمثل کامل حصول ممکن وؤنو دخصومت تر ورځ مخکی قضاء قاصری ته رجوع جائز نه ده بلکه دخصومت په ورځ چې دده عجز ظاهره شی هلته بیا قضاء قاصره ته رجوع کولای شی لهذا دخصومت دورځی قیمت معتبرده دغصب او دانقطاع دورځی قیمت معتبرنه ده که څه هم امام ابویوسف رحمه الله دغصب دورځی قیمت ته اعتبار ورکو او محمد دانقطاع دورځی قیمت ته اعتبا رورکوی.

دامام یوسف رحمۃ اللہ علیہ دلیل : دلیل داده کله چی د مغصوب مثل له بازاره منقطع شو او د خلکوله لاسو څخه ووتی نو مغصوب ملحق شو په ذوات القیم شیانو پوری او په ذات القیم کی په اتفاق سره د غصب دورځی قیمت معتبرده لهذا دلته هم د غصب دورځی قیمت معتبرده .

دامام محمد رحمۃ اللہ علیہ دلیل : داده چی قیمت ته هغه وخت رجوع کیږی چی له مثله څخه عجز ثابت شی او له مثله عجزد انقطاع په ورځ ثا بیتږی لهذا د انقطاع دورځی قیمت معتبرده <u>فامالامثل له</u> په دی عبارت سره مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی دکوم شی چی نه مثل کامل وی او نه قاصروی دهغه قضاء په مثل سره ممکنه نه ده اوکه دیوشی صورةً اومعنی مثل وی دهغه ضمان په مثل کامل سره واجب ده اوکه ئی مثل قاصری وو یعنی صورة ئی مثل نه وو لیکن معنی ئی مثل وو دهغه ضمان په مثل قاصری سره واجب ده او که نه مثل کامل وو او نه قاصر وو دهغه ضمان نشته لیکن هلاک کونکی ګنهګاره ده له دی وجه احناف وائی دهلاک په وجه منافع ضمان نه لری یعنی که یوشخص دبل منافع تلف کړی پرتلف کونکی باندی ضمان نشته لیکن ګناه شته ځکه دمنافع ضمان په منافع سره متعذرده همدارنګه په عین سره ضمان متعذرده ځکه دعین اومنفعت په مینځ کښی نه صورة مماثلت شته اونه معنیً لکه یوشخص چی دبل غلام غصب کړی اوپه هغه یو ه میاشت خدمت وکړی او یا مکان غصب کړی په هغه کښی یوه میاشت استوګنه وکړی او بیاغلام اویامکان مالک ته وسپاری په دی صورتوکښی پر غاصب دهغو منافع چی ده حاصلی کړی دی ضمان نشته ځکه دضمان دوجوب دوه صورته دی یو داچی دمنافع ضمان په منافع ورکړی اوبل داچی دمنافع ضمان په عین سره ورکړی دادواړه صورته متعذردی اول په دی وجه چی منافع مختلفی دی یوله بل سره مماثلت نه لری ځکه له غلام څخه دمنافع په اخستلوکښی بعض خلک له غلام سره سهولت کوی اوبعض سختی ورسره کوی همدارنګه دمکان په باره کښی بعض خلک په مکان کی داسی ګزاره کوی چی مکان ته تاوان نه رسوی اوبعض خلک مکان ته زیان رسوی حاصل داده چی مالک داسی نشی کولای چی غاصب ته ووائی چی تازماپه غلام یو میاشت خدمت کړی ده ماته ستاغلام دیوی میاشتی خدمت لپاره راکړه ځکه دغاصب منافع اودمالک منافع سره مختلفی دی مماثلت نه لری او همدارنګه عین او منافع هم مما ثلت نه سره لری ځکه عین متقوم ده او منافع غیر متقوم دی دمتقوم او غیر متقوم په مینځ کښی مماثلت نشته لهذا دمنافع او اعیانو په مینځ کښی مماثلت نشته نو پر غاصب باندی دهلاک شوو منافع ضمان واجب نه ده لیکن ګنهګاره ده اوبدنه به په دارآخرت کښی ورکول کیږی.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ په دی مسئله کښی له احناف سره مخالف ده ده په نزد په منافع کښی هم ضمان واجب ده لکه څرنګه چی په عقد اجاره کښی دمنافع ضمان په مال سره ورکول کیږی مطلب داده چی امام شا فعی رحمۃ اللہ علیہ دامنافع قیاس کوی پر منافع داجاری باندی

داجاري په منافع کښې ضمان شته لهذا دی وائي چې دلته هم شته .احناف جواب ورکوی په دی طریقه چې په اجاره کښې منافع خلاف القیاس متقوم دی پر خلاف القیاس باندی دبل شی قیاس نشي کیدای.

وَلِهٰذَا الْمَعنٰی قُلْنَا لَاتُضمنُ مَنَافِعُ الْبُضعِ بِالشَّهَادَةِ الْبَاطِلَةِ عَلَی الطَّلَاقِ وَلَاَ بِقَتلِ مَنکُوحَةِ الغَیرِ وَلَابِالوطی حَتّٰی لووَطیءَ زَوجَةَ انسَانٍ لَایُضمنُ للزَّوجِ شَیاءَ اذَا وَرَدَالشَّرعُ بِالمثلِ مَعَ اَنَّهُ لَایُمَاثِلُهُ صُورَةً وَلَامَعنی فَیکونُ مثلاً لَهُ شَرعاً فَیجِبُ قَضَاؤُهُ بِالمِثلِ الشَّرعِیِّ وَنَظِیرُهُ مَاقُلْنَا اِنَّ الفِدیَةَ فِي حَقِّ الشَیخِ الفَانی مِثلُ الصَّومِ وَالدِّیَةَ فِي القَتلِ خَطَاءً مِثلُ النَّفسِ مَعَ اَنَّهُ لَامُشَابَهَةَ بَینَهُمَا ..

ترجمه : اوددی معنی په وجه موږ وایو چې منافع دبضع مضمونی نه دی په شاهدی سره پر طلاق باندی اونه دبل دمنکوحی په قتل سره اونه په وطی سره حتی که چاه دیو شخص له ښځی سره وطی وکړی خاوند لره پر ده باندی ضمان نشته لیکن که شریعت یو شی مثل وګنی سره له دی چې هغه دتلف شوی شی سره نه صورة مثل وی اونه معنی هغه شرعاً مثل ده اوپه شرعی مثل سره دهغه قضاء واجب ده ددی مثال داده چې موږ وویل چې دشیخ فاني په حق کښې فدیه دروژی مثل ده اوپه قتل خطأ کی دیت دانسان مثل ده سره له دی چې ددوی په مینځ کښې مماثلت نشته.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی ددی اصولو په وجه چې که دیو شی نه مثل کامل وو اونه قاصر دهغه قضاء په مثل سره ممکنه نه ده موږ وایو چې په مذکوره صورتو کښې منافع دبضع مضمونی نه دی اول صورت داده چې دوه شاهدان داشاهدی ورکړی چې فلانی سړی خپلی ښځی ته له جماع وروسته دری طلاقه ورکړه ددی شاهدی پر بنا باندی قاضی خاوند او ښځه سر جلا کړو اوبیا دواړو شاهدانو له خپلی شاهدی څخه رجوع وکړه دلته منافع دتلف کیدو په وجه دواړه شاهدان داحناف په نزد خاوند لر ه دیوشی ضا منان نه دی او دامام شافعی په نزد دواړه شاهدان خاوندسر ه په مهر مثل سره ضامن دی اوهمدارنګه که یوشخص دبل ښځه قتل کړه زموږ په نزد قاتل دمنافع دبضع په وجه خاوند لره په هیڅ شی سره ضامن نه ده او همدارنګه که یو شخص دبل له ښځی سره وطی وکړی واطی دمنافع دبضع په بدله کښې خاوند لره په هیڅ شی سره ضامن نه ده حتی لو وطی په دی عبارت سره مصنف رحمه الله دیوه سوال دفع کوی.

سوال : که یوشخص دبل ښځی سره وطی وکړی په دی صورت کښې پر واطی باندی په صورت دعقر مال واجب ده او ظاهر ه ده چې دا مال دمنافع دبضع په بدل کښې ده نو چې دبضع دمنافع په بدل کښې مال واجب شو نو منافع دبضع متقوم شوی او کله چې منافع دبضع متقوم شوی نوددوی دتلف کولو په صورت کښې ضمان په مثل قاصر یعنی قیمت سر ه واجب ده.

جواب: داده چې دعقر وجوب دمنافع دبضع پرتقوم دلالت نه کوی ځکه منافع دبضع دخاوند ملک ده که عقر دمنافع دبضع په بدل کښې وائی باید عقر خاوند لپاره وای او حال داده چې عقر دښځی

لپاره ده لهذا داددی علامه ده چی عقر دمنافع دبضع قیمت نه ده لهذا منافع دبضع متقوم نه دی نو چی منافع دبضع متقوم نه شوی نوددوی ضمان په قیمت سره واجب نه ده.

سوال: چی عقر دمنافع دبضع قیمت نه ده نو عقرولی واجب ده.

جواب: داده چی ملک دبضع یو محترم شی ده نو که دبل په ملک کښی په وطی سره عقر واجب نه کړو نومحل محترم مفت ضائع کیږی له دی وجه ښځی لره عقرو اجب شوی ده.

حاصل داده چی که دیوشی مثل کامل او قاصر نه صورة اونه معنی وو دهغه قضاپه مثل سره واجب کول ممکن نه ده لیکن که دداسی شی لپاره شریعت یوشی مثل گرزولی وو سره له دی چی دغه شی دتلف شو ی نه صورة مثل وی اونه معنی دغه شی دتلف شوی شی مثل ده شرعاًاو په دغه مثل سره دتلف شوی شی قضاء واجب ده مصنف رحمه الله ددی دوه نظیره ذکر کوی اول داده چی دشیخ فانی په حق کښی فدیه دروژی شرعی مثل ده دوهم داده چی په قتل خطاکښی مماثلت نشته دفدیه او روژی په میځ کښی په دی وجه چی فدیه عین ده اوروژه عرض ده اوددیت اونفس مقتوله په مینځ کښی په دی مماثلت نشته چی دیت مال مملوک ده نفس مالک ده اومالکیت علامه دقدرت ده او مملوکیت علامه دعجزده دقدرت او عجزپه مینځ کښی تضاد ده مطلب داده چی فدیه او روژی او همدارنگه دنفس اودیت مماثلت نشته لیکن شرعاً مثل بلل شوی ده.

فَصلٌ فی النّهی

فَصلٌ فی النّهی اَلنّهی نَوعَانِ نَهیٌ عَنِ الافعَالِ الحِسّیِّ کَالزّنَا وَشُربِ الخَمرِ وَالکذبِ وَالظّلمِ وَنَهیٌ عَنِ التّصرُّفَاتِ الشّرعِیّةِ کَالنّهیِ عَنِ الصّومِ فِی یَومِ النّحرِ وَالصّلٰوۃِ فِی الاوقَاتِ المَکرُوهَةِ وَبَیعِ الدِّرهَمِ بِالدِّرهَمَینِ.

ترجمه: دافصل په بیان دنهی کښی ده نهی دوه قسمه ده یو نفی له افعال حسیّه وو ښځه ده لکه زنا ښبل دشر ابو اوظلم اودوهم نهی له تصرفات شرعیه وو ښځه ده لکه نهی دروژی دیوم النحر او نهی له لمانځه ښځه په مکروه وختو کښی اونهی له خرڅولو دیوه درهم په دوو درهمو.

تشریح: کله چی مصنف رحمه الله له بیانه دامر فارغه شو شروع ئی وکړه په بیان دنهی سره نهی په لغت کښی منع ته وائی او په اصطلاح داهل شرع کښی پر دوی معنی راځی (۱) داده چی دنهی دصیغی په زریعه له ادنی ښځه طلب دپر ینبودلو دفعل وکړی (۲) دقائل داقول لاتفعل وغیر ته په طریقه داستعلاء ویل.

بله خبره داده چی دنهی صیغه په مختلفو معانی وو راتلاشی لکه څرنگه چی صیغه دامر پر مختلفو معانی راتلای شوای (۱) په معنی دتحریم لکه لاتقربوالزنا (۲) په معنی دکراهت لکر وذرواالبیع یعنی دجمعی له آذانه ورسته بیع مکروه ده (۳) په معنی دعافیت لکه لاتحسبن الله غافلاً عمایعمل الظلمون

الله ﷻ له هغه افعالو غافل مه ګڼې کوم افعال چې ظالمان کوي (۴) په معنی د دعا لکه ربنالاتؤاخذنا ان نسينا اواخطانا (۵) په معنی د شفقت لکه لاتتحل واداوالكم كراسياء (۲) په معنی د ارشاد سره لکه دا قول دالله ﷻ لاتسئلوامن اشياء کم ان تبدلکم اوپر دې خبره د ټولو اتفاق ده چې د نهي صيغه د تحريم او کراهت له معنی بغير په نورو کښې مجاز ده او په تحريم او کراهت کښې حقيقت ده ليکن مختاره مذهب داده چې د نهي موجب تريم ده.مصنف وائي نهي دوه قسمه ده يوه نهي له افعال حسيّه څخه ده لکه زنا وغيره اوبل نهي له افعال شرعيه څخه ده لکه منع دروژې په يوم النحرکښې او لمونځ په مکروه اوقات کښې اويو درهم خرخول په دوه درهمه اوافعال حسيّه هغه دي چې په حس سره معلوميږي او تحقيق ئې موقوف پر شرع نه وي لکه زنا څښل د شرابو دروغ ويل وغيره هغه افعال چې ترورود د شرعي مخکې معلوم وي اود شرع تر ورد ورسته پر مخکيني حال باقي وي اوافعال شرعيه هغه دي چې حصول او تحقيق ئې موقوف پر شرع وي لکه لمونځ روژه هغه هيت چې اوس ده او د شرع تر ورود مخکې پر دغه هيت نه وو.

وَحُكْمُ النَّوعِ الأَوَّلِ أَن يَكُونَ المَنهِي عَنهُ هُوَ عَينَ مَا وَرَدَ عَلَيهِ النَّهيُ فَيَكُونُ عَينُهُ قَبِحًا فَلَا يَكُونُ مَشرُوعً أَصلاً.

ترجمه : او د اولنی نوع حکم داده چې منهي عنه عين د هغه شي ده چې نهي باندې وارده ده او د هغه عين قبيح او هغه بالکل مشروع نه ده.

تشريح : مصنف رحمه الله وائي د اول قسم (يعنی نهي له افعال حسيّه وو څخه) حکم داده چې منهي عنه عين د هغه شي ده چې نهي باندې وارده شوي ده نو هر کله چې منهي عنه عين (ذات) د هغه شي ده لهذا د هغه شي ذات قبيح ده څکه قبيح لعنه هغه شي ته وائي چې منهي عنه په ذات کښې قبيح وي قطع نظر له اوصافو دده اوله عوارضو دده او قبيح لعنه بالکل مشروع نه ده نه وصفاً اونه ذاتاً لکه کفر اود حربيع داد واړه د ذات په اعتبار قبيح دي او با الکل مشروع نه دي.

وَحُكْمُ النَّوعِ الثَّانِي أَن يَكُونَ المَنهِي عَنهُ غَيرَ مَ أُضِيفَ اِلَيهِ النَّهيُ فَيَكُونُ هُوَ حَسَنًا بِنَفسِهِ قَبِيحًا لِغَيرِهِ وَيَكُونُ المُبَاشِرُ مُرتَكِبًا لِلحَرَامِ لِغَيرِهِ لَا لِنَفسِهِ.

ترجمه : اودنوع ثاني حکم داده چې منهي عنه غير ده له هغه شي چې پر هغه باندې نهي وارده شوي ده نو دامنهي عنه په اعتبار د ذات حسن ده او دخپل غير په اعتبار قبيح ده او ددې کونکي مرتکب د حرام بغيره له ده لذاته حرام نه ده.

تشريح : اودثاني نوع (يعنی نهي له افعال شرعيه وو) حکم داده چې منهي عنه غير ده له هغه شي څخه چې د نهي نسبت ورته شوي ده مثلا لکه د يوم نحرروژه منهي عنه ده په دې قول د نبي کريم ﷺ الالاتصوموافي هذه الايام ليکن په حقيقت کښې نهي روژې ته منسوب نه ده بلکه منسوب ده واعراض ته

له ضیافته دالله ﷻ لکه نبی کریم ﷺ چې وائي من لم یجب هذه الدعوة فقد عصی اباالقاسم حاصل داده چې نهی اصلاضیافت دالله ﷻ ته منسوب ده لیکن چونکه په دغو ورځو کښې روژه نیول سبب داعراض ده لهذا په دغو ورځو کښې روژه منهي عنه ده نو داسې منهي عنه دخپل ذات په اعتبار حسن ده لیکن دغیر په وجه قبیح ده لکه دیوم نحر روژه دذات په اعتبار حسنه ده اود اعراض په وجه قبیحه ده.

فائده : مصنف رحمه الله چې دمذکوره دوو اقسامو حکم ذکر کې که څه هم مطلق ده لیکن په واقع کښې مقید ده لکه علامه فخرالاسلام وغیره چې ویلي دي چې دنهی له افعال حسيّه حکم داده چې منهي عنه به قبیح لعنه وي اوباالکل به مشروع نه وي په دې شرط چې قرینه نه وي که قرینه موجوده وه بیا قبیح لغیره ده په اعتبا دذات مشروع ده لکه په حالت دحیض کښې چې وطی فعل حسّی ده لیکن داذي په وجه منع ورڅخه راغلی ده داپر دې دلالت کوي چې دافعل منهي عنه قبیح لغیره ده یعنی په حالت دحیض کښې وطی فی نفسه مشروع دي لیکن داذی په وجه قبیح دی ځکه الله ﷻ وائي قل هواذی همدا وجه ده که زوج ثاني په حالت دحیض کې له ښځې سره وطی وکړي دغه زوج اول ته حلاله ده اوکه له دغه وطی څخه کوچنی پیداشو نسب ئې له واطی څخه ثابت ده اوپر واطی باندې مهر کامل واجب ده هم دارنګه علامه فخر الاسلام وائي چې نهی له افعال شرعیه وو څخه پردې دلالت کوي چې منهي عنه فعل قبیح لغیره ده په دې شرط چې ددې پر خلاف به قرینه موجوده نه وي که قرینه موجوده وه قبیح لعینه ده لکه دپلار له ښځې سره نکاح کول سره له دې چې نکاح فعل شرعي ده لیکن قبیح لغیره ده باالکل مشروع نه ده ځکه الله ﷻ وائي ولاتنکحوا مانکح اباءکم

وَعَلٰی هٰذَا قَالَ اَصحَابُنَ اَلنَّهیُ عَنِ التَّصَرُّفَاتِ الشَّرعِيَّةِ يَقتَضِی تَقرِيرَهَا وَيُرَادُ بِذَالِکَ اَنَّ التَّصَرُّفَاتِ بَعدَ النَّهیِ يَبقٰی مَشرُوعًا کَمَا کَانَ لِاَنَّهُ لَولَم يَبقَ مَشرُوعًا کَانَ العَبدُ عَاجِزًا عَن تَحصِلِ المَشرُوعِ وَحِنَئِذٍ کَانَ ذَالِکَ نَهيًا لِلعَاجِزِ وَ ذَالِکَ مِنَ الشَّارِعِ مَحَالٌ وَبِه فَارَقَ الاَفعَالُ الحِسِّيَّةُ لِاَنَّهُ لَوکَانَ عَينُهَا قَبِيحًا لَا يُؤَدِّی ذَالِکَ اِلَّا نَهیِ العَاجِزِ لِاَنَّهُ بِهٰذَاالوَصفِ لَا يَعجَزُ العَبدُ عَنِ الفِعلِ الحِسِّیِّ.

ترجمه : ددې ضابطې پر بناء باندې زموږ علماء وائي چې نهی له تصرفات شرعیه څخه دتصرف دتقررا وتحقق تقاضي کوي اوله دې څخه مرادداده چې دتصرف مشروعیت له نهی ورسته باقي ده لکه څنګه چې وو له دې وجه که ئې مشروعیت باقي نه شي نوبنده خوعاجز شو له تحصیله دمشروع اوپه دې وخت کښې نهی دعاجزده اونهی دعاجز دشارع له طرفه محال ده او له دې څخه افعال حسیّه وواتو ځکه که دافعال حسیّه وو عین قبیح وو نو له افعال حسیه وو څخه نهی کول نهی دعاجزنه ده ځکه بنده له دې وصف سره عاجز له فعل حسي څخه نه ده.

تشریح : مصنف رحمه الله وائي چونکه نهی له تصر فات شرعیه وو اوله امورشرعیه حسن لزاته ده اوقبیح لغیره ده له دې وجه زموږ علما وائي چې له تصرفات شرعیه اوله امور شرعیه وو څخه نهی دتصرفات دتقرور او پر سابق حال باندې دپر ېښودلو تقاضي کوي یعنی تصرف شرعي او امر

شرعي له نهي ورسته داسي مشروع ده لکه څرنګه چي تر نهي مخکې مشروع وو تر دليل وړاندي دوه شيان پيژندل ضروري دي (۱) داچي دنهي اونفي فرق شته هغه داده چي دنهي په صورت کښي بنده لره اختيار شته دفعل دنه کولو که ئې فعل نه وکړ مستحق دثواب ده اوکه ئې وکړي مستحق دعذاب ده اودنفي په صورت کښي بنده لره دفعل دنه کولو اختيار نسته لهذا دفعل په نه کولو سره مستحق دثواب نه ده ځکه فعل په خپله معدوم ده دبنده دفعل په عدم کښي هڅ دخل نشته کوم کار چي په هغه کښي دبنده اختيار دخل نه وي دهغه فعل په وجه بنده مستحق دثواب نشي کيداي لهذا دمنفي فعل په نه کولو سره مستحق دثواب نه ده ددوي دفرق لپاره مثال داده چي که په لوښي کښي اوبه وي اومخاطب ته وويل شوچي دااوبه مه څښه دانهي ده ځکه دلته نه څښل دمخاطب په اختيار کي ده او که په لوښي کي اوبه نه وي مخاطب ته وويل شوچي اوبه مه څښه دانفي ده ځکه دلته نه څښل دمخاطب په اختيار کي نه ده.

(۲) داده چي دهر شي اختيارد هغه په مناسب سره وي مثلا دفعل حسي اختيار لپاره بايد حسي قدرت حاصل وي يعني انسان بايد په خپل اختيار او قدرت سره پر زناباندي قادر وي اودافعال شرعيه اختيار داده چي دفعل اختيار ورکول به دشارع له طرفه وي دافعال شرعيه لپا ره حسي قدرت کافي نه ده يعني که شارع دفعل دکولو اجازه وکړه نوبيا دافعل دبنده په اختيار اوقدرت کښي ده او که اجازه نه وه نوبيادافعل دبنده په اختيار اوقدرت کښي نه ده.

له دي تمهيده ورسته دليل داده که چيري فعل شرعي له تصرف شرعي يعني نهي ورسته مشرع نه وي نو بنده ددي فعل مشروع چي منهي عنه ده له تحصيله عاجزه ده په دي طريقه چي دافعال شرعيه لپاره خو بنده لره اختيار او قدرت دشارع له طرفه حاصل وي نوکه فعل شرعي له نهي ورسته مشروع نه وي نو دافعل شرعاً دبنده په اختيار اوقدرت کښي هم نه ده چي دده په اختيار اوقدرت کښي نه شونوبنده ددي فعل له کولو څخه عاجزه ده نوکله چي بنده ددي فعل شرعي له کولو څخه عاجزه شو اودانهي دعاجز ده اودعا جز نهي انتهائي قبيح عمل ده ددي قباحت له وجه داحاله ده چي شارع دي.نهي دعاجز وکړي حاصل داده چي له نهي ورسته دفعل شرعي اوتصرف شرعي له نه مشروعيت څخه محال لازميږي اوله کوم شي څخه چي محال لازميږي هغه په خپله محال ده هرکله چي دامحال شونو داثابته شو ه چي له نهي ورسته به هم فعل شرعي مشروع وي هودومره ضروري ده چي هغه دخپل ذات په اعتبار مشروع وي که څه هم دوصف په اعتبار غير مشروع اوممنوع وي او داسي هم کيداشي چي ددواړو په اعتبار مشروع وي .

مصنف رحمه الله وائي چي دافعال حسيه اوافعال شرعيه فرق شته يعني که له نهي ورسته فعل شرعي مشروع نشي پاته بلکه قبيح لعنه شي له دي څخه نهي دعاجز لا زميږي ليکن که له فعل حسي څخه نهي راشي اودنهي په وجه دده عين اوذات قبيح شي او دغه فعل حسي له نهي ورسته دخپل ذات په اعتبار مشروع هم نشي پاته نهي دعاجز نه لازمه وي ځکه سره له دي چي فصل حسي دنهي

په وجه دده عین اوذات قبیح ده اوله نهی ورسته مشروع هم نه ده له دی سره سره هم بنده پر فعل حسی باندی قادر ده ځکه پر هر شي باندی اختیار دهغه مناسب وی دفعل حسی داختیار لپاره دحسی قدرت حصول ضروری یعنی دنهی په وجه دفعل حسی دقبیح او غیر مشروعیت سره سره باید بنده پر دغه فعل باندی حساً قادر وی.

فائده: منصف رحمه الله داحناف مذهب بیان کی یعنی مذکور بیان داحناف دمذهب ؤو اودامام شافعی رحمه الله مذهب داده چی لکه څرنگه چی نهی له افعال حسیه ؤو پر قبح لعینه دمنهی عنه دلالت کوی همدارنگه نهی له افعال شرعیه ؤو پر قبح لعینه دمنهی عنه دلالت کوی امام شافعی په دوی طریقه سره استدلال کوی اول داده چی نهی تقاضی دقبح کوی اوقبیح کامل فرد قبح لعینه ده لهذا که نهی له افعال حسیه وی اوکه له افعا ل شرعیه وو څخه وی په دواړه صورتو کښی فرد کامل مراد ده او په دواړه صورتو کښی منهی عنه قبیح لعنیه ده.

اودوهم استدلال داده چی افعال شرعیه قیاس کوو پر افعال حسیه باندی اونهی له افعال حسیه چونکه دقبح لعینه تقاضی کوی له دی وجه نهی له افعا ل شرعیه وو هم دقبح لعینه تقاضی کوی.

وَيَتَفَرَّعُ من هذا حُكمُ البيعِ الفاسد والا جارَةِ الفاسدَ ةِ وَالنَّذرِ بِصَوم يوم النَّحرِ وَجَميع صُوَرِ التَّصَرُّفَاتِ الشَّرعيَّة مَعَ وُرُودِ النَّهي عَنها فَقُلنَا اَلبَيعُ الفَاسِدُ يُفِيدُ المِلكَ عِندَ القَبضِ بِاعتِبَارِ اَنَّهُ بَيعٌ وَيَجِبُ نَقضُهُ بِاعتِبَارِ كَونه حَرَامًا لغيره .

ترجمه: اوپر دی باندی تفریع کیږی حکم دبیع فاسدی اوداجاری فاسدی اودنذدرروژی په یوم الخیر کښی اوټول تصرفات شرعیه چی پرهغو نهی وارده وی موږ چی ووایو چی بیع فاسده دقبض په وخت کښی ملک فائده کوی په دی اعتبار چی بیع ده اونقض ئی واجب ده په دی اعتبار چی حرامه ده په واسطه دغیر.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی کله چی موږ داوویل چی که چیر ی پرافعال شرعیه باندی نهی وارده وه منهی عنه به وی دوصف په اعتبار دذات اواصل په اعتبار به مشروع وی نوله دی څخه ده بیع فاسدی اودنذردروژی دیوم النحراوداجاری فاسدی حکم راووتی اودټولو هغوتصرفات شرعیه حکم ښکاره شو چی پرهغو باندی نهی وارده وی.

دبیع فاسدی صورت داده چی یوشخص غلام خرڅ کړی په دی شرط چی یوه میاشت به زما خدمت کوی اواجاره فاسده داده چی یوشخص خپل مکان په کرایه ورکړی په دی صورت شرط چی دی به یوه میاشت استوګنه پکښی کوي.

بیعه فاسده دنبی کریم ﷺ په دی قول نهى عن بيع وشرط سره منهی عنه ده اونهی دداسی شی په وجه وارده ده چی هغه ترعقد بیع زیات ده یعنی نفع دبایع پر بیع باندی په داسی حال کی چی له عوضه خالي وی.

حاصل داده چې ددې فاسد شرط په وجه بيعه فاسده ده او دفاسد شرط په وجه مشروع اصل نشي معدوم کيدای ځکه اصل مشروع يعني بيع نوم ده ايجاب او قبول چې هغه صادر له خپله اهله څخه وی او په خپل محل يعني متقوم مال کښې واقع وی اودا دواړه شيان دلته موجود دی لهذا اصل بيع موجوده ده نوکله چې اصله بيع موجوده شوه نودقبض په وخت کښې مفيده دملک هم ده ليکن بيع چونکه شرعاً حرام ده له دی وجه دبيع فسخ واجب ده او همدارنګه اجاره فاسده ده او نور افعال شرعيه چې پرهغوباندی نهی وارده وی اودخپل ذات په اعتبار مشروع وی اودغير په اعتبار حرام وی او همدارنګه ديوم النحر روژه دخپل ذات په اعتبار مشروع ده چې دروژی رکن يعني له نيت سره په ورځ کی له خوړلو اوڅښلو او له جماع څخه ځان ساتل ده اودوصف په اعتبار له دی وجه غير مشروع ده چې ددې په ذريعه سره اعراض له ضيافته دالله ﷻ راځي او دا حرم ده لهذا په دی ورځ روژه حرامه ده.

دمصنف رحمه الله په مذکوره مثال باندی يعني والنذر بصوم يوم النحر پر دی باندی يو سوال کيږی.

سوال: داده چې زموږ خبره په دی کښې وه چې نهی پرفعل شرعی وارده وی اوفعل په اعتبار دذات او اصل باندی مشروع وی لکه ديوم النحر روژه چې داصل اوذات په اعتبار مشروع ده اودوصف په وجه غير مشروع اوحرام ده اوحال داده چې ديوم النحر روژه زموږ په نزد دمن کل وجه صحح اومشروع ده که څه هم دامام شافعی رح په نزد صحح نه ده نوچې زموږ په نزد صحح شوه بيا دڅنګه دهغی نهی چې هغه په اعتبار داصل اوذات سره مشروع وی اودوصف په اعتبار غير مشروع اوحرام وی ددی لپاره څنګه مثال کيدای شي بايد مصنف رح ددی عبارت والنذر بصوم يوم النحر پرځای وصوم يوم النحر ويلی وای.

محشي په اللهم سره داسی جواب ورکی چې په يوم النحر کی دروژی نذر دروژی په حکم کی نه ده لهذا په طريقه تسامح دانذر هم نظير کيدای شي.

وَهٰذَا بِخِلَافِ الْمُشْرِكَاتِ وَمَنْكُوحَةِ الْاَبِ مُعْتَدَّةِ الْغَيْرِ وَمَنْكُوحَتِهِ وَنِكَاحِ الْمَحَارِمِ وَالنِّكَاحِ بِغَيْرِ شُهُوْدٍ لِاَنَّ مُوْجَبَ النِّكَاحِ حِلُّ التَّصَرُّفِ وَمُوْجَبُ النَّهْيِ حُرْمَةُ التَّصَرُّفِ فَاسْتَحَالَ الْجَمْعُ بَيْنَهُمَا فَيُحْمَلُ النَّهْيُ عَلَى النَّفْيِ بِاَمَّا مُوْجَبُ الْبَيْعِ ثُبُوْتُ الْمِلْكِ وَمُوْجَبُ النَّهْيِ حُرْمَةُ التَّصَرُّفِ وَقَدْ اَمْكَنَ الْجَمْعُ بَيْنَهُمَا بِاَنْ يَثْبُتَ الْمِلْكُ وَيَحْرُمَ التَّصَرُّفُ اَلَيْسَ اَنَّهُ لَوْتَخَمَّرَ الْعَصِيْرُ فِيْ مِلْكِ الْمُسْلِمِ يَبْقٰى مِلْكُهُ فِيْهَا وَيَحْرُمُ التَّصَرُّفُ.

ترجمه: اودا په خلاف د نکاح دمشرکوښځو اودنکاح دپلار دښځی اودنکاح دبل معتدی اودبل دمنکوحی اودنکاح دمحرمو ښځو اودنکاح چې بغيره له شاهدانو وی ځکه موجب دنکاح دتصرف حلال والی ده اوموجب دنهی دتصرف حرمت ده چونکه ددوی دوؤ جمع محاله ده له دی وجه نهی

محمول ده پرنفي باندي اوبيع موجب ثبوت دملك ده اونهي موجب دتصرف حرام والي ده اوددوی دوؤ جمع ممکن ده په دی طريقه چې ملك ثابت ده اوتصرف حرام ده-ايا داسی نشي كيدلای چې دانګورشيره دمسلمان په ملك كښې خمرشي او دده په ملك كې بقي پاته شي اوده ته تصرف دپکښې حرام وي.

تشريح: داعبارت ديو سوال جواب ده.

سوال: احناف وائي چې كه پرفعل شرعي باندي نهي واريده شي ددی تقاضی کوی چې فعل منهی عنه به داصل اوذات په اعتبار مشروع ده اودوصف په اعتبار غير مشروع ده اوحال داده چې مورږ ليدلي دي چې مشرکو ښځونکاح دالله ﷻ په دی قول لاتنكحوالمشركات سره منهي عنه ده اودپلار ښځي نکاح په دالله ﷻ په دی قول ولاتنكحومانكح آباءكم سره منهي عنه ده اوداد معتدی دغير اومنكوحي دغير په حكم كښې ده اودمنکوحي دغير نکاح په دی قول دالله ﷻ والمحصنت من النساء سره منهي عنه ده ځكه داجمله تر حرمت عليكم لاندي ده ددی مطلب داده چې پرتاسوباندی دخاوند والا ښځي حرامي دي اودمحرمو ښځو نکاح په دی قول دالله ﷻ حرمت عليكم امهتكم سره منهي عنه ده اوبی له شاهدانونكاح په دی قول دالله ﷻ لانكاح الابشهود سره منهي عنه ده مورږله منكوحي دغيرسره اوله محارمو سره نکاح په دی وجه حرام بولو چې په لفظ دحرمت چې په آيت شريف كښې ده منع ځنی راغلی ده اونکاح بی له شاهدانو له دی وجه منهي عنه ده په دی حديث شريف سره لانكاح الاشهود كښې لادنفي لپاره ده په معنی دنهي ده حاصل داده چې نكاح چې شرعي فعل ده په مذكوره صورتو كښې منهي عنه ده اوسره له دی چې په مذكوره صورتو كښې نكاح باالكليه غيرمشروع ده نه دذات په اعتبار مشروع ده اونه دوصف په اعتبار اوحال داده چې تاسو واياست چې فعل شرعي دنهي په ورود سره باالكليه غيرمشروع نه گرزی بلكه مشروعيت ئی په اعتبار دذات باقي وي.

لان موجب النكاح په دی عبارت سره مصنف رحمه الله جواب وركوی.

جواب: داده چې دنهي دورود په صورت كښې دفعل شرعي په مشروعيت مورږ هغه وخت قائل يو چې د مشروعيت له بقاء سره سره دهغه حرمت ثبوت ممکن وي چې په نهي سره پيداكړشوی ده اوحال داده چې دلته ممكن نه ده ځكه دنكاح موجب په محل كښې دتصرف حلال والي ده اودنهي موجب په محل كښې دتصرف حرام والي ده ددی دواړوپه مينځ كښې جمع ممکنه نه ده ځكه ددوی په منيځ كښې منافات ده هركله چې ددوی په مينځ كښې منافات وؤ نوددوی جمع محاله ده نو ددی محال دلری كولو لپاره مورږ په مذكوره صورتو كښې نهي محمول كړه پرنفي باندی اونفي دمشروعيت دبقاء تقاضی نه كوی يعنی پرفعل شرعي باندی نفي ورود ددی تقاضی كوی چې د

فعل شرعی مشروعیت به بالکل مشروع نه وی نه ذاتاً اونه وصفاً حاصل داده کله چی نهی محمول پرنفی شوه نومذکوره سوال نه واریدیږی ځکه سوال پرنهی ده اونهی موږپر نفی محمول کوؤ.

سوال: په بیع فاسده کښی ولی نهی نه محمول کوی پرنفی باندی؟

جواب: داده چی په بیع فاسده کښی دنهی پریښودل پرخپل اصل محال نه لازموی ځکه دثبوت ملک چی معتضی دبیع ده اوتحریم دتصرف چی دنهی مقتضی ده دواړه جمع کیدای شی یعنی داسی کیدای شی چی دبیع فاسدی په ذریعه مشتر ی ته ملک ثابت شی لیکن تصرف دی ورته حرام وی لکه تاسو چی ئی وینی چی که چیری دانګوروشیره دیو چاملک شی اوهغه په ښولوسره شراب وګرزی په دی شرابو کښی دمسلمان ملک باقی ده که څه هم تصرف کول حرام ده نولکه څرنګه چی دلته دثبوت دملک اوحرمت منافات نشته همدارنګه په بیع فاسده کښی هم دثبوت دملک اوحرمت منافات نشته ددواړو جمع ممکنه ده نوکله چی په بیع فاسده کښی دتصرف دحرمت سره سره په اعتبار دذات له مشروع والی څخه محال نه لازمیږی نودی ته ضرورت نشته چی په بیع فاسده کښی نهی محمول کړو پرنفی باندی.

وَعَلَى هٰذَا قَالَ أَصْحَابُنَا اِذَا نَذَرَ بِصَوْمِ يَوْمِ النَّحْرِ وَأَيَّامِ التَّشْرِيقِ يَصِحُّ نَذْرُهُ لِأَنَّهُ نَذَرَ بِصَوْمٍ مَشْرُوعٍ وَكَذَالِكَ لَوْنَذَرَ بِالصَّلٰوةِ فِي الْأَوْقَاتِ الْمَكْرُوهَةِ يَصِحُّ لِأَنَّهُ نَذَرَ بِعِبَادَةٍ مَشْرُوعَةٍ لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ النَّهْيَ يُوجِبُ بَقَاءَ التَّصَرُّفِ مَشْرُوعًا.

ترجمه: اوددی اصولو پربناء باندی زموږعلماء وائي که چیری په یوم نحر اوایام تشریق کښی روژه نذر شی دانذر صحح ده ځکه دادمشروع روژی نذر ده اوهمدارنګه که په مکروه اوقاتوکښی لمونځ نذر کړشی دانذر هم صحح ده ځکه داد مشروع عبادت نذرده دهغه دلیل په وجه چی موږذکر کی چی نهی دفعل شرعی دتصرف بقاء ثابتوی.

تشریح: مصنف رحمه الله وائي ددی اصولوپربناء چی نهی له افعاله شرعیه وو ددی تقاضی کوی چی فعل دخپل ذات په اعتبار مشروع ده زموږعلماء وائي که یوچاه دیوم النحر اودایام تشریق روژه نذرکړه دانذرصحح ده دلیل داده چی دیوالنحراوایام تشریق روژه نیول که څه هم دوصف یعنی اعراض له ضیافته دالله په وجه غیر مشروع ده لیکن دذات په اعتبار مشروع ده نودی شخص دمشروع روژی نذر کړی ده اودمشروع فعل نذرچونکه صحح ده له دی وجه په دی ورځو کښی روژه نذر کول صحح ده لیکن داخبره چی دنذرکولو سره به په دی ورځو کښی روژه نه نیسی بلکه په نورو ورځو کښی به دهغی قضاء راوړی ددی لپاره چی داسی عبات شی چی ګناه ورسره نه وی اوکه ئی په دغوورځو کښی ونیوله نذرئی پوره ده ذمه ئی فارغه ده ځکه ده چی په څنګه طریقه دروژی التزام کړی وو هغسی ئی اداء کړه.

او امام زفر رحمۃ اللہ علیہ امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ وائی چی په دغو ورځو کښی روژه نذر کول صحح نه ده او که بیاهم نذر کړه روژه پرلازمه نه ده دلیل ئی داده چی په دی ورځو کښی روژه منهی عنه ده او منهی عنه ګناه ده او درسول ﷺ لانذر فی معصیة الله په قول سره دمعصیت نذر کول صحح نه ده لهذا په دی ورځو کښی نذر کول صحح نه ده ددی خبری جواب مو ړ ورانډی ذکر کی چی نهی له افعال شرعیه ددی تقاضی کوی چی منهی عنه فعل داصل په اعتبار مشروع ده او دوصف په اعتبار غیر مشروع ده او قبیح ده هو ددغی روژی په نیولو سره وصف دمعصیت راځی لیکن په صرف ذکر سره وصف دمعصیت نه راځی او حال داده چی په نذر کولو سره صرف ذکر دروژی ده عمل نه ده نو ځکه چی داخبره ثابته شوه نو په دی ورځو کښی درژی نذر کول صحح ده او روژه نیول منع ده همدارنګه که یو چاپه مکروهه اوقاتو کښی لمونځ نذر کړی دا نذر ئي صحح ده ځکه دی شخص دمشروع عبادت نذر کړی ده او دمشروع شی نذر کول صحح ده لهذا په مکروه اوقاتو کښی دلمانځه نذر کول صحح ده نو که دی شخص په مکروه اوقاتو کښی لمونځ اداء کړ نذر ئي پوره ده او دده ذمه فارغه ده مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی په مکروهه اوقاتو کښی لمونځ کول او په یوم النحر کښی روژه نیول دخپل ذات په اعتبار مشروع ده دلیل ئی هغه دی چی مو ړ ذکر کی چی له افعال شرعیه وؤ څخه نهی ددی تقاضی کوی چی فعل شرعی چی نهی وربا ندی وارد ده دخپل ذات په اعتبار مشروع ده.

وَلِهٰذَا قُلْنَا لَوْشَرَعَ فِی النَّفْلِ هٰذِهِ الْأَوْقَا تِ لَزِ مَهُ بِا لشُّرُوعِ وَارْتِکَا بُ الْحَرَ امِ لَیس بِلَا زِ مٍ لِلُزُومِ الْاِتْمَامِ اِفَانَّهُ لَوصَبَرَ حَتّٰی حَلَّتِ الصَّلٰوةُ بِارْ تِفَاعِ الشَّمسِ وَغُرُ وبِهَا وَدُلُو کِهَا اَمکَنَهُ الْاِ تمَا مُ بِدُوْنِ الْکَرَاهَةِ وَبِه فَارَقَ صَومَ یَومَ الْعِیدِ فَاِنَّهُ لَو شَرَعَ فِیهِ لَا یَلزَ مُهُ الْاِتمَا مُ عِندَ اَبِی حَنِیفَةَ وَمُحَمَّد لِاَنَّ الْاِتْمَامَ لَا یَنفَکُ عَنِ ارتِکَابِ الحَرَامِ.

ترجمه : اوله دی وجه مو ړ وایو که چیری په دی اوقاتو کښی لمونځ شروع کړشی نو په شروع سره دافعل لازمیږی او داتمام په لازم والی سره ارتکاب دحرام نه لازمیږی له دی وجه که دی لمردراختولو او ولیدلو او ترزواله دلمانځه ترجائز کیدلو پوری صبرو کړی نو دده لپاره بی له کراهته دلمانځه اداء کول ممکن ده او دنفل لمانځه اداء کول په اوقات مکروهه ووکی جلاده له روژی دورځی داختر ځکه که دا شروع کړ شی دطرفین په نزد پرده باندی اتمام لازم نه ده ځکه اتمام له ارتکاب دحرام څخه نشی بیل کیدای.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چی دافعال شرعیه وؤ څخه نهی چونکه ددی تقاضی کوی چی هغه فعل شرعی دخپل ذات په اعتبار مشروع ده له دی وجه مو ړ وایو که یو شخص په درو (۳) مکروه اوقاتو یعنی (طلوع ، غروب ، نصف النهار) کښی لمونځ شروع کی پرده باندی دالمونځ لازم ده یعنی دی به دالمونځ په دی وخت کښی پریږی دی اوله مکروه اوقاتو وروسته په نورو وختو کښی به ددی لمانځه قضاء راوړی او که ئی په دغه وخت کښی پوره کی هم ئی ذمه فارغه ده لیکن

گنهگاره ده دلیل داده چی په دی اوقاتو کښی لمونځ کول که څه هم دوخت مکروهه په وجه غیر مشروع ده لیکن دذات او اصل په اعتبار مشروع ده نوچونکه په دی اوقاتو کښی لمونځ دخپل اصل اوذات په اعتبار مشروع ده له دی وجه په دی وختونو کښی نفل لمونځ شروع کول صحح ده او شروع ورسته ئی پوره کول هم لازم ده وارتکاب الحرام الخ په دی سره دیو سوال جواب کیږی.

سوال : داده چی په اوقات مکروهه وؤ کښی دنفل لمانځه له شروع کولو وروسته دااتمام لزوم دفعل حرام ارتکاب ته مستلزم ده ځکه په دی اوقاتو کښی لمونځ کول حرام ده اوکوم شی چی مستلزم حرام ته وی هغه په خپله حرام ده نوله دی وجه په دی وختونو کښی دنفل لمانځه په شروع لزوم دااتمام هم حرام ده نو دا خبره به څنګه صحح شی چی دنفل لمانځه په شروع سره په مکروهه اوقاتو کښی اتمام دلمانځه لازمیږی ؟

جواب : مصنف رحمه الله جواب ورکوی چی په لزوم دااتمام سره ارتکاب دحرام نه لازمیږی دلیل داده چی دنفل لمانځه له شروع ورسته که دا شخص دومره صبروکړی چی لمر راپورته شی اویا اولویږی اویا له نصف نهاری زائل شی یعنی دلمانځه دجواز وخت راشی نوده لره بی له کراهته دلمانځه اداء ممکنه ده او ارتکاب دحرام نه لازمیږی نوکله چی ارتکاب دحرام نه لازمیږی نودا ثابته شوه چی په مکروهه اوقاتو کښی دنفل لمانځه په شروع سره اتمام لازم ده .

مصنف رحمه الله وائی چی دنفل لمانځه حکم له روژی دیوم النحر څخه مخالف ده له دی وجه چی په مکروه اوقاتو کښی دنفل لمونځ په شروع سره اتمام لازمیږی لیکن په یوم النحر کښی نفلی روژه په شروع کولو سره دطرفین په نزد ددی روژی اتمام لازم نه ده نوکه دغه روژه په مینځ کښی فاسده شی قضاء ئی لازمه نه ده اودامام ابویوسف په نزد اتمام لازم ده دافساد په صورت کښی دده په نزد قضاء لازمه ده همدارنګه په یوم النحر کښی دنفلی روژی په شروع سره هم اتمام لازمیږی اود طرفین په نزد دروژی اولمانځه په مینځ کښی فرق شته هغه داده چی په اوقات مکروهه وؤ کښی دنفل لمانځه له شروع ورسته دده اتمام بی له کراهته ممکن ده لکه موږ چی ذکرکړی لیکن په یوم النحر کښی دروژی اتمام له ارتکاب دحرامه نشی جلاکیدای یعنی بغیر له کراهته دیوم النحر د روژی اداء ممکنه نه ده له دی وجه چی روژه دهغه شی نوم ده چی له صبح صادقه څخه بیاتر غروبه پوری له نیت سره سره دخوړلو او څښلو اوجماع څخه ځان وژغوری او په داسی کولو سره اعراض له ضیافته دالله ﷻ راځی او اعراض له ضیافته دالله ﷻ حرام ده لهذا دیوم النحر دروژی اتمام مستلزم وارتکاب دحرام ته ده بی له کراهته اتمام ممکن نه ده لهذا په یوم النحر کښی دنفلی روژی له شروع ورسته اتمام لازم نه ده.

وَمِن هذَا النَّوعِ وَطئُ الحَائِض فَانَّ النَّهیَ عَن قربَا نهَا باعتبَارِ الاَ ذی لقَولِه تَعَا لی یَسئَلُونَکَ عَنِ المَحِیضِ قُل هُوَ اَذیً فَاعتَزِلو النِّسَاءَ فِی المَحِیضِ وَلَا تَقرَ بُو هُنَّ حَتّٰی یَطهُرنَ

ترجمه : دحائضي وطی هم له دی نوع څخه ده له دی وجه چی حائضي ته د ورنږدی کیدلو منع داذی په وجه ده ځکه چی الله تعالی ﷻ فرمائي ؛ خلک له تاڅخه دحیض په باره کښی سوال کوی ته ورته ووایه چی هغه ګندګی ده په حالت دحیض کښی له ښځو لری ګرزی مه ورنږدی کیږی ترهغه وخته چی دوی پاکی شی.

تشریح : داعبارت دیو سوال لپاره جواب ده.

سوال : داده تاسووویل چی له افعال حسیه وڅخه نهی داتقاضی کوی چی مهنی عنه قبیح لعینه ده نه داصل اونه دوصف په اعتبار مشروع ده اوحال داده چی موږ لیدلی دی چی وطی یوحسی فعل ده اوپه حالت دحیض کښی منهی عنه ده اوله دی سره سره په حالت دحیض کښی له ښځی سره وطی کول قبیح لغیره ده یعنی داصل په اعتبار مشروع ده اودوصف یعنی اذی په اعتبار غیر مشروع ده ؟

جواب : مصنف رحمہ اللہ جواب ورکوی چی په حالت دحیض کښی وطی قبیح لغیره ده یعنی که څ هم فعل حسی ده لیکن د اذی په وجه مهنی عنه ده داصل په اعتبار منهی عنه نه ده حاصل داده چی له فعل حسی څخه نهی ددی تقاضی کوی چی منهی عنه قبیح لعینه ده لیکن که ددی پرخلاف قرینه موجوده وه نوپه دی صورت کښی نهی له فعل حسی څخه هم پردی دلالت کوی چی منهی عنه قبیح لغیره ده لکه په مذکوره مثال کښی .

وَلِهذَا قُلنَا يَتَرَتَّبُ الأَحكَامُ عَلَى هذَا الوَطيءِ فَيَثبُتُ بِهِ احصَانُ الوَطى وَتَحِلُ المَرأَةُ لِلزَّوجِ الأَوَّلِ وَيَثبُتُ بِه حُكمُ المَهرِ وَالعِدَّةِ وَالنَّفَقَةِ وَلَو امتَنَعَت عَنِ التَّمكِينِ لَأَجلِ الصَّدَاقِ كَانَت نَاشِزَةً عِندَهُمَاتَستَحِقُ النَّفَقَةَ وَحُرمَةُ الفِعلِ لَا تُنَافِي تَرَتُّبَ الأَحكَامِ كَطَلَاقِ الحَائِضِ وَالوُضُوءِ بِالمِيَاهِ المَغصُوبَةِ وَالاصطِيَادِ بِقَوسٍ مَغصُوبَةٍ وَالذَّبحِ بِسِكِّينٍ مَغصُوبَةٍ وَالصَّلوةِ فِى الأَرضِ المَغصُوبَةِ وَالبَيعِ فِى وَقتِ النِّدَاءِ فَانَّهُ يَتَرَتَّبُ الحُكمُ عَلَى هذِهِ التَّصَرُّفَاتِ مَعَ اشتِمَالِهَا الحُرمَةَ .

ترجمه :اوله دی وجه موږ وایو چی دحائضي پر وطی باندی احکام مرتب کیږی ځکه په دی سره د واطی احصان ثابتیږی اوپه دی سره ښځه حلا لیږی اول خاوند ته اوپه دی سره حکم دمهر اودعدی اودنفقی اوکه دی له قدرت ورکولو څخه منع وکړه دمهرپه وجه دصاحبین په نزد ناشزه ده لهذا دنفقی مستحقه نه ده اوحرمت دفعل له ترتب داحکامو سره منافی نه ده لکه دحائضي طلاق اوپه مغصوبه اوبو سره اودس اوپه مغصوبه لیندی سره ښکار اوپه مغصو به چاړه سره ذبح کول اوپه مغصوبه ځمکه کښی لمونځ کول اوداذان دجمعی په وخت کښی خرید وفروخت کول ځکه پردی تصرفات حکم مرتب ده سره له دی چی داتصرفات مشتمل پرحرمت دی .

تشریح : مصنف رحمہ اللہ وائی چی له حائضي ښځی سره وطی چونکه منهی عنه لغیره ده اولذاته منهی نه ده له دی وجه موږ وایو چی دحائضي ښځی پروطی باندی احکام مرتب کیږی مثلاً که یوشخص

له خپلې ښځې سره په حالت دحيض کښې وطي وکړې اوتر دې مخکې ئې له دې سره وطي نه وې کړې نو ددې وطي په وجه داواطي محصن ده که ئې له دې وروسته زناوکړه دده حدرجم ده ددې مسئلې تفصيل داده چې که زاني محصن وو هغه رجم کيږي اوکه غيرمحصن وؤ په درو وهل کيږي او درجم لپاره احصان داده چې زاني به حروي عاقل بالغ به وي مسلمان به وي له خپلې ښځې سره به ئې په حلاله طريقه سره وطي کړې وي نو که يو شخص له خپلې ښځې سره اول ځل وطي په حالت دحيض کښې وکړې په دې سره داشخص محصن ده ځکه داوطي که څه هم د اذى په وجه حرامي دی اوغير مشروع دی ليکن دخپل اصل اوذات په اعتبار مشروع دی نو هرکله چې داسې شو نوداوطي حلالي دی اودخول حلال ده دحلال وطي اودخول په وجه واطي محصن کيږي لهذا له حائضي ښځې سره په وطي کولوسره هم محصن ده اوهمدارنګه که ښځه په درې طلاقه طلاقه شوې وه اوعده ئې تيره وه اوله دويم خاوند سره ئې نکاح کړې وه اودويم خاوند په حالت دحيض کښې وطي ورسره وکړې اوبيائې طلاق ورکې دابنځه اول خاوند ته حلاله ده اوهمدارنګه ددې وطي په وجه پرخاوندباندې پوره مهر واجبيږي اوکه خاوند له دې وطي ورسته طلاق ورکې پرښځه باندې دارنګه عده واجب ده لکه څرنګه پربله موطؤ مطلقه باندې واجب ده اودښځې له طرفه چونکه خاوند ته بضع تسليم شوی ده له دې وجه پرده نفقه واجب ده مصنف رحمه الله فرمائي که چيرې له ښځې سره په حالت دحيض کښې وطي وشي اوبيادحيض له تيريدو ورسته دوهم ځل له وطي منع وکړې په دې وجه چې خاوند مهر نه ده اداء کړې دصاحبين په نزد ناشزه ده اودنفقې مستحقه نه ده لکه څرنګه چې بې له حالت دحيض څخه له يوځل وطي کولو ورسته دوهم ځل په منع کولوسره ناشزه بلل کيږي اومستحقه دنفقې نه وي .اصل مسئله داده چې مهر دښځې حق ده لکه ثمن چې دبايع حق ده نولکه څرنګه چې بايع ته دمبيعي دبندلواجازه شته ترهغه وخته چې مشتري ثمن ورکوي همدارنګه ښځې لره اجازه شته دنه قدرت ورکولو ترهغه وخته چې خاوند مهر ورکوي ليکن که بايع مبيعه تسليم کړه اومشتري ثمن نه وي ورکړې له دې ورسته بايع ته دمبيعي دبندلواجازده نشته ځکه بايع دمبيعي په سپارلوسره حق دبندولوساقط کې اوداقاعده ده الساقط لايعود ساقط کړې شوی شی نه راګرزي همدارنګه ښځې په حالت دحيض کښې بضع سپارلی ده اوداشرعاً معتبره ده لکه موږ چې وويل په حالت دحيض کښې وطي دخپل ذات اواصل په اعتبار حلالي دی نودې ښځې چونکه دبضع دمنع کولوحق ساقط کړې ده له دې وجه دوهم ځل دنه قدرت ورکولوحق نه لرې نوکله چې دې لره دوهم ځل دقدرت دنه ورکولوحق نشته نودقدرت په نه ورکولودې ته ناشزه ويل کيږي اوناشزه مستحقه دنفقې نه ده لهذا دلته هم مستقحقه دنفقې نه ده .

حضرت امام اعظم ابوحنيفه واني چې دابنځه مستحقه دنفقې ده اوپه دې عبارت وحرمة الفعل سره مصنف رحمه الله ديوسوال جواب کوي .

سوال : داده چې په حالت دحیض کښې وطې حرامې دی اوحکم شرعي یونعمت ده اویوحرام فعل اومعصیت دنعمت اوکرامت سبب نشي کیدای نوپه حالت دحیض کښې پر وطې څنګه داحکام مشروعیه وؤ سبب کیږي ؟

جواب : داده چې دفعل حرمت داحکامو له اثبات سره منافی نه ده یعنی په حرام فعل سره شرعاً احکام ثابتیږي مثلا ښځې ته په حالت حیض کښې طلاق ورکول حرام اومعصیت ده لیکن پردې باندې احکام شرعیه مرتب کیږي یعنی په دې طلاق سره فرقت ثابتیږي اوپر ښځه عده واجب کیږي لکه څرنګه چې په مباح طلاق سره دااحکام ثابتیږي اوهمدارنګه لکه څرنګه چې په غصب شوو اوبواودس حرام ده لیکن احکام شرعیه پرمرتب کیږي یعنی په دې اودس سره لمونځ کول جائز ده اوقرآن ویل هم جائز اولکه څرنګه چې په غصب شوې لیندې سره ښکارکول حرام لیکن پردې احکام شرعیه مرتب کیږي یعنی په دې لیندې سره ښکارکړشوي شي حلال ده اوهغه شي دښکاري ملک ده اوهمدارنګه په غصب کړشوي چاړه سره ذبح کول حرام ده لیکن پردې باندې احکام شرعیه مرتب کیږي یعنی دمذبوح حلال والي او همدارنګه په غصب کړشوي ځمکه کښې لمونځ کول حرام ده لیکن پردې باندې جواز دصلوٰة مرتب ده اوهمدارنګه دجمعي داذان په وخت کښې بیع حرامه ده لیکن دبیع احکام پرمرتب دی یعنی مشتري مالک دمبیعی جوړیدای شي او دتصرف حق پکښې لري ته فکروکړه چې مذکوره ټول تصرفات حرام دي لیکن احکام شرعیه پرمرتب دی نوپه حالت دحیض کښې که څه هم وطې حرامې دی لیکن احکام شرعیه پرمرتب کیږي

وَباعتبار هٰذا الاَصل قُلنَا فِی قَولِه تَعَالٰی وَلَاتَقبَلُو الَهُم شَهَادَةً اَبَدًا اِنَّ الفَاسِق من اَهلِ الشَّهَادَةِ فَینعَقِدُ النِّکَاحُ بِشَهَادَةِ الفُسَّاقِ لِاَنَّ النَّهیَ عن قَبُولِ الشَّهَادَةِ بِدُونِ الشَّهَادَةِ مُحَالٌ وَاِنَّمَا لَم تُقبَلَ شَهَادَتُهم لِفَسَادٍ فِی الاَدَاءِ لَا لِعَدَمِ الشَّهَادَةِ اَصلاً وَعَلٰی هٰذا لَایَجِبُ عَلَیهِمُ اللِّعَانُ لِاَنَّ ذَالِکَ اَدَاءُ الشَّهَادَةِ وَلَا اَدَاءَ مَعَ الفِسقِ .

ترجمه : اوددې اصل په اعتبار دالله ﷻ ددې قول ولاتقبلوالهم شهادة ابدا په باره کښې وایو چې فاسق اهل دشهادت ده لهذا دفساق په شاهدۍ نکاح منعقده کیږي ځکه قبول دشهادت بې له شاهدۍ محال ده اودا شهادت دداسې فساد په وجه مقبول نه ده چې هغه فساد په اداء کښې ده له دې وجه نه چې دې باالکل اهل دشاهدۍ نه ده اوبناء پردې باندې لعان پرواجب نه ده ځکه لعان اداء کول ده اوله فسقه سره اداء دشهادت نه وي.

تشریح : مصنف رحمه الله وائي موږ چې کوم وخت دا اصول بیان کړه چې نهی له افعال شرعیه وؤ ددې تقاضې کوي چې منهی عنه دخپل اصل اوذات په اعتبار مشروع ده ددې پربنیاد باندې موږ وایو چې دالله ﷻ له دې قول ولاتقبلوالهم شهادة ابدا څخه معلومیږي چې فاسق اهل دشهادت ده نوکه یوشخص له یوې ښځې سره ددوفاسقوشاهدانوپه حضور کښې نکاح وکړه نکاح منعقده ده حتی

که زوجین قاضی ته خبر ورکړی چی موږ دوؤ د دوؤ فاسقو شاهدانو په حضور کښی نکاح وکړه پرقاضی واجبه ده چی هغی نکاح ته قرارورکړی فسخ ئی نه کړی دلیل ئی داده چی په آیت کښی نهی له قبول دشهادت څخه راغلی ده اودشهادت له قبول څخه منع کول بی له وجوده دشاهدی محاله ده ځکه قبول دشی اونه قبول دشی له وجود څخه ورسته متصورکیږی اوکه شی بالکل موجودنه وی دهغه دقبول اونه قبول سوال نه پیداکیږی حاصل داده چی له قبول دشاهدی څخه نهی کول بی له وجوده دشاهدی محاله ده بلکه دقبول دنهی لپاره داضروری ده چی شاهدی به موجوده وی نوکله چی داسی وؤ نوداثابته شوه چی محدودین فی القذف یعنی فساق اهل دشاهدی دی یعنی په دوی کښی اهلیت دشاهدی شته که څه هم ئی شاهدی نه قبلیږی اوپه نکاح کښی چونکه صرف اهلیت کافی وؤ له دی وجه دفساق په شهادت نکاح منعقده کیږی.

سوال: په آیت کښی منهی عنه قبول دشهادت ده اوبیان کړی شوی اصول داتقاضی کوی چی قبول دشهادت دذات اواصل په اعتبار مشروع ده اودوصف په اعتبار غیر مشروع ده نوباید دفساق شاهدی دنورو په حق کښی قبوله کړه شی اوحال داده چی تاسو دفساقو شاهدی نه قبلوی اوکه تاسو دا وواياست چی دفساق شاهدی من کل وجه باطله ده داصل په اعتبار مشروع ده اونه دوصف په اعتبار نوبیا بیان کړشوی مسائلی ددی اصولو له مقتضیاتو څخه نه دی.

جواب: داده چی دشاهدی قبول اونه قبول مستلزم واهلیت دشاهدی ته ده یعنی دشاهدی قبول اونه قبول دې ته مستلزم ده چی په دی کښی اهلیت دشاهدی شته نوهرکله چی داسی شوه نوداثابته شوه چی نهی له قبول دشاهدی نهی ده له اهلیت دشاهدی څخه یعنی په آیت کښی که څه هم نهی وارده ده پرقبول دشهادت لیکن دااهلیت دشاهدی نهی هم ده اونهی له اهلیت دشاهدی څخه ددی تقاضی کوی چی اهلیت دشاهدی داصل اوذات په اعتبار مشروع ده نومذکوره مسئله ددی اصولو له مقتضیاتو په دی طریقه شوه.

<u>واننالم تقبل الخ</u> په دی عبارت سره دیو سوال جواب کوی.

سوال: داده فساق چی کله اهل دشاهدی شونوباید ددوی شاهدی قبوله کړشی اوحال داده چی ددوی شاهدی نه قبلیږی ددی څه وجه ده؟

جواب: مصنف رحمه الله داجواب ورکوی چی دفساقو شاهدی نه قبلول له دی وجه ده چی په شاهدی کښی فساد ده هغه داده چی امکان دکذب شته یعنی کله چی ددوی په شاهدی کښی امکان دکذب وو له دی وجه ددوی شاهدی نه قبلیږی له دی وجه نه ده چی په دوی کښی اهلیت دشاهدی نشته نوکله چی ددوی شاهدی نه قبلیږی له دی وجه پردوی لعان هم واجب نه ده ځکه لعان دشاهد داداء نوم ده اوفاسق داداء دشاهدیٰ اهل نه ده تفصیل داده که یوشخص پرخپلی ښځي دزنا تهمت ووایو اوله دی څخه دپیدکړی شو بچی نفی ئی وکړه دوی دواړه داداء دشاهدی اهل وؤ اوښځي ددی

مطالبه وکړه چې پرمادی زناثابته کړی که ئی ثابته نه کړه لعان دی وکړی له دی مطالبی ورسته پرخاوندباندی لعان واجب ده دلعان صورت داده چې خاوند به اول ځل څلورقسمونه کوی اودابه وائی چې زه په خپل دی قول کښی صادق یم چې دی زناکړی ده اوپنځم وار به داوائی که مادروغ ویل نو پرمادی دالله ﷻ لعنت وی اوبیابه ښځه څلورځله قسم خوری اودابه وائی چې دی په دی قول کښی چې ماته ئی دزنانسبت کړی ده کاذب ده اوپنځم وار به واوائي که دی په خپل قول کښی چې ماته ئی دزنانسبت کړی ده صادق وؤ نو پرمابه دالله ﷻ غضب وی دالعان دنرپه حق کښی دقذف قائم مقام ده دښځي په حق کښی دحد زنا قائم مقام ده اوله لعانه ورسته ښځه پرخاوند حرامه ده طلاق به ورکوی که هغه نه وؤ بیابه قاضی ددوی په مینځ کښی تفریق راولی اودا تفریق بائن طلاق ده اولعان پرخاوند باندی هغه وخت واجب ده چې دی فاسق نه وی که فاسق وؤ زنا ئي نه وه ثابته کړی پرده باندی حد قذف واجب ده.

فصلٌ فی تَعریف طَریق المُراد بالنَّصوص اعلَمَ اَنَّ لِعَرفَة المُرَاد با لنَّصُوص طُرُقًا منهَا اَنَ اللَّفظ اذَا كَانَ حَقِيقَةً لِمَعنًى وَمَجَازًا لِاٰخَرَ فَالحَقِيقَةُ اَولى مِثَالُهُ مَاقَالَ عُلَمَاءُ نَا اَلبِنتُ المَخلُوقَةُ من مَا ءِ الزِّنَا يَحرُمُ عَلَى الزَّانِى نِكَاحُهَا وَقَالَ الشَّافعىُ رحمه الله يَحِلُ وَالصَّحِيحُ مَا قُلنَا لِاَنَّهَا بِنتُهُ حَقِيقَةً فَتَدخُلُ تَحتَ قَولِه تَعَالى حُرِّمَت عَلَيكُم اُمَّهَا تُكُم وَبَنَا تُكُم وَيَتَفَرَّعُ مِنهُ الاَحكَامُ عَلَى المَذهَبَينِ من حِلِ الوَطئِ وَوُجُوبِ المَهرِ وَلُزُومِ النَّفَقَةِ وَجَرَيَانِ التَّوَارُثِ وَوِلَايَةِ المَنعِ عَنِ الخُرُوجِ وَالبُرُوزِ.

ترجمه : په دی فصل کښی دنصوصودمراد طریقه پیژندل کیږی پوسه چې دنصوصودمراد دپیژندلو ډیری طریقی دی یوه طریقه داده چې که لفظ په یوه معنی کښی حقیقت وؤ اوپه بله کښی مجاز وؤ نو حقیقت اولی ده مثال ئی هغه ده چې زموږ علماء ویلی ده چې دزنا څخه پیداشوی نجلی سره دزانی نکاح حرامه ده اوامام شافعی وائی چې نکاح ئي حلاله ده اوصحح هغه ده چې موږ وویل له دی وجه چې هغه حقیقتاً دزانی لورده لهذا دالله ﷻ تردی قول حرمت علیکم امهاتکم وبناتکم لاندی ده او له دی څخه ددواړو مذهبو احکام راوزی یعنی دوطی حلال والی اودمهر واجب والی اولزوم دنفقی اومیراث جاری کیدل اوله تلوراتلو څخه دبندولو دولایت حاصلیدی.

تشریح : مصنف رحمه الله دافصل تتمه په شکل ذکر کوی په دی طریقه کله چې مصنف رحمه الله د تقسیمات اربعه له بیانوفارغه شو اوس دابیانول غواړی چې دنصوصویعنی آیاتواواحادیثو دمراد دپیژندلو کومه طریقه ده لکه دی چې وائی چې دنصوصو دمراد دپیژندلو ډیری طریقی دی یوه طریقه داده چې که لفظ په یوه معنی کښی حقیقت وؤ اوپه بله کښی مجاز وؤ نو ددی لفظ حقیقی معنی مراد کول اوپه هغه باندی عمل کول اولی ده پردی لفظ باندی یوسوال کیږی.

سوال: داده چې که د مجاز پرمراد داسې قرینه موجوده وه چې هغه مانع له حقیقت څخه وه نو په دې صورت کښې په مجاز سره عمل کول واجب ده نو مصنف رحمه الله د دې قول فالحقیقت اولی څه معنی ده ؟

جواب : داده چې دلته اولی د یجب په معنی سره ده او دا یادلره چې په حقیقت سره هغه وخت عمل کول واجب ده چې د معنی حقیقي لپاره مرجع وی او مجاز متعارف نه وی ځکه که مجاز متعارف وی په دې صورت کښې د امام صاحب رحمه الله اودصاحبین په مینځ کښې اختلاف ده چې وړاندې مورِ درته ذکر کی حاصل داده کله چې لفظ په یوه معنی کښې حقیقت وی او په بله کښې مجازی وی نو په حقیقت سره عمل کول واجب ده مثال ئې هغه انجلی ده چې د زنا له اوبو څخه پیدا شوی وی داحناف په نزد له زانی سره ئې نکاح کول جائز نه ده او د امام شافعی رحمه الله په نزد ئې نکاح صحح ده داختلاف بیناء پردې ده چې دزنا له اوبو پیدا شوی نجلی تردې آیت حرمت علیکم امهتکم وبناتکم لاندې ده او که نه ده ؟

امام شافعی رحمه الله وائی نه ده داخله نو چې دده په نزد داخله نشوه نوله زانی سره ئې نکاح کول حرام نه ده او احناف وائی داخله ده لهذا د ثابت النسب نجلی رنګه ددی نکاح هم له زانی سره حرامه ده دامام شافعی رحمه الله دلیل داده چې په آیت کښې له بنات څخه مراد هغه دی چې د دوی نسب د دوی له پلاره ثابت وی او د دغې نجلی نسب چونکه له زانی څخه ثابت نه ده له دې وجه دا نجلی ترمذکوره آیت لاندې نه ده نو هر کله چې له زنا څخه پیدا کړ شوی نجلی ترمذکوره آیت لاندې نه ده نو د زانی نکاح له دې سره هم حرامه نه ده.

او داحناف دلیل داده چې لفظ د بنت د هغې نجلی لپاره استعمالیږی چې دیو چاله نطفې څخه پیدا شوی وی که ئې نسب له هغه ثابت وی او که نه وی او مجازا د هغې نجلی لپاره استعمالیږی چې د هغې نسب له هغه څخه ثابت وی او مورِ دا بیان کړه چې د لفظ حمل پرمعنی حقیقي باندې اولی ده لهذا ترمذکوره آیت هرقسم نجونې داخلې دی او له دوی سره د واطی نکاح حرامه ده مصنف رحمه الله وائي چې صحح مذهب هغه ده چې مورِ وویل ځکه له زنا څخه پیدا شوی نجلی د هغه زانی حقیقتاً هم لور ده او عرفاً هم او استعمالاً هم لهذا ترمذکوره آیت لاندې ده او د واطی نکاح ورسره حرامه ده مصنف رحمه الله وائی چې د دې اختلاف پربنیاد د دواړو مذهبو مطابق احکام تفریع کیږی هغه دادی چې دامام شافعی رحمه الله په نزد د زانی له نطفې څخه پیدا شوی نجلی سره له نکاح ورسته وطی جائز دی او پر ده باندې مهر واجب ده او نفقه واجب ده او د دوی په مینځ کې میراث جاری ده او زانی ته داحق ثابت ده چې داله کوره بهر وتلو څخه بنده کړی لیکن داحناف په نزد چونکه دا نکاح منعقده نه ده له دې وجې زانی ته ئې وطی جائز نه دی او نه پرده باندې مهر واجب ده او نه نفقه واجب ده او نه د دوی په مینځ کښې میراث جاری کیږی او نه زانی داله کوره بهر وتلو څخه منع کولای شي.

وَمنها اَنَّ اَحَدَ المُحتَمَلَين اذَا وَجَبَ تَخصِيصًا فِى النَّصِّ دُونَ الاخرِ فَالحَملُ عَلَى مَالَا يَستَلزِمُ التَّخصِيصَ اَولٰى مِثَالُهُ فِى قَولِه تَعَالٰى اَولَا مَستُمُ النِّسَاءَ فَالمُلَامَسَةُ لَو حُمِلَت عَلَى الوِقَاعِ كَانَ النَّصُّ مَعمُولاً بِه فِى جَمِيعِ صُوَرِ وُجُودِه وَلَو حُمِلَت عَلَى المَسِّ بِاليَدِ كَانَ النَّصُّ مَخصُوصًا بِه فِى كَثِيرٍ مِنَ الصُّوَرِ فَاِنَّ مَسَّ المَحَارِمِ وَالطِّفلَةَ الصَّغِيرَةَ جِدًّا غَيرُ نَاقِضٍ لِلوُضُوءِ اَصَحَّ قَولَى الشَّافِعِىِّ وَيَتَفَرَّعُ مِنهُ الاَحكَامُ عَلَى المَذهَبَينِ مِن اِبَاحَةِ الصَّلٰوةِ وَمَسِّ المُصحَفِ وَدُخُولِ المَسجِدِ وَصِحَّةِ الاِمَامَةِ وَلُزُومِ التَّيَمُّمِ عِندَ عَدَمِ المَاءِ وَتَذَكُّرِ المَسِّ فِى اَثنَاءِ الصَّلٰوةِ

ترجمه: اوله دی طریقو څخه یوه داده که چیری له دوؤ احتماله وو یوه تخصیص دنص واجبوی اوبل نه واجبوی نوعمل پرهغه باندی اولی چی مستلزم تخصیص لره نه وی ددی مثال دالله ﷻ قول اولامستم النساء ده که ملامست حمل کړشی پرجماع باندی نونص په ټولو صورتو دجماع کښی معومل به ده اوکه پرمس بالید باندی محمول کړشی نونص په ډیروصورو پوری خاص کیږی له دی وجه چی دمحارمو اودکو چنیو نجونو مسح کول دامام شافعی رحمہ اللہ په اصح قول ناقض دوضونه ده اوپردی باندی ددواړه مذهبو مطابق احکام تفریع کیږی یعنی دلمانځه جواز دقرآن مسه کول مسجدته داخلیدل داماmت صحت په وخت دنیستی دابوکښی دتیمم لزوم اوپه دوران دلمانځه کښی دمس یادیدل.

تشریح: له ذکر شوطریقوڅخو دوهمه طریقه داده که چیری نص د دوو معنی ګانو احتمال لری اودیوی معنی په مراد کولو سره په نص کښی تخصیص نه راتلی اودبلی معنی په مراد سره په نص کښی تخصیص راتلی په داسی صورت کښی هغه معنی مراد کول بهتره ده چی تخصیص نه وی پکښی مثلاً په دی آیت اولامستم النساء کښی لفظ دلامستم ددوو معنی احتمال لری یودجماع دوهم مس باالید احناف ئی پرجماع حمل کوی اوشوافع ئی پرمس باالیه حمل کوی.

دشوافع دلیل: داده چی مس باالید دملامست حقیقی معنی ده اوجماع مجازی نوددی اصل پربنیا آیت محمول ده پرمس باالید.

داحناف دلیل داده چی لفظ ملامست چونکه دجماع اومس باالید دداوړو احتمال لری که پرجماع حمل کړی په آیت کښی هیڅ تخصیص نه راځی ځکه دجماع هرصورت دطهارت صغری اوطهارت کبری لپاره ناقض ده نوپه دی صورت کښی نص په ټولوصورتودجماع کښی معمول به ده یوصورت هم نه ترک راځی اونه ابطال اوکه پرمس باالید باندی حمل کړشی په دی صورت کښی دمس باالید په بعض صورتوپوری خاص کیږی ځکه دمحرمو ښځواوډیرکوچنیونجونومس کول دامام شافعی په اصح مذهب ناقض داوداسه نه ده نوپه دی صورت کښی مس باالید په ټولوصورتوکښی معمول به نشوه اودااصل موږ ذکر کی چی کوم احتمال دنص چی مستلزم تخصیص لره نه وی دهغه احتمال مرادکول اولی ده لهذا دلته هم ملامست پرجماع باندی حمل

کول اولی ده مصنف رحمہ اللہ وائی داحناف اوشوافع پراختلاف باندی پردوارومذهبوباندی مطابق مسائلی تفریع کیږی مثلاً که یواودس کونکی شخص ښځه په لاس سره مسه کړه داحناف په نزد اودس نه ماتیږی اودشوافع په نزد اودس مات ده لهذا په دغه اوداسه سره داحناف په نزد لمونځ کولای شی قرآن مسه کولای شی بی له کراهته مسجدته ورتلای شی اوامامت ورکولای شی اودشوافع په نزد چونکه اودس مات ده لهذا ددوی په نزدمذکوره شیان جائزنه دی اوهمدارنګه که یواودس لرونکی شخص یوښځه مسه کړه اوبیا په دوران دلمانځه کښی مسه وریاده شوه یعنی داوریاد شوه چی ماخوله اوداسه ورسته ښځه مسه کړه اوحال داوی چی داشخص داوبو پراستعمال قادرنه وی دامام شافعی رحمہ اللہ په نزد په دواړو صورتوکښی پردی شخص تیمم لازم ده اوداحناف په نزدتیمم لازم نه ده بلکه په مخکښی اودس سره ئی لمونځ جائزده.

وَمِنهَا اَنَّ النَّصَّ اذَا قُرِئَ بِقِرَاءَ تَينِ اَو رُدِيَ بِرِ وَايَتَينِ كَانَ العَمَلُ بِه عَلى وَجه يَكُونُ عَمَلًا بِالوَجهَينِ اَولى مِثَالُهُ فِي قَولِه فِي تَعَالى وَارجُلَكُم قُرِئَ بِالنَّصبِ عَطفًا عَلَى المَغسُولِ وَ بِالخَفضِ عَطفًا عَلَى المَمسُوحِ فَحُمِلَت قِرَاءَ ةُ الخَفضِ عَلى حَالَةِ التَّخَفُّفِ وَقِرَاءَ ةُ النَّصبِ عَلى حَالَةِ عَدمِ التخَفُّفِ وَبِاعتِبَارِ هذَا المَعنى قَالَ البَعضُ جَوَازُ المَسحِ ثَبَتَ بِالكِتَابِ

ترجمه: اوله دی طریقوڅخه یوه طریقه داده چی که نص په دوه قرأته سره ویل کیدی اویاپه دوه روایته سره روایت شوی وو په نص باندی په داسی طریقه عمل کول اولی ده چی ددواړوعمل ته شامل وی مثال ئی دالله ﷻ داقول ؛ وارجلکم ؛ ده که په نصب سره وویل شی معطوف پرمغسول باندی ده اوپه جر سره پرممسوح باندی عطف ده نودجر په قرأت سره دموزی په پښه کولوپرحالت باندی عطف ده اودنصب پرقرأت باندی دنه په پښه کولو پرحالت باندی حمل ده اوددی معنی په اعتبار بعض حضرات وائی چی جواز دمسح په کتاب الله سره ثابت ده.

تشریح: له مذکوره طریقو څخه یوه طریقه داده که نص پردوه قرأته ویل کیدی اویایوحدیث په دوه روایته روایت شوی وؤ نوپه دی نص سره په داسی طریقه عمل کول کیږی چی په دواړه صورته سره عمل وشی مثلاً په آیت دوضوء کښی لفظ ؛ دارجلکم ؛ که پروجوهکم عطف شی منصوب ویل کیږی اوکه پرروٴسکم عطف شی مجرور ویل کیږی دنصب دقرأت تقاضی داده چی دپښوپریول مطلقاً فرض ده که پرپښوموزی وی اوکه نه وی اودقرأت دجرتقاضی داده چی دپښومسح فرض ده که موزی وی اوکه نه وی لیکن دمذکوره اصولومطابق موږپه دواړو عمل کوو هغه داده چی قرأت دجر پرهغه حالت حمل کوو چی پرپښوباندی موزی وی اوقرأت دنصب پرهغه حالت باندی حمل کوو چی موزی نه وی دقرأت دجر دموزو پرحالت حمل کولوپه وجه بعض حضرات وائی چی مسح علی الخفین په کتاب الله سر ثابته ده که څه هم اکثر حضرات داوائي چی جواز دمسح علی الخفین په احادیثومتواتر باندی ثابته ده اود ارجلکم عطف پرروٴسکم باندی دقرب اوجوار په وجه ده دی

ته جر جوار وائی یعنی ارجلکم چونکه دمجرور په څنګ کښې ده له دې وجه جر ورکړشوی ده له دې وجه نه ده ورکړشوی چې پرروٴسکم باندې عطف ده.

وَكَذٰلِكَ قَوْلُهٗ تَعَالٰى حَتّٰى يَطْهُرْنَ قُرِئَ بِالتَّشْدِيْدِ وَالتَّخْفِيْفِ فَيُعْمَلُ بِقِرَاءَةِ التَّخْفِيْفِ فِيْمَا اِذَا كَانَ اَيَّامُهَا عَشَرَةً وَبِقِرَاءَةِ التَّشْدِيْدِ فِيْمَا اِذَا كَانَ اَيَّامُهَا دُوْنَ الْعَشَرَةِ وَعَلٰى هٰذَا قَالَ اَصْحَابُنَا اِذَا انْقَطَعَ دَمُ الْحَيْضِ لِاَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ اَيَّامٍ لَمْ يَجُزْ وَطْئُ الْحَائِضِ حَتّٰى تَغْتَسِلَ لِاَنَّ كَمَالَ الطَّهَارَةِ يَثْبُتُ بِالْاِغْتِسَالِ وَلَوِ انْقَطَعَ دَمُهَا لِعَشَرَةِ اَيَّامٍ جَازَ وَطْيُهَا قَبْلَ الْغُسْلِ لِاَنَّ مُطْلَقَ الطَّهَارَةِ ثَبَتَ بِانْقِطَاعِ الدَّمِ وَلِهٰذَا قُلْنَا اِذَا انْقَطَعَ دَمُ الْحَيْضِ لِعَشَرَةِ اَيَّامٍ فِيْ اٰخِرِ وَقْتِ الصَّلٰوةِ تَلْزَمُهَا فَرِيْضَةُ الْوَقْتِ وَاِنْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الْوَقْتِ مِقْدَارُ مَاتَغْتَسِلُ فِيْهِ وَلَوِ انْقَطَعَ دَمُهَا لِاَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ اَيَّامٍ فِيْ اٰخِرِ وَقْتِ الصَّلٰوةِ اِنْ بَقِيَ مِنَ الْوَقْتِ مِقْدَارُ مَا تَغْتَسِلُ فِيْهِ وَتُحَرِّمُ لِلصَّلٰوةِ لَزِمَتْهَا الْفَرِيْضَةُ وَاِلَّا فَلَا.

ترجمه: اوهمدارنګه دالله ﷻ قول حَتّٰى يَطْهُرْنَ په تشديد اوتخفيف سره ويل کيږي په قرأت دتخفيف سره په هغه صورت کښې عمل کيږي چې دحائضې دحيض ورځې لس وی اوپه قرأت دتشديد هغه وخت عمل کول کيږي چې دحائضې دحيض ورځې ترلس کمې وی اوبناء پردې باندې زمونږ داحناف علماء وائی که دحيض وينه ترلس ورځې کمه ودريده له حائضې سره وطی کول جائزنه ده ترهغه وخته چې دی غسل نه وی کړی ځکه کامل طهارت ثابت په غسل سره وی اوکه ئې وينه پرلس ورځې ودريده نوترغسل مخکې وطی ورسره جائز دی ځکه مطلق طهارت ثابت ده دوينې په قطع کيدوسره اوله دې وجه مونږ وايو که پرلس ورځې په آخروخت دومره مقدار پاته نه وی چې داغسل پکښې کوی اوکه ترلس ورځې کم په آخر وخت کښې وينه ودريده نوکه دوخت دومر اندازه پاته وه چې داغسل پکښې کوی اودلمانځه لپاره تحريمه پکښې کوی نوپردی دوخت فرض لمونځ لازم ده اوکه دومره مقدار نه وؤ نه دلازم.

تشريح: مصنف رحمه الله وائی ددوؤ قرأتودعمل يومثال دحائضو ښځوپه باره کښې داقول دالله ﷻ وَلَاتَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ده په دې آيت کښې دلفظ ديَطْهُرْنَ دوه قرأته دی يودطاء او هاء دتشديد قرأت ده اوبل دتخفيف ده په اول صورت کښې دافتعال اويادتفعُّل له بابه ده اوپه دوهم صورت کښې دنصرياذکرم له بابه ده په اول صورت کښې مطلوب مبالغه په طهارت کښې ده اوپه دوهم صورت کښې مبالغه مطلوب نه ده اوحائضې ښځې په باره کښې مبالغه په طهارت کښې داده چې دوينې له دريدو سره غسل وکړی اوکه صرف وينه ودريږی اوغسل نه وکړی په دې صورت کښې نفس طهارت شته ليکن په طهارت کښې مبالغه اوکمال نشته نوقرأت دتشديد داتقاضی کوی چې له حائضې سره دوينې له بنديدو ورسته اوتر غسل مخکې جماع کول حلال نه ده اودتخفيف قرأت داتقاضی کوی چې دوينې له دريدو ورسته ترغسل مخکې جماع حلاله ده ددې دواړو په مينځ کښې تعارض ښکاره ده نومونږپه دواړو سره عمل کوو په دې طريقه دتشديد په قرأت سره هغه

وخت عمل کوو چې وینه کم تر لس ورځې ودریږی او په قرأت دتخفیف هغه وخت عمل کوو چې وینه پرلس ورځې دریږی بناء پر دی باندی زمونږ علماء وائی که دښځې وینه ترلس ورځې کم ودریږی نوترغسل مخکې وطی ورسره جائز نه دی ځکه دتشدید په قرأت کښې مطلوب کامل طهارت ده اوکامل طهارت په غسل سره راځی لهذا تر غسل وړاندی جماع جائزنه ده اوکه پوره پرلس ورځې وینه بنده شوه نوترغسل مخکې جماع جائزده ځکه دتخفیف په قرأت سره مطلوب مطلق طهارة ده اومطلق طهارت دوینې په بندیدو سره راځی لهذا دوینې په دریدو سره ثابت ده له دی وجه مونږ وایوکله چې حیض پرلس ورځې په اخر وخت کښې ودریږی نوپردغې حائضې ددغه وخت فرض لمونځ لازم ده که څه هم وخت دومره مقدار باقی نه وی چې په هغه کښې غسل کیږی ددغه لمانځه قضاء پرواجب ده ځکه له دی څخه فرض لمونځ دتخفیف په وجه ساقط شوی وو نوهر کله چې حیض زائل شو نوبیرته دلمانځه راګرزی لازم اوپه قرأت دتخفیف باندی عمل چونکه په هغه وخت کی ده چې وینه پرلس ورځې باندی ودریږی لهذا پرلس ورځې دوینې په دریدوسره دوخت فرض لمونځ پردی لازم ده خواه که په دغه وخت کښې غسل کیدای شی اوکه نشی کیدای اوکه ترلس ورځې کم وینه په اخر وخت کښې ودریده نوکه دومره وخت باقی وؤ چې داغسل او تحریمه په کښې کوی لمونځ پرلازم ده که نه وؤ لمونځ لازم نه ده.

ثُمَّ نَذ كُرُ طَرَفًا مِنَ التَّمَسُّكَاتِ الضَّعِيفَةِ لِيَكُونَ ذالِکَ تَنبِيهاً عَلَى مَوَاضِعَ الخَلَلِ فِی هٰذَا النَّوعِ مِنهَا اَنَّ التَّمَسُّکَ بِمَارُوِیَ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَاءَ فَلَمْ یَتَوَضَّا لِاثبَاتِ اَنَّ القَیءَ غَیرُنَاقِضٍ ضَعِیفٌ لِاَنَّ الاَثرَیَدُلُّ عَلٰی اَنَّ القَیءَ لَا یُوجِبُ الوُضُوءَ فِی الحَالِ وَلَا خِلَافَ فِیهِ وَاِنَّمَا الخِلَافُ فِی کَونِهٖ نَاقِضًا.

ترجمه: اوبیامونږ دضعیف استدلال څوطریقې ذکر کوؤ یوه له هغو داده چې په هغه حدیث چې له نبی کریم ﷺ څخه مروی ده چې ده قی وکړی اوبیائی اودس نه وکی داسی استدلال کول چې قئ ماتونکې داوداسه نه ده دااستدلال ضعیف ده ځکه حدیث پردی دلالت کوی چې قئ فوراً اودس نه واجبوی په دی کښې هیڅ اختلاف نشته اختلاف په دی کښې ده چې ناقض داوداسه ده اوکه نه ده.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی مونږ دفاسدواستدلالاتو څوطریقې ذکرکوو مقصدداده چې په دی استدلالاتو کښې خلل اوفساد ښکاره شی له هغوڅخه یواستدلال داده چې امام شافعی رحمه الله له دی حدیث انه قاء فلم یتوضا څخه پردی استدلال کوی چې قئ ماتونکې داوداسه نه ده ځکه نبی کریم ﷺ قئ وکړاوبیا ئی اودس نه وکړ له دی څخه دامعلومیږی چې قئ ماتونکې داوداسه نه ده د دامام شافعی دا استدلال ضعیف ده دضعف وجه ئی داده چې حدیث صرف پردی خبره دلالت کوی چې قئ فی الحاله اودس نه واجبوی په دی کښې خوهیڅ اختلاف نشته اختلاف په دی کښې ده چې ایا قئ اودس ماتوی اوکه نه زمونږ په نزد واجب نه ده اودامام شافعی په نزد واجب ده په

دی حدیث سره دا نه ثابتیږي چې قئ ناقض د اوداسه ده او دلمانځه د کولو په وخت کښې اودس واجب ده نو هرکله چې په دی حدیث سره دانه ثابتیږي نو دامام شافعي استدلال له دغه حدیثه پردی باندی چې قئ ناقض داوداسه ده څنګه صحح کیږي اوحال داده چې ددی پرخلاف نور حدیثونه موجود دی مثلاً په ترمذی کښې له ابو الدردا ﷺ څخه روایت ده إن رسول الله صلى عليه وسلم قاء فتوضأ او همدارنګه په ابن ماجه کښې دحضرت عائشي رض څخه روایت قالت قال رسول الله صلى عليه وسلم من اصابه قئ او رعاف اوقلس اومذي فلينصرف فليتوضأ ثم ليبن على صلوته وهو في ذالك لايتكلم نبی کریم ﷺ وائی که چاته قئ اود پوزی وینه اومذی ورغله لمونځ دی پریږدی اودس دی وکړی او پرخپل لمانځه دی بنا وکړی تردی وخته چې خبری ئی نه وی کړی.

وَكَذَالِكَ التَّمَسُّكُ بِقَوْلِهِ تَعَالَى حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ لَا ثْبَاتِ فَسَادِ الْمَاءِ بِمَوْتِ الذُّبَابِ ضَعِيفٌ لِأَنَّ النَّصَّ يُثْبِتُ حُرْمَةَ الْمَيْتَةِ وَلَا خِلَافَ فِيهِ وَإِنَّمَا الْخِلَافُ فَسَادُ الْمَاءِ

ترجمه: او همدارنګه دالله ﷻ دقول حرمت عليكم الميتة په ذریعه مچ په مرګ سره فساد داوبو ثابتول ضعیف استدلال ده ځکه نص دمیتته دحرمت ثابتولو لپاره ده او په دی کښې هیڅ اختلاف نشته اختلاف داوبو په ناپاکی کښې ده.

تشریح: دضیعیف استدلال ددهم مثال داده چې بعض شوافع وائی که په اوبو کښې مچ ولویدی اومړ شو اوبه ناپاکی دی دلیل ئی داده چې په دی آیت حرمت عليكم الميتة کښې مردار ته حرام ویل شوی ده لهذا دمیتته دعموم په وجه مردار مچ هم حرام ده او حرمت چې په طریقه دکرامت نه وی هغه دنجاست علامه ده یعنی که یو شی حرام وو په طریقه دکرامت نه وؤ هغه دناپاکی علامه ده نو کله چې داسی ده نو مردار مچ هم ناپاکه ده له دی وجه دمردار مچ په لویدلو سره اوبه ناپاکی دی لیکن موږ وایو دا استدلال ضعیف ده له دی وجه چې په دی آیت سره صرف دا ثابیتیږي چې مردار حرام ده او په دی کښې هیڅ اختلاف نشته یعنی لکه څرنګه چې دوی مردار حرام بولی موږ ورته حرام وایو اختلاف په دی کښې ده چې دمردار مچ په لویدلو سره اوبه ناپاکه دی او که نه؟

زموږ په نزد ناپاکه نه دی او دشوافع په نزد ناپاکه دی موږ دوی ته جواب ورکوو چې له آیت څخه دمرار مچ حرمت ثابت ده لیکن دانه ده ثابت چې دده په لویدو سره اوبه ناپاکی دی ځکه دغه اصل مطلق نه ده چې که حرمت په طریقه دکرامت نه وؤ علامه دنجاست ده ځکه دخاوری خوړل حرام ده سره له دی چې دا حرمت په طریقه دکرامت هم نه ده لیکن له دی سره خاوره ناپاکه نه ده او همدارنګه هغه ماهی چې په اوبو کښې مړشي حرام ده او حرمت ئی په طریقه دکرامت نه ده مګر له دی سره ناپاکه نه ده او همدارنګه مردار که څه هم حرام ده او حرمت ئی په طریقه دکرامت نه ده علاالاطلاق ناپاکه نه ده بلکه هغه مردار حرام ده چې له هغه سره وینه خلط وی او مچ چې له لویه سره وینه نه لری نو له ده سره دوینی اختلاط هم نشته لهذا حرام ده ناپاکه نه ده.

وَكَذَالِكَ التَمَسُّكُ بِقَولِه عَلَيه السَّلَامُ حُتِّيه ثُمَّ اقرُصِيه ثُمَّ اغسلِيه بِالمَاءِ لِاثبَاتِ اَنَّ الخَلَّ لَايُزِيلُ النَجَسَ ضَعِيفٌ لِاَنَّ الخَبَرَ يَقتَضِي وُجُوبَ غَسلِ الدَّمِ بِالمَاءِ فَيَتَقَيَّدُ بِحَالِ وُجُودِ الدَّمِ عَلَى المَحَلِّ وَلَا خِلَافَ فِيهِ وَاِنَّمَا الخِلَافُ فِي طَهَارَةِ المَحَلِّ بَعدَ زَوَالِ الدَّمِ بِالخَلِّ.

ترجمه : همدارنگه دنبی کریم ﷺ ددی قول حتيه ثم اقرصيه ثم غسليه بالماء په ذریعه سره پردی باندی استدلال کول چی سرکه سره نجاست نه زائله وی ضعیف ده له دی وجه چی حدیث داتقاضی کوی چی دوینی پریول په ابو سره واجب ده نوحدیث په دی مقید ده چی پر محل به وینه وی اوپه دی کنبی اختلاف نشته اختلاف په دی کنبی ده چی په سرکه سره دوینی له زائلولو ورسته محل پاک ده که نه ده؟

تشریح : دضعیف استدلال دریم مثال داده چی دنبی کریم ﷺ په مذکوره قول سره دااستدلال کول چی په سرکه سره نجاست نه زائلیږی ضعیف ده په دی طریقه چی امام شافعی وائی چی نبی کریم دحضرت عائشی رض ته اویابنت ابی بکر ﷺ ته خطاب کوی وائی هغه وینه چی پرکپړه باندی ولګیږی دپاکولو طریقه ئی داده چی اول ځل ئی په لرګی یابل شی سره وتوږه اوبیائی په نوک وګیر وه اوبیائی په اوبو پرمینځه امام شافعی چی حدیث په غسل بالماء مقید کوی ددی اثبات په کوی چی په اوبو سره دوینی پریول واجب ده نوکه له اوبو بغیر په بل شی پریولو ته جواز ورکړو په حدیث عمل نه وشو اودا ناجائز ده له دی وجه له کپړی څخه وینه پریول په ابو سره ضروری ده په سرکه وغیره سره کپړه نه پاکیږی لیکن موږوایودااستدلال ضعیف ده په دی وجه چی حدیث داتقاضی کوی چی له جامی څخه وینه په ابو سره پریول واجب ده لیکن په دی کنبی اختلاف نشته اختلاف په دی کنبی ده چی په سرکه سره که وینه زائله شی جامه پاکه ده اوکه نه ؟

زموږپه نزد پاکه ده اودده په نزد نه ده پاکه زموږ دلیل داده چی دسرکی په ذریعه نجاست چونکه حساً زائلیږی اودنجاست زائل والی طهارت ده له دی وجه جامه پاکه ده اوحدیث په دی کنبی ساقط ده چی که یو شی پرطهارت دلالت نه کوی پرعدم طهارت هم دلالت نه کوی.

كَذَالِكَ التَمَسُّكُ بِقَولِه عَلَيه السَّلَامُ فِي اَربَعِينَ شَاةً شَاةٌ لِاثبَاتِ عَدمِ جَوَازِ دَفعِ القِيمَةِ ضَعِيفٌ لِاَنَّهُ يَقتَضِي وُجُوبَ الشَّاةِ وَلَا خِلَافَ فِيهِ وَاِنَّمَا الخِلَافُ فِي سُقُوطِ الوَاجِبِ بِاَدَاءِ القِمَةِ.

ترجمه : اوهمدارنگه دنبی کریم ﷺ د دی قول فی اربعین شاة شاة په ذریعه استدلال پرنه جواز دقیمت ورکول ضعیف ده ددی وجی چی حدیث داتقاضی کوی چی شاة واجب ده اوپه دی کنبی اختلاف نشته اختلاف په دی کنبی ده چی په اداء دقیمت واجب ساقط ده اوکه نه ؟

تشریح : داستدلال ضعیف څلورم قسم داده چی امام شافعی وائی په څلویښت پوسوکنبی یوپوسه زکوة واجب ده که یو شخص دپوسه پرځای قیمت ورکی زکوة اداء نه ده دلیل ئی داده چی

نبی کریم ﷺ فرمائی فی اربعین شاۃ شاۃ دلته نبی کریم دشاۃ په ورکولو تصریح کړی ده لهذا دفقرأ حق متعلق په شاۃ پوری لهذا دشاۃ په بدله کښې قیمت ورکولو باندی ابطال دحق دفقراء لازمیږی او دا سراسر غلط ده لیکن موږ وایو دا استدلال ضعیف ده له دی وجه چی حدیث صرف دا تقاضی کوی چی دپوسو په زکوۃ کښې پوسه ورکول واجب ده په دی کښې اختلاف نشته اختلاف په دی کښې ده که ئی ده پوسه په بدل کښې قیمت ورکی واجب ساقط ده او که نه ؟

امام شافعی وائی چی واجب اداء نه ده او موږ وایو چی اداء ده زموږ دلیل داده چی حدیث په دی باره کښې ساکت ده چی په قیمت ورکولو سره واجب اداکیږی که نه لیکن موږ وینو چی دزکوۃ مقصد دفقرأ حاجت پوره کول ده او دا مقصد دقیمت ورکولو په صورت کښې زیات ده لهذا دقیمت په اداء کولو سره دزکوۃ دنه ادا ینی هیڅ وجه نشته.

وَكَذَالِكَ التَّمَسُّكُ بِقَوْلِهِ تَعَالَى وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ لِاثْبَاتِ وُجُوبِ الْعُمْرَةِ ابْتِدَاءً ضَعِيفٌ لِاَنَّ النَّصَّ يَقْتَضِي وُجُوبَ الْاِتْمَامِ وَذَالِكَ اِنَّمَا يَكُونُ بَعْدَ الشُّرُوعِ وَلَا خِلَافَ فِيهِ وَاِنَّمَا الْخِلَافُ فِي وُجُوبِهَا ابْتِدَاءً.

ترجمه: او همدارنګه دالله تعالی ﷻ ددی قول واتموا الحج والعمرۃ لله په ذریعه ابتدا پر وجوب دعمری استدلال ضعیف ده ځکه نص دوجوب اتمام تقاضی کوی او اتمام له شروع ورسته وی او په دی کښې اختلاف نشته اختلاف په دی کښې ده چی ابتدا واجب ده که نه.

تشریح: د استدلال ضعیف پنځم مثال داده چی دامام شافعی په نزد ابتدا عمره واجب ده او د احناف په نزد ابتدا سنت ده دامام شافعی دلیل داده چی الله ﷻ حج او عمره دواړه د اتمو یعنی یعنی دا مرا په صیغه بیان کړو لهذا ددواړو حکم یو ده او حج چونکه واجب او فرض ده نو عمره هم ابتدا واجب او فرض ده لیکن موږ وایو چی دعمر دابتدا وجوب لپاره په دی آیت واتموا الحج والعمرۃ سره استدلال ضعیف ده ځکه آیت دا تقاضی کوی چی اتمام واجب ده او اتمام له شروع ورسته وی او له شروع ورسته په وجوب داتمام کښې اختلاف نشته بلکه زموږ په نزد هم واجب ده ځکه زموږ په نزد نفل په شروع سره واجیږی حاصل داده چی له شروع ورسته په وجوب داتمام دعمری کښې اختلاف نشته اختلاف په دی کښې ده چی ایا تر شروع مخکې ابتدا عمره واجب ده او که نه ده ؟ نو کله چی له آیت څخه وجوب دعمری ابتدا ثابت نه ده نو په دی آیت پر ابتدائی وجوب دعمری استدلال کول صحیح نه ده.

وَكَذَالِكَ التَّمَسُّكُ بِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَا تَبِيعُوا الدِّرْهَمَ بِالدِّرْهَمَيْنِ وَلَا الصَّاعَ بِالصَّاعَيْنِ لِاثْبَاتِ اَنَّ الْبَيْعَ الْفَاسِدَ لَا يُفِيدُ الْمِلْكَ ضَعِيفٌ لِاَنَّ النَّصَّ يَقْتَضِي تَحْرِيمَ الْفَاسِدِ وَلَا خِلَافَ فِيهِ وَاِنَّمَا الْخِلَافُ فِي ثُبُوتِ الْمِلْكِ وَعَدَمِهِ.

ترجمه: او همدارنگه دنبی کریم ﷺ ددی قول لا تبيعوا الدرهم بالدرهمين والصاع بالصاعين په ذريعه دبيع فاسد پرنه ثبوت دملک استدلال کول ضعيف ده ځکه حديث دبيع دتحريم تقاضي کوی او په دی کښی هم اختلاف نشته اختلاف په ثبوت دملک او نه ثبوت کښی ده.

تشريح: داستدلال ضعيف شپږم مثال داده چی دبيع فاسدی په صورت کښی دمشتری له قبضه ورسته مشتری ته ملک ثابت ده او که نه؟

داحناف مذهب داده چی بيع فاسده ملک فائده کوی. دشوافع مذهب داده چی بيع فاسده ملک فائده نه کوی.

دشوافع دليل: شوافع په دی حديث سره استدلال کی چی نبی کريم ﷺ وائی يو درهم د دوه درهمه په عوض کښی مه ورکوی او يوه کاسه په دوو کاسو باندی مه خرخوی دنبی کريم ﷺ په منع سره دا بيع فاسده ده او بيع فاسده حرامه او منهی عنه ده او ملک يو نعمت ده او حرام فعل دنعمت دحصول سبب نشی کيدای لکه سرقه چی فعل حرام ده دسارق لپاره سبب دملک دمال نشی کيدای لهذا بيع فاسده مفيده دملک نه ده يعنی مشتری دقبض کولو باوجود مالک نه ده ليکن موږ وايو چی دامام شافعی دا استدلال ضعيف ده وجه ئی داده چی مذکوره حديث صرف ددی تقاضي کوی چی بيع فاسده حرامه ده په دی کښی اختلاف نشته لکه څنګه چی دامام شافعی په نزد حرامه ده همدارنګه زموږ په نزد هم حرامه ده اختلاف په دی کښی ده چی بيع فاسده مشتری ته ملک ثابتوی او که نه؟

او حديث په دی سلسله کښی بالکل خاموش ده لهذا په دی حديث سره دشوافع استدلال پرنه ثبوت دملک صحح نه ده او همدارنګه دثبوت دملک لپاره هم په دی صورت سره استدلال صحح نه ده او موږ دثبوت دملک لپاره په هغو اصولو سره استدلال کوو چی مخکی ذکر شوی چی نهی له فعل شرعی دا تقاضیٰ کوی چی فعل شرعی دخپل اصل او ذات په اعتبار مشروع ده او بيع فاسده هم چونکه فعل شرعی ده نهی پروارده داصل او ذات په اعتبار مشروع ده نو هرکله چی بيع فاسده داصل او ذات په اعتبار مشروع شوه نو پردی باندی حکم مرتب کيدای شی يعنی افاده دملک راولی.

وَكَذالِكَ التَمَسّكُ بِقَولِه السّلَامُ اَلَا لَا تَصُومُوا فِی هٰذِه الاَيَّامِ فَاِنَّهَا اَيَّامُ اَكلٍ وَشُربٍ وَبِعَالٍ لِاِثبَاتِ اَنَّ النَّذرَ بِصَومِ يَومِ النَّحرِلَا يَصِحُّ ضَعِيفٌ لِاَنَّ النَّص يَقتَضِی حُرمَةَ الفِعلِ وَلَا خِلَافَ فِی كَونِه حَرَامًاوَاِنَّمَا الخِلَافُ فِی اِفَادَةِ الاَحكَامِ مَعَ كَونِه حَرَامًا.

ترجمه: او همدارنګه دنبی کريم ﷺ ددی قول الالا تصوموا فی هذه الايام فانها ايام اكل شرب وبعال په ذريعه استدلال کول پرثبوت دنه صحت دنذر کولو دروژی په يوم النحر کښی ضعيف ده ځکه حديث

دفعل دحرمت تقاضي کوی اوددی په حرمت کښې هيڅ اختلاف نشته اختلاف په دی کښې ده چی له حرمت سره سره مفيد دحکم ده اوکه نه ده ؟

تشریح: داستدلال ضعيف اووم مثال داده چې په منهی عنه ورځو يعنی دذالحجه پر ۱۳،۱۲،۱۱ کی دروژی نذر صحح ده اوکه نه ده امام شافعی رحمه الله وائی نه ده صحح او احناف وائی صحح ده امام شافعی رحمه الله له مذکوره حديث څخه استدلال کوی چی نبی کريم ﷺ وائی چی په دغو ورځو کی روژی مه نسی ځکه داد خوړلو او څښلو اوجماع ورځی دی امام شافعی وائی دنبی کريم ﷺ دمنع په وجه په دی ورځو کښې روژه نيول معصيت ده او دمعصيت نذر صحح نه ده ځکه نبی کريم ﷺ وائی لانذر فی معصية ليکن موږ ورته وايو دا استدلال ضعيف ده وجه ئی داده چی دا حديث صرف پردی دلالت کوی چی په دغو ورځو کښې روژه حرامه ده او په دی کښې ختلاف نشته او اختلاف په دی کښې دی چی حرام فعل حکم شرعی فائده کوی که نه ؟

زموږ په نزد حکم شرعی فائده کوی او دشوافع په نزد ئی نه فائده کوی نو زموږ په نزد نذر صحح ده ددغو ورځو له تيريدو ورسته روژه نيول لازم ده او که ئی په دغو ورځو کښې روژه ونيوله نذر ئی پوره ده که څه هم ګنهګاره ده او دامام شافعی رحمه الله په نزد نذر صحح نه ده لهذا پر ده باندی دنذر په وجه روژه لازمه نه ده حاصل داده چی اختلاف په دی کښې ده چې حرام فعل حکم شرعی فائده کوی او که نه حديث په دی باره کښې باالکل ساکت ده لهذا په دی حديث سره پردی خبره استدلال کول چی په يوم النحر کښې دروژی نذر صحح نه ده دا استدلال صحح نه ده.

وَحُرمَةُ الفعلِ لَا تُنَا فِی تَرَتُّبَ الأَحکَمِ عَلَیهِ فَانَّ الأَبَ لَواستَو لَدجَارِ یَةَ ابنِه یَکُونُ حَرَامًا وَیثبُتُ بِه المِلکُ للأَ بِ وَلَو ذَبَحَ شَاةً بِسکِینٍ مَغصُوبَةٍ یَکُونُ حَرَامًا وَیَحِلُّ المَذبُوحُ وَلَوغَسَلَ الثَّوبَ النَّجِسَ بِمَاءٍ مَغصُوبٍ یَکُونُ حَرَامًا وَیَطهُرُ بِهِ الثَّوبُ وَلَو وَطِیَٔ فِی حَالَةِ الحَیضِ یَکُونُ حَرَامًا وَیَثبُتُ بِهِ اِحصَانُ الوَطیِ وَیَثبُتُ الحِلُّ لِلزَّوجِ الاَوَّلِ.

ترجمه: اودفعل حرمت منافی نه ده له ترتب داحکامو سره پرده باندی له دی وجه که چیری پلار دخوی مينځه ام الولده کړی دافعل حرام ده ليکن پلارله ملک ثابتوی اوکه په غلاکړشوی چاړه پوسه حلال کړی هم حرام فعل ده ليکن مذبوح حلال ده اوکه په غلاکړشوو اوبو سره ناپاکه جامه پریول شی فعل حرام ده ليکن جامه پاکه ده اوکه په حالت دحيض کښې له خپلی ښځي سره جماع وکړی وطی حرامی دی او په دی سره دواطی احصان ثابت ده اودزوج اول لپاره حلت ثابت ده.

تشريح: داعبارت ديو سوال لپاره جواب ده.

سوال: داده چې دحرام فعل اوحکم شرعی په مينځ کښې منافات ده او په يوه منافی سره بل منافی نسی ثابت کيدای لهذا حرام فعل څنګه حکم شرعی فائده کوی ؟

جواب: داده چې حرام فعل له دی سره منافي نه ده چې په ده سره دی ثبوت دحکم وشی موږدی لپاره څونظیره ذکرکوو (١) داده که یوشخص دخپل خوی مینځه ام الولده کړه دافعل حرام ده لیکن سره له دی په دی وطی سره پلارته ددغی مینځی ملک ثابت ده اوپرپلارباندی دمینځی قیمت واجب ده وګوره دلته فعل حرام ده لیکن حکم شرعی فائده کوی(٢) داده که یوشخص په غصب کړ شوی چاړه پوسه حلال کی فعل حرام ده لیکن ددی باوجود مذبوح حلال ده (٣) داده که یوشخص په غصب کړشوو اوبو باندی جامه پریمنځی دافعل حرام ده لیکن ددی باوجود جامه پاکه ده(۴) داده که یوشخص په حالت دحیض کښی له خپلی ښځی سره وطی وکړی دافعل حرام ده لیکن ددی باوجود په وطی سره دواطی احصان ثابت ده اوکه دا ښځه مطلقه ثلاثه وه په دغه وطی سره اول خوند ته حلاله ده نولکه څرنګه چې په دی ټولو مسائلو کښی پرحرام فعل حکم شرعی مرتب ده همدارنګه پرروژه دیوم النحر باندی هم مرتب ده یعنی په یوم النحر کښی په روژه نیولوسره نذر پوره ده.

فَصلٌ فی تَقریر حُرُ ف المَعَا نی

فَصلٌ فی تَقریرِ حُرُ ف المَعَا نی الوَاوُ لِجَمعِ المُطلَق وَقیلَ انَّ الشَا فعی جَعَلَهُ لِلتَرتِیب وَعَلی هذَا اَوجَبَ التَرتِیبَ فی بَابِ الوُضُوء وَقَالَ عُلَمَا ؤنَا اذَا قَالَ لامرَاته ان كَلَّمت زَیدًا وَعَمرواً فَاَنت طَالِقٌ فكَلَّمَت عَمرواً ثُمَّ زَیدًاطُلِّقَت وَلَا یشتَرَطُ فیه مَعنَی الترتِیب وَالمُقَارَنَة وَلَوقَالَ ان دَخلت هذ ه الدَّارَ وَهذه الدَارَ فَاَنت طَالِقٌ فَدَ خَلَت الثَانیَةَ ثُمَّ دَخلَت الاُولی طُلِّقَت قَالَ مُحمَّدٌ اذَا قَالَ ان دَخلَت الدَارَ وَاَنتَ طَالِقٌ تُطلَقُ فی الحَالِ وَلَو اقتضَی ذَالكَ تَر تِیبًا لتَرَ تَبَ الطَلَا قُ بِهِ عَلَی الدُخُولِ وَیكُونَ ذَالكَ تَعلقًا لَا تَنجِیزًا.

ترجمه: دافعل په بیان حروف معانی وۀ کښی ده واو دمطلق جمع لپاره ده اوویل کیږی چې امام شافعیؒ ئی دترتیب لپاره بولی اوبناء پردی باندی په اوداسه کښی ترتیب واجب ده اوزموږ علماء وائي که یوشخص خپلی ښځی ته وویل که تاله زید اوعمر سره خبری وکړی ته طلاقه ئی اودی یوځل له عمر سره خبری وکړی اوبیائی له زیدسره خبری وکړی دامطلقه ده اوپه دی کښی ترتیب او مقارنت شرط نه ده اوکه ئی ورته وویل ان دخلت هذه الدار وهذه الدار فانت طالق لیکن اول دوهم سرای ته داخله شوه اوبیا اول سرای ته داخله شوه داطلاقه ده امام محمد رحمه الله وائی که یوشخص وویل ان دخلت الدار وانت طالق نوفی الحاله طلاق واقع کیږی نوکه واودترتیب تقاضی کولای نوباید پرترتیب لحاظ وای اوداکلام باید تعلیق وای تنجیزنه وائ.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی دافصل دحروف معانی په بیان کښی ده حروف معانی هغوحروفوته وائی چې پرمعنی دلالت کوی اویاله دی وجه حروف معانی ورته وائی چې دوی معانی دافعالو

رسوی اسماءُ ته مصنف رحمۃ اللہ علیہ حروف په معانی سره مقید کړه احتراز ده له حروف مبانی څخه حروف مبانی هغه ته وائی چی له هغو څخه ترکیب دکلمی راغلی وی اودوی پخپله کلمه نه وی لکه په ضرب کښی (ض) (ر) (ب) حروف مبانی دی او دا هم یادلره چی حروف معانی مبنی دی او مبانی نه معرب دی اونه مبنی دی ځکه اعراب اوبناء دکلمی صفت دی اوحروف مبانی کلمه نه دی بلکه له دوی څخه کلمه مرکبه ده په حروف معانی کښی حروف عاطفه هم دی اوحوف جاره هم دی اوحروف عاطفه چونکه پر اسم اوفعل دواړه باندی داخلیږی اوجاره صرف پر اسم داخلیږی له دی وجه حروف عاطفه عام دی اودعموم په وجه مصنف رحمۃ اللہ علیہ مقدم کړه پرحروف جاره باندی او په حروف جاره کښی واو چونکه دمطلق جمع لپاره ده اوفاء دجمع اوتعقیب دواړو لپاره ده اوثم دجمع اوتاخیر لپاره ده له دی وجه واو په منزله دمفرد ده او داونور په منزله دمرکب دی اومفرد مقدم وی پرمرکب باندی له دی وجه واوپر نورو حروفو عاطفه وؤ باندی مقدم کړشو لکه فرمائی چی واو دمطلق جمع لپاره ده یعنی صرف دمعطوف اومعطوف علیه دجمع کولو لپاره ده پرترتیب یامقارنت اوتر اخی باندی دلالت نه کوی لکه په جاءنی زیدٌ وعمرٌ کښی چی واو پردی دلالت کوی چی زید اوعمر په راتلو کښی شریک دی پردی دلالت نه کوی چی دواړه یا یوځای راغلو اویا بی له تاخیره په ترتیب سره راغلو اویا سره له تاخیره راغلو امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ وائی چی واو دترتیب لپاره ده له دی وجه دی په اوداسه کښی ترتیب واجب بولی ځکه الله ﷻ په آیت دوضو فاغسلوا الخ کښی وجه ،ید ، رأس ، اورجلین ، په واو سره ذکر کړی دی او واو دترتیب لپاره لهذا ددی څلورو اعضاء په مینځ کښی ترتیب واجب ده یعنی په کوم ترتیب چی په قرآن کښی ذکر دی پرهغه ترتیب ئی پریول واجب ده اواحناف وائی چی که یوشخص خپلی ښځي ته وویل ان کلمت زیداً وعمراً فانت طالق اودی اول څل له عمر لره خبری وکړی اوبیائی له زید سره خبری وکړی یعنی بغیره ترتیبه پردی طلاق واقع ده ترتیب اومقارنت شرط نه ده اوهمدارنګه که ئی ورته وویل ان دخلت هذه الدار وهذه الدار فانت طالق اودا اول څل دوهم سرای ته داخله شی اوبیا اول ته داخله شوه طلاق واقع ده ځکه واو دمطلق جمع لپاره ده بی له لحاظه دترتیب اومقارنت نو دواړه سرایو ته دخول شرط ده هر کله چی شرط موجود شو طلاق واقع ده اوامام محمد رحمۃ اللہ علیہ وائی که یوشخص خپلی ښځی ته وویل ان دخلت الدار فانت طالق فی الحاله طلاق واقع ده پردخول د دار موقوف نه ده ته وګوره که واو دترتیب لپاره وائی باید په دی صورت کښی طلاق مرتب پردخول وای داکلام باید تعلیق وای تنجیز نه وای لهذا دکلام تنجیز ددی دلیل ده چی واو ترتیب لپاره نه ده بلکه دمطلق جمع لپاره ده.

وَقَد يَكُونُ الوَاوُ لِلحَالِ فَيَجمَعُ بَينَ الحَالِ وَذِى الحَالِ وَحِنَئِذٍ يُفِيدُ مَعنَى الشَّرطِ مِثَالُهُ مَاقَالَ مُحمد فِى المَاذُونِ اِذَا قَالَ لِعَبدِه اَدِّ اِلَىَّ اَلفاً وَاَنتَ حُرٌّ يَكُونُ الاَدَاءُ شَرطاً لِلحُرِّيَةِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ فِى السِّيَرِ الكَبِيرِ اِذَا قَالَ الاِمَامُ لِلكُفَّارِ اِفتَحُو البَابَ وَاَنتُم اٰمِنُونَ لَايَامَنُونَ بِدُونِ الفَتحِ وَلَو قَال لِلحَربِىِّ اِنزِل

وَاَنتَ امِنٌ لَایَامَنُ بِدُونَ النُّزُولِ وَاِنَّمَا یُحمَلُ الوَاوُ عَلَی الحَالِ بِطَرِیقِ المَجَازِ فَلَاَ بُدَّ مِن اِحتِمَالِ اللَّفظِ عَلَی ذَالِکَ وَقِیَامِ الدَّلَالَۃِ عَلَی ثُبُوتِہٖ کَمَا فِی قَولِ المَولٰی لِعَبدِہٖ اَدِّ اِلَیَّ اَلفاً وَاَنتَ حُرٌّ فَاِنَّ الحُرِّیَّۃَ تَتَحَقَّقُ حَالَ الاَدَاءِ وَقَامَتِ الدَّلَالَۃُ عَلَی ذَالِکَ فَاِنَّ المَولٰی لَایَستَوجِبُ عَلَی عَبدِہٖ مَالاً مَعَ قِیَامِ الرِّقِّ فِیہِ وَقَد صَحَّ التَّعلِیقُ بِہٖ فَحُمِلَ عَلَیہِ .

ترجمہ: او واو کلہ دحال لپارہ وی نو واو حال اوذالحال جمع کوی او دا وخت معنی دشرط ورکوی اوددی مثال هغه ده چی دماذون په باره کښی امام محمد رحمۃ اللہ علیہ فرمائی که مولی خپل ماذون عبد ته وویل اِدّالیّ الفاً وانت حرّ نو دا الفه دحریت لپاره شرط ده او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ په سیر کبیر کښی فرمائی که امام کفاروته وویل افتحوالباب وانتم آمنون نو بغیر له دروازی خلاصولو دوی مامون نه دی ١
اوکه امام حربی ته وویل انزل وانت آمن نودی بغیر راکښته کیدو مامون نه ده او واو محمول پر حال باندی په طریقه دمجاز ده لهذا په لفظ کښی دحال احتمال او پرده باندی ددلالت وجود ضروری ده لکه دمولی خپل غلام ته په دی قول ادالی الفاء وانت حرّ کښی چی شته له دی وجه چی حریت داداء په وخت کښی متحقق ده او پردی باندی قرینه هم قائمه ده ځکه په غلام کښی درقیت دوجود په وجه مولی پر خپل غلام مستحق دمال نه ده او پر اداء دمال باندی دغلام ازادی معلق کول صحح ده لهذا کلام محمول پردی باندی ده.

تشریح: مصنف رحمۃ اللہ علیہ دواو حقیقی معنی له بیان کولو رسته دواو مجازی معنی بیانوی هغه داده چی واو مجازاً دحال لپاره راځی دمعنی مجازی او معنی حقیقی په مینځ کښی مناسبت داده چی دواړه په وصف جمع کښی شریکان دی یعنی لکه څرنګه چی معطوف او معطوف علیه دی همدارنګه حال اوذالحال هم جمع دی په دی وجه چی دمعنی په اعتبار حال دذالحال لپاره صفت ده او دموصوف او صفت جمع ظاهره ده حاصل داده چی واو مجازاً دحال لپا هر راځی او کوم وخت چی دحال لپاره راشی حال له ذالحال سره جمع کړی او معنی دشرط ورکوی له دی وجه معنی دشرط ورکوی چی حال دذالحال لپاره دارنګه قید ده لکه څرنګه چی شرط دجزاء لپاره قید وی مثلاً لکه په انت طالق راکبۃً کی چی رکوب دطلاق لپاره قید ده او طلاق متعلق تر رکوبه ده دغه رنګه په انت طالق ان رکبت کښی رکوب د طلاق لپاره وی مثال داده که یو شخص خپل ماذون عبد ته وویل اذالیّ الفاوانت حرّ په دی قول کښی زر روپي ده ازادیدو لپاره شرط دی ددی تاویل داسی ده ان ادیت الیّ الفافانت حر په دی صورت کښی که غلام زر روپی ادا کړی ازاد ده.

امام محمد رحمۃ اللہ علیہ په سیر کبیر کښی وائی که دمسلمانانو امام کفاروته وویل ا؛افتحوالباب وانتم آمنون په دی صورت کښی بی له دروازی خلاصولو مامون نه دی او دامام دکلام مطلب داده چی که تاسو دروازه خلاصه کړه بیا تاسو په امن یاست او که امام حربی ته وویل انزل وانت آمن په دی صورت

کښې حربي بې له راکښته کېدلو په امن نه ده ځکه امام دکلام مطلب داده چې که راکښته شوی بیا په امن ئې پردی مثالو یو سوال کیږي.

سوال: داده چې ددی کلام ادالی الفاً وانت حر تقاضي داده چې حریت داداء لپاره شرط ده ځکه دواو حالیه مابعد شرط وی لهذا د افتحوا الباب وانتم آمنون کلام تقاضی داده چې امان دفتح باب لپاره شرط ده او په انزل وانت آمن کښې هم دکلام تقاضی داده چې امان دنزول لپاره شرط ده او شرط مقدم وی پر مشروط باندې لهذا حریت مقدم ده پر اداء الف او امان مقدم ده پر فتح باب باندې او امان مقدم ده پر نزول باندې نو دا ثابته شوه چې دحریت له اداء سره تعلق نشته او دامان له فتح باب او نزول سره تعلق نشته نو باید په ادالی الفا وانت حر سره فوراً ازادي راشي او افتحوا الباب وانتم آمنون او په انزل وانت امن په دواړو سره باید فوراً امن ثابت شي او حال داده چې تاسو ازادي متعلق کړې ده تر اداء او امن مو متعلق کړی ده تر فتح باب او نزول پورې.

جواب: داده چې داکلام له بابه دقلب څخه ده دقلب مطلب داده چې دکلام اجزاء وی یو دبل پر ځای بنودل شوی دی لکه په دی مثال کې عرضت الناقة على الحوض اصل دا وو عرضت الحوض على الناقة او همدارنګه ادالی الفا وانت حر اصل ئې داده کن حراً وانت مؤدالفاً او همدارنګه افتحوا الباب وانتم آمنون اصل ئې داده کن امنا وانت فاتح للباب او همدارنګه انزل وانت آمن اصل داده کن آمناً وانت نازل حاصل داده چې هر کله چې مذکوره مثالو نه له بابه دقلب څخه وو مذکوره سوال نه راددیږي دانما یحمل الواو على الحال په دی عبارت سره مصنف رحمه الله دابیا نوی چې واو په طریقه دمجاز محمول کول پر حال باندې ددی لپاره دوی خبری ضروری دی یو ه دا ده چې لفظ به دمعنی مجازي یعنی دحال احتمال لری او بله داده چې دمعنی مجازی پر مراد اود معنی حقیقي پر تعذر به قرینه موجوده وی لکه په مخکینی مثالو کی چې مولی خپل غلام ته ووائی ادالی الفاً وانت حر دلته واو دحال لپاره ده ځکه محل دحال دمعنی احتمال هم لری او پر دی هم قرینه مجوده ده چې دواو دعطف لپاره نه ده دحال احتمال له دی وجه لری چې حریت هغه وخت راځي چې ادا ء دالف راشي اود حریت تحقیق داداء په وخت کښی ددی علامه ده چې دلته واو دحال لپاره ده او پر دی باندی قرینه چې واو دعطف لپاره نه ده داده که واو دعطف وای نو بیا خو باید ادالی الفا مستقل کلام وای او دکلام مطلب به دا وای چې مولی پر خپل غلام باندی درق په وجود کی زر روپی واجب کړی دی او حال داده چې مولی ددی مستحق نه ده یعنی مولی پر غلام باندی درق په وجود کی دمال دوا جب کولو حق نه لری ځکه غلام او هغه څه چې دغلام ملک دی دواړه دمولی ملک دی لهذا پر غلام باندی وجوب دمال وجوب دمال ده پر خپل ځان باندی دا ممکنه نه ده لهذا پر خپل غلام باندی وجوب دمال ممکنه نه ده حاصل داده چې دا محالات له دی پیدا کیږي چې واو دعطف لپاره شی له دی وجه دامتعذره ده چې واو دعطف لپاره

شي او دحريت تعلق پر اداء باندی چونکه صحيح وو له دی وجه داکلام محمول پر تعلق باندی ده او داوايو چی دلته حريت دعبد معلق ده پر اداء دالف نو کله چی داسی شو نو واو دحال لپاره ده او حال معنی دشرط ورکوی .

وَلَوقَالَ اَنت طَالِقٌ وَاَنت مَرِيضَةٌ اَومصلّيَةٌ تُطلّقُ فِی الحَالِ وَلَونوی التّعلِيقَ صَحّت نِيّتُهُ فِيمَا بَينَهُ وَبَينَ اللهِ تَعَالیٰ لِاَنَّ اللّفظَ وَاِن کَانَ يحتَمِلُ مَعنَی الحَالِ اِلّا اَنَّ الظَاهِرَ خِلَافُهُ وَاِذَا تَايّدَ ذَالِکَ بِقَصدِهِ ثَبَتَ

ترجمه: او که يو شخص خپلی ښځی ته وويل انت طالق وانت مريضة يا مصلية نو فی الحال طلاق واقع ده او که ئی نيت دتعليق وو دده دانيت دده او الله ﷻ په مينځ کښی صحيح ده ځکه لفظ که څه هم دحال احتمال لری ليکن ظاهر ددی خلاف ده نو کله چی خلاف دظاهر تائيد و شو په نيت دده نو طلاق ديا نتهً ثابت ده.

تشريح: مونږ مخکی بيان وکی چی واو په معنی دحال هغه ده چی دواو دحقيقی معنی مراد کول متعذروی او په کوم ځای کښی چی واو په معنی دعطف متعذر وی هلته واو په معنی دحال نه ده لکه په دی مثال کی چی که يو شخص خپلی ښځی ته وويل انت طالق انت مريضة يا مصلية په دی صورت کښی طلاق فوراً واقع کيږی ځکه دلته واو دعطف صلاحيت لری په دی طريقه چی انت طالق وانت مريضة دواړی خبريه جملی دی ديوی جملی خبری عطف صحيح ده پر بلی جملی خبری نو دعطف دصحت په وجه دواړی مستقلی جملی دی يو دبلی لپاره قيد نه ده هر کله چی يو ه دبلی لپاره قيد نشو ه نو حالت دمرض او دصلواة قيد لپاره دطلاق نه ده ليکن که دده نيت تعليق وو بيا دانيت ديانتهً صحيح ده او قضا ء صحيح نه ده يعنی قاضی به دی نيت ته اعتبارنه ورکوی بلکه دفوری طلاق فيصله به کوی ليکن ديانتهً طلاق مطلاق واقع ده پر حالت دمرض يا صلوة ددی خبری دليل داده چی دخاوند مذکوره کلام کښی که څه هم واو دحال احتمال لری ليکن ددی معنی ظاهر مخالف ده دظاهر دخلاف وجه داده چی دلته واو پر حقيقی معنی باندی حمل ممکن ده نو که خاوند خپل کلام مويد کړی دخلاف ظاهر معنی په اراده اونيت سره نو دانيت ديانتهً ثابت ده او طلاق فوراً واقع کيدو پر ځای معلق شو په حالت دمرض او صلو ة پوری.

وَلَوقَالَ خُذهذه الاَلفَ مُضَارَبَةً وَاعمَل بِهَا فِی البَزِّ لَايَتَقَيّدُ العَمَلُ فِی البَزِّ وَيَکُونَ المُضَارَبَةُ عَامّةً لِاَنَّ العَمَلَ فِی البَزِّ لَايَصلُحُ حَالاً لِاَخذِ الاَلفِ مُضَارَبَةً فَلَايَتَقَيّدُ صَدرُ الکَلَامِ بِهٖ .

ترجمه: اوکه يوچا دويل دا زر روپی مضاربت لپاره واخله او په دی باندی دکپړی کار بارو کړه نو مضاربت دکپړی په کار بار مقيد نه ده بلکه مضاربت عام ځکه دکپړی کار بار دزرو روپو دا خستلو لپاره دحال صلاحيت نه لری لهذا اول ځل کلام په دی سره مقيد نه ده.

تشریح : مصنفؒ وائی که یو شخص بل ته وویل علیك الالف مضاربة واعمل فی البز دا زر روپی دمضاربت لپاره واخله او په دی سره دکپړی کاربار وکړه نو دکپړی تجارت متعین نه ده بلکه تجارت عام ده خواه که دهر شی وی ځکه دکپړی تجارت دزر و روپو داخستلو لپاره دحال صلاحیت نه لری یعنی دکپړی تجارت دا صلاحیت نه لری چی هغه په طریقه دمضاربت حال شی دزرروپو دا خستلو لپاره وجه ئی داده چی دکپړی دتجارت عمل مو خر ده اود زرو روپو اخستل مقدم ده او مو خر دمقدم لپاره حال نه وی له دی وجه چی حال جمع وی له ذالحال سره او مقارن وی له ذالحال سره او مو خر له مقدم سره نشی جمع کیدا ی لهذامو خر دمقدم لپاره حال نشی جوړ یدای دتجارت عمل دزر رو پو دعمل لپاره حال نه ده نو په اول ځل کی دکلام په دی سر مقید نه ده.

وَعَلى هٰذَا قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ اذَا قَالَت لِزَوجِهَا طَلِّقنِي وَلَكَ اَلفٌ فَطَلَّقَهَا لَايَجِبُ لَهُ عَلَيهَا شَيءٌ لِاَنَّ قَولَهَا وَلَكَ اَلفٌ يُفِيدُ حَالَ وُجُوبِ الْاَلفِ عَلَيهَا وَقَولُهَا طَلِّقنِي مُفِيدٌ بِنَفسِه فَلَايُترَكُ اَلعَمَلُ بِه بِدُونَ الدَّلِيلِ بِخِلَافِ قَولِه احمِل هٰذَا المَتَاعَ وَلَكَ دِرهَمٌ لِاَنَّ دَلَالَةَ الاِجَارَةِ يَمنَعُ اَلعَمَلَ بِحَقِيقَةِ اللَّفظِ .

تر جمه : او ددی اصولو پر بنا امام ابو حنیفه وائی که یو ښځی خپل خاوند ته وویل ته ماته طلاق راکړه تا لره زر روپی دی او خاوند دی ته طلاق ورکی نو دخاوند لپاره پر ښځه باندی شی واجب نه ده ځکه دښځی قول ؛طلقی ؛ په خپله مفید ده لهذا بی له دلیله په دی سره عمل نه پریښودل کیږی او له دی خلاف دده داقول ده ؛ دا سامان واخله تالره زر درهمه دی ؛ ځکه دلالت دا جاری منع راولی له حقیقت دلفظه.

تشریح : مصنفؒ وائی ددی قاعده (چی کوم شی چی دحال صلاحیت نه لری هلته واو دحال لپاره نه ده بلکه دعطف لپاره ده) پر بنا باندی اما م ابو حنیفهؒ وائی که یوی ښځی خپل خاوند ته وویل طلقنی ولك الالف اوبیا خاوند دی ته طلاق ورکړی دښځی لپاره پرخاوند باندی یو شی هم واجب نه ده ځکه دښځی داقول ؛ ولک الف ؛ پردی باندی دلالت کوی چی پرښځه باندی دزرو روپو وجوب دخاوند دطلاق ورکولو لپاره حال ده اودښځي داقول ؛ طلقی ؛ په خپله مفید ده ځکه ددی په ذریعه مطلقا طلب دطلاق کول کیږی لهذا بی له دلیله ددی سره عمل نه پریښودل کیږی یعنی هرکله چی په دی کلمه سره ښځی طلب دطلاق وکی اوخاوند طلاق ورکی داطلاق پوراً واقع ده اوپه ولك الف کښی واو چونکه دحال لپاره نه ده بلکه دعطف لپاره ده له دی وجه داقول شرط نه ده او وقوع دطلاق پرزرو روپو باندی معلقه نه ده نوکله چی وقوع دطلاق پرزور روپو باندی معلقه نه شوه نودطلاق په عوض کښی پر ښځه باندی زو روپی واجب نه ده اوددی خلاف داده چی که یوشخص خپل مزدور ته وویل احمل هذالمتاع ولك درهم دی دسامان له پورته کولووروسته دزرو روپو مستحق ده اوپرمجر باندی زر روپی واجب دی ځکه اجاره ددی دلیل ده چی دلته واو دعطف لپاره

نه ده بلکه دحال لپاره ده ځکه په اجاره کښې معاوضه اصل ده بغير بدله مشروع نه ده اوپه دې صورت کښې چې واو دحال لپاره ده اوبدل اوعوض واجب ده اودسامان پورته کیدل پرزرو روپو معلق ده اوددې پرخلاف طلاق ده ځکه په طلاق کښې اصل داده چې طلاق بنې عوضه اوبدله وي لهذا په طلاق کښې واو په عطف باندې حمل کول ممکن ده او دلته پر عطف باندې حمل ممکن نه ده له دې وجه دلته واو دحال لپاره ده اوپرموجر زر روپې واجب دې.

فَصلٌ اَلفَاءُ للتّعقيب

فَصلٌ اَلفَاءُ للتّعقيب مَعَ الوَصل وَلِهذَا تُستَعمَلُ فِي الاجزِيَة لمَا اَنّهَا تَتَعَقّبُ الشّرطَ قَالَ اَصحَابُنَا اذَا قَالَ بعتُ منکَ هٰذَاالعَبدَ بِاَلف فَقَالَ الاخرُ فَهُوَ حُرٌ يَکُونُ ذَالکَ قُبُولاً للبيعِ اقتضَاءً وَيَثبُتُ العتقُ منهُ عَقيبَ البَيعِ بخلاَف مَا لَو قَالَ وَهُوَ حُرٌاوهُوحُرٌ فَانّهُ يَکُون رَدّاً للبَيع واذَاقَالَ للخَيّاط اُنظرالى هذَا الثّوب اَيکفِينِى قَميصاً فَنَظَرَ فَقَالَ نَعَم فَقَالَ صَاحبُ الثّوب فَاقطَعهُ فَاقطَعهُ فَاذَا هُوَ لاَيَکفِيه کَانَ الخَيّاطُ ضَامناً لاَنّهُ انّمَا اَمَرَهُ بِالقَطع عَقيبَ الکفَايَة بخلاَف مَا لَوقَالَ اقطَعهُ اَو وَاقطَعهُ فَقطَعَهُ فَانّهُ لاَيَکُونَ الخَيّاطُ ضَامنًا وَلَوقَالَ بعتُ منکَ هٰذا الثّوبَ بِعَشَرَة فَاقطَعهُ فَقَطَعهُ وَلَم يَقُل شَيئاً کَانَ البَيعُ تَامًا وَلَو قَالَ ان دَخلت هذه الدّارَ فَهذه الدّار فَاَنت طَالقٌ فَالشّرطُ دُخُولُ الثّانية عَقيبَ دُخُول الاولى مُتّصلاً به حَتّى لَو دَخَلَت الثّانيَةَ اَوّلاً وَالأُولى اخراً اَودَخَلَت الأُولى اَوّلاً والثّانيَةَ اخراً الکنّهُ بَعدَ مُدّة لاَيقَعُ الطّلاقُ

ترجمه: فاء دتعقيب مع الوصل لپاره ده له دې وجه په جزاءً کښې استعماليږي ځکه جزاء دشرط څخه وروسته وي زموږ علماء وائي که بايع ويل بعت منک هذالعبدبالف اومشتري وويل فهوحرٌ دده داقول قضاءً قبول دبيع ده اوپه دې قول سره له بيع ورسته آزادي ثابته ده اوددې پرخلاف داده که ئې وهو حرٌ اويا هوحرٌ وويل ځکه دا رد ده دبيع اوکه ئې خياط ته وويل داکپړه وګوره زما دقميص لپاره کافي ده ؟ اوخياط وکتل بيا وويل هوکافي ده اودکپړې مالک وويل کاټ ئې کړه اوخياط کاټ کړه وروسته دا معلومه شوه چې دقميص لپاره کافي نه ده نوخياط ضامن ده ځکه دکپړې مالک دخياط دکفايت وروسته دکاټ کولوحکم وکې اوددې په خلاف داده که وويل اقطعه یاواقطعه اوخياط کاټ کړه په دې صورت کې خياط ضامن نه ده اوکه ئې وويل بعت منک هذالثوب بعشرة فاقطعه اوبيا خياط داکاټ کړه هيڅ ئې نه وويل نوبيع تامه ده اوکه ئې وويل ان دخلت هذه الدار فهذه الدار فانت طالق اول سراى ته له داخليدو وروسته فوراً دوهم سراى ته داخليدل شرط ده حتى که اول ځل دوهم سراى ته داخله شوه او بيا اول سراى ته داخله شوه اويااول ته اولاً داخله شوه اوروسته دوهم ته داخله شوه ليکن څه وخت په مينځ کښې ووتى طلاق واقع نه ده.

تشریح: د حروفو عاطفه وؤ دوهم حروف فاء ده په قول د مصنف رحمه الله فاء تعقیب مع الوصل لپاره راځي د تعقب مطلب داده چې معطوف له معطوف علیه څخه وروسته واقع کیږي او د وصل مطلب داده چې معطوف له معطوف علیه وروسته متصل واقع کیږي مثلاً که یو شخص ووایي ضربت زیداً فعمراً ددی مطلب داده چې دعمر ضرب متصل ده دضرب دزید سره مصنف رحمه الله وائی چې فاء چونکه دتعقب مع الوصل لپاره راځي له دی وجه دا په جزاء کښې استعمالیږی څکه جزاء متصله له شرط سره واقع کیږي لکه یو شخص چې خپلې ښځي ته ووائي ان دخلت الدار فانت طالق دلته دسرای له داخلیدو سره متصل طلاق واقع کیږي او معلول هم چونکه له علته ورسته متصل واقع کیږي له دی وجه پر علت فاء داخلیږي چې زموږ علماء احناف وائي که بائع ووایل بعت منك هذا العبد بالالف زه دا غلام پرتا باندی په زر روپي خرڅوم او مشتری ورته ووېل فهو حرٌ دمشتری دا قول اقتضاءً قبول دبیع ده او له بیع ورسته دده له طرفه غلام آزاد ده ګواکی مشتری داسی ووېل قبلته فهو حرٌ او ددی وجه داده چې په مذکوره مسئله کښې بې له قبول دبیع ثبوت دحریت نشي راتلای څکه ترڅوچې مشتری قبول دبیع نه وی کړی ترهغه وخته دی دغلام مالک نه شي جوړیدای او ترکومه وخته چې دغلام مالک شوی نه وی دغلام آزادیدل صحح نه ده څکه رسول الله ﷺ فرمائی لاعتق فیما لایملکه ابن آدم.

حاصل داده چې حریت بغیر له قبول دبیع نه متحقق کیږي نوکله چې حریت بې له قبول دبیع نه متحقق کیږي نو مشتری په داقول فهو حرٌ ویلو دغلام آزادیدل په حقیقت کښې اول قبول دمبیعی ده او له دی ورسته آزادیدل ده.

اوددی پرخلاف داده که مشتری ددی قول بعت منك هذا العبد بالالف په جواب کښې ووېل وهو حرٌ او یا هو حرٌ دا دبیع رد ده څکه دلته کلام دفاء تعقیب سره نه ده بلکه له واو دعطف سره ده او یا بې له واو څخه ده په دی کښې دوه احتماله دی یو داده چې داکلام هغه حریت خبر ده چې تر ایجاب دبیع مخکی ثابت وو نوددی حدیث لاعتق فی مالایملك ابن آدم په وجه دمشتری ددی فول وهو حرٌ یا هو حرٌ سره غلام آزاد نه ده او بل احتمال داده چې مشتری په دی قول وهو حرٌ او یا هو حرٌ سره قبول دبیع وکړ په دی طریقه چې مشتری حریت فی الحاله ثابت کی او دمشتری له طرفه هغه وخت حریت ثابتیږي چې اقتضاءً قبول دبیع ثابت شي څکه دمشتری له طرفه بغیر له قبول دبیع آزادی نه شي راتلای حاصل داده چې داول احتمال پر بناء باندی دمشتری له طرفه قبول دبیع ثابت نه ده او ددوهم احتمال پر بناء باندی ثابت ده نو داسی شو چې لکه قبول دبیع چې شکمن شو اودشک په وجه قبول دبیع نه ثابتیږي نوکله چې داسی شو نو دمشتری داکلام فهو حرٌ یا هو حرٌ قبول دبیع نه ده بلکه ایجاد دبیع رد ده.

دفاء تعقیب مع الوصل لپاره دوهم مثال دامسئله ده چی مصنف رحمة الله علیه وائی که یو شخص خیاط ته وویل داکپړه وګوره زما دقمیص لپاره کافی ده اوکه نه ؟ خیاط وکتله او وی ویل هوکافی ده دورته وویل فاقطعه نوکاټ ئی کړه اوخیاط کاټ کړه ورسته معلومه شوه چی کپړه دقمیص لپاره کافی نه ده نوخیاط دکپړی ضامن ده ځکه دمالک په دی قول فاقطعه کښی فاء دتعقیب لپاره ده پردی دلالت کوی چی دکپړی دکاټ کولو امر له دی ورسته چی کپړه خیاط کافی وبلله یعنی دمالک دکلام مطلب داده چی ان کان قمیصاً که کپړه دقمیص لپاره کافی وی کاټ ئی کړه اوکه نه وی کافی مه ئی کاټ کوه نوداسی شو لکه خیاط چی بی له اجازی دمالک کپړه کاټ کړه لهذا داخیاط دکپړی ضامن ده ځکه په دی کښی دده تعدی ده اوکوم څوک چی تعداد وکړی ضامن دنقصان ده لهذا خیاط هم دکپړی ضامن ده.

اودی پرخلاف داده که دکپړی مالک وویل اقطعه یعنی بغیر له فاء یائی په واو سره ووائی واقطعه اوخیاط کاټ کړه په دی صورت کښی خیاط ضامن نه ده ځکه داحکم دقمیص پرکافی والی مرتب نه ده بلکه دکپړی دکاټ کولوحکم مطلق ده نودی اجازی دعموم په وجه دکپړی کاټ کول موجوب دزمان نه ده که یوڅوک سوال وکړی.

سوال :خیاط چی دکپړی مالک ته وویل چی داکپړه ستا دقمیص لپاره کافی ده دا خو ئی دوکه ورکړه بایدد دهوکی ورکولو په وجه پرخیاط زمان واجب شی.

جواب : داده چی دخبر په ذریعه دهوکه دعقدمعاوضه په وجه نه وه هغه دهوکه زمان نه واجبوی لکه یوڅوک چی بل ته ووائی دلار په امن ده اودابل شخص پردغه سفر وکړی اوغله ئی چورکړی سامان ورڅخه یوسی لاربنوونکی ضامن نه ده.

دریمه مسئله: مصنف رحمة الله علیه تفریع کوی که یوچاه وویل بعت منك هذا الثوب بعشرة فاقطعه زه داکپړه تاته په لس روپی درکوم کاټ ئی کړه ؛ ده څه نه وویل کاټ ئی کړه دا بیع تامه ده ځکه دبائع دکلام مطلب داده که ته داکپړه دلس درهمه په عوض کی اخلی کاټ ئی کړه لهذاکله چی مشتری کپړه کاټ کړه داددی علامه ده چی دیوځل عقد بیع قبوله کړه او بیائی کپړه کاټ کړه نوکله چی دمشتری له طرفه دبیع قبول وشو نوبیع تامه ده اوکه یوچاه خپلی ښځي ته وویل ان دخلت هذه الدار فهذه الدار فانت طالق په دی صورت کښی اول سرای ته دداخلیدو سره متصل دوهم سرای ته داخلیدل شرط ده نوکه داښځه اول ځل دوهم سرای ته داخله شی اوبیااول ته طلاق نه واقع کیږی ځکه تعقیب نه راغلی او که اول سرای ته اوځل داخله شی اودوهم ځل دوهم سرای ته داخله شی لیکن په مینځ کښی څه درنګ راشی هم طلاق واقع نه ده ځکه دلته که څه هم تعقیب شته لیکن وصل نشته.

وَقَدْيَكُونُ الْفَاءُ لِبَيَانِ الْعِلَّةِ مِثَالُهُ اِذَا قَالَ لِعَبْدِهٖ اَدِّ اِلَیَّ اَلْفاً فَاَنْتَ حُرٌّ كَانَ الْعَبْدُ حُرّاً فِی الْحَالِ وَاِن لَّمْ يُؤَدِّ شَيْئاً وَلَوْ قَالَ لِلْحَرْبِیِّ فَاَنْتَ اٰمِنٌ كَانَ اٰمِناً وَ اِنْ لَّمْ يَنْزِلْ.

ترجمه : اوفاء کله کله دبیان دعلت لپاره وی مثال ئی داده که مولی خپل غلام ته وویل ادالی الفا فانت حرٌ نوغلام فی الحاله آزاد ده که څه هم ده هیڅ شی نه ده اداء کړی او که مسلمان وحربی ته وویل انزل فانت آمن حربی مامون ده که څه هم نه شی کښته.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی فاء کله کله دبیان دعلت لپاره راځی یعنی ددی خبری دبیان لپاره راځی چی ترهغه مخته اویاورسته علت وی اوهغه فاء چی دبیان دعلت لپاره راځی هغه پرحکم هم داخلیږی اوپر علت هم داخلیږی په کلام دعربو کښی ددواړو استعمال موجود ده دحکم مثال داده لکه عرب چی وائی اطعمته فاشبعته ددی مطلب مادی موړ کی علت ئی داده چی ماده ته اطعام ورکی دلته اطعام علت ده اواشباع حکم ده فاء داخله پرکلام ده اوهمدارنګه دی وائی سقیته فارویته مادی اوبه کی علت ئی داده اوبه می په وڅښلی دلته هم اوبه کول حکم ده او اوبه ورکول علت ده فاء داخله پرحکم ده اودعلت مثال داده لکه عرب قیدی چی ته چی وویل شی ابشرفقداتاک الغوث مبارک دی شه ستاکومک راځي دلته غوث علت ده دابشارلپاره فاء داخله پرعلت ده اودا یاد ساته چی دفاء ددخول پرعلت لپاره شرط داده چی علت لره به دوام وی یعنی هغه علت به له حکم ورسته هم موجود وی لکه څرنګه چی تر حکم مخکی وی که داشرط موجود نه وو پرعلت باندی دفاء دخول جائز نه ده اوداشرط ددی وجه بیان کړشو چی فاء دخپل مدخول پرتعقیب باندی دلالت کوی یعنی پردی دلالت کوی چی مدخول دفاء د تاخیرضروری ده ترماقبل د فاء اودامسلمه خبره ده چی علت ترحکم مخکی وی نوکله چی په علت کښی دوام وی نو هغه لکه څرنګه چی ترحکم مخکی موجود ده اوهمدارنګه ترحکم ورسته هم موجود ده نوکله چی ترحکم ورسته هم موجود وی نودفاء مدلول چی تعقیب ده حاصل شو لهذا په دی صورت کښی دفاء دخول پرعلت غائی وی څکه دعلت غائی وجو د ضروری وی ترحکم لهذا دفاء مدلول دتعقیب مستحق شو ددی مثال چی فاء دبیان علت وی داده که مولی خپل غلام ته وویل ادالیّ الفاً فانت حرٌّ په دی صورت کښی غلام فی الحاله آزاد ده که څه هم دِهیڅ شی نه ده اداء کړی په دی مثال کښی فاء داخله پر علت ده مطلب ئی داده ته زر روپی اداء کړه ته آزاد ئی اوحریت چونکه دائمی شی ده له دی وجه په نظروبقاء ته تر اداء مؤخر هم ده نوکله چی حریت اداء مؤخره پرده باندی دخول دفاء صحح ده حاصل داده چی حریت علت ده اواداء دالف معلول ده علت چونکه مقدم وی پرمعلول باندی له دی وجه حریت تنجیزاً پراداء دالف مقدم ده اوله اداء سره دده هیڅ تعلق نشته اوپه کلام کښی هم پردی څه قرینه نشته چی حریت معلق پراداء ده لهذا حریت دمولی دکلام له فارغ کیدو ورسته فوراً ثابت ده.

سوال: دلته ولی فاء محمول شوه پر علت ولی پر خپلی حقیقی معنی چی عطف ده نشوه حمل. ؟

جواب: داده چی دلته عطف معتذر ده په دی طریقه چی اذا التقا جمله انشائیه ده او انت حر جمله خبریه ده او د جملی خبری عطف پر جمله انشائیه جائز نه ده لهذا پر مجازی معنی باندی عطف شو.

دبیان علت لپاره دفاء دوهم مثال داده که مسلمان حربی ته وویل راکښته شه ځکه ته مامون ئی په دی صورت کښی که حربی راکښته شی او که نه مامون ده دلیل داده چی دلته فاء دعطف لپاره نه شی کیدای ځکه «انت آمن» جمله خبریه ده او انزل جمله انشائیه ده د جملی انشائی عطف پر جمله خبریه جائز نه ده لهذا ثبوت آمن مرتب پر نزول نه ده حاصل داده کله چی فاء دعطف لپاره نه وه نو مجازاً پر بیان دعلت باندی حمل شوه.

وَفی الجَامع مَا اذَا قَالَ اَمرُ امراتی بیدکَ فَطلّقهَا فطلّقهَا فی المَجلس طُلّقت تَطلیقَةً بَائنَةً وَلَایَکُون الثّانی تَوکیلاً بطَلاً غیرَ الاَوّل فَصَارَ کَانّهُ قَالَ طَلّقهَا بسَبَب اَنَ اَمرهَا بیَدکَ وَلَوقَالَ طَلّقهَا فَجَعلتُ اَمرهَا بیَدکَ فَطَلّقهَا فی المَجلس طُلّقت تَطلیقَةً رَجعیّةً وَلَوقَالَ طَلّقهَا وَجَعلتُ اَمرهَا بیَدکَ وَطَلّقهَا فی المَجلس طُلّقَت تَطلیقَتَین وَکَذالکَ لَوقَالَ طَلّقهَا وَ اَبنهَا اَو اَبنهَا وَطَلّقهَا فطَلّقهَا فی المَجلس وَقَعَت تَطلیقَتَان.

ترجمه: او په جامع کبیر کښی دی چی که خاوند یو چاته وویل زد ما ښځی معامله ستا په لاس ده ته دی طلاق ورکړه په او ده په دغه مجلس کی طلاق ورکی یو بائن طلاق واقع ده او دوهم (فطلقها) له اول طلاقه بغیره دبل شی توکیل نه ده نو داسې شو لکه ده سی داسی وویل ته دی ته له دی وجه طلاق ورکړه چی معامله ئي ستا په لاس ده او که ئي وویل ته دی ته طلاق ورکړه ځکه ما ددی معامله ستا په لاس درکړی ده او ده په دغه مجلس کی طلاق ورکی یو رجعی طلاق واقع ده او که ئی وویل ته دی ته طلاق ورکړه ماددی معامله ستا په لاس کی درکړی دی او ده په دغه مجلس کی طلاق ورکی نو دوه طلاقه واقع کیږی او همدارنګه که خاوند وویل ته دی ته طلاق ورکړه او جلاکړه اویائي داوویل ته دا جلاکړه او دی ته طلاق ورکړه او ده په مجلس کی طلاق ورکړی نو دوه طلاق واقع دی.

تشریح: مخکی موږ داوویل چی فاء پر علت باندی هم داخلیږی او پر حکم دلته مصنف رحمه الله داسی مثالونه ذکرکړه چی فاء داخله پر علت باندی وه او له جامع څخه داسی مثالونه ذکر کوی چی فاء پر حکم داخله ده لکه دوی چی وائی چی امام محمد په جامع کبیر کښی ویلی دی که خاوند بل شخص ته دطلاق وکالت ورکی او ورته وویل امر امراتی بیدک فطلقها زما دښځی معامله ستا په لاس کی ده لهذا ته دا طلاق کړه په دی عبارت کښی امر امراتی چونکه خبر دی او طلقها انشاء ده له دی وجه عطف صحیح نه ده نو چی عطف صحیح نه شو فاء دبیان دعلت لپاره ده حاصل داده چی په دی مثال کښی

فاء دبیان دعلت لپاره ده اوداخله پر حکم ده ځکه دامر بااليه علت ده اوطلاق ددی معلول اوحکم ده مطلب ئی داده چی زمابنځی ته طلاق ورکړه ځکه ماتاته اختیار درکړی ده له دی اختیار ورسته که وکیل دبنځی په دغه مجلس که طلاق ورکی پردی بنځی یوبائن طلاق واقع ده مصنف رحمه الله دمجلس قیدله دی وجه ذکر کی چی کلام دطلاق دتفویض لپاره ده اوتفویض منحصر وی پرمجلس باندی لهذا نوکه وکیل په مجلس کی طلاق ورکی واقع ده اوکه له مجلسه بهر وو نه دواقع اوپه دی صورت کی طلاق بائن ده له دی وجه ده چی دامر با الیه په ذریعه چی وکیل ته کوم طلاق سپارل شوی ده اوپه کنائی الفاظ سره خوطلاق بائن واقع کیږی لهذا دلته هم پربنځي یوبائن طلاق واقع ده مصنف رحمه الله وائی چی دخاوند قول ؛ فطلقها ؛ له اول طلاق بغیره دبل مستقل طلاق توکیل نه ده چی په نتیجه کی پربنځه باندی دوه طلاق واقع شی بلکه دا داسی ده لکه خاوند چی داسی ووائی ته زمابنځه طلاقه کړه ځکه ددی دطلاق معامله ستاپه اختیار کی ده نو اوس له فطلقها څخه هغه طلاق مراد ده چی دامر بااليه په ذریعه وکیل ته سپارل شوی ده داسی نه ده چی دامربااليه په ذریعه دیوه طلاق وکیل جوړشوی ده اوفطقها په ذریعه دبل مستقل طلاق وکیل جوړکړشو لهذا پربنځه باندی یوطلاق واقع ده دوه نه دی واقع لیکن که فاء لپاره دعطف وای بیابی له شکه دوه طلاقه واقع کیدل.

اوکه خاوند یوچاته وویل طلقها فجعلت امرها بیدك ته دی ته طلاق ورکړه ځکه ماددی معامله ستاپه اختیاردرکړی ده نوکه وکیل په دغه مجلس کی طلاق ورکی پربنځه یو رجعی طلاق واقع ده ځکه داکلام دصریحی طلاق دتفویض لپاره ده اوپه صریحی طلاق سره رجعی طلاق واقع کیږی لهذا په دی کلام سره صریحی طلاق واقع کیږی اوامر بااليه یعنی فجعلت امرها بیدك ددی لپاره بیان ده اوکه خاوند یوشخص ته وویل طلقها جعلت امرها بیدك اووکیل په دغه مجلس کی طلاق ورکي پربنځه باندی دوه طلاق واقع دی او دواړه بائن دی دوه له دی وجه واقع کیږی چی دلته واو دبیان علت احتمال نه لری اوپر عطف باندی حمل کول که څه هم سخت ده له دی وجه چی طلقها جمله انشائیه ده او جعلت امرها جمله خبریه ده اوحمل دجملی خبریې پرانشائیه باندی نه ده صحح لیکن دعاقل بالغ کلام له لغوه څخه دساتلو لپاره اوله دی بغیر بله چاره هم نشته مجبوراً واوحمل کوو پرعطف باندی اوداخبره تاته معلومه ده چی واو دعطف دمغایرت تقاضی کوی لهذا دطلقها په ذریعه دیوه طلاق توکیل ده اودجعلت امرها بیدک په ذریعه دبل توکیل ده له دی وروسته چی وکیل طلقها ووائی دی بنځي ته طلاق ورکړی نودواړه طلاقه واقع شو اول طلاق چونکه په صریح لفظ سره ده رجعی ده اودوهم طلاق په امر بااليه یعنی کنائی لفظ سره ده بائن ده اوله طلاق بائن سره رجعی طلاق هم بائن ده لهذا دواړه بائن دی له بائن طلاق سره رجعی له دی وجه بائن ده چی د طلاق رجعی تقاضی داده چی خاوندلره رجوع جائز ده اودبائن تقاضی داده چی رجوع جائز نه ده دجواز اوعدم جواز دتعریض په

صورت کښې عدم جواز راجع ده لهذا دلته عدم جواز درجوع ده کله چې د رجعت عدم جواز راجع شو نو طلاق رجعي هم بائن شمار شو او همدارنګه که خاوند چاته وويل طلقها وابنها نه دې ته طلاق ورکړه او يا داجلاکړه اويائي داوويل ابنها وطلقها داجلاکړه اودې ته طلاق ورکړه اووکيل په دغه مجلس کې دې طلاق ورکې په دې دواړوصورتو کښې پردې دوه بائن طلاقه واقع کيږي ځکه واو عاطفه پردې دلالت کوي چې خاوند وکيل ته د دوو طلاقو اختيار ورکړی ده يو دطلقها په ذريعه او بل دابنها په ذريعه نو کله چې وکيل ښځه ته طلاق ورکړی دواړه طلاقه واقع دې اودابنها لفظ په ذريعه طلاق بائن واقع کيږي اومونږ وړاند وويل چې طلاق رجعي له بائن طلاق سره بائن ده اودايادلره چې په اخره مسئله کښې قيد دمجلس اتفاقي ده اويادکاتب سهوه ده ځکه طلقها ويل او ابنها توکيل دې اوتوکيل منحصرپرمجلس نه وي نوچې توکيل منحصر پرمجلس نه وي نو دوکيل لکه څنګه چې په مجلس کې اختيار ده همدارنګه له مجلس بهر هم اختيار لري اوهغه مسائلي چې په هغوکښې امر باالیه وي ددې خلاف دي ځکه په هغوکښې تمليک دطلاق ده اوتفويض دطلاق ده اوتمليک منحصرپرمجلس وي لهذا په دغو مسائلوکښې وکيل لره صرف په مجلس کې اختيار ده.

وَعَلى هذَا قَالَ اَصحَابُنَا اِذَا اُعتِقَت الاَمَةُ المَنكُوحَةُ ثَبَتَ لَهَا الخِيَارُ سَوَاءٌ كَانَ زَوجُهَا عَبداً اَو حُرّاً لِاَنَّ قَولَهُ عَلَيهِ السَّلَامُ لِبَرِيرَةَ حِينَ اُعتِقَت مَلَكت بُضعَکِ فَاختَارِي اَثبَتَ الخِيَارَ لَهَا بِسَبَبِ مِلكِهَا بُعضَهَا بِالعِتقِ وَهذَ المَعنى يَتَفَاوَتُ بَينَ كَونِ الزَّوجِ عَبداً اَوحُرّاً.

ترجمه: بناء پر دې باندې زمونږ علماء وائي کله چې منکوحه مينځه آزاده کړشي نودې لره خيار ثابت ده خواه که ددې خاوند غلام وي او که حروي ځکه نبي کريم ﷺ هغه وخت د حضرت بريره رضي الله تعالی عنها ته چې آزادشوه وويل ملكت بضعك فاختاري ده مبارک دې لره خيار ثابت کې په دې وجه چې هغه دآزاديدو په وجه دخپلې بعضع مالکه شوه په دې معنی کښې دخاوند دغلاميت اوحريت فرق شته.

تشريح: مصنف رحمه الله وائي ددې اصولو پربناء چې فاء کله کله پرحکم داخليږي زمونږ علماء وائي که منکوحه مينځه آزاده شي دې لره خيار عتق ثابت ده يعني دې لره دنکاح دفسخې اوياباقي پريښودلو خيار شته خواه که ددې خاوند غلام وو اوکه آزاد وي دليل ئې داده چې نبي کريم ﷺ حضرت بريره رضی الله تعال عنها ته هغه وخت چې داآزاده شوه وويل ملكت بضعک فاختاري په دې حديث کې صاحب شريعت حضرت بريره رض ته له دې وجه خيارثابت کې چې دادخپلې بضعې مالکه شوه په حديث کښې خيار دبريرې حکم اومعلول ده اودعتق په وجه مالک کيدل علت ده اوفاء داخله پرحکم ده لهذا حکم يعني ثبوت دخيار مرتب پرعلت ده يعني ثبوت دملک دبضعې باندې ... داشوه چې منکوحه مينځه لره خيار ثابت ده خواه که ئې خاوند غلام وي او که حروي

امام شافعی رحمه الله په دی مسئله کښې د احنافو مخالف دی دوی وائی که خاوند غلام وی بیا دی لره خیار عتق شته او که آزاد وو بیا دی لره خیار عتق نشته.

وَيَتَفَرَّعُ مِنْهُ مَسأَ لَهُ اعتبارِ الطَّلَاقِ فَاِنَّ بضعَ الاَمَةِ المَنكُوحَةَ ملكُ الزَّوجِ وَلَم يَزَل عَن ملكه بعتقها فَدَعَت الضَّرُورَة اِلَى القَولِ بازدِيَادِ الملك بعتقها حَتَّى يَثبُتَ لَهُ الملك فى الزِّيَادَة وَيَكُونَ ذَالِكَ سَبَبًا لِثُبُوتِ الخِيَارِ لَهَا وَازدِيَادُ ملك البُضعِ بعتقها مَعنى مَسأ لَة اعتبارِ الطَّلَاقِ بِالنِّسَاءِ فَيُدَارُ حُكمُ مالكِيَّةِ الثَّلَاث عَلَى عِتقِ الزَّوجَةِ دُونَ عِتقِ الزَّوجِ كَمَا هُوَ مَذهَبُ الشَّافِعِيِّ

ترجمه: او پر فاء چې په حدیث کښې ذکر ده مسئله د طلاق باعتبار النساء تفریع کیږی له دی وجه چې د منکوحې مینځې بضعه د خاوند ملک ده نو ددی په آزادیدو سره د خاوند ملک زائلیږی نو ددی په آزدیدو سره ضرورت ده وقول ته په زیادت د ملک سره تر دی حده که خاوند لره زیادت د ملک ثابت شی او دا زیادت د ملک سبب ده د ثبوت د خیار و مینځې لره او ددی له آزادوالی څخه زیات د ملک په بضعې باندی په معنی د مسئلې د اعتبار الطلاق باالنساء ده نو حکم د ملکیت د ثلاثة دائر ده پر عتق د زوجې نه پر عتق د زوج لکه امام شافعی رحمه الله چې وائي.

تشریح: په دی حدیث ملکت بضعک فاختاری کښې فاء د بیان علت لپاره ذکر شوی ده مصنف رحمه الله د احنافو د مذهب مطابق پر دی باندی د امسئله تفریع کوی چې تعداد د طلاق د ښځو حریت او غیر حریت په اعتبار ده تر دی بیان مخکې دا وپیژنه چې طلاق د رقیت په وجه ناقص او په تعداد کښې کم وی هغه داده چې د حریت په صورت کې خاوند د درو طلاقو حق لری او د عبدیت په صورت کښې د دوو پر دی باندی د ټولو اتفاق ده لیکن اختلاف په دی کښې ده چې حال د نرو معتبر ده او که د ښځو احناف وائی چې حال د ښځو معتبر ده او امام شافعی رحمه الله په نزد د نرو حال معتبر ده احناف وائی که ښځه مینځه وه بیا خاوند د دوو طلاقو مالک ده او که آزاده وه خاوند د درو طلاقو مالک ده خاوند که آزاد وی او که غلام وی او د امام شافعی رحمه الله مذهب داده چې که خاند آزاد وو د درو طلاقو مالک ده او که غلام وو د دوو طلاقو مالک ده ښځه که ئې آزاده وی او که مینځه وی ثمره د اختلاف ئې په دی صورت کښې ظاهره کیږی چې خاوند آزاد وی او ښځه ئې مینځه وی د احناف په نزد د دوو طلاقو مالک ده او امام شافعی په نزد د درو طلاقو مالک ده او که خاوند غلام وو ښځه ئې آزاده وه د احناف په نزد خاوند د درو طلاقو مالک ده او د شوافع په نزد د دوو طلاقو مالک ده.

مصنف رحمه الله وائی زمونږ مذهب پر مذکوره حدیث باندی تفریع ده په دی طریقه چې پر دی ټول متفق دی چې بضعه د مینځې د خاوند ملک ده او د مولی په آزاد کولو سره هم د خاوند ملک نه ختم کیږی له دی وجه که د مولی په آزادیدو سره د خاوند ملک ختم شی نو په کوم صورت کښې چې زوجه معتقه

نکاح نه فسخ کوی نو خاوند باید په دی صورت کښی تجدید دنکاح ته محتاج وای او حال داده چی په دی صورت کښی خاوند پریوه مذهب هم تجدید دنکاح ته ضرورت نه لری نو داددی علامه ده چی دمنکوحی زوجی دعتق باوجودددی له بضعی څخه دخاوندملک زائل نه ده لیکن اوس یو سوال کیږی

سوال : کله چی خاونددزوجی ترعتق مخکی هم ددی دبضعی مالک وؤ اوله عتقه ورسته هم مالک ده دمینځی په آزادیدوسره دخاوندملک ددی پربضعه باندی زیادشو یعنی ترآزادیدومخکی دخاوندملک ددی پربضعی باندی کمزوری وؤ اوله آزادیدوورسته قوی شو اوچونکه دمینځی پربضع زیادت دملک بی له بدله مینځي له ضرر وؤ نوددی ضرر ددفع کولولپاره دی ته پس له عتقه خیارعتق ثابت شو حاصل داده چی دخیاردعتق سبب ازدیاد دملک ده اودامسلمه خبره ده چی په څومره اندازه چی ملک قوی وی زائل کونکی ئی هم په هغه اندازه قوی وی اوپه نکاح سره چی کوم ملک ثابت ده دهغه مزیل طلاق ده نوکله چی داسی شو نود مینځتوب په صورت کښی چی ملک په دوؤ طلاقو زائل کیدی دآزادیدوپه صورت کښی چونکه ملک زیادت شوی ده په دوؤ طلاقونه زائل کیږی بلکه په دروطلاقوباندی زائل کیږی.

ته فکروکړه کله چی دمینځی په آزادیدوسره ددی پربضعه باندی زیادت دملک وؤ نو په مزیل یعنی طلاقو کښی به هم زیادت وی اودخاوندپه آزادیدوسره نه په ملک کښی زیادت راځی اونه په مزیل کښی لهذا په تعداد دطلاق کښی حال دښځی معتبرده دخاوندحال معتبرنه ده اود دروطلاقو ملکیت دښځوپردآزادی بناء ده نه دنروپرآزادی لکه امام شافعی رحمه الله چی وائی حاصل داده چی له حدیث څخه داثابته شوه چی تعداد دطلاقودښځودآزادی په اعتبار ده نه دنر دآزادی په اعتبار.

فوائد: امام شافعی رحمه الله دخپل مذهب داستدلال لپاره داحدیث الطلاق بالرجال والعدة بالنساء راوړی طریقه داستدلال ئی داده چی نبی کریم ﷺ طلاق دعدی په مقابله کښی په داسی طریقه راوړی چی هریوئی په ځانته جنس پوری خاص کړیعنی طلاق ئی خاص کړپه نروپوری اوعده ئی خاص کړه په ښځوپوری نودعدی په مقدار کښی حال دښځومعتبر ده که آزاده وه عده ئی ددری طهر ده اوکه مینځه وه دوه طهره اوپه قول داحناف که آزاده وه دری حیضه ده اوکه مینځه وه دوه حیضه ده نوکله چی مقدار دعدی دښځوپه اعتبار ده نودمقابلی تقاضی داده چی دطلاق په مقدار کښی دنرو حال ته اعتبارده.

حاصل داده چی له دی حدیثه داثابته شوه چی دطلاق په مقدار کښی دنروازادی اوغیرآزادی معتبره ده نه دښځو.

جواب : داحناف له طرفه جواب داده کوم وخت چی صحابه رضی الله عنهم په دی مسئله کښی خبری کولی نوله قیاسه څخه به ئی استدلال کوی او سره له دی چی ددی حدیث راوی زیدبن ثابت ده له دی حدیثه ئی استدلال نه کوی نودصحابه وؤ عدم استدلال له دی حدیثه ددی ثبوت ده چی داحدیث ثابت نه ده او یادا حدیث منسوخ ده او که باالفرض داحدیث ثابت شی نو موږ جواب ورکوو چی دحدیث مطلب داده چی وقوع دطلاق دنړوحق ده اوعده تیر ول دښځوحق ده یعنی په حدیث کښی دنر اوښځی دحق ذکرده دطلاق اوعدی په دمقدار کی خبره نه ده اوله کوم حدیث سره چی داااستدلال تعلق ده هغه زموږ سره موجود ده چی نبی کریم فرمائی طلاق الامة ثنتان وعدتها حيضتان

فَصلٌ ثُمّ للتّرَاخی

فصلٌ ثُمّ للتّراخی لکنّهُ عنداَبی حَنیفَةَ یُفیدُ التراخی فی اللّفظ وَالحُکم وعندَ هُمَا یُفیدُ التراخی فی الحُکم وَبَیانُهُ فیمَا اذَا قَالَ لغَیرِ المَدخُول بهَا ان دَخَلت الدّارَفانت طَالقٌ ثُمّ طَالقٌ ثُمّ طَالقٌ فَعندَهُ یَتَعَلّقُ الاَولی بالدّخول وَتَقعُ الثّانیَةُ فی الحَالِ وَلَغَت الثّانیَةُ وَعندَ هُمَا یَتَعَلّقُ الکُلُّ باالدّخولِ ثُمّ عندَ الدّخُولِ یَظهَرُ التّرتیبُ فَلاَ یَقعُ الاّ وَاحدَةٌ .

ترجمه: فصل لفظ دثم دتراخی لپاره ده لیکن پرمذهب دامام صاحب دتکلم اوحکم دواړو دتراخی لپاره راځی اودصاحبین په نزد دحکم دتراخی لپاره ده دااختلاف په دی صورت کښی ده چی خاوند خپلی غیر مدخول بها ښځي ته ووائي ان دخلت الدار فانت طالق ثم طالق ثم طالق دامام صاحب په نزد اول طلاق معلق پردخول ده اودوهم طلاق فی الحاله واقع ده اودریم طلاق لغوه ده اودصاحبین په نزد دری سره طلاقه معلق پردخول دی اوددخول په وخت کښی ئی ترتیب ظاهره کیږی لهذا صرف یو طلاق واقع کیږی.

تشریح : له حروف عاطفه وؤ څخه دریم صرف (ثم) ده ثم دتراخی لپاره راځی یعنی دمعطوف اومعطوف علیه په مینځ کښی مهلت اوفصل وی په هغه فعل کښی چی تردوی تعلق لری مثلاً جاءنی زیدثم عمرو ددی مطلب داده چی دعمر راتګ دزید تر راتلوڅه ساعت ورسته وؤ اوضربت زیداثم عمر مطلب داده چی دعمروهل دزید تروهلوڅه وخت ورسته وؤ حاصل داده چی پردی ټولو اتفاق ده چی ثم دتراخی لپاره راځی لیکن اختلاف په دی کښی ده چی دتکلم اوحکم دواړو دتراخی لپاره ده او که صرف دحکم دتراخی لپاره ده دامام صاحب په نزد ددواړو دتراخی لپاره ده اودصاحبین په نزد صرف دحکم دتراخی لپاره ده دامام اعظم دلیل داده چی لفظ وضع دتراخی لپاره ده او په هرشی کښی اصل هغه ده چی په هغه کښی دده کمال وی او په تراخی کښی کمال داده چی په تکلم اوحکم دواړو کښی تراخی وی له دی وجه که صرف په حکم کښی تراخی وی او په تکلم کښی تراخی نه وی لکه صاحبین چی وائی نو په دی صورت کښی من وجه تراخی شته اومن وجه نشته

اوصاحبین دلیل داده چی که له حکم سره په تکلم کښې هم تراخي وی بیا د معنی د عصف رعایت نه وشو ځکه سره له انفصاله عطف صحح نه ده ځکه کلام حقیقتاً هم متصل وی او حساً هم متصل وی لهذا انفصال لره هیڅ معنی پیدا نشوه نوکله چی داسی شو نو په حکم کښې که څه هم انفصال او تراخي وی لیکن په تکلم کښې به نه وی.

دامام صاحب جواب داده چی د عطف صحت مبنی ده پرصوری اتصال باندی او دا موجود ده لهذا په تکلم کښې د اتصال ضرورت نشته بلکه د حکم په شان په تکلم کښې هم تراخي او انفصال ضروری ده ددی اختلاف د ثمری د ظاهرکولو لپاره مصنف رحمه الله څو مسائلي ذکر کوی یوه داده که یو سړی خپلي غیر مدخول بها ښځې ته وویل ان دخلت الدار فانت طالق ثم طالق ثم طالق دامام صاحب په نزد اول طلاق معلق پردخول ده دوهم فی الحاله واقع ده دریم لغوه ده ځکه اول طلاق معلق پردخول ده دوهم فی الحاله واقع ده دریم لغوه ده ځکه اول طلاق بی له عطفه له شرط د دخول د دار سره متصل ده لهذا بی له دخوله د داره فی الحاله نه واقع کیږی اوله دوهم اودریم سره چونکه لفظ د ثم ذکرده نو داسی ده لکه خاوند چی ددی لفظ ؛ان دخلت الدار فانت طالق ؛ له ویلو ورسته سکوت کړی ده او بیا ورسته ئی په دانورو سره تکلم کړی ده دارنګه دواړی متعلق شرط نه دی نوکله چی دوی متعلق ترشرط نشوی اومحل د طلاق موجود ده نو دوهم فی الحاله واقع ده او غیر مدخول بها ښځه چونکه په یوه طلاق سره بائنه کیږی او عده هم پرواجب نه ده نو دوهم طلاق چی واقع شو ښځه له دی ورسته محل د طلاق پاته نشوه لهذا دریم طلاق لغوه شو اوصاحبین وائی دری سره طلاقه متعلق تردخوله دی اوله دخول د داره ورسته دری سره په ترتیب سره واقع کیږی اوله دوی څخه صرف یو واقع کیږی دوهم اودریم نه واقع کیږی وجه ئی داده چی دصاحبین په نزد په تکلم کښې وصل موجود ده او په عبارت کښې هم وصل نشته لهذا دری سره متعلق ترشرطه دی اوله دخوله ورسته هریو په خپل وارسره واقع کیږی یعنی اول اول ځل اودوهم دوهم ځل اودریم دریم ځل اوچونکه ښځه غیرمدخول بها ده په یوه طلاق بائنه کیږی او عده هم پرواجب نه ده له دی وجه دا په اول طلاق سره بائنه شوه او ښځه محل د طلاق پاته نشوه نو ځکه دوهم اودریم نه واقع کیږی.

ته فکر وکړه چی د دری سره حضراتو په نزد یو طلاق واقع ده دامام صاحب په نزد دوهم واقع ده او دصاحبین په نزد اول واقع ده مطلب داده چی په حکم کښې ټول اتفاق دی لیکن د حکم په تخریج کښې اختلاف ده.

وَلَوقَالَ اَنت طَالقٌ ثُمّ طَالقٌ ان دَخلت الدّارفعندَ اَبی حَنیفَۃَ رحمه الله وَقَعَتِ الأولی فِی الحَالِ وَلَغَتِ الثّانِیۃُ وَالثّالثَۃُ وَعِندَ هُمَا یَقَعُ الوَاحِدَۃُ عِندَ الدّخُولِ لِمَا ذَکَرنَا .

ترجمه: او که خاوند وویل ؛انت طالق ثم طالق ان دخلت الدار ؛ دامام صاحب په نزد اول طلاق فی الحاله واقع ده اودوهم اودریم لغوه دی اودصاحبین په نزد په وخت ددخول د دار کښې یوواقع کیږی دلیل هغه ده چی موږ ذکر کی.

تشریح: دوهمه مسئله داده که خاوند شرط ورسته کی وویل انت طالق ثم طالق ان دخلت الدار دامام صاحب اود صاحبین دواړو په نزد یوواقع ده لیکن دامام صاحب په نزد اول فی الحاله واقع ده دوهم اودریم لغوه ذی ځکه دامام صاحب په نزد ثم پر تراخی فی التکلم باندی هم دلالت کوی لهذا داکلام داسی ده لکه خاوندچی لفظ انت طالق ووائی اوبیا سکوت وکړی اوبیاورسته په دوهم کلام تکلم وکړی اوبیاپه دریم کلام تکلم وکړ نوکله چی داسی شو نواول طلاق پردخول ددار معلق نه ده لهذا اول طلاق فوراً واقع ده اوښځه چونکه غیر مدخول بها ده لهذا داپه یوه طلاق بائنه کیږی اوپردی عده نشته نوداله یوه طلاقه ورسته محل د طلاق نه ده لهذا دوهم اودریم طلاق لغوه دی اودصاحبین په نز د هم اول واقع ده لیکن له دخوله د دار ورسته ځکه صاحبین په نزد ثم دلالت پرتراخی فی التکلم نه کوی لهذا دری سره طلاق پردخول د دار معلق دی اوله دخول د دار ورسته په ترتیب سره واقع کیږی نوچی اول طلاق واقع شو لدی ورسته ښځه محل دطلاق نه ده لهذا دوهم اودریم طلاق لغوه دی.

وَاِن كَانَتِ الْمَرْاَةُ مَدْخُولاً بِهَا فَاِن قَدَّمَ الشَّرطَ تَعَلَّقَتِ الأُولٰى بِالدُّخُولِ وَيَقَعُ ثِنْتَانِ فِى الحَالِ عِندَ اَبِى حَنِيفَةَ وَاِن اَخَّرَ الشَّرطَ وَقَعَ ثِنْتَانِ فِى الحَالِ وَتَعَلَّقَتِ الثَّانِيَةُ بِالدُّخُولِ وَعِندَهُمَا يَتَعَلَّقُ الكُلُّ بِالدُّخُولِ فِى الفَصلَينِ.

ترجمه: او که ښځه مدخول بها وه نوکه خاوند شرط مقدم کی دامام صاحب په نزد اول طلاق معلق پردخول ده اوورسته دوه فی الحاله واقع دی اوکه ئی شرط مؤخر کی بیا دوه فی الحاله واقع دی اودریم ملعق پردخول ده اودصاحبین په نزد په دواړو صورتو کښې دری سره معلق پردخول دی.

تشریح: دریمه مسئله داده که ښځه مدخول بها وه اوخاوند شرط مقدم کی داسی وویل ان دخلت الدار فانت طالق ثم طالق ثم طالق دامام صاحب په نزد داول طلاق مبنی پردخول ددار ده او ورستنی دوه فی الحاله واقع دی ځکه دلفظ دثم په وجه دوهم اودریم طلاق له شرطه منفصل دی لهذا دوی دواړه متعلق تر دخول ددار ه نه دی چی متعلق نه شو نودواړه واقع دی ځکه ددوهم طلاق له واقع کیدو ورسته دعدی دوجودپه وجه محل باقی ده نوچی محل باقی شو دریم طلاق هم واقع ده بلکه که دعدی په دوران کښې دخول ددار موجود شو اول طلاق هم واقع ده.

څلورمه مسئله داده که خاوند شرط مؤخر کی وویل انت طالق ثم طالق ثم طالق ان دخلت الدار په دی صورت کښې اواودوهم فی الحاله واقع دی اودریم معلق پردخول ددار ځکه دلفظ دثم په واجه داسی شو

لکه خاوندی چی ددی کلام انت طالق له ورسته سکوت وکړی اوبیا ثم تعلق ووائی اوسکوت وکړی اوبیا نه نوی کلام ذکرکړی لهذا اول طلاق دتکلم کولو په وخت کښې واقع ده اودوهم څه ساعت ورسته واقع ده اودریم پردخولددار مالک ده نوکه دخول ددار په دوران دعدی کښې موجودشو نودریم هم واقع ده اوکه له عدی ورسته موجود شو نودمحل دنه بقاء په وجه دریم لغوه ده اودصاحبین په نزد لفظ دثم چونکه پرتراخی اوفصل دلالت نه کوی بلکه پروصل دلالت کوی دری سره طلاقه معلق پردخول ددار دی شرط که مقدم وی اوکه مؤخروی اوله دخول ددارہ ورسته ددی سره په خپل وار واقع کیږی.

فَصلٌ بَل لِتَدَارُک

فصلٌ بَل لِتَدَارُکِ الغَلَطِ بِاِقَامَةِ الثَّانِی مَقَامَ الاَوّلِ فَاِذَا قَالَ لِغَیرِ المَدخُولِ بِهَا اَنتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً لَابَل ثِنتَینِ وَقَعَت وَاحِدَةً لِاَنَّ قَولَهُ لَابَل ثِنتَینِ رُجُوعٌ عَنِ الاَوّلِ بِاِقَامَةِ الثَّانِی مَقَامَ الاَوّلِ وَلَم یَصِحّ رُجُوعُهُ فَیَقَعُ الاَوّلُ فَلَایَبقَی المَحَلُّ عِندَ قَولِهِ ثِنتَینِ وَلَوکَانَت مَدخُولاً بِهَا یَقَعُ الثَّلَاثُ.

ترجمه: لفظ دبل دغلطی دلری کولو لپاره ده اودوهم قائم مقام داول کوی نوکه خاوند غیر مدخول بها ښځي ته وویل انت طالق واحدة لابل ثنتین نویو طلاق واقع ده له دی وجه چی داقول لابل ثنتین له اوله څخه رجوع ده اوثانی داول قائم مقام کوی اوده دارجوع صحیح نه ده لهذا اول واقع ده اوثنتین د ویلو په وخت کښې باقی نه ده اوکه ښځه مدخول بها وه بیادری سره واقع دی.

تشریح: څلورم حرف له حروفوعاطفه وؤ څخه لفظ دبل ده دادغلطی دلری کولولپاره راځي اوله اول څخه داعراض کولولپاره وضع شوی ده خواه که اول منفی وی اوکه مثبت نوکله چی دلفظ بل په ذریعه له اول یعنی معطوف علیه څخه اعراض راشی دوهم یعنی معطوف داول قائم مقام ده مثلاً که یوچاه وویل جاءنی زید بل عمرو ددی مطلب داده چی دمتکلم اول ځل ایراده دزید خبر ورکول وو او ورسته داورته معلومه شوه چی ماپه دی کښې غلطی کړی دی نوله دی څخه ئی اعراض وکړ وویل لابل عمرو اوداهم یادساته چی کله کله دتاکید دنفی لپاره پربل باندی لاء داخلیږی لکه په دی مثال کی جاءنی زید لابل عمرو اوداهم یاسادته چی له اول څخه اعراض هغه وخت صحیح ده چی له اول څخه رجوع کول صحیح وی اودغلطی احتمال وی لکه اخبار اوکه له اول څخه رجوع صحیح نه وؤ لکه انشاء بیاله اول څخه رجوع هم صحیح نه ده بلکه په داسی ځای کی لفظ دبل دمحض عطف لپاره ده اوثانی له اول سره په طریقه دجمع ثابت ده لکه خاوند چی خپلی غیر مدخول بها ښځی ته ووائی انت طالق واحدة لابل ثنتین په دی صورت کښې صرف یوواقع ده ځکه دخاوند په قول کښې ثانی داول قائم مقام کول اوله اول څخه رجوع کول ده اوحال داده چی دلته رجوع صحیح نه ده ځکه دخاوند داقول انت طالق واحدة انشاء ده اوموږ وړاندی وویل چی دانشاء په صورت کښې رجوع

صحیح نه ده لهذا دلته له اول ځخه رجوع صحیح نه ده نو چی له اول ځخه رجوع صحیح نه شوه نو په دی سره یو طلاق واقع ده او ښځه چونکه غیر مدخول بها ده په یوه طلاق سره بائنه کیږی او پر غیر مدخول بها چونکه عده نشته له دی وجه دخاوند ددی قول ثنتین په وخت کښی دا محل د طلاق نه ده نو چی ښځه دلفظ ثنتین دویلو په وخت کښی محل دطلاق نه ده لهذا دا لفظ لغوه ده هو که ښځه مدخول بها وه دری طلاقه پرواقع کیږی په دی طریقه چی له اول ځخه رجوع ممکنه ده لهذا اول واقع ده او دیوه له وقوع ورسته مدخوبها ښځه چونکه محل دطلاق ده له دی وجه په لفظ دثنتین سره مزید دوه طلاقه نور واقع کیږی.

وَهٰذَا بِخِلَافِ مَالَوْقَالَ بِفُلَانٍ عَلَىَّ اَلْفٌ لَابَلْ اَلْفَانِ حَيْثُ لَايَجِبُ ثَلٰثَةُ اٰلَافٍ عِنْدَنَا وَقَالَ زُفَرُ يَجِبُ ثَلٰثَةُ اٰلَافٍ لِاَنَّ حَقِيْقَةَ اللَّفْظِ لِتَدَارُكِ الْغَلَطِ بِاِثْبَاتِ الثَّانِىْ مَقَامَ الْاَوَّلِ وَلَمْ يَصِحَّ عَنْهُ اِبْطَالُ لِاَوَّلِ فَيَجِبُ تَصْحِيْحُ الثَّانِىْ مَعَ بَقَاءِ الْاَوَّلِ وَذَالِكَ بِطَرِيْقِ زِيَادَةِ الْاَلْفِ عَلَى الْاَوَّلِ .

ترجمه: او ددی خلاف ده که یو چاه وویل لفلان علی الف لابل الفان ځکه زموږ په نزد دری زره روپی واجب نه دی او امام زفر رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چی دری زره روپی واجب دی له دی وجه چی لفظ دبل حقیقتاً د اول پرځای دوهم ثابت کوی او په غلطی رفع کوی او له مقر ځخه د اول ابطال صحیح نه ده لهذا د اول له بقاء سره د ثانی ثبوت واجب ده او دا په دی طریقه چی پر اول الف دیو الف زیادت وکړی.

تشریح: مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی مسئله دطلاق مخالفه ده دمسئلی داقرار ځخه یعنی دمدخول بها په صورت کښی که ځه هم په انت طالق واحدۃ لابل ثنتین سره ددی طلاق واقع کیده لیکن په لفلان علی الف لابل الفان سره زموږ په نزد دری زره روپی واجب نه دی بلکه دوه زره واجب دی او دامام زفر په نزد دری زره واجب دی زموږ دلیل داده چی دلفظ دبل حقیقت داده چی دغلطی تدارک لپاره ثانی قائم مقام کړی پرځای د اول بندی لیکن په دی مسئله د اقرار کښی د اول ابطال صحیح نه ده له دی وجه صحیح نه ده چی د اول په ابطال سره نکاح لازمیږی او له اقراره ورسته انکار جائز نه ده ځکه صاحب شریعت ﷺ فرمائی المرء یؤخذ باقرارہ حاصل داده چی د اول ابطال صحیح نه ده چی د اول ابطال صحیح نه شو نو د اول له بقاء سره د ثانی صحیح کول واجب ده یعنی داسی صورت پیدا کول واجب ده چی اول هم باقی وی او بل الفان هم صحیح وی او ددی صورت داده چی پر اول الف ده یو الفه زیادت وکړی په داسی صورت کښی لفلان علی الف هم صحیح ده او بل الفان هم صحیح ده.

حاصل داده چی په دی الفاظ سره په اقرار کولو سره دوه زره واجب کیږی دری زره نه او دامام زفر دلیل داده چی دی مسئله داقرار قیاس کوی پر مسئله دطلاق باندی او وائی لکه ځرنګه چی په مسئله دطلاق کښی پر مدخوبها باندی دری طلاقه واقع کیده همدا رنګه په مسئله د اقرار کښی هم پر مقر باندی دری زره واجب دی.

بخلاف قوله اَنت طَالقٌ وَاحدَةً لَابَل ثنتَين لاَنّ هذَا انشاءٌ وَذَالكَ اخبَارٌ وَالغَلَطُ انمَا يَكُون فی الاخبَار دُونَ الانشَاء فَاَمكَنَ تَصحيحُ اللفظ بتَدارُک الغَلَط فی الاقرَار دُونَ الطَلَاق حَتّی لَوكَان الطَلَاقُ بطَريق الاخبَار باَن قَالَ كُنتُ طَلَقتُکِ اَمس وَاحدَةً لَابَل ثنتَين يَقعُ ثنتَان لمَا ذَكَرنَا

ترجمه: اوله دی خلاف دده داقول انت طالق لابل ثنتين ده له دی وجه چی داانشاء ده اوهغه اخبار ده اوغلطی په اخبار کی وی نه په انشاء کی نوپه اقرارکښی دغلطی دتدارک لپاره دلفظ دبل صحت ممکن ده او په طلاق کښی داسی نه ده حتی که طلاق په طريقه داخبا روو په دی طريقه چی خاوند ووائی کنت طلقتك امس واحدة لابل ثنتين نودوه واقع دی په هغه دليل چی موږ ذکر کی .

تشريح: مصنف رحمة الله عليه ووائی مسئله داقرار دهغه خلاف ده چی خاوند خپلی مدخول بها ښځی ته ووائی انت طالق واحدة لابل ثنتين ځکه په مسئله داقرار کښی که څه هم زموږ په نزد دوه زره واجب دی ليکن په دی طلاق کښی په دی صورت کښی پرښځه دوه طلاقه نه واقع کيږی بلکه يوطلاق پر واقع کيږی ددی دوو په مينځ کښی فرق داده چی طلاق انشاء ده اواقرار اخبار ده اوغلطی خوپه اخباروکښی وی نه په انشاءکښی نوکله چی غلطی په اخبارو کښی وی نوپه اخباروکښی دغلطی تدارک ممکن ده په دی طريقه چی په اخبارو کښی دصدق اوکذب دواړه احتمال وی لهذا قائل داويلای شی چی ما اول ځل دروغ وويل صحح خبره داده.

خلاصه دده چی په اخبارو کښی دکذب نفی کول اودصدق په ذريعه دغلطی تدارک ممکن ده اوپه انشاء کښی چونکه غلطی نشته له دی وجه په انشاء کښی دغلطی تدارک هم ممکن نه ده اوچيرته چی غلطی وی هلته دغلطی تدارک هم ممکن ده اوچيرته چی غلطی نه وی هلته دغلطی تدارک هم ممکن نه ده نومسئله داقرار چونکه له قبيله داخبار ده په دی کښی داويل کيدای شی چی قائل په علی الف ويلو کښی غلط وو اوهغه غلطی ئی په لابل الفان سره لری کړه نوکله چی لابل الفان دغلطی تلافی وه نوپرمقرباندی دوه زره واجب دی اومسئله دطلاق چونکه انشاء ده له دی وجه موږ وايو که خاوند خپلی غير مدخول بها ښځی ته وويل انت طالق واحدة فوراً يوطلاق واقع ده يعنی ديوطلاق موجود کی اوس ده لره داممکنه نه ده چی داطلاق معدوم کړی اوپه لابل ثنتين سره دهغه تلافی وکړی اوکله چی داممکنه نه وه اودغه ښځه چونکه غير مدخول بها ده له دی وجه په يوه طلاق بائنه شوه پردی چونکه عده هم واجب نه ده ددانورو دوو طلاقو محل نه ده لهذا دخاوند داقول لابل ثنتين لغوه ده ته وګوره چی موږ وويل انت طالق واحدة انشاء ده لهذا په دی کښی دغلطی تدارک په لابل ثنتين سره صحيح کول ممکنه نه ده ليکن که طلاق په طريقه داخبارو مثلاً خاوندوويل کنت طلقتك امس واحدة لابل ثنتين په دی صورت کښی بيادوه طلاقه واقع کيږی لکه څنګه چی دلفلان علی الف لابل الفان په ذريعه دوه زره واجب کيدی.

فَصلٌ لٰکِن للاستدرَاک

فَصلٌ لٰکِن للاستدرَاک بَعدَ النفی فَیکُون مُوجَبُهٗ اثبَاتُ مَابَعدَهٗ فَاَمَّا نَفیُ مَاقَبلَهٗ فَثَابِتٌ بِدَلیله وَالعَطفُ بِهٰذه الکَلِمَة اِنَّمَا یَتَحَقَّقُ عِندَ اتِّسَاقِ الکَلَام فَاِن کَانَ الکَلامُ مُتَسِقًا یَتَعَلَّقُ النَّفیُ بِالاِثبَاتِ الَّذی بَعدَهٗ وَاِلاَّ فَهُوَ مُستَانَفٌ.

ترجمه: فصل لکن دماقبل د وهم لری کولو لپاره له نفی ورسته راځی نو دلکن موجب ددی دمابعد اثبات ده اوکوم چی نفی دماقبل ده هغه خپل دلیل سره ثابت ده اودعطف په دغه کلمه په وخت داتساق دکلام کښی متحقق کیږی نوکه کلام متسق وو بیانفی تعلق نسی ترهغه اثبات چی تردی ورسته ده اوکه متسق نه وو کلام مستانف ده.

تشریح: له حروفو عاطفه وؤ څخه پنځم حرف لکنّ ده لکن دوه قسمه ده یومخففه یعنی په سکون دنون سره اودوهمه مشدده مخففه له حروف عاطفه وؤ څخه ده اومشدده له حروف مشبه باالفعل څخه ده.

سوال: داده چی مصنف رحمۃ اللہ علیہ اونوروائمه وؤ دعطف په بیان کښی لکن مشدد ذکر کړی ده او حال داده چی مشدده له حروفو عاطفه وو څخه نه ده بلکه مخففه له عاطفه وؤ څخه ده.

جواب: داده چی بلاشبه مخففه له عاطفه وو څخه ده لیکن مشائخ تسامحاً دعطف په بیان کښی مشدده له دی وجه ذکر کړه چی دوی دواړی داستدراک لپاره دی یعنی دواړه چونکه داستدراک لپاره راځی له دی وجه مشائخ مشدده په بیان دعطف کښی ذکر کړه.

حاصل داده چی پنځم حرف لکن ده اودااستدراک لپاره راځی استدراک لمخکښی کلام څخه دپیداشوی وهم لری کولو ته وائی مثلاً زید اوعمرپه مینځ کی ښه دوستی ده همیشه دواړه یوځای سره ګرزی اووس یوخوک ووائی مارأیت زیداً نوسامع ته ددواړو همیشه ګرزیدلوپه وجه دا وهم پیدا کیږی چی متکلم چی زید نه ده لیدلی نوعمر به ئی هم نه وی لیدلی نومتکلم ددی وهم دلری کولو لپاره ووائي لکن عمرواً.

بعدالنفی په دی عبارت سره مصنف رحمۃ اللہ علیہ دلکن اوبل په مینځ کښی فرق بیانوی لکه دی چی فرمائی چی دبل اولکن په مینځ کښی دوه قسمه فرق ده اول داده چی لکن له حرف نفی ورسته راځی له اثبانه ورسته نه وی لکه په دی مثال کی مارأیت زیداًلکن عمراً داصحح ده لیکن داسی نه شی ویلای رأیت زیداً لکن عمروا اوکلمه دبل داسی نه ده بلکه کلمه دبل لکه څنګه چی ورسته له نفی راځی همدارنګه ورسته له اثبات هم راځی مثلاً داسی ویلای شی ماضربت زیداً بل عمرو اوداسی هم ویلای شی ضربت زیداً بل عمرو اودایاساده چی مذکوره فرق هغه وخت ده چی دلکن په ذریعه عطف دمفرد

وی پرمفرد باندی وی اوکه په کلام کښې دوی جملې وی یوه نفي اوبله اثبات وه په دی صورت کښې لکن لکه ځنګه چې له نفي ورسته راځی همدارنګه له اثبات ورسته هم راځي لکه په دی مثال کښې جاءنی زید لکن عمرو لم یأت په دی مثال کی جاءنی زید جمله مثبته ده او لکن عمرو لم یأت جمله منفیه ده اوکلمه دلکن له اثبات ورسته واقع ده.

حاصل داده که دلکن په ذریعه عطف دمفرد راغلی وو پرمفرد باندی نولکن په دی صورت کښې له نفي ورسته راځی له اثبات ورسته نه راځی اوکه دلکن په ذریعه عطف دجملې پرجملې باندی وو داسی جملې چې یوه مثبته اوبله منفي وی په دی صورت کښې لکن لکه ځنګه چې دنفي ورسته واقع کیږی همدارنګه له اثبات ورسته هم واقع کیږی.

اودوهم فرق داده چې دلکن موجب ددی دمابعد اثبات ده یعنی لکن صرف دخپل دمابعد داثبات لپاره ده اوکوم چې نفي دماقبل ددی ده هغه په خپل دلیل یعنی حرف نفي سره ثابت ده اوکلمه دبل دلکن خلاف ده ځکه کلمه دبل دماقبل دنفي اودمابعد داثبات لره وضع ده مثلاً په جاءنی زید بل عمرو کښې کلمه دبل پردی دلالت کوی چې عمر راغلی ده اوپردی باندی هم دلالت کوی چې زید نه ده راغلی مصنف رحمه الله وائی چې دلکن په ذریعه عطف هغه وخت متحقق کیږی چې په کلمه کښې اتساق وی اوداتساق لپاره دوه شیان ضروری دی یوداچې دکلام یوه حصه به متصله وی له بلی سره دوهم داده چې داثبات محل به بیل وی له محل دنفي څخه لکه جاءنی زید لکن عمرو لم یأت کښې داثبات یعنی مجئ محل زید ده اودنفي محل عمر ده نوکه کلام متسق یعنی متصل وو اوداثبات اونفي محل ځانته ځانته وو نو نفي له هغه اثبات سره متعلق اومربوط ده چې هغه اثبات له لکن ورسته وی اوددی پرماقبل معطوف وی اوکه مذکوره دوه شیان په کلام کښې نه وو اویا یو وو بل نه وو په دی صورت کښې دلکن څخه ورسته کلام مستانف ده دلکن دماقبل سره هیڅ تعلق نه لری.

مِثَالُهُ مَاذَكَرَهُ مُحَمَّدٌ فِی الْجَامِعِ اِذَاقَالَ لِفُلَانٍ عَلَیَّ اَلْفٌ قَرْضٌ فَقَالَ فُلَانٌ لَاوَلٰكِنَّهُ غَصَبٌ لَزِمَهُ الْمَالُ لِاَنَّ الْكَلَامَ مُتَّسِقٌ فَظَهَرَ اَنَّ النَّفْیَ كَانَ فِی السَّبَبِ دُوْنَ نَفْسِ الْمَالِ وَكَذَالِكَ لَوْقَالَ لِفُلَانٍ عَلَیَّ اَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ هٰذِهِ الْجَارِيَةِ فَقَالَ فُلَانٌ لَاالْجَارِيَةُ جَارِيَتُكَ وَلٰكِنْ لِی عَلَیْكَ اَلْفٌ یَلْزِمُهُ الْمَالُ فَظَهَرَ اَنَّ النَّفْیَ كَانَ فِی السَّبَبِ لَافِی اَصْلِ الْمَالِ.

ترجمه: ددی مثال هغه ده کم چې امام محمد رحمه الله په جامع کبیر کښې ذکر کړی ده که چاه وویل لفلان علی الف قرض اوفلان وویل لاولکنه غصب نوپرده باندی مال لازم ده له دی وجه چې کلام متسق ده نوظاهره شوه چې نفي په سبب کښې ده نه په نفس مال کښې اوهمدارنګه کی وویل لفلان علی الف من ثمن هذه الجاریه اوفلان وویل لاالجاریة جاریتك ولکن لی علیك الف نوپرده باندی مال لازم ده نو ظاهره شوه چې نفي په سبب کښې ده نه په نفس مال کښې.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ داتساق دمثال لپاره هغه مسئله ذکر کوی چی امام محمد رحمۃ اللہ علیہ په جامع کبیرکښی ذکرکړی ده هغه داده که یوشخص اقرار وکی او وئی ویل لفلان علی الف قرض د فلانی پرماباندی زر روپی قرض دی اوفلان دده په جواب کښی وویل لکنه غصب په طریقه دقرض نه دی بلکه په طریقه دغصب دی په دی صورت کښی پرمقرباندی زر روپی لازمی دی ځکه دمقرله داکلام لاکنه غصب مشتق ده په دی طریقه چی په دی کلام کښی انفصال هم شته اودنفی او اثبات محل هم بیل بیل ده ځکه دنفی محل قرض ده او اثبات محل غصب ده حاصل داده چی دمقر له کلام متسق ده اوپه کلام کښی ئی منافات هم نشته ځکه په اصل مال کښی دواړه متفق دی که څه هم سبب مختلف ده ځکه مقرسبب قرض بیان کی اومقر له غصب بیان کی نوداظاهره ده چی دنفی تعلق له سببه سره ده له اصل مال سره نه ده اوکله چی دنفی تعلق له سبب سره ده اوله اصل مال سره نه ده نواصل مال پرمقرواجب ده اوداتحاد مقصود داتحادپه وخت کښی اختلاف دسبب پروانه لری مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی که یوچاه وویل لفلان علی الف من ثمن هذه الجاریه اوفلان په جواب کی ورته وویل لاالجاریة جاریتك ولکن علیك الف په دی صورت کښی هم پرمقرباندی زر روپی واجب دی ځکه دلته هم مقرنفی دسبب وکړه داصل مال نفی ئی نه ده کړی اوپه اصل مال کښی چونکه دواړه متفق دی له دی وجی پرمقر باندی اصل واجب ده ځکه دمقصودداتحادپه صورت کښی اختلاف دسبب پروانه لری.

وَلَوكَانَ يَدِه عَبدٌ فَقَالَ هٰذَالِفُلان فَقَالَ فُلَانٌ مَاكَانَ لِی قَطُّ وَلٰكِنَّهُ لِفُلَانٍ اٰخَرَ فَاِن وَصَلَ الكَلَامَ كَانَ العَبدُ لِلمُقَرِّ لَهُ الثَّانِی لِاَنَّ النَّفیَ يَتَعَلَّقُ بِالاِثبَاتِ وَاِن فَصَلَ كَانَ العَبدُ لِلمُقِرِّ لِاَوَّلِ فَيَكُونُ قَولُ المُقَرِّ لَهُ رَدًّا لِلاِقرَارِ.

ترجمه : اوکه دده په لاس کښی غلام وو اوده وویل هذالفلان اوفلان وویل ماکان لی قط ولکنه لفلان اخر اوکه دغه فلان متصل کلام ذکر کی نوغلا م دثانی مقرله ده له دی وجه چی نفی متعلق تراثباته ده اوکه ئی کلام منفصل کی نوغلام داول مقر ده اودمقرله قول داقرار رد ده.

تشریح : که یوچاه په خپل لاس کښی دموجوده غلام په باره کښی وویل هذالفلان اوکه شاهد وویل ماکان لی قط ولکنه لفلان آخر داغلام هڅکله زمانه ده بلکه دفلانی ده نوکه اول مقرله خپل کلام متصل کړی یعنی له ماکان لی قط ورسته فوراً ووائی لکنه لفلان آخر په دی صورت کښی کلام متصل ده اودلکنه لفلان آخر عطف پرماکان لی قط باندی صحح ده ځکه دنفی محل مقرله خپل ملک ده اوداثبات محل دفلان آخرملک ده یعنی اول مقرله مطلقاً نفی نه ده کړی بلکه له خپله ځانه ئی دملک نفی وکړه اوفلان آخر لره ئی دملک اثبات وکی اوپه دی کښی هڅ منافات نشته لهذا غلام دثانی مقرله ده

اومقرله اول خپل کلم یعنی لکنه لفلان آخر متصل ذکر کول په ماکان لی قط سره ددی بیان ده چی داغلام زمانه ده بلکه د فلان اخرده او که مقرله اول خپل کلام منفصل کی یعنی ماکان لی قط ئی وویل بیائی سکوت وکی اوله هغه ورسته ئی لکنه لفلان آخر وویل په دی صورت کبنی غلام داول مقرده ځکه داول مقرله کلام مطلقاً دملک نفی ده له ځانه هم اوله غیره هم لهذا داول مقرله داقول ماکان لی قط داقرار رد اوتکذیب ده لهذا غلام دمقرده اودمقرله داقول ولکنه لفلان آخر ماقبل کلام سره مربوط اومتعلق نه ده بلکه مستقل کلام ده اومقصدئی داده چی په دی قول سره دمقرله ثانی لپاره دمقر دملک خلاف شهادت ورکول ده اودیوه شاهد په شاهدی چونکه ملک نه ثابتیږی په دی وجه په دی قول سره ثانی مقرله لره ملک نه ثابیتیږی نوکله چی په دی قول سره نه اول مقرله له ملک ثابت ده اونه ثانی مقرله لره لهذا نوغلام دمقر په ملک کبنی باقی پاته ده.

وَلوانّ اَمَةً تَزَوَّجَت نَفسَهَا بِغَير اذن مَولاَهَا بِمَائَة درهَم فَقَالَ المَولی لاأُجِيزُ العَقدَ بِمائة درهَم وَلٰكن أُجِيزُهُ بِمائة وَخَمسين بَطَلَ العَقدُ لاَنَّ الكَلاَمَ غَيرُ مُتَسق نَفیَ الاجَازَة وَاَثبَاتَها بِعَينِهَا لاَيَتَحَقَّقُ فَكَانَ قَولُهُ لكن اُجِيزُهُ اثبَاتَهُ بَعدَ رَدّ العَقد وَكَذالكَ لَوقَالَ لاَأُجِيزُهُ وَلكن اُجِيزُهُ ان زِدتَّنی خَمسِينَ عَلَی المائَة يَكُونُ فَسخاً للنّكَاح لعدم احتمَال البَيَان لانّ من شَرطه الاتّسَاقُ وَلاَاتّسَاقَ.

ترجمه: اوکه مینځی بغیر دمولی داجازی په سل درهمه ځان په نکاح ورکی اومولی وویل زه دسل درهمه په عوض کبنی دنکاح اجازه نه کوم بلکه د یوسل پنځوس درهمه په عوض کبنی اجازه ورکوم نوعقد نکاح باطله ده ځکه کلام غیر متسق ده له دی وجه چی داجازی نفی اوبعینه ددی اثبات دواړه نشی متحقق کیدای نودمولی داقول ؛ لکن اجیزه ؛ دعقدنکاح د رد کولو ورسته ددی اثبات ده اوهمدارنګه که ئی وویل لااجیزه ولکن اجیزه ان زدتنی خمسین علی المائة (زه ددی اجازه نه درکومه لیکن اجازه درکومه که ماته پنځوس درهمه زیاتی شی پرسلو باندی) نونکاح فسخ ده ځکه دبیان احتمال نشته ځکه دبیان شرط اتساق ده اواتساق نشته.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی که مینځی دمولی بی اجازی خپل ځان په سل درهمه په نکاح ورکی اومولی وویل زه دسل درهمه په عوض کبنی داعقدنکاح نه کوم لیکن دیوسل پنځوس درهمه په عوض کبنی اجازه کوم نودمینځی نکاح باطله ده دلیل داده چی دمولی کلام لااجیزالعقدبمائة درهم ولکن اجیزہ بمائة وخمسین متسق نه ده ځکه داتساق لپاره داضروری ده چی دنفی اوثبات محل به ځانته ځانته وی او حال داده چی دلته داجازی نفی او ددی اثبات ددواړو محل یوده یعنی دعقد نکاح نفی ده او بیرته ددی اثبا ت ده ددی دواړو جمع په یوه محل کبنی محاله ده حاصل داده چی داتساق یو شرط موجود نه ده نو چی شرط موجود نه شو نو دمولی قول ولکن اجیزہ بمائة وخمسین په اول کلام یعنی لا

اجیزالعقدبمائة باندی معطوف نه ده بلکه مستا نف کلا م ده له ماقبل سره ئی تعلق نشته نو مولی د کلام مطلب داشی ده چی لاجیزالعقدبمائة ئی وویل په دی سره ئی دنکاح رد وکی او له دی ورسته ئی لکن اجیزه بمائة وخمسین وویل په دی سره ئی دوهم مهرپه عوض کنبی دنکاح جدیدی ایجاب وکی او نکاح چونکه صرف په ایجاب سره نه منعقده کیږی بلکه له مقابل جانب څخه قبول غواړی له دی وجه دمولی دمینځی دنوی نکاح ایجاب دخاوند قبول غواړی که خاوند قبول وکړ نکاح تامه ده اوکه ئی نه وکړ نه ده منعقده په دی کنبی مصنف رحمۃ اللہ علیہ داوویل چی دمولی داقول ولکن اجیزه دمنیځی نکاح له رده ورسته دمولی له طرفه دنوی نکاح ایجاب ده مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی که دمینځی دنکاح دخبر اوریدولو ورسته مولی لااجیزه ولکن اجیزه ان زدتنی خمسین علی المائة داوویل نو دمینځی منعقد شوی نکاح فسخه شوه اوپه دوهمه جمله سره دنوی نکاح ایجاب ده چی خاوندپرقبول موقوفه ده ځکه دنکاح داجازی دنفی اواثبات دواړو محل عقدنکاح ده اوحال داده چی اتساق لپاره ددواړو محل ځانته ځانته ضروری ده نو داتساق دشرط دنه وجود په وجه دلته اتساق نشته اومخکی ذکر شوه چی عطف دصحت لپاره اتساق شرط ده لهذا چی دلته اتساق نشته نوثانی جمله لکن اجیزه عطف پراوله جمله لااجیزه باندی صحیح نه ده اوددواړو جملوپه مینځ کنبی چونکه منافات ده نوجمله ثانیه داولی لپاره بیان نشی کیدای نوچی نه عطف صحیح ده اونه ثانی داولی لپاره بیان ده نوثانی جلمه مستانفه اومتسقله جمله ده لهذا دمولی له طرفه دنوی نکاح ایجاب ده اونکاح چونکه صرف په ایجاب سره نه منعقده کیږی بلکه قبول غواړی نو ځکه انعقاد موقوفه دخاوند پرقبول ده .

سوال : پرمذکوره دواړه صورته باندی سوال کیږی هغه داده چی ستاسو داخبره غلطه ده چی تاسو وایاست چی دمولی په کلام کنبی داجازی نفی اودهغی داثبات محل یوده ځکه چی مولی لااجیزه وائی په دی سره نفی دهغی نکاح ده په سل درهمه وه اولکن اجیزه دهغی نکاح اجازه ده چی دیوسل پنځوس په عوض کی ده لهذا دنفی اواثبات دواړو محل یونه ده نوچی د دواړو محل یو نشو بلکه دوه شو نواتساق راغلی اوچی اتساق موجود شو نوعطف هم صحیح ده اوحال داده چی تاسووایاست چی عطف صحیح نه ده.

جواب: داده چی په باب دنکاح کنبی مهر زائد شی ده ځکه که دنکاح په وخت کنبی مهر نه شی ذکر اویانفی شی هم نکاح منعقده ده که څه هم پرخاوند باندی مهر مثل واجب ده حاصل داده چی مهر یوزائد شی ده زائدلره اعتبار نشته لهذا په نکاح کی مهر له اعتبار نشته نوکله چی مهر لره اعتبار نشته نو دلااجیزه په ذریعه داصل نکاح نفی ده اودلکن اجیزه په ذریعه ددی اثبات ده لهذا دنفی اواثبات دواړو محل یوشی ده چی اصل نکاح ده نوچی ددواړو محل یوشی شواتساق نه راغلی لهذا عطف هم صحیح نه ده.

فَصلٌ اَولِتَنَاوُل اَحَدالمَذكُورِين

فصلٌ اَولِتَنَاوُلِ اَحَدالمَذكُورِين وَلِهذَا لَوقَالَ هذاحُرٌ اَوهذَاكَانَ بِمَنزِلَة قَوله اَحَدُهُمَا حُرٌ حَتّى كَانَ لَهُ وَلَايَةُ البَيَانِ وَلَوقَالَ وَكَلتُ بِبَيعِ هذا العَبد هذَا اَوهذَاكَانَ الوَكِيلُ اَحَدَهُمَا وَيُبَاحُ البَيعُ لِكُلِّ وَاحِد مِنهُمَا وَلَوبَاعَ اَحَدُهُمَا ثُمّ عَادَ العَبدُ الى مِلك المُوَكِلِ لَايَكُونُ للآخرِ اَن يَبِعهُ .

ترجمه : کلمه د او د احد المزکورین د شمول لپاره راځی له دی وجه که وویل شی هذاحرٌاوهذا دا آزاده اویادا دده ددی قول احدهماحرٌ په مرتبه کښی ده حتی چی دده لپاره اختیاردبیان ده اوکه ئی وویل چی مادی غلام دبیعی لپاره یادغه وکیل کړی ده اویاددغه وکیل له دوی دواړو څخه یو ده اوبیع په دوی دواړوکی یوه لره مباح ده اوکه له دوی دوؤ څخه یوه خرڅ کی اوبیا غلام دوهم ځل د مؤکل لاس ته راغی نو دوهم وکیل ته دخرڅولو اختیار نشته.

تشریح :له حروف عاطفه وؤ څخه شپږم حرف او ده اوپردی دلالت کوی چی کومه کلمه چی مذکوره ده هغه په معطوف اوپه معطوف علیه کی دیوه لپاره ثابته ده لیکن دامعلوم نه ده چی دکوم لپاره ده ددی دمعلوملو اختیار دمتکلم ده نوکه د اوپه ذریعه دوه مفرده یوپربل عطف شو نوفائده ئی داده چی حکم په دوی دوو کښی یوه لره ثابت ده لکه په دی مثال کی جاءنی زید اوبکر اوکه داو په ذریعه دوی جملی پرله عطف شوی په دوی دوو کښی دیوی مضمون حصول فائده کوی لکه په دی مثال کی ان اقتلوانفسکم اواخرجوامن دیارکم یاخپل ځانونه قتل کړی اویاخپل ځانوله خپلو ښارو وباسی یعنی په دی دوو کښی یوکار وکړی داکوم چی ذکر شو دادعاموا اهل اصولو مذهب ده اودامختار دشمس الائمه سرخسی رحمه الله علیه اوعلامه فخرالاسلام رحمه الله علیه ده لیکن دبعض اصولیونو اونحویونو مذهب داده چی او دشک لپاره ده اوحال داده چی داصحیح نه ده ځکه شک داسی معنی ده چی مقصود په وضع نه ده صحیح خبره داده چی حرف او دمذکور دو شیانو کی دیوه لپاره لاعلی لتعین وضع ده لیکن دکلام دمحل په اعتبارپه خبر کښی شک راځی له دی وجه په انشاء کی چی احتمال دشک نشته پکښی او دشک معنی نه پیداکوی بلکه په انشاء کښی اود تخییر لپاره ده اویادا اباحت لپاره ده اوانشاء دشک احتمال له دی وجه نه لری چی ځکه په انشاء سره ابتداء دکلام ثابت کول مقصد ده اودابتداء دکلام دثابتولو په صورت کی دشک سوال نه پیداکیږی نوکه اودشک لپاره وائی نوباید په انشاء کی نه وی استعمال شوی حاصل داده چی د اواستعمال په انشاء کی ددی دلیل ده چی او دشک لپاره وضع نه ده بلکه لاعلی التعین داحد المزکورین لپاره وضع ده اوحد المزکورین ته دشمول دوی طریقی دی یوپر سبیله دبدل اوبل پرسبیله دعموم دبدل مثال داده چی مولی دخپلودوو غلامانو طرف ته اشاره وکړی او ووائی هذاحرٌاوهذا دمولی داکلام د احدهماحرٌ په مرتبه کی ده اومولی ته دااختیار ده چی یومتعین کړی خوترمتعین کولومخکی هریودآزادید وصلاحیت

لری لیکن دیوه دتعین ورسته داصلاحیت ددوهم غلام په بدل کښې په دغه متعین کښې حصرشو لیکن تربیان مخکې یوغلام هم آزاد نه ده تر دی وخته چې مولی یوه ته تعین ورکوی.

اودعلی السبیل العموم مثال داده چې یوشخص دخپل غلام دخرڅولو لپاره دوکیل په باره کښې دوو نفرو ته اشاره وکړی او ووائی وکلت ببیع هذاالعبد هذا اوهذا په دی صورت کښې له دوی دواړو څخه یووکیل ده لیکن دمولی ترتعین مخکې دواړه دغلام دخرڅولواختیار لری اوکه له ددی دوو وکیلانو څخه یوغلام خرڅ کی اوبیا غلام دوهم ځل دمولی لاس ته راغی دوهم وکیل ددوهم ځل خرڅولواختیار نه لری.

فوائد: که یوڅوک دااعتراض وکړی چې دمسئلی دحریت اودمسئلی دتوکیل څه فرق ده چې په مسئله دحریت کښې اوداحدالمزکورین ته په طریقه دبدل شامل ده اوپه مسئله دتوکیل کښې پرسبیله دعموم شامل ده ددی جواب داده چې توکیل ددی شی نوم ده چې وکیل ته په خپل مال کښې تصرف مباح کول ده په داسی حال کښې چې وکیل تر دی وړاندی له تصرف څخه منع وو اواباحت خوعموم ثابتوی اودوهم جواب داده چې په توکیل کښې دموکل مقصد خپل مال خرڅول ده اودامقصد په عموم سره حاصلیږی اوپرمسئله دحریت کی چونکه دادوه شیان نشته ددی په وجه مسئله دحریت کښې اواحدالمزکورینو ته په طریقه دعموم شامل نه ده بلکه په طریقه دبدل شامل ده.

وَلَوقَالَ لِثَلٰثِ نِسوَةٍ لَهُ هٰذِه طَالِقٌ اَوهٰذِه وَهٰذِه طُلِّقَت اِحدَی الاُولَیَینِ وَطُلِّقَتِ الثَّالِثَةُ فِی الحَالِ لِانعِطَافِهَا عَلَی المُطَلَّقَةِ مِنهُمَا وَیَکُونُ الخِیَارُ لِلزَّوجِ فِی بَیَانِ المُطَلَّقَةِ مِنهُمَا بِمَنزِلَةِ مَالَوقَالَ اِحدٰیکُمَا طَالِقٌ وَهٰذِه.

ترجمه: که خاوند دخپلودرو ښځوپه باره کښې وویل هذه طالق اوهذه وهذه له اولودوو څخه پریوی باندی طلاق واقع ده اودریمه فی الحاله طلاقه ده ځکه داپه هغودوو کښې پرمطلقه معطوفه ده اوپه دوی دوو کښې دمطلقی دبیان لپاره اختیار ده لکه په دی کی چې احدیکما طالق وهذه.

تشریح: پرکلمه داو باندی په تفریع کولوسره مصنف رحمة الله علیه وائی که یوشخص وخپلودرو ښځوته اشاره وکړه اوووویل هذا طالق وهذه وهذه په دی صورت کښې چې کومو دوو ته په اوسره اشاره ده له هغودو څخه پریوه باندی طلاق واقع ده لیکن متعینه نه ده ددی دتعین اختیار دخاوند ده اوپر دریمه باندی دخاوند دبیانه بغیر طلاق واقع ده ځکه دریمه ښځه د واو په ذریعه په دوی کښې پرمطلقه باندی عطف ده او واو حرف جمع ده په حرف جمع سره عطف داسی ده لکه دواړی چې په یوه لفظ جمع کړی ذکر ئی کړی لهذا داسی شو لکه خاوند چې له اولو دوو څخه مطلقه او دریمه سره جمع کړی لهذا پردریمه باندی فوراً طلاق واقع کیږی له اولودوو څخه چې کومه یوه مطلقه ده

هغه دخاوند بیان ته احتیاج لری اودا کلام داسی ده لکه خاوند چی دخپلو دوو ښځو په باره کښی ووائی احدیکما طالق وهذه لکه څنګه چی په دی صورت کښی پردریمه باندی فوراً طلاق واقع کیږی اوله اولو دوو ښځه یوه لاعلی التعین طلاقه ده دخاوندبیان ته احتیاج لری همدارنګه په اول صورت کښی ده.

وَعَلی هذَا فَالع زُفرُ اذَا قَالَ الاأُکَلِّمُ هذَا اَوهذَا وَهذَا کَانَ بِمَنزِلَم قَوله لااُکَلِّمُ اَحَدهذین وَهذَا فَلَایحنَثُ مَالَم یُکَلِّم اَحَدَ الاَوَّلین وَالثَّالث وَعندَنَا لَوکَلَّمَ الاَوَّلَ وَحدَهُ یحنَثُ وَلَوکَلَّمَ اَحَدَ الاخرَین لَایحنَثُ مَالَم یُکَلِّمهمَا وَلَوقَالَ بِع هَذاالعَبدَ اَوهذَا کَانَ لَهُ اَن یَّبیعَ اَحَدَهمَا اَیّهمَا شَاءَ .

ترجمه : اوپر ے باندی قیاس کوی امام زفر رحمۃ اللہ علیہ که چاه وویل لااکلم هذا اوهذا وهذا نو دده داقول د لااکلم احدهذین وهذا په مرتبه کښی ده نوترهغه وخته حانث نه ده چی په اولودوو کښی ئی له یوه سره اوله دریم سره خبری نه وی کړی اوزموږ په نزد که ئی صرف له اول سره خبری وکړی حانث ده اوکه ئی په دوو آخرو کښی له یوه سره خبری وکړی حانث نه ده ترهغه وخته چی ددواړو سره ئی خبری نه وی کړی اوکه ئی وویل بع هذاالعبد اوهذا په دوی دوو کښی هر یو چی خرڅوی جائزده.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی امام زفر رحمۃ اللہ علیہ پرمسئله دطلاق مسئله دحلف قیاسوی په دی طریقه چی لکه څنګه چی هذه طالق اوهذه وهذه په مرتبه کی داحدیکما طالق وهذه اوله اولودوو ښځه یوه اوپردریمه باندی طلاق واقع ده همدارنګه که یوچاه دری نفرو ته اشاره وکړه اوویل لااکلم هذه اوهذه وهذه داهم لااکلم احدهذین وهذا په مرتبه کی ده اوله اولودوو ښځه له یوه سره اوله دریم سره په خبرو کولو حانث ده اوترکومه وخته چی ئی په اولودوو کښی له یوه سره اوله دریم سره خبری نه وی کړی نه ده حانث لیکن امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ اوامام یوسف رحمۃ اللہ علیہ اوامام محمد رحمۃ اللہ علیہ وائی داسی نه ده لکه امام زفر چی وائی بلکه په دی صورت کښی حکم داده که حالف صرف له اول سره خبری وکړی هم حانث ده اوکه ئی له دوو آخیرو سره خبری وکړی هم حانث ده اوکه ئی په دوو اخیرو کښی له یوه سره وکړی حانث نه ده.

دعلماء ثلثه وؤ دلیل داده چی د اوپه ذریعه چی کوم شی ثابت وی هغه احد المزکورین ده اواحد المزکورین غیر معین ده اوپرغیر معین یعنی نکره باندی چی حرف نفی داخله شی عموم فائده کوی لهذا دلته هرفرد ځانته ځانته منفی ده اودهر فردځانته ځانته نفی په هغه صورت کښی جوړیږی چی علماء ثلاثه وؤ بیان کی ځکه دغه صورت کښی اول هم منفی ده اواخرین هم منفی دی که له اول سره خبری وکړی اوکه له دوو اخرو سره خبری وکړی حانث ده اوکه په دوؤ اخروکښی صرف له یوه سره خبری وکړی حانث نه ده اودامام زفر قول ددی خلاف ده ځکه دده په قول کښی

په دوؤ اولوکښې صرف یو منفی ده او دریم منفی نه ده لهذا دده په کلام کښې عموم نشته او حال داده چې نکره تحت النفی عموم افراد ته فائده کوی.

اودعلماء ثلاثه په نزد دحنث لپاره له دوؤ آخرو سره خبرې په دې وجه ضروری دی چې دحالف په دې قول لااکلم هذا اوهذا سره دریم د واو دجمع په ذریعه له دوهم سره په نفی کښې هم جمع شو لهذا دریم په نفی کښې له دوهم سره شریک ده اودا داسې ده لکه حالف چې ووائی لا اکلم هذا وهذین او په دې صورت کښې که صرف له اول سره خبرې وشی حانث ده او که له دوؤ اخرو سره خبرې وشی هم حانث ده او که په دوؤ اخرو کښې له یوه سره خبرې وشی نه ده حانث.

او په مسئله دطلاق کښې داوپه ذریعه احد المذکورین غیر مغین ده لیکن په موضع د اثبات کښې ده او په موضع د اثبات کښې نکره عموم نه فائده کوی.

حاصل داده کله چې په مسئله دحلف کښې نکره لاندی تر نفی ده او په مسئله دطلاق کښې نکره لاندی نه ده نو دمسئلی دحل قیاس پر مسئلی دطلاق څنګه صحیح کیږی؟

او که یو چاه خپلو دوو غلامانو ته اشاره وکړه وویل یبع هذا العبد اوهذا په دې صورت کښې دهریوه غلام خرڅول جائز ده څکه دموکل داکلام انشاء ده او کلمه د او په انشاء کی تخییر لپاره ده لهذا وکیل لره اختیار ده.

ولودخل او في المهر بأن تزوجها على هذا أوعلى هذا يحكم مهر المثل عند ابي حنيفة لان اللفظ يتناول احدهما والموجب الاصلي مهر المثل فيترجح مايشابهه.

ترجمه: او که ئی کلمه داوپه مهر کی داخله کړه په دې طریقه چې له یوی ښځي سره نکاح وکړی په دی مهر اویا په دی مهر نو دامام صاحب په نزد حکم په مهر مثل ده څکه لفظ په دوی دوو کښې یوه ته شامل ده او موجب اصلی مهر مثل ده نو ددی مشابه راجح ده.

تشریح: مصنف رحمه الله پر اوباندی یوه تفریع کوی چې که یو چاه له یوی ښځی سره نکاح وکړه او په مهر کښې ئي اوداخل کی مثلاً داسې ئی وویل تزوجتك على الف وعلى الفين زه تا په نکاح کوم په زر او یا په دوه زره)

په دې صورت کښې دامام صاحب په نزد هغه مقدار مهر ره چې مهر مثل ته نزدی وی مثلا که مهر مثل زر روپی اویا تر زر کمی وی بیا مهر زر روپی دی او که مهر مثل دوه زره اویا تر دوه زره کمه وی بیا مهر دوه زره ده اودصاحبین په نزد خاوند لره په دواړه مقداره کی اختیار ده کوم چې ئی خوښ وی هغه دی اداء کړی.

دامام صاحب دلیل: داده چې کلمه داوپردی دلالت کوی چې له دواړو څخه یو مقدار مراد ده لیکن هغه مقدار معلوم نه ده اودامسلمه خبره ده چې په باب دنکاح کښې مهر مثل اصل ده لکه څنګه چې په باب دبیع کښې قیمت اصل ده څکه مهر مثل دبضعی قیمت ده لهذا په نکاح کښې اصلی

مهر واجب ده البته د عارض د تسمي په وجه مهر مسمی ته رجوع کیږی یعنی مهر مسمی که قطعي اويقيني معلوم وو نوله مهر مثله څخه مهر مسمی ته رجوع کیږی مگر چونکه دلته دا وپه وجه مهر مسمی نامعلوم ده او ده دجهالت په وجه تسمیه فاسده ده له دی وجه حکم د اصل طرف ته راجع ده یعنی هغه مقدار واجب ده چی مهر مثل ته قریب وی.

جواب: اودمام صاحب له طرفه صاحبين ته جواب داده چی تخيير هغه شخص لره ده چی د امر په صورت کښی دیوه پرتعمیل باندی قادر وی او په دی مسئله کښی چونکه امر نشته له دی وجه د عمل د قدرت سوال نه پیدا کیږی لهذا دلته خاوند لره اختيار نشته.

وَعَلى هٰذَا قُلْنَا اَالتَّشَهُّدُ لَيسَ بِرُكنٍ فِى الصَّلٰوة لِاَنَّ قَولَهُ عَلَيهِ السَّلَامُ اِذَا قُلتَ هٰذَا اَوفَعَلتَ هٰذَا فَقَد تَمَّت صَلٰوتُكَ عَلَّقَ الاِتمَامَ بِاَحدِهِمَا فَلَا يَشتَرِطُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنهُمَا وَقَد شرطت القَعدَةُ بِالاِتِّفَاقِ فَلَا يَشتَرِطُ قِرَاءَةُ التَّشَهُّدِ.

ترجمه: اوبناء پردی باندی موږ وایو چی تشهد په لمانځه کښی رکن نه ده ځکه دآنحضرت ﷺ قول ده کله چی دا ووائی اویا داوکړی نولمونځ پوره شو؛ دلته اتمام له دی دوو څخه متعلق تریوه پوری ده لهذا دوی دواړه مشروط نه دی اوقعده بالاتفاق مشروط ده لهذا د تشهد ويل مشروط نه ده.

تشريح: مصنف رحمه الله وائی د مذکوره ضابطی یعنی (اواحد المزکورين ته شامل ده) پر بناء باندی زموږ د احناف علماء وائی تشهد په لمانځه کی فرض اورکن نه ده ځکه آنحضرت ﷺ وابن مسعود رضی الله عنه ته د تشهد تعلم ورکی او بیائی وویل اذا قلت هذا او فعلت هذا فقد تمت صلوتك په دی حدیث کښی اول په هذ سره تشهد ته اشاره ده او په دوهم هذ سره قعدی ته اشاره ده او په حدیث کښی ددوی دواړو په مینځ کښی کلمه داوذکر ده له دی وجه دلمانځه اتمام له دی دوو څخه پریوه موقوف ده اوکله چی دلمانځه اتمام له دی دوو څخه پریوه موقوف ده نوله دوی دوو څخه یو دلمانځه رکن ده اوفرض ده دواړه نه دی اوپردی باندی دټولواتفاق ده چی قعده اخره فرض ده نوکله چی دقعدی اخری پر فرضيت اتفاق ده نود تشهد ويل فرض نه ده ځکه که د تشهد ويل هم فرض کړشی نود او په مدلول باندی عمل نه وشو لهذا داو د مدلول په وجه موږ وايو چی تشهد فرض نه ده بلکه واجب ده ځکه که سهوا پريښودل شی سجده د سهوی واجب ده لکن که سجده نه وشی هم لمونځ پوره ده.

ثُمَّ هٰذِهِ الكَلِمَةُ فِى مَقَامِ النَّفيِ تُوجِبُ نَفيَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَ المَذكُورَينِ حَتّٰى لَوقَالَ لَا اُكَلِّمُ هٰذَا اَوهٰذَا يَحنَثُ اِذَا كَلَّمَ اَحَدَهُمَا وَفِى الاِثبَاتِ يَتَنَاوَلُ اَحَدَهُمَا مَعَ صِفَةِ التَّخيِيرِ كَقَولِهِم خُذهٰذَا اَوذَالِكَ وَمِن ضَرُورَةِ التَّخيِيرِ عُمُومُ الاِبَاحَةِ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى فَكَفَّارَتُهُ اِطعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِن اَوسَطِ مَا تُطعِمُونَ اَهلِيكُم اَوكِسوَتُهُم اَوتَحرِيرُ رَقَبَةٍ.

ترجمه : او دا کلمه دنفی په مقام کښې دمذکوره دوو شیانو دهر یوه نفی ثابتوی حتی که یو چاه و ویل لااکلم هذا او هذا نوله هر یوه سره په خبر ورکولو سره حانث کیږی او دتخییر دصفت په ثبوت کښې په دواړو کی یوه ته شامل ده لکه دده قول خذ هذا او ذلك او دتخییر له لوازمو څخه دعموم اباحت ده الله تعالی ﷻ فرمائی فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ

تشریح مصنف رحمه الله وائی چی په مقام دنفی کښې ددوو شیانو دهریوه نفی ثابتوی دهغو شیانو چی ددوی په مینځ کی کلمه داو ذکر وی لکه په دی مثال کی چی یو څوک ووائی لااکلم هذا او هذا داکلام له دواړو سره دخبرونه کولو ته شامل ده څکه له دواړو سره په خبر ورکولو حانث کیږی دلیل هغه ده چی مخکی ذکر شو اومدلول احد المزکورین ده لیکن احد المزکورین غیر معین اونکره ده اونکره تحت النفی عموم فائده کوی حاصل داده چی کلمه داو په مقام دنفی کښې عموم فائده کوی اومقام په داثبات کی صرف یو فرد ته شامل ده لیکن ددغه په یو فرد تعین اختیار دمخاطب ده لکه دا قول خذ هذا او هذا په دی صورت کښې دماخوذ د تعین اختیار دمخاطب ده اودا یاساده ته چی داثبات په صورت کښې کلمه داوهغه وخت تخییر فائده کوی چی کلام انشاء نه وی لکه مذکوره مثال یعنی خذ هذا او هذا چی انشاء ده لیکن که کلام له قبیله داخبار وؤ بیا تخییر نه فائده کوی لکه مخکی چی بیان کړشوو چی که یوشخص له یوی ښځی سره نکاح وکړه اووه ئی ویل زوجتك علی الف اوعلی الفین اوښځی قبوله کړه نوپه دی صورت ده دیوه مقدار معلومولو اختیار دخاوند ده بلکه په مهر مثل حکم کیږی..

حاصل داده چی که کلام له قبیله د انشاء وؤ اومثبت وؤ او کلمه داوپه کښې وه بیا یوه فرد ته شامل ده اودهغه فرد د تعین اختیار دمخاطب ده .

مصنف رحمه الله وائی چی دتخییر لپاره عموم داباحت لازم ده یعنی دهر فرد اباحت لازم ده لکه یو څوک چی ووائی جالس الفقهاء او المحدثین ددی مطلب داده چی دفقهاء اومحدثینوله هر یوه سره ناستی مباح ده اوله دواړو سره ناسته هم مباح ده اوس دمخاطب اختیار ده له یوه سره کښینی اوکه له دواړو سره ددی تائید الله ﷻ په دی قول سره کیږی فکفارته الآیه په دی طریقه چی الله ﷻ په کفاره کښې دری شیان ذکر کړی دی یولس مسکینانو ته ډوډی اودوهم مسکینان ته جامه اودریم یوه رقبه آزادول ددی دروپه مینځ کښې کلمه داوذکر ده اوپردی باندی ټول فقهاء متفق دی چی که په دی دور کښې که هریو اختیار کړشی هم کفاره اداء ده اوکه دری سره اختیار کړشی هم کفاره اداء ده لیکن په دی صورت کښې په یوه سره کفاره اداء شوه اودانور دوه صدقه دی حاصل داده چی له دی آیت څخه هم داخبره ثابته ده چی تخییر لپاره عموم داباحت لازم ده که یو څوک سوال وکړی چی

داآیت خبر ده اوکلمه داوتخییر په انشاء کی فائده کوی نوآیت چی له قبیله داخبار ده څنګه تخییر فائده کوی.

جواب داده چی داخبره په معنی دامر سره ده څکه مطلب ئی داده فلیکفی احد هذه الامور لهذا آیت له قبیله داخبار نه ده بلکه له قبیله دانشاء ده.

وَقدیَکُونُ اَوبِمَعنی حَتّی قَالَ اللهُ تَعَالی لَکَ مِنَ الاَمرِ شَیئٌ اَو یَتُوبَ عَلَیهِم قِیلَ مَعنَاهُ حَتّی یَتُوبَ عَلَیهِم قَالَ اَصحابُنَا لَوقَالَ الااَدخُلُ هذه الدّارَ اَواَدخُلُ هذه الدّار یَکُونُ اَوبِمَعنی حَتّی حَتّی لَو دَخَلَ الاُولی اَولاً حَنَثَ وَلَودَخَلَ الثّانِیَةَ اَوّلاً بَرَّفِی یَمِینِه وَبِمِثلِه لَوقَالَ لااُفَارِقُکَ اَوتقضِی دَینِی یَکُونُ بِمَعنی حَتّی تَقضِی دَینِی

ترجمه: کله کله او په معنی دحتی سره راځی الله تعالی فرمائ لیس لك من الامر شئ او یتوب علیهم ویل شوی ده چی ددی معنی حتی یتوب علیهم ده زموږ علماء وائی که حالف وویل الاادخل هذه الدار اوادخل هذه الدار نواو په معنی دحتی ده حتی که اول ځل اول سرای ته داخل شو حانث ده اوکه اول ځل دوهم سرای ته داخل شو نودخپل قسم ئی پوره کړ او ددی په شان که ده وویل لاافارقك اوتقضی دینی په معنی دحتی تقضی دینی سره ده.

تشریح: مصنف رحمة الله علیه وائی چی په اوکښی اصل داده چی عطف لپاره ده لیکن که عطف صحیح نه وو مجازاً دحتی په معنی سره ده لکه دالله ﷻ په دی قول کښی اویتوب او په معنی دحتی سره ده څکه دآیت ترجمه داده ؛ نبی کریم ﷺ لره ددوی په حق کښی دښیرا اختیار نشته تر دی وخته چی الله ﷻ ددوی توبه قبوله کړی په دی آیت کښی یتوب یامعطوف پر شئ ده اویا پر لیس ده په اول صورت کښی عطف دفعل ده پراسم باندی اوپه دوهم صورت کښی عطف دمستقبل ده پرماضی باندی دادواړه جائز نه دی نوچی عطف جائز نه شو نوداوحقیقی معنی متعذره ده کله چی داو حقیقی معنی معتذره شوه نومجازاً په داسی معنی کی استعمالیږی چی کیمه داو ئی احتمال لری اوهغه شی غائب ده چی دحتی مدلول ده نودلته او په معنی دحتی سره ده.

پردی باندی چی او په معنی دحتی ده زموږ علماء یوه تفریع کوی هغه داده چی که یوچاه قسم وکړ اوئی ویل لاادخل هذه الدار اوادخل هذه الدار په دی کښی او په معنی دحتی سره ده مطلب ئی داده چی زه دی سرای ته نه داخلیږی ترهغه وخته چی هغه بل سرای ته نشم داخل یعنی دوهم سرای ته اول ځل داخلیږی اواول سرای ته له دی ورسته داخلیږم نواوس که داشخص اول ځل اول سرای ته داخل شو حانث ده اوکه اول ځل دوهم سرای ته داخل شو اوبیاورسته اول ته داخل شو نوحانث نه ده بلکه دخپل قسم ئی پوره کړ ده اوهمدارنګه که یوچاوویل لاافارقك اوتقضی دینی داد حتی تقضی دینی په

معنی سره ده او مطلب ئی داده چی زه تا نه پریږدم ترهغه وخته چی ته زما قرض را نه کړی نو که ئی دقرض له اداء کولو ورسته پریښودی حانث نه ده او که ئی مخکی پریښودی حانث ده .

فَصلٌ حَتّی لِلغَایَةِ کَالَی

فَصلٌ حَتّی لِلغَایَةِ کَالٰی فَاِذَاکَانَ مَاقَبلَهَا قَابِلاً لِلامتِدَادِ وَمَا بَعدَهَا یَصلَحُ غَایَةً لَهُ کَانَتِ الکَلِمَةُ عَامِلَةً بِحَقِیقَتِهَا مِثَالُهُ مَاقَالَ مُحَمَّدٌ رحمه الله اِذَا قَالَ عَبدِی حُرٌّ اِن لَم اَضرِبکَ حَتّی یَشفَعَ فُلَانٌ اَوحَتّی تَصِیحَ اَو حَتّی تَشتَکِیَ بَینَ یَدَیَّ اَو حَتّی یَدخُلَ اللَّیلُ کَانَتِ الکَلِمَةُ عَامِلَةً بِحَقِیقَتِهَا لِاَنَّ الضَّربَ بِالتَّکرَارِ یَحتَمِلُ الامتِدَادَ وَشَفَاعَةُ فُلَانٍ وَاَمثَالُهَا تَصلَحُ غَایَةً لِلضَّربِ فَلَو امتَنَعَ عَنِ الضَّربِ قَبلَ الغَایَةِ حَنِثَ وَلَوحَلَفَ لَایُفَارِقُ غَرِیمَهُ حَتّی یَقضِیَهُ دَینَهُ فَفَارَقَهُ قَبلَ قَضَاءِ الدَّینِ حَنِثَ فَاِذَا تَعَذَّرَ العَمَلُ بِالحَقِیقَةِ لِمَانِعٍ کَالعُرفِ کَمَا لَوحَلَفَ اَن یَضرِبَهُ حَتّی یَمُوتَ اَو حَتّی یَقتُلَهُ حُمِلَ عَلَی الضَّربِ الشَّدِیدِ بِاعتِبَارِ العُرفِ ..

ترجمه : حتی دالی په شان دغائی لپاره ده نو که ئی ماقبل امتداد قبلوی او مابعد ددی ددغه امتداد دغایت صلاحیت درلودی نو کلمه دحتی له خپل حقیقت سره عامله ده مثال ئی هغه ده چی امام محمد رحمه الله ویلی چی که مولی وویل زما غلام آزاد ده که ماته نه ووهلی تردی وخته چی فلان ستا شفاعت کوی یا تردی وخته چی ته ځغلی اویاتر دی وخته چی ته زما په مخکی شکایت کوی اویاتر دی وخته چی شفه داخلیږی دلته کلمه دحتی له خپل حقیقت سره عامله ده له دی وجه چی باربار وهل دامتداد احتمال لری او دفلانی سفارش او ددی امثال دوهلو لپاره دغائی صلاحیت لری نو که حالف تر غائی وراندی وهل بس کړه حانث ده او که ئی قسم وکړچی دی له خپل مدیون څخه نه جلاکیږم ترهغه وخته چی مدیون دده پور اداء نه کړی نو که حالف ددین تر اداء کولو مخکی جلاشو حانث ده او که ده یو مانع له وجه په حقیقت سره عمل متعذر شو لکه عرف مثلاً که ئی قسم وکړ چی دی وهم ترهغه وخت چی مرکیږم اویاترهغه وخته چی قتل ئی کړم دلته په اعتبار دعرف سخت وهلو باندی حمل کیږی.

تشریح : له حروف عاطفه وؤ څخه او وهم حرف حتی ده په دی ځای کی که څه هم حتی په حروف عاطفه وؤ کښی شمار کړ شوی ده لیکن داپه معنی دغائی سره ده له دی وجه مصنف رحمه الله وائی لکه څنګه چی الی لپاره داغائی راځی همدارنګه حتی هم لپاره دغائی راځی غایت هغه ته وائی چی په هغه سره شی پای ته رسیږی غایه دحتی ورسته راځی اوکوم شی چی ترحتی مخکی وی هغه ته مغیا ویل کیږی مصنف رحمه الله وائی دحتی غائیت والی لپاره دوه شرطه دی اول شرط داده چی دحتی ماقبل به امتداد قبلوی دوهم شرط داده چی له حتی ورسته به داسی شی وی چی دحتی دماقبل لپاره دغائیت صلاحیت لری کله چی دا دوه شرط موجود شی په دی صورت کښی حتی دخپلی حقیقی معنی سره عمل کوی یعنی په دی صورت کښی حتی صرف دغائی لپاره

استعمالیږی مثال ئی د امام محمد رحمۃ اللہ علیہ داقول ده چی که مولی وویل عبدی حر ان لم اضربک حتی یشفع فلان زما غلام آزاد ده که ماته نه ووهلی تر دی وخته چی فلان ستا سفارش کوی اویائی داوویل عبدی حر ان لم اضربک حتی تصیح زما غلام آزاد ده که ماته نه ووهلی ترهغه وخته چی ته ځغلی اویائی دا وویل عبدی حرٌ ان لم اضربک حتی تشتکی بین یدی زما غلام آزاد ده که ماته نه ووهلی تردی وخته چی ته زماپه وړاندی شکایت کوی اویائی داوویل عبدی حرٌ ان لم اضربک حتی یدخل اللیل زما غلام آزاد ده که ماته نه ووهلی ترهغه وخته چی شپه داخلیږی په دی ټولو صورتوکښی حتی په خپله حقیقی معنی یعنی غائیت کښی استعمال شوی ده ځکه دحتی ماقبل یعنی بار بار وهل دامتداد احتمال لری اودحتی مابعد یعنی دفلانی سفارش دوهل شوی تیښته او دوهل شوی شکایت اودشپی داخلیدل داټوله داسی شیان دی چی وهلو لپاره دغایت صلاحیت لری.

حاصل داده چی په مذکوره مثالو کی دواړه شرطه موجود دی لهذا په دی مثالو کښی حتی دغائي لپاره ده نو اوس که حالف ترغایت مخکی وهل بس کړه نو حانث ده مثلاً تر سفارش مخکی ئي وهل بس کړه نو حالف حانث ده یعنی غلام آزاد ده ځکه ددی قسم منشاء داوؤ چی زه تادفلانی دسفارش تروخته وهم که می داسی نه وکړ چی نوبیا زما غلام آزاد ده اوهمدارنګه که یو چاه قسم وکی چی زه له خپله مدیونه نه جلاکیږی ترهغه وخته چی مدیون ماته دین نه وی راکړی نوکه حالف تراداء ددی مخکی له مدیونه جلاشو حانث ده ځکه په دی مثالوکښی عدم مفارقت احتمال دامتداد لری اواداء ددین دغایت صلاحیت لری لهذا دلته هم حتی غایت لپاره ده نوکه ترغایت یعنی اداء ددین مخکی حالف دمدیون څخه جلاشو حانث ده.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی که دعرف اویا دبل شی په وجه دحتی په حقیقی معنی عمل معتذر وو هلته معنی حقیقی پریښودل کیږی لکه څنګه چی په دی مثال کی ده که چاه قسم وکړچی زه تاوهم ترهغه وخته چی ته مړکیږی اویا وویل ترهغه وخته چی زه تاوژنم په دی صورت کی که څه هم دحتی ماقبل احتمال دامتداد لری اودحتی مابعد دغایت صلاحیت لری لیکن ددی باوجود دعرف په وجه حتی په معنی دغایت سره نه ده بلکه پر ضرب شدید باندی حمل ده اومطلب ئی داده چی زه تاسخت وهم نوکه حالف دی سخت وواهی لیکن ترمرګ اوترقتل مخکی ئی وهل بس کړقسم ئی پوره ده حانث نه ده.

وَان لَم یَکُن الاَوّلُ قَابِلاً لِلامتدَاد وَلاٰخَرُ صَالِحاً لِلغَایَة وَصَلَحَ الاَوّلُ سَبَبًا وَلاٰخَرُ جَزَاءً یُحمَلُ عَلی الجَزاء مِثَالُهُ مَاقَالَ مُحَمّدٌ اذَا قَالَ لِغَیرِه عَبدِی حُرٌ ان لَم اٰتِکَ حَتّٰی تُغَدِّیَنِی فَاَتَاهُ فَلَم یغده لایَحنَثُ لاَنَّ التَّغدِیَةَ لاَ تَصلُحُ غَایَةً لِلاتیَان بَل هُوَ دَاعٍ الٰی زِیَادَةِ الاتیَان وَصَلَحَ جَزَاءً فَیُحمَلُ عَلَی الجَزاءِ فَیَکُونُ بِمَعنی لاٰمِ کَیْ فَصَارَ کَمَاقَالَ اِن لَم اٰتِکَ اتیَانًا جَزَاءُهُ التَّغدِیَةُ.

ترجمه : اوکه اول یعنی دحتی ماقبل قابل دامتداد نه وو اواخریعنی دحتی مابعد دغایت صلاحیت نه درلودی لیکن اول سبب اوثانی دجزاء صلاحیت لری نوهغه پرجزاء باندی حمل کیږی ددی مثال هغه ده چی امام محمد ویلی دی که مولی بل شخص ته وویل زما غلام آزاد ده که زه تاته نه درغلم ترهغه وخته چی ته ماد سهار خورکه راکوی اومولی ده ته راغلی مگرهغه ده ته خوراک ورنه کړی نومولی حانث نه ده ځکه دسهار خوراک دراتګ لپاره دغایت صلاحیت نه لری بلکه هغه زیادت کولوغوښتونکی ده اودجزاء جوړیدو صلاحیت لری لهذا محمول پرجزاء ده اوحتی دلام کی په معنی سره ده نوداسی شو کله دی چی ووائي که زه تاته نه راغلم داسی راتګ چی دهغه جزاء دسهار خورک وی.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی که دحتی ماقبل دامتداد احتمال نه لری اومابعدئي دغایت احتمال نه لری یعنی دواړه شرطه موجود نه وو اویا یوموجودوؤ بل نه وؤ بلکه ماقبل دسبب صلاحیت درلودی اومابعد دجزاء صلاحیت درلودی په دی صورت کښی دحتی مابعد پرجزاء باندی محمول کیږی او دحتی پخپله په معنی دلام کی ده اومابعد دحتی پرجزاء له دی حمل کیږی چی دجزاء اوغایت په مینځ کښی مناسب شته په دی طریقه لکه څنګه چی مغیاپه غایه سره پای ته رسیږی همدارنګه شرط په جزاء سره پای ته رسیږی ددی مثال دامام محمد قول ده هغه داده چی که مولی بل ته وویل <u>عبدی حران لم آتك حتی تغدینی</u> اوبیا مولی ده ته راغلی لیکن ده مولی ته دسهار خورکه ورنه کړه په دی صورت کښ مولی حانث نه ده یعنی دده غلام آزاد نه ده وجه ئي داده چی په دی مثال کی حتی دغایت صلاحیت نه لری له دی وجه چی دحتی ماقبل دامتداد صلاحیت نه لری اومابعد دغایت صلاحیت نه لری ځکه تغدی اتیان نه ختموی بلکه دزیادت راتګ دعوت ورکوی حاصل داده چی دحتی په ماقبل کښی دامتداد صلاحیت نشته اوپه مابعد کښی ئی دغایت صلاحیت نشته لهذا په دی مثال کی حتی دغایت لپاره نه ده اوتغدی چونکه داتیان جزاء جوړیدای شی له دی وجه داپرجزاء محمول ده اوحتی دلام کی په معنی سره ده نومطلب دا شو چی که زه نه راغلم په داسی راتګ سره چی دهغه جزاء تغدی وی نوبیا زما غلام آزاد ده نودمولی له راتګ بعدچونکه هغه ده ته تغدی ورنه کړه نوراتګ خوموجودشو لیکن داسی راتګ نه ده موجود شوی چی دهغه جزاء تغدی وی نودحنث شرط موجود نه شو چی شرط موجود نه شو نومولی حانث هم نه ده.

وَاِذْتَعَذَّرَ هٰذَا بِاَنْ لَاْیَصْلُحَ الاٰخِرُ جَزَاءً لِلْاَوَّلِ حُمِلَ عَلَی الْعَطْفِ الْمَحْضِ مِثَالُهُ مَاقَالَ مُحَمَّدٌ اِذَا قَالَ عَبْدِی حُرٌّ اِنْ لَمْ اٰتِکَ حَتّٰی اَتَغَدّٰی عِنْدَکَ الْیَوْمَ اَوْاِنْ لَمْ تَاْتِنِی حَتّٰی تَغَدّٰی عِنْدِی الْیَوْمَ فَاَتَاهُ فَلَمْ یَتَغَدَّ عِنْدَهُ فِی ذٰالِکَ الْیَوْمِ حَنَثَ وَذَالِکَ لِاَنَّهٗ لَمَّا اُضِیْفَ کُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الْفِعْلَیْنِ اِلٰی ذَاتٍ وَاحِدٍ لَایَصْلُحُ اَنْ یَکُوْنَ فِعْلُهٗ جَزَاءً لِفِعْلِهٖ فَیُحْمَلُ عَلَی الْعَطْفِ الْمَحْضِ فَیَکُوْنُ اَنَّهُ الْمَجْمُوْعُ شَرْطاً لِلْبِرِّ.

ترجمه : اوکه دامتعذره شوه په دی طریقه چی اقرار داول لپاره دجزاء صلاحیت نه درلودی نوداپرمحض عطف باندی حمل کیږی ددی مثال هغه ده چی امام محمد ویلی دی که مولی وویل زماغلام آزاد ده که زه تاته نه راغلم ترهغه وخته چی زه نن ستاسره دسهار ډوډی وخورم اویاته ماته نه راغلی چی نن له ماسره دسهار ډوډی وخوری اوبیامولی ده ته راغلی لیکن په دی ورځ ئي له ده سره دسهار ډوډی نه وخوړه نوحانث ده له دی وجه کله چی ددواړو فعلوڅخه هر یوواحد ذات ترمضاف وو نودهغه فعل ددفعل لپاره دجزاء صلاحیت نه لری لهذا پرمحض عطف باندی حمل کیږی اوتوله دقسم دپوره کولولپاره شرط دی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی که دکلمی دحتی حمل پرجزاء باندی معتذر وو یعنی که دحتی ماقبل دسببیت اومابعد ئي دجزاء صلاحیت نه درلودی په دی صورت کښی حتی په محض عطف باندی حمل ده یعنی دفاء اویاثم په معنی سره ده ددی مثال دامام محمد رحمه الله داقول ده که مولی وویل عبدی حر ان لم آتك حتی اتغدی عندك الیوم که نن زه تاته نه راغلم اونه ماستا سره دسهار ډوډی نه وخوړله نوزما غلام آزاد ده اویائی داوویل عبدی حر ان الم تاتنی حتی تغدی عندی الیوم که ته نن ماته نه راغلی اوله ماسره دی دسهار ډوډی نه وخوړله نوزما غلام آزاد ده په دی داوړو مثالو کی اتیان اوتغدی دواړه فعله یوه ذات ته منسوب دی په اول کی دواړه متکلم ته منسوب دی اوپه دوهم مثال کی دواړه مخاطب ته منسوب دی اودیوه شخص دیوه فعل لپاره دده بل فعل جزاء نشی کیدای لهذا په دی دواړو مثالوکی دجزاء معنی معتذره ده اوحتی محموله ده پرمحض عطف باندی مطلب ئی دادهٔ که چیری زه نن ورځ تاته نه راغلم اوتاسره می تغدی نه وکړه نوزماغلام آزاد ده یعنی ایتان اوتغدی دواړه دقسم دپوره کولولپاره شرط ده نوکه متکلم راغلی اول له هغه سره ئی تغدی هم وکړه نودمتکلم قسم پوره شو دده غلام آزاد نه ده اوکه متکلم رانه غلی اویاراغلی مګر تغدی ئی نه وکړه په دی دواړو صورتوکښی متکلم حانث ده یعنی غلام ئي آزاد شو.

فَصلٌ الی لانتهاء الغَایَة

فَصلٌ الی لانتهاء الغَایَة ثُمّ هُوَ فی بعض الصُور یُفیدُ مَعنی امتداد الحُکمِ وَفی بَعض الصُور یُفیدُ مَعنی الاسقَاط فَان اَفَادَ الامتدَد لاتَدخلُ الغَایةُ فی الحُکم وَان اَفَادَ الاسقَاط تَدخلُ نَظیرُ الاوَّل اشتَریتُ هذاالمَکَانَ الی هذاالحَائط لاتَدخلُ الحَائطُ فی البیع وَنَظیرُ الثّانی بَاعَ بشرط الخَیار الی ثَلثَة اَیَام وَبِمثله لَوحَلَفَ لااُکلّمُ فلاناً الی شَهرٍ کَانَ الشَهرُ دَاخلاً فِی الحُکمِ وَقد اَفَادَ فَائدَةَ الاسقَاط هُنا.

ترجمه : کلمه دالی دمسافت دانتهاء لپاره راځی اوپه بعض صورتوکښی دامتداد دحکم معنی فائده کوی اوپه بعض صورتوکښی داسقاطومعنی فائده کوی نوکه ئی دامتداد معنی فائده کړه

نو غایه په حکم کښې داخله نه ده اوکه ئې داسقاط معنی فائده کړه بیا غایه داخله ده داول نظیر داده اشتریت هذا المکان الی هذه الحائط مادا مکان تر دې دیواله پورې واخیستې دیوال په بیع کښې داخل نه ده اوثانی نظیر باعت بشرط الخیار الی ثلثه ایام درو شپو لپاره مې په شرط خیار سره واخیستې ؛ اوددې په مثل کې ئې قسم وکړ زه له فلان سره تریوی میاشتې پورې خبرې نه کوم میاشت په حکم کښې داخله ده اودلته کلمه دالی داسقاط لپاره ده.

تشریح : مصنف رحمہ اللہ دحروف عاطفه له فراغت ورسته دحروف جاره وؤ بیان شروع وکړه دې فرمائی چې کلمه دالی دمسافت دانتهاء دبیان لپاره ده خادم دغایت معنی په مسافت وکړه ددې وجه چې پر لانتها الغایة باندې داسوال وارید نشي چې دلته اضافت دشي ونفس ته ده ځکه دغایت معنی هم انتهاء ده.

حاصل داده چې کلمه دالی دمسافت دانتهاء لپاره ده دایاد ساته چې دالی ماقبل ته مغیا اوما بعد ته ئې غایه ویل کیږي اوپه دې کښې چې غایه په مغیاکې داخله ده اوکه نه څلور مذهبه دي.

اول مذهب: داده چې غایه په مغیاء کې مطلقاً داخله ده.

دوهم مذهب: داده چې غایه په مغیاکې مطلقاً داخله نه ده.

دریم مذهب: داده چې که غایه دمغیا له جنسه وه داخله ده اوکه نه وه نه ده داخله.

څلورم مذهب: داده چې دغایه دخول په مغیا کښې موقوفه پرقرینه ده که دغایه پردخول باندې قرینه موجوده وه بیا غایه په مغیاکې داخله ده اوکه قرینه موجوده نه وه بیا نه ده داخله.

مصنف رحمہ اللہ دامذاهب بیان نه کړو بلکه دالي تقسیم ئې وکړ چې الی په بعض صورتو کښې دامتداد دحکم لپاره وي اوپه بعض صورتو کښې داسقاط لپاره وي دامتداد دحکم معنی داده چې اول دکلام واخر یعني غایت ته شامل نه وي اویا په شمول کې وغایت ته شبه وي په داسې صورت کې الی ددې لپاره ذکر کیږي چې ددې په ذریعه حکم له ابتداء څخه تر غایه پورې ورسیږي اوداسقاط مطلب داده چې اول دکلام وغایت اوماسوای دغایت دواړه ته شامل وي په دې صورت کښې الی ددې لپاره ذکر کیږي چې حکم له وماوراء دغایت څخه ساقط شي حاصل داده چې الی په بعض صورتو کښې دامتدا دحکم لپاره راځي اوپه بعض صورتو کښې داسقاط لپاره راځي مصنف وائي که الی دامتداد دحکم لپاره وه بیا غایه په مغیاء کې داخله نه ده اوکه داسقاط لپاره وه بیا غایه په مغیاکې داخله ده داول لپاره مثال داده که یو شخص وویل اشتریت هذا المکان الی هذه الحائط په دې صورت کښې غایه چې دیوال ده په مغیا کې چې مکان ده داخله نه ده یعني په عقد بیع کې داخل نه ده ځکه دمکان اطلاق پراقل هم کیږي اوپر اکثرهم لهذا الی ددې لپاره ده چې حکم دابتداء څخه تر حائطه ورسوی یعني په دې مثال کې الی دامتداد دحکم لپاره ده اودامتداد دحکم په صورت کې چونکه غایه په مغیا کې داخله نه ده له دې وجه په دې مثال کې غایه یعني

دیوال په مغیا یعنی شراء کی داخل نه ده او داسقاط مثال داده چې یو شخص ووائی بعت بشرط الخیار الی ثلثة ایام په دی صورت کی غایه یعنی ثلاثه ایام داخل ده په مغیا یعنی خیار کی له دی وجه چې دلته الی داسقاط لپاره ده په دی طریقه که خیار شرط مطلق شی نه وو نو مؤبد ده او عقد فاسد یږی لیکن کله چې غایه یعنی الی ثلاثة ایام ذکر شو په دی سره ماوراء ساقط شو او غایه یعنی ثلاثة ایام په مغیا یعنی خیار کی داخله شوه مصنف رحمة الله علیه وائی چې داسقاط لپاره یو مثال داهم ده چې یو شخص ووائی والله لااکلم فلاناً الی شهر دلته هم کلمه دالی اسقاط فائده کوی او شهر په حکم دیمین یعنی عدم تکلم کی داخله ده ځکه دده داقول لااکلم شهر اومافوق الشهر دواړو ته شامل ده نو شهر دذکر دمافوق الشهر دسقوط لپاره ده لهذا شهر په خپله په مغیا کی داخله ده.

وَعَلٰى هٰذَا قُلْنَا اَلمرفقُ والكَعبُ دَاخلان تَحتَ حُكمِ الغَسلِ فی قَولِه تَعالی الی المَرافق لانّ كَلمَة الی هٰهُنَا للاسقَاط فَاِنّهُ لَولَاهَا لَا ستَوعَبَت الوَظِيفةُ جَمِيعَ اليَد وَلهٰذَا قُلنَا الرُكبَةُ من العَورَة لأنّ كَلمَة الٰی فی قَولِه عَلَيهِ السَّلامُ عَورةُ الرَّجُلِ مَاتَحتَ السُرَة الی الرُكبَة تُفِيدُ فَائدَةَ الاسقَاط فَتَدخلُ الرُكبَةُ فِی الحُكمِ.

ترجمه: او بناء پردی باندی موږ وایو چې مرفق او کعب دالله تعالی ﷻ په قول الی المرافق کی داخل دی په حکم دغسل کی ځکه دلته کلمه دالی داسقاط لپاره ده ځکه که کلمه دالی نه وی نو وظیفه (غسل) ټول لاس کښنیباسی او له دی وجه موږ وایو چې رکبه دعورت جزء ده ځکه آنحضرت ﷺ په قول عورة الرجل ماتحت السرة الی الرکبة کی کلمه دالی داسقاط لپاره ده لهذا رکبه په حکم دعورت کی داخل ده.

تشریح: مصنف رحمة الله علیه وائی کله چې صدر دکلام غایت او ماوراء غایت ته شامل وی په دی صورت کی کلمه دالی چونکه دماوراء سقوت فائده کوی له دی وجه موږ وایو چې دالله ﷻ په قول فاغسلوا وجوهکم وایدیکم الی المرافق وامسحوا برؤسکم وارجلکم الی الکعبین کی مرفق او کعب په حکم دغسل کی داخل دی لهذا دمرفق (څنګل) پریول له لاسو سره ضروری ده او دکعب پریول له پښو سره ضروری ده له دی وجه چې په آیت کی کلمه دالی داسقاط لپاره ده ځکه په آیت کی صدر دکلام و غایت یعنی مرافق او ماوراء دواړو ته شامل ده ځکه د ید اطلاق تر اوږو پوری پرټوله لاس باندی کیږی نو که حکم دالی نه وای دلاس پریمنځل به تر بغلو پوری فرض وای او دپښو پریول تر کنې پوری فرض وای لیکن چې کلمه دالی ذکر شوه له مرفق او کعب څخه ماوراء ساقط شول او مرفق او کعب په حکم دغسل کی داخل پاته شو لهذا مرفق په پریولو دلاس کی او کعب په پریولو دپښی کی داخل دی.
مصنف رحمة الله علیه وائی کله چې صدر دکلام غایه او ماوراء دواړو ته شامل وی هغه وخت غایه په مغیا کی داخله ده له دی وجه موږ وایو چې رکبه په عورت کی داخل ده یعنی د رکبی ستر هم واجب

ده ځکه د رسول هاشمي ﷺ په دی قول عورة الرجل ماتحت السرة الی الرکبة کی کلمه دالی داسقاط لپاره ده ځکه صدر دکلام يعنی ماتحت السرة رکبی ته هم شامل ده او ماوراء د رکبی ته هم شامل ده نو په کلمه دالی سره ماوراء د رکبی له حکم دعورة څخه خارج شول نو چی ماوراء د رکبی له عورة څخه خارج شول نو رکبه دعورت په حکم کی باقی پاته شوه لهذا د رکبی ستر واجب ده.

وَقد تُفيدُ كَلِمَةُ الی تاخيرَ الحکم الی الغاية ولهذا قلنا اذا قالَ الامراته انت طالقٌ الی شهرٍ ولانيّة له لايقع الطَّلاقُ فی الحال عندنا خلافًا لزفر لاَنَّ ذکرالشهرِ لايَصلحُ لمدّ الحُکمِ ولاسقاطِ شرعاً والطلاقُ يحتمل التاخيرَ بالتَّعليق فيُحمَلُ عَلَيه .

ترجمه: او کله کله ددی لپاره وی چی حکم مؤخر کړی تر غايه پوری او له دی وجه موږ وايو که يو چا خپلی ښځی ته وويل انت طالق الی الشهر او دده هيڅ نيت نه وؤ زموږ په نزد فی الحاله طلاق واقع نه ده او دامام زفر مخالف ده ځکه د شهر ذکر شرعاً دامتداد دحکم او اسقاط صلاحيت نه لری او طلاق سره له تعليقه د تاخير احتمال لری لهذا محمول پر تاخير ده .

تشريح : مصنف رحمة الله عليه وائی کلمه دالی کله کله ددی لپاره راځی چی حکم ته تاخير ورکی تر غايه پوری ليکن دا هغه وخت کيدای شی چی الی داخله پر زمانه باندی وی او د تاخير مطلب داده چی له مقتضی او موجب د موجود والی سره سره شی فی الحال ثابت نه وی بلکه دغايت له موجود والی بعد ثابتيږی لکه په دی مثال کی چی يو خوک خپلی ښځی ته ووائی انت طالق الی شهر او دده يو نيت نه وی په دی صورت کی زموږ په نزد فی الحال طلاق نه واقع کيږی بلکه يوه مياشت ورسته واقع کيږی او که ئي دفی الحاله وقوع نيت کړی وو بيا فی الحاله واقع دی په دی صورت کی الی شهر لغوه ده حضرت امام زفر وائی په دواړه صورتو کی فی الحاله طلاق واقع ده زموږ دليل داده چی شهر (مياشت) شرعاً دامتداد دحکم صلاحيت نه لری او نه داسقاط صلاحيت لری نو کله چی مياشت ددوی دوو صلاحيت نه لری او حال داده چی دغائی دغه دوه قسمه دی لهذا د شهر حمل پر غايت باندی متعذر ده او دامسلمه خبره ده چی کوم شی چی له قبيله داسقاط وی دهغه دتعليق جائز ده او کوم چی داثبات له قبيله وی دهغه تعليق جائز نه ده .

او طلاق چونکه داسقاط له قبيله ده تعليق ئی جائز ده کله چی ئی تعليق جائز شو نو دی دتعليق په ذريعه احتمال دتاخر لری نو کله چی ئی احتمال د تاخير پيدا کړی نو کلام محمول ده پر تاخر باندی ددی لپاره چی له لغويت څخه محفوظ کړ شی او د انت طالق الی شهر معنی داده انت طالق مؤخرا الی شهر .

فُصلٌ كَلِمَةُ عَلٰى لِلالزام

فُصلٌ كَلِمَةُ عَلٰى لِلالزام وَاَصلُهُ لافَادَةِ معنى التَفوّق وَالتَعلّى وَلِهذَا لَوقَالَ لِفُلانٍ عَلَىّ اَلفٌ يُحمَلُ عَلَى الدّين بِخَلاف مَالَوقَالَ عندى اَو مَعيَ اَوقبلى وَعَلٰى هذَا قَالَ فِى السِّيَرِ الكَبِيرِ اِذَا قَالَ رَاسُ الحصن اٰمِنُونِى عَلٰى عَشَرَةٍ من اَهلِ الحصن فَفَعَلنَا فَالعَشَرَةُ سِوَاهُ وَخيرُ التَعين لَهُ وَلَوقَالَ اٰمِنُونِى وَعَشَرَةً اَو فَعَشَرَةً اَو ثُمّ عَشَرَةً فَفَعلنَا فَكَذَالِكَ وَخيَارُ التَعيين الامن

ترجمه: كلمه دعلی دلزام لپاره ده او دا اصلاً دتفوق اوتعالی معنی فائده كولو لپاره ده له دی وجه كه يو چاه وويل دفلانی پرمازر روپی دی دا محمول پردين ده او ددی پرخلاف كه چاه وويل لما سره اويازماله طرفه اوبناء پردی باندی په سير كبير كبنی ويل شوی دی دقلعه سردار وويل ماته دلسونفرو امان راكړی او موږ امان وركی نولس له ده نه بغير دی او دتعين اختيار ئي دقعله (قلا) دسردار ده او كه ووېل ماته امان راكه او دلسو او يا دلسو اويا بيا دلسو اوموږ امان وركی دغه رنګه ده او دتعين اختيار دامن وركونكی ده.

تشريح: له حروف جاره وو څخه دوهم حرف علی ده علی لغةً په معنی دتفوق اوتعالی سره ده تعالی كله حسي وی لكه زيدٌ على السطح او زيدٌ على السرير او كله معنوی وی لكه فلان علينا اميرٌ او لفلان علىّ دين اوشرعاً دالزام لپاره راځي يعنی ددی لپاره راځی چی ددی دماقبل لزوم ثابت كړی پرمابعد باندی مصنف رحمه الله وائی كلمه دعلی چونكه دالزام اوتعالی لپاره راځی نوكه يو چاه وويل لفلان علىّ الف داقول محمول پردين ده ځكه دين پرهغه چاه باندی سپور وی چی هغه ئی پرځان باندی لزوم كړی وی لكه په دی قول كښی ركبه دين اوكه چاه وويل لفلان عندى الف اويائی داسی وويل لفلان معى الف اويائی داسي وويل لفلان قبلى الف په دی صورتوكښی پردين باندی نه حمل كيږی بلكه محمول پرامانت باندی ده ځكه دلته كلمه دعلی چی دالزام لپاره ده نشته.

اوبناء پردی چی كلمه دعلی دالزام اوتعلی لپاره ده امام محمد رحمه الله په سيركبير كښی فرمائي كه دقلا سردار مسلمانانوته وويل امنوعلى عشرة من اهل الحصن موږ اهل قلعه لسونفرو ته امن راكړی اومسلمانانو امان وركی په دصورت كی له سردار بغير لسو نفروته امان ثابت ده ددی لسونفرو تعين دامان غوښتونكی سردار په لاس ده ځكه سردار دځان سره دلسونفرو دامان غوښته وكړه ددواړو لپاره طلب په ذريعه دعلی وشو نودسردار مقصد داشو چی ماته له لسونفروسره امان راكړی په دی شرط چی په ثبوت دامان كښی زه پردوی باندی متعلی اوغالبه يم اوداغلبه اوتفوق په هغه صورت كی حاصليږی چی سردار لره دلسونفرو دتعين ولايت وركړی شی لهذا دلسونفرو دتعين اختيار سردار لره ده.

او که ئی وویل امنونی وعشرة یا امنونی لعشرة یا امنونی ثم عشرة او مسلمانانو امان ورکی په دی صورت کی سردار له امان ثابت اولسونفرو له امان ثابت ده لیکن په دی صورت کی تعین دلسونفرو دامان ورکونکی په اختیار کی ده ځکه په دی صورت کی امان غوښتونکی سردار دلسو نفرو امان عطف کړی پر خپل امان باندی او دا شرط نه کیښودی چی ماله په دی امان کی دتفوق وی لهذا دلته تعین اختیار دسردار په لاس نه ده.

وَقد يَكُونُ عَلى بِمَعنى البَاء مَجَازاً حَتّى لَو قَالَت بِعتُکَ هٰذَا عَلَى اَلف يَكُونُ عَلى بِمَعنى البَاء لِقِيَام دَلَالَة المُعَاوَضَة وَقد يَكُونُ عَلى بِمَعنى الشَرط قَالَ اللّٰهُ تَعالى يُبَايِعنَکَ عَلى اَنَّ لاَ يُشرِكنَ بَاللّٰه شَيئاً وَلِهٰذَا قَالَ اَبُوحَنِيفَة رحمه الله اِذَا قَالَت لِزَوجِهَا طَلِّقنِى ثَلٰثاً اَلف فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً لاَيَجِبُ المَالُ لِاَنَّ الكَلِمَةَ هٰهُنَا تُفِيدُ مَعنَى الشَرط فَيَكُونُ الثَلٰثُ شَرطاً لِلُزُومِ المَال.

ترجمه: او کله دعلی مجازا په معنی دباء راځی حتی که یو چاه وویل زه دا پرتا باندی خرڅوم په زر روپی نو علی په معنی دباء ده ځکه دلالت دمعاوضی موجود ده او کله علی په معنی دشرط وی الله تعالی ﷻ فرمائی هغه له تاسره بیعت کوی په دی شرط چی دوی له خدای سره شریک نه نیسی له دی وجه امام ابوحنیفه فرمائی که ښځی خاوند ته وویل ماته دری طلاق راکړه په دی شرط چی په زر روپی به وی او خاوند دی ته یو طلاق ورکی مال واجب نه ده ځکه کلمه دعلی دلته په معنی دشرط ده نو ددی طلاق دلزوم دمال لپاره شرط دی.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی کلمه دعلی مجازا په معنی دباء هم استعمالیږی او دمعنی حقیقی (الزام) او معنی مجازی (الصاق) په مینځ کی ئي مناسبت داده چی لکه څنګه چی ملصق متصل وی دملصق به سره دغه رنګه لازم هم متصل وی له ملزوم سره حاصل داده چی کلمه دعلی مجازا په معنی دباء هم راځي لکه په دی مثال کی چی یو خوک ووائي بعتك هذا علی الف دلته کلمه دعلی په معنی دباء ده ځکه داکلام عقد معاوضه ده او عقدمعاوضه پر دی دلالت کوی چی کلمه دعلی پرعوض داخله ده او معوض چونکه ملصق وی له عوض سره له دی وجه دلته کلمه دعلی الصاق او اتصال لپاره ده او الصاق او اتصال چونکه معنی دباء دی لهذا دلته علی په معنی دباء سره ده.

مصنف رحمه الله وائی کله چی دعلی استعمال په خپله حقیقی معنی یعنی الزام کی متعذر شی په هغه وخت علی په معنی دشرط ده دشرط او الزام په مینځ کی مناسبت داده لکه څنګه چی دلازم او ملزوم په مینځ کی لزوم موجود ده همدارنګه دشرط او جزاء په مینځ کی هم لزوم موجود ده او علی چی په معنی دشرط وی لکه په دی قول دخدای ﷻ هغه ښځی له تاسره بیعت کوی په دی شرط چی دوی له خدای ﷻ سره شریک نه نیسی په دی آیت کی علی په معنی دشرط استعمال شوی ده ددی معنی په اعتبار حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی که یو ښځي خپل خاوند ته وویل طلقنی ثلثاً علی الف ته ماته د زرو روپو اداء کولو په شرط دری طلاق راکړه او خاوند دی ته یو طلاق ورکی پر ښځي باندی

مال واجب نه ده اوصاحبين وائي چې پربنځې باندې دزرو روپو ثلث واجب ده دامام ابوحينفه دليل داده چې په دې كلام كښې علي په معنى د شرط ده لهذا پر ښځه باندې دزرو روپو وجوب مشروط ده په درې طلاقه باندې اودښځې مطلب داده چې كه ماته درې طلاقه راكړې شي زه زر روپې اداء كوم اوكه درې طلاقه نه وي نه ئې اداء كوم اوديوه طلاق وركولو په صورت كې چونكه شرط موجود نه ده له دې وجه مشروط هم نه موجوديږي لهذا پربنځې باندې هيڅ شي واجب نه ده.

اودصاحبين دليل داده چې طلاق په مال سره عقد معاوضه ده په عقدمعاوضه كې دعوض اجزاء تقسيم كيږي پر اجزاء دمعوض باندې لهذا په مذكوره صورت په يوه طلاق وركولو سره دزرو روپو يو ثلث واجب ده.

فوائد: دلته يوسوال كيږي هغه داده چې مصنف رحمة الله عليه دعلى دوې مجازي معاني وې بيان كړې يو په معنى دباء اوبل په معنى د شرط داولې لپاره مصنف رحمة الله عليه دمجاز لفظ ذكر كې ليكن ددوهمې معنى په بيانولو سره ئې دمجاز لفظ ذكر نه كړ.

ځواب: داده چې معنى د شرط په مرتبه دحقيقت كې ده ځكه مشروط له شرط سره لازم هم وي اوله شرط ورسته هم راتلاى شي چونكه دامعنى په مرتبه دحقيقت كې وه له دې وجه مصنف رحمة الله عليه لفظ دمجاز ددې په باره كې ذكر نه كې.

فَصلٌ كَلِمَةُ فِي لِلظَّرف

فَصلٌ كَلِمَةُ فِي لِلظَّرف وَبِاعتِبَارِ هَذا الأَصل قَالَ أَصحَابُنَا اِذا قَالَ غَصَبتُ ثَوباً فِي مَندِيلٍ اَو تَمراً فِي قَوصَرَةٍ لَزِمَاهُ جَمِيعاً ثُمّ هَذِه الكَلِمَةُ تَستَعمَلُ فِي الزَّمَانِ وَالمَكَانِ وَالفعل اَمَّا اِذَا استُعمِلَت فِي الزَّمَانِ بِاَن يَقُولَ اَنت طَالِقٌ فِي غَدٍ فَقَالَ اَبُويُوسُفَ رحمة الله عليه ومحمّد رح يَستَوِي فِي ذَالِكَ حَذفُهَا وَاظهَارُهَا حَتّى لَوقَالَ اَنت طَالِقٌ فِي غَدٍ كَانَ بِمَنزِلَةِ قَولِه اَنت طَالِقٌ غَداً يَقَعُ الطَّلَاقُ كَمَا طَلَعَ الفَجرُ فِي الصُّورَتِين جَمِيعاً.

ترجمه: كلمه دفي دظرف لپاره ده اوددې اصل په اعتبار زمونږ علماء وائي كه يوچاه وويل ماپه دسمال كې كپړه غصب كړه اويا په ټوكرۍ كې خورما غصب كړه نودواړه لازم دي اوداكلمه دزمان اومكان اومعنى مصدرى دټولو لپاره استعماليږي بهر حال كله چې دزمان لپاره استعمال شي په دې طريقه چې څوك ووائي انت طالق في غد امام يوسف رحمة الله عليه اوامام محمد رحمة الله عليه ويلې دي چې په دې كې ددې ذكر اونه ذكر دواړه برابر دي حتى كه ئې انت طالق في غد وويل پرمرتبه دانت طالق غدٍ كې ده چې دصبح صادق په طلوع سره په دواړه صورتو كښې طلاق واقع كيږي.

تشريح: له حروف جاره وڅخه يوحرف في ده في دظرف لپاره استعماليږي لكه الماء في الكوز اوزيد في الدار اوالدراهم في الكيس مصنف رحمة الله عليه بناء پردې باندې چې كلمه دفي لپاره دظرف ده زمونږ علماء وائي

که یو چاه وویل غصبت ثوباً فی مندیل ما په دسمال کی کپړه غصب کړه اویا ووائی غصبت تمراً فی قوصرة ما په ټوکرکی خورما غصب کړه په دی صورت کی پر غاصب باندی دواړه شیان لازم دی یعنی په اول کی دسمال او کپړه اوپه دوهم کی ټوکری او خورما.

مصنف رحمة الله علیه وائي کلمه دفي د زمان او مکان او معنی مصدری دری سره لپاره استعمالیږی که دزمان لپاره وه لکه انت طالق فی غد په دی صورت کی دصاحبین مذهب داده چی دفی حذف اوذکر دواړه برابر دی یعنی انت طالق فی غد او انت طالق غدًا په دواړه صورتو کی دصبح صادق له تلو سره سم طلاق واقع ده لیکن که ده دو ورځی داخیر نیت کړی وو دانیت ئی دیانةً معتبر ده ځکه دخپل کلام دمحتمل نیت ئی کړی ده اوقضاءً معتبر نه ده ځکه خلاف ظاهر ده ځکه ظاهر داده چی مراد له غد څخه سباه ده او طلاق دسباه استعاب کوی او داخیر نهار نیت کول دامعنی ده چی دنهار بعض حصه مراد ده اودا دظاهر خلاف ده کوم نیت چی خلاف دظاهر وی هغه دیانةً معتبر ده قضاءً معتبر نه ده.

وَذَهَبَ اَبُوحَنِیفَةَ رحمة الله علیه اِلٰی اَنَّهَا اِذَا حُذِفَت یَقَعُ الطَّلَاقُ کَمَا طَلَعَ الفَجرُ واِذَا اُظهِرَت کَانَ المُرَادُ وُقُوعَ الطَّلَاقِ فِی جُزءٍ مِنَ الغَدِ عَلٰی سَبِیلِ الاِبهَامِ فَلَولَاوُجُودُ النِّیَة یَقَعُ الطَّلَاقُ بِاَوَّلِ الجُزءِ لِعَدَمِ المُزَاحِمِ لَهُ وَلَونَوٰی اٰخِرَ النَّهَارِ صَحَّت نِیَّتُهُ وَمِثَالُ ذَالِکَ فِی قَولِ الرَّجُلِ اِن صُمتِ الشَّهرَ فَاَنتِ کَذَا یَقَعُ ذَالِکَ عَلَی الاِمسَاکِ مَسَاعَةً فِی الشَّهرِ.

ترجمه: اوامام ابوحنیفه مذهب داده چی دحذف دفاء په صورت کی دصبح صادق له طلوع سره طلاق واقع ده اوذکر په صورت کی لاعلی التعین دغد په یو جزء کی دطلاق ووقوع ده نو که نیت موجو د نه وو طلاق په اول جزء کی واقع ده ځکه مزاحم نشته او که داخیر نهار نیت وو نیت ئی صحیح ده مثال ئي داده چی یو څوک ووائي ان صمت الشهرفانت کذا دا کلامد روژه په میاشت کی واقع ده او که ئی وویل ان اصمت فی الشهرفانت کذا دا کلام دمیاشتی پر لږ ساعت امساک باندی واقع ده.

تشریح: دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد حذف دفاء او ذکر دفاء فرق لری هغه داده چی که کلمه دفی حذف وه لکه انت طالق غدًا په دی صورت کی طلاق په طلوع دصبح صادق سره واقع کیږی ځکه دلته فعل (طلاق) له ظرف (غد) سره بلا واسطه متصل ده او ظرف دنصب په وجه له مفعول به سره مشابه ده او فعل چونکه دمفعول به دټولو اجزاء استعاب کوی لهذا دلته هم فعل دظرف (غد) دټولو اجزاء استعاب کوی او له طلاقه سره دغد دټولو اجزاء استعاب هغه وخت ممکن ده چی طلاق دغد په اول جزکی واقع شی لهذا په دی صورت کی طلاق په طلوع دفجر سره واقع کیږی او که ده داخیر نهار نیت کړی وو نو دا نیت چونکه دکلام دموجوب نیت نه ده له دی وجه قضاءً دانیت معتبر نه ده او که کلمه دفاء ذکر وه مثلاً انت طالق فی غد په دی صورت کی ظرف له مفعول به سره مشابه نه ده بلکه خالص ظرف ده او د ظرف لپار داستعاب ضروری نه ده لکه دالماء فی الکوز لپاره دا ضروری

نه ده چی دکوزی په ټولو اجزا ء کی به اوبه موجودی وی نو چی دظرف لپار ه استیعاب ضروری نه ده بیا د انت طالق فی غد مطلب داده چی لا علی التعین دغد په یو جز کی طلاق واقع ده نو که نیت نه وی دغد په اول جز کی طلاق واقع ده یعنی په طلوع د فجر کی ځکه په طلوع د فجر سره دغد اول جز مو جو دده او ورستنی اجزاء معدوم دی دمعدود او موجود په مینځ کی مزاحمت نشته نو چی کله داول جز هیڅ مزاحم نشته لهذا طلاق په اول جز کی واقع ده.

او که ده داخر نهار نیت کړی وو دانیت ئی قضاءً او دیانۃً صحیح ده ځکه ده په دی نیت کولوسره دخپل کلام موجب نه ده متغیر کړی بلکه دخپل کلام د محتمل نیت ئی کړی ده او دخپل کلام له محتملا تو څخه دیوه تعین کول قضاءً هم صحیح ده او دیانۃً هم صحیح ده لهذ نیت په دواړه طریقوسر ه صحیح ده مصنف رحمه الله دحذف دفا ء او دذکر دفرق دوضاحت لپار ه یو مثال ذکر کوی هغه داده که یو چا ه خپلی ښځی ته وویل ان صمت الشهر فانت طالق په دی صورت کی طلاق دټولی میاشتی ترروژو پوری معلق ده که ښځی دټولی میاشتی روژه ونیولی طلاق واقع ده او که ئی نه ونیولی نه ده دواقع او که ئی وویل ان صمت فی الشهر فانت طالق په دی صورت کی طلاق په ټوله میاشت کی پریو څه ساعت امساک باندی معلق ده که ښځی یوه ورځ څه ساعت امساک وکړ طلاق واقع ده .

وَاَمَّا فِی المَکَانِ فَمِثل قَولِه انت طالقٌ فی الدَّارِ وَفی مَکَّةَ یَکُونُ ذَالِکَ طَلَاقًا عَلَی الاطلَاقِ فِی جَمِیعِ الاَمَاکِنِ وَبِاعتِبَارِ مَعنَی الظَرفِیَّةِ قُلنَا اذَا حَلَفَ عَلَی فِعلٍ وَاَضَافَهُ الی زَمَانٍ اَومَکَانٍ فَانکَانَ الفِعلُ مِمَّا یَتِمُّ بِالفَاعِلِ یَشتَرِطُ کَونُ الفَاعِلِ فِی ذَالِکَ الزَمَانِ اَوالمَکَانِ فَان کَانَ الفِعلُ یَتَعَدَّی الی مَحَلّ یَشتَرِطُ کَونُ المَحَلِّ فِی ذَالِکَ الزَمَانِ اَوالمَکَانِ لاَنَّ الفِعلَ انَّمَا یَتَحَقَّقُ بِاَثرِه وَاَثرُهُ فِی المَحَلِّ قَالَ مُحَمَّدٌ فِی الجَامِعِ الکَبِیرِ اذَا قَالَ ان شَتَمتُکَ فِی المَسجِدِ فَکَذَا فَشَتَمَهُ وَهُوَ فِی المَسجِدِ وَالمَشتُومُ خَارِجَ المَسجِدِ یَحنَثُ وَلَوکَانَ الشَّاتِمُ خَارِجَ المَسجِدِوَ المَشتُومُ فِی اَلمَسجِدِ لَا یحنثُ وَلَو قَالَ ان ضَرَبتُکَ اَو شَجَجتُکَ فِی المَسجِدِ فَکَذَایَشتَرِطُ کَونُ المَضرُوبِ وَالمَشجُوجِ فِی المَسجِدِوَلَا یَشتَرِطُ کَونُ الضَارِبِ وَالشَاجّ فِیهِ وَلَو قَالَ ان قَتَلتُکَ فِی یَومِ الخَمِیسِ فَکَذَا فَجَرَحَهُ قَبلَ یَومِ الخَمِیسِ وَمَاتَ یَومَ الخَمِیسِ یَحنَثُ وَلَو جَرَحَه یَومَ الخَمِیسِ وَمَاتَ یَومَ الجُمُعَةِ لَا یَحنَثُ .

ترجمه : او چی دمکان لپاره وی لکه دده قول انت طالق فی الدار یا فی مکة نو په ټولو مکانو کی علی الا طلاق طلاق واقع ده او دمعنی دظر فیت په وجه موږ وایو کله چی حالف پریو فعل باندی قسم وکړی اودغه فعل ئی زمان یا مکان طرفته منسوب کی نو که فعل داسی وو چی په فاعل سره پوره کید ی بیا په دغه زمان یامکان کی دفاعل وجوب شرط ده او که فعل د یو محل طرفته متعدی وو بیا په دغه زمان یا مکان کی دمحمل وجود شرط ده ځکه فعل له خپل اثر سره متحقق کیږی او دده

اثر په محل کی ده اما م محمد رحمہ اللہ په جامع کبير کښي فرمائی که ئی وویل که ما تاته په مسجد کی ښکنځل وکړه زه به داسی یم او بیا متکلم ده ته ښکنځل وکړه په داسی حال کی چی دی په مسجد کی وو او هغه چاته چی ښکنځل کړشوی دی هغه له مسجده بهر وو نو حانث ده او که ښکنځل کونکی له مسجده بهر وو او هغه چی ښکنځل ورته شوی دی هغه داخل په مسجد کی وو بیاحانث نه ده او که ئی وویل که ماته په مسجد کی ووهلی او یا ماستا سرزخمی کی بیا به داسی وی نو دمضروب او زخم شوی وجود په مسجد کی شر ط ده او د وهونکی او یا زخمی کونکی وجود په مسجد کی شرط نه ده او که ئی وویل که ما ته په جمرات کی قتل کړی زه به داسی یم او حلف دی تر جمرات مخکښ زخمی کی او هغه په جکعرات کی مړ مړشو نو حانث ده او که ئی په جمرات کی زخمی کی په جمعه مړشو حانث نه ده .

تشریح: مصنف رحمہ اللہ وائی کی کلمه دفی دمکان لپاره وه مثلاً یو چا ه خپلی ښځی ته وویل انت طالق فی الدار یا انت طالق فی مکة په دی صورت کی طلاق فی الحاله واقع کیږی په یو ه مکان مقید نه ده بکله غلی الا طلاق په ټولو مکانو کی طلا ق واقع ده یعنی لکه ښځگه چی داپه دار کی مطلقه ده دغسی په غیر ددار کی هم مطلقه ده او لکه ښځگه چی په مکه کی مطلقه ده همدارنگه په غیر دمکی کی هم مطلقه ده وباعتبا رمعنی الظرفیت په دی عبارت سره مصنف رحمہ اللہ یوی ضابطی ته اشاره کوی هغه داده که حالف پر یو فعل باندی قسم وکړ او هغه فعل ئی دزمان یا مکان طرفته منسوب کی نو فعل به وګورو چی فعل لازم ده اوکه متعدی یعنی په فاعل سر ه پو ره کیږی او که له فاعله سواء مفعول ته هم ضرورت لری که اول صورت وو نو فعل چی کوم زمان یا مکان ته منسوب ده په هغه زمان یا مکان کی دفاعل وجود دحنث لپاره شرط نه ده او که دوهم صورت وو بیا دحنث لپار ه په هغه زمان یا مکان کی دمفعول وجود شر ط ده ځکه فعل له خپل اثر سره متحقق کیږی او دفعل اثر په مفعول کی مو جو د یږی لهذال په محل کی دهغه زمان او مکان رعایت کول کیږی.

اما م محمد رحمہ اللہ په جامع کبیر کی وائی که یو چاه دا وویل ان شتمتك فی المسجد فعبدی حرٌ که ماتا ته په مسجد کی ښکنځل وکړه زما غلا م ازاد ده اوبیا حالف په مسجد کی ودریدی ښکنځل ئی ورته وکړه او هغه سړی له مسجد ه دباندی وو په دی صورت کی حالف حانث ده ځکه شتم (ښکنځل) له شا تم ښکنځل کونکی څخه موجود دشو لهذا دحنث یعنی غلام دآزادید و شرط داشو چی ښکنځل کونکی به په مسجد کی وی او که شا تم له مسجده دباندی وو او هغه بل شخص دننه په مسجد کی وو په ذی صورت کی دحنث شرط مو جود نه ده لهذ ا په دی صورت کی حالف حانث نه ده.او که یو چا وویل ان ضربتك فی المسجد فعبدی حرٌ یا ان سججتك فی المسجد فعبدی حرٌ که ماته په مسجد کس ووهلی زما غلام آزاد ده او یا می ته په مسجد کی زخمی کړی زما عبد آزادده په دی صورت کی دنه حانث کیدو لپاره دمضروب او مسجوج وجود شر ط ده او دضارب اود ساج وجود په مسجد

کی شرط نه ده یعنی که مضروب او مسجوج په مسجد کی وو او ضارب او شاج له مسجد ه دباندی وو بیا حالف حانث نه ده او که ددی پر عکس وو بیا حالف حانث ده ،

او که ئی وویل ان قتلتك فی یوم الخمیس فعبدی حر که ماته په جمعرات کی قتل کړی زما غلام ازاد ده او بیا حالف دی تر جمعرات مخکی زخمی کی او په جمعرات مړشو په دی صورت کی حالف دوجود دشرط په وجه حانث ده او که ئی په جمرات زخمی کی او مړ په جمعه شو په دی صورت کی حانث نه ده.

وَلَو دَخَلَت الکَلِمَۃُ فی الفعل تُفِیدُ مَعنَی الشَرط قَالَ مُحَمَّدٌ رحمه الله اذا قَالَ اَنت طَالِقٌ فی دُخُولِک الدَار نَهَر بِمَعنَ الشَرط فَلَایَقَعُ الطَلَاقُ قَبلَ دُخُو لِ الدَار وَ لَو قَالَ اَنت طَالِقٌ فی حَیضَتِکَ ان کَانَت فی الحَیض وَقَعَ الطَلَاقُ فی الحَال وَلَا یَتَعَلَّقُ الطَّلَا قُ بِا لحَیض وَفی الجَامِعِ لَو قَالَ اَنت طَالِقٌ مَجیءِ یَومٍ لَم تُطلَق حَتّی یَطلَعَ الفَجرُ وَلَوقَالَ فی مُضیِّ یَومٍ ان کَانَ ذالِکَ فی اللَیل وَقَعَ الطَّلَاقُ عِندَ غُرُوبِ الشَمس مِنَ الغَد لوجُود الشَرط وَان کَانَ فی الیَوم تُطلَقُ حینَ تَجیئُ مِنَ الغَدتلکَ السَاعَۃُ وَفی الزِّیَادَات لَوقَالَ اَنت طَالِقٌ فی مَشِیَّۃِ اللہ تَعَالی اَوفی اِرَادَۃِ اللہ تَعَالی کَانَ ذالِکَ بِمَنَی الشَرط حَتّی الَا تُطلَقَ.

ترجمه: او که کلمه دفاء پر فعل لغوی (مصدر) با ندی داخله وه معنی دشرط ورکوی اما م محمد ویلی دی که خاوند وویل انت طالق فی دخولك الدار دلته فی په معنی دشرط ده لهذا تر دخول ددار وړاندی طلاق واقع نه ده او که ئی وویل انت طالق فی حیضتك که ښځه په حیض کی وه نو طلاق فی الحاله واقع ده او که نه وه طلاق معلق بر حیض باندی ده او په جامع کبیر کی ویل شوی دی که ئی وویل انت طالق فی مجئ یوم نوطلاق واقع نه ده تر هغه وخته چی صبح صادق طلوع کوی او که ئی وویل فی مضی یوم کچیری داکلام په شپه کی وو بیا راتلو نکی ورځ دلمر لو ید په وخت کی طلاق واقع کیږی ځکه شرط موجود ده او که په ورځ کی وؤ بیا چی کوم وخت دورځی دغه ساعت راشی طلاق واقع کیږی او په زیادات کی راغلی دی که ئی وویل انت طالق فی مشیة الله یافی ارادة الله داپه معنی دشرط ده حتی چی طلاق واقع نه ده.

تشریح: مصنف رحمه الله په عبارت کی له فعل ځخه فعل لغوی یعنی مصدر مرا ده دلیل داده چی پرفعل اصطلاح باندی فی اونورحروف جاره نه داخلیږی لهذا دلته مراد له فعل ځخه لغوی ده نومعنی دعبارت داده چی که کلمه دفاء داخله پرمصدر شوه بیاپه معنی دشرط ده یعنی حکم پرفعل باندی معلق ده مثال ئی داده که یوچاخپلی ښځی ته وویل انت طالق فی دخولك الدار داپه معنی ده انت طلاق ان دخلت الدار سره ده اوله دخوله د دار ورسته طلاق واقع ده مخکی تر دخول ددار طلاق واقع نه ده اوکه ئی خپلی حائضی ښځی ته وویل انت طالق فی حیضتك په دی صورت کی شرط یعنی حالت

دحیض چونکه موجود ده لهذا فی الحاله طلاق واقع ده اوکه ئی غیر حائضی ته وویل بیا طلاق معلق پرحیض باندی ده دحیض له راتګه ورسته طلاق واقع ده او په جامع کبیر کی دی که یو چا خپلی ښځی ته وویل انت طالق فی مجئ یوم په دی صورت کی طلاق دروځی پرراتګ باندی معلق ده دراتلونکی ورځی دصبح صادق دتلوع پر وخت طلاق واقع ده او که خاوند انت طالق فی مضی یوم داوویل بیا به وګورو که داکلام په شپه کی وو بیاراتلونکی ورځ دلمر لویدو په وخت کی طلاق واقع کیږی ځکه په دی وخت کی شرط (مضی یوم) موجود ده اوکه داکلام په ورځ کی وو بیا په راتلونکی ورځ په دغه ساعت کی طلاق واقع کیږی مثلاً په ورځ کی پر (۱۲) بجی ددی کلام ذکروشو نو په راتلونکی ورځ کی پر (۱۲) بجی باندی طلاق واقع کیږی ځکه دلته دمکملی ورځی تیریدل شرط ده نوچی نیمه ورځ دیوم حلف تیره شوه دوهم نیمی چی راتلونکی ورځ کی تیره شوه نومکمله ورځ پوره شوه لهذا په دغه وخت باندی مکمله ورځ پوره شوه طلاق واقع ده اوکه خاوند خپلی ښځی ته وویل انت طالق فی مشیة الله یاانت طالق فی ارادة الله دادشرط یعنی انت طالق ان شاء الله اویا انت طالق ان اراد الله په معنی سره ده اودالله دمشیة او ارادی چونکه ادراک ممکن نه ده لهذا دعدم دوجود شرط په وجه طلاق واقع نه ده.

فوائد: کلمه دفاء چی پرمصدر داخله شی معنی دشرط ده ځکه مصدر دطلاق لپاره ظرف نشی کیدای ځکه ظرف مظروف ته شامل وی اودمظروف لپاره محل وی اوکوم شی چی وبل ته شامل وی اویاورته محل وی دهغه بقاء په دوو زمانوکی ضروری ده اومصدر چونکه عرض ده په دوو زمانوکی باقی نشی پاته کیدای له دی وجه مصدر ظرف نشی کیدای نوکله چی مصدر ظرف نشی کیدای لهذا پرمصدر باندی داخله فی په معنی دظرف نشی کیدای نو کله چی پر مصدر باندی داخله فاء په معنی دظرف متعذره وه نو مجازاً پر معنی دشرط باندی محموله ده او ددی دوو معانی په مینځ کی مناسبت داده چی لکه څنګه چی دظرف او مضروف په مینځ کی مقارنت وی همدارنګه د شرط او جزاء په مینځ کی مقارنت وی.

فَصلٌ حَرفُ البَاءِ للالصَاق

فَصلٌ حَرفُ البَاءِ للالصَاقِ فِی وَضعِ اللُغَةِ وَلِهٰذَا تَصحَبُ الاَثمَانَ وَتَحقِیقُ هٰذَا اَنَّ المَبِیعَ اَصلٌ فِی البَیعِ وَالثَّمَنَ شَرطٌ فِیهِ وَلِهٰذَا المَعنٰی هَلَاکُ المَبِیعِ یُوجِبُ ارتِفَاعَ البَیعِ دُونَ هَلَاکِ الثَّمَنِ اِذَا ثَبَتَ هٰذَا فَنَقُولُ اَلاَصلُ اَن یَّکُونَ التَّبعُ مُلصَقًا بِالاَصلِ لَا اَن یَّکُونَ الاَصلُ مُلصَقًا بِالتَّبعِ فَاِذَا دَخَلَ حَرفُ البَاءِ فِی البَدلِ فِی بَابِ البَیعِ دَلَّ ذَالِکَ عَلٰی اَنَّهُ تَبعٌ مُلصَقٌ بِالاَصلِ فَلَا یَکُونُ مَبِیعًا فَیَکُونُ ثَمَنًا وَعَلٰی هٰذَا قُلنَا اِذَا قَالَ بِعتُ مِنکَ هٰذَا العَبدَ بِکُرٍّ مِنَ الحِنطَةِ وَوَصَفَهَا یَکُونُ العَبدُ مَبِیعًا وَالکُرُّ ثَمَنًا فَیَجُوزُ الاِستِبدَالُ

به قبلَ القبضِ وَلَو قالَ بعتُ منکَ کُراً منَ الحنطَةِ وَوَصَفَهَا بهذَا العَبدِ یَکُونُ العَبدُ ثمَنًا وَالکرُّ مَبِیعًا وَیَکُونُ العَقدُ سلمًا لا یَصحُّ الّا مُؤَجّلًا .

ترجمه : فصل باء په لغت کی وضع ده دالصاق لپاره له دی وجه څخه پردوو ثمنو باندی داخلیږی ددی تحقیق داده چی په بیع کی مبیعه اصل ده اوثمن شرط ده له دی وجه دمبیعی په هلاک سره دبیع ختمدل ثابتیږی دثمن په هلاک سره نه ده کله چی داثابته شوه نوموږ وایو چی تابع له اصل سره معلق وی داسی نه چی اصل معلق وی له تابع سره لهذا مدخول دباء مبیعه نه وی بلکه ثمن وی اوبناء پردی باندی موږ وایو که یو چاه وویل زه پرتاباندی داغلام خرڅوم دیوه کرغنمو په عوض کی اودغنمو وصف بیان ئی کړی نوغلام مبیعه ده اوکرثمن دی نوتر قبض وړاندی دکر په عوض کی د دوهم شی اخیستل جائز ده اوکه ئی وویل زه یو کرغنم ددی غلام په عوض کی پرتاخرڅوم اود غنمو وصف ئی بیان کړ نوغلام ثمن ده کر مبیعه ده داعقد سلم ده صرف مؤجل صحیح کیدی شی.

تشریح : له حروف جاره وڅ څخه یوحرف ؛باء ؛ ده اوپردی باندی داهل سنت اجماع ده چی باء دالصاق لپاره ده الصاق دی ته وائی چی یوشی دبل شی سره معلق اومتصل وی لکه په مررت بزید کښی معنی ئی داده چی زمامرور متعلق متصل وو له زید سره.

له الصاق بغیر نوری معانی دباء ټولی مجازی معانی دی مثلا داستعانت لپاره لکه کتبت بالقلم اوظرف لپاره لکه صلیت بالمسجد اوتعلیل لپاره لکه په دی آیت کی انکم ظلمتم انفسکم باتخاذکم العجل اودمقارینت لپاره لکه اشریت الفرس بسرجه اودقسم لپاره لکه باالله لافعلن کذا اودتعدیت لپاره لکه ذهب الله بنورهم اودمقابلی لپاره لکه اشریت العبد بالفرس اودزیادت لپاره لکه په دی آیت کی ولاتلقوا بایدیکم الی التهلکة حاصل داده چی دباء استعمال دالصاق لپاره حقیقت ده اوپه نورومعانی وو کی استعمال مجاز ده اوداخبره یاد ساته چی الصاق ددوو شیانو تقاضی کوی یو دملصق او بل ملصق به پرکوم شی چی باء داخله وی هغه ته ملصق به ویل کیږی اوماقبل دباء ته ملصق ویل کیږی اوالصاق لپاره داهم ضروری ده چی باء به داخله پرثمن وی ددی تحقیق داده چی په عقد بیع کښی مبیعه اصل ده اوثمن تابع اوشرط ده ځکه مبیعه معقود علیه ده اوثمن له مامعقود علیه څخه خارج شی ده اوپه عقد بیع کښی چونکه معقود علیه مقصود وی لهذا په عقد بیع کښی مبیعه اصل ده اوثمن تابع ده له دی وجه چی په عقد بیع کښی مبیعه اصل ده اوثمن تابع ده فقهاء وائی چی که مشتری مبیعه قبض کړی نه وه اودبایع په لاس کی هلاک شوه بیع ختمه ده اوکه دبائع تر قبض مخکی ثمن دمشتر ی په لاس کی هلاک شو ی بیع ختمه نه ده بلکه بیع باقی ده .

سوال: داده چې لکه ځنګه بیع بې له وجوده دمبیعي موجود نه ده همدارنګه بې له وجوده دثمن ځخه هم بیع موجوده نه ده باید ثمن شرط او تابع نه شي بلکه اصل شي لکه مبیعه؟

جواب: داده چې مقصود اصلي له بیع ځخه داده چې له مملوک ځخه نفع واخیستل شي او دا مقصد صرف له مبیعي ځخه حاصلیږي نه له ثمن ځخه ځکه ثمن سونا وغیره ته عام ده له سونا ځخه دګرمی اودیخ اولوږی کار نه اخیستل کیږی له دی وجه که ثمن ترقبض دبایع وړاندی دمشتري په لاس کی هلاک شي بیع نه ختموی او که مبیعه هلاک شي بیع ختمه ده.

حاصل داده چې داخبره ثابته شوه چې په عقد بیع کښې مبیعه اصل ده او ثمن تابع دی مصنف رحمه الله وائی کله داچې داثابته شوه نو موږ وایو چې اصل داده چې تابع ملصق وی له اصل سره داسی نه ده چې اصل ملصق وی له تابع سره اوس که باء پربدل یعنی ثمن باندی داخله شي بیائی معنی داده چې ثمن تابع ده او ملصق او متصل ده له اصل سره یعنی باء چې پرهرشي داخله شي هغه تابع ده نو کله چې مدخول دباء تابع وو لهذا باء پر مبیعه نه داخلیږی بلکه پرثمن باندی داخلیږی ځکه په عقد بیع کی مبیعه اصل او ثمن تابع ده.

سوال: دمصنف رحمه الله پرعبارت باندی یوسوال کیږی هغه داده چې مصنف رحمه الله وویل چې تابع ملصق وی له اصل سره یعنی ملصق تابع ده او ملصق اصل ده او ملصق به هغه ده چې پرهغه باندی باء داخله وی نو باید ثمن اصل شي ځکه باء داخله پرثمن باندی وی اود اصول الشاشی له مصنفه بغیر نور حضرات هم دا فرمائی چې مدخول دباء ملصق به وی او ماقبل ملصق وی لکه په دی مثال کی کتبت بالقلم کتابت ملصق ده او قلم ملصق به ده حاصل داده چې مصنف رحمه الله چې ملصق ته تابع او ملصق به ته اصل وویل ددی مطلب دا راوزی چې په عقد بیع کښې ثمن اصل ده او مبیعه تابع ده او حال داده چې موږ مخکی ثابته کړه چې په عقد بیع کښې مبیعه اصل ده او ثمن تابع ده؟

جواب: داده چې له الصاق ځخه مراد داده چې فعل ورسوی تر اسم پوری لکه په دی مثال کتبت بالقلم او قطعت بالسکین او ضربت بالسیف کی چې مقصود داده چې مذکوره افعال یعنی کتابت، قطع، ضرب، ملصق شي له قلم، سکین، سیف، سره نودا افعال چې ملصق دی اصل دی او قلم، سکین، سیف، چې ملصق به دی تابع دی نو کله چې ملصق اصل او ملصق به تابع ده نو ثمن تابع ده ځکه په باب دبیع کی ملصق به ده او عبارت دمصنف رحمه الله محمول پرقلب دی اصل عبارت داسی ده الاصل ان یکون الاصل ملصقا بالتبع لاان یکون التبع ملصقا بالاصل یعنی اصل داده چې اصل ملصق وی له تابع سره داسی نه ده چې تابع ملصق وی د اصل سره نو چې په عبارت د مصنف رحمه الله اصل ملصق شو او تابع ملصق به شو نودانه شوه ثابته چې په باب دبیع کښې ثمن اصل ده.

مصنف رحمه الله چونکه په باب دبيع کښې مدخول دباء ثمن ده له دی وجه که چا وويل بعت منك هذا العبد بكر من الحنطة او دغمنو اوصاف هم بيان کړه په دی صورت کی غلام مبيعه او يوکر غنم ثمن دی اوترکومه وخته چې بايع غنم قبض کړی نه وی ددوی په عوض کی بل شي ورکول هم جائز ده ځکه ترقبض وړاندی دثمن په عوض کی دبل اخيستل جائز ده اوکه ئی وويل بعت منك کرامن الحنطة او دغنمو اوصاف ئی هم بيان کړه په دی صورت کی يوکر غنم مبيعه ده اوغلام ثمن ده داصورت دعقد سلم ده اوپه عقد سلم کی مبيعه چونکه مؤجله وی لهذا دلته هم يوکر غنم مؤجل دی اودا عقد سلم په دی وجه ده چې يوکر غنم متعين نه دی اوکوم شي چې متعين نه وی هغه دين وی ثابت پرذمه باندی وی اوپه کوم صورت کی چې مبيع دين وی په هغه صورت کی بيع سلم وی لهذا داصورت هم عقد سلم ده.

وَقَالَ عُلَمَا ؤُ نَا اذَا قَالَ لِعَبدِه ان اَخبَرَ تَنِی بِقُدُوم فُلَا نٍ فَاَنتَ حُرٌّ فَذالِکَ عَلَی الخَبَرِ الصَّادِقِ لِيَکُونَ الخَبَرُ مُلصَقًا بِا لقُدُوم فَلَو اَخبَرَ کَاذِبًا لَا يُعتَقُ وَلَو قَا لَ ان اَخبَر تَنِی اَنَّ فُلَا نًا قَدِمَ فَاَنتَ حُرٌّ فَذالِکَ عَلَی مُطلَقِ الخَبَرِ فَلَو اَخبَرَهُ کَاذِ بًا عُتِقَ وَلَو قَالَ لِا مرَاَتِه ان خَرَجتِ مِنَ الدَّارِ اِلَّا بِاذنِی فَاَنتِ کَذَا تَحتَاجُ اِلَی الاذنِ کُلَّ مَرَّ ةٍ اذَا لمُستَثنَی خُرُوجٌ مُلصَقٌ بِالاذنِ فَلَو خَرَجَت فِی المَرَّةِ الثَّانِيَةِ بِدُونِ الاذنِ طَلُقَت وَلَو قَالَ ان خَرَجتِ مِنَ الدَّارِ اِلَّا اَن اٰذَنَ لَکِ فَذالِکَ عَلَی الاذنِ مَرَّةً حَتّٰی لَو خَرَجَت مَرَّ ةً اُخرٰی بِدُونِ الا ذنِ لَا تُطلَقُ وَفِی الزِّيَا دَاتِ اِذَا قَالَ اَنتِ طَالِقٌ بِمَشِيَّةِ اللهِ تَعَالٰی اَو بِاِرَادَةِ اللهِ تَعَالٰی اَو بِحُکمِه لَم تُطلَق .

ترجمه: اوزموږ علماء وائی که مولی خپل غلام ته وويل که تاماته دفلانی دراتګ خبر راکی ته آزاد ئی له دی ځخه مرادصادق خبرده ددی لپاره چې خبر ملصق شی له راتګ سره اوکه ئی خبر په دروغو ورکی غلام آزاد نه ده اوکه ئی ورته وويل که تاماته خبر راکی چې فلان راغلی ته آزاد ئی په دی صورت کي مطلق خبر مراد ده که غلام مولی ته په درغوخبر ورکی غلام آزاد ده اوکه خاوند خپلی ښځی ته وويل که ته له کوره ووتلی بغير زماله اجازی ته طلاقه ئي په دی صورت کی هر وار داجازی احتياج شته ځکه مستثنی هغه خروج ده چې په اجازه سره وی نوکه ښځه دوهم ځل بغير له اجازی ووتله طلاقه ده اوکه ئي ورته وويل که ته له کوره ووتلی هغه وخت زه تاته اجازه وکړم په دی صورت کی يوځل اجازی ته احتياج شته که ښځه دوهم ځل بغير له اجازی ووتله طلاق واقع نه ده اوپه زيادات کی راغلی دی که ئی وويل انت طالق بمشيت الله يا بارادة الله يا بحکم الله نو طلاق واقع نه ده.

تشريح : مصنف رحمه الله وائی چې علماء داحناف ويلی دی که مولی وخپل غلام ته دوويل ان اخبرتني بقدوم فلان فانت حر داکلام محمول پرخبرصادق ده يعنی که دغلام خبر له واقع سره مطابق وو بيا آزاد ده اوکه له واقع سره مطابق نه وو نه ده آزاد ځکه مولی پرقدوم باندی باء داخله کړی ده اوباء

دالصاق لپاره ده ددی تقاضی کوی چی خبر به له قدوم سره ملصق وی اوله قدوم سره الصاق دخبر هغه وخت وی چی قدوم موجودی شی لهذا که ئی دقدوم له فلان واقعی خبر ورکی نود شرط دوجود په وجه آزا ده ده اوکه قدوم دفلان موجونه وو ده مولی ته خبر و رکی په دی صورت کی آزاد نه ده اوکه مولی ورته وویل ان اخبرتنی ان فلانا قدم فانت حرّ په دی صورت کی غلام آزاد ده ځکه په دی صورت کی مولی باء نه ده راوړی لهذا دغلام دآزادیدولپاره داشرط نه ده چی خبر به ملصق وی له قدوم سره بلکه صرف داشرط ده چی دته خبر ورکول شی چی فلان راغلی خواه که صادق کلام وی اوکه کاذب اوکه خاوند خپلی ښځی ته وویل ان کنت خرجت من الدار الا باذنی فانت طالق په دی صورت کی ښځه په هر ځل وتلو کی اجازی ته احتیاج لری ځکه مستثنی هغه خروج ده چی په اجازه سره وی نودخاوند مطلب داشو چی ته له کوره بغیر زماداجازی مه وزه بلکه صرف په هغه وخت کی وزه چی زه اجازه درته وکړم اوکه بغیر زماله اجازی ووتلی ته طلاقه ئی نوپه دی صورت کی خاوند طلاق په داسی خروج پوری معلق کی چی ملصق په اذن پوری وی لهذا ښځه په هر ځل وتلوکی اجازی ته احتیاج لری که بغیر له اجازی ووتله طلاواقع ده اوکه ئ ورته وویل ان خرجت من الدار الا ان اذن لك فانت طالق داصورت پریوځل اجازه باندی محمول ده که له یوځل اجازی بعد بغیر اجازی ووتله طلاق واقع نه ده ځکه په دی صورت کی خاوند پراذن باندی باء نه کړه داخله لهذا دخروج الصاق په اذن پوری ضروری نه ده بلکه یوځل اذن باقی ده لهذا له یوځل اجازی وروسته دوهم ځل بغیر اجازی وتلو باندی طلاق نه واقع کیږی.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی په زیادات کی راغلی دی که ئی ورته وویل انت طالق بمشیئت الله یاانت طالق باراد‌ة الله یاانت طالق بحکم الله په دی صورت کی پرښځه باندی طلاق نه واقع کیږی ځکه خاوند طلاق دباء په ذریعه ملصق په مشیت یااراده یاحکم د الله ﷻ پوری کی لهذا په دی صورت کی طلاق هغه وخت واقع کیږی چی خاوند دالله ﷻ پر مشیت اواراده اویاحکم باندی عالم شی اوددی شیانو علم چونکه محاله ده له دی وجه په دی کلام سره ترابده طلاق نه واقع کیږی.

فَصلٌ: فِی وُجُوہِ البَیَانُ

فَصلٌ: فِی وُجُوہِ البَیَانِ عَلٰی سَبعَةِ اَنوَاعٍ بَیَانُ تَقرِیرٍ وَبَیَانُ تَفسِیرٍ وَبَیَانُ تَغیِیرٍ وَبَیَانُ ضَرُورَةٍ وَبَیَانُ حَالٍ وَبَیَانُ عَطفٍ وَبَیَانُ تَبدِیلٍ اَمَّا الاَوَّلُ اَن یَکُونَ مَعنَی اللَّفظِ ظَاهِراً لٰکِنَّهٗ یَحتَمِلُ غَیرَہٗ فَبَیَّنَ المُرَادَ بِمَا هُوَ الظَّاهِرُ فَیَتَقَرَّرُ حُکمُ الظَّاهِرِ بِبَیَانِهٖ.

ترجمه: دافصل په طریقو دبیان کی ده بیان اوه قسمه ده بیان تقریر ، بیان تفسیر، بیان تغیر ، بیان ضرورت ، بیان حال ، بیان عطف ، بیان تبدیل بهر حال اول داده چی دلفظ معنی ظاهره وی لیکن

دغیر احتمال لری او بیا متکلم دابیان وکړی چی زما مراد ظاهر دکلام ده دمتکلم په دی بیان سره دظاهر حکم مؤکد شو.

تشریح : مصنف رحمه الله په دی فصل کی دبیان داقسامو ذکر کوی دبیان اقسام هم دکتاب الله له مباحثو څخه دی لکه څنګه چی خاص اوعام وغیرد دکتاب الله له مباحثو څخه دی بیان په لغت کی اظهار ته وائی او کله کله په معنی دظهور هم راځی لیکن دلته په معنی داظهار سره ده یعنی مخاطب ته مراد ظاهر او واضح کول او په اصطلاح کښی دی ته وائی چی اظهار دمافی الضمیر وکړی په داسی حال کی چی مخاطب ورباندی پوه شی.

بیان لکه څنګه چی دقول په ذریعه سره کیدای شی هم داشان دفعل په ذریعه سره هم کیدای شی ددی خبری دلیل داده چی نبی کریم ﷺ دلمانځه اوحج په تفصیل سره اداء ښکاره کړه او بیائی وویل صلوکما رایتمونی اصلی او خذوا منی مناسککم اودوهم دلیل داده چی بیان دمراد ظاهرولونوم ده اوکله فعل زیات دلالت کونکی وی پرمراد باندی په نسبت وقول ته.

حاصل داده چی فصل په بیان داقسامو دبیان کی ده اقسام دبیان (۷) دی (۱) بیان تقریر ده (۲) بیان تفسیر ده (۳) بیان تغیر ده (۴) بیان ضرورت (۵) بیان حال ده (۲) بیان عطف ده (۷) بیان تبدیل ده په اولودوو صورتو کی اضافت بیانی ده یعنی داسی بیان چی هغه تقریر ده اوداسی بیان چی هغه تفسیر ده اوپه بیان تغیر او بیان تبدیل کی اضافت دصفت وموصوف ته ده یعنی داسی بیان چی حکم ته تغیر ورکوی اوداسی بیان چی حکم بدلوی اوپه بیان ضرورت او بیان حال او بیان عطف کی اضافت په تقدیر دلام سره ده یا په تقدیر دمن سره ده په اول صورت کی تقدیر دعبارت داسی ده بیانٌ لضرورة بیانٌ لحال بیانٌ لعطف او په دوهم صورت کی بیانٌ من ضرورة بیان من حال بیان من عطف مصنف رحمه الله وائی بیان تقریر داده چی دیو لفظ معنی ظاهره وی مهوم او مضمون ئی ظاهره وی لیکن دغیر احتمال لری مثلاً لفظ په معنی حقیقی کی ظاهر وی دمعنی مجاز احتمال لری او یا لفظ په معنی حقیقی کی عام وی لیکن دخصوص احتمال لری نو چی ورسته متکلم دابیان وکړی چی زما مراد ظاهر دکلام ده په دی بیان سره دظاهر حکم مؤکد شو اودی ته بیان تقریر ویل کیږی.

وَمِثَالُهُ اِذَا قَالَ لِفُلَانٍ عَلَى قَفِيزُ حِنطَةٍ بِقَفِيزِ البَلَدِ أَوالَفٌ مِن نَقدِ البَلَدِ فَاِنَّهُ يَكُونُ بَيَانُ تَقرِيرٍ لِاَنَّ المُطلَقَ كَانَ مَحمُولاً عَلَى قَفِيزِ البَلَدِ وَنَقدِهِ مَعَ احتِمَالِ اِرَادَةِ الغَيرِ فَاِذَا بَيَّنَ ذَالِكَ فَقَد قَرَّرَهُ بِبَيَانِهِ وَكَذَالِكَ لَوقَالَ لِفُلَانٍ عِندِي اَلفٌ وَدِيعَةٌ فَاِنَّ كَلِمَةَ عِندِي كَانَت بِاِطلَاقِهَا تُفِيدُ الاَمَانَةَ مَعَ احتِمَالِ اِرَادَةِ الغَيرِ فَاِذَا قَالَ وَدِيعَةٌ فَقَد قَرَّرَ حُكمَ الظَّاهِرِ بِبَيَانِهِ.

ترجمه : اوددی مثال داده چی کله یو څوک ووائی دفلانی پرما باندی دښار له قفیزه یوه قفیزه غنم دی او یادښار له سیکی څخه زر روپی دابیان تقریر ده ځکه مطلق قفیز اونقد بلد باندی سره له احتمال دارادی دغیر نوکله چی متکلم دابیان کړه نوده په خپل بیان سره ددی تاکید وکی

اوهمدارنګه که ئي وويل دفلاني له ماسره زرو روپې وديعت دي څکه کلمه دعندي داطلاق په اعتبار امانت فائده کوي ليکن احتمال دارادي دغير لري نوکله چې متکلم وديعت وويل نوده په خپل بيان سره دظاهر دحکم تاکيد وکی.

تشريح : مصنف رحمه الله وائي چې دبيان تقرير مثال داده چې يوشخص اقرار وکړي او ووائي لفلان علي قفيز حنطة بقفيز البلد او يا ووائي لفلان علي الف من نقد البلد په دې کلام کښې قفيز اونقد بلدبيان تقريرده څکه شي چې مطلق ذکر شي له هغه څخه مراد متعارف وي اومتعارف قفيز دبلد اونقد بلد ده نوکله چې متکلم قفيزحنطة وويل دامحمول پرقفيز دبلد ده ليکن دغير ارادې احتمال شته همدارنګه کله چې ئې الف وويل محمول پرنقدبلد باندې ده ليکن احتمال دغير شته اوکله چې ئې قفيز بلد وويل نوخپل مرادئې ښکاره کړي چې زمامراد قفيز دبلد ده اوهمدارنګه په من نقد بلد سره ئې خپل مراد ښکاره کی چې زمامراد نقد بلد ده په دې دواړو بيانونوسره متکلم په خپل کلام کښې داحتمال دروازه بنده کړه اوده مراد مؤکدشو.

اوهمدارنګه که ئې وويل لفلان عندي وديعة په دې کلام کې وديعت بيان تقرير ده څکه عندي که مطلق واي بيا امانت افاده کوي څکه دعند مطلب داده چې له ماسره زو روپې دي يعنې له ماسره په غرض دحفاظت زر روپې دي اودامفهوم دامانت ده لهذا په دې لفظ دعندي کې امانت مفهوم موجود ده ليکن دا احتمال شته چې امانت دې نه وي اوچې متکلم لفظ دوديعت ذکر کی دخپل مراد تائيد ئې وکړ.

فصلٌ وَاَمَّا بَيَانُ التَّفسير

فصلٌ وَاَمَّا بَيَانُ التَّفسير فَهُوَ مَا اذَاكَانَ اللَّفظُ غَيرُ مَكشُوف المُرَاد فَكَشَفَهُ بِبَيَانه مِثَالُهُ اذَا قَالَ لِفُلَانٍ عَلَيَّ شيئٌ ثُمَّ فَسَّرَ الشَّيئَ بِثَوبٍ اَو قَالَ عَلَيَّ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ وَنَيفٌ ثُمَّ فَسَّرَ النَّيفَ اَوقَالَ عَلَيَّ دَرَاهِمُ وَفَسَّرَهَا بِعَشَرَةٍ مَثَلاً وَحُكمُ هذَينِ النَّوعَينِ مِنَ البَيَانِ اَن يَصِحَّ مَوصُولاً وَمَفصُولاً .

ترجمه : اوبهرحال بيان تفسير داده کله چې دلفظ مراد ظاهر نه وي اوبيا متکلم داپه خپل بيان سره ظاهر کړي مثال ئی داده چې يوڅوک ووائي دفلاني پرمابانډې څه شي شته اوبيادغه شي تفسير په کپړه سره وکړي اويادا سې ووائي چې دفلاني پرمابانډې لس درهمه دي اوڅه نور اوبيادنيف (يوڅه نور) تفسير وکړي اوياووائی پرما باندې دراهم دي اوبيا دهغوتفسير په لس سره وکړي اودبيان ددې دواړو قسموحکم داده چې متصلاً اومنفصلاً دواړه صحيح ده.

تشريح : دبيان دوهم قسم بيان بيان تفسير ده بيان تفسير دی ته وائي چې دلفظ داجمال په وجه مراد دمتکلم واضح نه وي اومتکلم دخپل بيان په ذريعه داوضع کړي مثلاً اقيموا الصلوٰة په دې کې لفظ

دصلوة مجمل ده ځکه نه درکعات شمیر معلوم اونه ده لمانځه کیفیت معلوم ده ددی ورسته نبی کریم ﷺ دخپلو اقوالو او افعالو په ذریعه سره ددی ټولو شیانو وضاحت کړی ده نبی کریم ﷺ دابیان دصلوة لپاره بیان تفسیر ده او همدارنګه په اتوالزکوۃ کښی لفظ دزکوة مجمل ده نه مقدار دنصاب معلوم ده اونه دزکوة کیفیت معلوم ده اونبی کریم ﷺ دخپلو اقوالو او افعالو په ذریعه سره ددی شیانو بیان کړی ده د نبی کریم ﷺ دابیان بیان تفسیر ده دزکوة لپاره او همدارنګه لفظ دبائن مجمل ده ځکه دهغه بینوت چی په طلاق سره وی اودهغه چی په غیر سره وی په مینځ کی مشترک ده لیکن چی طلاق متعین شی داتعین بیان تفسیر ده مصنف رحمه الله وائی چی دبیان تفسیر مثال داده چی یو شخص بل ته ووائی لفلان علی شیء اوله دی وروسته مقر دکپړی او یا بل شی نوم واخلی اوخپل مراد ښکاره کړی دابیان بیان تفسیر ده او یاداسی ووائي علی عشرة دراهم ونیف دنیف اطلاق له یوه څخه تر درو عدد باندی کیږی یعنی پرماباندی لس درهمه اوڅه نور اوبیا مقر دنیف بیان مراد کی دابیان بیان تفسیر ده اویا ووائي علی دراهم اوله دی ورسته مقرد ددراهم بیان لس سره وکړی دابیان هم بیان تفسیر ده.

مصنف رحمه الله وائی دبیان تقریر او بیان تفسیر حکم داده چی دواړه متصلاً اومنفصلاً هم صحیح دی یعنی که متکلم له خپل کلام ورسته فوراً بیان وکړی اوکه څه ساعت وروسته دلیل داده چی الله ﷻ فرمائی إنّ علینا جمعه وقرآنه إنّ علینا بیانه دقرآن جمع کول اوویل زموږ ذمه واری دلته ثم چی دلالت کوی پرتراخی باندی ددی په ذریعه ئي بیان راوړی لهذا له دی څخه داثابته شوه چی بیان څه ساعت وروسته کول جائز ده.

فصلٌ وَاَمَّا بَيَانُ التّغير

فصلٌ وَاَمَّا بَيَانُ التّغير فَهُوَ اَن يَتغيّرَ بِبَيَانه مَعنَى كَلَامه وَنَظِيرُهُ اَلتّعليقُ وَالاستثنَاءُ وَقَد اختَلَفَ الفُقَهَاءُ فِى الفَصلَين فَقَالَ اَصحَابُنَا اَلمُعَلّقُ بَالشّرط سَبَبٌ عِندَ وُجُودِ الشّرطِ لَاقَبلَهُ وَقَالَ الشَّافِعىُّ رحمه الله اَلتّعليقُ سَبَبٌ فِى الحَالِ الاّ اَنّ عَدَمَ الشّرطِ مَانِعٌ مِنَ الحُكم

ترجمه : او بهر حال بیان تغیر هغه ده چی متکلم دخپل بیان په ذریعه سره دخپل کلام معنی ته تغیر ورکړی ددی نظیر تعلق او استثنی ده او فقهاء په دواړو کی اختلاف ده لکه زموږ علماء چی فرمائی چی معلق بالشرط په وخت دوجود شرط کی سبب ده داسی نه ده چی تروجود دشرط مخکی سبب ده امام شافعی رحمه الله فرمائی چی تعلیق فی الحاله سبب ده لیکن عدم دشرط مانع دحکم ده.

تشریح : دبیان دریم قسم بیان تغیر ده مصنف رحمه الله وائی بیان تغیر هغه ده چی متکلم دخپل بیان په ذریعه سره خپل کلام متغیر کړی یعنی متکلم خپل کلام ته له موجوب حقیقی څخه دمحتمل طرفته تغیر ورکړی مثلاً لفظ حقیقی معنی دلفظ ظاهر معنی ده لیکن متکلم داپریږدی مجازی

معنی مراد کړی دی ته بیان تغیر وائی یاپه دی طریقه چی لفظ په خپله معنی کی عام وی لیکن متکلم عموم پریږی اوخصوص مراد کړی دی ته بیان تغیر وائی.

مصنف رحمہ اللہ وائی دبیان تغیر نظیر تعلیق اواستثناء ده مثلا لکه یوشخص چی خپل غلام ته روائی انت حران دخلت الدار په دی کلام کښی دانت حرمقتضی داده چی غلام فوراً آزاد شی لیکن کله چی شرط ذکر شو فوراً نه آزادیږی بلکه آزادی دشرط دوجود تر وخت موخره ده اوهمدارنګه که یوشخص وویل لفلان علی الف الاماۃ په دی صورت کی دلفلان علی الف تقاضی داده چی پرمقرباندی دیوزر اداء واجبه ده لیکن کله چی ئی ماۃ وویل دخپل کلام معنی ئي متغیره کړه ځکه ددی لفظ له ذکره ورسته الف لازم نه دی بلکه (۹۰۰)نه سوه روپی واجب شوی لهذا ذکر دالاماته .بیان تغیرده مصنف فرمائی چی فقهاء په دی تعلق او استثناء دواړو کښی مختلیف دی احناف علماء وائی کوم شی چی معلق باالشرط وی مثلا لکه طلاق چی معلق پر دخول دداروی نو معلق باالشرط دشرط دوجود په وخت کی سبب ده یعنی په وخت دوجود دشرط کی په ده سره طلاق واقع کیږی مخکی تروجوددشرط سبب نه ده.

اوحضرت امام شافعی وائی چی معلق باالشرط فی الحاله سبب ده یعنی په وخت دتکلم کی په ده سره طلاق واقع کیږی لیکن عدم دشرط حکم یعنی وقوع دطلاق لپاره مانع ده کله چی شرط موجود شی بیانوحکم پرمرتب ده.

دفقهاء دااختلاف اصلاً پریوبل اختلاف بناء ده هغه داده چی معلق بالشرط یعنی انت طالق ان دخلت الدار په دی کښی ایجاب یعنی دطلاق واقع کونکی دامام شافعی په نزد فی الحاله سبب او موجب ده دلیل ئی داده چی که تعلق نه وای بیا خو طلاق فی الحاله واقع کیدی لیکن دتعلیق په وجه وجود دحکم موخر کړ شوتر وخته دوجود دشرط نو په دی صورت کی عدم تر تب دحکم (یعنی وقوع دطلاق) منسوب وشرط ته ده خلاصه داده چی دامام شافعی رحمہ اللہ په نزد سبب موجود ده لیکن دشرط دنه وجود په وجه حکم معدوم ده.

اواحناف وائی چی معلق باالشرط یعنی انت طالق فی الحاله سبب نه ده یعنی انت طالق وړاندی تر وجود دشرط موجود نه ده لیکن دوجود دشرط په وخت کی انت طالق سبب ده نوداسی شو لکه متکلم چی دشرط دوجود په وخت کی انت طالق ووائی خلاصه داده چی داحناف په نزد عدم دحکم لەدی وجه نه ده چی شرط موجودنه ده بلکه لەدی وجه ده چی په انت طالق سره تکلم نه ده شوی.

وَفَائِدَةُ الخِلَافِ تَظْهَرُ فِيمَا اذَا قَلَ لِاَجنَبِيَةٍ ان تَزَوَّجتُکِ فَاَنتِ طَالِقٌ اَوقَالَ لِعَبدِ الغَیرِ ان مَلَکتُکَ فَاَنتَ حُرٌ یَکُونُ التَّعلِیقُ بَاطِلاً عِندَهُ لِاَنَّ حُکمَ التَّعلِیقِ انعِقَادُ صَدرِ الکَلَامِ عِلَّةً وَالطَّلَاقُ وَالعِتَاقُ هٰهُنَا لَم یَنعَقِد عِلَّةً لِعَدَمِ اِضَافَتِهِ اِلَی المَحَلِّ فَبَطَلَ حُکمُ التَّعلِیقِ فَلَا یَصِحُّ التَّعلِیقُ وَعِندَنَا کَانَ التَّعلِیقُ صَحِیحاً

حَتّی لَو تَزَوّجَهَا یَقَعُ الطّلَاقُ لِاَنّ کَلَامَهُ اِنّمَا یَنعَقِدُ عِلّةً عِندَ وُجُودِ الشّرطِ وَالمِلکُ ثَابِتٌ عِندَ وُجُودِ الشّرطِ فَیَصِحُّ التّعلِیقُ.

ترجمه: اودا ختلاف ثمره په دی صورت کی ظاهره ده چی یو شخص اجنبیه ښځی ته ووائی که ماله تاسره نکاح وکړه ته طلاقه ئی اویا بل شخص غلام ته وویل که زه ستا مالک شوم ته آزاد ئی امام شافعی رحمه الله په نزد داتعلیق باطل ده ځکه دتعین حکم داوی چی صدر دکلام علت وی اودلته طلاق او اعتاق علت نه دی ځکه دوی دوه هر یو دمحل وطرفته منسوب نه ده نو دتعلیق حکم باطل شو لهذا تعلیق صحیح ده اوزموږ په نزد تعلیق صحیح ده حتی که ده نکاح ورسره وکړه طلاق واقع ده ځکه دخاوند کلام په وخت دوجود شرط که علت جوړیږی اوپه وخت دوجود دشرط کی ملک ثابت ده لهذا تعلیق صحیح ده.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی دامام شافعی رحمه الله اوداحناف په میخ کی داختلاف ثمره هغه وخت ظاهره کیږی چی کله یوشخص یو اجنبی ښځی ته ووائی ان تزوجتك فانت طالق اویابل شخص غلام ته ووائی ان ملکتك فانت حرٌ په دی دواړه صورتو کی زموږ مذهب داده چی تعلیق باطل نه ده لیکن امام شافعی رحمه الله په نزدباطل ده یعنی زموږ په نزد دنکاح کولو په وخت کی طلا ق واقع ده او دغلام دمالک کید و په وخت کی غلام آذاد ده اودامام شافعی په نزد له وجود دشرط سره نه طلاق واقع ده اونه غلام آزاده .دامام شافعی رحمه الله دلیل داده چی دتعلیق حکم داده چی صدر دکلام به علت وی او دلته صدر دکلام څخه مراد جزاء ده خواه که تر شرط مخکی ذکر وی لکه په انت طالق ان دخلت الدار کی چی انت طالق تر شرط ورسته ذکر ده حاصل داده چی د تعلیق حکم داده چی صدر دکلام یعنی جزاء به فی الحاله علت وی لیکن په مذکوره دوو مثالوکی انت طالق او انت حرٌ علت نشی کیدای له دی وجه چی هر یو منسوب وخپل محل ته نه ده ځکه ان تزوجتك فانت طالق دتکلم په وخت کی ښځه محل دطلاق نه ده او همدارنګه دان ملکتك فانت حرٌ دتکلم په وخت کی غلام محل دعتق نه ده حاصل داده چی طلاق او اعتاق چونکه ومحل ته منسوب نه دی لهذا دوی ددی صلاحیت نه لر ی چی علت شی نو کله چی دوی صلاحیت دعلت نه لری نو حکم دتعلیق با طل ده نوتعلیق صحیح نه ده چی تعلیق صحیح نه شو نو تر نکاح ورسته طلاق واقع نه ده او همدارنګه دغلام تر ملکیت ورسته غلام آزاد نه ده.

او زموږ دلیل د اده چی په مذکوره دواړه مثالو کی تعلیق صحیح ده ځکه زموږ په نزد صدردکلام یعنی جزاء دتکلم په وخت کی علت نشی جوړیدای بلکه دشرط دوجودپه وخت کی علت جوړیږی اودشرط دوجود په وخت کی ښځه محل دطلاق ده او غلام محل دعتق ده نوکله چی ښځه محل دطلاق شو ه او غلام محل دعتق شو دواړه منسوب ومحل ته دی چی دواړه منسوب ومحل ته شو

نو د تعلیق حکم باطل نه ده لهذا تعلیق صحیح ده چی تعلیق صحیح شو نو له نکاح ورسته طلاق واقع ده او د غلام له ملکیت ورسته عتق واقع ده ځکه دخاوند اودمولی کلام د شرط دوجود په وخت کی علت دی تر وجود شرط مخکی علت نه دی اودوجود د شرط په وخت کی ملک ثابت ده لهذا تعلیق صحیح ده او ښځه مطلقه ده غلام آزاد ده.

وَلِهٰذَا الْمَعنی قُلنَا شَرطُ صِحَّةِ التَّعلِیقِ لِلوُقُوعِ فِی صُورَةِ عَدمِ المِلکِ اَن یَکُونَ مُضَافاً اِلَی المِلکِ اَو اِلَی سَبَبِ المِلکِ حَتّٰی لَوقَالَ لِاَجنَبِیَّةٍ اِن دَخَلتِ الدَّارَ فَانتِ طَالِقٌ ثُمَّ تَزَوَّجَهَا وَوُجِدَ الشَّرطُ لَایَقَعُ الطَّلَاقُ.

ترجمه: او ددی معنی په وجه مونږ وایو چی د ملک د عدم په صورت کی د تعلیق د صحت لپاره شرط داده چی تعلیق به د ملک وطرفته منسو ب وی او یا به سبب د ملک وطرفته منسوب وی حتی که یوچا وه یوی اجنبی ښځی ته وویل ان دخلت الدار فانت طالق اوبیا ئی له دغی ښځی سره نکاح وکړه اوشرط موجود شو طلاق واقع نه ده

تشریح : مصنف رحمه الله وائی ددی معنی چی معلق بالشرط تر وجود د شرط وراندی علت نشی کیدای) په وجه مونږ وایو چی په کوم صورت کی چی متکلم د محل مالک نه وی په هغه صورت کی د جزاء دوقوع لپاره د تعلیق د صحت لپاره شرط داده چی یابه تعلیق د ملک وطرفته منسو ب وی اویا به سبب د ملک وطرفته منسوب وی که نه تعلیق اونه سبب د ملک وطرفته منسوب ووبیا تعلیق صحیح نه ده لکه په دی مثال کی چی یو شخص واجنبی ښځی ته ووائی ان دخلت الدار فانت طالق اوبیا له دغی ښځی سره نکاح وکړی له نکاح ورسته ښځه دارته داخله شی طلاق واقع نه ده ځکه په دی مثال کی نه طلاق د ملک وطرفته منسوب ده او نه سبب د ملک وطرفته منسوب ده بلکه ودخول د دارته منسوب ده لهذا د تعلیق د صحت د شرط د نه وجود په وجه تعلیق صحیح نه ده چی تعلیق صحیح نه شو له وجوده د شرط ورسته طلاق هم واقع نه ده.

اوکه ئی وویل ان ملکتک فانت حر په دی صورت کی تعلیق د ملک وطرفته منسوب ده او په ان تزوجتک فانت طالق کی تعلیق د سبب وطرفته منسو ب ده لهذا په دواړه صورتو کی تعلیق صحیح ده او له وجود د شرطه ورسته طلاق هم واقع ده او غلام هم آزاد

وَکَذٰلِکَ طَولُ الحُرَّةِ یَمنَعُ جَوَازَ نِکَاحِ الاَمَةِ عِندَهُ لِاَنَّ اللّٰه تعالٰی عَلَّقَ نِکَاحَ الاَمَةِ بِعَدَمِ الطَّولِ فَعِندَ وُجُودِ الطَّولِ کَانَ الشَّرطُ عَدَماً وَعَدَمُ الشَّرطِ مَانِعٌ مِنَ الحُکمِ فَلَا یَجُوزُ.

ترجمه : او همدارنګه قدرت پر نکاح د آزادی ښځی د امام شافعی رحمه الله په نزد مانع ده له نکاح دمینځی ځکه چی قرآن دمینځی نکاح معلقه کړی ده پر عدم قدرت باندی نو د قدرت دوجود په وخت کی شرط معدوم ده او عدم د شرط مانع له حکمه ده لهذا له مینځی سره نکاح جائز نه ده.

تشریح : منصف رحمہ اللہ وائی لکه څنګه چی پر مذکوره اصولو باندی سابقه مسائلی تفریع کیږی همدارنګه دطول حرّه مسئله هم ورباندی تفریع کیږی دطول حرّه مسئله داده چی الله ﷻ فرمائی وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ کوم شخص چی له تاسو څخه قادر نه وی پر نکاح دآزادی ښځی باندی هغه دی له مسلمانو مینځو سره نکاح وکړی.

په دی آیت کی الله ﷻ دمینځی نکاح معلقه کړی ده پر عدم قدرت دنکاح دحری ښځی ددی تعلیق په وجه امام شافعی رحمہ اللہ وائی چی دحری دنکاح دقدرت په وخت کی له مینځی سره نکاح جائز نه ده یعنی کله چی دآزادی ښځی پرنکاح باندی قدرت وی نو دمینځی دنکاح شرط موجود نه ده اوعدم دشرط چونکه مانع له حکمه ده له دی وجه دحری دنکاح دقدرت په صورت کی له مینځی سره نکاح جائز نه ده.

وَكَذَالِكَ قَالَ الشَّافِعِيُّ رحمہ اللہ لَا نَفَقَةَ لِلمَبتُوتَةِ اِلَّا اِذَا كَانَت حَامِلًا لِاَنَّ الكِتَابَ عَلَّقَ الاِنفَاقَ بِالحَمل لِقَولِهِ تَعَالى وَاِن كُنَّ اُولَاتِ حَملٍ فَاَنفِقُوا عَلَيهِنَّ حَتّى يَضَعنَ حَملَهُنَّ فَعِندَ عَدَمِ الحَملِ كَانَ الشَّرطُ عَدَمًا وَعَدَمُ الشَّرطِ مَانِعٌ مِنَ الحُكمِ عِندَهُ وَعِندَنَا لَمَّا لَم يَكُن عَدَمُ الشَّرطِ مَانِعًا مِنَ الحُكمِ جَازَ اَن يَثبُتَ الحُكمُ بِدَلِيلِهِ فَيَجُوزُ نِكَاحُ الاَمَةِ وَيَجِبُ الاِنفَاقُ بِالعُمُومَاتِ ..

ترجمه: او هم دارنګه امام شافعی رحمہ اللہ وائی چی دمطلقی بائنی لپاره نفقه نشته مګر هغه وخت که حامله وه ځکه کتاب انفاق پر حمل باندی معلق کړی ده ځکه الله ﷻ فرمائی که دا حملداره وه تا سو پر دی باندی نفقه کوی تر هغه وخته چی داخپل حمل ږدی نود حمل دعدم په وخت کی شرط معدوم ده اوعدم دشرط دامام شافعی رحمہ اللہ په نزدی مانع له حکمه ده اوزموږ په نزد چونکه عدم دشرط مانع له حکمه نه ده له دی وجه جائز ده چی حکم په دلیل دده سره ثابت شی نو له مینځی سره نکاح جائز نه ده او انفاق واجب ده په نصوص مطلقه ووسره.

تشریح : مصنف رحمہ اللہ وائی دغه رنګه امام شافعی رحمہ اللہ وائی چی دمطلقی بائنی نفقه دعدت په وخت کی واجب نه ده مګر هغه وخت واجب ده چی دا حامله وی ځکه په آیت وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ کښی الله ﷻ انفاق معلق کړی ده پر حمل باندی لهذا دحمل دوجود په وخت کی پر خاوند باندی واجب ده اودحمل دعدم په وخت کی چونکه شرط معدوم ده اودامام شافعی رحمہ اللہ په نزد دعدم شرط چونکه مانع له حکمه ده له دی وجه دحمل دعدم په صورت کی پر خاوند باندی نفقه واجب نه ده .

په مذکوره دوارو مسئلو کی زموږ مذهب داده چی دحری دنکاح دقدرت په صورت کی له مینځی سره نکاح جائز ده او دعدم دحمل په صورت کی دمعتدی لپاره نفقه واجب ده زموږ دلیل داده کله چی شرط موجود شی دحکم وجود ضروری ده لیکن عدم دشرط مانع له حکمه نه ده یعنی عدم

دشرط مستلزم عدم دحکم ته نه ده بلکه دشرط دعدم په وخت کی حکم ساکت ده یعنی نه ثبوت دحکم وی او نه عدم دحکم وی نوکله چی داسی وه نو ډیر ممکنه ده چی دعدم دشرط په وخت کی دی حکم په بل دلیل سره ثابت شی.

نودحری دنکاح دقدرت په صورت کی دمنیځی دنکاح جواز په نصوص مطلقه سره ثابت ده لکه فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ دحمل دعدم په صورت کی وجود نفقی ثابت ده په دی قول دالله ﷻ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ

وَمِن تَوَابِعِ هٰذَا النَّوعِ تَرَتُّبُ الحكم عَلَى الاسم المَوصُوف بِصِفَةٍ فَانَّهُ بِمَنزِلَة تَعلِيق الحُكم بِذالك الوَصف عِندَهُ وَعلى هذا قالَ الشَّافِعيُّ رحمه الله لَا يَجُوزُ نِكَاحُ الاَمَة الكِتَابِيَة لِاَنَّ النَّصَّ رَتَّبَ الحُكمَ عَلى اَمَة مُومِنَة لِقَولِه تَعَالى مِن فَتَيَاتِكُمُ المُومِنَاتِ فَيَتَقَيَّدُ بِالمُومِنَة فَيَمتَنِعُ الحُكمُ عِندَ عَدَمِ الوَصف فَلَا يَجُوزُ نِكَاحُ الاَمَة الكِتَابِيَة.

ترجمه: او ددی نوعی له توابع څخه ترتب دحکم ده پر هغه اسم باندی چی موصوفه په صفت سره وی څکه داپه منزله دتعلیق دحکم ده په دغه وصف پوری په نزد امام شافعی اوبناء پر دی باندی امام شافعی وائی چی له کتابیه منځی سره نکاح جائز نه ده څکه نص حکم مرتب کړی ده پر امه مومنه باندی له دی وجه چی

الله ﷻ فرمائی من فتیاتکم المومنات نوله مینځوسره دجواز دنکاح حکم مقید په مومنه سره ده اود عدم دوصف په وخت کی جواز دحکم ممتنع ده لهذا له کتابیه منیځی سره نکاح جائز نه ده.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی چی دتعلیق باالشرط له توابع څخه ترتب دحکم ده پر داسی اسم باندی چی هغه موصوف په صفت سره وی څکه دا وصف په معنی دشرط سره ده لهذا لکه څنګه چی حکم معلق په شرط پوری کیدای شی همدارنګه معلق په وصف سره هم کیدای شی لکه انت طالق راكبة چی په مرتبه دانت طالق ان رکبت کی ده نو کله چی وصف په معنی دشرط سره ده نود تعلیق باالشرط په صورت کی چی د احناف او شوافع اختلاف ده هغه اختلاف دوصف په صورت کی هم ده لهذا دامام شافعی په نزد باندی دوصف دانتفاء په صورت کی حکم منتفی ده لکه څنګه چی دشرط دانتفاء په صورت کی حکم منتفی وو او داحناف په نزد لکه څنګه چی دشرط پا انتفاء سره حکم نه منتفی کیږی همدارنګه دوصف په انتفاء سره هم حکم منتفی نه ده بناء پردی باندی امام شافعی

چی دکتابیه مینځی سر نکاح جائز نه ده څکه الله ﷻ په دی آیت مِن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ کی مینځی په صفت دمومنه سره موصوفه کړی دی اودنکاح دجواز حکم ئی پرامه مومنه باندی مرتب کی لهذا دنکاح دجواز حکم مقید په مومنه سره ده نو مطلب داشو چی مینځه که مومنه وه نو نکاح ورسره جائز

ده او که وصف ایمان معدوم وو نو حکم هم معدوم ده یعنی نکاح ورسره جائزنه ده حاصل داده چی داخبره ثابته شوه چی له کتابیه مینځی سره نکاح جائزنه ده.
او داحناف أپه نزد لکه څنګه چی له مومنه مینځی سره نکاح جائز ده همداشان له کتابیه مینځی سره هم نکاح جائزده ځکه داحناف په نزد دوصف ایمان دانتفاء په صورت کی جواز دحکم منفضی نه ده لکه دشرط دانتفاء په صورت کی چی حکم منتفی نه ده.

وَمن صُوَرِ بَیَانِ التَّغیِیرِ اَلاستِثنَاءُ ذَهَبَ اَصحَابُنَا الی اَنَ الاستثنَاءَ تَکَلُّمٌ بِالبَاقِی بَعدَ الثُّنیَا کَاَنّه لَم یَتَکَلَّم الَّا بِمَا بَقِیَ وَعِندَهُ صَدرُ الکَلَام یَنعَقِدُعِلَةً لِوَجُوبِ الکُلِّ اِلَّا اَنَّ الاستِثنَاءَ یَمنَعُهَا مِنَ العَمَلِ بِمَنزِلَةِ عَدَمِ الشَرطِ فِی بَابِ التَّعلِیقِ.

تر جمه: اودبیان تغیر له صورته څخه یو استثناء ده زموږ علماء دی ته تګ کړی چی استثناء په باقی کلام سره دتکلم نوم ده ګواکی ده کلام نه ده کړی بلکه صرف په باقی مانده سره او دامام شافعیؒ په نزد دکل دوجوب لپاره دصدر دکلام علت ده مګر استثناء منع کړی ده له عمل څخه په منزله دعدم دشرط په باب دتعلیق کی.

تشریح: مصنفؒ فرمائی چی دبیان تغیر یو قسم استثناء ده داستثنا په باره کی زموږ اود امام شافعیؒ اختلاف ده زموږ علماء وائی چی له استثناء ورسته چی کوم کلام باقی پاته شی په هغه سره دتکلم نوم استثناء ده یعنی زموږ په نزد دمتکلم صرف په باقی مانده سره تکلم کوی مثلا لکه یوشخص چی وائی لفلان علی الف الا مأة ددی معنی داده ګواکی متکلم صرف داوویل دفلانی پورما باندی نهه سوه روپی باندی دی لهذا پر مقرباندی ابتداءً نهه سوه روپی واجب دی داسی نه ده چی ابتداء پرمقرباندی زر روپی واجب وی اوبیا داستثنا په زریعه سل روپی خارج شوی.
دامام شافعی په نزد صدر دکلام (متثنی منه) دکل دوجوب لپاره علت ده لیکن استثناء صدر دکلام منع کی له عمل کولو څخه لکه عدم دشرط چی معلق منع کوی له عمل څخه لهذا دده په نزد په مذکوره مثال کی پر مقرباندی ابتداءً زر روپی واجب دی لیکن سل روپی داستثنا په وجه له صدر دکلام څخه خارج شوی.

وَمثَالُ هذَا فی قَولِه عَلَیهِ السَّلَامُ لَا تَبِیعُواالطَّعَامَ بِالطَّعَامِ اِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ فَعِندَ الشَّافِعیَ صَدرُ الکَلَام انعَقَدَعِلَةً لِحُرمَةِ بَیعِ الطَّعَامِ بِالطَّعَامِ عَلَی الاِطلَاقِ وَخَرَجَ عَن هذه الجُملَةِ صُورَةُ المُسَاوَاةِ بِالاستِثنَاءِ فَبَقِیَ البَاقِیُ تَحتَ حُکمِ الصَّدرِ وَنَتِیجَةُ هذَا حُرمَةُ بَیعِ الحفنَةِ بِالحفنَتَینِ منهُ وَعِندَنَا بَیعُ الحَفنَةِ لَایَدخُلُ تَحتَ النَّصِ لِاَنَّ المُرَادَ بِالمَنهِی یَتَقَیَّدُ بِصُورَةِ بَیعٍ یَتَمَکَّنُ العَبدُ مِن اِثبَاتِ التَّسَاوِیَ وَالتَّفَاضُلِ فِیهِ کَیلَا یُؤَدِّی اِلَی نَهیِ العَاجِزِ فَمَا لَا یَدخُلُ تَحتَ المِعیَارِ المسوّی کَانَ خَارِجًا عَن قَضِیَّةِ الحَدِیثِ.

ترجمه : اوددی اختلاف مثال دنبی کریم ﷺ داقول لا تبیعوا الطعام بالطعام الی سواء بالسواء ده امام شافعی رحمه الله په نزد علی الا طلاق دبیع دطعام په طعام دحرمت لپاره علت ده لیکن له دی مجموعی څخه داستثنا ء په زریعه دمساوات صورت خارج ده او باقی مانده تر حکم دصدر دکلام لاندی دی اددی داطلاق په نتیجه کی ده یو ه مټ طعام بیع په دوه مته طعام جائز نه ده اوزموږ په نزد دیو ه مټ طعام بیع تر دی نص لاندی نه ده ځکه له منهی څخه دبیع هغه صورت مراد چی بنده ئی پر مساوات اوفضل کولو باندی قادروی ددی لپاره چی نهی دعا جز سبب نه شی نوکو م معیار چی تر استوا ء لاندی نه وی هغه ددی حدیث له تقاضی څخه خارج ده.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی دمذکوره اختلاف مثال دنبی کریم ﷺ داحدیث ده لاتبیعوا الطعا الاسواء بالسواء دلته امام شافعی رحمه الله فرمائی چی صدر دکلام یعنی لاتبیعوا الطعام بالطعا م علی الا طلاق دبیع دطعام په طعام دحرمت لپاره علت ده یعنی دحدیث اولنی حصه پر دی دلالت کوی چی دیوه طعام بیع په بل طعام سره مطلقاً حرام ده یعنی لږاو ډیر مقدار دواړه حرام دی لږمقدار هغه ده چی کیل ئی نه کیږی لکه یو مټ یا دوه مته او ډیر مقدار هغه ده چی کیل ئی کیدای شی حاصل داده چی دحدیث اول ددی علت چی لږ مقدار او ډیر مقدار دواړه حرام دی لیکن داستثنا ء په زریعه سره دمساوات صورت خارج شو یعنی حرام نه ده نوکله چی دمساوات صورت له حکم دحرمت څخه خارج شو نو دمساوات له صورته بغیر نور ټوله صورتونه دبیع دطعام په طعام سره حرام دی یعنی بیع تفاضل په صورت کی هم حرامه ده اوبیع داندازی په صورت کی هم حرامه ده په دی دواړه صورته کی مقدار قلیل هم حرام ده او مقدار کثیر هم حرام ده ددی په باره کی مصنف رحمه الله وائی چی دبیع داطعام په اطعام سره دحرمت نتیجه داده.چی یو مټ طعام په دوه مته خرڅول حرام ده.

او احناف وائی چی دیوه مټ خرڅول په دوه مته سره تردی حدیث لاندی نه ده ځکه نبی کریم ﷺ دمساوات صورت جائز کی او دتفاضل صورت ئی حرام کی او مساوات اوتفاضل په هغه شیانو کی راځی چی تر کیل او وزن لاندی وی اوکوم شیان چی تر کیل او وزن لاندی نه وی په هغو کی مساوات او تفاضل نشی متحقق کیدای نو کوم شیان چی ترکیل او وزن لاندی وی په هغه کی بنده پر مساوات او تفاضل باندی قادر ده او کوم شی چی تر کیل او وزن لا ندی نه وی په هغه کښی بنده پر مساوات او تفاضل باندی قادر هم نه ده او مقدار قلیل لکه یو مټ یا دومته چونکه تر کیل اووزن لاندی نه ده له دی وجه بنده ددوی پر مساوات اوتفاضل پر ثابتولو باندی قادر نه ده نوکله چی بنده ددوی مساوات اوتفاضل پر ثابتو لو قادرنه ده لهذا ددوی په صورت کی بیع تر دی حدیث لاتبیعوا لاندی نه دی ځکه که داهم په نهی کی داخل شی بیا دانهی دعاجز لازموی او نهی دعاجز قبیح اومنع ده لهذا یومټ په دوه مته خرڅول دمذکوره حدیث مقتضی نه ده یعنی ممنوع نه ده بلکه مباح ده اوکوم شیان چی په مذکوره حدیث سره منهی عنه دی هغه شیان دی چی دی ددوی

دمساوات اوتفاضل پر ثابتولوی باندی بنده قادروی او هغه شیان چی بند ددوی دمساوات اوتفاضل پر ثابتولو باندی قادر نه وی هغه منهی عنه نه دی.

وَمِن صُوَرِ بَيَانِ التَّغيِيرِ مَااِذَا قَالَ لِفُلَانٍ عَلَيَّ اَلفٌ وَدِيعَةٌ فَقَولُهُ عَلَيَّ يُفِيدُ الوُجُوبَ وَهُوَ بِقَولِهِ وَدِيعَةٌ غَيَّرَهُ اِلَى الحِفظِ وَقَولُهُ اَعطَيتَنِي اَو اَسلَفتَنِي اَلفًا فَلَم اَقبِضهَامِن جُملَةِ بَيَانِ التَّغيِيرِوَكَذَا لَوقَالَ لِفُلَانٍ عَلَيَّ اَلفٌ زُيُوفٌ.

ترجمه: اودبیان تغیر له صورتوڅخه داده چی یو شخص ووائی دفلانی له ماسره زرروپی ودیعت دی دده قول :علی: وجوب فائده کوی او مقر په خپل قول یعنی ودیعت تغیر ورکی وطرف دحفاظت ته اودمتکلم داقول تا ماته زرروپی راکړی ؛ اویا تاماته زرروپی سلم کړی لیکن مانه دی قبض کړی ؛ دا هم دبیا ن تغیر له قبیله ده او همدارنګه که یو چاوویل دفلانی پرما باندی زر زیوف دی.

تشریح : مصنف رحمه الله دبیان تغیر څوصورته نه نورهم ذکر کوی یوداده چی یوشخص ووائی لفلان علی الف ودیعة په دی کلام کی لفظ دعلی دوجوب لپاره ده او مطلب ئی داده چی دفلانی پر مباندی زرروپی قرض دی اودقرض اداء واجب ده لیکن کله چی متکلم ودیعة لفظ ووایو ددی په زریعه ئی خپل کلام ته تغیر له قرض څخه وامانت ورکی نو مطلب ئی داشو چی زر روپی قرض نه دی بلکه امانت دی حاصل داده چی په دی مثال کی لفظ دودیعت بیان تغیر ده.؟

اوکه ئی وویل اعطیتنی الفاً فلم اقبضها په دی کلام کی د اعطیتنی متعارفه معنی داده چی ما دغه زر روپی قبض کړی دی ځکه اعطاء بغیر له قبضه مکمله نه وی نوکله چی متکلم فلم اقبضها وویل دخپل مخکینی کلام معنی ئی متغیره کړه نو مطلب ئی داه چی زما مراد اعطاء بلا قبضه او که ئی وویل اسلفتنی الفاً فلم اقبضها تامه ته زرروپی پع بیع سلم باندی راکړی په دی کلام کی اسلفتنی الفاً متعارفه معنی داده چی متکلم دغه روپی قبض کړی دی لیکن کله چی دہ فلم اقبضها وویل دخپل کلام متعارفه معنی ئی متغیره کړه نو مطلب ئی داده چی زمامراد فاسده بیع سلم ده بیع سلم می نه ده مراد چی په هغه کښی دراس الما ل قبض په مجلس کی ضروری ده.

حاصل داده چی په دوهم اودریم صورت کی فلم اقبضها بیا ن تغیر ده څلورم صورت داده چی ووائی لفلان علی والف زیوف په دی کلام کښی دلفلان علی الف معنی داده پر ماباندی زرروپی جیاد واجب دی ځکه تعامل دخلکو بالعموم داده چی دین په جیاد سره وی په زیوف سره نه وی لیکن کله چی متکلم زیوف لفظ ووایو دخپل کلام معنی ئی بدله کړه ګواکی داسی ئی وویل چی زما مراد الف څخه زیو ف دی جیاد نه دی نودلته لفظ دزیوف بیا ن تغیرده.

وَحُكْمُ بَيَانِ التَّغْيِيرِ اَنَّهُ يَصِحُّ مَوصُولًا وَلَايَصِحُّ مَفْصُولًاثُمَّ بَعدَهٰذَا مَسَائِلُ اختَلَفَ فِيهَا العُلَمَاءُ اَنَّهَا من جُملَةِ بَيَانَ التَّغْيِيرِ فَتَصِحُّ بِشَرطِ الوَصلِ اَومِن جُملَةِ بَيَانِ التَّبدِيلِ فَلَا تَصِحُّ وَسَيَاتِي طَرفٌ مِنهَا فِي بَيَانِ التَّبدِيلِ .

ترجمه : او دبيا ن تغير حكم داده چي موصولاً صحيح ده او منفصلاً صحيح نه ده اوله دی څخه ورسته داسی مسائلی دی چي په هغو كښي دعلما داختلا ف ده چي ايا دوی بيا ن تغير له قبيله دی چي موصولا صحيح دی اوكه دبيان تبديل له قبيله دی چي صحيح نه دی او له دوی څخه څه مسائلی دبيا ن تبديل درته راځي.

تشريح مصنف رحمه الله وائی چي پر دی باندی دټولو فقها اتفاق ده چي بيا ن تغير حكم داده چي موصولاً صحيح ده او منفصلاً صحيح نه ده دليل ئی داده چي بيا ن تغير داسی ده لكه له اول څخه رجوع اوله اول څخه رجوع كه متصله وه صحيح ده او كه نه وه نه ده صحيح پر دی باندی بعض حضرات يو اعترا ض كوی .

سوال : داده چي حضرت ابن عباس رضی الله عنه داستثنا ء منفصلی اجازه كړی ده يعني كه مستثنی له مستثنی منه څخه منفصل ذكر شی داجائز ده اومخكی داخبره يا ده شوه چي استثنا ء هم دبيان تغير له قسمه ده نوكله چي استثنا ء دبيان تغير له قسمه شوه نوداسی شو چي حضرت ابن عباس رضی الله عنه دبيان تغير منفصلاً ذكر كولو اجازه كړی ده لهذا د مصنف رحمه الله داخبره صحيح نه ده چي دی وائی چي دبيان تغير منفصلاً ذكر كول جائز نه ده .

جواب : داده جمهور علما ء داروايت صحيح نه بولی لهذا په دی روايت سره اعتراض كول صحيح نه ده.

دوهم جوابِ : داده چي كه داروايت صحيح شي بيا ددی مطلب داده چي كه متكلم دخپل كلام دتلفظ په وخت كی داستثنا ء نيت كړی وو اوبيا ئی منفصلاً ذكر كړه دا ديانةً صحيح ده او كه كلام صحيح وو اوپه دی صورت كی كه څه هم بيان تغير متصلاً موجودنه شي ليكن دبيان تغير نيت بلاشبه موجود ده اودبيان تغير لپاره دمره اندازه كافی ده .

مصنف رحمه الله وائی دلته ځومسا ئلی داسی دی چي په هغوكی دعلماء اختلاف ده چي ده بيان تغير له قبيله دی چي متصلاً صحيح شي او منفصلاً نه شي اوكه دبيان تبديل له قبيله دی چي هغه نه متصلاً صحيح ده اونه منفصلاً صحيح ده ددی قسم ځومسائلی بيان تبديل په بحث كی ذكر كيږی.

فصلٌ وَاَمّا بَیانُ الضَّرُورَۃ

فصلٌ وَاَمّا بَیانُ الضَّرُورَۃِ فمثالُہُ فی قولہ تَعالٰی وَوَرِثَہُ اَبَواہُ فَلِاُمِّہِ الثُّلثُ اَوجبَ الشرکۃَ بینَ الاَبوینِ ثُمّ بَیّنَ نَصیبَ الاُمِّ فصارَ ذالکَ بَیانًالنَصیبِ الاَب

ترجمہ : او بهر حال دبیان ضرورت مثال په دی قول دالله ﷻ کی ده وورثه ابواه فلامه الثلث ثابت ئی کړ شرکت دمور اوپلار اوبیائی دمور دحصی بیان وکړاو دا هم دپلار دحصی بیان ده.

تشریح : دبیان له اووه قسمه څخه یو قسم بیان ضرورت ده بیان ضرورت هغه ته وائی چی دمتکلم له کلامه څخه اقتضاءً فهمیږی اودمتکلم په کلام کښی دده لپاره لفظ نه وی مثلاً لکه حق جل مجده چی په مذکوره آیت کی دامسئله بیانوی چی که یوشخص مړ شو او دده په وارثانو کی صرف والدین ژوندی وو دوی دواړه وارث دی او بیا ئی دمور حصه بیا ن کړه چی ددی یوثلث حق ده ته فکر وکړه په دی آیت کی صدر دکلام یعنی وورثه ابواه په ټوله میراث کی دموراوپلار شرکت ثابت کی اوبیا چی ئی فلامه ثلث ووایو په دی سره ئی خاص دمور حصه بیا ن کړه اودپلار حصه ئی بیان نه کړه لیکن دمور دحصی له بنانولو څخه اقتضاءً داثابته شوه چی له ثلثه بعد نور مال دپلار ده لهذا دمور دحصی بیان دپلار دحصی لپاره بیان ده.

وَعَلٰی هٰذَا قُلنَا اِذَا بَیّنَا نَصیبَ المُضَارِبِ وَسَکَتنَا عَن نَصیبِ رَبِّ المَالِ صَحّتِ الشّرکۃُ وَکَذالکَ لَو بَیّنَا نَصیبَ رَبِّ المَالِ وَسَکَتنَا عَن نَصیبِ المُضَارِبِ کَانَا بَیانًا وَعَلٰی هٰذَا حُکمُ المُزارَعَۃ .

ترجمہ : اوبنا پردی باندی موږ وایو کله چی مضارب اورب المال دمضارب حصه بیان کړه اودرب المال حصه پر یږدی نو شراکت صحیح ده او همدارنګه که ئی درب المال حصه بیان کړه او دمضارب په حصه کی ئی سکوت وکړ دابیان ده اوپر دی باندی حکم دمزارعت ورقیاس کیږی.

تشریح : په شریعت کی عقد مضاربت داده چی دیوشخص مال وی او دبل محنت وی دمال خاوند ته رب المال ویل کیږئ او دوهم ته مضارب ویل کیږی دمضاربت دصحت لپاره شرط داده چی نفع به ددواړو په مینځ کی شریکه وی اودعقد مضاربت په وخت کی ددواړود نفعو مقدار معلومول ضروری ده نو اوس که رب المال او مضارب دعقد مضاربت په وخت کی دمضارب حصه بیان کړه مثلاً داسی ئی وویل چی نیمی نفع دمضارب ده اودرب المال حصه ئی بیان نه کړه په دی صورت کی عقد مضاربت صحیح ده لیکن درب المال حصه په بیان ضرورت سره اقتضاءً ثابیتږی څکه دمضارب دحصی له بیانولو ورسته درب المال حصه خودبخود ه معلومه ده دتعین کولوئی چندانی ضرورت نشته.

اوهمد ارنګه که دواړه درب المال حصه بیان کړه اودمضارب حصه ئی بیان نه کړه نودرب المال دحصی بیان کول بیان ده دحصی دمضارب.

مصنفؒ وائی پر دی باندی حکم دمزارعت هم قیاس کول کیږی مزارعت دی ته وائی چی دیوه شخص ځمکه وی اوددوهم محنت وی اوپه پیداوار کی دواړه سره شریک وی نوکه دواړو په اتفاق سره دیوه حصه معلومه کړه هم مزاعت صحیح ده ځکه دیوی حصی له بیان کولو څخه ددوهم حصه په بیان ضرورت سره ثابته ده.

وَكَذالِكَ لَوْاَوصى لِفُلَانٍ وَفُلَانٍ بِاَلفٍ ثُمَّ بَيَّنَ نَصِيبَ اَحَدِ هِمَا كَانَ ذالِكَ بَيَانًا لِنَصِيبِ الاخَرِ وَلَو طَلَّقَ اِحدى امرَأَتَيهِ ثُمَّ وَطِئَ اِحديهُمَا كَانَ ذالِكَ بَيَانًا لِطَلَاقِ فِى الأُخرى بِخِلَافِ الوَطئِ فِى العِتقِ المُبهَمِ عِندَ اَبِى حَنِيفَةَ لِاَنَّ حِلَ الوَطئِ فِى الاِمَاءِ يَثبُتُ بِطَرِيقَينِ فَلَا يَتَعَيَّنُ جِهَةُ المِلكِ بِاِعتِبَارِ حِلِّ الوَطئِ.

ترجمه : اوهمدارنګه که دفلان او فلان لپاره په زر روپو سره وصیت وشو او بیائی له دوی دوو څخه دیوه حصه بیان کړه دا ددوهم دحصی بیان ده او که ئی په خپلودوو ښځوکی یوی ته طلاق ورکی اوبیائی په دوی دوو کی له یوی سره وطی وکړی داددوهمی دطلاق لپاره بیان ده اوددی پرخلاف باندی دامام صاحب په نزد باندی په مبهم عتق کی وطی کول دی ځکه په مینځه کی پر دوو طریقووطی حلالی دی لهذا د حل دوطی په اعتبار سره جهت دملک متعین نه ده.

تشریح : مصنفؒ وائی که یو شخص ددوو خلکو لپاره په زرروپی سره وصیت وکی اوبیا ئی له دوی دوو څخه دیوه حصه معلومه کړه مثلا داسی ئی وویل چی دفلانی لپاره دری سوه روپی دی ددوهم حصه په بیان ضرورت سره ثابته ده یعنی داثابته شوه چی ددوهم لپاره باقی اووه سوه روپی دی.

اوهمدارنګه که یوچاه په خپلو دوو ښځوکی بلاتعین یوی ته طلاق ورکی اوبیاله یوی سره وطی وکړی داوطی ددی بیان ده چی دوهمه طلاقه ده ځکه موطوءة محل دطلاق نه ده یعنی له طلاقه ورسته له یوی سره وطی کول ددی دلیل ده چی موطوئی ته ئی طلاق نه ده ورکړی بلکه دوهمی ته ئی ورکړی ده.

مصنفؒ وائی چی دامام صاحب په نزد دمبهم عتق په صورت کی له یوی سره وطی کول مستلزم ددو همی وعتق ته نه ده یعنی که دیو شخص دوی مینځی وی اوده ورته وویل چی په تاسو دوو کی یوه آزاده ده اوبیا ئي له یوی سره وطی وکړی امام صاحب په نزدداوطی دهوهمی مینځی دآزادی لپاره بیان نه ده ځکه له مینځو سره وطی پر دوو طریقو باندی حلالی دي یوپه دی طریقه چی مملوک ده اوبل په دی طریقه چی مینځه آزاده کړی اوبیا نکاح ورسره وکړی نو مولی چی له یوی سره وطی په حیثیت مملو کیت کړی دی لهذا چی دا وطی ددوهمی دآزادی دلیل شی بلکه داسی هم کیدای شی چی مولی دی دا آزاده کړی وی اوبیادی نکاح ورسره کړیَ وی اوله نکاح

وروسته دی وطی ورسره کړی وی حاصل داده چی له مذکوره دوو مینځو څخه له یوی سره وطی کول ددوهمی دآزادی دلیل نه ده.
اودصاحبین په نزد دمبهم عتق او مبهم طلاق په مینځ کښی فرق نشته یعنی لکه څنګه چی په دوو مینځو کی یوی ته په مبهمه طریقه دطلاق ورکولو په صورت کی له یوی سره وطی کول ددوهمی دطلاق بیان ده همدارنګه په دوو مینځو کی دیوی په مبهمه طریقه سره دآزادولو په صورت کی له یوی سره وطی کول ددوهم دآزادی بیا ن ده.

فَصلٌ وَاَمّا بَيَانُ الحَالِ

فصلٌ وَاَمّا بَيَانُ الحَالِ فمثَالُهُ فِيمَا اذارَاى صَاحِبُ الشرعِ اَمرًا مُعَايَنَةً فَلَم يَنهَ عَن ذالكَ كَانَ سُكُوتُهُ بِمنزِلَةِ البَيَانِ اَنّهُ مَشرُوعٌ وَالشَفِيعُ اذَا عَلِمَ بالبَيعِ وَسَكَتَ كَانَ ذالكَ بِمنزِلَةِ البَيَانِ بِاَنَّهُ رَاضٍ بذالكَ وَالبِكرُ البَالِغَةُ اذا عَلِمَت بِتَزوِيجِ الوَلِي وَسَكَتَت عَنِ الرّدكَانَ ذالكَ بِمنزِلَةِ البَيَانِ بِالرِّضَاءِ وَالاذنِ وَالمَولى اذَا رَاى عَبدَهُ يَبِيعُ وَيَشتَرِى فِى السُوقِ فَسَكَتَ كَانَ بِمنزِلَةِ الاذنِ فَيَصِيرُ مَا ذُونًا فِى التِجَارَاتِ وَالمُدَعى عَلَيهِ اذَا نَكَلَ فِى مَجلِسِ القَضَاءِ يَكُونُ الامتِنَاعُ بِمنزِلَةِ الرِّضَاءِ بِلُزُومِ المَالِ بِطَرِيقِ الاقرَارِ عندَهُمَا وَبِطَرِيقِ البَذلِ عندَ اَبِى حَنِيفَةَ فَالحَاصِلُ اَنَ السُكُوتَ فِى مَوضِعِ الحَاجَةِ اِلَى البَيَانِ بِمنزِلَةِ البَيَانِ وَبِهذَاالطَرِيقِ قُلنَا اَلاجمَاعُ يَنعَقِدُ بِنَصِّ البَعضِ وَسُكُوتِ البَاقِينَ.

ترجمه : او بهرحال دبیان حال مثال په هغه صورت کی ده چی کله صاحب شریعت دیو چا ه په کارپه خپلو سترګووینی اوله هغه کاره څخه ئی منع نه کړی نو دصاحب شریعت داسکونت دکار دمشروع والی دبیان په مرتبه کی ده او شفیع چی کله په بیع باندی عالم شی او سکوت وکړی دا سکوت دبیع رضالپاره دبیان په مرتبه کی ده اوباکره بالغه چی کله دوی په نکاح باندی عالمه شی اودنکاح له ورکولو څخه سکوت اختیار کړی داسکوت درضا اواجازی په مرتبه کی ده اومولی که خپل غلام په بازار کی دخرڅولو ا و اخستولو په حال کیووینی او څه نه ورته ووائی داسکوت داجازی په مرتبه کی ده او داغلام ماذون فی التجارت ده او مدعی علیه چی کله په مجلس دقضاء کی له قسم کولو څخه ډډه وکړی دصاحبین په نزد په طریقه داقرا ر سره دلزوم دمال دراضی کیدو په مرتبه کی ده اوپه دامام صاحب په نزد باندی په طریقه دایثار سره په لزوم دمال دراضی کیدوپه مرتبه کی ده حاصل داده چی سکوت په ځای دحاجت کی په منزله دبیان ده اوددی طریقی پر بنا باندی سرږ وایو چی دبعض په سکوت اودبعض په تصریح سره اجمال معقده کیږی.

تشریح : دبیان پنځم قسم بیان حال ده اوبیان حال هغه سکوت ته وائی چی هغه دمتکلم ددلالت حال په وجه بیان واقع کیږی مصنف رحمه الله دبیان حال لپاره څومثالونه ذکر کوی (۱) اول مثال داده چی نبی کریم ﷺ دیو شخص کار ووینی او هغه شخص دغه کاره منع نه کړی سکوت وکړی دصاحب شر

یعت دا سکوت ددی خبری بیان ده چی دا کار شرعاً جائزده ځکه صاحب شریعت ﷺ بعثت دا حکام شرعیه وؤ دبیانو لپاره شوی ده لهذا دکار که جائز نه وی بیا صاحب دشریعت ﷺ ضرورله دی ځخه منع کول لهذا دصاحب شریعت ﷺ نه منع ددی دلیل ده چی دکار جائز ده (۲) که شفیع په بیع باندی عالم شو اوده سکوت اختیار کی یعنی دحق شفعه مطالبه ئی نه وکره دده دا سکوت دی خبری بیان ده چی دی د دار دمالک په بیع باندی راضی ده او دخپلی مطالبی په ترک باندی راضی ځکه دحق شفعه دثبوت لپاره مطالبه شرط ده نو چی کله له قدرت سره سره دی مطالبه نه وکری دادی دلیل ده چی په بیع باندی راضی ده (۳) که چیری بالغه باکره دخپل ولی په نکاح باندی عالمه شوه یعنی ددی وجی بغیر ددی د اجازی دا په نکاح ورکره دانکاح ددی پر اجازه باندی موقوفه ده نو که دا خبره شوه دی لره دنکاح دفسخ اونه فسخ اختیار شته نوکه دغی باکری دنکاح دا طلاق په وخت کی سکوت وکړ اونکاح ئی رد نه کره ددی دا سکوت درضا او اجازی دبیان په مرتبه کی ده

(۴) که چیری مولی خپل غلام په بازار کی خرڅولو او اخیستلو په حالت کی ولیدی او سکوت ئی وکړ دده دا سکوت دا جازی دبیان په مرتبه کی ده اوغلام ماذون فی التجارت (۵) که یوشخص په بل باندی دسلوروپو دعوه وکره لیکن مدعی په مجلس دقضاء کی شاهدان پیش نه کړه نو دمدعی علیه دامنع بیان ده درضاء دده په لزوم دمال باندی گواه کیدی په دی باندی راضی ده چی پرما باندی سل روپی لازمی شی او دالزوم په نزد دصاحبین په طریقه اقرار ده یعنی دمدعی علیه منع له قسم ځخه داسی ده لکه دی چی په لزوم دسلوروپو باندی اقرار وکری اودامام صاحب په نزد باندی دا الزوم په طریقه دبذل ده یعنی دمدعی علیه منع له قسم ځخه اقرار نه ده بلکه له قسم ځخه دځان ساتلو لپاره دسلوروپو په ورکولو باندی راضی ده ځکه پاک انسان له رښتیا قسم ځخه هم احترازکوی اوله قسم ځخه دځان ساتلو لپاره دروپو په ورکولو باندی راضی وی.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی حاصل داده چی دحاجت الی البیان په موقع کښی دسکوت کول دبیان مرتبه کی ده له دی وجه ځخه موږ وایو چی بعض علماء دیو حکم په صراحت سره او دبعض په سکوت سره اجماع منعقده کیږی اوهغه حکم ثابت په اجماع سره ده اودی اجماع دی ته اجماع اجماع سکوتی وائی.

فَصلٌ وَاَمَّا بَيَانُ العَطف

فَصلٌ وَاَمَّا بَيَانُ العَطف فَمِثلَ اَن تعطفَ مَكِيلاً اَو مَوزُونًا عَلَى مِائَةٍ وَ درهَمٍ اَو مِائَةٌ وَقَفِيزُ حنطَةٍ كَانَ العَطفُ بِمَنزِلَة البَيَان اَنَّ الكُلَّ من ذالكَ الجنس وَكَذَا لَو قَالَ مِائَةٌ وَثَلَثَةُ اَثوَابٍ اَو مِائَةٌ وَثَلَثَةُ دَرَاهِمَ اَو مِائَةٌ وَثَلَثَةُ اَعبُدٍ فَاِنَّهُ بَيَانٌ اَنَّ المِئَةَ من ذالكَ الجنس بِمَنزِلَة قَولِه اَحَدٌ وَعِشرُونَ درهَمًا بِخِلَافِ قَولِه مِائَةٌ وَثَوبٌ اَو مِائَةٌ وَشَاةٌ حَيثُ لَايَكُونُ ذالكَ بَيَانًا لِلمِائَةِ وَاختُصَّ ذالكَ فِي عَطفِ الوَاحِدِ بِمَا

يَصلُحُ دينًا فِى الذِّمَّةِ كَا لمَكِيلِ وَالمَوزُونِ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رحمه الله يَكُونُ بَيَانًا فِى مِائَةٍ وَشَاةٍ وَمِائَةٍ وَثَوبٍ عَلى هذَا الأَصلِ.

ترجمه : اوبهر حال بيان عطف مثلاً داده چی مکيلی اوموذونی په مبهمه جمله باندی عطف کړی اوداعطف دجملی مبهمی بيان ده ددی مثال داده چی کله ووائی پرما باندی دفلانی سل اويودرهم ده اوياسل اويا يوقفيزغنم دی داعطف ددی خبری دبيان په مرتبه کی ده چی تول له دی جنسه دی اوهم همدارنګه که ئی وويل سل اودری کپړی اوياسل اودری درهمه اوياسل اودری غلامه دادی خبری بيان ده چی سل هم له دی جنسه دی چی په منزله دده ددی قول احدوعشرون درهما ده اوددی په خلاف دده داقول سل اوکپړه اوياسل اوشاة څکه دادسلولپاره بيان نه ده اوپه عطف واحد کی دده عطف کيدل ترهغه پوری خاص ده چی داصلاحيت لری چی دين فی الزمه شی لکه مکيل اوموذون اوابويوسف رحمه الله وائی چی عطف دمائة اوشاة اودمائة اوثوب بيان ده په دی اصل سره.

تشريح : دبيان شپږم قسم بيان عطف ده له بيان عطف څخه مراد هغه بيان چی دعطف په ذريعه سره واقع وی مثلاً مکيل اوياموذون شی عطف پرمبهمه جمله باندی وکړی دامکيل اوموذون شی دمبهمی جملی لپاره بيان ده مثلالکه يوشخص چی ووائی لفلان علی مائة ودرهم اويا ووائی لفلان علی مائة وقفيزحنطة په دی دواړو مثالو کی درهم اوقفيزحنطة عطف دی پر مائة باندی اودا دعطف بيان په مرتبه کی دی او مطلب ئی داده چی معطوف عليه هم دمعطوف له جنسه ده يعنی لکه څنګه چی معطوف درهم ده همدارنګه معطوف عليه هم درهم ده اوڅنګه چی معطوف قفيز ده هم دارنګه معطوف عليه هم قفيزحنطة ده په اول صورت کی پرمقر باندی يوسل يودرهم واجب ده اوپه دوهم صورت کی پرمقرباندی يوسل يوقفيز غنم واجب دی اوهمدارنګه کی ئی وويل مائة وثلاثة اثواب او يا مائة وثلاثة دراهم اويا مائة وثلاثة عبيد په دری دری سره صورتو کی عطف ددی بيان ده چی معطوف عليه هم دجنسه دمعطوف ده يعنی په اول صورت کی د دروپه شان سل هم کپړی دی اوپه دوهم صورت کی د دروپه شان سل هم درهم دی اوپه دريم صورت کی د درو په شان سل هم غلام دی نوداپه منزله واحدوعشرون درهما ده يعنی لکه څنګه چی دلته معطوف (عشرون) له جنسه دمعطوف عليه (احد) ده اوکه يوچاه وويل مائة وثوب اويامائة وشاة په دی صورتو کی دطرفين په نزد معطوف دمعطوف عليه لپاره بيان نه ده يعنی په عطف سره دانه معلوميږی چی سل کپړی دی اوياسل شاة دی بلکه دادمتکلم تر بيانه موقوف ده متکلم چی هرڅه سره مراد ښکاره کړی هغه له مائة څخه مراد ده.

مصنف رحمه الله وائی چی عطف دواحد دجملی په صورت کی دعطف دبيان والی په هغه صورت پوری خاص ده چی معطوف عليه داسی شوی وی چی ددی صلاحيت لری چی دين شی پر زمه باندی مثلاً معطوف مکيل ياموذون شی وی اوپه معطوف کی عدد ذکر وی که داسی نه وو عطف

دبیان لپاره نه ده دلیل ددی داده چی دخلکو عادت داده چی هغه معطوف چی تمیز او یا تفسیر وی ده دلالت کولو په وجه له معطوف علیه ځخه هغه تفسیر او تمیز حذف کوی مگر دا هغه وخت چی مفسر دمکیلات او موذونات له قبیله وی او که مکیلات او موذونات له قبیله نه وو او په معطوف علیه کی عدد مذکور وو بیا ددی شرط معطوف دمعطوف علیه لپاره بیان ده او که دا شرط نه وو بیا معطوف دمعطوف علیه لپاره بیان نه ده نو په مائة وثوب او یا به مائة وشاة کی چونکه دا شرط موجوده نه ده له دوجی په دی صورت کی معطوف دمعطوف علیه لپاره بیان نه ده.

او امام یوسف فرمائی چی په دی صورت کی هم معطوف دمعطوف علیه لپاره بیان ده لهذا ء په مائة وثوب کښی له مائة ځخه مراد کپړی دی او په مائة و شاة کی له مائة ځخه مراد شاة دی حاصل داده چی دلته دری صورته دی (۱) داده چی معطوف معدود مفرد وی او معطوف علیه معدود مرکب وی او معطوف مکیل یا موذون وی لکه مائة او درهم په دی کی معطوف معدود مفرد ده او موذون ده او په مائة وقفیز حنطه کی معطوف معدود مفرد ده او مکیل ده او په دوارو مثالونو کی معطوف علیه معدود مرکب ده (۲) داده چی دمعطوف علیه په شان به معطوف هم عدد مذکور وی او هغه معطوف به مکیل او یا موذون وی لکه مائة وثلاثة اثواب یا مائة وثلاثة دراهم او یا مائة وثلاثة عبید په دی مثالو کی معطوف هم عدد یعنی ثلاثة مذکوره په اول او دریم کی معطوف غیر مکیل او موذون او په دوهم کی موذون ده (۳) داده چی معطوف معدود هم نه وی او مکیل او موذون هم نه وی او عدد هم مذکور نه وی لکه مائة وثوب او مائة وشاة په اولو دوو صورتو کی بالاتفاق معطوف دمعطوف علیه لپاره بیان ده او په دریم صورت کی دطرفین په نزد بیان نه ده او دامام یوسف په نزد بیان ده.

وَاَمَّا بَیَانُ التَّبدِیلِ وَھُوَ النَّسخُ فَیَجُوزُ ذَالِکَ مِن صَاحِبِ الشَّرعِ وَ لَایَجُوزُ ذَالِکَ مِنَ العِبَادِ وَعَلٰی ھٰذَا بَطَلَ استِثنَاءُ الکُلِّ عَنِ الکُلِّ لِاَنَّهٗ نَسخُ الحُکمِ وَلَا یَجُوزُ الرُّجُوعُ عَنِ الاِقرَارِ وَالطَّلَاقِ وَالعِتَاقِ لِاَنَّهٗ نَسخٌ وَلَیسَ لِلعَبدِ ذَالِکَ.

ترجمه: او بهر حال بیان تبدیل نسخ ده او دا د صاحب شرع له طرفه ځخه جائز ده او د بندګانو له طرفه جائز نه ده او بناء پردی باندی استثنی دکل له کل ځخه باطله ده ځکه دا نسخ دحکم ده او له اقراره دطلاق او اعطاق ځخه رجوع کول جائز نه ده ځکه دا نسخ ده او بنده لپاره نسخ جائز نه ده.

تشریح: دبیان او وهم قسم بیان تبدیل ده اولاً دا زده کړه چی بیان تبدیل دبیان له قبیله ځخه ده او که نه ده؟

جمهور علماء ئی دبیان له قبیله ځخه نه بولی ځکه بیان تبدیل نسخ دحکم سابق ده او بیان ظهور دحکم ته وائی.

اوعلامه فخر الاسلام رحمہ اللہ وائی چی بیان تبدیل دبیان له قبیله څخه ده ځکه دده په نزد دبیان تبدیل دحکم سابق دنسخ نوم نه ده بلکه دحکم سابق دمعیار دختمولو نوم ده مثلاً شراب په اول داسلام کی حلال وو دخلکوداخیال وو چی ترقیامته به حلال وی لیکن کله چی تحریم راغلی دادشارع له طرفه ددی خبری بیان ده چی دشرابو حل پر دی ځای باندی پای ته ورسیدی.

دفاضل مصنف رحمہ اللہ چونکه دعلامه فخر الاسلام رأیه مختاره وه نوځکه ده بیان تبدیل دبیان له قبیله څخه شمارکی لکه دی چی فرمائی چی بیان تبدیل دنسخ نوم ده اونسخ دصاحب شریعت له طرفه څخه جائز ده لیکن دخلکوله جانبه جائز نه ده که دلته دا سوال وشی چی دنبی کریم ﷺ په کلام کی نسخ موجود ده ځکه دپیغمبر ﷺ کلام دکتاب الله لپاره ناسخ کیدای شی لهذا دمصنف رحمہ اللہ داعبارت فلایجوز من العباد صحیح نه ده.

جواب: داده چی دنبی کریم ﷺ په کلام کښی که نسخ وی هغه دالله ﷻ له طرفه ده لکه الله ﷻ چی فرمائی وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ نو کله چی داسی شو نو په واقع کی دبنده له طرفه نسخ نشی راتلای.

مصنف رحمہ اللہ وائی چونکه دبنده له طرفه نسخ جائز نه ده له دی وجه څخه دکل استثناء له کل څخه باطله ده ځکه کل استثناء له کل څخه نسخ ده دحکم دکل او بنده لره داجائز نه ده چی حکم نسخ کړی او همدارنګه رجوع کول له طلاقه او له اعتاقه او له اقرار څخه جائز نه ده ځکه له دی شیا نو څخه رجوع کول نسخ دحکم ددغو شیانو ده اودامور وویل چی بنده لره دحکم نسخ کول جائز نه ده

سوال: ستا داخبره صحیح نه ده چی استثنا دکل له کل څخه جائز نه ده ځکه که دیو شخص صرف دری ښځی وی لکه زینب، اسماء، فاطمه، اودی ووائی نسائی طوالق الازینب، اواسماء، اوفاطمه داصیح ده او په دی صورت کی پر یو ی باندی هم طلا ق نه واقع کیږی اودا استثناء دکل له کله څخه ده.

جواب: داده چی استثناء دکل له کله هغه وخت جائز نه ده چی مستثنی بعینه لفظ دمستثنی منه وی او که ددوا ړو الفاظ ځا نته ځانته وی بیا استثنا ء دکل له کله هم صحیح ده هغه چی مستثنی او مستثنی منه یو شی وی لکه خاوند چی ووائی نسائی طوالق الانسائی په دی صورت کی استثنا ء صحیح نه ده اوپه سوال کی چی کوم صورت ذکر شو چونکه هلته مستثنی بعینه لفظ دمستثنی منه نه ده له دی وجه دغه استثنا صحیح ده.

وَلَوْقَالَ لِفُلَانٍ عَلَیَّ اَلْفٌ قَرْضٌ اَوْثَمَنُ الْمَبِيعِ وَقَالَ وَهِیَ زُيُوفٌ كَانَ ذَالِكَ بَيَانَ التَّغْيِيرِ عِنْدَ هُمَافَيَصِحُّ مَوْصُولاً وَهُوَ بَيَانُ التَّبْدِيلِ عِنْدَ اَبِی حَنِيفَةَ فَلَا يَصِحُّ وَاِنْ وَصَلَ

ترجمه: اوکه ئی وویل دفلانی پر ما باندی زر روپی قرض ده او یا ثمن دمبیعی او دائی وویل چی دا زیوف دی دصاحبین په نزد بیان تغیر ده لهذا موصولاً صحیح ده او د اما م صاحب په نزد بیا ن تبدیل ده لهذا صحیح ن ده که څه هم موصولاً وی.

تشریح: په دی عبارت کی مصنف رحمة الله علیه هغه مسئلی ذکر کوی چی په هغو کی اختلاف ده چی ایادبیان تغیر له قبیله دی او که دبیان تبدیل له قبیله څخه دی دی مسئلو څخه یو ه مسئله داده چی یو شخص ووائی لفلان علی الف قرض یا الف من ثمن البیع اوله دی ورسته ووائی وهی زیوف دصاحبین په نزدی داقول بیان تغیر ده څکه دراهم دوه قسمه دی (۱) جیان (۲) زیوف زیوف هغه ته وائی چی نا قص وی تجاران ئی نه قبلوی او جیاد دهغه دی چی غالب وی او خلک ئی په معا ملاتو کی استعمال وی اوذیوف په معا ملاتو کی نه استعمالیږی لهذا جیاد په مرتبه دحقیقت کی ده او ذیوف په مرتبه دمجاز کی ده نو علی الف قرض په ویلو سره پر مقر باندی جیاد واجب شو لیکن کله چی ئی بددی ورسته زیوف وویل نو جیاد ئی متغیر کړ و په زیوف سر ه حاصل داده چی په دی مثال کی لفظ دزیو ف بیا ن تغیر ده او بیان تغیر چونکه موصولاً صحیح نه ده لهذا دز یوف ویل موصولاً صحیح ده او مفصلاً صحیح نه ده.

اودامام صاحب په نزد دابیان تبدیل ده څکه عقد معا وضه داتقاضی کوی چی مال باید صحیح سالم واجب شی او ذیافت وی عیب ده نو دلفلان علی الف قرض یاثمن البیع په ویلو سر ه پر مقر باندی هغه واجب ده چی له عیبه پاک وی مګر کله چی ده ذیوف وویل جیادئی بدل کړه په ذیوف باندی حاصل داده چی دذیوف ذکر بیان تبدیل ده او بیان تبدیل چونکه نه موصولاً صحیح ده او نه معصولاً صحیح ده لهذا دلته دذیوف ذکر نه موصولاً صحیح ده اونه مفعولاً صحیح ده څکه بیان تبدیل نسخه ده اودبنده له طرف نسخ جائز نه ده.

وَلَوقَالَ لِفُلَانٍ عَلَیَّ اَلفٌ من ثَمَنِ جَارِیَةٍ بَاعَنِیهَا وَلَم اَقبِضهَا وَالجَارِیَةُ لَااَثَرَ لَهَا کَانَ ذَالِکَ بَیَانُ التَّبدِیلِ عِندَ اَبِی حَنِیفَةَ لِاَنَّ الاِقرَارَ بِلُزُومِ الثَّمَنِ اِقرَارٌ بِالقَبضِ عِندَ هَلَاکِ المَبِیعِ اِذ لَو هَلَکَ قَبلَ القَبضِ یَنفَسِخُ البَیعُ فَلَا یَبقی الثَّمَنُ لَازِماً.

ترجمه: اوکه یو چا وویل دفلانی پر ماباندی زر ثمن دی دمینځی چی ده پر ما باندی خرڅه کړی ده لیکن ماقبض کړی نه ده اومینځی لره هڅ اثر نه وو نودلم اقبضها ویل داما م صاحب په نزد بیان تبدیل ده څکه دثمن لزوم اقرار په وخت دهلاک دمبیع کی اقرار ده په قبض سره څکه که مبیعه تر قبض وړاندی هلاک شی بیعه فسخه ده او دثمن لزوم باقی نه ده.

تشریح: دوهمه مسئله داده چی یو شخص ووائی لفلان علی الف من ثمن جاریة باعینها ولم اقبضها دفلانی پر ماباندی زر روپی دی اودا زر روپی د هغی مینځی ثمن دی چی ده پرما باندی خر څه کړی ده او

ماقبض کړی نه ده او مینځه مو جوده ده هم نه ده په دی صورت کی لم اقبضها دامام صاحب په نز دبیان تبدیل ده دمبیعنی دهلاک په صورت کی دمقر اقرار په لزوم دثمن باندی دمبیعی دقبض کولو اقر ار ځکه که تر قبض وړاندی مبیعه هلاک شي بیا بیا بیعه نسخه ده اوبیعه چی فسخه شي پر مشتری باندی دوجوب دثمن سوال نه پیدا کیږی نو دمشتری اقرار په لزوم دثمن باندی دمبیعی دقبضب اقرا ر ده او له دی ځخه ورسته لم اقبضها ویل دمخکینی قول تبدیل ده لهذا الم اقبضها بیا ن تبدیل ده اوبیان تبدیل چونکه نه مصولاً صحیح ده او نه مفصولاً صحیح ده له دی وجه دلم اقبضها ویل صحیح نه ده یعنی دی قول ته اعتبار نشته پر ده باندی زر روپی واجب دی.

اودصاحبین په نزد دراهم بیان تغیر ده لهذا که مشتری دالفظ متص ووایو صحیح ده یعنی پر ده باندی زر روپی واجب دی نه دی اوکه پی منفصلاً ووایو بیا صحیح نه ده بلکه پر مشتری باندی زر روپی واجب دی.

(مترجم مولوی موسی کلیم انیس غفر لهٗ ولوالدیهٗ)

البَحثُ الثّانی فی سُنّۃ رَسُولِ اللّٰہ ﷺ

وَھِیَ اَکثَرُمِن عَدَدِ الرّمَلِ وَالحَصیٰ .

ترجمه : دوهم بحث په سنت د رسول الله ﷺ کی د ه او سنت دریګ او وړو ډبرو تر شیمیر زیات دی

تشریح : الحمد لله داصول الفقه په څلورو اصولو کی دیوه اصل یعنی کتاب له بیانه فارغه شوو او شروع کوو په بیان ددوهم اصل چی سنت رسول الله ﷺ ده .

سنت په لغت کی طریقی او عادت ته وائی او په اصطلاح دشرع کی د هغو عباداتو نقل ته وائی چی دهغو پر کولو باندی ثواب مرتب وی اوپر پریښودلو باندی ئی عقاب (عذاب) مرتب وی اودلته ددلا ئلو دبیان په موقع کی له سنت څخه مراد هغه ده چی له قرآنه بغیر له نبی کریم ﷺ څخه صادروی خواه که د ه قول وی او که ئی فعل وی او که ئی تقریر وی تقریر دی ته وائی چی نبی کریم ﷺ یو فعل په سترګو ووینی او یو قول واوری سکوت وکړی منع ئی نه کړی:

داهل اصولو په نزد دحدیث او سنت په مینځ کی فرق داده چی دحدیث اطلاق صرف دنبی کریم ﷺ پر قول باندی کیږی اود سنت اطلاق پر قول ، فعل ، تقریر ، اودصحابی قول ، اوفعل پر ټولو باندی کیږی.

په دی ځای کی مصنف رحمه الله د سنت لفظ له دی وجه ذکر کی چی دنبی کریم ﷺ قول ، فعل ،تقریر ، اودصحابی قول اوفعل ټولو ته شامل شی.

او محدثین دحدیث او خبر په مینځ کی فرق نه کوی بلکه هر یو دنبی کریم ﷺ قول ، فعل ، تقریر ، اود صحابی قول ، فعل او دتابعی قول ، فعل ، ته شامل بولی .

اوبعض حضرا ت دحدیث او خبر په مینځ کی فر ق کوی په دی طریقه چی حدیث هغه ده چی له نبی کریم ﷺ یا له صحابی یاله تابعی څخه منقول وی او خبر هغه ده چی له دوی څخه منقول وی لیکن په هغه کی دسلاطین احوال اودماضی اخبار بیان شوی وی.

اوخبر مرفوع هغه ته وائی چی تر نبی ﷺ پوری رسیدلی وی او هغه حدیث چی تر نبی کریم ﷺ پو ری نه وی رسیدلی بلکه تر صحابی پوری رسیدلی وی هغه ته موقوف وائی او دکوم حدیث چی په لاندی درجه کی راوی محذوف وی هغه ته مقطوع وائی.

او داخبره یاد ساته چی داهل اصولو مقصد داده چی دوی بیا ن کوی له اتصاله دسنت تر نبی کریم ﷺ پوری داتصال له کیفیته او دراوی له حال څخه بحث نه کوی ځکه له دی څخه بیان او بحث محدثین کوی.

فَصلٌ فی اَقسام الخَبَر

فَصلٌ فی اَقسام الخَبَر خَبَرُ رَسُول الله صلی علیه وسلم بمَنزِلَة الکتَاب فی حَقِّ لُزُوم العلم وَالعَمَل به فانَ مَن اَطَاعَهُ فقد اَطَاعَ الله فمَا مَرَّ ذکرُہُ من بَحث الخَاصِ وَالعَامّ وَالمُشتَرک وَلمُجمَل فی الکتَاب فهُوَ کذالکَ فی حَقِّ السّنَة الاَاَنّ الشُّبهَة فی بَاب الخَبَر فی ثُبُوته من رَسُول الله صلی علیه وسلم وَاتّصا له به وَلهذَا المَعنی صَارَ الخَبَرُ عَلی ثَلاثَة اَقسَام قسمٌ صَحّ من رَسُول الله صلی علیه وسلم وَثَبَتَ منهُ بلاَ شُبهَة وَهُوَ المُتَوَاتِرُ وَقسمٌ فیه ضَربُ شُبهَة وَهُوَ المَشهُور وَقسمٌ فیه احتمَالٌ وَشُبهَةٌ وَهُوَ الاحَادُ.

ترجمه: دافعل دخبری داقسامو په بیان کی ده درسول الله ﷺ خبر په لزوم دعمل او اعتقاد کی په مرتبه دکتاب الله کی ده ځکه څوک چی درسول الله ﷺ اطاعت وکړی هغه دخدای ﷻ اطاعت وکی نو دکتاب الله خاص ، عام ، مشترک ، مجمل ، چی کوم بحث تیر شو دسنت په حق کښی هم دغسی ده لیکن په باب دخبر کی په دوو شیانو کی شبه شته یو په دی کی چی له رسول الله ﷺ څخه ثابت ده او که نه او بل په دی چی متصل په رسول الله ﷺ پوری ده ددی معنی په وجه خبر پر دری قسمه ده یو قسم داده چی خبر له رسول الله ﷺ څخه په طریقه دصحت راغلی وی او له ده څخه بلا شبه ثابت وی دا قسم دخبر متواتر ده او یو قسم داده چی په هغه کی یو نوع شبه وی داقسم مشهور ده اویو قسم داده چی احتمال او شبه پکښی وی دی ته احا دوائی.

تشریح: مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی دافصل دخبر داقسامو په بیان کښی ده دلته یو سوال کیږی

سوال: داده چی مصنف رحمۃ اللہ علیہ وا ړندی په البحث الا ول فی سنت رسول الله ﷺ کی لفظ د سنت ذکر کی او دلته ئی لفظ دخبر ولی ذکر کی.

جواب: داده لکه څنګه چی درسوالله ﷺ وطریقی ته سنت ویل کیږی هدارنګه دصحابی وطریقی ته هم ویل کیږی او بل دسنت اطلاق دنبی کریم ﷺ پر فعل ، او قول دواړه باندی کیږی او دخبر لفظ اطلاق صرف پر قول دنبی کریم ﷺ باندی کیږی او په دی باب کی چونکه له دی ټولو شیانو څخه بحث کیږی لهذ ا مصنف رحمۃ اللہ علیہ په عنوان کی لفظ دسنت ذکر کی او خبرئی ذکر نه کړ او خا ص ،عام ، مشترک ، اونور اقسام چونکه صرف په قول کی راځی په فعل کښی نه راځی له دی وجه مصنف رحمۃ اللہ علیہ په تقسیم کی لفظ دخبر استعمال کی اوسنت لفظ ئی استعما نه کی ځکه سنت فعل او قول دوا ړ و ته شامل ده او خبر صرف قول ته شامل ده.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی خبر په لزو م دعمل اوعتقاد کی په مرتبه دکتاب الله کی ده یعنی لکه څرنګه چی دکتاب الله په حق کښی اعتقاد کول او عمل کول واجب ده دغه رنګه د خبر په حق کی اعتقا داو عمل کول واجب ده ددی دلیل داده چی اطاعت درسول الله اطاعت دالله ﷻ ده لکه الله ﷻ چی فر مائی مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ او وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ یعنی نبی ﷺ په هغه شی

امر کوی چي الله ﷻ دهغه امر کړی وی او نبي ﷺ له هغه شي منع کوی چي الله ﷻ له هغه څخه منع کړی وی لهذا په او امرو او نواحي او همدارنګه الله تعالی ﷻ فرمائی وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا یعني تا سوته چي نبي کریم ﷺ یو شي ورانډ ی کی تا سوئی قبول کړی او له کوم شي څخه چي منع وکړی ورڅخه منع شي.

حاصل داده چي خبر درسول الله ﷺ داسي حجت ده لکه کتا ب الله چي حجت ده مصنف وائی وړاندی چي دکتاب شل (۲۰) اقسام ذکر شول هغه دسنت د رسول الله ﷺ او خبر درسول الله ﷺ هم اقسام دی لهذا موږئی دوهم ځل اعاده نه کوؤ ؟

الاان الشبهه په دی عبارت سره مصنف رحمة الله عليه دیو سوا ل دفع کوی.

سوال : داده کله چي خبر په مرتبه دکتاب الله کی ده نو باید هر خبر درسوالله ﷺ باید متواتر او قطعي شي بیا ئی تقسم ودری قسمه ته صحیح نه ده ؟

جواب : داده چي په نفس خبر کی شبه نشته بلا شبهه قطعي حجت ده لیکن په خبر کی له دؤو وجهو شبه شته یو له رسول الله ﷺ څخه ده په اثبات کی یعني په دی کی چي ایا داله رسوالله ﷺ څخه ثابت ده او که نه او بل له دی وجه چي ایا داتر رسول الله ﷺ پوری رسیدلی ده او که په مینځ کی قطع شوی د ه.

لهذا ددی دؤو شبهو له وجه خبر پر دری قسمه ده یو دا ده چي له صاحب شریعت ﷺ څخه په طریقه دصحت او بلا شبه سره ثابت وی او بل داده چي په هغه کښي یو نوع شبه وی او بل هغه ده چي په هغه کښي احتمال هم وی او دعدم اتصال شبه هم وی اول ته متواتر دو هم ته مشهور دریم ته احاد وائی.

فَالْمُتَوَاتِرُ مَا نَقَلَهُ جَمَاعَةٌ لَايُتَصَوَّرُ تَوَافُقُهُم عَلَى الْكِذْبِ لِكَثْرَتِهِم وَاتَّصَلَ بِكَ هٰكَذَا مِثَالُهُ نَقْلُ الْقُرانِ وَأَعْدَادُ الرَّكْعَاتِ وَمَقَادِيرُ الزَّكٰوة .

ترجمه : او متواتر هغه خبر ده چي یوه جماعت له بل جماعت څخه نقل کړی وی او دکثرت په وجه ددوی اتفاق پر کذب باندی متصورنه وی او تر تاپوری ئی اتصال درانګه وی لکه نقل دقرآن اونقل دشمیر درکعات دلمانځه اونقل دمقادیرو دزکوة.

تشریح : مصنف رحمة الله عليه دخبر متواتر تعریف داسی کوی چي خبر متواتر هغه ده چي یوه جماعت له بله جماعته په هر دور کی نقل کړی وی اودهغه جماعت شمیر دومره وی چي پردرغو باندی ئی اتفاق ممکن نه وی او داتعداد به له اوله بیاتر اخره پوری وی که په هر دور کی داتعداد وؤ لیکن صرف په یوه دور کی نه وؤ هم متواتر نه ورته ویل کیږی دجمهورو علماء په نزد دخبر متواتر لپاره دغه

دوه شرطه دي. درا ویانو عدل او عدم حصر وغیره شرط نه دي نو که راوي عادل وي او که نه وي پر یوه ځای وي او که پر مختلفو ځایو وي شمارئی کیدای شي او که نشي کیدای خبر متواتر ده.
او بعض حضرات دخبر په تعریف کي داذکر کړي دي چي را ویان به عادلان وي او شمار به ئی نه کیږي اود مختلفو ځایو به نه وي لیکن دجمهورو په نزد دایو هم شرط نه ده بلکه صرف داشرط ده چي درایانو تعداد به دومره وي چي ددومره تعدا د خلکو اتفاق به پر درغو باندي عقلاً محاله وي که څه هم بعضو خو تعداد په پنځه کي حصر کړي ده او بعضو په دولس کي او بعضو په شلو کي او بعضو په څلویښتو کي او بعضو په اویا کي.
مصنف رحمه الله علیه وائی دمتراتر مثال لکه نقل دقرآن او لکه نقل دتعداد درکعتو دلمانځه او لکه نقل دمقادیرو دزکوة یعني دنبي کریم ﷺ له زماني څخه تر دی وخته دمذکوره شیانو نقل کونکي په دومره تعداد کي وي چي دهغو اتفاق پر کذب باندي عقلاً ممکن نه وي.

وَالمَشهُورُ مَاکَانَ اَوَّلُهُ کَالاٰحَادِثُمَّ اشتَهَرَ فِی العَصرِ الثَّانِی وَالثَّالِث وَتَلَقَّهُ الأُمَّةُ بِالقَبُولِ فَصَارَ کَالمُتَوَاتِرِ حَتّٰی اتَّصَلَ بِکَ وَذٰلِکَ مِثلَ حَدِیثِ المَسحِ عَلَی الخُفِّ وَالرَّجمِ فِی بَابِ الزِّنَا ثُمَّ المُتَوَاتِرُ یُوجِبُ العِلمَ القَطعِیَّ وَیَکُونُ رَدُّهُ کُفراً وَالمَشهُورُ یُوجِبُ عِلمَ الطُّمَانِینَةِ وَیَکُونُ رَدُّهُ بِدعَةً وَلاَ خِلاَفَ بَینَ العُلَمَاءِ فِی لُزُومِ العَمَلِ بِهَا وَاِنَّمَا الکَلاَمُ فِی الاٰحَادِ فَنَقُولُ خَبَرُ الوَاحِدِ هُوَ مَانَقَلَهُ وَاحِدٌ عَن وَاحِدٍ اَو وَاحِدٌ عَن جَمَاعَةٍ اَوجَمَاعَةٌ عَن وَاحِدٍ وَلا عِبرَةَ لِلعَدَدِ اِذَا لَم تَبلُغ حَدَّ المَشهُورِ وَهُوَ یُجِبُ العَمَلَ بِهِ فِی الاَحکَامِ الشَّرعِیَّةِ بِشَرطِ اِسلاَمِ الرَّاوِیِّ وَعَدَالَتِهِ وَضَبطِهِ وَعَقلِهِ وَاتِّصَالِهِ بِکَ ذَالِکَ مِن رَسُولِ اللّٰهِ عَلَیهِ الصَّلوٰةُ وَالسَّلاَمُ بِهٰذَ الشَّرطِ.

ترجمه : او مشهور هغه داده چي اول ځل دآحادپه شان وي لیکن په دوهم دور اودریم دور کي مشهور شي او امت له ده سره ملاقي شوی وي په قبول سره نو داسي شو لکه متواتر تر دي چي په تا پوري متصل کیږي اوددي مثال لکه حدیث دمسح علی الخفین اورجم في باب الزنا له دي ورسته متواتر علم قطعي واجبوي او رد کول ئی کفر ده اومشهور علم طمانینه فائده کوي اوددي ردول بدعت ده اوپر دي دواړو باندي په لزوم عمل کښي دعلماء هڅ اختلاف نشته اوپه آحاد کي خبره شته لکه موږ چي وایو چي خبر واحد هغه ده چي یوه له یوه څخه یا یوه له جماعت څخه یا جماعت له یوه څخه نقل کړي وي اوعدد معتبر نه وي تر هغه وخته چي حد دمشهور ته نه وي رسیدلی او خبر واحد په احکامو شرعیه وو کي عمل ثابتوي په دي شرط چي راوي به مسلمان وي عادل به وي ضابط به وي عاقل به وي اوله مذکوره شرطو سره سره به ئی داخبر له رسو الله ﷺ څخه روایت کړي وي او تا ته به ئی دارسولی وي.
تشریح : مشهور هغه خبر ده چي اول ځل دآحادپه شان وي یعني دصحابه ؤو په زمانه کي داخبر نه حدد تواتر ته رسیدلی وي اونه حد شهرت ته او په دوهم دور یعني دتابعین په دور کي اوپه دریم

دور یعني دتبع تابعین په دور کی حد د شهرت ته رسیدلی وی او امت په عام طور باندی قبول کړی وی په دی طریقه چی له دوهمه دوره ورسته داخبر په مثل دتواتر شوی وی یعني نقل کونکی ئی دومره تعداد ته رسیدلی وی چی دهغه تعداد اتفاق پر کذب باندی عقلا ممکن نه وی حتی چی اخری راوی ته هم په دی تواتر سره رارسیدلی وی.

مصنف رحمه الله دخبرمشهورلپاره ددوهم او دریم دور شهرت شرط کړځکه له دریمه دوره ورسته شهرت معتبرنه ده ځکه له دریمه دوره ورسته ټول اخبار احاد مشهور دی مصنف رحمه الله فرمائی چی دمسح علی الخفین حدیث اوهمدارنګه حدیث درجم دواړه خبرمشهوردی مصنف وائي چی خبر متواتر علم قطعي اویقیني فائده کوی یعنی په خبرمتواتر کی دکذب احتمال محاله ده لهذا دخبر متواتر انکارکفرده اوخبر مشهورعلم طمانینه فائده کوی لهذا له ده څخه انکار بدعت ده علم طمانینه دی ته وائی چی یقین ته نژدی وی اوترظن غالب لوړوی مصنف رحمه الله وائی چی په خبر متواتر اومشهور په دواړو سره عمل کول واجب ده په دی کښی هیڅ اختلاف نشته لیکن په خبرواحد باندی په وجوب دعمل کی څه خبره شته اودعلماء پکښی اختلاف ده ځکه موږ وایو چی خبرواحد هغه ده چی یوه راوی له یوه څخه روایت کړی وی اویایوه له جماعت څخه اویا جماعت له یوه څخه روایت کړی وی په دی شرط چی دخبر مشهور حدته نه وی رسیدلی مصنف رحمه الله وائی که دخبر مشهور حدته نه وؤ رسیدلی هغه ته خبرواحد وائی یعنی تعداد د روایانو ئی زیات وی لیکن دمشهور وحدته نه وی رسیدلی دی کثرت اوتعداد ته اعتبارنشته اوپه خبرواحد سره په احکامو دشرعی کی عمل ثابت ده. یعنی په ده سره عمل کول واجب ده لیکن داشرط شته چی راوی به مسلمان وی عادل به وی ظابط به وی عاقل به وی اواخری راوی به داحدیث له نبی کریم ﷺ څخه روایت کړی وی اوتر مخاطبه پوری به ئي حدیث متصل کړی وی په مینځ کی به نه وی قطع شوی.

حاصل داده چی خبرواحدنه دمتواتر په شان علم یقین فائده کوی اونه دمشهور په شان علم طمانینه فائده کوی بلکه صرف په احکام شرعیه وؤ کی عمل واجبوی اوداداکثر علماء اوټولوفقهاء مذهب ده.

اوبعض حضرات خیال داده چی په خبرواحد سره عمل کول جائزنه ده اوددوی داخیال کول غلط ده له دی وجه چی حضرت بریره رضی الله تعالی عنها چی کله رسول الله ﷺ ته داخبر ورکی چی داغوښه دصدقی ده اونبی کریم ﷺ داخبرقبول کړ اوویل لك صدقة ولنا هدية اوهمدارنګه سلمان فارسی رضی الله عنه ده ته خورماورکړه اودائي ورته وویل هذا صدقة نونبی کریم ﷺ نه ور واخیسته اودوهم ځل چی ئی خورما ورته راوړه اوویل هذا هدية اونبی کریم ورواخیسته اوهمدارنګه په یوثقیفه کی دانصاروا و مهاجرد اختلاف په موقع کی ابوبکر صدیق رضی الله عنه وویل سمعنا رسول الله ﷺ يقول الائمة من قريش

او ټول دده داقول قبول کړ حاصل داده چې له مذکوره واقعاتوڅخه داثابته شوه چې خبرواحد مقبول ده اوپه ده سره عمل واجب ده.

ثُمَّ الرَّاوِیُ فِی الْأَصلِ قِسمَانِ مَعرُوفٌ بِالعلم وَالاجتهاد كَالخُلَفاء الأربَعَةِ وَعَبدالله بنُ مسعود وَعبدالله بن عَبَّاس وَعبدالله بن عُمر وَزَید بن ثَابت وَمعاذبن جَبَلَ وامثالهم رضی الله تعالی عنهم فاذَا صَحَّت عندكَ رِوَایتُهُم عَن رَسُول اللهَ عَلَیه الصَّلوة والسَّلامُ یَكُونُ العَمَل بِرِوَایَتِهِم أَولی مِنَ العَمَلِ بالقِیَاسِ وَلهذَا رَوی محمد رحمه الله حَدِیث الاعرابی الَّذِی كَانَ فِی عَینه سُوءٌ فِی مَسَالَةِ القَهقَهَةِ وَتَرکَ القِیَاسَ بِه وَروی حَدیثَ تَاخیر النِّسَاء فی مَسئلَةِ المُحَاذَات وَتَرَکَ القِیَاسَ بِه وَرَوی عَن عَائشَةَ حَدِیث القَی وَتَرَکَ القِیاسَ بِه وَرَوی عَن مَسعُود رضی الله عنه حَدِیث السَّهو بَعدَ السَّلام وَتَرَکَ القِیَاسَ بِه.

ترجمه : اوبیا راوی پردوه قسمه ده (۱) یوداده چې په علم اواجتهاد سره پیژندل شوی وی لکه خلفاء اربعه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما، عبد الله ابن عمر رضی الله عنه زيدبن ثابت رضی الله عنه، معاذ بن جبل رضی الله عنه، اودارنګه نورنوکه ددوی روایت تاته په طریقه دصحت ورسیدی نوبیا په نسبت وقیاس ته په ده سره عمل کول اولی ده همدا وجه ده چې امام محمد رحمه الله دقهقهی په مسئله کی دهغه اعرابی حدیث روایت کړی ده چې دهغه سترګی خرابی وی اودهغه په وجه ئی قیاس پریښی ده اوامام محمد دمحاذات په مسئله کی دښځودتاخیر کولوحدیث روایت کړی اوددی حدیث په وجه ئي قیاس ترک کړی ده او امام محمد رحمه الله له حضرت عائشه رض څخه حدیث روایت کړی ده اودهغه په ذریعه ئی قیاس ترک کړی ده اوله ابن مسعود رضی الله عنه څخه ئي حدیث دسهوله سلامه بعد روایت کړی ده اوددی په وجه ئی قیاس ترک کړی ده

تشریح : مصنف رحمه الله فرمائی چې هغه راوی چې له آنحضرت ﷺ څخه ئي حدیث اوریدلی وی هغه دوه قسمه ده یوهغه ده چې په علم اواجتهادسره مشهور وی لکه خلفاء اربعه عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنهما اوعبدالله ابن عمر رضی الله عنهما اوزیدبن ثابت رضی الله عنه اومعاذبن حبل رضی الله عنه اونور داسی لکه ابوموسی اشعری رضی الله عنه ابی بن کعب رضی الله عنه عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه اوعائشه صدیقه رضی الله عنها که دغه مذکوره حضرات له نبی کریم ﷺ څخه روایت وکړی اوتاته په طریقه دصحت ورسیږی په دی صورت کی زموږ په نزد په نسبت وقیاس ته ددوی په روایت سره عمل کول اولی ده حضرت امام مالک رحمه الله فرمائی چې په دغه صورت کی په قیاس سره عمل کول اولی ده دلیل داده چې په حدیث کی شبهات زیات وی په دی طریقه چې ممکنه ده چې راوی دی سهوه شوی وی اوممکنه ده چې غلط شوی دی وی اوداهم ممکنه ده چې دروغ دی ویلی وی اوداهم ممکنه ده چې دغه حدیث دی له رسول الله ﷺ څخه ثابت نه وی اودمجتهدینوپه قیاس کی صرف یوه شبهه ده چې هغه دغلطی شبه ده اوپه کوم شی کی چې یوه شبه وی هغه اولی ده ترهغه چې په هغه کی شبهی ډیری وی زموږ دلیل داده چې صحابه کرامو دخپلواراء اوقیاساتوپه وجه خبرواحد ترک کړی ده

مثلاً صدیقی اکبر ﷺ په خپله رأیه باندی فیصله وکړه او ورسته ئي ددی خلاف له حضرت بلال ﷺ څخه حدیث واوریدی او له خپلی مخکینی فیصلی څخه ئی رجوع وکړه او همدارنګه حضرت عمر ﷺ رأیه داوه چی که یوچاه حامله ښځه پرنس باندی ووهله او دده له وجه کوچنی مړشو پرو هونکی باندی دکوچنی دیت نشته لیکن چی حضرت علی ﷺ داحدیث فی الجنین غرۃ عبداوامۃ یعنی په جنین کی غلام اویامینځه ده بیان کړ حضرت عمر ﷺ له خپلی رأیه څخه رجوع وکړه اودی هم دحدیث په وجه باندی په دیت قائل شو.

اوهمدارنګه حضرت ابن عمر ﷺ دځمکی مزارعت په جواز باندی قائل نه وو لیکن کله چی له رافع بن خدیج څخه داحدیث واوریدی چی نبی کریم ﷺ واهل خیبرته ځمکی په مزارعت ورکړی نوده له خپلی رأیه څخه رجوع وکړه اوپه حدیث باندی ئي عمل وکړ اوداسی نوری واقعی دی له هغو څخه دامعلومیږی چی صحابه وؤ دحدیث په وجه خپلی رأیه ترک کړی دی لهذا داپردی باندی دلالت کوی چی حدیث پرقیاس باندی مقدم ده یعنی دحدیث اوقیاس دمقابلی په صورت کی په حدیث سره عمل کول کیږی.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چی په علم اواجتهادسره مشهور صحابی حدیث چونکه زموږ په نزد مقدم پرقیاس باندی ده له دی وجه امام محمد رحمۃ اللہ علیہ په مسئله دقهقه کی په حدیث داعرابی سره عمل کوی اوپه مقابل ئی قیاس پریږدی داعرابی حدیث داده چی یوځل نبی کریم ﷺ لمونځ کاوی یواعرابی چی په سترګوئی نه لیدل راغلی اوپه یوه څاه کی ولویدی بعض صحابه کرامو قهقه وکړه له لمانځه ورسته نبی کریم ﷺ وویل کوم شخص چی قهقه کړی وی هغه دی اودس اولمونځ دواړه راوګرزوی له دی حدیثه څخه دامعلومه شوه چی قهقه ناقضه داوداسه ده اودقیاس تقاضی داده چی ناقضه نه ده ځکه ددطهارت علت خروج دنجاست ده اودقهقه په صورت کی خروج دنجاست نشته لهذا داناقضه ده. په دی مسئله کی احناف په حدیث داعرابی باندی عمل کوی اوقیاس بلاعمله پریږدی.

سوال: ددی حدیث راوی معبد جهنی ده اودی دصحابه کرامو په مینځ کی په علم اواجتهاد سره مشهور نه ده نوداحدیث څنګه دهغه لپاره مثال کیدای شی چی راوی ئي په علم اواجتهاد سره مشهور وی؟

جواب: داده چی داحدیث له معبد جهنی څخه علاوه ابوموسی اشعری ﷺ هم روایت کړی ده اوابوموسی شعری ﷺ په فقه اواجتهاد کی مشهور وؤ.

اوهمدارنګه امام محمد رحمۃ اللہ علیہ په مسئله دمحاذات کی یوحدیث روایت کړی ده چی راوی ئی عبدالله ابن مسعود ﷺ ده چی په فقه اواجتهاد کی مشهوره ده دحدیث متن داده اخروهن من حیث اخرهن الله تعالیٰ یعنی نبی کریم ﷺ فرمائی چی ښځی ورسته کړی له دی وجه چی الله ﷻ ورسته کړی

دی یعنی ښځه چونکه په تخلیق کی له نره ورسته ده له دی وجه دالله ﷻ نبی کریم نارینه وؤ ته ددی دتاخیر حکم ورکړ نو اوس که یو ښځه په لمانځه له نرسره په څنګ کی ود ریږی او یا نر له دی سره په څنګ کښی ودریږی په دی صورت کی نارینه تارک دفرض ده یعنی پرده باندی دښځی تاخیر کول فرض وؤ لیکن ده دا فرض اداء نه کړ.

اودوهم پرنر باندی ترښځه مخکی دریدل فرض وؤ لیکن ده دا فرض اداء نه کړه اودریم داده چی دښځی پربرابری دریدل منع وؤ ده وکړل دادری صورتونه چونکه هریو لمونځ فاسدوی لهذا دری سره ئی په طریقه اولی سره فاسدوی حاصل داده چی دابن مسعود ﷛ داحدیث پردی باندی دلالت کوی چی دمحاذات په وجه دنر لمونځ فاسد ده اودقیاس تقاضی داده چی فاسد نه ده ځکه محاذات له لمانځه سره منافی عمل نه ده ځکه خوپه محاذات سره دښځی لمونځ فاسد نه ده لهذا دښځي پرلمانځه باندی په قیاس سره دنر لمونځ هم فاسد نه ده لیکن پردی مسئله کښی موږ قیاس پریږدو اوپه حدیث سره عمل کوو؛ اوهمدارنګه امام محمد رحمه الله له بی بی عائشه ﷝ څخه حدیث دقی روایت کوی اوپه مقابل کی ئي قیاس پریږدی حدیث داده چی نبی کریم ﷺ فرمائی که په لمانځه کی یو چاته قی ورغلی اویائی له پوزی وینه جاری شوه لمونځ دی پریږدی اودس دی وکړی اوپرخپل لمانځه دی بناء وکړی څوچی ئی خبری نه وی کړی له دی حدیثه داثابته شوه چی قی ناقض دوضوء ده اودقیاس تقاضی داده چی ناقض نه ده ځکه قی ترمعده له پورته ځایه راوزی اوداځای محل دنجاست نه ده لهذا نجس نه ده نوچی قی نجس نه ده نودقی په صورت کی خروج دنجس نه دراغلی ترڅوچی خروج دنجاست نه وی راغلی اودس مات نه ده حاصل داده چی دقیاس تقاضی داده چی قی ناقض دوضوء نه ده اودعائشی رضی الله تعالی عنها دحدیث تقاضی داده چی قی ناقض دوضوء ده لهذا دمذهب حنفی ترجمان حضرت امام محمد رحمه الله دلته په حدیث باندی عمل کوی اوقیاس پریږدی.

اوهمدارنګه امام محمد رحمه الله له سلامه ورسته په مسئله دسجده سهوه کښی په حدیث ابن مسعود ﷛ باندی عمل کوی اوپه مقابل کی ئي قیاس پریږدی په دی کی اختلاف ده چی ایا سجده دسهوی له سلامه ورسته ده اوکه مخکی ده دشوافع په نزد ترسلام مخکی ده اوداحناف په نزد ورسته ده امام محمد رحمه الله دابن مسعود ﷛ څخه لکل سهوسجدتان بعدالسلام داحدیث روایت کوی چی سجده دسهوله سلامه ورسته ده اوقیاس تقاضی داده چی له سلامه مخکی ده ځکه سجده دسهوی دهغه نقصان تلافی ده چی په لمانځه کی په ترک دواجب سره راغلی ده لهذاهغه شی چی د نقصان قائم مقام ده هغه به هم دننه په لمانځه کی وی لکه څنګه چی نقصان دننه په لمانځه کی ده اوپه لمانځه کی دننه تلافی په سجده قبل السلام سره راځی حاصل داده چی حدیث دابن مسعود ﷛ داتقاضی کوی چی سجده ورسته له سلامه ده اوقیاس داتقاضی کوی چی سجده

دسهوی مخکی ترسلام ده په دی صورت کی احناف په حدیث دابن مسعود ﷺ باندی عمل کوی اومقابل لوری ته ئی قیاس ده په هغه باندی عمل نه کوی.

وَالقسمُ الثّانی مِن الرُّواة همُ المَعرُوفُونَ بالحفظ وَالعَدالَة دُونَ الاجتهَاد وَلفتوی کَابی هُرَیرَةَ وَاَنَس بن مَالک ﷺ فاذَا صَحّت روَایَةُ مثلها عندکَ فَان وَافقَ الخَبَرُ القیَاسَ فلَاخفَاءَ فی لُزُوم العَمَل به وَان خَالَفَهُ کَانَ العَمَلُ بالقیاس اَولی مثَالُهُ مَاروی اَبُوهریرَةَ ﷺ الوُضُوءُ ممّا مَسّتهُ النَارُ فقَال لَهُ ابن عباس ﷺ اَرَایتَ لَوتَوَضّاتَ بمَاء سَخین اَکُنتَ تترضاءُ منهُ فسَکتَ وَانمَا رَدّهُ بالقیَاس اذ لَو کَانَ عندَهُ خَبَرٌ لَرَوَاهُ وَعَلی هذا تَرکَ اَصحَابُنا روَایَةَ اَبی هریرَةَ ﷺ فی مَسئَلَة المُصرّاة بالقیَاس.

ترجمه: اودراویانو دوهم قسم هغه دی چی په حفظ اوعدالت سره مشهوروی په اجتهاد اوپه فتوی سره مشهورنه وی لکه ابوهریره ﷺ انس بن مالک ﷺ نوکه روایت په طریقه دصحت له مثله ددوی تاته ورسیدی نوکه خبرله قیاس سره موافق وؤ بیاهځ خفاء نشته په لزوم دعمل کی په دوی سره اوکه خبر مخالف له قیاسه وؤ بیاپه دسره عمل کول اولی ده ددی مثال دابوهریره ﷺ روایت ده چی کوم شی چی په اورپخ شوی وی دهغه په خوړلواودس واجب اوحضرت ابن عباس ﷺ وابوهریره ﷺ ته وویل که په ګرمواوبوسره اودس وکی بیابه ځنګه وی ایاله دی ځخه به هم اودس کوی ؟ ابوهریره ﷺ ساکت شونوکه له ابن عباس ﷺ سره حدیث وای ضروربه ئی روایت کړی وای اوبناء پر دی باندی زموږ علماء دمصرات په مسئله کی هم دابوهریره ﷺ حدیث دقیاس په دوجه پریږدی.

تشریح: دراوی دوم قسم داده چی راوی دحدیث داسی صحابی وی چی هغه په حفظ اوعدالت سره مشهوروی لیکن ددوی فقهاهت اواجتهاد مشهور نه وی لکه ابوهریره ﷺ اوانس بن مالک ﷺ اوعقبه بن عامر ﷺ ددی اصحابو دحدیث په باره کی ضابطه داده که له دوی ځخه حدیث په طریقه دصحت ثابت شو بیابه خالی نه وی یابه له قیاس سره موافق وی اویابه نه وی که موافق وؤ بلاشبه په حدیث سره عمل کول کیږی اوکه مخالف وؤ په دغه صورت کی په قیاس سره عمل کول اولی ده مثلاً دابوهریره ﷺ حدیث ده چی کوم شی چی په اور سره پخ شوی وی دهغه په خوړلوسره اودس واجب ده کله چی ابوهریره ﷺ داحدیث بیان کړ ابن عباس ﷺ ورته وویل که تاپه ګرمواوبوسره اودس وکړه ایادوهم ځل په ساده ابوسره اودس واجب ده ؟ دابن عباس ﷺ مقصد دا وؤ چی که اور لره په نقض داوداسه کی دخل وی نوکه یواودس لرونکی شخص دوهم ځل په ګراماوبوسره اودس وکړی باید دده اودس مات شی اوله اوداسه ورسته ګرم تیل استعمال کړی بایداودس ماته شی اوحال داده چی په دی صورتوکی داودس په نه ماتوالی سره ته هم قائل ئی ابوهریره ﷺ چی دابن عباس ﷺ قیاس واوریدی ساکت شو اوابن عباس ﷺ دابوهریره ﷺ داحدیث دقیاس دمخالفت په وجه ردکی.

مصنف رحمة الله عليه وائی که له ابن عباس رضي الله عنهما سره په مقابل کی حدیث وای لازماً به ئی په دی موقع کی دهغه وړاندیز کړی وای ځکه دحدیث رد په حدیث سره اقوی ده نوچی ابن عباس رضي الله عنهما حدیث روایت نه کړ دا ددی دلیل ده چی له ابن عباس رضي الله عنهما سره دابوهریره رضي الله عنه دحدیث په مقابل کی حدیث نشته حاصل داده چی داواقعه ددی اثبات کوی چی که دغیر فقه حدیث مخالف له قیاسه وؤ په هغه باندی عمل نه کول کیږی بلکه په قیاس سره عمل کول کیږی.

مصنف رحمة الله عليه وائی ددی ضابطی (چی که راوی دحدیث په فقاهت او اجتهاد سره مشهور نه وؤ دهغه حدیث په مقابل دقیاس کی پریښودل کیږی) پربناء باندی احناف وائي په مسئله دمصرات کی دابوهریره رضي الله عنه حدیث دقیاس په وجه پریښودل کیږی حدیث دمصرات داده چی نبی کریم ﷺ فرمائی

دأښی او وزی په تیوکی پوی مه پریږدی نوکه چاه داسی اوښه یابزه واخیسته له لوشلو ورسته ده لره اختیار ده که مشتری په راضی وؤ راودی گرزوی اوکه نه وؤ په راضی رد دی کړی اویوه کاسه خورمادی هم ورسره ورکړی او مصرات هغه حیوان ته وائی چی په تیوکی پوی پریښودل شوی وی ددی لپاره چی اخستونکی ته دهوکه په ورکړی چی هغه داخیال شی چی داحیوان زیاتی پوی (شیدی) کوی اوحال داوی چی هغه په واقع کی لږ کوی په دی سلسله کی دابوهریره رضي الله عنه حدیث چی ورته حدیث دمصرات هم ویل کیږی هغه حدیث داده چی که چاه مصرات حیوان واخیستی اوله هغه څخه ئی شیدی ولوشلی اوله دوؤ درو ورځو استعمال ورسته ئی شیدی لږ کړی اودته درک وشو چی زه دهوکه شوی یم په داسی صورت کی دالله ﷺ نبی وائی چی مشتری لره اختیار ده که ئی خوښه وی را ودی گرزوی اوکه ئي خوښه نه وی واپس دی کړی اوکومی شیدی چی ورڅخه لوشلی دی دهغوپه عوض کی دی یوه کاسه خورماورکړی.

امام شافعی رحمة الله عليه ددی حدیث په دواړه جزه عمل کوی یعنی وائی چی مشتری لره دبیع دفسخ کولو اختیار شته اودفسخ په صورت کی یوه کاسه خورما ورکول واجب ده اوامام ابوحینفه . دحدیث دواړه جزه ردکوی دی فرمائی چی دبیع دفسخ کولواختیارمشتری لره نشته اونه یوه کاسه خورما بلکه بیع لازمه ده لیکن رجوع فی النقصان کولای شی رجوع فی النقصان دی ته وائی چی دحیوان دشیدو کمولو په وجه چی قیمت کم شوی ده دهغی طلب له بائع څخه کولای شی مثلاً دی حیوان په اولو ورځو کی لس کیلو شیدی کولی اوبیااته کیلو ته راکښته شوه اوپه بازار کی دداسی حیوان چی لس کیلو شیدی کوی قیمت زر روپی ده اودهغه حیوان چی اته کیلوشیدی کوی قیمت اته زره روپی ده نودامام صاحب په نزد باندی ددوه زره روپوپه باره کی مشتری رجوع کولای شی دی ته رجوع فی النقصان وائی.

امام صاحب فرمائی داحدیث په دی طریقه له قیاسه مخالف ده چی ضمان دوه قسمه ده یوضمان بالمثل ده اوبل ضمان باالقیمت ده نوکه هلاک شوی شی له ذوات الامثال څخه وؤ لکه غنم وغیره په هغه کښې ضمان باالمثل واجب ده اوکه له ذوات الامثال څخه نه وؤ لکه څاروی په هغه کی ضمان باالقیمة واجب ده اوهغه شیدی چی مشتری استعمال کړی دی که له ذوات الامثال څخه شی بایدضمان ئي په مثل سره واجب شی یعنی مشتری باید دشیدو په مقابل کښی شیدی ورکړی اوکه له ذوات الامثال څخه نه وی باید ضمان ئی په قیمت سره ورکړی شی اوپه حدیث کی چی تمرذکر ده هغه نه مثل دشیدو ده اونه قیمت دشیدو ده لهذا په حدیث کی دتمر وجوب مخالف له قیاسه ده اودغیر فقه حدیث له قیاسه مخالف وی په هغه صورت کی حدیث پریښودل کیږی لهذا دلته هم حدیث پریښودل کیږی اومشتری لره حق درجوع فی النقصان شته.

سوال: ابوهریره ﷺ ته غیر فقه ویل غلط ده اوحضرت امام اعظم ﷫هم دده په فقاهت قائل ده اوبل داده چی ابوهریره ﷺ ته څنګه غیر فقه ویل کیږی حال داده چی ده په عهد رسالت کی هم فتوی ورکوله اوله عهدرسالته ورسته ئی هم فتوی ورکوله اوله فقهاء صحابه وؤ سره ئی په فتوی وؤ کی معارضه کوله اوعلامه ذهبی په تذکرة الحفاظ کی دده په باره کی داسی لیکلی دی الحافظ الفقه صاحب رسوالله صلی علیه وسلم کان من اوعیته العلم ومن کبار ائمة الفتوی یعنی ابوهریره ﷺ حافظ ده ،فقه ده ، صحابی ده ، دعلم ظرف ده ، امام دفتوی ده حاصل داده چی ابوهریره ﷺ ته غیر فقه اوغیرمجتهدویل اوداویل چی امام صاحب دده حدیث په دی وجه ترک کړی ده چی مخالف له قیاسه ده داخبره غلطه ده څکه امام صاحب داحدیث له دوؤ وجهو ترک کړی ده اول داده چی ددی حدیث په الفاظو کی اضطراب ده څکه په بعض روایاتوکی صاع من تمر راغلی ده اوپه بعض روایاتو کی صاع من طعام لااسمراء راغلی ده اوپه بعض کی مثل لبنها قمحا راغلی ده اوپه بعض کی مثلی لبنها قمحاء راغلی ده اوپه دبعض کی صاعاًمن تمروصاعامن طعام ده اوپه بعض صاعامن برلااسمراء راغلی ده اوپه لفظ دحدیث کی اضطراب چونکه حدیث ناقابل عمل جوړ وی له دی وجه امام صاحب په دی حدیث سره عمل نه کوی.

اوبله وجه داده چی حدیث مصرات له قرآن حدیث اواجماع سره معارض ده له قرآن سره په دی وجه معارض ده چی الله ﷻ فرمائي فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ اوبل وجزاء سيئة سيئة مثلها اوبل په دی ارشاد وان عوقبتم فعاقبوابمثل ماعوقبتم دا دری سره آیاتونه پردی دلالت کوی چی ضمان بایدله هلاک شوی شی سره مساوی وی اودیوی صاع اوشیدوپه مینځ کی مساوات ممکن نه ده.

اودحدیث معارض له دی وجه ده چی آنحضرت ﷺ فرمائي الخراج بالضمان ماصول دضمان په وجه ده مطلب داده چی دکوم شخص چی کوم شی ضمان کیږی دهغه نفع اوله هغه څخه حاصل شوی فائده

هم دهغه ده اوکه نقصان وؤ دهغه زمه هم پرده باندی ده اوبل حدیث داده نهی عن بیع الکالی بالکالی داالله ﷺ رسول له بیع ددین په دین څخه منع وکړه اودین هغه ته وائی چی واجب فی الزمه وی اوس ته فکروکړه چی هغه شیدی چی مشتری لوشلی دی دوه صورته لری یوداچی دعقدبیع په وخت کی ددی حیوان په تیوکی وی دوهم هغه ده چی له عقدبیع ورسته دمشتری په لاس کی پیداشوی نودعقد بیع دفسخ په صورت کی داول صورت مالک بایع ده اود دوهم مالک مشتری ده اوس ته ووایه چی یوه صاع تمر د دواړوقسموشیدو عوض ده اوکه صرف دهغه عوض ده چی دعقد بیع په وخت کی په تیوکی موجودی وی که ددواړو عوض وی دالخراج بالضمان مخالف ده له دی وجه چی هغه شیدی چی له عقد بیع ورسته پیداشوی دی هغه دمشتری ملک ده ځکه له بیع ورسته حیوان دمشتری په ضمان کی ده اودده دضمان په وخت کی چی کومی شیدی پیداشی هغه دده ملک دی لهذا دالازمه شوه چی پرمشتری باندی دهغه شی ضمان واجب شو چی دده ملک ده اودا قطعا غیر معقوله خبره ده حاصل داده که یوه صاع تمر د دواړو قسموشیدو عوض شی نوله حدیث دالخراج بالضمان څخه مخالف ده اوکه صرف دهغه عوض شی چی دعقد بیع په وخت کی په تیوکی وی بیاله حدیث نهی عن بیع الکالی بالکالی څخه مخالف ده ځکه هغه شیدی چی دعقد بیع په وخت کی وی اومشتری لوشلی وی اوتلف کړی ئی وی دعقد بیع دفسخ په وخت کی هغه دمشتری پرذمه دی اوهغه صاع چی دشیدو عوض ده هغه هم پرده باندی دین ده نوپرمشتری باندی دشیدوپه عوض کی یوه صاع تمر واجب کول بیع ددین په دین سره ده اوحال داده چی دالله ﷺ نبی ﷺ له دی څخه منع کړی ده لهذا حدیث دمصرات له حدیث دنهی عن بیع الکالی بالکالی څخه مخالف ده حاصل داده چی یا دالخراج بالضمان څخه مخالف ده اویاله نهی عن بیع الکالی بالکالی څخه مخالف ده.

اوحدیث دمصرات له اجماع څخه هم مخالف ده په دی وجه چی پردی خبره باندی اجماع ده چی ضمان دوه قسمه ده یومثلی دوهم معنوی (قیمت) اوصاع دتمر له دی دوؤ څخه یوقسم هم نه ده نه مثلیت ئی ظاهره ده اوداچی قیمت هم نه ده له دی وجه چی په حدیث کی صاع دشیدو مقابل ده خواه که شیدی لږ وی اوکه ډیری وی اوحال داده چی دقیمت دامعنی نه ده بلکه دقیمت معنی داده چی که شیدی لږوی قیمت لږواجب ده اوکه شیدی زیاتی وی قیمت زیات واجب ده حاصل داده چی حدیث دمصرات مخالف له اجماع هم ده نوته ووائي چی کله حدیث دمصرات له قرآن ؛حدیث ؛ اجماع څخه مخالف شو نوپه ده سره عمل کول مناسب ده.

امام اعظم ؒ له دی وجه په حدیث دمصرات باندی عمل نه کوی اومسئله دمصرات دحدیثو اوفقه په کتابوکښی ډیره اهمه ګڼل شوی ده بغیر له دی تفصیله ددی مسئلی حل ډیرګران کار ده ددی وجه موږ داتفصیل ذکرکړ.

وباعتبار اختلاف اَحوال الرّواة قُلنا شرطُ العَمل بخبر الوَاحد اَن لایَکُون مُخَالفاً للکتَاب وَالسُّنَّة المَشهُورَة وَاَن لایَکُون مُخَالفاً لظَاهر قَال عَلَیه السَّلام تَکثُرُ لَکُمُ الاَحَادیثُ بَعد فَاذَا رُوِیَ لَکُم عَنّی حَدیثٌ فَاعرِضُوهُ عَلی کتَاب اللّٰه فَمَا وَافَقَ فَاقبَلُوه وَمَا خَالفَ فَرُدُّوه .

ترجمه : او د اراویانو د حالت د اختلاف په وجه موږ وایو چې په خبر واحد باندې د عمل کولو لپاره شرط داده چې د کتاب او سنت مشهور څخه به مخالف نه وي او له ظاهره به مخالف نه وي آنحضرت ﷺ فرمائی له ماڅخه ورسته حدیث تاسوته زیات راځي که تاسوته زماحدیث روایت کړسی تاسو هغه له کتاب الله سره وګورئ که ورسره موافق وؤ قبول ئې کړئ او که مخالف وؤ ایله ئې کړئ

تشریح : مصنف رح فرمائي چې د راویانو د حالت د اختلاف په وجه موږ وایو چې په خبر واحد باندې د عمل لپاره شرط داده چې له قرآن څخه اوله سنت مشهوره اوله ظاهر څخه به مخالف نه وي که دا شرطونه موجود نه وؤ په هغه صورت کې په دغه حدیث سره عمل نه کیږي او دا شرط ځکه غواړي چې آنحضرت ﷺ فرمائی چې زما له وفات ورسته تاسوته ډیر احادیث راځي که ئې تاسوته حدیث بیان کړ ماته ئې منسوب کړ تاسو هغه حدیث پر کتاب الله باندې عرض کړئ که له کتاب الله سره موافق وؤ بیائې قبول کړئ او که موافق نه وؤ ردئې کړئ ددې حدیث له عبارت څخه دا ثابته شوه چې خبر واحد له کتاب الله څخه مخالف نه وي لیکن له دلالت النص څخه ئې دا هم ثابته شوه چې د خبر مشهور ظاهر څخه هم مخالف نه وي.

وَتحقیقُ ذَالکَ فیمَا رُوِیَ عن عَلیٍّ رضی اللّٰه عنه بن اَبی طَالب اَنَّهُ قَالَ کَانَت الرُّوَاةُ عَلی ثَلاثة اَقسَام مُؤمنٌ مُخلصٌ صَحبَ رَسُولَ اللّٰه صلی علیه وسلم وَعَرَفَ مَعنی کَلامه وَاَعرابیٌ جَاءَ من قَبیلَة فَسَمعَ بَعضَ مَا سَمعَ وَلَم یَعرف حَقیقةَ کَلام رَسُول اللّٰه صلی علیه وسلم فَرَجَعَ الی قَبیلَة فَرَوی بغَیر لَفظ رَسُول اللّٰه صلی علیه وسلم فَتَغَیَّرَ المَعنی وَهُوَ یَظُنُّ اَنّ المَعنی لایَتَفَاوَتُ وَمُنَافقٌ لَم یُعرَفَ نفَاقُهُ فَرَوی مَا لَم یَسمَع وَافتری فَسَمع منهُ اُنَاسٌ فَظَنُّوهُ مُؤمناً مُخلصاً فَرَوَوا ذَالک وَاشتَهَرَ بَینَ النَّاسِ فَلهٰذَا المعنی وَجَبَ عرضُ الخَبَر عَلَی الکتَاب وَالسُّنَّة المَشهُورَة .

ترجمه : او ددې خبرې تحقیق په هغه حدیث کې ده چې روایت ئې له حضرت علي رض بن طالب څخه شوی ده دی فرمائی چې راویان درې قسمه دي یو هغه مؤمن مخلص ده چې د نبی کریم ﷺ صحبت ورته حاصل شوی وي او د نبی کریم ﷺ د کلام معنی ئي پیژندلی وي او هغه اعرابی چې له یو قبیلې څخه راشي او د نبی کریم ﷺ بعض کلام واوري او د کلام په حقیقت باندې پوه نشي او بیرته خپلې قبیلې ته ولاړشي ددې حدیث روایت بغیر له الفاظ د نبی کریم ﷺ وکړي نو معنی بدله شوه او دده خیال دا وي چې معنی متفاوته نه ده او هغه منافق چې نفاق ئې معلوم نه وي یوه خبره روایت کړي چې ده نه وي اوریدلی دروغ ووائي او له ده څخه ئې خلک واوري او دوی دا ګمان وکړي چې دی

مؤمن مخلص ده دوی هم ددی روایت وکړی او دخلکو په مینځ کی مشهوره کړی له دی وجه دخبر عرض قول په کتاب الله باندی او پر سنت مشهور باندی واجب ده.

تشریح: مصنف رحمه الله فرمائی وړاندی چی موږ وویل چی دراویانو داختلاف په وجه بعض روایات مقبول دی او بعض غیر مقبول دی ددی پیژندلولپاره باید خبرپرکتاب الله باندی عرض کړ شی ددی خبری ثبوت داده چی حضرت علی کریم الله وجهه فرمائی راویان دری قسمه دی یوقسم راوی هغه ده چی خالص اومخلص مؤمن وی اودآنحضرت ﷺ صحبت ورته حاصل شوی وی اودنبی کریم ﷺ دکلام په معنی اومفهوم باندی دپوه کیدلو صلاحیت لری دوهم قسم هغه اعرابی ده چی له یو قبیلی څخه ودربار رسالت ته راشی دنبی کریم ﷺ کلام بعض واوری اوبعض نه واوری اودهغه کلام په معنی باندی هم پوه نه وی اوبیابیرته دخپلی قبیلی طرفته ولاړشی اوهلته دغه حدیث په خپلو الفاظوکی روایت کړی اودنبی کریم ﷺ دکلام مفهوم بدل کړی یعنی صحیح مفهوم اداء نه کړی اودی داخیال کوی چی دکلام مفهوم متغیر شوی نه ده دریم قسم هغه منافق ده چی نفاق ئی معلوم اومشهورنه وی بی له څه اوریدولو په درغوسره حدیث روایت کړی اوخلک له ده څخه داحدیث واوری اوددوی داخیال وی چی دامخلص مؤمن ده ددی خیال په وجه داحدیث نورته ورسوی اوحدیث په خلکوکی مشهور شی اوپه دی درو اقساموکی داول راوی روایت حجت اوباقی دوؤ رآویانو حجت نه ده. لهذا دراویانوداختلاف په وجه باندی خبرواحد پر کتاب الله اوسنت مشهور باندی عرضول واجب ده.

وَنَظِيرُ الارض عَلَى الكتَاب فِي حديث مَسِّ الذكَرِ فِيمَا يُروى عَنْهُ عَلَيه السّلام مَسَّ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوضّا فَعَرَضْنَاهُ عَلَى الكتَاب فَخرَجَ مُخَالفاً لقوله تَعالى فِيه رِجَالٌ يُحِبُّونَ اَن يَتَطَهَّرُو فَانَّهُم كَانُو يَستَنجُونَ بَاالأحجَارِ ثُمَّ يغلسُونَ بِالمَاء وَلَو كَانَ مَسُّ الذكَرِ حَدَثاً لكَانَ هَذَا تَنجيساً لاتَطهيراً عَلى الاطلاق وكَذَالكع قَولُهُ عَلَيه السّلام اَيّمَا امراة نَكَحَت نَفسَهَا بغير اذن وَلِيّهَا فَنكَاحُهَا بَاطلٌ بَاطلٌ خَرجَ مُخَالفاً لقوله تَعَالى فَلاتَعضُلُوهُنّ اَن يَنكحن اَزوَجهُنّ فَانّ الكتَابَ يُوجبُ تَحقيقَ النّكَاح منهُنَّ.

ترجمه: اوپرکتاب الله باندی دعرض کړشوی خبرمثال هغه حدیث ده چی دنبی کریم ﷺ څخه دمسح ذکر په باره کی مروی ده؛ څوک چی خپل ذکر مسح کړی هغه دی اودس وکړی؛ موږ چی داحدیث په کتاب الله باندی عرض کړو، دالله تعالی له دی قول فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا مخالف ده ځکه هغوخلکو یوځل په ډبره سره استنجاء وهله اودوهم ځل ئی په اوبو سره وهله نوکه مسه دذکر حدث وای باید په اوبو سره استنجاء تنجیس وائی تتطهر نه وائي اوهمدارنګه حضور ﷺ فرمائی څوک چی بغیر داجازی دولی نکاح وکړی نکاح ئی باطله ده باطله ده؛ داحدیث دالله تعالی له دی قول فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ مخالف ده له دی وجه چی کتاب هغه نکاح واجب کړه چی ښځو کړی وی.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی هغه خبرواحد چی پرکتاب الله باندی عرض شوی وی دهغه مثال داد چی آنحضرت ﷺ فرمائی من مس ذکرہ فلیتوضا موږچی داحدیث پردی آیت فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا باندی عرض کړو دآیت مخالف ده ځکه آیت دهل قباء په باره کی نازل ده شان نزول ئی داده چی اهل قباء یوځل په ډېره سره استنجاء وهله اودوهم ځل ئی په اوبو سره استنجاء وهله که دالله تعالی ﷻ د دوی داعمل خوښ شواودوی تعریف ئی وکړ نوچی دالله تعالی ﷻ استنجاء باالماء خوښه شوه اوستنجاء باالماء بغیرله مس دذکر ممکن نه ده اوپه حدیث کی ذکر شول چی مسح دذکر حدث ده اوناقص دوضوء ده نودحدیث اوکتاب الله مقتضی مختلفه شوه دحدیث مقتضی داده چی مس دذکرحدث ده اوناقص دوضوء ده اودکتاب الله په مذکوره آیت کی چونکه استنجاء باالماء غوره کړشوی ده داددی تقاضی کوی چی مس دذکر حدث اوناقض وضوء نه ده ځکه که مس دذکر حدث وای نواستنجاء باالماء باید تتطهر نه وای ځکه بغیر له مس دذکر استنجاء باالماء ممکنه نه ده اوحال داده چی استنجاء باالماء تتطهر په آیت سره ثابت شو لهذا احناف په دی حدیث سره دآیت دمخالفت په وجه عمل نه کوی .

مصنف رحمه الله دوهم مثال دابیانوی چی داحدیث ایما امرأة نکحت نفسها بغیر اذن ولیها فنکاحها باطل باطل باطل پردی باندی دلالت کوی چی ښځو لره دنکاح کولو اختیارنشته داحدیث چی موږعرض کړو پرکتاب الله باندی ددی آیت فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ مخالف ده ځکه دا آیت پر دی باندی دلالت کوی چی ښځه په مسئله دنکاح خودمختاره دی دولی اجازی ته احتیاج نه لری او مذکوره حدیث چونکه له آیت څخه مخالف ده په دی وجه احناف په دی حدیث باندی عمل نه کوی لهذا داحناف په نزد دښځی نکاح منعقده ده که څه هم شوافع ئی منعقده نه بولی.

وَمِثَالُ الْعرضِ عَلَى الْخَبَرِ الْمَشْهُورِ رِوَايَةُ الْقَضَاءِ بِشَاهِدٍ وَيَمِينٍ فَإِنَّهُ خَرَجَ مُخَالِفًا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ .

ترجمه : اوپرخبرمشهور باندی دخبر واحد دعرض کولومثال په یوه شاهداوقسم باندی دفیصلی ورکول حدیث ده ځکه دآنحضرت ﷺ دارشاد البینه علی المدعی والیمین علی من انکر مخالف ده .

تشریح : مصنف رحمه الله وائی پرخبر مشهور باندی دخبرواحد دعرض مثال دابوهریره رضی الله عنه داحدیث ده ان النبی صلی الله علیه وسلم قضی بشاهد ویمین نبی کریم ﷺ دیوه شاهد په شاهدی اوپه یمین سره فیصله وکړه داحدیث مخالف ده دخبر مشهور څخه دابن عباس رضی الله عنهما روایت ده البینه علی المدعی والیمین علی من انکر صورت دمسئلی داده که یوشخص پربل شخص باندی دمال دعوه وکړی اوهغه دخپلی دعوی لپاره صرف یو شاهد پیش کړی اوحال داده چی نصاب دشاهدانودوه دی ایا په دی صورت کی له مدعی څخه دقسم غوښتنه اوبیا پرهغه باندی دفیصلی اجازه شته اوکه نه ؟

بعض دی ته اجازه ورکوی او دلیل دابو هریره رضی الله عنه مذکور حدیث وړاندی کوی لیکن جمهور اجازه نه ورکوی دلیل ئي دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما مشهور حدیث ده په دی طریقه چی په حدیث کی دبینه اویمین ، مدعی او ،منکر په مینځ کی تقسیم کوی په دی طریقه چی بینه پرمدعی لازم دی اویمین پرمنکر لازم ده نوکه مدعی ته له یوه شاهدسره دقسم اخستلو اجازه ورکړشی بیا دی شرکت ده اوحال داده چی شرکت منافی له تقسیم سره ده له دی وجه جمهور وائی چی له مدعی سره دیوشاهد اودقسم اخستلو اجازه نشته ته فکر وکړه چی خبر واحد داتقاضی کوی چی له مد عی له یوه شاهد سره دقسم اخستلو اجازه شته اوخبرمشهور داتقاضی کوی چی نشته نوخبرواحد چونکه مخالف له خبر مشهورڅخه ده په دی وجه خبرواحد پریښودل کیږی اوپه مشهورسره عمل کول کیږی.

وَبَاعتبَارِهذَ المَعنی قُلنَا خَبَرَ الوَاحِد اذَا خَرَجَ مُخَالفًا للظَّاهِرِ لاَیُعمَلُ بِه وَمن صُوَرِ مُخَالفَة الظَّاهِر عَدَمُ اشتهَارِ الخَبَرِ فیمَا یَعُمُّ به البَلوَیٰ فی فِي الصَّدرِ الاَوَّلِ وَالثَّانی لاَنَّهُم لاَیُتَّهَمُونَ بالتَّقصِیرِ فِی مُتَابَعَة السُّنَّةَ فَاذَا لَم یَشتَهِرِ الخَبَرُ مَعَ شِدَّةَ الحَاجَة وَعُمُوم البَلوَی کَانَ ذَالکَ عَلاَمَةُ صحَّته .

ترجمه : اوددی معنی په اعتبار موږ وایو چی که خبر واحد مخالف دظاهرڅخه شو نوپه خبرواحد سره عمل نه کول کیږی له ظاهر دمخالفت صورتویو عدم شهرت دخبر واحد ده په هغه مسئله کی چی عموم بلوی پکښې وی دصحابه اوتابعین په دور کښې ځکه دوی دحدیث په متابعت کی په کوتاهی کولو سره متهم نه دی نوچی دشدت حاجت اوعموم بلوی سره سره مشهورنه وی دادده دعدم صحت علامه ده.

تشریح : مصنف رحمه الله فرمائی دراویانو داحوالو داختلاف په وجه موږ وایو که خبرواحد مخالف دظاهر وؤ په دی صورت کی په خبرواحد عمل نه کول کیږی مثلاً صحابی که دخپل روایت کړشوی حدیث خلاف عمل کاوؤ دغه حدیث دظاهر دمخالفت په وجه متروک العمله ده ځکه صحابه چی دخپل روایت کړشوی حدیث خلاف عمل کوی یاخوله دی وجه چی دخپل حدیث په نسخه علم شوی ده اویاهغه وخت چی هیر ئي وی اویادغفلت په وجه اویاقصداً داسی کوی په اول صورت کی له دی وجه عمل نه په کیږی ځکه چی په حدیث منسوخ باندی عمل کول حرام ده په دوهم اودریم صورت کی له دی وجه عمل نه په کول کیږی ځکه دمغفل اوناسی روایت ساقط ده اوپه څلورم صورت کی له دی وجه عمل نه په کیږی ځکه چی قصداً حدیث خلاف عمل کولو باندی راوی فاسق ده دفاسق روایت مردود ده لهذا دغه حدیث مردود ده مثلاً داحدیث ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یرفع یدیه عند الرکوع وعند الراس من الرکوع له ابن عمر رضی الله عنه څخه مروی ده اوله مجاهد څخه په طریقه دصحت ثابته ده چی دی وائی ماخو کاله له ابن عمر رضی الله عنه سره تیرکړل لیکن ابن عمر رضی الله عنه بغیرله تکبیر تحریمه یوځای هم لاس نه پورته کول نودمجاهد له دی مشاهدی څخه داثابته شوه چی ابن عمر رضی الله عنه په خپل مروی روایت باندی عمل نه کاوؤ لهذا دابن عمر رضی الله عنه داروایت متروک ده.

اوهمدارنګه حضرت عائشی رضی روایت ده ان النبی صلی علیه وسلم قال ایما امرأة نکحت بغیر اذن ولیها فنکاحها باطل باطل باطل اوبیا پخپله بی بی عائشی رضی دعبدالرحمن ابن ابی بکر رضی دلورنکاح هغه وخت وکړه چی عبدالرحمن موجودنه وؤ اوحال داده چی دی دخپلی لور ولی ده نوبی بی عائشی رضی دخپل مروی حدیث خلاف عمل وکړلهذا ددی مبارکی داحدیث هم متروک العمله ده. اوهمدارنګه دابوهریره رضی روایت ده ان النبی صلی علیه وسلم قال اذاشرب الکلب فی اناء احدکم فلیغسله سبعا اخرها بالتراب اوبیا درسول الله ﷺ له وفاته ورسته ابوهریره رضی په دری خله پریولوسره فتوی ورکوله اوفتوی داسی ده لکه عمل کول ګواکی ابوهریره رضی دخپل مروی خلاف عمل کاوؤ نوچی ابوهریره رضی دخپل مروی خلاف عمل کاوی لهذا دده دغه حدیث متروک العمله ده

مصنف رح وائي دخبرواحددمخالفت له ظاهره څخه یوصورت داده چی په خبرواحدسره داسی حکم بیان کړشی چی په هغه سره عام خلک مبتلاوی اوپه هغه پوری دعاموخلکو ضرویات مربوط وی مګر ددی باوجود دغه حدیث دصحابه کراموتابعین په دور کښی مشهور نه وی دا ددی علامه ده چی دغه خبره صحح نه ده څکه که صحح وای نوبایددعموم بلوی اوشدت حاجت په وجه په زمانه دصحابه کراموتابعین کی ضرور مشهورشوی وای څکه پرصحابه کراموباندی داخیال نشی کیدای چی دوی دی په سنت نبوی کی کوتاهی کړی وای.

وَمِثَالُهُ فِی الحُکمِیَّاتِ اِذَا اَخبَرَ وَاحِدٌ اَنَّ اَمرَاَتَهُ حَرُمَت عَلَیهِ بِالرِّضَاعِ الطَّارِی جَازَ اَن یَعتَمِدَ عَلٰی خَبَرِہ وَیَتَزَوَّجَ اُختَهَا وَلَو اَخبَرَهُ اَنَّ العَقدَ کَانَ بَاطِلاً بِحُکمِ الرِّضَاعِ لَایُقبَلُ خَبَرُهُ کَذَالِکَ اِذَا اُخبِرَتِ المَرأَةُ بِمَوتِ زَوجِهَا اَوطَلَاقِه اِیَّاهَا وَهُوَ غَائِبٌ جَازَ اَن تَعتَمِدَ عَلٰی خَبَرِہ وَتَتَزَوَّجَ بِغَیرِہ وَلَو اشتَبَهَت عَلَیهِ القِبلَةُ فَاَخبَرَهُ وَاحِدٌ عَنهَا وَجَبَ العَمَلُ بِهِ وَلَووَجَدَ مَاءً لَایَعلَمُ حَالَهُ فَاَخبَرَهُ وَاحِدٌ عَنِ النَّجَاسَةِ لَا یَتَوَضَّأُ بِهِ بَل تَیَمَّمَ.

ترجمه: ددی مثال په احکامو دشرعی کی داده چی یوڅوک خبرورکړی چی دده ښځه پرده باندی حرامه ده درضاعت طهاریه په وجه حرامه ده پردی خبرباندی اعتمادکول جائز ده اوددی ښځی له خور سره نکاح کول جائزده اوکه ئی خبر ورکړی چی درضاع په وجه سره عقدنکاح باطله ده داخبرمقبول نه ده اوکه ښځی ته خبرورکړشو په مرګ دخپل خاوند سره اویادخاوند دطلاق چی دی ته ئی ورکړی ده اوحال داوؤ چی خاوند غائب وؤ نودی لره جائز ده چی دده په خبر باندی اعتماد وکړی اوله ده څخه علاوه له غیر سره نکاح وکړی اوکه پریوچاه باندی قبله شکمنه شوه اوبیا ده ته یوچاه دقبلی په باره کی خبر ورکړی پر ده باندی عمل کول واجب ده اوکه یوچاه داسی اوبه پیداکړی چی دهغو حال معلوم نه وؤ اوبیایوچاه دهغونجاست خبر ورکړی بیادی په دغوابوسره اودس نه کوی بلکه تیمم دی ووهی.

تشریح: مصنف رح وائی چی که خبرواحد معارض دظاهر وؤ په هغه صورت کی خبرواحد مردود ده ددی مثال په احکام شرعیه وؤ کی داده که یو شخص له کوچنی انجلی سره نکاح وکړه له دی ورسته دغی انجلی دده دمور تی ورودی ددی واقعی خبر دته یو ثقه سړی ورکړی چی ستاښځی ستادمور تی ورودی په دی صورت کی خاوندلره جائزده چی ددی شخص په قول باندی اعتماد وکړی اوداورته جائزده چی ددی له خورسره نکاح وکړی ځکه داخبر مخالف دظاهر نه ده لهذا داخبر مردود نه ده بلکه مقبول ده دغه قسم رضاعت ته طاریه وائی یعنی هغه رضاعت چی له نکاح ورسته موجود شی هغه ته رضاعت طایه وائی.

اوکه یوشخص ده ته خبرورکړی چی ستانکاح باطله ده ځکه ترنکاح وړاندی ستا دغی ښځی ستا دمور تی رودلی ده په دی صورت کی دخبر ورکونکی داخبرمقبول نه ده لهذا نکاح باطله نه ده چی نکاح باطله نه شوه نو خاوند لره ددی له خورسره نکاح کول جائز نه ده اوداخبرله دی وجه مقبول نه ده چی مخالف له ظاهره ځخه ده ځکه نکاح چی کله وشی هغه دډیروخلکو په مینځ کی مشهوره کیږی نوکه رضاعت موجود وای یابه دښځی اوخاوندله قریبانوځخه یوه داخبرورکړی وای اویابه دنکاح شاهدانو یوه نه یوه به خبر ورکړی وای نوچی دنکاح په وخت کښی یوه هم داخبره ښکاره نه کړه لهذا داخبرمخالف له ظاهرده اوخبرچی مخلف له ظاهره ځخه وی هغه مردود ده نوداخبرهم مردود ده اونکاح باقی ده.

اوهمدارنګه که ښځی ته خبرورکړشو دخاوند دمرګ اویا ددی چی ته ئی طلاقه کړی ئی اوحال داوؤ چی خاوند حاضرنه وؤ نوداخبرچونکه مخالف له ظاهره نه ده له دی وجه داخبرمقبول ده یعنی ښځی لره داجائزده چی په دی خبرسره اعتماد وکړی اوله عدت ځخه ورسته له بل خاوند سره نکاح وکړی اوکه پرلمونځ کونکی باندی قبله مشتبه شوه اویوچاورته وویل چی قبله هغه طرف ته ده لمونځ کونکی لره په دی خبرباندی عمل کول واجب ده ځکه داخبر مخالف له ظاهر ځخه نه ده.

اوهمدارنګه که یوشخص اوبه پیداکړی اوده ته دامعلومه نه وه چی پاکی دی اوکه ناپاکی په دی حال کی بل سړی ورته وویل چی ناپاکی دی داخبر چونکه مخالف له ظاهر نه ده له دی وجه ځخه داخبر مقبول ده دی شخص لره اودس کول جائز نه ده بلکه تیمم به وهی.

فَصلٌ خَبَرُ الوَاحد حُجَّةٌ

فَصلٌ خَبَرُ الوَاحد حُجَّةٌ في اَربَعَة مَوَاضع خَالصُ حَقّ الله تَعالى مَا لَيس بعُقُوبَة وَخَالصُ حَقّ العَبد مَافيه الزَامٌ مَحضٌ وَخَالصُ حَقّه مَالَيس فيه الزَامٌ خَالصُ حَقّه مَافيه الزَامٌ من وَجه اَمَّا الاَوّلُ فيُقبَلُ فيه خَبَرُالوَاحد فَانَّ رَسُول الله صلى عليه وسلم قَبلَ شَهَادَةَ الاَعرَابىّ فى هلَال رَمَضَان وَاَمَّا الثّانىُ فَيُشتَرَطُ فيه العَدَدَ وَلعَدَالَةُ وَنَظيرُهُ المُنَازعَاتُ وَاَمّا الثَالثُ فَيُقبَلُ فيه خَبَرُ الوَاحد عَدلاً كَانَ اَو فَاسقاً

وَنَظِيرُهُ الْمُعَامَلَاتُ وَاَمَّا الرَّبِعُ فَيُشْتَرَطُ فِيهِ اِمَّا الْعَدَدُ اَوِ الْعَدَالَةُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله وَنَظِيرُهُ الْعَزْلُ وَالْحَجَرُ.

ترجمه: خبرواحد په څلورو ځایو کی حجت ده اول په هغه کی چی خالص حق دالله ﷻ وی او عقوبت نه وی او بل هغه چی خالص حق دعبد وی او په هغه کښې محض الزام وی او بل هغه چی خالص حق دعبد وی الزام نه وی پکښې او بل هغه چی خالص حق دالله ﷻ وی او په هغه کښې من وجه الزام وی بهر حال په اول کی له دی وجه خبرواحد مقبول ده چی نبی کریم ﷺ دروژی دمیاشتی په سلسله کی دیوه اعرابی شاهدی قبوله کړه او په دوهم کی له دی وجه چی په هغه کی عدد او عدالت شرط ده مثال ئی زمونږ خپل مینځی جګړی دی او په ثالث کی خبر واحد مقبول ده که عادل وی او که فاسق وی نظیرئی معاملات دی او په څلورم کی دامام صاحب په نزد دعدد اوعدالت شرط ده نظیرئي دوکیل معزولول ده او دغلام منع کول ده.

تشریح: مصنف رح فرمائی چی خبرواحد په څلورو ځایو کی حجت ده لیکن له خبر څخه مراد حقیقی خبرواحد نه ده بلکه خبرواحد شرعی ده شرعی خبرواحد هغه ته وائی چی دشهرت اوتواتر حد ته نه وی رسیدلی لهذا ددوؤ شاهدانو شاهدی هم په خبر واحد کی داخل ده حاصل داده چی خبرواحد په څلورو ځایو کی حجت ده (۱) په هغه ځای کی چی خالص دالله ﷻ حق وی او هغه هم له حدودو اوعقوباتو څخه نه وی ځکه که دحدود اوعقوبات له قبیله وی بیا دامام کرخی رح اوفخر الاسلا اودماتن رح په نزد داخبرواحد مقبول نه ده ځکه چی حدود په شبهاتو سره ساقطیږی نوچونکه په خبرواحد کښې هم یو نوع شبه شته لهذا په وخبرواحد سره دحدودِ اثبات کول جائز نه ده لکه څنګه چی ئی اثبات په قیاس سره جائز نه ده.

سوال: دوه یا څلور شاهدان دخبرواحد له قسمه دی لکه مخکی چی تاسو اشاره ورته وکړه نو باید په دوی سره اثبات دحد ونشی او حال داده چی په ده سره اثبات دزنا وغیره کیدای شی.

جواب: داده چی دحدودو اثبات په شاهدانو سره ددی نص فاستشهدوا علیهن اربعه په وجه خلاف القیاس ده لهذا په دی سره سوال نه واردیږی.

حاصل داده چی له هغو ځایو څخه چی هلته خبرواحد حجت وی اول ځای هغه ده چی صرف حق دالله وی اودحدودِ اوعقوبات له قبیله څخه نه وی .(۲) دوهم ځای هغه ده چی صرف حق دبنده وی اوالزام پکښې وی (۳) هغه ده چی دبنده داسی حق وی چی الزام نه وی پکښې (۴) هغه ده چی دبنده داسی حق وی چی په هغه کښې من وجه الزام وی.مصنف رح وائی داول ځای چی صرف حق دالله ﷻ وی بغیر له حدود مثال ئی لمونځ ، روژه ، وضوء عشر ،صدقه ، الفطر وغیره په دی ټولو کی خبرواحد حجت ده دلیل ئی داده چی نبی کریم ﷺ د روژی دمیاشتی په سلسله کی دیوه اعرابی شاهدی قبوله کړه اوصرف دده په شاهدی باندی ئی دمیاشتی دلیدلو حکم وکړی نو که خبرواحد

حجت نه وای بیا نبی کریم ﷺ دیوه شاهد په شاهدی سره دمیاشتی دلید لوحکم نه ورکوی لهذا دده حکم ورکول ددی دلیل ده چی له حدود څخه بغیر په نورو هغوشیانو کی چی صرف حق دالله ﷻ وی په هغه کښی خبر واحد حجت ده اودوهم چی صرف دبنده حق وی اوپر دوهم باندی من کل وجه الزام وی په دی کی دخبر واحد دحجتیت لپاره دوه شرطونه دی (۱) عدد یعنی لږترلږ دوه نفر به وی (۲) عدالت ده داول شرط لپاره دلیل داقول د الله ﷻ وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ ده اوددوهم شرط لپاره دلیل داقول دالله ﷻ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنكُمْ ده حاصل داده چی دبنده هغه حق چی په هغه کښی پردویم شخص باندی محض الزام وی په دی کښی دخبرواحد دحجتیت لپاره دوه شرطه دی اول عدد دوهم عدالت مثال ئی منازعات دی مثلاً لکه یوشخص پربل باندی دعوه وکړی چی زما پرده زر روپی باندی دی په دی صورت کی مدعی لره دخپلی دعوی دثبوت لپاره دوه شاهدان عادلان وړاندی کول ضروری دی اودریم ځای چی حق دبنده بغیر له الزام څخه وی په دی کښی دخبر واحد دقبول لپاره خبرورکونکی عام ده خواه که عادل وی اوکه فاسق وی بلکه کافروی اوکه مسلمان کوچنی هلک وی اوکه بالغ هلک وی ددی مثال هغه معاملی دی چی خلک ئی کوی لیکن په هغوکښی پرچاه باندی الزام نه وی مثلاً یوشخص خبردرکړی چی زیدبکر وکیل کړ اویاداسی ووائی چی خپل غلام ته دتجارت کولو اجازه وکړه په دی صورت کی که خبرورکونکی عادل وی اوکه غیرعادل وی غلام اووکیل لره دکار کولو اجازه ثابته ده ددی خبری دلیل داده چی آنحضرت ﷺ دعادل اوفاسق دواړو هدیه قبله کړی ده یعنی که به عادل داخبر ورکړی چی داهدیه ده قبلوله به ئی اوکه به فاسق خبرورکړی هم به ئی قبلوله .اوڅلورم ځای هغه چی صرف حق بنده وی اوپه هغه کښی من وجه الزام وی اومن وجه نه وی په دی ځای کی دحضرت امام ابوحینفه رح په نزد له عدد اوعدالت څخه دیوه وجودضروری ده دلیل داده چی که محض الزام وای بیاعدد اوعدالت دواړه ضروری وؤ اوکه الزام بالکل نه وای بیانه عدد ضروری وؤ اونه عدالت نوچونکه دلته من وجه الزام شته اومن وجه نشته له دی وجه دلته له عدالت اوعدد څخه یوضروری ده دواړه ضروری نه دی ددی نظیر عدل اوحجرده یعنی که دوه مستورالحاله نفراویایوعادل شخص وکیل ته خبر ورکړی چی تاته ستامولی دتجارت کولواجازه وکړه داخبرمقبول ده یعنی ددی خبر په ذریعه وکیل معزول ګرزی اوغلام ماذون فی التجارت ده .اوپه دی دواړو کی من وجه الزام داده چی له عزل اوحجرورسته دموکل اومولی په حق کښی ددوی تعرف باطل ده اوکه تصرف وکړی دهغه ذمه وار موکل نه دی اوعدم الزام داده موکل چی کله دی وکیل جوړکړی دائی تصرف په خپل حق کی وکی اوهمدارنګه عزل کول ئی هم تصرف په خپل حق کی ده اومولی چی کله غلام ته اجازه دتجارت وکړه دائی تصرف په خپل حق کی ده اومنع کول له تجارت څخه هم تصرف په خپل حق کی ده اوپه خپل حق کی په تصرف کولو سره پریوچاهم الزام نشته.

البحث الثالث فی الاجماع

تشریح: کله چې مصنف رحمه الله له بحث د سنت څخه فارغه شو شروع ئې وکړه په بحث د اجماع.
اجماع په لغت کښې پردوې معنی باندې راځي اول په معنی د عزم اوکلکې ایرادې سره دوهم په معنی د اتفاق سره د اول مثال لکه اجمع فلان علی کذا فلان د دې کار اراده وکړه اوددوهم مثال فاجمعوا امرکم تاسو په اتفاق سره د خپل کار اراده وکړې.
دمذکوره دوؤ معنی وؤ په مینځ کښې فرق داده چې اجماع په معنی اوله سره یوه شخص ته منسوبیږې او په دوهمه معنی سره دوه اوزیات تردوؤ ته منسوبیږي اوپه اصطلاق د شرعي کښې اجماع د یو مخصوص اتفاق نوم ده هغه داچې دنبی کریم ﷺ دامت صالح مجتهدین پریوشی باندې اتفاق شی.
اوپه تعریف د اجماع کښې له اتفاق څخه اشتراک مراد ده اشتراک قول ، اوفعل ، اواعتقاد ، درې سره وؤ ته شامل ده یعنی دامت دصالح مجتهدینو په یوفعل کې اشتراک اویاپه یوقول کې اشتراک اویاپه یو اعتقاد کې اشتراک ټولو ته اجماع ویل کیږي لیکن اول ته اجماع فعلي او دوهم ته اجماع قولي اودریم ته اجماع اعتقادي ویل کیږي مثلاً یوشی له قبیله دفعل وي اوپرهغه باندې په یوه زمانه کې تمام مجتهدین جمع او اتفاق شی اودې ته اجماع فعلي ویل کیږي لکه مضاربت اوشرکت چې دواړه ثابت په اجماع سره دي.
اویایوشی له قبیله دقول وي مجتهدین پرهغه باندې اتفاق شی اودا ووائی اجمعنا علی هذا دې ته اجماع قولي ویل کیږي.
اویایوشی له قبیله داعتقاد وي اوپرهغه باندې مجتهدین دامت اتفاق شی هغه ته اجماع اعتقادي ویل کیږي دشیخین (ابوبکرعمر) پرفضیلت چې دټولو مجتهدینو اتفاق ده.
اوکه داسې فعل یاقول یااعتقاد وؤ پرهغه باندې بعض مجتهدین متفق وؤ اوبعض پرهغه باندې سکوت کړې وؤ اوحال داوؤ چې دغوراوفکر وخت تیروؤ اودوې دا رد کړې نه ؤ دې ته اجماع سکوتي ویل کیږي ددې قسم اجماع په وجود باندې احناف قائل دي لیکن شوافع ددې قائل نه دي داجماع په حجتیت کښې اختلاف ده نظام معتزلي اوخوارج اوروافض وائي چې اجماع حجت نه ده او وائي چې وقوع داجماع محاله ده.
اوجمهورمسلمانان وائي چې اجماع شته .منکرین دا دلیل وائي چې په یوه زمانه کې دټولو مجتهدینو داقوالوضبط کول ممکنه نه ده ځکه ددوی تعداد (شمیر) هم ډیر ده اوښارونه اوکورونه ئې هم لرې مختلف دي لهذا دشمیر دزیاتوالي په وجه دښارونواوکورنود لرې والي په وجه ددوی داقوالو راټولول ګران کار ده په دې وجه نوپر یووخت باندې دټول امت

دمجتهدينو داقوالو پيژندنه هم معتذره ده نوچې کله دټولو مجتهدينو داقوالو پيژندنه معتذره ده لهذا پريوشي باندې دټولو مجتهدينو اجماع ممکنه نه ده اودجمهورو دليل داقول دالله ﷻ ده وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا اوځوک چې مخالفت وکړي له رسول څخه ورسته له دې چې ده ته حق لاره ښکاره شي اودټولو مسلمانانو دلارې خلاف لارغوره کړه موږبه دې حواله کړوهغه طرفته چې ده اختيار کړې ده او دوزخ ته به ئې واچوو اوداډيره بده مرجع ده.

له دې آيت څخه داستدلال طريقه داده چې دلته الله ﷻ درسول اومؤمنانو په مخالفت باندې دوعيد بيان کړې اوپرکوم شي چې دوعيد بيان وشي هغه حرام ده لهذا درسول اودمؤمنانومخالفت کول حرام ده نوکله چې دوی حرام شول نوددوی اضداد (مقابل) چې موافقت درسول اودمؤمنانوده واجب ده حاصل داده چې له دې آيت څخه داثابته شوه چې دمؤمنانودلارې اتباع کول واجب ده اودمسلمانانو اختيار کړشوې لاره نه ده بلکه اجماع ده لهذا داجماع اتباع واجب ده اوداجماع له وجوب سره داجماع حجتيت هم ثابت شو.

دوهم دليل داقول دالله ﷻ ده وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا داستدلال طريقه داده چې په دې آيت کې الله ﷻ له تفرق څخه منع وکړه اوتفرق داجماع دخلاف نوم ده لهذا داجماع مخالفت منهي عنه ده چې داجماع مخالفت منهي عنه شو نواجماع مامور به ده اوواجب الاتباع ده لهذا اجماع حجت شرعي ده اوداخبره په احاديثو هم ثابته ده چې اجماع حجت شرعي ده.

(۱) اول لايجتمع أمتي على الضلالة زماامت پرضلالت باندې نه جمع کيږي.

(۲) دوهم لم يكن الله ليجمع امتي على الضلالة الله ﷻ زماامت پرضلالت باندې نه جمع کوي.

(۳) مارآه المؤمنون حسناً فهو عندالله حسن کوم شي چې مسلمانان حسن وګڼي هغه په نزد دخدای ﷻ حسن ده .(۴) عليكم بالسواد الاعظم سود اعظم يعنې اکثريت اتباع کوی (۵) يدالله على الجماعة الله ﷻ دجماع مرسته کوي (۶) عن معاذ ابن جبل رضي قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان الشيطان ذئب الانسان كذئب الغنم يأخذ الشاة القاصية والناحية وإياكم والشعاب وعليكم بالجماعة .

(۷) من خرج من الجماعة قدر شبر فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه داټول احاديث پردې باندې دلالت کوي چې دامت په اجتماعي طريقه له ګناه معصوم ده يعنې ټول امت پرخطاء اوضلالت باندې نه جمع کيږي لهذا داثابته شوه چې اجماع دامت حجت شرعي ده اومنل ئې ضروري ده .

اوپه دليل عقلي سره هم داجماع حجتيت ثابت ده په دې طريقه چې نبي کريم ﷺ خاتم الانبياء ده اوشريعت ئې قائم اودائم ده اوکه داسې واقعه پيښه شي چې دهغې په باره کښې قطعي نص نه وي اوپرهغه باندې اجماع دامت منعقده شي نوکه دااجماع قطعيت اويقين فائده نه کړي نوبياخوله

ا دی ځخه حق خارج شو اودامت افراد په ګناه کی شکیل شو اودانه ده بلکه انقطاع دشریعت دنبی کریم ﷺ ده یعنی دنبی کریم ﷺ شریعت منقطع شومکمل شریعت باقی نه شوپاته اوحال داده چی داخبره له اخبار دشرع مخالفه ده لهذا دنبی کریم ﷺ دشریعت دبقاء اودوام لپاره ددی ضرورت ده چی اجماع دامت قطعی دلیل شی.

اودمنکرینو دلیل ظاهر ابطال ده ځکه که جدوجهد(کوشش) وکړشی دیوی زمانی دعلماء داقوالو معرفت ممکنه ده (مأخوذ ازفیض سبحانی ج۲)

فَصلٌ اجماعُ هذه الأُمّة

فَصلٌ اجماعُ هذه الأُمّة بَعدَ مَا تَوفّی رَسُول الله صلی علیه وسلم فی فُرُوعِ الدّین حُجّةٌ مُوجبةٌ للعَمَل بِهَا شَرعاً کَرامةً لِهذه الأُمّة ثُمّ الاجماعُ علی اَربَعةِ اَقسام اجماعُ الصّحَابَة علی حُکمِ الحَادثة نَصّاً ثُمّ اجماعُهم بنصّ البَعض وَسکوت البَاقین عَن الرّد ثُمّ اجماعُ مَن بَعدَ هُم فیمَا لَم یُوجَد فیه قَولُ السّلَف ثُمّ الاجماعُ علی اَحَدَ اَقوَال السّلف اَمّا الاَوّلُ فَهُوَ مَنزلَة ایَة من کتاب الله تَعالی ثُمّ الاجماعُ بنصّ البَعض وَسکُوت البَاقینَ فَهُوَ بمَنزلَة المُتَواتر ثُمّ اجماعُ مَن بَعدَ هُم بمَنزلَة المشهُورِ منَ الاَخبَار ثُمّ اجماعُ المُتاخرینَ عَلی اَحد اَقوال السّلَف بمَنزلَة الصّحیح منَ الاحَاد والمُعتَبَرُ فی هذاالبَاب اجمَاعُ اَهلِ الرّایِ وَالاَجتهَاد فلاَ یُعتَبَرُ بقَول العَوَامّ وَالمُتَکلّم وَالمُحدّث الّذی لاَبَصیرَةَ لَهُ فی اُصُولِ الفقه.

ترجمه: درسوا الله ﷺ له وفات ځخه ورسته ددین په اصولو کی ددی امت اجماع حجت ده ددی اُمت وکرامت ته په پاملرنه سره په دی سره عمل کول واجب ده او اجماع څلورقسمه ده صراحتاً پریو واقعه باندی دصحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع اودصحابه کرامو رضی الله عنهم دبعضو په تصریح اودبعضو په سکوت سره پر رد باندی اوله دوی ځخه ورسته دنوروا جماع په هغه مسئله کښی چی په هغه کی صحابه کرام رضی الله عنهم قول موجود نه وی اودصحابه رضی الله عنهم په اقوالو کښی پریوه باندی اجماع بهرحال داجماع اول قسم دکتاب الله په مرتبه کښی ده اوهغه چی دبعضوپه تصریح اودبعضوپه سکوت سره وی دخبرمتواتر په مرتبه کی ده اوله صحابه رضی الله عنهم ځخه دورسینواجماع دخبرمشهور په مرتبه کی ده اودصحابه رضی الله عنهم له اقوالو ځخه پریوه قول باندی اجماع دصحح خبرواحد په مرتبه کښی ده اوپه دی خبره کی داهل رأیه اواجتهاد اجماع معتبره ده دعواماو ومتکلم اودهغه محدثنو چی په اصولو الفقه کښی بصیرت نه لری ددوی اجماع معتبره نه ده.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی چی له امت نه بغیر دبل امت اجماع هم معتبره نه ده وجه ئی داده چی دا امت په نسبت ونوروامتونو ته دالله ﷻ په نزد دغوره امت ده لهذا ددی امت دتکریم اوتعظیم دښکاره کولو لپاره ددی امت اجماع معتبره کړشوه مصنف رحمه الله فرمائی چی ددی امت اجماع دنبی

کریم ﷺ له وفات څخه ورسته معتبره ده ځکه دنبی کریم ﷺ دحیات په وخت کښې دهری مسئلې وړاندی کول وده ته کیدی او ددی امت اجماع صرف په فروع ددین کښې حجت ده په اصولو ددین کښې حجت نه ځکه ددین اصول لکه توحید ، صفات ، نبوت ،وغیره په دلائلو قطعیه عقلیه نقلیه وؤ سره ثابت دی لهذا ددوی علم بغیر له اجماع حاصل ده نوکله چی ددوی علم بغیر له اجماع حاصل ده نو اجماع په اصولو ددین کښې حجت نه ده.

مصنف رح وائی اجماع داسی شرعی حجت ده چی دهغه په موجب باندی عمل کول واجب ده

سوال : مصنف رح داوویل چی داجماع په موجب باندی عمل کول واجب ده اودائی نه وویل چی یقین اواعتقاد ورباندی کول هم ضروری ده اوحال داده چی داجماع بعض اقسام داسی دی چی پر هغه باندی یقین اواعتقاد کول هم ضروری ده ؟

جواب : داده چی مصنف رح دالفاظ حجته موجبة للعمل ددی لپاره وویل چی داجماع ټولو اقسامو ته شامل شی ځکه داجماع په ټولو اقسامو باندی عمل کول واجب ده لیکن پر ټولو باندی یقین اواعتقاد کول واجب نه ده بلکه پربعض باندی یقین اواعتقاد کول ضروری ده اوپربعض باندی ضروری نه ده ددوی تفصیل مخکی راتلونکی ده.

مصنف رح وائی اجماع څلورقسمه ده (۱) داده چی پریو مسئله باندی ټول صحابه صراحتاً متفق وی یعنی دمسئلی پرحکم ټول متفق شی او داسی ووائی اجمعنا علی هذا اویا ټول صحابه پریو کار کولو باندی متفق شی لکه له حضرت ابوبکر رض عنه سره بیعت کول (۲) داده چی دیو مسئلی پر حکم باندی بعض صحابه کرام تصریح وکړی اوبعض صحابه کرام دهغه حکم د رد په باره کښې سکوت اختیار کړی دی ته اجماع سکوتی وائی لکه په یوه واری دری طلاقه ورکولو دری طلاقه واقع کیدل چی دحضرت عمر فاروق رض قول ده اونورو صحابه کرامو ددی منع نه ده کړی لهذا ددوی دنه منع کولو څخه داڅرګندیږی چی دوی هم دحضرت عمر رض په قول باندی راضی دی اوله ده سره متفق دی (۳) داده چی دمجتهدینو اجماع په هغه مسئله کښې چی په هغه کښې دصحابه کرامو هیڅ قول نه وی راغلی.

(۴) دصحابه کرامو په اقوالو کی پریوه باندی دمتاخرینو اجماع مصنف رح فرمائی داجماع مذکوراقسام یوله بل سره په قوت کښې برابرنه دی بلکه هریو ځانته مرتبه لری په دی طریقه چی اول قسم دکتاب الله په مرتبه کی ده ترباقی دریوقوی ده تردی اندازی چی منکرئی کافر ده او د دوهم قسم په مرتبه دخبرمتواتر کی ده په دی قسم باندی عمل کول واجب ده لیکن منکر ئی کافر نه ده اودریم قسم په مرتبه دخبرمشهور کښې ده اوڅلورم قسم دصحح خبرواحد په مرتبه کښې ده یعنی لکه څنګه چی خبر متواتر په درجه کی کم ده ترکتاب الله همداشان دوهم قسم داجماع په مرتبه کښې کم ده تراول قسم اوخبرمشهورپه مرتبه کی ترمتواتر کم دغسی دریم قسم داجماع په

مرتبه کی کم ده تردوهم قسم او خبرواحد په مرتبه کی کم ده ترخبرمشهور لهذا څلورم قسم هم کم ده په مرتبه کی تردریم قسم او بل داخبره یادلره چی اول اودوهم قسم داجماع ادله قطعیه دی اودریم او څلورم ادله ظینه دی او عمل کول په ټولو سره واجب ده.

لیکن اولنی دوه یقین فائده کی او دانوردوه ظن فائده کوی مصنف رح وائي چی په فقه کښی داهل اجتهاد اجماع معتبره ده دعوامو اجماع اومتکلمین اجماع اودهغو محدثین اجماع چی دوی په اصولفقه کښی بصیرت نه لری ددی دری سره وؤ اجماع معتبره نه ده له عوامو څخه هغه علماء مراد دی چی په معانی فقهه وؤ کښی دغورا وفکر صلاحیت نه لری او له متکلمین څخه هغه مراد دی چی ددوی کاربار له عقائدو سره وی او له محدثینو څخه هغه علماء مراد دی چی ددوی کاردحدیث له متن اوسند او اجمال سره وی او له اهل اجتهاد څخه هغه علماء مراد دی چی ددوی کار له آیت اوحدیث څخه دمسائلو داستنباط او استخراج وی حاصل داده چی په اجماع کښی دمجتهدینو اتفاق شرط ده.

ثُمَّ بَعدَ ذَالِکَ الاجمَاعُ عَلَی نوعَین مُرکَّبٌ وَغیرُ مُرکَّبٌ مَا اجتَمعَ عَلَیه لاراءُ عَلَی حُکم الحَادثَة مَع وُجُود الاختِلاف فی العِلَّة وَمثَالُهُ الاجمَاعُ عَلَی وُجُود الانتقَاضِ عندَ القَیئ وَمَسّ المَرأة اَمَّا عندَنَا فَبِنَاءً عَلَی القَیءِ وَاَمَّا عندَهُ فَبِنَاءً عَلَی المَسّ ثُمَّ هذاالنَوعُ مِنَ الاجمَاف لاَیَبقی حُجَّةً بَعدَ ظُهُورِ الفَسَاد فی اَحد المَاخذَیه حَتّی لَو ثَبتَ اَنَّ القَیئَ غیرنَاقِص فَاَبُوحَنیفَة رحمه الله لَا یَقُولُ بلانتِقَاض فیه وَلَوثَبَتَ اَنَّ المَسَّ غیرُنَاقِص فَالشَّافعیُ رحمه الله لَا یَقولُ بالانتِقَاض فیه لفَسَاد العِلَّة الَّتی بُنِیَ عَلَیهَا الحُکمُ وَالفَسَادُ مُتَوَهَّمٌ فی الطَّرفین لِجَوَاز اَن یَکُونَ اَبُو حَنیفَةَ رحمه الله مُصِیبًا فی مَسَالَة المَسّ مُخطِئًا فی مَسالَة القَیءِ وَالشَّافعیُ رحمه الله مُصیبًا فی مَسالَة القَیءِ مُخطِئًا فی مَسالَة المَسّ فَلَا یُؤدّی هذَا اِلَی بنَاء وُجُود الاجمَاع عَلَی البَاطل بخلَا ف مَا تَقَدَّمَ مِنَ الاجمَا ع فَا الحَاصلُ اَنّه جَازَ ارتِفَا عُ هذَا الاجمَاع لظُهُور الفَسَاد فیما بُنِیَ هُوَ عَلَیه وَلهذَا اذَا قَضَی القَاضیُ فی حَادثَة ثُمَّ ظَهَرَ رِقُّ الشُّهُود اَو کذبُهُم بالرُّجُوع بَطَلَ قَضَا ؤُهُ وَاِن لَم یَظهَر ذَالکَ فی حَقّ المُدَّ عیِّ وَبِا عتبَارِ هذَا المَعنی سَقَطَت المُؤَلَّفَةُ قُلُوبُهُم عَنِ الاَصنَاف الثَّمَا نِیَة لانقطَاع العِلَّة وَسَقَطَ سَهمُ ذَوی القُربی لانقطَا ع عِلَّته.

ترجمه: اوبیا دااجماع دوه قسمه ده مرکب اوغیر مرکب او اجماع مرکبه هغه ده چی دیوواقعی پرحکم باندی رایه جمع شی لیکن دعلت په وجه په کښی اختلاف وی ددی مثال لکه دمس دښځي اودقی په وخت کښی داودس پرماتوالی باندی دامام صاحب اوامام شافعی رح اتفاق ده لیکن زمونږ په نزد بناء ده پرقی باندی اودامام شافعی رح په نزد بناء ده پرمس دښځي باندی او بیاکه د اجماع ددی دوؤ ماخذو څخه دیوه فساد ظاهره شی بیا حجت نه ده حتی که داثابته شی چی قی ناقض داوداسه نه ده نوبیا امام صاحب په دی صورت کی داودس په ماتوالی سره قائل نه ده اوکه داثابته شی چی مسه دښځی اودس نه ماتوی بیاامام شافعی رح په دی صورت کښی داودس په

ماتولو باندی قائل نه ده ځکه پرکوم علت باندی چی بناء دحکم وه هغه فاسد شو اودا فساد په دواړه جانبه کښی متوهم ده ځکه داممکنه ده چی دامام صاحب رأيه دی دښځی دمسه په مسئله کښی صحح وی اوپه قی کی دی غلطه وی اودامام شافعی رح رأيه دی په مسئله دقی کښی صحح وی اوپه مسئله دښځی کښی دی غلطه وی داپرباطل باندی داجماع سبب نه ده په خلاف داجماع داول قسم نوحاصل داده پرکوم علت باندی چی بناء دحکم ده دهغه دفساد د ظهور په وخت کښی داجماع رفع جائز ده همدا وجه ده چی که قاضی پریوواقعه باندی فیصله وکړه اوبیا داښکاره شوه چی شاهدان غلامان دی اویادرجوع په وجه ددوی دروغ ښکاره شو دقاضی فیصله باطله ده که څه هم دمدعی په حق کښی ظاهره نه ده ددی معنی په اعتبار سره له اته (۸) انواع څخه دمؤلفته القلوب نوع ساقطه شوه ځکه علت قطع شو اوذوالقربی حصه ساقطه شوه ځکه علت ئی ساقط شو.

تشريح: اجماع اولاً دوه قسمه ده یوه اجماع سندی ده اوبله اجماع مذهبی ده اجماع سندی دی ته وائی چی دامت علماء پریوحکم باندی متفق شی داقسم څلور اقسام لری چی مخکی ئي تاته بیان وشو اواجماع مذهبی دی ته وائي چی دامت بعض علماء پریوحکم باندی متفق شی دمصنف رح په دی عبارت کی داجماع مذهبی بیان کول کیږی هغه داده چی اجماع مذهبی دوه قسمه ده یوه مرکبه اوبله غیر مرکبه ده مصنف رح دمرکبی تعریف وکړ له دی وجه چی داجماع مرکبی تعریف مشهورده اجماع غیرمرکب داده چی دمجتهدینو رأيه پریوحکم باندی متفقه شی اودهغه په علت کښی ئی هیڅ اختلاف نه وی یعنی په حکم اوعلت دواړو کی متفق وی لکه دامام ابوحنیفه رح اوامام شافعی دا اجماع چی په <u>ماخرج من السبيلين</u> سره اودس ماتیږی داودس ماتیدل یوحکم ده دواړه امامان پردی باندی متفق دی اوپه علت کی چی خروج دنجاست ده هم متفق دی.

اواجماع مرکبه دی ته وائي چی پریوحکم باندی دمجتهدینو رأيه متفقه شی لیکن دعلت په وجود کی اختلاف وی لکه امام صاحب اوامام شافعی رح اجماع پردی باندی چی که اودس لرونکی سړی قی اویائی ښځه مسه کړه اودس ئی مات ده لیکن په دی کښی اختلاف ده چی اودس دماتولو علت کوم یودی امام شافعی رح وائی علت دښځی مسه کول ده اوامام صاحب وائي چی علت ئی قی کول ده.

مصنف رح وائی که ددی دوؤ علتو څخه دیوه فساد ظاهره شو بیاداقسم داجماع حجت نه ده ځکه په دلیل شرعی سره داثابته شی چی ماتونکی داوداسه دښځی ده بیاپه دی مسئله کی امام صاحب داودس دماتیدلوحکم نه ورکوی ځکه دکوم علت پربناء چی ده داودس ماتولوحکم ورکاوی هغه علت نیستی شو اوکه داثابته شی چی مسه ماتونکی داوداسه نه ده بیاامام شافعی رح په مذکوره مسئله کی داودس دماتولو حکم نه ورکوی ځکه پرکوم علت چی داودس دماتیدلو دار

مدار وژ هغه فوت شو نو که دعلت دفساد په وجه له دوی دوؤ څخ. یو داودس په نه ماتیدلو سره قائل شی اجماع باقی پاته نه شوه لهذا دا اجماع حجت شرعی نه ده.

والفساد متوهم فی الطرفین په دی عبارت سره مصنف ؒ دیو سوال جواب کوی.

سوال: داده چی اجماع مرکبه خوله دی وجه متضمنه فسادلره ده چی حق په جانب دیوه کی ده دوهم طرف پرباطل باندی ده نو اجماع مرکبه اجماع پرباطل باندی ده.

جواب: داده چی دیوه جانب فساد هم معلوم نه ده بلکه په دواړه جانبه کښی دااحتمال شته څکه داممکنه ده چی امام صاحب په دی کښی حق وی چی په مسه دښځی سره اودس نه ماتیږی لیکن په دی کښی دی خطاء وی چی په قی سره اودس ماتیږی اوداهم احتمال لری چی امام شافعی ؒ دی حق وی په دی کښی چی په قی سره اودس نه ماتیږی لیکن په دی کښی دی خطاء وی چی په مسه دښځی سره اودس ماتیږی حاصل داده کله چی دیوه امام حقیت اودبل خطاء ممکنه ده نو فساد دیوه جانب لپاره متعین نه ده بلکه په دواړه جانبه کښی متوهم ده اوداثابته ده چی توهم دفساد دعلت داجماع دابطال سبب نه ده لهذا اجماع پرباطل نه ده لکه سوال کونکی چی وائی بخلاف مالکه من الاجماع دمصنف ؒ ددی عبارت تعلق له دی عبارت ثم هذا النوع من الاجماع لایبقی سره ده مطلب ئی داده چی داجماع یو قسم چی اجماع مرکبه ده دفساد له ظهوره ورسته حجت نه ده او اجماع غیر مرکبه چونکه په هغی کښی دفسا دعلت وهم نشته څکه دهغی په باره کښی مصنف ؒ داسی نه وویل چی دعلت دفساد له ظهوره ورسته حجت نه ده څکه چی په دی کښی علت دفساد وهم نشته نودعلت دفساد له ظهوره ورسته مرتفع ده اوپه غیر مرکبه کښی چونکه دفساد دعلت احتمال نشته له دی وجه داباقی پاته ده مصنف ؒ وائی چونکه دمبنی علیه (علت) دارتفاع په وجه مبنی (حکم) مرتفع کیږی له دی وجه موږ وایو که قاضی دشاهدانو په شاهدی سره دمدعی په حق کښی فیصله وکړه اوبیا دانسکاره شوه چی شاهد غلام ده اویا له شاهدی څخه درجوع په وجه دامعلومه شوه چی ده شاهدی په دروغو ورکړی ده په دی دواړه صورتوکښی دقاضی شوی فیصله باطله ده څکه دفیصلی بینیاد پرشاهدی باندی وؤ اوشاهدی باطله ده اوموږ مخکی داوویل چی دمبنی علیه په ابطال سره ابطال دمبنی لازم ده.

وان لم یظهر په دی عبارت سره مصنف ؒ دیوه سوال دفع کوی.

سوال: داده کله چی دشاهدی په ابطال سره دقاضی فیصله باطله شوه نوباید دقضاء بالمال په صورت کښی باید پرمدعی باندی ومدعی علیه ته دهغه مال واپس کول واجب شی کوم مال چی ده په حق کښی فیصله باندی کړی وه اوحال داده پرمدعی باندی دهغه مال واپس کول واجب نه ده؟

جواب: داده چې دقاضي فيصله مدعی علیه او شاهدانو په حق کښې باطله ده دمدعی په حق کښې باطله نه ده ځکه قاضي چې کله دمدعی علیه خلاف دمدعی په حق کښې فيصله ورکوله داوخت چونکه حجت شرعيه صحيحه چې شاهدي ده موجود وؤ له دی وجه دقاضي هغه فيصله نافذه ده اوس که دشاهدي په ابطال سره دقاضي فيصله علی الاطلاق باطله کړو دامستلزم ده وابطال دحجت شرعيه ته اوحال داده چې شرعي حجتونه دابطال احتمال نه لري اومدعی علیه اوشاهدانو په حق دفيصلې دابطال وجه له مدعی علیه څخه دضرر دفع کول ده اوشاهدانوچې کله شاهدي ورکړه د مدعی علیه حق ئی باطل کړ لهذا دوی ته دزجر ورکولو په وجه پردوی باندی ضمان واجب کړ شو اوضمان به مدعی علیه ته ورکوی.

اوددی معنی په اعتبارچې دعلت په سقوط سره سقوط دحکم راځي موږ وايو چې دزکوة له اتو (۸) اقساموډمصارف دعلت دسقوط دحکم په وجه مؤلفة القلوب ساقط دی ځکه مؤلفه چې دعربوکفارو سرداران دی ددوی په باره کښې آنحضرت ﷺ ته دامعلومات وؤ چې که داخلک داسلام وطرفته مائل شي اواسلام ددوی په زړو کښې واقع شي نوددوی په وجه به ډیر قومونه اسلام ته راشي اوپه دی سره اهل اسلام ته قوت حاصل شي ددی مقصد لپاره آنحضرت ﷺ دی ته زکوة ورکول شروع کړ ليکن کله چې الله ﷻ اسلام اومسلمانانوته عزت ورپه برخه کی اودوی ته ضرورت پيدانشو لهذا دعلت دسقوط په وجه دزکوة ورکولوحکم هم ساقط کړشو ځکه کله چې يوحکم دخاص علت په وجه ثابت شوی وی دهغه علت په سقوط سره حکم هم ساقيطيږی.

مصنف ؒ وائی دعلت دسقوط په وجه دذولقربی حصه ساقطه ده ددی تفصيل داده چې په عهد رسالت کی دغنيمت دمال دپنځمی حصی پنځه مصارف وؤ (۱) ذات دنبی ﷺ (۲) دنبی ﷺ قريبان (۳) يتيم (۴) ابن سبيل (۵) مسافر ،دنبی کريم ﷺ وقريبانو ته له دی وجه حصه ورکول کيده چې دوی دالله ﷻ په کارو له نبی کريم ﷺ سره مرسته کوله داحناف په نزد درسول ﷺ له وفاته ورسته دخمس له پنځومصارفوڅخه صرف دری باقی دی يعنی دذات دنبی ﷺ اودده دقريبانو حصه ساقطه ده دقريبانوحصه له دی وجه ساقطه ده چې الله ﷻ چې کله اسلام ته غلبه ورکړه ددوی دمرستی ضرورت پاته نه شو لهذا ددوی علت ساقط کړشو اودعلت په سقوط سره چونکه حکم ساقط کيږی له دی وجه ددوی حصه ساقطه شوه اوددی خبری تائيد په دی حديث ؛ منهم ذوالقربی فی حال حياتی وليس لهم بعد مماتی ؛ سره هم کيږی ليکن که دآنحضرت ﷺ قريب که يتيم وو اويا مسکين وو اويا ابن سبيل وؤ دوی ته درسول الله ﷺ له وفاته ورسته هم حصه ورکول کيږی ليکن داپه دی وجه نه چې دنبی کريم قريب ده بلکه په دی وجه چې مسکين يايتيم اويا ابن سبيل ده.

وَعلى هذَا اذَا غسَلَ الثوبَ النجسَ با لخلَ فزَالَت النّجاسَةُ بحُكم طَهارَة المَحلَ لا نقطَاع علَتها وَبهذا ثبتَ الفرقُ بينَ الحدَث وَالخبث فانَ الخلَ يزيلُ النجاسَةَ عَن المَحلَ فَاَمّا الخلُ لَايُفيدُ طَهارَةَ المَحلَ وَانمَا يُفيدُ هَا المُطهَرُ وَهُوَ المَاءُ .

ترجمه: اوبناء پردی باندی موړ وايو چی که ناپاکه جامه په سرکه سره پريول شی اونجاست زائل شی جامه پاکه ده ځکه چی علت دنجاست ساقط شو اوله دی ځخه ثابت شو فرق په مينځ دحدث (نجاست حکمی اوخبث نجاست حقيقی) کښی ځکه سرکه له محل ځخه نجاست لری کوی ليکن سرکه محل نه پاکوی بلکه مطهر (اوبه) محل پاکوی.

تشريح: مصنف رح فرمائی چونکه دعلت په ارتفاع سره ارتفاع دحکم راځی له دی وجه موږ وايو که چيری ناپاکه جامه له سرکی يااوبو ځخه بغير په بل پاک شی سره پريول شی اونجاست هم زائل شی په دی وخت کښی دجامی په پاکوالی سره حکم ورکول کيږی ځکه پرجامه باندی دناپاکی علت پرجامه باندی وجود دنجاست وؤ ليکن کله چی دسرکی يادبل شی په ذريعه سره نجاست زائل شو دجامی دناپاکی علت مرتفع شو اوکله چی دجامی دناپاکی علت مرتفع شو نوحکم (يعنی دجامی ناپاکوالی) هم مرتفع شو نوچی ناپاکی پورته شوه جامه پاکه ده .

مصنف رح وائی دنجاست زائليدل دطهارت علت ده په دی سره دنجاست حکميه اونجاست حقيقه په مينځ کی فرق ثابت شو په دی طريقه چی له ابو ځخه بغير په سرکه وغيره سره نجاست حقيقی زائليږی ليکن نجاست حکميه له اوبو ځخه بغير په بل شی سره نه زائليږی اودافرق له دی وجه لری چی دناپاکه جامی دپاکوالی علت له جامی ځخه دنجاست حقيقی زائليدل دی اودسرکه اوغير داستعمال په صورت کی داعلت موجود ده نوځکه دسرکی اوغيره په ذريعه سره دنجاست حقيقی لری کولو په صورت کښی جامه پاکه ده.

اونجاست حکميه ځخه پاکی يعنی په اودس اوغسل سره دپاکی علت دنجاست زائليدل نه ده بلکه داپاکی صرف په استعمال داوبو سره راځی ځکه شريعت دابيان کړی ده چی داوبو په استعمال سره داودس اوغسل پاکی حاصليږی لهذا داودس اوغسل پاکی صرف داوبو په استعمالولو سره ده له ابو ځخه بغير په بل بهيدونکی شی سره نشی کيدای.

فَصلٌ ثُمَّ بَعدَ ذالک نَو عٌ

فَصلٌ ثُمّ بَعدَ ذالکَ نَو عٌ منَالاجمَاعِ وَهُوَ عَدمُ القَائلِ بالفَصل وَذالکَ نَوعَان اَحدُ هُمَا اذا کَانَ مَنشَا الخِلَا ف في الفَصلَين وَاحدٌ وَالثَاني مَا اذا کَانَ المَنشَا مُخلفًا وَالاَوّلَ حجَةٌ وَالثَا ني لَيسَ بحُجَة .

ترجمه : اوله دی څخه ورسته داجماع يوه نوع ده چې ؛ عدم القائل باالفعل ؛ ده دادوه قسمه ده يوقسم هغه ده چې په دواړومسئلو کې داختلاف منشه يوه وی اودوهم داده چې په دواړو مسئلو کې داختلاف منشه مختلفه وی اول حجت ده اودوهم حجت نه ده.

تشريح : مصنف رح وائي داجماع مرکبی يوقسم ؛ عدم القائل باالفعل ؛ ده يعنی په فصل اوفرق سره قول کونکی نه وی ددی صورت داسی ده چې دوی مسئلی داسی وی چې په هغوکښی اختلاف وی يابه دواړی مسئلی دفريقينوپه نزد ثابتی وی اويابه منفی وی اوپه مينځ کی داسی څوک نه وی چې له دی دوؤ مسئلو څخه يوه ثابتوی اوبله نفی کوی يعنی قائل په فرق او فصل سره نه وی نوکه له دی دوؤ فريقو څخه يوه فريقه ديوی مسئلی اثبات وکړی دوهمه مسئله خودبخوده ثابته ده ځکه ددی دوؤ مسئلو په فرق اوفصل سره يوڅوک هم قائل نه ده.

حاصل داده چې اجماع مرکبه يوقسم ؛ عدم القائل باالفصل ؛ ده دادوه قسمه ده يوقسم داده چې په دوؤ مسئلو کښی داسی اختلاف وی چې منشأ اوبنياد داختلاف يووی اوددوهم قسم داده چې منشأ اوبنياد داختلاف ئي مختلف وی په دی دوؤ قسموکښی اول شرعاً حجت ده اودوهم حجت نه ده.

فائده : داختلاف اوخلاف په دمينځ کښی فرق داده چې په اختلاف کښی مقصود ديوشی وی او طريقې متعددی وی اوخلاف داده چې مقصود اوطريقې دواړه متعددی وی.

دوهم فرق : داده چې خلاف په اعتقاداتوکښی استعماليږی اواختلاف په مجتهداتو کښی استعماليږی.

دريم فرق: داده چې خلاف قول بلادليله ده اواختلاف قول سره له دليله ده.

مِثَالُ الْاَوَّلِ فِيمَا خَرَجَ الْعُلَمَاءُ مِنَ الْمَسَائِلِ الْفِقْهِيَّةِ عَلٰى اَصْلٍ وَاحِدٍ وَنَظِيرُهُ اَثْبَتْنَا اَنَّ النَّهْيَ عَنِ التَّصَرُّفَاتِ الشَّرْعِيَّةِ يُوجِبُ تَقْرِيرَهَا قُلْنَا يَصِحُّ النَّذْرُ بِصَوْمِ النَّحْرِ وَالْبَيْعُ الْفَاسِدُ يُفِيدُ الْمِلْكَ لِعَدَمِ الْقَائِلِ بِالْفَصْلِ وَلَوْقُلْنَا اِنَّ التَّعْلِيقَ سَبَبٌ عِنْدَ وُجُودِ الشَّرْطِ قُلْنَا تَعْلِيقُ الطَّلَاقِ وَالْعَتَاقِ بِالْمِلْكِ اَوْسَبَبِ الْمِلْكِ صَحِيحٌ

ترجمه : داول مثال هغه فقهی مسائلی دی چې علماء پريوه اصل باندی ددوی تخريج کړی وی نظير ئی داده کله چې موږ داثابته کړه چې له افعال شرعيه وؤ څخه نهی دهغودمشروعيت بقاء ثابتوی نوموږ وايو چې ديوم النحر د روژی نذر صحح ده اوبيع فاسده ملک فائده کوی ځکه قائل په فصل سره يوڅوک هم نشته اوکه موږ ووايو چې تعليق دشرط دوجود په وخت کښی سبب ده نوموږ وايو چې طلاق يا اعتاق پرملک اويا پرسبب دملک باندی معلق کول صحح ده.

تشريح : مصنف رح وائي داول قسم مثال هغه مسائلی فقهه دی چې علماء پر يوه اصل باندی دهغوتخريج کړی وی مثلاً احناف داخبره ثابته کړی ده چې که پرافعال شرعيه باندی نهی وارده

شي دانهي ددغوافعالو دمشروعيت بقاء ثابتوي يعني له نهي ورسته هم ددغوافعالو مشروعيت باقي ده نوددي اصولو پربناء باندي مونږ وايو چي ديوم النحر دروژي نذر هم صحح ده اوديع فاسدي په صورت کي که مشتري مبيعه قبض کړي دلره ملک ثابت ده څکه بيع او روژي دواړو مشروعيت باقي ده لهذا زمونږ په نزد دواړو مشروعيت باقي ده نوچي مشروعيت ئي باقي سو نوديوم النحر دروژي نذر کول دانذر دمشروع شي ده اودمشروع شي نذر صحح ده لهذا ديوم النحر دروژي نذر صحح ده ليکن دنحر په ورځ باندي چونکه روژه نيول اعراض ده له ضيافته دالله اودانه ده بلکه حرام ده لهذا ديوم لنحر روژه نيول منع ده بلکه په نورو ورځو کي دي ددي قضاء راوړي اوهمدارنګه فاسده بيع کول مشروع کار ده اوپه مشروع بيع سره خوملک ثابيتيږي لهذا په بيع فاسده سره ملک ثابتيږي يعني دمشتري په قبض سره ده ته ملک ثابت ده ليکن چونکه بيع فاسده منهي عنه ده ارتکاب ئي مخالفت دشارع ده له دي وجه وړاندي ترقبض مشتري ته ملک ثابت نه ده په دي دواړو مسئلو کي منشأ داختلاف يوشي ده يعني له افعال شرعيه څخه نهي ليکن داحناف په نزد له افعال شرعيه څخه نهي ددوی په مشروعيت دلالت کوی اودامام شافعي رح په نزد پرعدم دمشروعيت دلالت کوی .

داحناف په نزد دواړي مسئلي ثابتي دي يعني ديوم النحر د روژي نذر هم صحح ده اوبيع فاسده هم مفيده دملک ده په دي دواړو مسئلو کي يوخوک هم قائل په فصل نه ده يعني يوم څوک هم داسي نه وائي چي ديوم النحر روژه صحح ده ليکن بيع فاسده ملک نه فائده کوی اويا په دي طريقه چي بيع فاسده ملک فائده کوی ليکن ديوم النحر روژه صحح نه ده .

اوهمدارنګه داحناف اوشوافع په دي کښي اختلاف ده چي معلق باالشرط دوجود په وخت کښي سبب ده اوکه دتکلم په وخت کي سبب ده .

احناف وائي معلق باالشرط دشرط دوجود په وخت کښي سبب ده اوشوافع وائي چي في الحاله سبب ده .

ته فکر وکړه دلته منشأ داختلاف يوشي ده چي هغه دمعلق باالشرط سبب والي ده ليکن داحناف په نزد معلق باالشرط دشرط دوجود په وخت کي سبب اوشوافع وائي چي في الحاله سبب ده نوکله چي داحناف په نزد معلق باالشرط په وخت دوجود دشرط کي سبب ده له دي وجه داحناف په نزد باندي دطلاق او اعتاق تعليق ترملکه اوياتر سبب دملک پوري جائز ده اودشوافع په نزدچونکه في الحاله سبب ده له دي وجه ئي تعليق جائز نه ده .

تعليق باالملک مثال داده ان ملکتك فانت حر اوپرسبب دملک باندي تعليق مثال داده ان تزوجتك فانت طالق اويا ان اشتريتك فانت حر دلته احناف وائي لکه څنګه چي دطلاق تعليق ترملک او سبب دملک دواړوپوري جائز ده همدارنګه دعتق تعليق ترملک اوسبب دملک دواړو پوري جائز ده اودشوافع

په نزد چونکه معلق بالشرط فی الحاله سبب ده له دی وجه دوی وائي چې پرملک او یا سبب دملک باندی نه دطلاق تعلیق صحح ده او نه دعتق.
دلته داسی قائل نشته چې دطلاق تعلیق ترملک او یاسبب دملک پوری جائز بولی لیکن داعتاق تعلیق جائز نه بولی یادعتق تعلیق جائز بولی لیکن داعتاق تعلیق جائز نه بولی.

وَكَذالَو اَثبَتنَا اَنَّ تَرَتُّبَ الحُكمِ عَلٰى اسمِ مَوصُوفٍ بِصِفَةٍ لَايُوجِبُ تَعلِيقَ الحُكمِ بِهٖ قُلنَا طَولُ الحُرَّةِ لَايَمنَعُ جَوَازَ نِكَاحِ الاَمَةِ اِذ صَحَّ بِنَقلِ السَّلَفِ اَنَّ الشَّافِعِیَّ رحمه الله فَرَّعَ مَسالَةَ طَولِ الحُرَّةِ عَلٰى هٰذَا الاَصلِ وَلَواَثبَتنَا جَوَازَ نِكَاحِ الاَمَةِ المُؤمِنَةِ مَعَ الطَّولِ جَازَ نِكَاحُ الاَمَةِ الكِتَابِيَّةِ بِهٰذَا الاَصلِ وَعَلٰى هٰذَا مِثَالُهُ مِمَّا ذَكَرنَا فِيمَا سَبَقَ.

ترجمه: او همدارنګه که موږثابته کړو چې حکم مرتب ده پرداسی اسم باندی چې هغه موصوف ده په صفت سره دانه واجبوی تعلیق دحکم تردی صفت پوری نو موږ وایو چې قدرت پرنکاح دآزادی ښځی مانع نه ده له نکاح دمینځې ځکه له سلفو څخه په طریقه دصحت دانقل شوی ده چې امام شافعی رح پردی اصل باندی مسئله دطول الحره تفریع کړی ده او که موږ داثابته کړو چې دطول الحری سره سره له مؤمنی مینځی سره نکاح جائز ده ددی اصل په وجه له کتابیه میځی سره نکاح جائز ده او بناء پر دی باندی ددی مثال هغه ده چې موږ مخکی ذکر کړ.

تشریح: مخکې دا اختلاف تیرشو چې که حکم پرداسی اسم باندی مرتب وی چې هغه موصوف په یوصفت سره وؤ نو هغه حکم پردی صفت باندی معلق ده او که نه ؟
احناف وائی چې حکم ترصفت پوری معلق نه ده او شوافع وائی چې حکم تردغه صفت معلق ده.
مصنف رح وائی کله چې موږ داثابته کړه چې ترتیب دحکم پرهغه اسم چې موصوف په صفت سره وی نه واجبوی تعلق دحکم پرصفت باندی لهذا قدرت پرنکاح دآزادی ښځي مانع له نکاح دمینځي څخه نه ده او شوافع دامنع بولی مثلاً په دی قول دالله ﷻ وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم په دی آیت کی نکاح دمینځي پرعدم طول دحره باندی معلقه ده.
داحناف په نزد طول حره په صورت کی هم دمینځی نکاح جائزده اودامام شافعی رح په نزد جائز نه ده اذاصح بنقل السلف په دی عبارت سره مصنف رح دیو سوال جواب ورکوی.
سوال: داده چې داحناف اوشوافع په مینځ کی په مذکوره آیت کی په دوو مسئلو کښی اختلاف ده (۱) داده چې دشوافع په نزد په انتفاء دشرط سره انتفاء دمشروط راځی له دی وجه ده په نزد دطول حره په صورت کی دمینځی نکاح جائزنه ده اوداحناف په نزد په انتفاء دشرط سره انتفاء دمشروط نه راځی له دی وجه داحناف په نزد دطول حره په صورت کی دمینځی نکاح جائز ده (۲) داده چې امام شافعی رح وصف معلق کړی ده له شرط سره نو دده په نزد له کتابیه سره نکاح جائز نه ده اود احناف په نزد له کتابیه سره نکاح جائز ده له دی تفصیل څخه دامعلومه شوه چې دامام شافعی رح

په نزد دطول حره مسئله پردی اصل باندی بناء ده چی انتفاء دشرط مستلزم ده انتفاء دمشروط لره پرهغه اصل باندی نه ده بناء چی ترتب دحکم پراسم چی موصوف په صفت سره وی تعلیق دحکم ترصفت پوری واجبوی لکه تاسو چی وائی ؟

جواب : داده چی له سلفوڅخه په طریقه دصحت دانقل شوی ده چی امام شافعی رحمة الله علیه طول حره مسئله پردی اصل باندی تفریع کړی ده چی ترتب دحکم په اسم چی موصوف په صفت سره وی داتعلیق دحکم ترصفت پوری نه واجبوی لکه موږ چی وویل داسی نه ده لکه معترض چی ذکر کړل. حاصل داده کله چی داثابته شوه چی ترتب دحکم پراسم چی موصوف په صفت سره وی دانه واجبوی تعلیق دحکم ترصفت پوری نوداثابته شوه چی دطول حره باوجود له مینځه سره نکاح جائز ده اوچی موږ داثابته کړه چی دطول حره باوجود دمؤمنی مینځي سره نکاح جائز ده نودمذکوره اصل یعنی عدم قائل باالفصل) پربناء باندی له کتابیه ښځي سره هم نکاح جائز ده ځکه کوم څوک چی طول حره باوجود دمینځي نکاح جائز بولی هغه دمؤمنی اوکتابیه دواړو داجائز بولی داسی څوک نشته چی هغه دطول حره باوجود دمؤمنی نکاح جائز بولی اودکتابیه داجائز نه بولی.

مصنف رحمة الله علیه فرمائی دا اصول داحناف په نزد له انتفاء شرط څخه نه دی اودامام شافعی رحمة الله علیه په نزد کیدای شی ددی مثال مخکی په بیان تغیر کښی تیر شو چی الله ﷻ په دی آیت وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ دمعتدی بائنی نفقه پروضع دحمل معلقه کړی ده نودمعتدی بائنی لپاره احناف اوشوافع ددواړو په نزد نفقه واجب ده لیکن دغیر حامله لپاره دشوافع په نزد واجب نه ده ځکه دعدم حمل په صورت کی دنفقی شرط نشته او دده په نزد په انتفاء دشر ط سره انتفاء دمشروط وی لهذا دعدم حمل په صورت کی دده په نزد نفقه واجب نه ده اوداحناف په نزد چونکه په انتفاء دشرط سره انتفاء دمشروط نه وی لهذا داحناف په نزد دعدم حمل په صورت کی نفقه واجب ده.

وَنَظِيرُ الثَّانِي اذَا قُلْنَا الْقَيْءُ نَاقِضٌ فَيَكُونُ الْبَيْعُ الْفَاسِدُ مُفِيداً لِلْمِلْكِ لِعَدَمِ الْقَائِلِ بِالْفَصْلِ أَوْ يَكُونُ مُوجِبُ الْعَمَدِ الْقَوَمَ الْقَائِلِ بِالْفَصْلِ وَبِمِثْلِ هٰذَا الْقَيْءُ غَيْرُ نَاقِضٍ فَيَكُونُ الْمَسُّ نَاقِضاً وَهٰذَا لَيْسَ بِحُجَّةٍ لِأَنَّ صِحَّةَ الْفَرْعِ وَإِنْ دَلَّتْ عَلَى صِحَّةِ أَصْلِهِ وَلٰكِنَّهَا لَاتُوجِبُ صِحَّةَ أَصْلٍ اٰخَرَ حَتَّى تَفَرَّعَتْ عَلَيْهِ الْمَسْأَلَةُ الْأُخْرَى.

ترجمه : اودوهم قسم نظیر داده کله چی موږ وویل چی چی قی ناقض دضوء ده نوبیع فاسده هم مفیده دملک ده ځکه قائل باالفصل نشته اویادقتل عمد موجب قصاص ده ځکه قائل باالفصل نشته اوددی په مثل داچی قی غیر ناقض ده نومسه دامرأة ناقضه ده داحجت نه ده ځکه صحت دفرع که څه هم دلالت پر اصل باندی کوی لیکن ددوهم اصل صحت نه واجبوی په دی طریقه چی دوهمه مسئله وربانذی تفریع کړی.

تشریح : دعدم قائل باالفصل ددوهم قسم (یعنی هغه چی منشاء داختلاف یوه نه وی بلکه مختلفه وی) مثال داده چی احناف وائی قی ناقض دوضوء نه ده لهذا بیع فاسده هم مفیده دملک ده ځکه قائل باالفصل څوک نشته بلکه څوک چی قائل دی هغه په دواړو سره قائل دی یعنی په قی سره هم اودس مات نه بولی اوبیع فاسده هم مفیده دملک بولی لکه احناف اویالکه شوافع چی قی هم ماتونکی داودس نه بولی اوبیع فاسده هم مفیده دملک نه بولی حاصل داده چی په دواړو مسئلو کی داسی څوک نشته چی قی ماتونکی داوداسه بولی اوبیع فاسده مفیده دملک نه بولی یاخوبیع فاسده مفیده دملک بولی بلکه قی ماتونکی داوداسه نه بولی نودعدم قائل باالفصل په وجه احناف وائی کله چی قی ماتونکی داوداسه ده نوبیع فاسده هم مفیده دملک ده په دی دواړو مسئلوکی منشاء داختلاف مختلفه ده په دی طریقه چی دقی حکم له مختلف فیه اصل څخه ثابت ده هغه داده چی خارج من السبیلین دامام شافعی رحمۃ اللہ علیہ په نزد دماتونکی دوضوء نه ده اوداحناف په نزد الوضوء من دم السائل او په حدیث دمن اصابته قئ ورعاف اوقلس اومذی فلینصرف والیتوضأ ثم لیبن علی صلوۃ مالم یتکلم په وجه ناقض ده اودبیع فاسدی حکم پردی اصل باندی بناء ده چی ایا له افعال شرعیه څخه له نهی ورسته ددغو مشروعیت باقی ده اوکه نه ده ؟ داحناف په نزد باقی ده اودشوافع په نزد باقی نه ده

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی ته یا دا ووایه موږ چی کله قی ناقض بولو نودقتل عمد موجوب هم قصاص ده ځکه قائل باالفصل نشته ځکه کوم څوک چی قائل دی هغه په دواړو سره قائل دی یعنی قی هم ناقض بولی اوموجب دقتل عمدهم قصاص بولی لکه احناف اوکوم څوک چی قائل نه دی هغه په دواړو سره قائل نه دی یعنی نه قی ناقض بولی اونه دقتل عمد موجب قصاص بولی بلکه ددیت اوقصاص په مینځ کی احتیار ورکوی لکه شوافع نوچی دعدم قائل باالفصل په وجه احناف قی ناقض دوضوء بولی نودقتل عمد موجب هم قصاص ده .

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی همدارنګه شوافع وائی کله چی قی غیر ناقض ده نومسه دښځي ناقضه ده ځکه قائل باالفصل نشته بلکه څوک چی قائل دی هغه په دواړو سره قائل دی یعنی قی هم غیر ناقض بولی اومسه هم ناقضه بولی لکه شوافع اوڅوک چی قائل نه دی هغه په دواړو سره قائل نه دی یعنی نه قی ناقض بولی اونه مسه ناقضه بولی لکه احناف .

نودعدم قائل باالفصل په وجه شوافع وائی کله چی قی غیر ناقض ده نومسه دښځی هم ناقضه ده .

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی دعدم قائل باالفصل دادوهم قسم حجت نه ده دلیل داده چی دیوی فرع صحت که څه هم دلالت کوی پردی باندی چی اصل هم صحح ده لیکن دیوی فرع صحت ددوهم اصل صحت نه ثابتوی په داسی اندازه چی ته پرهغه باندی دوهمه مسئله تفریع کړی یعنی ددی خبری اثبات چی قی ناقض دوضوء ده که څه هم دلالت کوی ددی اصل پرصحت باندی چی دخارج من السبیلین په وجه ناقض ده لیکن ددوهم اصل چی پرهغه باندی دبیع فاسدی حکم تفریع شوی ده (

یعنی له افعال شرعیه وؤ څخه نهی دافعال شرعیه مشروعیت ثابتوی) پرصحت باندی دلالت نه کوی نوکله چی ددوهم اصل پرمشروعیت باندی دلالت نه کوی لهذا داقسم حجت نه ده .

فَصلٌ اَلوَاجِبُ عَلَی المُجتَهِد

فَصلٌ اَلوَاجِبُ عَلَی المُجتَهِد طَلَبُ حُکمِ الحَادِثَة من کتَاب الله تَعالی ثُمّ من سُنَّة رَسُول الله صلی علیه واله وسلم بِصَرِیحِ النَّصِّ اَو دَلاَلَته عَلی مَامَرّذَکَرُهُ فَانَّهُ لاَسَبِیلَ الی العَمَلِ بِالرّاِیِ مَعَ اِمکَانِ العَمَلِ بِالنَّصِّ وَلِهٰذَا اِذَا اشتَبَهَت عَلَیه القِبلَةُ فَاَخبَرَهُ وَاحِدٌ عَنهَا لاَیَجُوزُ التَّحرّی وَلَو وَجَدَ مَاءً فَاَخبَرَهُ عَدلٌ اَنَّهُ نَجِسٌ لاَیَجُوزُ لَهُ التَوضّی بِهٖ بَل یَتَیَمَّمُ

ترجمه : پرمجتهدباندی داواجب ده چی دواقعی حکم په کتاب الله کی تلاش کړی اوبیاپه سنت رسول الله ﷺ کی په صریح نص سره اویاپه دلالة النص سره بناء پرهغه باندی چی موږ ذکر کړو له دی وجه چی په نص سره عمل ممکن وی بیا رأیه ته هیڅ لاره نشته له دی وجه که پرده باندی قبله مشتبه شوه اوبیادهغی په باره کښی چاه خبر ورکړی ده لره تحری جائز نه ده اوکه ئی اوبه پیدا کړی بیاده ته یوعادل خبر ورکړی چی دا اوبه ناپاکه دی ده لره په هغواوبوباندی اودس کول جائز نه ده بلکه تیمم دی ووهی.

تشریح : مصنف رحمة الله علیه وائی که مجتهددیومسئلی حکم پیداکول غواړی ترتیب ئی په دی شکل ده اول ځل دی داحکم په کتاب الله کی تلاش کړی ځکه کتب الله په دلائلو کښی قوی دلیل ده که حکم په کتاب الله کښی پیداشو په بل دلیل کښی ددی حکم دتلاش هیڅ ضرورت نشته اوکه په کتاب کښی پیدانه شو بیادی په سنت رسول الله کی ددی تلاش وکړی که ددی مسئلی حکم دکتاب الله یاسنت رسول الله په عبارة النص یادلالة النص یااشارة النص یااقتضاء النص سره معلوم شو بیا دقیاس طرفته درجوع کولوضرورت نشته ځکه ترکومه وخته چی په نص سره عمل کول ممکن وی په قیاس باندی عمل کول جائز نه ده همدا وجه ده که پریومکلف باندی قبله مشتبه شوه اویوشخص دهغی په باره کښی ده ته خبرورکړی ده لره تحری جائز نه ده ځکه تحری قیاس ده په مرتبه درأیه کښی ده اوخبر دنص په مرتبه کښی ده کله چی نص موجود وی په قیاس باندی عمل کول جائز نه ده اوهمدارنګه که یوشخص داسی اوبه پیداکړی چی دهغوپاکوالی اونه پاکوالی معلوم نه وؤ اوبیاده ته یوعادل سړی خبرورکړی چی دااوبه ناپاکه دی ده لره په دی اوبوسره اودس کول جائزنه ده بلکه تیمم به وهی ځکه استصحاب حال دقیاس یوقسم ده اوخبر دنص په مرتبه کښی ده اودنص دوجود په وخت کی په قیاس سره عمل کول جائز نه ده .

وَعَلی اعتِبَارِ اَنّعِ العَمَلَ بِالرّاِیِ دُونَ العَمَلِ بِالنَّصِّ قُلنَا اِنَّ الشُّبهَةَ بِالمَحَلِّ اَقوی مِنَ الشُّبهَةِ فِی الظَّنِّ حَتّی سَقَطَ اِعتِبَارُ ظَنِّ العَبدِ فِی الفَصلِ الاَوَّلِ وَمِثَالُهُ فِیمَا اِذَا وَطِیَٔ جَارِیَةَ اِبنِه لاَیُحَدُّ وَاِن قَالَ عَلِمتُ

اَنّهَا عَلَیَّ حَرَامٌ وَیَثبُتُ نَسَبُ الوَلَدِ منهُ لِاَنَّ شُبهَةَ الملک لَهُ تَثبُتُ بالنّصِ فی مَالِ الابنِ قَالَ عَلَیه الصّلوٰة وَالسّلَامُ اَنت وَمَالُکَ لِاَبِیکَ فَسَقَطَ اعتبَارُ ظَنّه فی الحلِّ وَالحُرمَةِ فی ذَالکَ وَلَو وَطِئَ الابنُ جَارِیَةَ اَبِیه یُعتَبَرُ ظَنُّهُ فی الحلِّ وَالحُرمَةِ حَتّی لَوقَالَ ظَنَنتُ اَنّهَا علی حَرَامٌ یَجبُ الحَدُّ وَلَوقَالَ ظَنَنتُ اَنّهَا عَلَیَّ حَلَالٌ لَایَجبُ الحدُّ لِاَنَّ شُبهَةَ الملک فِی مَالِ الاَبِ لَم یَثبُت لَهُ بِالنّصِ فَاُعتُبِرَ رَایُهُ وَلَایَثبُتُ نَسَبُ الوَلَدِوَ ان ادّعَاهُ

ترجمه په اعتبار ددی چی عمل په رأیه کم ده ترعمل دنص سره مورږ وایو چی شبه په عمل کی قوی ده ترشبهي په نسبت کی تردی اندازي چی په اول صورت کی ظن دعبد ساقط ده مثال ئی داده چی که یو څوک دخپل زوی له مینځی سره وطی وکړی حدنه باندی جاری کیږی که څه هم دی ووائی چی ماته معلومه وه چی دا پرما باندی حرامه ده اوله دی څخه دولد نسب ثابتیږی ځکه دزوی په مال کی پلار دملک شبه په نص سره ثابته ده رسول الله ﷺ فرمائی انت ومالك لابيك نو په دی باره کی دپلار دحلال والی اوحراموالی ظن ساقط ده اوکه زوی دخپل پلار له مینځی سره وطی وکړی دده د حلالوالی اوحراموالی ظن معتبر ده حتی که ده وویل چی زما ګمان وؤ چی دا پرما حرامه ده حد ور باندی واجب ده اوکه ئي وویل چی زما ګمان وؤچی ماته حلاله ده بیاحد واجب نه ده ځکه دپلار په مال کی زوی لره شبه دملک ثابت په نص سره نه ده لهذا دده رأیه معتبره ده اودولد نسب ثابت نه ده که زوی ددی دعوه وکړه.

تشریح : ددی عبارت ترحل مخکی دازده کړه چی شبه هغه ته وائی چی له حق سره مشابه وی مګرثابت نه وی ددی دوه قسمه دی (۱) شبه په محل کی ده (۲) شبه په ظن کی ده اول قسم ته شبته الدلیل اوشبه حکمیه هم وائی اودوهم قسم ته شبه فی الفعل اوشتبه اشتباه هم وائی شبه فی المحل داده چی یو داسی دلیل موجود شی چی هغه له حلت سره منافی وی اویاله حرمت سره منافی وی مګر دځه مانع له وجه ددی دلیل اثرنه ښکاره کیږی یعنی دلیل شرعی داسی وی چی دحلت پرانتفاء باندی دال وی لیکن دمانع له وجه دحل نفی نه کوی یادلیل شرعی داسی وی چی دحرمت پرانتفاء باندی دال وی لیکن دمانع له وجه دحرمت نفی نه کوی لهذا دادلیل دهغه شی دحلال والی شبه پیداکوی چی حلال نه وی مثلاً داحدیث انت ومالک لابیک داسی دلیل ده چی داشبه پیداکوی چی دزوی مینځه پلارلره حلاله ده اوحال داده چی په نفس الامر کښی حلاله نه ده.
اوشبه فی الظن دی ته وائي چی انسان هغه شی دلیل وګنی چی هغه په نفس الامر کښی دلیل نه وی یعنی هغه دحلت لپاره دلیل نه وی اودی ئي دحل لپاره دلیل شمار کړی اویادحرمت لپاره دلیل نه وی اودی ئي دحرمت لپاره شمارکړی اوداهم یادساته چی دشبه فی المحل وجود دبنده ظن باندی موقوفه نه ده اودشبه فی الظن وجود دبنده پرظن باندی موقوفه ده.

له دی تمیده ورسته مصنف رحمه الله وائی ددی اصولو چی عمل په نص سره قوی ده په سنت وعمل ته په قیاس اورایه سره ددی پر بنا باندی مورږ وایو چی شبه فی المحل قوی ده په سنت وشبه فی الظن ته په دی طریقه چی په شبه فی المحل کښی دبنده ظن معتبر نه ده او په شبه فی الظن کی دبنده ظن معتبر ده په مثاله کی له جمع دضمیر په تاویل دمذکور سره شبه فی المحل ده او شبه فی الظن ده او یا په شبه فی المحل کی دبنده ظن ساقوطوالی او په شبه فی الظن کی عدم سقوط ده مطلب داده چی دشبه فی المحل او شبه فی الظن مثال داده اویا په شبه فی المحل کی دبنده درایة دعتبار او په شبه فی الظن دعدم اعتبار مثال داده چی یو شخص دخپل زوی له مینځی سره وطی وکړی پر واطی باندی حدزنا نه جاری کیږی که څه هم دی دا ووائی چی ماته معلومه وه چی دامینځه پر ما حرامه ده او که له دی وطی څخه کوچنی پیدا شو ددی کوچنی نسب له واطی څخه ثابت ده دلیل داده چی دلته واطی (پلار) لره دزوی په مال کی ددی حدیث انت ومالك لابيك شبه دملک ثابته ده یعنی ددی حدیث په وجه داشبه پیدا کیږی چی پلار دخپل زوی دمال مالک ده نوکله چی پلار دزوی دمال مالک شو دده داوطی له خپلی مملوکی سره وطی دی اوله خپلی مملوکی سری وطی موجب دحد نه ده لهذا پرده باندی حد نه جاری کیږی.

سوال: دواطی ظن خوداوؤ چی له دی سره وطی پرما حرامی دی باید ددغه ظن په وجه حد ورباندی جاری کړشی؟

جواب: داده چی دلیل شرعی یعنی حدیث څخه چی کومه شبه پیدا شی هغه شبه فی المحل ده او په شبه فی المحل کی دحلالوالی اوحراموالی په سلسله کی دبنده ظن معتبر نه ده لهذا دلته دپلار ظن چی داپرما باندی حرامه ده ساقط ده اوپه مینځه کښی دده ملک ثابت ده لیکن هغه نصوص چی په دی مینځه کی دزوی ملک ثابتوی دهغه په وجه پردی باندی اجماع ده چی پلار لره دزوی په مینځه کښی حقیقی ملک ثابت نه ده اود زوی په مینځه دپلار حقیقی ملک که څه هم ثابت نه ده لیکن ددی حدیث انت ومالك لابيك په وجه ضرور دملک شبه پیدا کیږی اوحد چونکه په شبه سره ساقطیږی له دی وجه پرپلار باندی حد واجب نه ده اوچونکه په وطی باالشبه سره نسب ثابتیږی له دی وجه که له دی وطی څخه کوچنی پیدا شو دهغه نسب له واطی (پلار) څخه ثابت ده.

اوکه زوی دخپل پلار له مینځی سره وطی وکړی دحلت اوحرمت په سلسله کی دده ظن ساقط نه ده په دی طریقه کی واطی (زوی) وویل چی زماخیال داوؤ چی دا وطی ماته حلالی دی پرده باندی حدواجب نه ده ځکه دپلار په مال کی که څه هم زوی لره شبه دملک په نص سره ثابته نه ده لیکن دپلار او زوی په مینځ کی په اموالو کی یوقسم توسع ده له دی وجه ده ته داشبه پیداشوه چی کیدای چی کوم شی چی زما دپلار ملک هغه زماهم ملک وی نوکله چی داسی وؤ نوداشبه فی الفعل اوپه شبه فی الفعل کی دبنده رأیه اوظن ساقط نه ده بلکه معتبر ده لهذا دده دغه خیال چی

کیدای شی دپلار مینځه ماته حلاله وی له دی څخه حد ساقط کړ ځکه حد په شبهات سره ساقطیږی. البته له دی وطی څخه دکوچنی نسب له ده څخه نه ثابتیږی که څه هم دی دعوه وکړی ځکه دزوی دغه وطی خالص زنا ده او له زنا څخه نسب نه ثابتیږی.

ثُمَّ اذا تَعارضَ الدَلِيلَان عندالمُجتَهد فَان كَانَ التَعَارُضُ بَينَ الايَتَين يَميلُ الى السُنَّة وَان كَانَ بَينَ السُنَّتَين يَميلُ الى اثار الصَحَابَة رَضى الله عنهم وَالقِيَاس الصَحيح ثُمَّ اذَا تَعَارَضَ القِيَاسَانِ عند المُجتَهدَ يَتَحرّى وَيَعمَلُ بِاَحَدهمَا لاَنَهُ لَيس دُونَ القِياس دَلِيلَ شَرعِيَّ يُصَارُ اِليه .

ترجمه: اوکوم وخت چی دمجتهد په نزد دوه دلیله متعارض شی نوکه تعارض د دوؤ آیتو په مینځ کی وو سنت طرفته دی رجوع وکړی اوکه د دوؤ سنتو په مینځ کی تعارض وؤ دصحابه وآثارو اوقیاس طرفته دی رجوع وکړی اوکه دمجتهد په نزد دوه قیاسه متعارض شو دی دی تحری وکړی او له دوؤ څخه دی په یوه عمل وکړی ځکه ترقیاس لاندی داسی شرعی دلیل نشته چی دهغه طرفته رجوع وکړی.

تشریح: تعارض په لغت کی دمقابلی په شکل مخالفت ته وائی اوداصولین په اصطلاح کی تعارض داسی تقابل ته وائي چی د دوؤ برابرو حجتوپه مینځ کی وی اوجمع ئي ممکنه نه وی.
مصنف رح وائي که د دوؤ نصوصوپه مینځ کی تعارض واقع شو او دواړو جمع ممکنه نه وه په دی صورت کی دی ددواړو تاریخ معلوم کړشی کله چی تاریخ معلوم شی په متاخر دی عمل وکول شی ځکه متاخر مقدم لپاره ناسخ ده اوکه تاریخ معلوم نه وؤ بیادی وجه ترجیح پیداکړی په راجح دی عمل وکړی اوکه وجه د ترجح پیدانشوه ترده لاندی درجی والاحجت ته دی رجوع وکړی په دی ترتیب سره که د دوؤ آیتوپه مینځ کی تعارض واقع وؤ حدیث ته دی رجوع وکړی اوکه ددوؤ حدیثوپه مینځ کی تعارض واقع وؤ دصحابه رض آثارو اوقیاس صحح ته دی رجوع وکړی اوبیا چی دچاه په نزد علی الاطلاق دصحابی تقلید جائز ده یعنی په مدرک باالقیاس اقوالو کی هم اوپه غیر مدرک باالقیاس اقوالو کی هم ددی حضراتوپه نزد داحادیثو دتعارض په وخت کی دی اول ځل دصحابه رض وآثاروته رجوع وکړی که آثار دصحابه وؤ نه وؤ دوهم ځل دی قیاس صحح ته رجوع وکړی.
اودچاه په نزد چی په مدرک باالقیاس اقوالوکی تقلید دصحابی واجب نه ده ددوی په نزد آثار دصحابه رض وؤ اوقیاس صحح دواړو طرفته دی رجوع وکړی.
اوکه دصحابی رض په قول اوقیاس کی تعارض وؤ بیا چی دمجتهد په نزد کوم یوراجح وی دهغه طرفته دی رجوع وکړی اوکه ددوؤ قیاسو په مینځ کی تعارض وؤ بیا زموږ په نزد تحری واجب ده که زړه دکوم طرف شاهدی ورکړه په هغه سره دی عمل وکړی.
اودشوافع په نزد بغیر له تحری په یوه باندی عمل کول واجب ده.

حاصل داده چی دتعارض په وخت کی دواړه قیاسه ساقط نه دی بلکه په یوه باندی عمل کول واجب ده ځکه له قیاسه ورسته داسی دلیل شرعی نشته چی دهغه طرف ته رجوع کړی.

فوائد: ددوؤ آیتو دتعارض په وخت کښی حدیث ته درجوع کولو نظیر داده فاقرءوا ماتیسر من القرآن دا آیت چونکه په باره دلمانځه کی وارد شوی ده له دی وجه پرمقتدی باندی قرأت واجبوی لهذا دا دوه آیته متعارض دی ځکه وجود دقرأت اوسکوت سره متعارض دی او ددواړو آیتو تاریخ معلوم نه ده لهذا ددی حدیث من کان له امام فقراءة الامام قراءة له وطرفته رجوع کوو.

اوددوؤ حدیثو دتعرض په وخت کښی قیاس ته درجوع مثال داده دنعمان بن شبیر په دی حدیث ان النبی صلی علیه وسلم صلی صلوة الکسوف برکوع وسجدتین سره دصلوة کسوف په یوه رکعت کښی یوه رکوع اودوی سجدی ثابتیږی اوحضرت عائشه رض په حدیث انه صلی رکعتین باربع رکوعات واربع سجدات سره په یوه رکعت کښی څلورر کوع اوڅلور سجدی ثابتیږی.

نودلته ددی دوؤ حدیثودتعارض په وجه قیاس ته رجوع کیږی هغه په دی طریقه چی پرنورو لمونځو باندئي قیاس کو و نوکله چی په نورو لمونځو کی په یوه رکعت کښی یوه رکوع اودوی سجدی دی لهذا داصلوة هم داسی ده.

وَعَلٰی هٰذَا قُلْنَا اِذْ کَانَ مَعَ الْمُسَافِرِ اِنَاءٌ اِن طَاهِرٌ وَنَجِسٌ لَا یَتَحَرّٰی بَیْنَهُمَا بَلْ یَتَیَمَّمُ وَلَوْکَانَ مَعَهُ ثَوْبَانِ طَاهِرٌ وَنَجِسٌ یَتَحَرّٰی بَیْنَهُمَا لِاَنَّ لِلْمَاءِ بَدَلاً وَهُوَ التُّرَابُ وَلَیْسَ لِلثَّوْبِ بَدَلٌ یُصَارُ اِلَیْهِ فَثَبَتَ بِهٰذَا اَنَّ الْعَمَلَ بِالرَّیِ اِنَّمَا یَکُوْنُ عِنْدَ اِنْعِدَامِ دَلِیْلٍ سِوَاهُ شَرْعًا ثُمَّ اِذَا تَحَرّٰی وَتَاَکَّدَ تَحَرِّیْهِ بِالْعَمَلِ لَایَنْتَقِضُ ذَالِکَ بِمُجَرَّدِ التَّحَرِّیْ وَبَیَانُهُ فِیْمَا اِذَا تَحَرّٰی بَیْنَ الثَّوْبَیْنِ وَصَلَّی الظُّهْرَ بِاَحَدِهِمَا ثُمَّ وَقَعَ تَحَرِّیْهِ عِنْدَ الْعَصْرِ عَلَی الثَّوْبِ الْاٰخَرِ یَجُوْزُ لَهُ اَنْ یُصَلِّیَ الْعَصْرَ بِالْاٰخَرِ لِاَنَّ الْاَوَّلَ تَاَکَّدَ بِالْعَمَلِ فَلَایَبْطُلُ بِمُجَرَّدِ التَّحَرِّیْ وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا اِذَا تَحَرّٰی فِی الْقِبْلَةِ ثُمَّ تَبَدَّلَ رَایُهُ وَوَقَعَ تَحَرِّیْهِ عَلٰی جِهَةٍ اُخْرٰی تَوَجَّهَ اِلَیْهِ لِاَنَّ الْقِبْلَةَ مِمَّا یَحْتَمِلُ الْاِنْتِقَالَ فَاَمْکَنَ نَقْلُ الْحُکْمِ بِمَنْزِلَةِ نَسْخِ النَّصِّ هٰذَا مَسَائِلُ الْجَامِعِ الْکَبِیْرِ فِیْ تَکْبِیْرَاتِ الْعِیْدَیْنِ وَتَبَدُّلِ رَایِ الْعَبْدِ کَمَا عُرِفَ

ترجمه: اوبناء پردی باندی موږ وایو که له مسافر سره دوه لوښی پاک اوناپاک وؤ دی به په هغوکی تحری نه کوی بلکه تیمم دی ووهی اوکه له ده سره دوی جامی پاکه اوناپاکه وی دی دی په دغوکښی تحری وکړی له دی وجه چی داوبو بدل خاوره موجوده ده اودکپړی بدل موجود نه ده چی رجوع ورته وکړی نوله دی څخه داثابته شوه چی په قیاس سره عمل هغه وخت وی چی له ده بغیر بل شرعی دلیل نه وی اوکله چی تحری وکړی اومؤکده شی په عمل سره بیادا تحری په محض تحری سره نه ماتیږی ددی تفصیل په دی صورت کی ده چی کله مسافر ددوؤ جامو په مینځ کی تحری وکړی اوبیاپه یوی سره دماپښین لمونځ اداء کړی اوبیائی دوهم څل دمازیګر لپاره تحری

پردوهمه جامه باندی واقع شوه نوده لره په دوهمه جامه باندی دمازیګر دلمانځه اداء جائز نه ده له دی وجه چی اوله په عمل سره مؤکدشوی ده لهذا داتحری په محض تحری سره نه باطلیږی اوداخبره ددی خلاف ده چی کوم چی دقبلی په باره کښی تحر وکړی اوبیائې رأیه بدله شی اودده تحری پردوهم طرف باندی واقع شی نوهغه طرف ته به متوجه کیږی ځکه قبله دانتقال احتمال لری نودحکم نقل کول ممکن ده اونص دمنسوخ کیدوپه مرتبه کی ده اوپر دی اصل باندی تکبیرونه داخترو اودبنده درأیه ددبدلیدوپه باره کی مسائلی دی تاسو به ئی وپیژنی.

تشریح: مصنف ؒ وائی مونږ داصل بیان کړ چی په قیاس اوشهادت قلب باندی هغه وخت عمل صحح ده چی له دوی نه سواء دلیل شرعی موجود نه وی ددی اصل پربناء باندی م وایو که له مسافر سره په دوؤ لوښو کی اوبه وی دیوه لوښی اوبه پاکی وی اوبل دا ناپاکی وی اومسافر ته دامعلومه نه وه چی دکوم لوښی اوبه پاکی دی په دی صورت کی مسافر لره داجائز ده چی تحری وکړی اوپاکی اوبه معلومی کړی اوپه هغه باندی اودس وکړی بلکه تیمم به وهی ځکه دتحری په ذریعهء دپاکو اوبو تعین کول قیاس ده اوداخبره مخکی ذکر شوه چی په قیاس سره هغه وخت عمل کول جائز ده چی له ده نه بغیر بل دلیل شرعی نه وی اودلته چونکه خاوره دابو بدل اوقائم مقامه ده لهذا مسافر به دتیمم وطرفته رجوع کوی اوپه قیاس سره به عمل کول جائز نه ده لیکن که له مسافر سره په دوؤ لوښو کی اوبه وی په یوه کی پاکی اوبه وی اوپه بل کښی ناپاکه اوده دڅښلوضرورت درلودی او ددی دوؤ لوښو بغیر نوری اوبه نه وی په دی صورت کی دلره جائز ده چی تحری وکړی کومی اوبه چی په نظر پاکی ورغلی هغه دی وڅښی په دی صورت کی ځکه تحری ده چی دڅښلو لپاره داوبو بغیر بل شی نشته.اوکه له مسافر سره دوی جامی یوه پاکه اوبله ناپاکه وه اودته پاکه جامه معلومه نه وه په دی صورت کی دلره تحری کول جائز ده تحری دی وکړی کومه جامه چی په نظر پاکه ورغله هغه دی پغاره کړی اولمونځ دی په اداء کړی ځکه دلته دجامی داسی بدل نشته چی دهغه طرفته رجوع وکول شی حاصل داده چی له دی دوؤ مسئلو څخه داثابته شوه چی په قیاس هغه وخت عمل کول کیږی چی له ده نه بغیر بل دلیل شرعی نه وی. مصنف ؒ وائی که مسافر ددوؤ جاموپه مینځ کی تحری وکړه اوله دغو دوؤ جامو څخه یوه په عمل سره مؤکده شوه یعنی له تحری ورسته ئی په یوه سره لمونځ اداء کړی دغه تحری چی مؤکده په عمل سره ده په محض تحری سره نه باطلیږی صورت ئی داده چی مسافر ددوؤ جاموپه مینځ کی تحری وکړی اوبیاپه یوه جامه سره دماپښین لمونځ اداء کړی اودوهم ځل ئی تحری دمازیګر دلمانځه لپاره پردوهمه جامه باندی واقع شوه دلته په دوهمه جامه سره دمازیګر لمونځ اداء کول جائز نه ده ځکه اوله تحری مؤکده په عمل سره ده اودوهمه تحری مؤکده په عمل سره نه ده لهذااولی تحری ابطال په دوهمه سره جائز نه ده

بلکه په هغه جامه سره دمازيګر لمونځ اداء کول واجب په کومه جامه سره چې دماپښين لمونځ اداء شوی ده .وهذا بخلاف په دی عبارت سره مصنف رح ديو سوال جواب کوی.

سوال: داده چې دقبلې د اشتباه په صورت کی يو شخص تحری وکړی اودتحری په نتيجه کی يوه طرف ته مخ کړی اوبيائی رأيه بدله شي اوبل طرف قبله ورته ښکاره شي دلته خوحکم داده چې دغه دوهم طرفته دی مخ کړی اولمونځ دی اداء کړی اوداحکم مخالف ده له هغه اصل څخه چې تاسو وړاندی بيان کی چې که يوه تحری مؤکده په عمل سره شي ابطال ئی محض تحری سره جائز نه ده ؟

جواب: داده چې دتحری باالثوب اوتحری باالقبله په مينځ کی فرق شته هغه داده چې قبله دانتقال احتمال لری ځکه اول ځل په اسلام کی دمسلمانانو قبله بيت المقدس وؤ اوبيا داقبله بدله شوه بيت الله شريفه قبله شوه اوهمدارنګه په مسجد حرام کښی دلمونځ کونکی قبله عين کعبه ده اوپه شاوخواه دکعبې کښی دلمونځ کونکی قبله جهت دحرم ده.

حاصل داده چې قبله دانتقال احتمال لری لهذا دقبلې په باره کښی دحکم انتقال داسی ده لکه دنص منسوخه کيدل اودامعلومه خبره ده په منسوخ سره عمل نه کول کيږی بلکه په ناسخ باندی عمل کول کيږی لهذا دقبلې په سلسله کښی دوهم تحری دناسخ په مرتبه کښی ده اواوله دمنسوخ ده په مرتبه کښی ده نوچونکه په منسوخ سره عمل نه کول کيږی بلکه په ناسخ سره عمل کوی کيږی له دی وجه دقبلې په باره کښی په دوهمه تحری سره عمل کول کيږی اونجاست چې چې کله په يوه جامه کښی حلول وکړی دوهمی ته نه نقل کيږی لهذاد جامی دپا کوالی په سلسله کښی دوهمه تحری په مرتبه دناسخ کی نه ده نو کله چې په مرتبه دنا سخ کی نه شو عمل کول هم ور باندی واجب نه ده او اوله تحری چونکه مؤکده په عمل سره ده له دی وجه هغه راجحه ده او دوهمه مؤکده په عمل سره نه ده له دی وجه دجامی په سلسله کښی ددوهمی تحری په وجه او له تحری نه باطليږی نو کله چې اوله تحری باطله نه شوه نو داولی تحری په نتيجه کی چې دکومی جامی پاکوالی معلوم شوی ده په هغه جامه باندی دمازديګر لمونځ کول جائز ده او ددوهمی تحری په نتيجه کی چې دکومی جامی پاکوالی معلوم شوی ده په هغه سره نه ده جائز .مصنف رحمه الله وائی دا اصل چې کوم شي چې د نقل کيدو احتمال لری په هغه کښی حکم هم منتقل کيدای شي پر دی اصولو باندی داختر د تکبير ونو او دبنده درأ ية دبد ليدو په سلسله کی دجامع کبير څو مسا ئلی تفريع کيږی .(۱) مسئله داده که يو شخص داختر په لمانځه شروع وکړه دابن عباس رضی الله عنه دتکبير اتو په اعتقاد سره او په دی اعتقاد سره ئی يو رکعت اداء کړی او بيا ئی رأيه بد له شوه دابن مسعود رضی الله عنه تکبيرات اعتقاد ئی وکړنو په راتلونکی رکعت کی دی دابن مسعود رضی الله عنه دتکبير اتو مطابق عمل وکی ددی صورت داده چې داختر په تکبير و کښی دصحابه وو په مينځ کی اختلاف ده ابن مسعود رضی الله عنه قول چې داحناف مذهب ده داده چې داختر دلمانځه په دوؤ رکعتو کښی نهه

(۹) تکبیره دی دری تکبیرونه اصلي یعني تحریمه او د دواړو رکعتو درکوع تکبیرونه دی او شپږ تکبیرونه زائد دی په هر رکعت کی دری دری تکبیرونه دی اودابن عباس ﷺ قول چی دامام شافعي مذهب ده داده چی تکبیرونه دیارلس (۱۳) دی دری اصلي دی اولس زائد دی په هررکعت کښی پنځه پنځه تکبیرونه اودبعض صحابه قول داده چی ټوله پنځلس (۱۵) تکبیرونه دی دری اصلي دی اودولس (۱۲) زائد دی په هررکعت کښی شپږ شپږ تکبیرونه دی نوکه یوشخص دابن عباس ﷺ دتکبیراتو په اعتقاد داختر لمونځ شروع کړی اوپه دغه عقیده سره یورکعت اداء کړی اوله دی ورسته ئی عقیده بدله شی او ابن مسعود ﷺ دتکبیراتو اعتقادوکړی نوپه دوهم رکعت کښی دی دابن مسعود ﷺ تکبیرونو ووائی یعني دری زائد تکبیرونه دی ووائی ځکه په تکبیراتو کښی دانتقال احتمال شته لهذا دیوه مذهب څخه بل مذهب ته دحکم انتقال ممکن ده اودا داسی ده ګوا کی دده په نزد اول مذهب منسوخ دد لهذا دوهم مذهب چی ناسخ په مرتبه کښی ده په هغه سره عمل کول کیږی.

البحث الرابع القياس

تشریح : دقیاس په لغوی معنی کښې دوه قوله دی (۱) علامه ابن حاجب وائی قیاس په لغت کی مساوات او برابری ته وائی لکه په دی قول کی فلان يقاس بفلان فلانی له فلانی سره مساوی اوبرابر ده اوداکثر علماء رأیه داده چی قیاس په لغت کی اندازه کولوته وائي لکه په دی قول کی قست الارض بالقصبه ماپه بانس سره ځمکه اندازه کړه قاس الطبيب قعرالجراح طبیب زخم اندازه کی قس النعل بالنعل یوه چپلکه له بلی سره اندازه کړه اویوه دبلی په مثل جوړه کړه اوپه اصطلاح دشرع کښی په څومعنی وو سره راځی (۱) تعديته الحكم من الاصل الى الفرع بعلة متحدة بينهما دحکم انتقال له اصله څخه وفرع ته دداسی علت په وجه چی هغه علت داصل اوفرع شریک وی.

دقیاس لپاره څلورشیان ضروری دی (۱) مقیس (۲) مقیس علیه (۳) علت (۴) حکم ، کوم شی چی قیاس کړ شوی وی هغه ته مقیس وائی اوپر کوم شی چی قیاس شوی وی هغه ته مقیس علیه وائی اوکوم شی چی دمقیس اومقیس علیه مشترک وی هغه ته علت وائی اوکوم اثرچی پردوی مرتب وی هغه ته حکم وائی.

(۲) دوهم تعریف داده هوابانة مثل حكم احد المذكورين بمثل علته في الآخر په دی تعریف کښی له اخر څخه مراد فرع ده او احد المذکورین څخه مراد اصل ده یعنی داصل دعلت په شان په فرع کی دعلت دوجود په وجه دحکم هم مثله حکم ښکاره کولو ته قیا س ویل کیږی مطلب داده که په فرع کښی داصل په شان علت موجود شی ددی علت په وجه په فرعه کښی داصل دحکم رنګه ظاهر کولو ته قیا س ویل کیږی .

(۳) تعریف داده الفقهاء اذا اخذوا حكم الفرع من الاصل سموا ذالك قياساً فقهاء چی کله دفرع حکم اخذ کړی له اصل څخه دهغه نوم قیا س کښی دی .

فَصلٌ القِيَاسُ حُجَّةٌ

فَصلٌ القِيَاسُ حُجَّةٌ مِن حُجَجِ الشَّرعِ يَجِبُ العَمَلُ عِندَ انعِدَامِ مَافَوقَهُ مِنَ الدَّلِيلِ فِي الحَادِثَةِ وَقَد وَرَدَ فِي ذَالِكَ الأَخبَارُ وَالآثَارُ قَالَ عَلَيهِ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ لِمُعَاذِ بنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ اِلَى اليَمَنِ قَالَ بِمَ تَقضِي يَامُعَاذُ قَالَ بِكِتَابِ اللهِ تَعَالٰى قَالَ فَاِن لَم تَجِد قَالَ بِسُنَّةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ فَاِن لَم تَجِد قَالَ اَجتَهِدُ بِرَايِى فَصَوَّبَهُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ الحَمدُ لِلّٰهِ الَّذِى وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ عَلٰى مَايُحِبُّ وَيَرضَاهُ وَرُوِىَ اَنَّ امرَاةً خَثعَمِيَّةً اَتَت اِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسلم فَقَالَت اِنَّ اَبِى كَانَ شَيخاً كَبِيراً اَدرَكَهُ الحَجُّ وَهُوَ لَايَستَمسِكُ عَلَى الرَّاحِلَةِ فَيُجزِئُنِى اَن اَحُجَّ عَنهُ قَالَ

عَلَيه السَّلامُ اَرَايت لَوكَانَ عَلى اَبِيک دَينٌ فَقَضيته اَمَا كَانَ يُجزئک فَقَالَت بَلى فَقَال عَلَيه السَّلامُ فَدينُ اللهِ اَحَقُّ وَاَولى الحَقَ رَسُول الله عَلَيه السَّلامُ اَلحجَّ فى حَقِّ الشَّيخ الفَانى بالحُقُوق المَالية وَاَشَارَ الى علّة مؤثرة فى الجَواز وَهىَ القَضَاءُ وَهذا هُوَ القيَاسُ وَ رَوى ابنُ الصَبَّاغ وَهُوَ من سَادَات اَصحَاب الشَافعىّ فى كتَابه المُسَمَّى بالشَامل عَن قَيس بن طَلق بن عَلىّ اَنَّهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ الى رَسُول الله عَلَيه السَّلامُ كَاَنَّهُ بَدوىٌّ فَقَالَ يَانَبىَّ الله مَاترى فى مَسِّ الرَّجُل ذَكَرَهُ بعدَ مَا تَوَضَا فَقَالَ هَل هُوَ الاَّ بضعَةٌ منهُ وَهذَ هُوَ القياسُ وَسُئلَ ابنُ مَسعُود ﷺ عَمَّن تَزوَّجَ امرَاةً وَلَم يُسمِّ لَهَا مَهراً وَقَد مَاتَ عَنهَا زَوجُهَا قَبلَ الدُخُول فَاستمهَلَ شَهراً ثُمّ قَالَ اَجتَهدُ فيه برَا يى فَان كَانَ صَوَاباً فَمنَ الله وَان كَانَ خَطَاءً فَمن ابن اُمّ عَبد فَقَالَ اُرى لَهَا مَهر مثل نسَائهَا لاوَكَسَ فيها وَلاَوَقَسَ شَطَطَ .

ترجمه: قیا س د شر عت له حجتو څخه یو داسی حجت ده چی عمل کول وربا ندی وا جب ده هغه وخت چی تر ده په درجه کی لو ړ دلیل نه وی او دقیاس دشر عی حجت والی په با ره کښی احادیث او آثا ر موجود دی هغه دا چی انحضر ت ﷺ وحضرت معا ذ بن جبل ﷺ هغه وخت وویل کله چی دی یمن ته روا ندی ای معا ذ په څه شی به فیصله کوی معا ذ ﷺ ورته وویل دکتاب الله په ذریعه رسول الله ﷺ ورته وویل که په کتاب الله کی نه وؤ

معاذ ﷺ ورته وویل درسولله ﷺ احادیث په زریعه رسول ﷺ ورته وو یل که هلته هم نه ؤو معاذ ورته وویل دقیاس به زریعه له دی ورسته نبی کریم ﷺ حضرت معا ذ برابر کړی او ورته وئی ویل ټول تعریفو نه هغه خدا ی لره دی چی درسولله ﷺ استاذی ته ئی دهغه تو فیق ورکړی چی دده خوښ ده ا و روایت شو ی ده چی دخثعم قبیلی یوه ښځه نبی کریم ﷺ ته را غله ا ووئی ویل زما پلا ر ډیر سپینږیری ده حج وربا ندی فرض ده او دحج دکولو توان نه لری پر سواری باندی ځان نسی تکیه کولای ایا زه کولا ی شم چی دده له طرفه حج وکړم ؟

حضور ﷺ ورته وویل ایا ته نه پوهیږی چی که ستا پر پلار باندی فر ض باندی وی او ته هغه اداء کړی داستا لپاره کافی نه ده ؟

دی ښځی ورته وویل هو کافی ده نو نبی کریم ﷺ ورته وویل الله ﷻ ډیر حقد اره ده په اداء کولو دحق دده نبی کریم ﷺ دشیخ فانی په حق کښی حج په حقوق مالیه پوری ملحق کړی ده او په جواز کی چی کوم علت مو ثر ده یعنی ادا ینه دهغه طرف ته ئی اشاره کړی ده او دا قیا س ده او ابن صبا ح چی دامام شافعی رحمه الله له معزز شا گر دانو څخه ده ده په خپل کتا ب: شا مل ؛ کښی روایت کړی ده چی له قیس بن طلق بن علی څخه مروی ده چی یو شخص درسول الله ﷺ ودربا رته حاضر شو داسی ښکاریدی لکه چی صحرا ئی وؤ دی شخص وویل ای دخدا ی ﷻ رسوله که یو شخص له اوداسه ورسته خپل ذکر مسه کړی ستا څه رأیه ده ؟

نبي کریم ﷺ ورته وويل ذکر دبدن يوه برخه ده او دانه ده بلکه قياس ده اوله ابن مسعود ﷛ څخه سوال وشو دهغه شخص په باره کښې چې له ښځې سره نکاح وکړي او مهر ذکر نه کړي او تر دخول وړاندې خاوند مړشي ابن مسعود ﷛ ديوې مياشتې مهلت وغوښتې اوبيا ئې ورته وويل زه قياس کوم که صحيح وؤ دالله ﷻ له جانبه څخه ده اوکه غلط وؤ دابن اُمّ عبد له طرفه ده او بيا ئې وويل ددې ښځې لپاره مهر مثل ده نه به په دې کښې کمې وي او نه به زيات وي.

تشريح: مصنف ﷫ وائي قياس هغه وخت حجت شرعي چې تر ده قوي دليل يعني آيت حديث او اجماع نه وي په دې صورت کې په قياس سره عمل کول واجب ده او همد ارنګه دقياس دحجتيت لپاره مصنف ﷫ څو احاديث ذکر کوي ليکن دهغو تر بيان مخکې مونږ ديو خبرې وړاندېز کوو هغه داده چې په دې مسئله کښې څه اختلاف شته څکه دعامو علماء مذهب داده چې قياس حجت شرعي ده موجب دعمل ده او دروافضو او خوارجو، او بعض معتزله ګانو رأيه داده چې قياس حجت شرعي نه ده دوې دخپلې مدعي داثبات لپاره درې دلائل وړاندې کوي.

(۱) دليل داده چې الله ﷻ فرمائي وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ مونږ پر تا باندې داسې کتاب نازل کړي ده چې دهر شي لپاره بيان ده اوپه بل ځای کې داسې راغلي دي وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ لوند او وچ هر شي په کتاب الله کې موجود ده منکرين دقياس وائي چې هر شي په کتاب الله کې موجود ده نو دقياس څه ضرورت ده؟

(۲) دليل داده چې نبي کريم ﷺ فرمائي چې بنی اسرائل څه زمانه پر سيده (نيغه) لاربانديروان وؤ تر هغه وخته چې دفتوحاتو په وجه په دوی کښې دقيد يا نو دنسل شمير زيات شو هغه وخت دوی دموجوده احکامو قياس پر غيرمو جوده احکامو باندې شروع کړي په دې سره دوی هم ګمراه شول اوله ځان سره ئې نورهم ګمراه کړل تاسو وګورې دلته نبي کريم ﷺ دبني اسرائيلو بدوالي په قياس سره بيان کړي دادې خبرې دليل ده چې قياس حجت شرعي نه ده.

دريم دليل: داده چې دقياس بنيا د چونکه پر عقل باندې ده له دې وجه دده په اصليت کې شبه ده څکه يقيني څوک نشي ويلای چې ددې حکم علت فلاني شی ده نو چې دقياس په اصل کې شبه ده بيا څنګه قياس حجت شرعي واقع کيږي؟،،

زمونږ له طرفه ددوی ددلائلو جوابونه.

اول جواب: داده چې په قياس سره په مستقله طريقه ځانته هيڅ حکم نه ثابيتږي بلکه په قرآن کريم کې چې کوم احکام ذکر شوي دي قياس دهغو اظهار کوي يعني قياس مثبت داحکامو نه ده بلکه مظهر داحکامو ده لهذا که څه هم په قرآن کې هر څه ذکر دي دهغه باوجود دقياس ضرورت شته او قياس دقرآن سره منافي نه ده.

دڅوهم دلیل جواب : داده چې دبنی اسرائیلو قیا س د سر کشی او عنا د په طریقه سره ؤو له دی وجه نبی کریم ﷺ ددوی بدبیا ن کړه او زمو ږ قیاس داحکامو شر عیه دا ظهار لپاره ده لهذا زموږ دقیا س اودنبی اسرائیلو دقیاس فرق شته.

ددرم دلیل جواب: داده چې وجود دشبه په علت کې که څه هم له علم او یقین سره منافی ده لیکن له عمل سره منافی نه ده او دا ممکنه ده چې عمل دی واجب وی او علم یقین دی حاصل نه وی.

او عام علما ء چې دقیا س پر شر عی حجت والی باندی دلیل وائی هغه دلیل ئی دقرآن او حدیث په رڼا کی ده اثبات ئی په قرآن سره لکه په دی قول دالله ﷻ کی فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ دلته ذکر داعتبا ر راغلی ده اعتبا ر دی ته وائی چې یو شی په خپل نظیر سره واړوی او دا نه ده بلکه قیاس ده نو داسی شو لکه الله ﷻ چې امر وکړی داعتبا ر یعنی دشی داړولو په نظیر سره.

مصنف رحمه الله فرما ئی هغه احادیث چې په هغو سر ه دا اثبات کیږی چې قیا س حجت شر عی ده له هغو څخه یو داده کله چې نبی کریم ﷺ حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه د یمن والی مقرر کړی دتللو په وخت ئی ورته وویل ای معا ذ ته به دخلکو په مینځ کی فیصله په څه شی سره کوی ؟

ده په جواب کی ورته وویل په کتاب الله سره بیا نبی کریم ﷺ ورته وویل که تا په کتا ب الله کښی هغه فیصله پید انه کړه بیا په څه شی فیصله کوی ؟

ده په جواب کی ورته وویل په سنت رسوالله ﷺ سره دریم ځل نبی کریم ﷺ سوال وکړ که تا هغه فیصله په سنت درسول الله ﷺ کی پیدا نه کړه بیا په څه شی سره فیصله کو ؟ حضر ت معا ذ ورته وویل بیا په خپله را یه سره فیصله کوم.

نبی کریم ﷺ چې دده خبر ی واوریدی ډیرخوشحاله شودائی وفر مائل : شکر ده خدای لر ه چې د خپل رسول استا ذی ته ئی دهغه څه تو فیق ور کړی چې په هغه سر ه دده رسول خو شحاله کیږی نوکه قیاس حجت شر عی نه وای بیا به نبی کریم ﷺ دحضرت معاذ رضی الله عنه داقول اَجْتَهِدُ بِرَأْيِي ردکړی وای بلکه درد کولو پر ځای ئی دالله ﷻ شکر اداء کړلهذا دده مبارک شکر اداء کول ددی خبری اثبات کوی چې قیاس حجت شر عی ده.

دحضرت معا ذ پر حدیث باندی یو سوال کیږی.

سوال : داده چې په مذ کوره حدیث کی درسول الله ﷺ دا الفاظ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ له دی آیت مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ او له دی آیت وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ سره معارض ده خکه له آیت څخه دامعلومه شوه چې یو حکم او یو شی هم داسی نشته چې په کتا ب الله کی مو جود نه وی اوله حدیث څخه دامعلو مه شو ه چې بعض داسی احکام شته چې په کتا ب الله کښی مو جو نه وی ؟

جواب :داده چې په کتا ب الله کښی له نه پیدا کید و څخه دانه لا زمیږی چې مو جو د هم نه ده بلکه په کتاب الله کښی دننه مو جود داسی احکام چې په ظاهر ی نظر سره نه معلو میږی دهغو احکامو

استنباط دقیا س په ذریعه سره کیدای شي دوهم حدیث داده چي د خثعم قبیلی څخه یو ه ښځه چي په نامه د اسماء بنت عمیس وه د آنحضرت ﷺ په خدمت کښي حاضره شو ه وه ئی ویل زما پلار ډیر سپنږیری او نا وسه ده او پر ده باندی حج فرض ده او پر دا به باندی ځان نشي تکیه کولای په داسی صورت کي که زه دهغه پر ځای باندی حج اداء کړم څنګه ده ؟ آنحضرت ﷺ ورته وویل ته وو ایه که ستا پرپلا ر د چاه قرض باندی وی ته ئی اداء کولی شی او که نه؟ دی ورته وویل ولی نه بلکه اداء کولای شم. د الله رسول ورته وویل الله ﷻ ډیر حقدار ده په دی سره چي دده حق اداء کړشی.

دلته رسوالله ﷺ دشیخ فاني په حق کښی حج ملحق(قیاس) پر حقوق مالیه باندی او په جواز کی چي کو م علت مؤ ثر ده دهغه طرفته ئی هم اشاره وکړه یعنی لکه څنګه چي دبل له طرفه دمالی قرض په اداء صحیح ده همدا رنګه دبل له طرفه دحج اداء صحیح ده او دحج ملحق کیدل په حقوق مالیه پوری اوددوی په مینځ کی دعلت موثره مشترکه بیا ن کول قیاس ده لهذا دا ثابته شو ه چي قیاس حجت شر عی ده ځکه که قیاس حجت شر عی نه وای نو آنحضرت ﷺ په هغه سره استدلال نه کوی.

دریم حدیث داده چي له قیس بن طلق بن علی څخه روایت ده چي یو سحرا ئی سړی دنبی کریم ﷺ په خدمت کښي حاضر شو وه ئی ویل ای دخدای رسوله که یو شخص له اودس کولو ورسته خپل ذکر مسه کړی په دی باره کښي ستا څه رأ یه ده ؟

ده مبارک ورته وویل ذکر دبدن یوه برخه ده یعنی لکه څنګه چي دنور بدن په مسه کولو سره اودس نه ماتیږی همدا رنګه دذکرپه مسه کولو سره هم اودس نه ماتیږی دلته هم نبی کریم ﷺ ذکر قیاس کړ پرنورو اندامو باندی لهذا له دی حدیث څخه هم دا ثابته شوه چي قیاس حجت شرعی ده.

څلورم حدیث داده چي له ابن مسعود ﷺ څخه چاه پوښتنه وکړه چي که چاه له یو ښځي سره نکاح وکړه اومهر ئی ذکر نه کړ اوله ښځي سره تر وطي کولووړاندی خاوند مړشو ایا ددی ښځي لپار مهر شته او که نه؟

ابن مسعود ﷺ دیوی میاشتی مهلت وغوښتی اوبیا ئي ویل زه په دی باره کښي قیاس کوم که صحح شو دالله ﷻ له طرفه ده او که غلط وؤ زماله طرفه ده اوبیائي وویل زما خیال داده چي دی ښځي ته دی مهر مثل ورکړشي ترمهر مثل دی نه کم وی اونه زیات له دی واقعي څخه دامعلومه شوه چي عبدالله ابن مسعود ﷺ ددی ښځي لپاره مهرمثل په قیاس سره ثابت کړ حاصل داده چي مذکوره ټول آیاتونه او احادیث پردی دلالت کوی چي قیاس حجت شرعی ده.

فصلٌ شُرُوطُ صحّةِ القِيَاس خَمسَةٌ

فصلٌ شُرُوطُ صحّةِ القِيَاس خمسَةٌ اَحدُهَا اَن لاَيكُونَ فِی مُقَابَلَة النّصِ وَالثّانی اَن لَايَتَضَمَنَ تَغير حُكمٍ من اَحكَام النّصِ وَالثّالثُ اَن لَايَكُونَ المعدى حُكماً لَايُعقلُ مَعنَاهُ وَالرّابعُ اَن يَقَعَ التّعليلُ لِحُكمٍ شَرعِیّ لَا لاَمرٍ لُغوِیّ وَالخَامسُ اَن لَايَكُونَ الفرعُ مَنصُوصاً عَلَيه .

ترجمه : دقیاس دصحت پنځه شرطونه دی له هغو څخه یو داده چی قیاس به دنص په مقابله کی نه وی دوهم داده چی متضمن به نه وی وتغیر ته دحکم له احکامو دنص دریم داده چی کوم حکم چی له اصل څخه دفرع طرف ته متعدی وی داسی حکم به نه وی چی معنی ئی غیر معقوله وی څلورم داده چی استخراج دعلت به دحکم شرعی لپاره وی دامر لغوی لپاره به نه وی پنځم داده چی فرع به منصوص علیه وی.

تشریح : مصنف رحمة الله عليه وائی هرقیاس حجت شرعی نه ده بلکه هغه قیاس حجت شرعی ده چی په هغه کنبی پنځه شرطونه موجود وی (۱) داچی قیاس به معارض له نص سره نه وی خواه که نص آیت قرآنی وی اوکه حدیث وی اوکه دفقهه صحابی رأیه وی ځکه نص قطعی ده اوقیاس ظنی ده ظنی دقطعی مقابله نشی کولای لهذا دکوم حکم لپاره چی نص موجودوی دهغه لپاره دقیاس ضرورت نشته(۲) دوهم شرط داده چی چی دقیاس په کولو سره به دنص حکم ته تغیر نه رسیږی یعنی دنص په ذریعه چی حکم په کوم شکل سره ثابت وی په قیاس سره به بعینه هغسی حکم په مقیس یعنی فرع کنبی ثابت وی مثلاً که په نص سره مطلق حکم ثابت وو په قیاس سره به هم مطلق حکم ثابت وی داسی به نه وی چی په نص سره حکم مطلق ثابت وی اوپه قیاس سره مقید ثابت وی اودابیله خبره ده چی په نص سره چی کوم حکم ثابت ده هغه قطعی ده اوپه قیاس سره ثابت حکم ظنی ده دادتغیر ضرر نه رسوی.

(۳) شرط داده هغه حکم چی له اصل څخه دفرع طرف ته متعدی وی هغه به داسی نه وی چی معنی ئی غیر معقوله وی مثلاً دنص په ذریعه چی کوم حکم ثابت وی که هغه دعقل اوقیاس سره مخالف وؤ پرهغه حکم باندی دوهم حکم قیاس نه ده مثلاً شمیر درکعتو دلمانځه ، اودزکوة ، دنصاب اندازه اوپه هیره سره په خوړلو اوڅښلو سره دروژی نه ماتیدل خلاف القیاس په نص سره ثابت دی لهذا پردی باندی دنورو شیانوقیاس کول صحیح نه ده اوپه دریم شرط کی داهم لحاظ ده چی دمقیس علیه یعنی اصل حکم به په قرآن یاحدیث یااجماع سره ثابت وی په قیاس به ثابت نه وی ځکه که دمقیس علیه حکم په قیاس سره ثابت وؤ بیاپرهغه باندی قیاس کول جائز نه ده(۴) څلورم شرط داده چی دعلت استخراج به دحکم شرعی لپاره وی دامر لغوی لپاره به نه وی یعنی دنص له علت بیانولو څخه به مقصد اثبات د حکم شرعی وی اثبات دامر لغوی به مقصد نه وی ځکه په قیاس سره لغوی مسائلی نه ثابیتیږی (۵) شرط داده چی فرع به منصوص علیه نه وی یعنی دکوم

حکم داثبات لپاره چی قیاس کول کیږی دهغه حکم لپاره به نص نه وی وارد شوی ځکه دمنصوص علیه حکم لپاره دقیاس دوه صورته دی یابه دغه قیاس له نص سره موافق وی اویابه نه وی که موافق وی نوچی نص شته دقیاس ضرورت نشته اوکه مخالف وؤ قیاس مردود ده.

وَمِثَالُ القِيَاسِ فِي مُقَابَلَةِ النَّصِّ فِيمَا حُكِيَ اَنَّ الحَسَنَ بنَ زِيَادٍ سُئِلَ عَنِ القَهقَهَةِ فِي الصَّلٰوةِ فَقَالَ انتَقَضَتِ الطَّهَارَةُ بِهَا قَالَ السَّائِلُ لَوقَذَفَ مُحصَنَةً فِي الصَّلٰوةِ لَايَنتَقِضُ بِهِ الوُضُوءُ مَعَ اَنَّ قَذفَ المُحصَنَةِ اَعظَمُ جِنَايَةً فَكَيفَ يَنتَقِضُ بِالقَهقَهَةِ وَهِيَ دُونَهُ فَهٰذَا قِيَاسٌ فِي مُقَابَلَةِ النَّصِّ وَهُوَ حَدِيثُ الاَعرَابِيِّ الَّذِي فِي عَينِهِ سُوءٌ وَكَذَالِكَ اِذَا قُلنَا جَازَ حَجُّ المَرأَةِ مَعَ المَحرَمِ فَيَجُوزُ مَعَ الاَمِينَاتِ كَانَ هٰذَا قِيَاسًا بِمُقَابَلَةِ النَّصِّ وَهُوَ قَولُهُ عَلَيهِ السَّلَامُ لَايَحِلُّ لِامرَاَةٍ تُؤمِنُ بِاللّٰهِ وَاليَومِ الاٰخِرِ اَن تُسَافِرَ فَوقَ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا اِلَّا وَمَعَهَا اَبُوهَا اَو زَوجُهَا اَوذُو رَحمٍ مَحرَمٍ.

ترجمه: اوهغه قیاس چی په مقابله دنص کی وی مثال ئی په هغه واقعه کی ده چی داسی نقل شوی ده چی له حسن بن زیاد څخه په لمانځه کی دقهقې په باره کی سوال وشو دورته وه ویل په دی سره اودس ماتیږی سوال کونکی ورته وویل که په لمانځه کی پرمحصنه ښځه باندی تهمت وویل شی اودس نه په ماتیږی سره له دی چی تهمت لوی جرم ده نوپه قهقه سره څنګه اودس ماتیږی حال داده چی قهقه ترقذف ادنی (کمه) ده دلته قیاس دنص په مقابله کښی ده نص هغه حدیث داعرابی ده چی هغه په سترګوضعیف وؤ اوهمدارنګه کله چی موږ وویل چی له محرم سره دښځی حج کول جائز ده نوله امینه ښځوسره هم جائز ده قیاس دنص په مقابله کی ده او نص دحضور ﷺ هغه ارشاد ده چی دداسی ښځی لپاره چی پرالله اوپرورځ دآخرت ایمان لری تر دری ورځي او دری شپی زیات سفر کول جائز نه ده لیکن هغه وخت جائز ده که خپل پلار اویاخاوند اویابل ذو رحم محرم ورسره وؤ.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی هغه قیاس چی اول شرط پکښی موجود نه وی مثال ئی داده چی دحضرت حسن بن زیاد څخه چاه پوښنه وکړه چی په لمانځه کښی په قهقه خنداء سره اودس ماتیږی اوکه نه ؟ حسن بن زیاد ورته وویل اودس په ماتیږی سوال کونکی ورته وویل که یوشخص په لمانځه کی پرپاکه ښځه باندی تهمت ووایو اودس ئی مات نه ده اوحال داده چی تهمت ویل ګناه کبیره ده نوقهقه چی په نسبت قذف ته په درجه کښی کمه هم ده ولی اودس ماتوی ؟ یعنی لکه څنګه چی تهمت لګولوسره پرپاکه ښځه باندی اودس نه ماتیږی باید په قهقه خندا سره هم اودس مات نه شی تاسو وګوری په دی واقعه کښی قیاس مقابل ددی نص ده چی یوړوند اعرابی په څاه کی ولویدی بعض صحابه پرلمانځه ولاړوؤ په زوره زوره ئی وخندل نبی کریم ﷺ چی کله له نمانځه څخه فارغه شو دی ته دلمانځه اواوداسه دراګرزولوامر وکړ نودانص تقاضی ددی کوی چی په لمانځی کی په قهقه خندا سره اودس ماتیږی اوقیاس داتقاضی کوی چی اودس نه ماتیږی

لهذا قیاس ... دنص ده اوکوم قیاس چی مقابل دنص وی هغه صحیح نه ده لهذا داقیاس صحیح نه ده.

اوهمدارنگه موږوایوچی له محرم سره دښځی حج په اتفاق جائز ده لیکن پردی باندی امام شافعی رحمہ اللہ داقیاس کوی چی له دینداره اونیکوښځوسره په سفرکولوکښی هم فتنه نشته یعنی سفرکول دښځی له مذکوره ښځوسره جائزده دامام شافعی رحمہ اللہ داقیاس په مقابله ددی نص کی ده لایحل لامرأة تؤمن الایة داآیت (نص) دا تقاضی کوی چی له محرم نه بغیر له یوچاه سره هم دښځی سفرکول جائز نه ده اوقیاس داتقاضی کوی چی له دیندارو اونیکوښځوسره جائز ده لهذا داقیاس مقابل دنص ده اوکوم قیاس چی مقابل دنص وی هغه صحیح نه ده لهذا داقیاس صحیح نه ده.

وَمثَالُ الثَّانی وَهُوَ مَا یَتَضَمَّنُ تَغیرَ حُکمٍ من اَحکَامِ النَّصِّ مَایُقَالُ النِّیَّةُ شرطٌ فی الوُضُوءِ بالقِیَاسِ علی التَّیَمُّمِ فَاِنَّ هٰذَا یُوجِبُ تَغیرَ اٰیَةِ الوُضُوءِ منَ الاِطلَاقِ الی التَّقیِید وَکَذالِکَ اِذَا قُلنَا اَلطَّوَافُ بِالبَیت صَلوٰةٌ بالخَبَرِ فَیَشتَرِطُ لَهُ الطَّهَارَةُ وَسَترُ العَورَةِ کَالصَّلٰوةِ کَانَ هٰذَا قِیَاساً یُوجِبُ تَغییرَ نَصِّ الطَّوَافِ مِنَ الاِطلَاقِ الی القَیدِ.

ترجمه: اوددوهم مثال یعنی هغه چی په ده سره تغیر دیوحکم دنص راځی هغه ده چی ویل کړی شوی دی چی په اودس کښی نیت شرط ده قیاس ئی پرتیمم باندی کوی ځکه داقیاس آیت دوضوء ته تغیر ورکوی له اطلاق څخه وتقید اوهمدارنگه کله چی موږوویل چی داپه حدیث ثابته ده چی طواف پرکعبه باندی داسی ده لکه لمونځ لهذا په طواف کښی هم طهارت اوستر دعورت شرط ده لکه په لمانځه کی چی شرط ده داقیاس هم وآیت دطواف ته تغیر ورکوی له اطلاقه وتقید ته.

تشریح: مصنف رحمہ اللہ فرمائی چی ددوهم شرط دنیستی والی یعنی ددی چی قیاس به وحکم دنص ته تغیرنه ورولی مثال ئی داده چی یوشخص ووائی چی په اوداسه کی نیت شرط ده لکه څنگه چی په تیمم کښی نیت شرط ده یعنی اودس قیاس کړی پرتیمم باندی داقیاس داوداسه په باره کښی مطلق آیت مقید کوی په دی طریقه چی داوداسه په باره کی داآیت فاغسلوا وجوهکم مطلق ده لیکن دقیاس په وجه مقید کیږی په قید دنیت سره لهذا دمذکوره شرط دنیستی په وجه داقیاس صحیح نه ده.

اوهمدارنگه په دی حدیث الطواف بالبیت صلوٰة کښی طواف ته لمونځ ویل شوی ده اوس که څوک طواف قیاس کړی پرلمانځه باندی په دی طریقه چی لکه څنگه چی دلمانځه لپاره طهارت اوستر لعورت شرط ده همدارنگه دطواف لپاره هم شرط دی داقیاس صحیح نه ده ځکه په دی سره ددی آیت وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ واطلاق ته تغیر رسیږی ځکه آیت مطلق ده اودقیاس په وجه مقید کړشو.

وَمِثَالُ الثَّالِث وَهُوَ مَالاَيُعقَلُ مَعنَاهُ فِی حَقِّ جَوَازِ التَّوَضِّی بِنَبِيذِ التَّمرِفَانَّهُ لَوقَالَ جَازَ بِغَيرِه مِنَ الاَنبذَةِ بِالقِيَاسِ عَلٰی نَبِيذِ التَّمرِ اَو قَالَ لَو شَجَّ فِی صَلوتِه اَواحتَلَمَ يَبنِی عَلٰی صَلوتِه بِالقِيَاسِ عَلٰی مَااِذَا سَبَقَهُ الحَدَثُ لَايَصِحُّ لِاَنَّ الحُكمَ فِی الاَصلِ لَم يُعقَل مَعنَاهُ فَاستَحَالَ تَعدِيَتُهُ اِلَی الفَرعِ وَبِمِثلِ هٰذَا قَالَ اَصحَابُ الشَّافِعِی قُلَّتَانِ نَجِستَانِ اِذَا اجتَمَعَتَا صَارَتَا طَاهِرَتَينِ فَاِذَا افتَرَقَتَا بَقِيَتَا عَلَی الطَّهَارَةِ بِالقِيَاسِ عَلٰی مَا اِذَا وَقَعَتِ النَّجَاسَةُ فِی القُلَّتَينِ لِاَنَّ الحُكمَ لَوثَبَتَ فِی الاَصلِ كَانَ غَيرَ مَعقُولِ مَعنَاهُ۔

ترجمه: اودريم شرط مثال يعنی دهغه چی معنی ئی معقوله نه وی په نبيذ دتمر سره داودس جواز ده له دی وجه که څوک ووائي چی پرنبيذ دتمرباندی په قياس سره په نورو نبيذو هم اودس جائز ده اويا ووائي که په حال دلمانځه كښی ديوچاه سرزخمی شی اويا احتلام شی نو پرخپل لمانځه باندی دی بناء وكړی قياس ئی كړی پردی باندی چی كله سرې ته بی اودسی پيښه شی دا صحح نه ده څكه په مقيس عليه كښی حكم غير معقول المعنی ده لهذا ددی متعدی كول وطرف دفرعی ته محال ده اوهمدارنګه شوافع وائی كه دوه ناپاكه منګی جمع شی پاک دی اوكه هغه سره جلاكړشی طهارت ئي باقی ده پاته ده پردی باندی داقياس شی چی نجاست په دوو منګو كی ولويږی له دی وجه چی كه په مقيس عليه كی حكم ثابت هم شی غير معقول المعنی ده.

تشريح : په دی عبارت كښی مصنف رحمۃ اللہ علیہ دهغه بيان كوی چيرته چی په قياس كی دريم شرط نه وی دريم شرط داده چی كوم حكم چی داصل له طرفه وفرع ته متعدی وی هغه به غير معقول اومخالف له قياسه نه وی مثال ئی داده چی په نبيذدتمر سره داوداسه جواز په دی حديث تمرة طيبة وماء طهور سره ثابت ده ليكن بعض خلكو پر دی باندی په قياس سره په نورو نبيذو باندی هم داوداسه كولواجازه كړی ده ليكن داقياس صحيح نه ده څكه په نبيذ دتمر سره جواز داوداسه په حديث سره خلاف القياس اوخلاف العقل ثابت ده څكه دنبيذ دتمر نه حقيقة اوبه دی اونه د اوبو په معنی سره دی حقيقتاً اوبه له دی وجه نه دی چی نبيذ له اوبو نه بغير مستقل نوم ده كه حقيقتاً اوبه وای نوبايد نبيذنه وای ورته ويل شوی بلكه اوبه ورته ويل شوی وای اوپه معنی داوبو هم نه دی څكه اوبه تريووخته باقی پاته كيدای شی ليكن نبيذ نشی پاته كيدای حاصل داده چی داوبو دنيستی په وخت كښی په نبيذدتمر سره داوداسه جواز په حديث سره خلاف القياس ثابت ده جائزنه ده لهذا دنورو نبيذ قياس پر نبيذدتمر باندی صحح نه ده.

اوهمدارنګه داحديث من قاء اورعف اوامذی فی صلوته فلينصرف وليتوضأ وليبن علی صلوته مالم يتكلم په دی حديث سره خلاف القياس اوخلاف العقل داخبره ثابته ده چی كه چيری په لمانځه كښی بی اودسی پيښه شوه نو لمونځ دی پريږدی اودس دی وكړی اوپرخپل لمانځه باندی دی بناء وكړی داحكم له دی وجه خلاف

القیاس او خلاف العقل ده چی بی اودسی منافی ده له لمانځه سره ځکه چی بی اودسی منافی له طهارت سره ده او بغیر له طهارت لمونځ جائز نه ده لهذا نو بی اودسی منافی له لمانځه سره ده او په وخت د وجود د منافی کښې شی باقی پاته نه ده لهذا د بی اودسی په وخت کښې هم باید لمونځ باقی نه وی حاصل دا ده چی د عقل او قیاس تقاضی داده چی له حدث سره لمونځ باید فاسد شی لیکن د عقل او قیاس مخالف په حدیث سره دا ثابته شوه چی لمونځ فاسد نه ده بلکه له اودا سه ورسته بناء کول جائز ده او کوم شی چی خلاف القیاس ثابت وی هغه چونکه پرهغه باندی د دوهم شی قیاس جائز نه ده له دی وجه پردی باندی دا نه قیاسیږی چی که په لمانځه کښې سر زخمي شی او یا احتلام ورته پیښ شی دادی هم له غسله ورسته د باقی لمانځه بناء وکړی ځکه د لمانځه د بناء کولو حکم په مقیس علیه (حدیث) کی غیر معقول ده لهذا دده تعدی وفرع ته نشی کیدای مصنف رحمة الله علیه وائی ددی لپاره بل مثال هم شته هغه داده چی شوافع وائی که دوه منګی ناپاکه اوبه سره جمع کړی پاکیږی تفصیل داده چی اصلاً د شوافع مذهب داده چی دومره اوبه چی په اندازه د دوو منګووی هغه کثیری دی او کثیری اوبه د نجاست په لویدلو سره نه مراداریږی مګر هغه وخت چی د اوبو یو وصف بدل کړی اولږ اوبه د نجاست په لویدلو سره مرداریږی خواه که وصف بدل شی او که نه اوس دی وائی د دوو منګو اوبه چی کله ځانته ځانته وی نو د قلیل والی په وجه ناپاکه دی او کله چی دواړه جمع کړی نو د کثیروالی په وجه پاکی ګرزی اوله دی ورسته دی وائي که دغه اوبه سره جلاکړی نو بیو لی اوبه پرخپل طهارت باندی باقی پاته دی دوی دا قیاس کوی پرهغه باندی چی پر دوؤ منګو اوبو کښې نجاست ولویږی او وصف ته تغیر نه ورسوی نو اوبه پاکی دی په دی حدیث اذا بلغ الماء قلتین لم یحمل الخبث که اوبه د دوؤ منګو په اندازه وی نه مرداریږی اوله دی ورسته که دغه اوبه دوه ځایه یا زیات کړی پرخپل طهارت باندی باقی دی یعنی لکه څنګه چی دوه منګی اوبه د نجاست په لیدلو سره نه مراداریږی بلکه پاکی دی همدارنګه دغه دوه منګی له جلاکولو ورسته هم پرخپل طهارت باندی باقی پاته دی او همدا نګه که دوه منګی هریو ځانته ځانته ناپاکه وی په جمع کیدو سره پاک ګرزی اوله دی ورسته په جلاکولو سره هم د دوی طهارت له مینځه نه ځی بلکه پرخپل طهارت باقی پاته دی مونږ جواب ورکوو چی دا حدیث ثابت نه ده که ثابت شی بیا دا او یو چی په مقیس علیه کښې حکم یعنی د اوبو ناپاک والی غیر معقول ده ځکه د نجاست له لویدو سره د اوبو د طهارت بقاء غیر معقول ده حاصل داده کله چی د دوؤ منګو په اندازه اوبو ته نجاست ولویږی ددی اوبو طهارت په حدیث سره خلاف القیاس او خلاف العقل ثابت ده او پر خلاف القیاس شی باندی د بل شی قیاس کول جائز نه ده لهذا د شوافع مذکوره قیاس صحیح نه ده.

وَمِثَالُ الرَّابِعِ وَهُوَ مَا يَكُونُ التَّعْلِيلُ لِأَمرٍ شَرْعِيٍّ لَا لِأَمرٍ لُغَوِيٍّ فِي قَولِهِم اَلْمَطْبُوخُ الْمُنَصَّفُ خَمرٌ لِأَنَّ الْخَمرَ اِنَّمَا كَانَ خَمراً لِاَنَّهُ يُخَامِرُ الْعَقلَ وَغَيرُهُ يُخَامِرُ الْعَقلَ اَيضاً فَيَكُونُ خَمراً بِالقِيَاسِ وَالسَّارِقُ اِنَّمَا

كَانَ سَارِقاً لأَنَّهُ اَخَذَ مَالَ الغيربطَرِيقِ الخُفيَة وَقَد مَشارَكَهُ النَّبَاشُ فى هذَا المَعنى فيَكُونُ سَارِقًا بالقياسِ وَهذَا قِياسٌ فى اللُّغَة مَعَ اعتِرَافه اَنَّ الاسمَ لَم يُوضَع لَهُ فى اللُّغَة وَالدَّليلُ عَلى فَسَاد هذَا النَّوعِ مِنَ القِيَاسِ اَنَّ العَرَبَ يُسَمَّى الفرَسَ اَدهَمَ لِسَوَاده وَكُمَيتاً لحُمرَته ثمَّ لايُطلقُ هذَا الاسمُ عَلى الزّنجِي وَالثوبِ الاحمرِ وَلَوجرَت المُقَايَسَةُ فى الاَسَامى اللُّغَوِيَّة لَجَازَ ذَالكَ لوُجُود العلَّة وَلاَنَّ هذَا يُؤدّى الى ابطَالِ الاَسبَابِ الشَّرعِيَّة وَذَالكَ لاَنَّ الشَّرعَ جَعَلَ السَّرِقَةَ سَبَباً لنَوعٍ مِنَ الاَحكَامِ فاذَا عَلَّقنَا الحُكمَ بمَا هُوَ اَعَمُّ مِنَ السَّرِقَة هُوَ اَخذُ مَالِ الغَيرِ عَلى طَرِيقِ الخُفيَة تَبَيَّنَ اَنَّ السَّبَبَ كَانَ فى الاَصلِ مَعنًى هُوَ غيرُ السَّرِقَة وَكَذَالكَ جَعَلَ شُربَ الخَمرِ سَبَباً لنَوعٍ مِنَ الاَحكَامِ فاذَا عَلَّقنَا الحُكمَ بَامرٍ اَعَمُّ مِنَ الخَمرِ تَبَيَّنَ اَنَّ الحُكمَ كَانَ فى الاصلِ مُتَعَلّقاًبغيرِ الخَمرِ .

ترجمه: اوځلورم مثال يعنى دهغه چى بيان دعلت به دامر شرعى لپاره وى دامر لغوى لپاره به نه وى دشوافع په قول کى ده چى شيره چى پخه کړشي اونيمى شي خمرده ځکه خمر په دى وجه خمر دى چى مخامره دعقل راوالى اوله دى بغيره کوم شي چى مخامره دعقل راولى هغه په ذريعه دقياس خمر دى اوسارق له دى وجه سارق ده چى په پټه دخلکومال وړى اوپه دى معنى کښى کفن کش هم ورسره شريک ړه لهذا په ذريعه دقياس دى هم سارق ده اودا قياس په لغت کښى ده سره له دى چى په دى سره اقرار کوى چى لفظ دسارق په لغت کښى دنباش لپاره وضع نه ده اودقياس ددى نوع پرافسادباندى دليل داده چى عربودتورآس لپاره ادهم اودسره آس لپاره ئي کمّيت نوم اينبى دى اوبيا ددغه لفظ اطلاق پرحبشى اوسره جامه باندى نه کيږى نوکه په لغوى اسماء کښى قياس جارى کيداى شواى نوبايد دعلت دوجود په وجه دااطلاق جائزواى اوبل له دى وجه چى مفضى ده وابطال داسباب شرعيه وؤ ته له دى وجه چى شريعت سرقه ديوحکم لپاره سبب جوړکړى ده نوکه موږحکم پرهغه شي باندى معلق کړو چى ترسرقه عام وى چى هغه دخلکو مال په پټه اخيستل ده نومعلومه شوه چى سبب په اصل کى داسى معنى ده چى غير له سرقى ده اوهمدارنګه شرب خمر ديوحکم لپاره سبب جوړ شوى ده نوکه موږحکم پرداسى امر باندى معلق کړو چى هغه تر خمر عام وى نومعلومه شوه چى حکم پرهغه شي معلق ده چى غير له خمر څخه ده .

تشريح: مصنف رحمه الله وائي هغه قياس چى په هغه کښى ځلورم شرط نه وى مثال ئى داده چى د احناف په نزد خمر لفظ په لغت کى دانګورو هغى خامى شيرى ته وائي چى هغى ډير وخت تيريدلو په وجه داسى شوى وى چى ځګونه ئى پيدا کړى وى اونشه لرونکى وى ددى حکم داده چى په حلال بللو سره سړى کافر ده اوديوى قطرى په خوړلو باندى مستحق دحد ده خواه که ئي په څښلو باندى نشه راغلى وى اوکه نه وى اوله دى نه بغير دنورو نشه لرونکى شيانو حکم داده چى که څوک حلال ورته ووائي کافر نه ده اودومره اندازه په څښلو چى نشه راولى حد واجب نه ده .

اودشوافع په نزد دانګورو هغه شیره چې په اورباندې دارنګه پخه شي چې په پخیدلو پخیدلو باندې نیمی ته ورسیږي او په هغه کې نشه نه وي هغه ته هم خمر ویل کیږي ځکه خمر ته خمر په دې وجه ویل کیږي چې عقل مستورکوي یعنی خمر په لغت کښې په معنی پټوالی سر ده نو لکه څنګه چې دانګورو خامه شیره عقل پټوي او دعقل دپټوالي په وجه دوی ته خمر وائي همدارنګه په اورسره پخ شوي شیره هم عقل پټوي لهذا پر اول قسم باندې په قیاس سره داهم خمر دی اوددی حکم داسی ده لکه داول خامی شیرې.

لیکن موږ وایو چې دانګورو پرخامی شیرې باندې دپخې شیرې قیاس کول اودهغی نوم خمر ښودل داقیاس فی الغت ده یعنی دلته بیان دعلت دامر لغوی لپاره ده نه دحکم شرعی لپاره اوحال داده چې دقیاس دصحت شرط داده چې بیان دعلت به دحکم شرعی لپاره وی.

حاصل داده چې دڅلورم شرط دنه وجود په وجه داقیاس صحیح نه ده.

اوددی لپاره دوهم مثال چې هلته څلورم شرط موجودنه وی داده چې کفن کش داحناف په نزد سارق نه ده لهذا داحناف په نزد پرده باندې حدهم نه جاری کیږي اودشوافع په نزد سارق ده اودسارق حد هم ورباندې جاری کیږي شوافع نباش (کفن کش) پرسارق باندې قیاس کوی اوعلت ئی دابیانوی چې سارق ته سارق له دی وجه وائي چې دی دخلکومال په پټه سره اخلی اودامعنی په نباش کښې هم موجوده ده ځکه نباش هم په پټه دمړه څخه کفن وړی له دی وجه نونباش هم سارق ده نوکله چې نباش سارق شو پرده باندې حکم دقطع دید جاری کیږي لیکن موږ وایو داقیاس فی الغت ده اومخکی ذکر شو چې دقیاس دصحت لپاره شرط داده چې قیاس فی الغت به نه وی یعنی دعلت استخراج به دعمل لغوی لپاره نه وی بلکه دامر شرعی لپاره به وی نوچې دقیاس دصحت شرط موجود نه شو لهذا داقیاس صحیح نه ده.

مصنف رحمه الله فرمائی چې امام شافعی رحمه الله نباش پرسارق باندې لغتاً قیاس کړ اومطبوخ منصّف ئي پرخمر باندې لغتاً قیاس کړ اوحال داده چې په خپله هم دا اقرار کوی چې سارق دنباش لپاره اوخمر دمطبوخ منصّف لپاره وضع نه ده. والدلیل علی فساد هذا النوع په دی عبارت سره مصنف رحمه الله دقیاس فی الغت دفساد اوغلطی دوه دلیله ذکر کوی اول دلیل داده چې اهل عرب دتورآس لپاره ادهم اودسور رنګه آس لپاره کُمّیت نوم ایښی ده لیکن حبشی ته دتوروالی په وجه ادهم نه ویل کیږي اوسری جامی ته دسره رنګ په وجه کمیت نه ویل کیږي نوکه په اسماء لغویه وؤ کښی قیاس جاری وای نودعلت (توروالی) په وجه باید حبشی ته ادهم ویل شوی وای اوسوروالی په وجه باید پرسره جامه باندې دکمیت اطلاق شوی وای اوحال داده چې بالاجماع دادوه اطلاقه صحیح نه دي نوکله چې دااطلاق صحیح نه شو نو په لغت کی قیاس کول هم جائز نه ده.

دوهم دلیل داده چی قیاس فی اللغت اسباب شرعیه باطله وی په دی طریقه چی شریعت دقطعی دید سبب سرقه گرزولی ده نو که موږ حکم پر هغه معلق کړو چی هغه تر سرقه عام وی یعنی که موږ روایو چی دخلکو مال په پټه وړل دقطع دید سبب ده چی هغه نباش اوسارق دواړته عام ده نودا ظاهره شوه چی سبب په اصل کی هغه معنی ده چی غیر له سرقی ده نوکله چی دقطعی دید سبب غیر شو له سرقی څخه نوشریعت چی سرقه دقطعی دید لپاره سبب گرزولی وو هغه باطل شو اوهمدارنګه شریعت څښل دشرابو دحد لپاره سبب گرزولی ده که موږ حد پر داسی شی باندی معلق کړو چی هغه ترخمر عام وی یعنی مخامره دعقل سبب وگرزوؤ چی مطبوخ اوغیر مطبوخ دواړو ته شامل ده له ید څخه داظاهره شوه چی دحد اصل سبب له خمر بغیر بل شی یعنی مخامره ده نوکله چی دحد سبب مخامره شی نوشریعت چی دحد لپاره سبب خمر گرزولی وؤ هغه باطل شو حاصل داده چی دقیاس فی اللغت په وجه داسباب شرعیه وؤ ابطال لازمیږی اوداسباب شرعیه ابطال جائز نه ده لهذا قیاس فی اللغت جائز نه ده.

وَمِثَالُ الشَّرطِ الخَامِس وَهُوَ مَالَایَکُونُ الفَرعُ مَنصُوصاً عَلَیه کَمَا یُقَالُ اعتِقَاقُ الرَّقَبَة المکَافِرَة فِی کَفَّارَة الیَمِینَ وَالظِّهَارِ لَایَجُوزُ بَالقِیَاس عَلَی کَفَّارَة القَتل وَلَو جَامَعَ المُظَاهِرُ فِی خَلَالِ الاطعَام یستَانَفُ الاطعَامَ بَالقِیَاس عَلَی الصَّوم وَیَجُوزُ للمُحصَر اَن یَتَحَلَّلَ بَالصَّوم بَالقِیَاسِ عَلَی المُتَمتّع وَالمُتَمَتِّعُ اذَا لَم یَصُم فِی اَیَامِ التَّشرِیقِ یَصُومُ بَعدَ هَا بَالقِیَاسِ عَلَی قَضَاءِ رَمَضَانَ .

ترجمه: او د پنځم شرط مثال یعنی دهغه چی فرع به منصوص علیه وی داسی ده لکه چی ویل شوی دی چی پر کفاره دقتل باندی په قیاس کولو سره په کفاره دیمین اوکفاره دظهار کښی رکبه کافره آزادول جائز نه ده او که ظهار کونکی د ډوډی ورکولو په حال کی جماع وکړی د ډوډی اعاده به کوی په قیاس کولو سره پر روژی باندی او محصر لره جائز ده چی ځان حلال کړی په روژه سره په وجه دقیاس کولو پرمتمتع باندی اومتمتع که په ایام تشریق کښی روژی نه ونیولی له ایام تشریق ورسته دی ونیسی په وجه دقیاس دقضاء درمضان باندی.

تشریح: مصنف رحمه الله وائي دپنځم شرط چی مقیس به منصوص علیه نه وی مثال ئی داده چی داحناف په نزد په کفار دقتل کښی درقبه مؤمنی آزادول ضروری ده درقبی کافری آزادول کافی نه ده ځکه الله جل جلاله دقتل دکفاری په باره کښی وائی فتحریررقبته مؤمنة یعنی دقتل دکفاری لپاره درقبی مؤمنی آزادول شرط ده او په کفاره دیمین اوکفاره دظهار کښی داشرط نشته چی رقبه به مؤمنه وی ځکه دیمین دکفاری په باره کښی

الله جل جلاله فرمائی اوتحریررقبته اودظهار دکفاری په باره کښی په فتحریررقبة په دی دواړو ځایو کښی رقبه مطلق ده په قید دمؤمنه مقیده نه ده لهذا دمطلق رقبی آزادول کافی ده خواه که مؤمنه وی او که کافره وی .

او امام شافعی رحمہ اللہ کفاره دیمین او ظهار قیاس کوی پر کفاره دقتل باندی دی وائی چی په یمین اوظهار کی هم درقبی مؤمنی آزادول ضروری ده.
لیکن موږ وایو چی په دی قیاس کی پنځم شرط موجود نه ده په دی طریقه چی دقیاس دصحت لپاره پنځم شرط داده چی مقیس به منصوص علیه نه وی یعنی نص به ورباندی واردنه وی او حال داده چی دلته مقیس یعنی کفاره دیمین اوظهار دواړه باندی نص وارد ده لهذا ددی شرط دنه وجود په وجه داقیاس صحیح نه ده.
دپنځم شرط لپاره دویم مثال داده چی احناف وائی که مظاهر کفاره په روژو سره ورکوله او دروژ وپه مینځ کی ئی له خپلی ښځی سره جماع وکړه مثلاً یو ه میاشت روژی ونیسی له هغه ورسته جماع وکړی نو پر ده باندی دالازمه ده چی له سره روژی را وګرزوی ددی خبری دلیل داده چی الله ﷻ فرمائی فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا یعنی کو شخص ته چی دغلام آزادیدل آسانه نه وی هغه دی دوی میاشتی پرله پسی روژی ونیسی تر جماع کولو مخکی او که هغه کفاره په ډوډی ورکو لو سره ادا کوله او ډوډی ورکولو په دوران کی ئی جماع وکړه یعنی ده روزانه هره ورځ یو ه مسکین ته ډوډی ورکوله شپه مسکنا ن ئی پو ره کړه نه وو بلکه شل ورځی ئی ډوډی ورکړی وه په مینځ کی ئی جماع وکړه پر ده باندی دالازمه نه ده چی دوهم ځل به له سره ډوډی راګرزوی ځکه په آیت کښی چی اطعام طعام ذکر ده هغه مطلق ده ځکه الله ﷻ فرمائی فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا یعنی روژی دطاقت نه لرلو په صورت کی حکم په اطعام سره ده او داحکم مطلق ده په قید د مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا سره مقید نه ده لهذا داحکم مطلق ده یعنی داو اجب نه ده چی ترجماع مخکی به اطعام ورکوی نو که ئی داطعا م په مینځ کی جماع وکړه له سره طعام راګر زیدل واجب نه ده او اما شافعی رحمہ اللہ اطعام پر روژه باندی قیاس کوی دی فرمائی چی لکه څنګه چی په روژه کښی داشرط شته چی تر جماع به مخکی وی همدارنګه په اطعام کښی هم داشرط شته چی تر جماع به مخکی وی لیکن موږ ورته وایو چی داقیاس صحیح نه ده ځکه دلته دقیاس پنځم شرط موجود نه ده په دی طریقه چی دقیاس دصحت لپاره شرط داده چی مقیس (فرع) به منصوص علیه نه وی او حال داده چی دلته پراطعام باندی نص وارد ده لهذا کله چی دقیاس دصحت شرط موجودنه شو نوقیاس صحیح نه ده او دپنځم شرط دنیستی والی لپاره دریم مثال داده چی داحناف په نزد دمحصر (هغه څوک چی په نیمه لارکښی له حج څخه منع شوی وی) حکم داده چی هدیه ، حیوان دی خرم ته ولیږی چی کله ئی دایقین شی چی دغه حیوان به اوس په حرم کښی حلال شوی وی لدی ورسته دی سر وخریي اوله احرامه وتل ورته جائز ده او که دی دهدیی پر لیږلو باندی قادرنه وو په دی صورت کی زموږ په نزد محرم ده له احرامه څخه وتل ورته جائز نه ده ځکه الله ﷻ دمحصرپه باره کښی فرمائی وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ یعنی له احرامه

وتل خاص ده تر هدیه پورې امام شافعي رحمه الله فرمائي لکه څنګه چې متمتع د هد یه د نه وجود په صورت کښې کولای شي چې دحج په شپو کښې په درو ورځو روژو او ورسته له دې اوه روژې نیول په کورکښې په دې سره له احرامه وزې همدارنګه محصر هم کولای شي چې په دغه طریقه له احرامه ووزې په هغه وخت کې چې قدرت پر هدیه باندې نه لرې ځکه ددواړو په مینځ کې مشترک علت عدم دقدرت ده پر وجود دهدیه باندې.

حاصل داده چې امام شافعي رحمه الله محصر قیاس کوی پر متمتع باندې لیکن موږ وایو چې دپنځم شرط دنه وجود په وجه داقیاس صحیح نه ده ځکه فرع (محصر) منصوص علیه ده ځکه دانص وَلَا تَحْلِقُوا رُؤُسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ وربانديې وارد ده او حال داده چې دقیاس دصحت لپاره داضروري ده چې فرع به منصوص علیه نه وي.

دپنځم شرط دنه وجود څلورم مثال داده چې احناف وائي که متمتع پر وجود دهدیه باندې قادر نه وؤ دری روژې دې دورځودحج یعنی ۹،۸،۷ ، دذالحجه ونیسي او او ه روژې دې هغه وخت ونیسي چې کورته ورسیږي لیکن که متمتع دایام حج روژې نه ونیولې تر دې وخته چې یوم النحر راشي داوخت ایام تشریق تیرې دې لدې ورسته روژه نیول جائز نه ده بلکه داوخت صرف دم واجب ده دلیل ددې خبرې داده چې یو شخص حضرت عمر ته وویل ماحج متمتع وکړ لیکن دهدیه په بدل کښې ماروژې نه ونیولې تر هغه وخته چې یوم عرفه تیره شوه حضرت عمر چې کله دا واقعه واو ریدله ورته وویل ملیك الهدی پر تا باندې هدیه ده دورته وویل لاجدزه هدیه نه لرم حضرت عمر ورته وویل سل من قومك له خپله قوم پښتنه وکړه دورته وویل زمادوقوم دلته یوڅوک هم نشته حضرت عمر رحمه الله خپل غلام ته وویل دهدیه قیمت ورکه دلته حضرت عمر دایام حج دتیریدلو په صورت کښې په هدیه سره تصریح وکړه اما م شافعي فرمائي که متمتع په ایام حج کښې روژې نه ونیولې دې نه ورسته هم په روژو نیولو باندې حلالیږي او دې داقیاس کوي پر قضاء رمضان باندې یعنی لکه څنګه چې درمضان قضاء راوړل تر راتلو نکې رمضان مخکې ضروري ده لیکن که ئې تر راتلونکې رمضان مخکې نه ونیولې ورسته ئې هم نیولای شي همدارنګه که متمتع په ایام حج کښې روژې نه ونیولې ورسته ئې نیولای شي او په هغو سره حلالیږي ځکه ددواړو په مینځ کې مشترک علت داده چې صوم رمضان او صوم تمتع دواړه موقتي روژې دې او په خپل وخت کښې فوت شوې دې.

لیکن موږ وایو چې داقیاس صحیح نه ده ځکه فرع (صوم تمتع) منصوص علیه ده او حال داده چې دقیاس دصحت لپاره شرط داده چې فرع به منصو ص علیه نه وي نوکله چې دلته فرع منصوص علیه ده لهذا داقیاس صحیح نه ده.

سوال : دحضرت عمر قول خو دصحابی قول ده نص نه ده لهذا ددی په وجه څنګه قیاس پریښودل کیږی ؟

جواب: داده چې دصحابی قو ل که مدرک په قیاس او په عقل نه وو په دغه صورت کې دصحابی قول پردی محمول ده چې ده له رسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی لهذا دادصحابی قو ل پا ته نه شو بلکه نص وګرزیدی.

فَصلٌ اَلقِیَاس الشّرعیُ

فَصلٌ اَلقِیَاس الشّرعیُ هُوَ تَرَتّبُ الحُکمِ فی غَیرِالمَنصُوصِ عَلَیه عَلی مَعنی هُوَ عِلّةٌ لِذَالِکَ الحُکمِ فِی المَنصُوصِ عَلَیه ثُمّ اِنّمَا یُعرَفُ کَونُ المعنی عِلّةً بِاالکِتَاب وَبِالسُنّة وَبِالاجمَاعِ وَبِالاَستِنبَاطِ

تر جمه : قیا س شرعی ترتب دحکم ده په غیر منصوص علیه کښی په دی معنی سره چې دی په منصوص علیه ددی حکم علت ده او دمعنی علت والی په کتاب الله په سنت په اجماع او په اجتهاد او په استنباط سره پیژندل کیږی .

تشر یح : مصنف رحمه الله قیاس مقید کړ په قید دشرعی په دی سره اعترا ض ده له قیاس لغوی قیاس شبهی قیاس عقلی څخه قیاس لغوی هغه ده چې یواسم له یوه ځایه بل ځای ته متعدی کړشی دعلت مشترکه په وجه مثلاً له شر ابو بغیر نورو نشئی شیانو ته خمر ویل په دی وجه چې په دی کښی مخامره دعقل ده لکه شر ابوته چې دمخامره عقل په وجه خمر ویل کیږی او قیاس شبهی هغه ته وائی چې یوحکم د مشا کلت دصورت په وجه له یو ه صورت څخه بل ته متعدی کړشی مثلاً یو شخص ده پر دی باندی چې قعده اخره فرض نه ده دلیل داووائی چې قعده اخیره په شکل او صورت کی له قعده او لی سر ه مشابه ده نو چونکه قعده اولی فرض ده لهذا قعده اخره هم فرض نه ده اوقیاس عقلی دی ته وائی چې له داسی مقدمات څخه مرکب وی چې دهغو له تسلیم کولو څخه ددوهم قول تسلمول لازمیږی مثلاً العالم متغیروکل متغیرحادث ددغومقد ماتو له تسلیم څخه ددی مقدمی العالم حادث تسلمول لا زمیږی دا دری سره اقسا مو دا خراج لپاره مصنف رحمه الله قیددشرعی ذکر کړی دی فر ما ئی چې قیاس شر عی ترتب دحکم ده په غیر منصوص علیه کی دهغی معنی په وجه چې هغه معنی په منصوص علیه کښی ددغه حکم لپاره علت وی یعنی په منصوص علیه کی چې دکوم علت په وجه حکم ثابت وی په غیر منصوص علیه کی هم دهغه علت په وجه حکم ثابت کولو ته قیاس شرعی وائی دقیاس له دی تعریف څخه معلومه شوه چې دقیاس مراد پر علت باندی ده او دغه علت داصل او فرع په مینځ کی مشترک ده او ددغه علت په وجه حکم له اصل څخه فر ع ته منتقل کیږی حاصل داده چې داخبره متفق علیه ده چې په غیر منصوص علیه کښی حکم دعلت په وجه ثابت ده لیکن په دی کښی اختلاف ده چې په منصوص علیه کښی

حکم په څه وجه ثابت ده یعنی دنص په وجه ثابت ده او که دعلت په وجه دعراق مشا ئخ وائی په منصوص علیه کی حکم دعین نص په وجه ثابت ده دعلت په وجه ثابت نه ده پر دوی یو سوال کیږی.

سوال: داده چی کله په منصوص علیه کی حکم دنص په وجه ثابت ده نو دعلت څه فائده ده؟

جواب: داده چی علت ددی لپا ره وضع شوی ده چی په فرع کښی پر ثبوت دحکم باندی دلالت وکړی او دسمرقند مشا ئخ وائی حکم په منصوص علیه کښی دعلت په وجه ثابت ده دنص په وجه نه ده ثابت او داقول دامام شافعی رحمہ اللہ هم ده پر دوی باندی هم یو سوال کیږی هغه داده کله چی حکم دعلت په وجه ثابت کړ شو دنص فائده څه شی ده؟ جواب داده چی نص دمعرفت لپاره ده دثبوت دحکم لپاره نه ده یعنی په نص سره ثبوت دعلت کیږی نه دثبو ت دحکم لپا ره لیکن دومره چی پیژندنه دحکم په حاصلیږی او علت دحکم لپاره داسی معرف (پیژنونکی) بلل کیږی چی پرهغه باندی دمعلول وجود موقوفه وی او علت حقیقتا مو ثر نه ده بلکه حقیقی موثر ذات دالله ده.

دعلت او علا می په مینځ کی فرق داده چی پر علامه باندی وجود دشی موقوفه نه وی او پر علت باندی وجود شی دموقوفه وی مثلاً لکه دزانی احصان چی علامه درجم ده لیکن علت درجم ئی زنا ده او دوهم فرق ئی داده چی علت هغه شی ده چی ددوهم شی په وجود کی مؤثر وی په دی طریقه چی دمعلول وجود پرده باندی موقوفه وی او علامه دی ته وائی چی دبل شی په وجود کی مؤثر نه وی او یوشی هم ورباندی موقوفه نه وی دریم فرق ئی داده چی علت هغه شی ده چی شارع دحکم باعث وی او علامه هغه شی ده چی پرحکم دشارع باعث نه وی.

مصنف رحمہ اللہ فرمائی له علت څخه صرف هغه مراد ده چی په قرآن یاحدیث یا اجماع یاپه اجتهاد مجتهد سره ثابت وی.

فمِثالُ العلةِ المَعلُومَةِ بِالكتابِ كَثرَةُ الطَّوافِ فَانَّها جُعِلَت عِلَّةً لِسُقُوطِ الحَرَجِ فى الاستيذان فى قوله تَعَالى لَيسَ عَلَيكُم وَلَا عَلَيهِم جُنَاحٌ بَعدَ هُنَّ طَوّافُونَ عَلَيكُم بَعضُكُم عَلى بَعضٍ ثُمَّ اَسقَطَ رَسُولُ اللهِ عَلَيهِ الصَّلوةُ وَالسَّلامُ حَرَجَ نَجَاسَةِ سُؤرِ الهِرَّةِ بِحُكمِ هذهِ العِلَّةِ فَقالَ عَلَيهِ السَّلامُ اَلهِرَّةُ لَيسَت بِنَجَسَةٍ فَانَّهَا مِنَ الطَّوّافِينَ عَلَيكُم وَالطَّوّافَاتِ فَقاسَ اَصحَابُنَا جَمِيعَ مَايَسكُنُ فِى البُيُوتِ كَالفَارَةِ وَالحَيَّةِ عَلَى الهِرَّةِ بِعِلَّةِ الطَّوافِ.

ترجمه: دهغه علت چی په کتاب الله ثابت وی مثال ئی کثرت طواف ده څکه کثرت دطواف دطلب داذن په سلسله کی دحرج دسکوت لپاره علت ده لکه الله ﷻ په دی قول لَيسَ عَلَيكُم وَلَا عَلَيهِم جُنَاحٌ بَعدَهُنَّ طَوّافُونَ عَلَيكُم بَعضُكُم عَلى بَعضٍ او بیا رسول الله ﷺ د ددغه علت په وجه دسورالهرة دنجاست حرج ساقط کی نو نبی کریم ﷺ وویل هرة ناپاکه نه ده څکه دا له هغو څخه ده چی پر تاسو باندی طواف

کوی نوزموږ علماء پرهره باندی دطواف په وجه قیاس دټولو هغوشیانوو کړی چی سکونت په کورنو کی کوی لکه موږک مارو غیره.

تشریح: مصنف رحمہ اللہ وائی هغه علت چی په کتاب الله سره ثابت وی هغه لکه کثرت طواف دکثرت طواف علت والی په کتاب الله سره په دی طریقه ثابت ده چی الله جل جلاله دهغو غلامانو اوهلکانو لپاره چی دوی په کور دننه کښی کارکوی داحکم ثابت کړ چی دری وخته به کورته دداخلید و لپاره اجازه اخلی اول دسهار ترلمانځه مخکی دوهم غرمه دریم دماخستن له لمانځه ورسته ځکه دادری سره داسی وختونه دی چی په دی وخت کی دکور وکړی بیداره نه وی اوداسی جامی ئی په غاړه وی چی هغه دوی صرف دخوب لپاره استعمالوی له خلکو سره په هغو جامو کی ملاقات نه خوښوی.

حاصل داده چی په دغو دور وختونو کښی دداخلید و لپاره اجازه ضروری ده لیکن له دی وختونو بغیر په نورو وختونو کښی دحرج په وجه اجازه ساکته شوه اوددی علت کثرت طواف ده ځکه دالله جل جلاله ارشاد داسی ده لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ یعنی له دی وختونو بغیر پرهغو باندی هیڅ حرج نشته کوم چی پرتاسو باندی طواف کونکی یعنی هغه چی ستاسو او ددوی په مینځ تګ او راتګ زیات وی ستاسوله دوی سره اوددوی له تاسوسره کار وی دوی تاسوته دخدمت کولولپاره راځی اوتاسودی لره دخدمت طلب کولولپاره ورځی نوکه له دی درو وختونونه بغیر په نورو وختونوکښی هم اجازه ضروری شی نو دوی په حرج کی واقع کیږی نودحرج ددفع لپاره له دی درو وختونو نه بغیر په نورو وختونوکښی اجازه اخیستل ضروری نه ده ددی علت کثرت طواف ده اصل داده چی داذن په سلسله کی کثرت طواف داسی علت ده چی دکتاب الله په دی آیت لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ الایه سره ثابت ده اوبیا رسول الله ددی علت په وجه دسوره هره دنجاست حرج ساقط کړی ده په دی قول الهرة لیست بنجس فانها من الطوافین علیکم والطوافات یعنی دپشو پس خورده باید ناپاکه شی ځکه غوښه ئی ناپاکه ده اودا درنده (ځیرونکی) ده لکه په دی حدیث الهرة سبع کی لیکن چونکه دپشو تګ راتګ په کورونو کښی زیات ده له دی وجه ددی پس خورده ناپاکه نه ده ځکه که ناپاکه شی بیاخلک په حرج کی واقع کیږی نودعلت طواف په وجه دحرج ددفعی په خاطر رسول الله ﷺ وفرمایل چی دپشوپس خورده ناپاکه نه ده اوبیازموږ علماء دکثرت طواف په وجه ټول هغه حیوانان چی په کورونو کښی ژوند کوی قیاس کړو پرپشوباندی لکه مار اومږک وغیره.

وَكَذَالِكَ قَوْله تَعَالَى يُرِيدُ اللهُ بِكُمُ الْيُسرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُم الْعُسرَ بَيَّنَ الشَّرعُ أَنَّ الافطَارَ لِلْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ لِتَيَسرِ الأَمرِ عَلَيهِم لِيَتَمَكَّنُوا مِن تَحقِيقِ مَا يَترَجَّحُ فِى نَظَرِهِم مِنَ الاتيَانِ بِوَظِيفَةِ الْوَقتِ أَو بِخَيرِهِ إِلَى أَيَّامٍ أُخَرَ وَبِاعتِبَارِ هذَا الْمَعنَى قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ الْمُسَافِرُ إِذَا نَوَى فِى أَيَّامِ رَمَضَانَ وَاجِبًا

اخر يقعُ عَن وَاجب اخَر لأنّهُ لَمّا ثَبَتَ لَهُ التَرخصُ بمَا يَرجعُ الى مَصَالح بَدَنه وَهُوَ الافطَارُ فلاَ ن يَثبُتَ لَهُ ذالكَ بمَا يَرجعُ الى مَصَالح دينَة وَهُوَ اخراجُ النَّفس عَن عُهدَة الوَاجب أَولى .

ترجمه : او همدارنګه دالله ﷻ قول يُرِيدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ده چې شريعت بيان کړی ده چې دمريض او مسافرلپاره افطار ده دآسانی لپاره ده ددی لپاره چې دی هغه شی پرثبوت باندی قادر شی کوم چې دده په نظر کی راجح ده پرخپل وخت وظيفه اداء کول اوياتر آخره دورځودنيول اودی معنی ته په پام لرنه سره امام ابوحيفه فرمائي که مسافر په رمضان کی دبل واجب نيت وکړ هغه واجب ئی اداء ده ځکه کله چې ده ته دبدنی مصالح لپاره رخصت دافطار ثابت شو نودده لپاره ددينی مصالحو يعنی له خپله ځانه دواجب ذمه داری داړولو لپاره رخصت په طريقه اولی سره ثابت ده.

تشريح : مصنف رحمه الله فرمائی چې په کتاب الله دعلت داثبات مثال يودا هم ده چې الله ﷻ فرمائی ؛ الله ستاسو لپاره آسانی غواړی سختی نه غواړ ؛ شريعت دناروغه اومسافرلپاره په رمضان کی دافطار اجازه له دی وجه کړی ده چې ده لره آسانی شی اوددی لپاره چې دده په ذهن کی دراجح يعنی روژه نيول اونه نيول پر اثبات باندی قادر شی.
تفصيل داده چې دناروغه اومسافر لپاره که روژی دماتولو علت يسر ده چې په کتاب الله سره ثابت ده ليکن لکه څنګه چې په روژه نه نيولو کی يوقسم يسر (آسانی) ده همدارنګه په روژه نيولو کی هم يسر ده داول صورت معلوم ده او په دوهم صورت کی يعنی په روژه نه نيولو کی يسر په دی طريقه ده چې دا قاعده البلية اذاعمّت طابت مصيبت چې کله عام شی هغه اسانی خپلوی. يعنی ناروغه اومسافر چې کله روژه ونيسی نودعامو مسلمانانو سره دموافقت په وجه آسانه کيږی اوکه روژه نه ونيسی بياچې ورسته قضاء راوړی نود نوروخلکودخورک اوڅښنک په ليدلو سره يوقسم تکليف پيداکيږی حاصل داده چې دافطار علت يسر ده اويسر په لرلو نيولوکی هم شته اوپه نه نيولوکی هم شته لهذا مسافر لره اختيار ده روژه نيسی اوکه ئی نه نيسی . مصنف رحمه الله فرمائی دناروغه اومسافر لپاره په رمضان کی چونکه افطار رخصت ده او دروژی لزوم ساقط ده له دی وجه حضرت امام ابوحينفه وائی که مسافر په رمضان کی دواجب اخر يعنی قضاء يانذر نيت وکړی واجب اخر ئی اداء ده ځکه چونکه په روژه نه نيولوکی بدنی فائده شته په دی طريقه چې په خوړلو او څښلوسره بدن وده پيداکوی اوپه سفرکی آسانی پيداکوی اودواجب اخر دروژی په نيولوسره دينی فائده ده په دی طريقه چې دی له يوه واجب څخه فارغه شو اودآخرت له سزاء څخه بچ شو نوکله چې مسافرله دبدنی فائدی په خاطر رخصت ثابت ده ددينی فائدی لپاره په طريقه اولی ثابت ده.

وَمثَالُ العلّة المَعلومَة با لسنّة في قوله عَلَيه الصّلوةُ وَالسّلَامُ لَيسَ الوُضُوءُ عَلى مَن نَامَ قَائمًا اَو قاعداً اَو رَاكعًا اَو سَجدًا انّمَا الوُضُوءُ عَلى مَن نَامَ مُضطَجعًا فَانّهُ اذَا نَامَ مُضطَجعًا استَرخَت مَفَا صلُهُ جَعَلَ استر خَا ءَ المَفَا صل علّةً فَيَتَعد الحكمُ بهذه العلّة الَى النّوم مُستَندًا اَو مُتّكئًا الى شَيء لَو اُزيلَ عَنهُ لَسقَطَ وَكَذالكَ يَتَعدّى الحُكمُ بهذه العلّة الَى الاَغمَاء وَالسُّكر وَكَذالكَ قَولُهُ عَلَيه السّلَامُ تَوَضَئ وَصَلّي وَان قَطَرَالدّمُ عَلَى الحَصير قَطراً فَانّهُ دَمُ عرقٍ انفَرحَعَلَ انفجَارَ الدّم علّةً فَتَعَدّى الحُكمُ بهذه العلّة الَى الفَصد وَالحجَامَة .

ترجمه : او دهغه علت چې په سنت سره معلوم وي مثال ئې د آنحضرت ﷺ دا ارشاد ده ؛ پرهغه شخص باندې او دس نشته چې په ولاړې یا په ناستې یا په رکوع کښې بیده شي او دس پرهغه باندې واجب ده چې اړخ ئې لګولې وي بیده شي ځکه کله چې اړخ ولګوي او بیده شي د ده مفاصل سست شي رسول الله ﷺ استرخاء دمفاصلو علت وګرزوي لهذا ددې علت په وجه حکم متعدي ده هغه ته چې څنګ ئې وهلې وي بیده شي اویا وهغه ته چې یوشي ته ئې تکیه کړې وي او بیده وي که هغه شي ورڅخه لرې کړې غورځي او همدارنګه دعلت په وجه حکم متعدي ده بې هوښې او نشې ته او همدارنګه دحضور ﷺ ارشاد ده اودس وکړه اولمونځ وکړه که څه هم ستاوینه پرچټائي باندې څاڅي ځکه هغه رګ وینه ده جاري ده نبي کریم ﷺ جریان دوینې علت وګرزاوي لهذا حکم ددې علت په وجه وفصد او حجامت ته متعدي ده.

تشریح : مصنف رحمة الله عليه د هغه علت لپاره چې په حدیث سره ثابت وي مثال دا حدیث ذکر کوي <u>لیس الوضوء علی من نام قائماً اوقاعداً اوراکعاً اوساجداً وانّما الوضوء علی من نام مضطجعاً فانه اذانام مضطجعاً استرخت مفاصله</u> یعنی که یو شخص په ولاړې بیده شو اویا درکوع او سجدې په حالت کې بیده شو پرهغه باندې او دس واجب نه ده او که څوک پر اړخ بیده شو پرهغه باندې واجب ده ځکه پر اړخ بیدیدلو په حالت کې استرخاء دمفاصلو راځي.

په دې حدیث کې رسول الله ﷺ استرخاء دمفاصلو علت وګرزاوې لپاره دماتولو داودا سه لهذا په کومو صورتو کښې چې دا علت موجود کړشي هلته او دس مات ده مثلاً لکه په دې صورت کې چې څوک څنګه ووهي بیده شي اویاداسې شي ته تکیه وکړي بیده شي چې که هغه شي ورڅخه لیرې کړې غورځي په دواړو صورتو کې استرخاء دمفاصلوشته له دې وجه او دس مات ده او همدارنګه که یو شخص بې هوښه شي اویانشه کړشي دمذکوره علت په وجه او دس مات ده مصنف رحمة الله عليه وائي دهغه علت چې په حدیث سره ثابت وي یومثال داده چې آنحضرت ﷺ ومستحاضې ته فرمائي <u>توضئ وصلّی وان قطر الدم علی الحصیر قطراً فانه دم عرق انفجر</u> په دې حدیث کې نبي کریم ﷺ دوینې بهیدل داودس دماتولو علت وګرزاوي نو ددې علت په وجه داودا سه دماتیدلو حکم دفصد او حجامت وطرفته هم متعدي ده ځکه په دې دواړه صورتو کښې وینه بهیږي.

وَمِثالُ العلّة المَعلُومَة بالاجماع فيما قُلنا الصغرُ علةٌ لولَايَة الآب فی حَقّ الصغر فيَثبُتُ الحُكم فی حَقّ الصّغير لوُجُود العلّة وَالبُلُوغ عَن عَقل علةٌ لزوال ولَايَة الآب فی حَقّ الغُلَام فيَتعدّى الحُكمُ الَى الجَارِيَه بهذه العلّة وَانفجارُ الدم علّة لانتقاض الطّهارَة فی حَقّ المُستَحَاضة فيَتعدّى الحُكمُ الی غير ها لوُجُود العلّة .

اودهغه علت مثال چی په اجماع سره ثابت وی په دی قول کی ده چی موږ وایو چی صغر اوعدم بلوغ دپلار د ویلایت علت ده په حق دصغير کی نوددی علت دوجود په وجه په حق دصغيری کی هم حکم ثابت ده اوبلوغ سره له عقله دهلک په حق کی دپلاروایت زیوال علت ده نوددی علت دوجود په وجه حکم دنجلی وطرفته هم متعدی ده اووینی دبهیدل دمستحاضی په حق کی داودس ماتولوعلت ده لهذا ددغه علت دوجود په وجه دغیر وطرفته هم متعدی ده.

تشریح : مصنف رحمۃ اللہ علیہ فرمائی هغه علت چی په اجماع سره ثابت وی مثال ئیی داده چی په صغير (کوچنی) هلک په حق کنبی دپلار دویلایت علت په اجماع سره صغر ده داقول داحناف اوشوافع دواړو ده لیکن دصغیری په حق کی دپلار دویلایت په حق کنبی اختلاف ده احناف وائی دصغیری په حق کنبی هم دویلایت علت صغر ده اوشوافع وائی چی دصغیری په حق کنبی دویلایت علت بقارت ده احناف دلیل داده چی چونکه دصغیر په حق کی دویلایت علت صغر ده لهذا ددی علت په وجه د صغيری په حق کی هم دویلایت حکم ثابت ده یعنی په قیاس سره پرصغیرباندی پرصغیره باندی دپلار ویلایت هم صغر ده اوهمدارنګه دهلک عاقل والی اوبالغ والی دپلار دویلایت علت ده په اجماع سره نوددی علت په وجه نجلی ته دزوال ویلایت متعدی کیږی اوهمدارنګه دمستحاضی په حق داودا سه ماتوالی علت په اجماع سره دوینی بهیدل ده اودا حکم دعلت دوجود په وجه هرهغه صورت ته متعدی ده په کوم صورت کی چی دوینی بهیدل وی.

ثُمّ بَعدَ ذالكَ نَقُولُ القيَاسُ عَلی نَوعَين اَحدُ هُمَا اَن يَكُونَ الحُكمُ المُعدّی من نَوع الحُكم الثّابت فی الاَصل وَالثّانی اَن يَكُونَ من جنسه مثَالُ الاتّحاد فی النّوع مَاقُلنَاانّ الصّغرعلّةٌ لوُجُود العلّة فيهَا وَبه يَثبُتُ الحُكمُ فی الثّيب الصّغيرَة وَكَذالكَ قُلنَا الطّوفُ علّةُ سُقُوط نَجَاسَة السُّوَر فی سُورالهرّة فيَتعدّی الحُكمُ الی سُوَر سَوَاكن البُيُوت لوُجُود العلة وبلُوغ الغُلَام عَن عَقل علّةٌ زَوَال ولَايَة الانكَاح فيَزُولُ الوِلَا يَةُ عَن الجَاريَة بحُكم هذه العلّة .

ترجمه : اوله دی ورسته موږ وایو چی قیاس دوه قسمه ده یوقسم داده چی متعدی شوی حکم به له نوع دهغه حکم وی چی هغه ثابت په اصل کی ده اودوهم قسم داده چی د هغه حکم له جنسه به وی چی متحد په نوع کی وی مثال ئی هغه ده چی موږ وويل چی صغر دهلک په حق کی دویلایت دانکاح علت ده لهذا دنجلی په حق کی هم ویلایت دنکاح ثابت ده ځکه په نجلی کی هم داعلت موجود ده اوددی علت په وجه په ثيبه صغيره کی هم حکم ثابت ده اوهمدارنګه موږ وایو چی طواف

دپشو پس خوردی دنجاست لری کولولپاره علت ده لهذا داحکم دعلت دوجود په وجه وپس خوردی دټولو هغو حیواناتو ته عام ده چی په کورونو کی اوسیږی اودهلک عاقل والی اوبالغ والی دویلایت انکاح دزوال لپاره علت ده اوددی علت په وجه له نجلی څخه هم ویلایت زائلیږی.

تشریح: مصنف رحمه الله وائی دحکم دتعدیت په اعتبار قیاس پردوه قسمه ده یوقسم داده چی هغه حکم چی وفرع ته متعدی ده اوهغه حکم چی په اصل کی ده دواړه له یوی نوعی څخه وی یعنی دعلت داشتراک په وجه کوم حکم چی په فرع کښی ثابت ده هغه له نوع دهغه حکم ده چی په اصل کی ده دوهم داده چی هغه حکم چی فرع ته متعدی ده اوهغه حکم چی په اصل کی ده ددواړو جنس یو وی داول قسم چی متحد په نوع کښی وی مثال ئی داده چی احناف په نزد پلار ته دنابالغ هلک دنکاح کولو ویلایت حاصل ده دعلت صغر په وجه اوداعلت چونکه په نابالغه نجلی کی هم موجود ده لهذا پر نابالغه نجلی باندی هم داویلایت شته چی په نکاح ئی ورکړی اوددی علت په وجه ثیبه صغیره کی هم ویلایت حاصل ده ته فکر وکړه هغه ویلایت چی په اصل یعنی دصغیر په حق کی ثابت ده اوهغه ویلایت چی دفرعی یعنی صغیری په حق کی ثابت ده دواړه له یوی نوع څخه دی یعنی دواړه سره عین دی که څه هم ددواړو محل جلاجلا ده.

اواتحاد فی النوع لپاره دوهم مثال داده چی له پس خوردی دپشوڅخه نجاست دطواف په وجه ساقط کړشو او داعلت چونکه په ټولو هغو حیواناتو کی شته چی په خونوکی ژوند کوی له دی وجه دسکوت دنجاست حکم ددغو حیواناتو وپس خوردی ته هم شامل ده نوپه اصل یعنی سورالهره کی چی دسقوط دنجاست کوم حکم ثابت ده اوپه فرع یعنی سواکن البیوت کی چی دسقوط دنجاست کوم حکم ثابت ده دا دواړه دیوی نوع څخه دی که څه هم محل ئی مختلف ده اودریم مثال ئی داده چی دهلک عاقل والی اوبالغ والی دپلار دویلایت دزوال لپاره علت ده او دا علت چونکه په عاقله بالغه نجلی کی هم موجودده له دی وجه له دی څخه هم دپلار ویلایت ساقط ده په دی مثال کی هم دواړه له یوی نوعی څخه دی یعنی دهلک په حق کی زوال دویلایت په عاقل او بالغ والی سره ده او دنجلی په حق کی زوال دویلایت په عاقل والی او بالغ والی سره ده دا دواړه له یوی نوی عی څخه دی.

وَمِثَالُ الاتحاد الجنس مَايُقَاكَثرَةُ الطَّوَاف علّة سقوط حَرَج الاستيذان فی حَقّ مَالَكَت اَيمَا نُنَا فَيسقُطُ حَرَجُ نَجَاسَة السُؤر بهذه العلّة فَانّ هذَا الحَرَجَ من جَنس ذالكَ الحَرَج لَا من نَو عه وكَذالكَ الصَغرُعلّةُ ولَا يَة التَصَرفَ للاَبَ فی المَالِ فَيثبتُ ولَايَةُ التَصرف فی النّفس بحُكم هذه العلّة وَانّ بُلُوغ الجَارِيَة عَن عقل علّةُ زَوَال ولَا يَة الاَبَ فی المَالِ فَيزُولُ ولَا يَةُ فی حَقّ النّفس بهذه العلّة.

ترجمه: او داتحاد فی الجنس مثال هغه ده چی ویل شوی دی چی کثرت دطواف دغلام دمینځی په حق کی دا جازی اخستلو دحرج دسقوط لپاره علت ده او دی علت په وجه دپس خوردی

دنجاست حرج ساقط شو ځکه دا حرج د هغه حرج له جنسه څخه ده له نوع څخه ئی نه ده او همدارنګه صغر د پلار لپاره په مال کی د ولایت د تصرف علت ده نو ددی علت په وجه په نفس ولایت کی تصرف ثابت کړی شو او د هلک عاقل والی او بالغ والی د پلار د ولایت د زوال لپاره علت ده نو ددی علت په وجه په نفس کی دده ولایت زائلیږی .

تشریح: د اتحاد فی الجنس مثال داده چی په کور کی کارکو نکو کو هلکانو ته دا حکم ورکړ شو ی ده چی په دری وختو نو یعنی د سهار تر لمانځه مخکی ،غرمه او د ماخستن تر لمانځه ورسته دی کورته د ننو تلو لپاره اجازه اخلی لیکن له دی نه بغیر په نو رو وختونو کی د اجازی اخستلو تکلیف ساقط ده او ددی علت کثرت طواف ده لکه الله ﷻ چی فر ما ئی طَوّٰفُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلٰى بَعْضٍ او داعلت یعنی کثرت طواف چونکه په هر ه او سواکن البیوت کی هم مو جودده له دی وجه ددوی دپس خوردی د نجاست حرج هم ساقط کړ شو او داویلا ی شی چی داپس خورده نا پا که نه ده :

ته فکر وکړه چی د هر ه او سواکن البیوت د پس خوردی حرج د اجازی له حرج سره هم جنسه ده یعنی دادواړو یو دی او نوع ئی یوه نه ده ځکه یوه نوع حرج د نجاست ده او بله نوع حرج د استذان ده د پلار د ولایت علت د نجلی کو چنیوالی ده او ددی علت په وجه د نجلی په نفس کی د پلار لپار ه ولایت او تصرف ثابت ده د لته هم د حکم یعنی ددواړو ولایتو جنس یو ده لیکن ددواړو نوع یو ه نه ده ځکه ولایت فی المال غیر ده له ولایت فی النفس څخه او همدارنګه د نجلی په مال او نفس کی د پلار د ولایت د زوال لپاره علت د نجلی عا قلتوب او بالغتوب ده د لته هم ددواړو ولایتو د زوال جنس یو ده یعنی د ولایت په زاول کی دواړه شریک دی لیکن نوع ئی مختلفه ده .

ثُمَّ لَا بُدَّ فِي هٰذَا النَّوْعِ مِنَ الْقِيَاسِ مِنْ تَجْنِيسِ الْعِلَّةِ بِأَنْ نَقُولَ اِنَّمَا يَثْبُتُ وِلَايَةُ الْأَبِ فِي مَالِ الصَّغِيرَةِ لِأَنَّهَا عَاجِزَةٌ عَنِ التَّصَرُّفِ بِنَفْسِهَا فَأَثْبَتَ الشَّرْعُ وِلَايَةَ الْأَبِ كَيْلَا يَتَعَطَّلَ مَصَالِحُهَا الْمُتَعَلِّقَةُ بِذٰلِكَ وَقَدْ عَجَزَتْ عَنِ التَّصَرُّفِ فِي نَفْسِهَا فَوَجَبَ الْقَوْلُ بِوِلَايَةِ الْأَبِ عَلَيْهَا وَعَلٰى هٰذَا نَظَائِرُهُ

ترجمه: او د قیاس په دی نوع کی تجنیس د علت ضروری ده په دی طریقه چی مو ږ وا یو چی د صغیر ی په مال کی د پلار ولایت ثابت ده ځکه صغیره پخپله له تصرف کولو څخه عاجزه ده نو شریعت د پلار لپاره ولایت ثابت کړ ددی لپاره چی د صغیری هغه مصالح ضائع نه شی چی ددی تر مال پوری تعلق لری او دا په خپل نفس کی له تصر فه هم عا جزه ده نو دا واجبه ده چی قول وشی په دی سره چی د پلار ولایت ددی پر نفس باندی شته او بنا پر دی باندی نظائر ددی دی .

تشریح: مصنف رحمه الله وائی هغه قیاس چی په هغه کښی داصل د فرع حکم متحد وی په دی قسم د قیاس کی تجنیس د علت ضروری ده یعنی علت به داسی عام وی چی منصوص او غیر منصوص دواړو ته به شامل وی مثلاً صغیره پخپله له تصرف کولو څخه عاجزه ده له دی وجه شریعت ددی و پلار ته ددی په مال کی د تصرف ولا یت ورکړ ددی لپاره چی ددی هغه مصالح چی متعلق له مال

سره دی ضائع نه شی او مور لیدلی دی چی صغیره په خپل نفس کی هم له تصرفه عاجزه ده نو مور ددی و پلار ته ددی دنفس ویلا یت هم ثابتوؤ اوعجزله تصرف څخه چی دو یلایت علت ده یوداسی عامه معنی ده چی مال او نفس دواړو ته شامله ده له دی وجه نو مور پلار ته پر نفس باندی هم ویلایت ثابت کړ.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی ددی لپاره نور نظائر هم دی یعنی په هر هغه ځای کی چی دفرع او اصل حکم متحدو ی هلته داضروری ده چی دعلت معنی به عامه وی.

وَحُكْمُ الْقِيَاسِ الْأَوَّلِ أَن لَا يَبطُلَ بِالْفَرقِ لِأَنَّ الأَصلَ مَعَ الْفَرْعِ لَمَّا اتَّحَدَ فِي الْعِلَّةِ وَجَبَ اتِّحَادُ هُمَا فِي الْحُكْمِ وَإِنِ افْتَرَقَا فِي غَيرِ هَذِهِ الْعِلَّةِ وَحُكْمُ الْقِيَاسِ الثَّانِي فَسَادُنْ بِمُمَانَعَةِ التَّجنِيسِ وَالْفَرقِ الْخَاصِ وَهُوَ بَيَانُ اَنَّ تَاثِيرَ الصِّغَرِ فِي وِلَايَةِ التَّصَرُّفِ فِي الْمَالِ فَوقَ تَاثِيرِهِ فِي وِلَايَةِ التَّصَرُّفِ فِي النَّفسِ.

ترجمه: او داول قیاس حکم داده چی دفرق په وجه نه باطلیږی ځکه اصل او فرع چی کله متحد په علت کی شو نو په حکم کی ئی هم اتحاد واجب ده که څه هم ددی علت نه بغیر دوی دواړه بیل بیل دی او ددوهم قیاس حکم داده چی تجنیس دممانعت او دخاص فرق په وجه فاسدیږی او داددی خبر ی بیان ده چی تاثیر دصغیر په ویلا یت دتصر ف په مال کی لوړ ده پر تاثیر دده په ویلا یت دتصرف فی النفس کی .

تشریح: مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی چی داول قیاس یعنی هغه چی داصل او فرع حکم متحد وی حکم ئی داده چی په مطلق فرق سره نه باطلیږی یعنی که یوشخص دمقیس اومقیس علیه په مینځ کی مطلق فرق ثابت کړی ددغه فرق په وجه داقیاس نه باطلیږی ځکه دقیاس په ټولو اوصافو کی اتحاد ضروری نه ده بلکه په بعض او صاف کی اتحاد ضروری ده نو دمقیس او مقیس علیه په مینځ کی مطلق فرق دقیاس لپاره مبطل نه ده بلکه موید ده او ددی خبری دلیل داده چی کله اصل اوفرع په علت کی متحد شی نو ددوی دواړو اتحادپه حکم کښی ضروری ده که څه هم ددی علت نه بغیر دوی هر یو بیل بیل وی.

او دوهم قیاس یعنی هغه چی داصل او فرع جنس متحدوی حکم ئی داده که یو شخص له تجنیس دعلت څه انکار وکړی او دمقیس او مقیس علیه په مینځ کی مخصوص فرق ثابت کړی داقیاس په دی فرق سره فاسدیږی مثلاً دصغیر په نفس کی چی دپلار ویلایت دتصرف ده داقیا س ده پر ویلا یت دتصر ف په مال دصغیر کی نو اوس که یو شخص ددی دؤو تصرفو په مینځ کی فرق بیان کړی او دا ووائی چی په مال دصغیر کی دپلار په ویلا یت کی صغر زیات موثر ده ځکه نا بالغ وتصرف ته په مال کی زیات ضرورت لری ځکه دی کله دخورکی شیا نو ضرورت لری کله دجامی ضرورت لری او داټوله فوری ضرورتونه دی په دی کی ځنډ کول هم مکن نه ده او دی په خپل ما ل کی له

تصرف کولو څخه عا جزه ده لهذا ددی ضرورت په وجه دده په مال کی پلار لره دویلا یت تصرف حاصل ده او په نفس دده کی چی پلار لره کوم ویلایت حاصل ده په دی کښې دصغر تاثیر زیات نه ده څکه په نابالغه کی شهوت نه وی نو کله چی په نابالغه کی شهوت نشته نو لهذا نابالغ دی ته احتیاج نه لری چی دده په نفس کی تصرف وشي یعنی دی چونکه نکاح ته احتیاج نه لری له دی وجه دی د نکاح په سلسله کی بل چا ته ددی ضرورت نه لری چی دده ولی جوړ کړی .
حاصل دا ده د پلار په هغه ویلایت د تصرف کی چی په مال کی ده په هغه کښې صغر زیات موثر ده په ویلایت فی النفس کی زیات موثر نه ده لهذا ددغه قیاس پر تصرف فی المال باندی فاسده ده یعنی داغلط ده چی څوک داسی ووائی چونکه په مال دصغیر کی دپلار ویلایت د تصرف ده له دی وجه نو دصغیر په نفس کی هم پلار لره ویلایت د تصرف شته .

وَبَيَانُ القسم الثّالث وَهُوَ القِيَاسُ بعلّة مُستَنبطَة بالرّاىُ وَالاجتهاد ظَاهِرٌ وَتَحقيقُ ذالكَ اذا وَجَدنَا وَصفًا مُنا سبًا للحُكم وَهُوَ بحَالٍ يُوجبُ ثُبُوتَ الحُكم وَيَتَقَا ضَاهُ بالنَّظرِ اليه وَقَد اقتَرَنَ به الحَكمُ فى مَو ضع الاجمَاع يُضَافُ الحكمُ اليه لمُنَاسَبَة لَالشّهادة الشرع بكَونه علّة .

تر جمه : اودریم قسم یعنی هغه چی قیاس دداسی علت په وجه وی چی مستنبط له رایه او اجتهاد څخه وی بیان ئی ظاهرده ددی تحقیق داده کله چی موږ داسی وصف پیدا کړو چی مناسب له حکم سره وی او هغه په داسی حال کی چی ثبوت دحکم واجبوی او په نظر وده ته دده مقتضی هم وی او په موضع داجماع کی په دده پوری اقترا ن دحکم هم وی نو حکم ودی وصف ته دمنا سبت په وجه منسوب ده له دی وجه نه چی شریعت دده دعلت والی شاهدی ورکوی .

تشر یح : مصنف رحمه الله وائی دقیاس دریم قسم بیا ن ظاهره ده یعنی هغه قیاس چی دداسی علت په وجه وی چی هغه علت په رایه او احتهاد سره ثابت وی ددی قسم بیا ن ظاهره ده او ددی تحقیق داده کله چی موږ داولیدل چی یو وصف چی له حکم سره مناسب وی او هغه وصف ثبوت دحکم واجبوی او په نظر وظاهر ته دده مقتضی هم وی او له دی نه بغیر په بل ځای کی هم په دی وصف پوری هم حکم مقترن کیدای شی نو په داسی صورت کی دمقیس او مقیس علیه په مینځ کی دمناسبت په وجه حکم ددی وصف وطرفته منسوب کیږی له دی وجه منسوب نه وی چی شریعت ددی شاهدی ورکوی چی دا صفت ددی حکم لپاره علت ده.

وَنَظيرُهُ اذا رَاينَا شَخصًا اَعطى فقيرًا درهَمًا غَلَبَ عَلَى الظَّنّ اَنّ الاطَاءَ لدَفع حَاجَة الفَقير وَتَحصيل مَصَالح الثّوَاب اذا رَاينَا وَصفًا مُنَاسبًاللحكم وَقَد اقتَرَنَ به الحَكمُ فى مَوضع الاجمَاع يَغلبُ الظّنّ باضَافَة الحكم الَى ذالك الوَصف وَغَلَبَةُ الظّنّ فى الشّرع تُوجبُ العَمَلَ عندَ انعدَام مَا فَوقَهَا من لدَليل بمَنزلَة المُسَافر اذَا غَلَبَ عَلى ظَنّه اَنّ بقُربه مَاءٌ لم يَجُز لَهُ التّيَمّمُ وَعَلى هٰذَا مَسَائلُ التّحَرّى .

ترجمه : او ددی نظیر داده کله چی موږ یو شخص ووینو چی یوفقیر ته یودرهم ورکړی نو غالب ظن داده چی فقیر ته یو درهم ورکول دده دضرورت درفع کولو لپاره ده او دثواب حاصلولو لپاره ده نو کله چی دامعلومه شوه نو موږ وایو کله چی موږ ولیدی وصف مناسب له حکم سره او په دی وصف پوری په موضع داجماع کی هم حکم مقترن ده نو ددی وصف وطرفته دحکم منسوب کیدل ظن غالب ده او په ظن غالب سره په شریعت کی موجب عمل وی هغه وخت چی تر ده فوق دلیل نه وی لکه دمسافر چی کله داغالب ظن شی چی نژدی اوبه شته نو دده لپاره تیمم جائز نه ده او پر دی باندی مسائلی دتحری مبنی دی .

تشریح : له حکم سره دوصف مناسب نظیر داده چی موږ یو شخص ووینو چی دی یوفقیر ته یو درهم ورکړی دلته غالب ظن (گمان) داده چی داورکړه دفقیر دضرورت ددفع کولو لپاره ده او دثواب دحاصلولو لپاره ده کله چی دا معلومه شو ه نو موږ ویلا ی شو چی مو ږ یو داسی وصف ولیدی چی هغه مناسب له حکم سره ده او په موضع داجماع یا په موضع دنص کی هم دا حکم په دی ووصف پوری مقترن ده نو غالب ظن (گمان) داده چی داحکم ددی وصف وطرفته منسوب ده او دا وصف ددی حکم لپاره علت ده اوپه شریعت کی ظن غالب موجب دعمل هم ده لیکن په شریعت کی هغه وخت موجب دعمل ده کله چی تر ده لو ړ دلیل یعنی کتاب الله ،سنت ، او اجماع ، موجوده نه وی لکه مسافر کله چی دی په لار ه کی وی او دده غالب ظن داوی چی مخکی اوبه شته په دی صورت کی ده لره تیمم وهل جائز نه ده ، او مسائلی دتحری هم پر ظن غالب مبنی دی یعنی که پر یو شخص قبله مشتبه شوه او داسی څوک نه وؤ چی ده ته دقبلی جهت وښائی په دی صورت کی داشخص تحر ی وکړی کوم طرفته چی دده غالب ظن دقبلی شوپه هغه باندی عمل کول واجب ده .

وَحُكمُ هذَا القِيَاس اَن يَبطُلَ بِالفرقِ المُنَاسب لِاَنَّ عندَهُ يُوجَدُ مُنَاسِبٌ سِواهُ فی صُورَة الحُكم فَلَا يَبقى الظَّنُّ بِاضَافَة الحُكم اِلَيه فَلَا يَثبُتُ الحُكمُ به لِاَنَّهُ كَانَ بنَاء عَلى غَلَبَة الظَّنِّ وَقَد بَطَلَ ذالِكَ بالفرق وَعَلى هذَا كَانَ العَمَلُ بِالنَّوعِ الاَوّل بِمَنزِلَةِ الحُكم بالشَّهَادَة تَزكِيَة الشَاهد وَتَعدِيلِه وَالنَّوعِ الثَّانى بِمَنزِلَة الشَّهَادَة الشَّهَا دَة عِندَ ظُهُورِ العَدَالَة قَبلَ التَّزكِيَة وَالنَّوع الثَّالث بِمَنزِ لَة شَهَادَة المَستُور .

تر جمه : اوددی قیاس حکم داده چی داپه مناسب فر ق سره باطلیږی ځکه هغه وخت په صورت دحکم کی یومناسب موجودده چی له وصف مناسب څخه غیر ده لهذا او ل مناسب وطرفته دحکم دمنسوب کولو په سلسله کی ظن غالب با قی پا ته نه شو ځکه هغه حکم مبنی پر غلبه دظن ؤو او غلبه دظن باطله شوه په فرق مناسب سره اوبنا پر دی با ندی په اوله نو ع سره عمل کول داسی ده لکه دشاهد له تزکیه او تعدیله ورسته چی پر شاهدی باندی حکم وکوی او دوهمه نوع تر تزکیه

مخکی د ظهور د عدالت په وخت کی د شهادت په مرتبه کی ده او نوع دریمه دمستور د شهادت په مرتبه کی ده.

تشریح : مصنف رحمہ اللہ وائی دهغه قیاس چی دهغه علت په رایه او احتهاد سره ثابت وی حکم ئی داده چی که مقیس او مقیس علیه په مینځ کی په هغه وصف کی فرق و ؤ کوم وصف چی له حکم سره مناسب ده په دی صورت کی داقیاس باطل ده یعنی که له یو حکم سره بل وصف مناسب پیداشو اودغه وصف مغایر ؤو له اول وصف سره په دی صورت کی داول وصف په ذریعه چی قیاس شوی ده هغه باطل ده ځکه ددوهم وصف دوجود په وجه هغه ظن غالب باقی پاته نه شو کوم ظن غالب چی داول وصف په ذریعه حاصل شوی ؤو نو چی ظن غالب باقی پا ته نه شو نو هغه حکم چی مبنی پر ظن غالب باندی ؤو هغه هم با قی پا ته نه ده بلکه باطل ده. هوعلی هذا په دی سره مصنف رحمہ اللہ د دری سره قیاسو په مینځ کی فرق بیانوی په دی طریقه چی دقیاس داول قسم یعنی هغه قیاس چی دهغه علت په کتاب الله او سنت سره ثابت وی مثال داسی ده لکه دشاهد له تزکیه او تعدیله ورسته دده په شاهدی سره فیصله ورکول نو لکه څنګه چی دقاضی دافیصله نه باطلیږی همدارنګه دقیاس داقسم هم نشی باطل کیدای او دقیاس ددوهم قسم یعنی دهغه قیاس چی هغه علت په اجماع سره ثابت وی مثال داسی ده لکه دشاهد دعدالت له ظاهر ه کیدو ورسته اوتر تزکیه مخکی دده په شاهدی باندی فیصله ورکول نو لکه څنګه چی په دی فیصله باندی عمل کول واجب ده همدارنګه په دی دوهم قسم دقیاس هم عمل کول واجب ده اودقیاس دریم قسم یعنی هغه قیاس چی دهغه علت په رایه او اجتهاد سره ثابت وی ددی مثال داده لکه قاضی چی ددوؤ مستوروالحاله شاهد انو په شاهدی باندی فیصله ورکړی نو لکه څنګه چی دقاضی دافیصله واجب العمله ده همدارنګه دقیاس دریم قسم هم واجب العمله ده لیکن که دامعلومه شوه چی مجتهد چی کوم وصف علت ګرزولی ده هغه علت نه ده بلکه بل وصف علت ده په دی صورت کی داقیاس واجب العلمه نه ده.

فَصلٌ اَلاَسوِلَةُ المَتوَجِّهَةُ عَلَی القِیَاس

فَصلٌ اَلاَسوِلَةُ المَتوَجِّهَةُ عَلَی القِیَاسِ ثَمَانِیَةٌ المُمَانَعَةُ وَالقَولُ بِمُوجَبِ العِلَّةِ وَالقَلبُ وَالعَکسُ وَفَسَادُ الوَضعِ وَالفَرقُ وَالنَّقضُ وَالمُعَارَضَةُ .

ترجمه : هغه اعتراضات چی پر قیاس باندی وارد دی اته (۸) دی مما نعت ، قول په موجب دعلت ، عکس ، فسادوضع ، فرق ، نقض معارضه .

تشريح: دقياس دشرائطو او دركن له بيانه ورسته مصنف رحمه الله دهغو اعتراضاتو بيان كوى كوم اعتراضات چې پر قياس باندې وارد دى دهغو اعتراضاتو شمير اته (٨) ده (١) ممانعت (٢) قول په موجب دعلت (٣) قلب (۴) عكس (۵) فساد دوضع (٦) فرق (٧) نقض (٨) معارضه.

اَمَّا الْمُمَانَعَةُ فَنَوعَانِ اَحَدُهُمَا الْوَصف والثانى مَنعُ الحُكم مثَالُهُ فى قَولِهم صَدَقَةُ الفطرِ وَجَبَت بالفطر فَلَا يَسقُطُ بِمَوتِه لَيلَةَ الفطرِ قُلنَا لَا نُسَلِّمُ وُجُوبَهَا بالفطرِ بَل عندَنَا تَجِبُ بِرَاسٍ يَمُونُهُ وَيلِى عَلَيه.

ترجمه: بهر حال ممانعت دوه قسمه ده له دى دؤو څخه يو انكار له وصفه ده او هم نه منل دحكم ده او ددى مثال دشوافع په هغه قول كې ده چې صدقة الفطر واجب په فطر سره ده لهذا دكوچنى اختر په شپه كې دده په مرګ سره نه ساقطيږى موږ وايو چې موږ دفطر په وجه ددى وجوب نه منو بلكه زموږ په نزد دهغه رأس په وجه واجب ده دكوم يوه چې دى ئى مؤنث (خرچه) برداشوى او دهغه چاه چې دى ئى ولى ده.

تشريح: اول اعتراض ممانعت ده ممانعت دى ته وائى چې سائل دمعلل (مستدل) دټولو مقدمات اويادبعض مقدماتو له منلو څخه انكار وكړى او ممانعت په خپل كوركې پردوه قسمه ده (١) انكار له وصفه ده يعنى چې سائل ومستدل (دليل ويونكى) ته داووائى چې كوم وصف چې تاعلت ګرزولى ده زه دهغه علت والى نه منم بلكه علت له دغه نه بغيربل شى ده (٢) انكار له حكم څخه ده يعنى معلل او مستدل چې كوم وصف علت ګرزولى ده دهغه وجود هم تسليم كړى او داهم تسليم كړى چې داوصف دعلت والى صلاحيت لرى ليكن له حكم څخه انكار وكړى مثلاً داسى ووائى تا چې كوم وصف علت ګرزولى ده هغه وجود هم منم اوداهم منم چې دغه وصف دعلت والى صلاحيت لرى ليكن ددى علت په ذريعه چې ته دكوم حكم دثابتولو كوشش كوى زه دغه حكم نه منم بلكه حكم له دغه نه بغير بل شى ده داول قسم مثال داده چې شوافع حضرات وائى دصدقة الفطر دوجوب علت فطر ده يعنى كوم شخص چې تر فطر پورى ورسيدى پر هغه باندى صدقه دفطر واجب ده فطر درمضان داخرى ورځى له لمر لويدو ورسته شروع كيږى نو كوم شخص چې داختر دمياشتى له ليدلو ورسته په شپه كې مړ شى له هغه څخه صدقه دفطر ساقطه نه ده ځكه دعلت يعنى دفطر دوجود په وجه صدقه متقرره شوه او وجوب له متقرر كيدو روسته نه ساقطيږى لهذا دده له ذمى څخه صدقة الفطر ساقط نه ده.

ليكن موږ احناف وايو چې شوافع چې كوم وصف يعنى فطر دصدقة الفطر دوجوب لپاره علت ګرزولى ده موږ دا نه منو بلكه زموږ په نزد دعلت بل شى ده هغه داسى سر ده چې دا شخص دهغه مؤنث (خرچه) برداش كوى او دكوم يوه چې ولى ده نو داختر په ورځ تر صبح صادق مخكې چې كوم شخص مړشى پر هغه باندى صدقه دفطر واجب ده او كوم كوچنى چې پر دغه وخت پيداشى او يا كافر اسلام راوړى پر هغه باندى صدقه دفطر واجب ده.

سوال : دصدقة الفطر مسئله دقیاس لپاره مثال نشي کیدای ځکه دقیاس لپاره دمقیس علیه وجودضروری ده او حال داده چې دلته مقیس علیه نشته ؟

جواب : اول جواب داده چې دیون او تول حقوق مالیه مقیس علیه دی چې اسباب ئې موجود وی نو لکه څنګه چې داسبابو دوجود په وجه حقوق مالیه نشي ساقط کیدای همدارنګه دسبب د وجود څخه ورسته صدقة الفطر هم نشي ساقط کیدای.

دوهم جواب : داده چې دصدقة الفطر مسئله تعلیل ده او تعلیل هغه قیاس ته ...

مقیس علیه نه لری او مصنف رحمه الله په دی قول الاسوله متوجهه علی القیاس کښې ده خواکه قیاس وی او که تعلیل وی.

وَكَذَالِكَ اِذَاقِيلَ قَدرُ الزَّكوةِ وَاجِبٌ فِي الذِّمَّةِ فَلَا يَسقُطُ بِهِ ... الزَّكوةِ وَاجِبٌ فِي الذِّمَّةِ بَل اَدَاؤُهُ وَاجِبٌ.

ترجمه : او همدارنګه کله چې وویل شي چې مقداردزکوة واجب ده پر زمه باندی نو دنصاب په هلاک سره مقدار دزکوة نه ساقطیږی لکه دین موږ جواب ورکوو چې موږ دانه منو چې مقدار دزکوة واجب في الذمه ده بلکه اداء کول ئې واجب ده.

تشریح : دوهم مثال مصنف رحمه الله دابیانوی چې که دکال له تیرید ورسته نصاب هلاک شي داحناف په نزد زکوة ساقط ده او دامام شافعي رحمه الله په نزدزکوة ساقط نه ده بلکه پر ذمه باندی واجب پاته ده امام شافعي فرمائی چې دواجب دبقاء علت وجوب دمقدار دزکوة ده پر ذمه باندی لکه ددین في الزمه علت چې واجبوالی ده او ددی واجب بقا ء دده معلل او حکم ده نو دنصاب له هلاکه ورسته دواجب دبقاء علت یعنی وجوب دمقدارد زکوة پر زمه باندی چونکه موجود ده له دی وجه ددی حکم یعنی واجب هم باقی ده بغیر له اداء څخه له ذمه نه ساقطیږی لکه دین چې بغیر له اداء له زمه څخه نه ساقطیږی.

لیکن موږ وایو چې موږ داخبره نه منو چې وجود دمقداردزکوة پر زمه باندی دواجب دبقاء لپاره علت ده بلکه وجوب داداء دمقدار دزکوة پر زمه باندی دواجب ده بقاء علت ده نو کله چې نصاب دمال هلاک شي نو داداء صورت باقي پاته نه ده نو چې دنصاب له هلاکه ورسته اداء واجب پا ته نشوه نو دعلت دعدم په صورت کی حکم یعنی واجب هم باقي پا ته نه ده بلکه ساقط ده.

وَلَئِن قَالَ اَلوَاجِبُ اَدَاؤُ فَلَا يَسقُطُ بِالهَلَاكِ كَالدَّينِ بَعدَ المُطَالَبَةِ قُلنَا لَا نُسَلِّمُ اَنَّ الاَدَاءَ وَاجِبٌ فِي صُورَةِ الدَّينِ بَل حَرُمَ المَنعُ حَتّى يَخرُجَ عَنِالعُهدَةِ بِالتَّخلِيَةِ وَهٰذَامِن قَبِلِ مَنعِ الحُكمِ

ترجمه : او که څوک ووائی چې واجب اداء کول دمقدار درکوة ده لهذا په هلاک دنصاب سره وجوب نه ساقطیږی لکه څنګه چې له مطالبی ورسته دین نه ساقطیږی موږ جواب ورکوو چې موږ

دانه منو چی ددین په صورت کی اداء واجب ده بلکه منع ئی حرامه ده تردی وخته چی دتخلیی په ذریعه ددین له زمواری څخه ووزی او دامنع له قبیله دحکم څخه ده.

تشریح : په دی عبارت کی که څه هم مصنف رحمه الله دیو اعتراض او جواب نقل کړی ده لیکن په حقیقت کی دمنع دحکم مثال ده لکه دی چی فرمائی که یو معترض داووائی چی دمقدار دزکوة داداء دواجبوالی په صورت کی هم دنصاب په هلاک سره زکوة نه ساقطیږی لکه څنګه چی ددائن له مطالبی ورسته اداء واجب ده بغیر له اداء نه ساقطیږی ددی په جواب کی موږ وایو چی موږدانه منو چی ددین دطلب په صورت کی اداء ددین واجب ده بلکه تخلیه په مینځ کی دمال او ددائن واجب ده یعنی که چیری دائن له مدیون څخه مال په قدرددین غوښتی پر مدیون باندی دا واجب ده چی منع نه وکړی.

ته فکر وکړه په دی مسئله کی معترض ددین داداء حکم وکړ لیکن موږ ددی منع وکړه او حکم مو په تخلیه سره وکړ لهذا دامسئله دمنع دحکم له قسمه ده.

وَكَذالِكَ اِذاقَالَ اَلمَسحُ رُكنٌ فِی الوُضُوءِ فَلیَسَنَّ تَثلیثُهُ كَالغسلِ قُلنَا لانُسَلِّمُ اَنَّ التَّثلیثَ مَسنُونٌ فِي الغسلِ بَل اطَالَةَ الفعل فی مَحَلِ الفُروضِ زِیَادَةً عَلی مفروضٍ كَاطَالَةِ القِیَامِ وَالقراةُ علی بَابَ الصَّلٰوة غیرَ اَنَّ الاَطَالَةَ فِي بَابَ الغَسلِ لاَ یَتَصَوَّرُ الاّ بِالتَّكرَارِ لاستِیعَابِ الفِعلِ كُلَّ المَحَلِ وَبِمثله نَقُولُ فِی بَابِ المَسحِ بِاَنَّ الاطَالَةَ مَسنُونٌ بِطَرِیقِ الاستِیعَابِ.

ترجمه: او همدارنګه کله چی ویل شوی دی چی په باب دوضوء کښی مسح رکن ده لهذا په ده کښی هم دغسل په شان تثلیث سنت ده موږوایوچی داخبره موږ نه منو چی په غسل کی تثلیث سنت ده بلکه پر مقدارمفروض باندی زیادت کول په طول (اوږدوالی) دفعل سره داسنت ده لکه په باب دلمانځه کښی دقیام اوقرأت اوږدول لیکن په باب دغسل کښی دفعل اوږدوالی بغیر له تقراره نشی کیدای بلکه په تقرار سره کیدای شی ددی لپاره چی په محل دغسل کی استیعاب راشی او ددی مثال په باب دمسح کی موږ وایو چی اوږدوالی په طریقه په استیعاب سنت ده.

تشریح: دمنع دحکم دوهم مثال داده چی شوافع وائي چی په مسح دسرکښی تثلیث (دری ځله مسح کول) سنت ده دلیل ئی قیاس ده یعنی دی وائي لکه څنګه چی په غسل کی اعضاء (اندامونه) ثلاثه رکن دی همدارنګه په اوداسه کی مسح دسر رکن ده نولکه څنګه چی په غسل کی ددغواعضاء دری ځله پریول سنت ده همدارنګه مسح دسر دری ځله کول سنت ده.

ددی قیاس په منع کولو سره موږوایو چی موږ دامنوچی په مقیس علیه (غسل) کی تثلیث سنت ده له دی وجه چی مغسوله اعضاء کښی تقرار اوتثلیث سنت مقصوده نه ده بلکه سنت مقصوده تکمیل دفرض ده ځکه سنن او واجبات چی مشروع دی هغه دفرض دتکمیل لپاره مشروع دی اوفرض هغه وخت مکمل کیږی چی په محل دفرضو کښی طول (اوږدوالی) راشی مثلاً په لمانځه

کی د قیام او قرأت تکمیل په دی طریقه ده چی قیام او قرأت ترخپل مقدار اوږده کړی لیکن په غسل کښی بی له تکراره اوږدوالی ممکن نه ده ځکه که ته اوږدوالی په دی طریقه وکړی مثلاً دلاس پریول ترڅنګلو پوری فرض ده کی نی ته په دی طریقه اوږد کړی چی ترڅنګلو لوړه حصه هم پریوی دادفرض د محل د طول او تکمیل نه ده بلکه د محل د فرض نه بغیر په بل شی کی اطالت او تکمیل ده لیکن که یوعضوه بار بار پریول شی بیایقینن دفرض تکمیل راځی نوکله چی په غسل کښی داستعاب لپاره اطالت او تکمیل بی له تکراره ممکن نه ده له دی وجه په اعضاء مغسوله وو کی تکرار او تثلیث سنت ده او داخبره موږ په مسح دسر کی هم کوؤ یعنی دسر خلورمه حصه فرض ده او اطالت او تکمیل نی سنت ده لیکن چونکه په مسح دسر کی په اطالت او تکیمل سره استعاب راتلای شی له دی وجه دمسح دسر استیعاب سنت ده او تثلیث سنت نه ده یعنی دری ځله مسح کول سنت نه ده.

وَكَذٰلِكَ يُقَالُ التَّقَابُلُ فِي الطَّعَامِ بِالطَّعَامِ شَرطٌ كَالنُّقُودِ قُلنَا لَا نُسَلِّمُ اَنَّ التَّقَابُضَ شَرطٌ فِي بَابِ النُّقُودِ بَلِ الشَّرطُ تَعيِينُهَا كَيلَا يَكُونَ بَيعَ النَّسئَةِ بِالنَّسئَةِ غَيرَ اَنَّ النُّقُودَ لَاتَتَعَيَّنُ اِلَّا بِالقَضِ عِندَنَا.

ترجمه: او دارنګه ویل کیږی چی په بیع دطعام په طعام کی تقابض شرط ده لکه په نقودو کی موږ وایو چی داخبره موږ نه منو چی په نقودو کښی تقابض شرط ده بلکه په نقودو کی شرط تعین ده ددی لپاره چی بیع دنسیه په نسیه سره رانه شی لیکن زموږ په نزد نقود بغیره له قبضه نه متعین کیږی.

تشریح: دمنع دحکم دریم مثال داده که یوشخص بیع دطعام په طعام سره وکړی مثلاً غنم خرخ کړه په غنمو باندی دشوافع په نزد په مجلس دعقد کښی ددواړو عوضوقبض کول ضروری ده او داحناف په نزد ضروری نه ده شوافع خپل دلیل په قیاس سره وائی په دی طریقه چی موږ احناف ته وایو چی دبیع دنقد په نقد په صورت کی تاسو وایاشت چی په مجلس دعقد کښی دعوضینو قبض ضروری ده نولکه څنګه چی په بیع دنقود کښی قبض ضروری ده همدارنګه په بیع دطعام په طعام کښی هم قبض ضروری ده.

ددی قیاس په منع کولو کی موږ وایو چی په مقیس علیه یعنی په بیع دنقد په نقد کی قبض ضروری نه ده بلکه تعین دعوضینو شرط ده ددی لپاره چی بیع نسیه باالنسیه نشی او نقود چونکه بغیر له قبضه نشی متعین کیدای له دی وجهد قبض شرط کړ شو او طعام چونکه په اشاره سره متعین کیدای شی له دی وجه په طعام کښی قبض ضروری نه ده.

وَاَمَّا القَولُ بِمُوجَبِ العِلَّةِ فَهُوَ تَسلِيمُ كَونِ الوَصفِ عِلَّةً وَبَيَانُ اَنَّ مَعلُولَهَا غَيرَ مَا ادَّعَاهُ المُعَلِّلُ وَمِثَالُهُ اَلمِرفَقُ حَدٌّ فِي بَابِ الوُضُوءِ فَلَا يَدخُلُ تَحتَ الغَسلِ لِاَنَّ الحَدَّ لَايَدخُلُ فِي المَحدُودِ قُلنَا اَلمَرَافِقُ حَدُّ السَّاقِطِ فَلَا يَدخُلُ تَحتَ حُكمِ السَّاقِطِ لِاَنَّ الحَدَّ لَايَدخُلُ فِي المَحدُودِ وَكَذٰلِكَ يُقَالُ صَومُ رَمَضَانَ

صَومُ فرضٍ فَلایَجُوزُ بِدُونِ التّعین کاَالقَضَاء قُلنَا صَومُ الفَرضِ لَایَجُوزُ بِدُونِ التّعینِ الاَّ اَنَّهُ وُجِدَ التّعینُ ههُنَا من جهة الشّرع وَ اِن قَالَ لَایَجُوزُ بِدُونَ التّعین مِنَ العَبد کاَالقَضَاء قُلنَا لَایَجُوزُ القَضَاءُ بِدُونِ التّعین الاَّ اَنَّ التّعیِینَ لَم یَثبُت من جِهَة الشّرع فی القَضَاء فَلذَالکَ یشتَرِطُ تَعینُ العَبدِ وَهُنَا وُجِدَ التّعینُ من جِهَةِ الشّرعِ فَلاَ یشتَرِطُ تَعِینُ العَبد .

ترجمه : اوبهرحال په موجوب دعلت سره قول کول دادوصف دعلت والی تسلیم کول ده اوددی خبری لپاره بیان چی دده معلول غیر ده له هغه څخه چی معلل (مستدل) ئی دعوه کوی اوددی مثال داده چی په باب دوضوء کښی مرفق حد ده په غسل کی داخل نه ده ځکه حد په محدود کی داخل نه وی موږ وایو چی مرفق دساقط حد ده نومرفق په حکم دساقط کښی داخل نه ده ځکه حد په محدود کی داخل نه وی اوهمدارنګه ویل کیږی چی .د رمضان روژه فرض روژه ده نوبغیر له تعینه جائز نه ده لکه قضاء موږ وایوچی فرض روژه بغیر له تعینه جائزنه ده لیکن دلته تعین دشریعت له طرفه راغلی ده اوکه امام شافعی رحمه الله ووائی چی درمضان روژه بی له تعینه دبنده جائز نه ده لکه قضاء نوموږ وایو چی قضاء بی له تعینه جائز نه ده لیکن په قضاء کی تعین دشریعت له طرفه نه ده راغلی له دی وجه په قضاء کی دبنده تعین شرط ده اودلته خوتعین دشریعت له طرفه موجود ده لهذا دبنده تعین شرط نه ده .

تشریح :دقول په موجب دعلت مطلب داده چی معترض دحکم علت ومنی لیکن دعلت معلول اوحکم نه منی یعنی مستدل چی کوم وصف علت ګرزولی هغه منی لیکن داوائي چی معلول اوحکم له هغه څخه غیر دی کوم چی مستدل بیان کړی دی ددی مثال داده چی دجمهور فقهاء په نزد مرفقین دلاسو په پریمنځلو کی داخل دی یعنی لکه څنګه چی دلاسو پریول فرض ده همدارنګه دمرفقین پریول هم فرض ده لیکن دامام زفر په نزد مرفقین په پریولو دلاسو کی داخل نه دی دلیل ئی دادی چی په اوداسه کی مرفق حد اوغایه ده حداوغایه په محدود اومغیاکی داخل نه وی لهذا مرفق په مغیا (غسل یدین) کی داخل نه ده نوکله چی مرفق په غسل د یدینو کی داخل نه شو پریمنځل ئی هم فرض نه ده .

زموږ له طرفه ده ته جواب داده چی دامنو چی مرفق حد ده لیکن دمغسول طرف لپاره حد نه ده یعنی دغسل دیدینو لپاره حدنه ده بلکه دساقط جانب لپاره حد ده یعنی دلاسو هغه برخه چی دبغل وطرفته ده دهغه لپاره حد ده ددی لپاره فقهاء غایته الاساقط وائی اوغایه اوحد چونکه په مغیااومحدود کی داخل نه وی لهذا مرفق په ساقط کی داخل نه ده نوکله چی مرفق په ساقط کی داخل نه شو نودمرفق غسل ساقط نه ده نوچی دمرفق غسل ساقط نه شو نوغسل ئي واجب ده دفکر وکړه دلته داتسلیم شوه چی مرفق حد ده لیکن امام زفر رحمه الله چی دکوم حکم لپاره علت ګرزولی وؤ جمهورو له هغه نه بغیر دبل شی لپاره علت وګرزوی .

دو دوهم مثال داده چی درمضان روژه په مطلق نیت سره اداء کیږی او یا په نیت د تعین درمضان سره اداء کیږی.

احناف وائی درمضان دروژی لپار ه مطلق دروژی نیت کول کافی ده دانه ده ضروری چی تعین درمضان به کوی او شوافع وائی دمطلق روژی نیت کول کافی نه ده بلکه تعین درمضان ضروری ده ځکه درمضان روژه فرض روژه ده او قضاء درمضان هم فرض روژه ده او قضاء درمضان بغیر له تعینه نشی اداء کیدای لهذا پر دی باندی په قیا س سره صوم رمضان هم بی له تعینه نشی اداء کیدای.

موږ ددی په جواب کی وایو چی شوافع چی کوم شی علت گرزولی ده یعنی داچی فرض روژه بغیرله تعینه نه اداء کیږی داموږ منو لیکن ددی حکم یعنی دبنده له طرفه دروژی تعین ضروری ده دانه منو بلکه دشریعت له طرفه چی کوم تعین ده هغه کافی ده او دشر یعت له طرفه تعین داسی ده چی نبی کریم ﷺ فر مائی اذاانسلخ شعبان فلا صوم الاعن رمضان دشعبان له تیرویدو ورسته روژه نسته مگر درمضان روژه ده او دشریعت تعین لوړه تر تعین دبنده لهذا دشر یعت له تعینه ورسته دبنده تعین ته هڅ ضرورت نشته او که شوافع ووائی چی موږ صوم رمضان قیاس کوو پر صوم قضا ء باندی او په قضا ء دصوم رمضان دبنده له طرفه تعین ضروری ده لهذا په صوم رمضان کی هم دبنده له طرفه تعین ضروری ده یعنی لکه ځنگه چی قضاء بی له تعینه دبنده جائزنه ده همدا رنگه صوم رمضان هم ده.

ددی جواب دا ده چی په قضا ء کی دبنده له طرفه تعین له دی وجه ضروری ده چی په قضاء کی دشارع له طرفه تعین نشته او په صوم رمضان کی چونکه دشارع له طرفه تعین موجود ده له دی وجه دبنده وتعین ته ضرورت نشته.

وَاَمَّا القَلبُ فَنوعَانِ اَحَدُهُمَا اَن یَجعَلَ مَا جَعَلَهُ المُعَلِّلُ عِلَّةً لِلحُکمِ مَعلُولاً لِذَالِکَ الحُکمِ وَمِثَالُهُ فِی الشَّرعِیَّاتِ جَرَیَانُ الرِّبٰو فِی الکَثِیرِ یُوجِبُ جَرَیَانَهُ فِی القَلِیلِ کَالاَثمَانِ فَیَحرُمُ بَیعُ الحفنة مِنَ الطَّعَامِ بِالحفنَتَینِ مِنهُ قُلنَا لاَ بَل جَرَیانَ الرِّبٰوافِی القَلِیلِ یوجِبُ جَرَیَانَهُ فِی الکَثِیرِ کَالاَثمَانِ وَکَذَالِکَ فِی مَسئَلَةِ المُلتَجِی بِالحَرَمِ حُرمَةُ اتلافِ النَّفسِ یُوجِبُ حُرمَةَاتلافِ الطَّرفِ کَالصَّیدِ قُلنَا بَل حُرمَةُ اتلافِ الطَّرَفِ یُوجِبُ حُرمَةَ اتلافِ النَّفسِ کَالصَّیدِ فَاذَا جُعِلَت عِلَّتُهُ مَعلُولَةً لِذَالِکَ الحُکمِ لاَتبقی عِلَّةً لَهُ لِاستِحَالَةِ اَن یَکُونَ الشَّئُ الوَاحِدُ عِلَّةً لِلشَّئِ مَعلُولاً لَهُ.

ترجمه: او بهر حال قلب پردوه قسمه ده یوله هغو داده چی کوم شی چی مستدل دحکم لپاره علت گرزولی معلول ئی وگرزوی او په احکامو د شرع کی ددی مثال داده چی جریان دربا ء په کثیر کی ثبو ت کوی دجریان دربا ء په قلیل کی لکه اثمان نو دیوه مټ طعام بیع په یوه مټ طعام سره حرامه ده موږ وایو چی داسی نه ده بلکه په قلیل کی جریا ن دربا ء اثبات دجریان دربا ء کوی په کثیر کی

لکه اثمان او همدارنګه په حرم کې دپنا اخستونکي په مسئله کې حرمت داتلاف دنفس اثبات کوی دحرمت داتلا ف دعضو لکه ښکاره نو کله چې دده علت دده دحکم لپاره معلول جوړ شونو دلره علت باقي پاته نشو ځکه یو شي دیوه شي لپاره علت او معلو ل نشي جوړیدای.

تشر یح:قلب په لغت کې پر دوی معنی باندی راځي یو معنی داده چې لوړشي کښته کول او کښته شي لوړول دوهم داده چې دننه شي دباندی کو او دباندی شي دننه کول اوپه اصطلاک کې قلب دی ته وائی چې دیو شي هغه هیئت چې اوس ئی لری بدل ئی کړی په بل هیئت سره.

قلب پر دوه قسمه ده یو داده چې معترض هغه شي حکم وګرزوی کوم چې مستدل دحکم لپاره علت ګرزولی ده او کوم شي چې ئی حکم ګرزولی ده هغه علت وګرزوی دوهم قسم داده چې مستدل چې کوم شي دحکم لپاره علت ګرزولی وی معترض هغه شي دحکم دضدلپاره علت وګرزوی په احکامو دشرعی کې ددی مثال داده چې شوافع وائی دطعاپه کثیر (ډیر) مقدار کې ربا په اتفاق حرامه ده لهذا په قلیل مقدار کې هم ربا حرامه ده لکه په ثمنو (فضه ذهب) کې چې په کثیر او قلیل مقدار دواړوکې حرامه ده اوپه اطعام کې علت دربا طعم (خوند) ده او په ثمن کې علت ثمنیت ده اوددواړولپاره مشترک علت داده چې ثمن اوطعام دواړه ربو یه اموال دی نوکله چې دطعام په قلیل مقدار کې ربوا حرامه شوه نودیو مټ طعام بیع په دوه مټه سره جائز نه ده.

لیکن موږ وایو چې داسی نه ده لکه تاسو چې وایاست بلکه داسی ده چې په قلیل مقدار کې درباحرمت علت ده اوپه کثیرکې دربا حرمت حکم او معلول ده اوپه طعام کې قلیل مقدار نیمه کاسه ده ځکه دناپ کونکی لپاره ترنیمه کاسه کمه پیمانه نشته لهذا کله چې طعام تر نیمه کاسه کم وی بیا دخپل جنس سره دتبا دلی په صورت کې مساوات نه غواړی نو له دی وجه دیوه مټ طعام خرخول په دوه مټه باندی جائز ده دوهم مثال داده که یو شخص بل شخص مړکړی او بیا حرم لره پناه یوسی له دی شخص څخه په حرم کې قصاص اخستل کیږی او که نه ؟ شوافع وائی چې په حرم کې قصاص اخستل جائز ده او احناف په نزد جائزنه ده بلکه داشخص پر دی باندی مجبورکوی چې له حرم څخه ووزي له وتلو ورسته دی له ده څخه قصاص واخستل شي او که یو شخص دبل یو لا س پر یکړی اوبیا حرم ته پنایو سی په دی صورت کې دواړه پر دی باندی متفق دی چې له دی شخص څخه په حرم کې قصاص اخستل کیدای شي شوافع دا دلیل وائی چې حرمت داتلاف دنفس واجبوی حرمت داتلاف دعضو یعنی حرمت داتلاف دنفس علت ده او حرمت داتلاف دعضو معلول ده لکه ښکاره یعنی للکه څنګه چې دښکاروژل په حرم کې حرام ده همدارنګه ئی عضو پر یکول هم حرا م ده.

احناف وائی داسی نه ده لکه تاسو چې وایاست بلکه خبره ددی پرعکس ده یعنی حرمت داتلاف دعضوعلت ده لپاره دحرمت داتلاف دنفس مطلب داده چې اتلاف دعضوعلت او حرمت داتلاف

نفس معلول او حکم ده لکه په شکارکی چی دعضو پریکول په حرم کر حرام ده له دی وجه د تیولو وژل هم حرام ده.

مصنف رحمۃ اللہ علیہ وائی مستدل چی کوم شی علت گرزولی وؤ کله چی هغه معلول کړشونو حکم بی له علته پاته شو ځکه دا محاله ده چی یو شی دبل شی لپاره علت او معلو ل دواړه شی.

وَالنوعُ الثانی مِنَ القلب اَن یَجعلَ السائلُ مَا جعلَهُ المُعَلِّلُ علةً لما ادعَاهُ من الحُکم علةً لضدِّ ذالکَ الحُکم فیصیرُ حُجَّةً للسائلِ بَعدَ اَن کَانَ حُجَّةً للمُعَلِّل مثالُهُ صومُ رَمَضَانَ صومُ فَرض فیشتَرطُ التَّعیینُ لَهُ کَالقضاءِ قُلنَا لَمَا کَانَ الصَّومُ فَرضاً لَا یشطرِطُ التَّعیینُ لَهُ بَعدَ مَا تَعَیَّنَ الیومُ لَهُ کَالقضَاءِ.

ترجمه: دقلب دوهم قسم داده چی کوم شی چی مستدل دحکم لپاره علت گرزولی ده معترض هغه دحکم دضد لپاره علت وگرزوی بیا داوصف دمعترض لپاره علت کیدای شی ورسته له دی چی دمستدل لپاره علت وؤ ددی مثال داده چی صوم رمضان صوم فرض ده لهذا ددی لپاره شرط لکه څنگه چی دقضاء لپاره ده موږ وایو لکه فرض ده نوددی لپاره تعین شرط نه ده ورسته له دی چی ددی لپاره ورځ متعینه شو لکه دقضاء لپاره.

تشریح: دقلب دوهم قسم داده چی مستدل یو وصف دحکم لپاره علت وگرزوی لیکن معترض هغه وصف دهغه حکم دضد لپاره علت وگرزوی نو دغه وصف داول مستدل لپاره حجت ؤو لیکن له قلبه ورسته دمعترض لپاره حجت شو ددی مثال داده چی شوافع وائی چی درمضان روژه اودقضاء روژه دواړه فرض دی او چونکه په قضاء رمضان کی تعین دنیت ضروری ده له دی وجه په رمضان کی هم تعین دنیت ضروری ده په دی مسئله کی شوافع دنیت دتعین دضرور والی لپاره دروژی فرضیت علت وگرزاوی اوددی علت په وجه ئی پر قضاء صوم باندی قیاس کړ لیکن موږ وایو چی درمضان دروژی فرض والی دشرط دتعین دنیت لپاره علت نه ده بلکه دتعین دنیت دنه شرط والی لپاره علت ده په دی باره کی موږ داسی وایو چی صوم رمضان چونکه صوم فرض ده له دی وجه تعین دنیت شرط نه ده ځکه ددی لپاره دشریعت له طرفه تعین موجود ده لکه صوم قضاء چی کله دشروع په وجه متعینه شی بیا دتعین لپاره نیت شرط نه ده.

وَاَمَّاالعَکسُ فَنَعنی به اَن یَتَمَسَّکَ السَّائلُ بِاَصل المُعَلِّل عَلی وَجه یَکُونُ المُعَلِّلُ مُضطَرَ الی وَجه المُفارَقة الاَصل والفرع وَمِثَالُهُ الحُلیُّ اُعِدَّت للابتذال فَلَایجبُ فیهَا الزکوة کَثیَابَ البَذلَة قُلنَا لَوکَانَ الحُلیُّ بِمَنزِلَة الثیاب فَلَاتَجبُ الزکوةُ فی حُلیِّ الرِّجَال کَثیاب البَذلَة

ترجمه: بهرحال په عکس سره زموږمراد داده چی سائل دمستدل په اصل سره داسی استدلال وکړی چی مستدل داصل او فرع په مینځ فرق بیانولو ته مجبور کړی او ددی مثال هغه زیورات دی چی داستعمال لپاره تیار کړشوی وی او داستعمالی کپړوپه شان په دوی کښی زکوة واجب نه ده

موږ وایو که زیورات دکپړوپه مرتبه کی وی نوباید په مردانه زیوراتو کی هم زکوة واجب نه شی لکه څنګه چی ئی په کپړوکی زکوة واجب نه ده.

تشریح: عکس داده چی معترض دمستدل په مقیس علیه (اصل) سره داسی استدلال وکړی چی مستدل دی ته مجبورکړی چی د مقیس او مقیس علیه په مینځ کی فرق بیان کړی مثلاً شوافع وائی په هغه زیوراتوکی چی استعمال لپاره تیارشوی وی په هغو کی زکوة واجب نه ده شوافع داخبره څکه کوی چی دوی زیورات داستعمال پر کپړوباندی قیاسوی دوی وائی لکه څنګه چی په دی کپړو کی زکوة واجب نه ده همدارنګه داستعمال په زیوراتو کی هم زکوة واجب نه ده.

موږ وایو که زیورات داستعمال کپړو په مرتبه کی وی نو که له نارینه وؤ سره داستعمال زیورات وؤ باید په هغوکښی هم زکوة واجب نه شی څکه خوداستعمال په کپړوکی ئی زکوة واجب نه ده او حال داده چی دنارینه وو په استعمال زیورات کی ستاسو په نزد هم زکوة واجب نه ده له دی اعتراضه ورسته شوافع دی ته مجبور دی چی ددواړوزیوراتو په مینځ کی فرق بیان کړی هغه فرق دوی داسی بیانوی چی دنارینه لپاره دزیوراتو استعال حرامرده لهذا دنارینه وو په زیوراتو کی ابتزال او استعمال متحقق نه ده او دښځولپاره چونکه دزیوراتو استعمال حلال ده له دی وجه ددوی په زیوراتو کی ابتذال او استعمال متحقق ده نو کله چی داسی ده نود ښځو داستمعال زیورات دوی داستعمال پر کپړوباندی قیاس صحیح ده لیکن دنارینه داستعمال زیوراتو قیاس ددوی داستعمال پر کپړه باندی صحیح نه ده.

وَاَمَّا فَسَادُ الوَضعِ فَالمُرَادُ بِه اَن يَجعَلَ وصفاً لَايَلِيقُ بِذالِكَ الحُكمِ مِثَالُهُ فِى قَولِهِم فِى اسلام اَحَدِ الزَّوجَينِ اختلافُ الدِّينِ طرَاَ عَلَى النِّكَاحِ فَيفسدُهُ كَارتدَادِ اَحَدِ الزَّوجَينِ فَاِنَّهُ جَعَلَ الاسلامَ عِلَّةً لِزَوَالِ الملك قُلنَا الاسلامُ عُهِدَ عَاصِماً لِلمِلكِ فَلَايَكُونُ مُؤثِراً فِى زَوَالِ المِلكِ وَكَذَالِكَ فِى مَسئَلَةِ طَولِ الحُرَّةِ اَنَّهُ حُرٌّ قَادِرٌ عَلَى النِّكَاحِ فَلَايَجُوزُ لَهُ الاَمَةُ كَمَا لَو كَانَت تَحتَهُ حُرَّةٌ قُلنَا فَوَصفُ كَونِه حُرّاً قَادِراً يَقتَضِى جَوَازَ النِّكَاحِ فَلَايَكُونُ مُؤثِراً فِى عَدَمِ الجَوَازِ.

ترجمه: او بهر حال مرادله فساد وضع څخه داده چی داسی وصف علت وګرزول شی چی له هغه حکم سره مناسب نه وی اوددی مثال داحدالزوجین داسلام په سلسله کی دشوافع داقول ده چی اختلاف ددین پر نکاح باندی طاری ده او نکاح فاسده وی لکه داحدالزوجین مرتدکیدل څکه مستدل اسلام دزوال دملک لپاره علت وګرزاوی موږ وایوچی اسلام دملک محافظ پیژندل شوی ده لهذادی په زوال دملک کی موثر نه ده او همدارنګه دطول حره په مسئله کی چی ناکح حر وی پر نکاح باندی قادروی دده لپاره دمینځی نکاح جائز نه ده لکه څنګه چی هغه وخت نه ده جائز چی دده په نکا کی حره وی موږ وایو چی ناکح دحریت او قدرت وصف دنکا دجوازتقاضی کوی لهذا په عدم جواز کی موثر نه ده.

تشریح: فساد وضع داده چی مستدل داسی وصف علت وګرزوی چی هغه وصف له دغه حکم سره مناسب نه وی نو دمستدل داقیاس چونکه په اصل وضع کی فاسد ده له دی وجه معترض پر دی قیاس باندی اعتراض کوی په بیان دفساد دوضع سره یعنی داوائی چی ددی قیاس وضع فاسده ده اودا وصف علت ګرزول غلط ده مثلاً چی خاوند اوښځه دواړه کافران وی اوبیا له دوی دوؤ څخه یو اسلام راوړی په دی صورت کی نکاح فاسده ده او که نه ؟ شوافع وائی چی نکاح فاسده ده او احناف وائی پر دوهم باندی دی اسلام عرض کړ شی که ئی له قبولو څخه انکار وکړبیا فرقت واقع ده دشوافع دلیل داده چی دیوه په اسلام سره خاوند اوښځی په مینځ کی اختلاف ددین موجود شو او دااختلاف ددین پر نکاح باندی طاری ده یعنی نکاح اول موجوده وه او اختلاف ددین ورسته موجود شو او اختلاف ددین چی پر نکاح طاری شی نکاح فاسدوی لکه څنګه چی داحد لزوجین په ارتدا د سره نکاح حاصلیږی حاصل داده چی شوافع دزوال دملک دنکاح علت اسلام وګرزاوی موږ دوی ته په جواب کی وایو چی اسلام دملک محافظ ده مثلاً که یو حربی اسلام راوړی دی او دده مال خو دده اولاد تولہ محفوظ دی لهذا داسلام په زوال دملک کی موثر نه ده بلکه مناسب ده چی اباء (منع) له اسلام دزوال دملک علت شی او همدارنګه که یو شخص دآزادی ښځی دنکاح قدرت لری دشوافع په نزد دته دمینځی نکاح جائز نه ده اود احناف په نزد جائز ده شوافع دادلیل وائی چی نکاح کونکی چونکه دآزادی ښځی پر نکاح قادرده له دی وجه دمینځی نکاح ورته جائز نه ده لکه څنګه چی هغه وخت نه ده ورته جائز کله چی دی له او له سره حره په نکاح کښی لری موږ ددی په جواب کی وایو چی دنر آزادوالی او قدرت داسی وصف ده چی دمینځی دنکاح تقاضی کوی لهذا داوصف په عدم جواز دنکاح کښی مؤثر نه ده.

وَاَمَّا النَّقضُ فَمِثلُ مَايُقَالُ اَلوُضُوءُ طَهَارَةٌ فَيُشتَرطُ لَهُ النِّيَّةُ كَا لتَّيَمُّمِ قُلنَا يَنتَقِضُ بِغَسلِ الثَّوبِ وَالاِنَاءِ وَاَمَّا المُعَارَضَةُ فَمِثلُ مَايُقَالُ اَلمَسحُ رُكنٌ فِي الوُضُوءِ فَلْيُسَنَّ تَثلِيثُهُ كَالغَسلِ قُلنَا اَلمَسحُ رُكنٌ فَلَا يُسَنُّ تَثلِيثُهُ كَمَسحِ الخُفِّ وَالتَّيَمُّمِ .

ترجمه: اوبهر حال نقض مثلاً داویل دی چی وضوء طهارت ده اودده لپاره نیت شرط ده لکه څنګه چی دتییم لپاره نیت شرط ده موږ وایو چی داپه پریولو دجامی سره اوپه پریولو دلوښی مات ده اومعارضه مثلاً داویل دی چی مسح په اودس کی رکن ده نوددی تثلیث مسنون ده لکه په مسح دموزی اوتییم کی چی تثلیث مسنون ده.

تشریح: نقض دی ته وائي چی دعلت له وجودسره سره حکم موجودنه وی مثلاً امام شافعی رح فرمائی چی اودس اوتییم دواړه طهارت دی اوپه تیمم کی نیت شرط ده لهذا په اودس کی هم نیت شرط ده زموږ له طرفه پردوی باندی دااعتراض کول کیږی چی دناپاکه جامی اوناپاکه لوښی

پریول هم طهارت ده اوحال داده چی په دی کنبی باالاتفاق نیت شرط نه ده یعنی دلته علت (طهارت) موجود ده سره له دی حکم موجود نه ده ،
معارضه داده چی مستدل یووصف دخپلی دعوی اوحکم دثبوت لپاره وګرزوی لیکن معارض دعلت داسی ردکړی چی دحکم دثبوت پرځای دهغه دخلاف لپاره حجت شی مثلاً شوافع دا وائی چی په اوداسه کی مسح دسر رکن ده نولکه څنګه چی په غسل کی تثلیث مسنون ده همدارنګ په مسح کی هم تثلیث مسنون اوداحناف له طرفه په طریقه دمعارض داویل کیږی چی مسح دسر رکن ده لکه څنګه چی پرموزو باندی مسح کول او تیمم کول رکن ده نولکه څنګه چی دموزی په مسح کی اوپه تیمم کی تثلیث مسنون نه ده دارنګه په مسح دسر کی هم تثلیث مسنون نه ده ته فکر وکړه شوافع چی کوم شی دتثلیث لپاره دلیل ګرزولی وو احناف هغه شی دعدم تثلیث لپاره دلیل وګرزاوی.

فَصلُ الحُکمُ یَتعَلّقُ بِسَبَبِه

فَصلُ الحُکمُ یَتَعَلّقُ بِسَبَبِه وَیَثبُتُ بِعِلَّتِه وَیُوجَدُ عِندَ شَرطِه فَالسَّبَبُ مَایَکُونُ طَرِیقًا اِلَی الشَّیءِ بِوَاسِطَةٍ کَالطَّرِیقِ فَاِنَّهُ سَبَبٌ لِلوُصُولِ اِلَی المَقصَدِ بِوَاسِطَةِ المَشیِ وَالحَبلُ سَبَبٌ لِلوُصُولِ اِلَی المَاءِ بِالادلاَءِ فَعَلٰی هٰذَا کُلُّ مَاکَانَ طَرِیقًا اِلَی الحُکمِ بِوَاسِطَةٍ یُسَمّٰی سَبَبًا لَهُ شَرعًا وَیُسَمّٰی الوَاسِطَةُ عِلَّةً مِثَالُهُ فَتحُ بَابِ الاَصطَبلِ وَالقَفَصِ وَحَلُّ قَیدِ العَبدِ فَاِنَّهُ سَبَبٌ لِلتَّلَفِ بِوَاسِطَةٍ تُوجَدُ مِنَ الدَّابَّةِ وَالطَّیرِ وَالعَبدِ.

ترجمه: حکم شرعی دخپل سبب سره متعلق وی اوپه خپل علت سره ثابتیږی اودخپل شرط په وخت کی موجود وی نوسبب هغه شی ده چی په یوطریقه سره ذریعه وی درسیدلو دشی وحکم ته مثلا لکه لاره ځکه لارومنزل ته درسیدلو لپاره سبب ده په واسطه دمشی سره اولکه رسی ځکه اوبو ته درسیدلو سبب ده دسولاغی په واسطه سره اوپردی بیناد باندی هرهغه شی چی په یوواسطه سره حکم ته درسیدلو وسیله وی هغه ته شرعاً سبب ویل کیږی اوواسطی ته علت ویل کیږی اودسبب مثال اصطبل اوفنجره اودغلام رسی خلاصول ځکه دادتلف کولو سبب ده په واسطه دهغه سره چی له حیوانه اومرغه اوغلام څخه موجودیږی.

تشریح : کله چی مصنف رح فارغه شو له بیانه ددلائلو اربعه وڅخه شروع ئي وکړه په بیان دهغوشیانو چی ترهغوی پوری احکام متعلق وی هغه خلور شیان دی (۱) سبب (۲) علت (۳) شرط (۴) علامه ، دلیل دحصر ئی داده هغه شی چی ترهغه پوری احکام دشرعی متعلق وی دهغه لپاره دوه صورته دی یابه دشی په حقیقت کی داخل وی یابه نه وی که داخوؤ رکن ده اوکه داخل نه وؤ دهغه هم دوه صورته دی یابه په شی کی مؤثر وی اویابه نه وی که مؤثر وؤ علت ده اوکه نه وؤ ددی

هم دوه صورته دی یابه دشی وطرفته فی الجلمه موصل وی اویابه نه وی که موصل وؤ سبب ده اوکه نه وؤ هغه لره هم دوه صورته دی.

یابه شی ترده موقوفه وی یابه نه وی که موقوفه وؤ شرط ده اوکه نه وؤ موقوفه علامه ده مصنف رحمه الله له علامی څخه بغیر نور دری سره امور ذکر کړل په دی طریقه چی حکم شرعی متعلق په خپل سبب پوری وی او په خپل علت سره ثابتیږی او دخپل شرط په وخت کی موجود وی او سبب هغه شی چی په یو واسطه سره تریو شی پوری درسیدلو لپاره ذریعه او وسیله وی یعنی د سبب او دحکم په مینځ کی یوشی واسطه وی ددی واسطی په ذریعه سبب وحکم ته موصل اوموفضی وی لکه لار چی دتګ په ذریعه منزل ته درسیدلو لپاره سبب ده اولکه رسی چی دسلوغی داچولو په واسطه اُبو ته درسیدلو لپاره ذریعه ده.

اوهر هغه شی چی دیوواسطی په ذریعه حکم ته درسیدلو ذریعه اووسیله وی هغه سبب ده اود سبب اوحکم په مینځ کی چی کومه واسطه وی هغه ته علت ویل کیږی مصنف رحمه الله دسبب لپاره مثال دابیانوی لکه داصطبل دروازه خلاصول اودبنجری دوراوزه خلاصول اودغلام له پښو څنځیر خلاصول دحیوان او مرغه اودغلام دتلف کیدو سبب ده یعنی که یوچا داصطبل دروازه خلاصه کړه اوحیوان ووتی او ورک شو نودحیوان تلف کیدولپاره دده وتل علت ده اودروازه خلاصیدل سبب ده اوحکم چونکه دخپل علت طرفته منسوب وی نه دسبب طرفته له دی وجه پر دروازه خلاصونکی باندی ضمان نشته اوهمدارنګه په دانورو دوؤ مثالودمرغه دتلف کیدو لپاره دده الوتل علت ده اودپنجری دروازه خلاصیدل سبب ده اوحکم چونکه منسوب سبب ته نه وی بلکه علت ته منسوب وی له دی وجه دروازی خلاصونکی باندی ضمان واجب نه ده اوهمدارنګه دغلام دتلف کیدلولپاره علت دده ځغستل ده اودځنځیر خلاصیدل سبب ده اوحکم چونکه منسوب علت ته وی له دی وجه پرځنځیر خلاصونکی باندی ضمان واجب نه ده.

وَالسَّبَبُ مَعَ العِلَّة اذَا اجتَمَعَا يُضَافُ الحُكمُ اِلَى العِلَّة دُونَ السَّبَب اِلَّا اذَا تَعَذَّرَت الاضَافَةُ اِلَى العِلَّة فَيُضَافُ اِلَى السَّبَب حِينَئِذٍ وَعَلَى هٰذَا قَالَ اَصحَابُنَا اِذَا دَفَعَ السِّكِّينَ اِلَى صَبِيٍّ فَقَتَلَ بِه نَفسَهُ لَا يَضمَنُ وَلَو سَقَطَ مِن يَدِ الصَّبِيِّ فَجَرَحَهُ يَضمنُ وَلَو حَمَلَ الصَّبِيَّ عَلَى دَابَّةٍ فَسَيَّرَهَا فَجَالَت يُمنَةً وَيُسرَةً فَسَقَطَ وَمَاتَ لَا يَضمَنُ وَلَو دَلَّ اِنسَانًا عَلَى مَالِ الغَيرِ فَسَرَقَهُ اَوعَلَى نَفسِه فَقَتَلَهُ اَو عَلَى قَافِلَةٍ فَقَطَعَ عَلَيهِم الطَّرِيقَ لَا يَجِبُ الضَّمَنُ عَلَى الدَّالِّ.

ترجمه: کله چی سبب اوعلت سره جمع شی حکم دعلت وطرفته کنسوب کیږی سبب ته نه منسوب کیږی لیکن کله چی دعلت وطرفته منسوب کیدل متعذر وی هغه وخت بیا حکم سبب ته منسوب کیږی اوبناء پردی باندی زموږ علماء وائی که یوچا کوچنی ته چاره ورکړه اوکوچنی خپل ځان په ووژنی پرچاره ورکونکی باندی ضمان نشته اوکه چاره دکوچنی له لاسه ولویده اودی ئی زخمی

کې په دې صورت کې پر ورکونکې باندې ضمان شته اوکه یو چاه کوچنې پرحیوان باندې سپورکې اوکوچنې حیوان روان کړې اوحیوان په ښې طرف اوچپ طرفته ښورولوباندې وغورزاوې اومړشو نوکښېنونکې ضامن نه ده اوکه یوچابل چاته دیوسړې مال وښودې اوهغه غلا کې اویاهغه سړې ورته په ګوته کړې اودې ئې ووژنې اویا قافله ورته په ګوته کړې اوهغه ئې لوټ کړې دلته پرښوونکې پته ورکونکې باندې ضمان واجب نه ده.

تشریح: مصنف رح وائې که علت اوسبب دواړه جمع شول په دې صورت کې حکم منسوب وعلت ته وې ځکه علت مؤثر وې په حکم کښې اوپه علت سره اثبات دحکم کیږې اودسبب طرفته منسوب نه وې بلکه مفضې وې لهذا مناسب داده چې حکم منسوب علت ته شې نه وسبب ته اوکه انتساب دحکم وعلت ته متعذر وؤ یعنې علت ددې صلاحیت نه درلودې چې ده ته حکم منسوب کړشې په دې صورت کې حکم سبب ته منسوب کیږې.

بناء پردې باندې احناف وائې که یوشخص کوچنې ته چاړه په لاس ورکړې اوکوچنې په چاړه باندې خپل ځان ووژنې نوپرچاړه ورکونکې باندې دیت نشته ځکه دلته علت (دکوچنې فعل) او سبب (چاړه ورکول) دواړه جمع شول لهذا حکم منسوب وعلت یعنې دکوچنې وفعل ته ده اوسبب ته منسوب نه ده لهذا پرچاړه ورکونکې باندې ضمان دیت واجب نه ده لیکن که په دغه صورت کې له کوچنې څخه چاړه ولویده اوکوچنې ئې زخمې کړ په دې صورت کې پرچاړه ورکونکې باندې دیت واجب ده ځکه دچاړې لویدل چې دزخم لپاره علت ده دکوچنې اختیارې فعل نه ده نوچې دچاړې لویدل دکوچنې اختیارې فعل نه ده لهذا دفعل نسبت ورته کول ممکن نه ده کله چې دحکم نسبت وعلت ته ممکن نه شو نوحکم منسوب وسبب ته ده لهذا پرچاړه ورکونکې باندې دیت ورکول واجب ده اوهمدارنګه که یوشخص کوچنې پرآس باندې سپور کړې اوکوچنې هم دا آس روان کړ اوآس په ځغاسته کې کوچنې وغورزوې اومړ ئې کړې په دې صورت کې پرسپرونکې باندې دیت واجب نه ده ځکه دلته سبب (دکوچنې سپریدل) اوعلت (آس روانول) دواړه موجود دې اوکله چې سبب اوعلت دواړه موجود کړشې هلته حکم منسوب علت ته وې لهذا دلته حکم یعنې دکوچنې هلاک منسوب ده وعلت ته چې آس روانول ده اوداهم دکوچنې اختیارې فعل ده لهذا پر سپرونکې باندې ضمان واجب نه ده اوهمدارنګه که یوچاه غله ته دیوسړې مال وښودې اوغله هم هغه مال غلاکړې په دې صورت کې پرښونکې باندې ضمان اجب نه ده ځکه دلته سبب (ښول دمال) اوعلت غلاکول دواړه موجود دې کله چې سبب اوعلت دواړه موجود وې هلته حکم منسوب علت ته وې لهذا پرښوونکې باندې واجب نه ده.

او همدارنګه که یوشخص وقاتل ته دمقتول پته ورکړې اوقاتل هغه سړې قتل کړې په دې صورت کې پر پته ورکونکې باندې ضمان واجب نه ده ځکه دلته سبب (پته ورکول) اوعلت(وژل) دواړه

موجودي كله چې د حكم سبب او علت دواړه موجودوي هلته حكم منسوب وعلت ته وي نه وسبب ته لهذا دلته پر پته ورکونکي بندي ضمان واجب نه ده بلکه پر قاتل باندي ضمان واجب ده او همدارنګه که یو شخص وړاکوته دقافلي پته ورکړي او ډاکو هم قافله چورکړه په دي صورت کي پر پته ورکونکي باندي ضمان واجب نه ده ځکه پته ورکول سبب دحکم ده او قافله چورول علت دحکم ده دواړه موجوددي کله چې سبب او علت دواړه مو جودشي هلته حکم منسوب علت ته وي لهذا پر ښونکي باندي ضمان نشته بلکه ضمان پر ډاکو باندي ده .

وَهٰذَا بِخِلَافِ الْمُودَعِ اِذَا دَلَّ السَّارِقُ عَلَى الْوَدِيْعَةِ فَسَرَقَهَا اَوْدَلَّ الْمُحْرِمُ غَيْرَهُ عَلٰى صَيْدِ الْحَرَمِ فَقَتَلَهُ لِاَنَّ وُجُوْبَ الضَّمَانِ عَلَى الْمُوْدَعِ بِاعْتِبَارِ تَرْكِ الْحِفْظِ الْوَاجِبِ عَلَيْهِ لَابِالدَّلَالَةِ وَعَلَى الْمُحْرِمِ بِاعْتِبَارِ اَنَّ الدَّلَالَةَ مَحْظُوْرُ اِحْرَامِهِ بِمَنْزِلَةِ مَسِّ الطِّيْبِ وَلُبْسِ الْمَخِيْطِ فَيَضْمَنُ بِارْتِكَابِ الْمَحْظُوْرِ لَا بِالدَّلَالَةِ اِلَّا اَنَّ الْجِنَايَةَ اِنَّمَا يَتَقَرَّرُ بِحَقِيْقَةٍ وَاَمَّا قَبْلَهُ فَلَا حُكْمَ لَهُ لِجَوَازِ اِرْتِفَاعِ اَثَرِ الْجِنَايَةِ بِمَنْزِلَةِ الْاِنْدِمَالِ فِيْ بَابِ الْجَرَاحَةِ .

ترجمه : او دا حکم د مودع خلاف ده کله چې غله ته وديعت وښول شي او هغه ئي غلا کړي او محرم وبل ته ښکار ونيسيي او هغه داقتل کړي ځکه پر مودع باندي ضمان د هغه دحفاظت په ترک سره وي چې هغه حفاظت پر ده باندي واجب ده دښولو له وجه نه وي او محرم په دي اعتبار ضامن ده چې دانښوونه دده داحرام له ممنوعاتو څخه ده لکه څنګه چې ځان خوشبو کول او ګنډلي جامي اغوستل ممنوع ده لهذا دي دممنوع کارپه کولو سره ضامن ده دښودلو په وجه ضامن نه ده ليکن جنايت په حقيقت قتل سره موجود يږي بهر حال تر قتل مخکي دد لپاره هځ حکم نشته ځکه دجنايت داثر لري کول ممکنه ده لکه په باب دجراحت کښي دزخم درمل کول .

تشريح : وهذابخلاف المودع مصنف رح په دي عبارت سره ديو سوال جواب کوي هغه سوال داده لکه څنګه چې غله ته دبل دمال ښول سبب ده همدارنګه که مودع يعني امانتدار غله ته دامانت دخوندي کولو ځي ښول هم سبب ده نو که غله داامانت غلا کړ بايد پر مودع باندي ضمان واجب نه شي ځکه حکم خوسبب ته نه منسوبيږي او حال داده چې پر مودع باندي ضمان واجب ده او همدارنګه که محرم شخص بل ته ښکار په ګوته کړيعني ورته وه ئي ويل چې ښکاردحرم په فلاني ځاي کي ده او غير محرم ښکاري هغه ښکار ووژني نو بايد پر محرم باندي ضمان واجب نه شي ځکه دمحرم ښونه خوسبب ده اوسبب ته خوحکم نه منسوبيږي او حال داده چې تاسو پر محرم باندي ضمان واجب کړي ده ؟

جواب : داده چې پر مودع باندي ضمان له دي وجه نه ده واجب چې غله ته ئي دامانت ځاي ښولي ده بلکه له دي وجه چې په امانت مال کي ئي خنايت وکړ هغه داده چې دعقد وديعت په زريعه چې ئي دکوم حفاظت التزام کړي وو هغه حفاظت ئي ترک کړ لهذا پر ده باندي دحفاظت دترک په وجه

ضمان واجب ده او همدارنګه محرم له دی وجه ضامن ده چی غیر محرم ته دښکار ښول له ممنو عاتو داحرام څخه ده لکه ځان خوشبو کول او ګنډلی کپړی اغوستل چی دممنوعاتو داحرام څخه ده نو کله چی ئی دممنوع فعل عمل وکړله دی وجه دی ضامن ده.

لا ان الجنایت په دی عبارت سره مصنف رحمه الله علیه دیو سوال جواب کوی سوال داده کله چی پر محرم باندی ضمان له دی وجه لازم شو چی دممنوع فعل ارتکاب ئی وکړ نو باید په صرف ښوولو سره پر ده باندی ضمان واجب کړشی که څه هم ښکاری ښکارنه ووژنی او حال داده چی تاسو په دی صورت کی ضمان واجب نه بولی.

جواب داده چی دمحرم ښودل دښکاروغیره محرم ته هغه وخت جنایت داثر پورته کول ممکن ده له دی وجه تر وژلو مخکی صرف ښوولو ته جنایت حکم نه وروکول کیږی او داداسی ده لکه یو څوک چی بل زخمی کړی او بیا زخم په ښه طریقه سره جوړشی هڅ اثر ئی باقی پاته نشی په دی صورت کی پر فاعل باندی ضمان واجب نه ده.

وَقَديَكُونُ السَبَبُ بِمَعنَى العِلَّة فَيُضَافُ الحُكمُ اَلَيه وَمثَالُهُ فِيمَا يَثبُتُ العِلَّةُ بِالسَّبَب فَيَكُونُ السَّبَبُ فِی مَعنی العِلَّة لاَنَّهُ لَمَّا ثَبَتَ العِلَّةُ بِالسَّبَب فَيَكُونُ السَّبَبُ فِی مَعنی علَّةالعِلَّة فَيُضَافُ الحُكمُ اَلَيه وَلهذَا قُلنَا اذَا سَاقَ دَابَّةً فَاَتلَفَ شَيئاً ضَمِنَ السَّائِقُ وَالشَّاهِدُ اذَا اَتلَفَ بِشَهَادَتِه مَالًا فَظَهَرَ بُطلاَ نُهَا بِالرُّجُوعِ ضَمِنَ لِاَنَّ سَيرَ الدَّابَّة يُضَافُ اِلَى السَّوق وَقَضَاءُ القَاضِي يُضَافُ اِلَى الشَّهَادَة لِمَااَنَّهُ لَا يَسعُهُ تَركُ القَضَاء بَعدَ ظُهُورِ الحَقِّ بِشَهَادَة العَدل عِندَهُ فَصَارَ كَالمَجبُورِ فِی ذٰالِکَ بِمَنزِلَةِ البَهِيمَة بِفِعلِ السَّائِق.

ترجمه: او کله سبب په معنی دعلت سره وی او حکم دده طرفته منسوبیږی او ددی مثال په هغه کی ده چیر ته چی علت په سبب سره ثابت وی نو سبب دعلته په معنی سره ده او حکم منسوب وده ته وی او له دی وجه موږ وایو که یو چا دابه وشړله او دغی دابی یوشی تلف کی نو شړونکی ضامن ده اوشاهد چی کله دخپل شهادت په وجه دبل مال تلف کړی او ددی بطلان له شاهدی څخه درجوع په زریعه ظاهر ه شی نو شاهد ضامن ده ځکه ددابی شړل وشړونکی ته منسوبیږی اوقاضی فیصله وشهادت ته منسوبه وی ځکه کله چی دقاضی په عدالت کی دعادل سړی په شاهدی سره حق ظاهر ه شی له دی ورسته قاضی دقضاء دپریښولو توان نه لری بلکه قاضی مجبوره ده په فیصله کولو باندی لکه چارپای چی مجبور ده په فعل دشړونکی.

تشریح : مصنف رحمه الله علیه فرمائی کله کله سبب دعلت په معنی سره وی په دی وخت کی حکم منسوب وده ته وی او دی هغه وخت په معنی دسبب سره وی کله چی علت له سبب څخه پیدا شوی وی ځکه علت چی کله له سبب څخه پیدا شی نو هغه سبب دعلة العلت په معنی سره وی او حکم چونکه منسوب وعلت ته وی له دی وجه کوم سبب چی دعلت په معنی سره وی حکم دهغه وطرفته هم منسوب کیږی او حکم چونکه هغه سبب ته منسو ب کیږی چی هغه په معنی دعلت سره وی له دی

وجه موږ وایو که یو شخص چارپای وشاړی او چارپای دیو چا یوشی تلف کړی په دی صورت کی شړونکی ضامن ده ځکه له شړلو ورسته چارپای تللو ته مجبوره ده نوکله چی دده له شړلو څخه یوشی تلف شی په دی صورت کی ددی تلف کولو علت شړل ده او داشړل چونکه دشړونکی له وجه پیدا شوی ده له دی وجه شړل چی دتلف لپاره سبب ده په معنی دعلت سره ده او هغه سبب چی په معنی دعلت سره وی چونکه هغه ته حکم منسو ب کیږی له دی وجه تلف کیدل وشړونکی ته منسوب ده یعنی داسی ویل کیدای شی چی تلف کونکی شړونکی ده لهذا پر ده باندی ضمان واجب ده:

او همدارنګه که شاهد په خپله شاهدی سره دچا مال تلف کړی مثلاً یو شخص په بل شخص دعوه وکړی چی پر ده باندی زماز ر روپی دی او مدعی پرخپله دعوی باندی دوه شاهدان تیرکړی اوقاضی دمدعی په حق کی فیصله وکړی یعنی له مدعی علیه څخه مدعی ته زر روپی ورکړی اوله دی ورسته شاهدان له خپلی شاهدی څخه رجوع وکړی نو کله چی دوی رجوع وکړی ددوی له رجوع څخه داظاهره کیږی چی شاهدی باطله ده او کله چی شاهدی باطله شی نو دا ثابته شوه چی دمدعی علیه زر روپی تلف شو ی په دی صورت کی که څه هم دمال دتلف کیدو علت دقاضی فیصله ده سبب ئی شاهدی ده لیکن چونکه قاضی پر دی مجبوره ده چی کله دعادل په شاهدی سره حق ظاهره شی دی به فیصله کوی لکه دسائق په فعل سره چی چارپای دی ته مجبور ده چی ولاړ شی نولکه څنګه چی دسائق فعل سبب ده او په معنی دعلت سره ده همدارنګه شاهدی هم سبب په معنی دعلت سره ده اوسبب چی کله په معنی دعلت سره وی هغه ته حکم منسوب کیږی له دی وجه دلته هم دمال تلف کیدل منسوب ده وشاهدی ته او هرکله چی تلف منسوب وشاهدی ده شو نو پر شاهدانو باندی ضمان دمال واجب ده نه پر قاضی باندی.

ثُمَّ السَّبَبُ قَد يُقَامُ مَقَامَ العِلَّةِ عِندَ تَعَذُّرِ الاطِّلاعِ عَلَى حَقِيقَةِ العِلَّةِ تَيسِيراً لِلأَمرِ عَلَى المُكَلَّفِ وَيَسقُطُ بِهِ اعتِبَارُ العِلَّةِ وَيُدَارُ الحُكمُ عَلَى السَّبَبِ وَمِثَالُهُ فِى الشَّرعِيَّاتِ اَلنَّومُ الكَامِلُ فَاِنَّهُ لَمَّا اُقِيمَ مَقَامَ الحَدَثِ سَقَطَ اِعتِبَارُ حَقِيقَةِ الحَدَثِ وَيُدَارُ الانتِقَاضُ عَلَى كَمَالِ النَّومِ وَكَذَالِكَ الخَلوَةُ الصَّحِيحَةُ لَمَّا اُقِيمَت مَقَامَ الوَطئِ سَقَطَ اعتِبَارُ حَقِيقَةِ الوَطئِ فَيُدَارُ الحُكمُ عَلَى صِحَّةِ الخَلوَةِ فِى حَقِّ كَمَالِ المَهرِ وَلُزُومِ العِدَّةِ وَكَذَالِكَ السَّفَرُ لَمَّا اُقِيمَ مَقَامَ المَشَقَّةِ فِى حَقِّ الرُّخصَةِ سَقَطَ اعتِبَارُ حَقِيقَةِ المَشَقَّةِ وَيُدَارُ الحُكمُ عَلَى نَفسِ السَّفَرِ حَتَّى اَنَّ السُّلطَانَ لَوطَافَ فِى اَطرَافِ مَملُكَتِهِ يَقصُدُ بِهِ مِقدَارَ السَّفَرِ كَانَ لَهُ الرُّخصَةُ فِى الافطَارِ وَالقَصرِ.

ترجمه: او کله سبب قائم مقام دعلت وی هغه وخت چی پر حقیقی علت باندی خبرتیا متعذره وی ومکلف ته دکار داسانه کولو لپاره او په دی سره ساقطیږی اعتبار دعلت او حکم دائر پر سبب باندی وی ددی مثال هغه خوب ده چی په کامله طریقه سره وی ځکه کله چی خوب دحدث قا

مقامه شي نو دحدث اعتبار ساقط ده او داودس دماتوالی حکم دائر پر کامل خوب باندی ده او همدارنګه کله چی خلوت صحیحه قائم مقامه دطی ده نو دحقیقت وطی اعتبار ساقط ده اوحکم دکمال مهر اودلزوم دعدی دائر پرخلوت صحیحه باندی ده همدارنګه کله چی سفر په حق درخصت کی قائم مقامه دمشقت ده نو دحقیقی مشقت اعتبار ساقط ده اوحکم دائر پر نفس سفر باندی ده حتی که بادشاد مملکت داطرافو دوره کوله په داسی حال کی چی ده دسفر دمقدار ایراده کړی وی نو ده لره افطار اوقصر رخصت ده.

تشریح : مصنف رحمه الله وائی کله چی پر حقیقی علت باندی خبر تیا ممکنه نه وی په داسی صورت دمکلف داسانی لپاره سبب دعلت قائم مقامه ده او دعلت اعتبار ساقط ده او حکم دائر پر سبب باندی ده مثلاً په داسی طریقه سر ه خوب چی په هغه کی استرخاء دمفاصلو راشی داقائم مقامه دحدث ه لهذا حقیقی حدث یعنی خروج دریح وغیره اعتبار ساقط ده اوداودس دماتوالی لپاره حکم دائر پر کامل خوب باندی ده او همدارنګه خلوت صحیحه کله چی قائم مقامه دوطی ده دپوره مهر او لزوم دعدی دوجوب په باره کی دحقیقی وطی اعتبار ساقط ده او حکم دائر پر خلوت صحیحه باندی ده یعنی کله چی خلوت صحیحه موجودکړشی له دی ورسته پوره مهر واجب ده اوکه طلاق ورکړشی عده واجب ده او همدارنګه کله چی سفر قائم مقامه دمشقت ده نو دحقیقی مشقت اعتبار ساقط ده اودافطار اوقصر په سلسله کی حکم دائر پر نفس سفر باندی ده حتی که پادشاه دسفر دمقدار په اندازه دسفر په ایراده سره دملک واطرافوته دوره کوله دده لپاره افطار اوقصر رخصت ده سر له دی چی ده ته په سفرکی هر قسم سهولیات موجودوی.

وَقَد يُسَمَّى غَيرُ السَّبَبِ سَبَبًا مَجَازًا كَاليَمِين يُسَمَّى سَبَبًا لِلكَفَّارَة وَاَنَّهَا لَيسَت بِسَبَبٍ فِي الحَقِيقَة فَاِنَّ السَّبَبَ لَايُنَافِي وُجُودَ المُسَبَّبِ وَاليَمِينُ يُنَافِي وُجُوبَ الكَفَّارَةِ فَاِنَّ الكَفَّارَةَ اِنَّمَا تَجِبُ بِالحِنثِ وَبِه يَنتَهِي اليَمِينُ وَكَذَالِكَ تَعلِيقُ الحُكمِ بِالشَّرطِ كَالطَّلَاقِ وَالعِتَاقِ يُسَمَّى سَبَبًا مَجَازًا وَاَنَّهُ لَيسَ بِسَبَبٍ فِي الحَقِيقَة لِاَنَّ الحُكمَ اِنَّمَا يَثبُتُ عِندَ الشَّرطِ وَالتَّعلِيقُ يَنتَهِي بِوُجُودِ الشَّرطِ فَلَايَكُونُ سَبَبًا مَعَ وُجُودِ التَّنَافِي بَينَهُمَا

ترجمه : او کله مجازاً دغیرسبب نوم سبب کیښودل شی لکه یمین ته چی سبب دکفاری ویل کیږی او حال داده چی یمین په حقیقت کی سبب نه ده ځکه سبب له وجود دمسبب سره منافی نه وی اویمین منافی ده له وجود دکفاری سره ځکه کفاره دحنث په وجه واجبیږی اوپه حنث سر ه یمین ختم کیږی او همدارنګه تعلق دحکم تر شرطه پوری لکه طلاق او اعتاق چی مجازاً سبب وی او حال داده چی په حقیقت کی سبب نه دی ځکه حکم دشرط په وخت کی ثابت وی اوتعلق په وجود دشرط سره ختم کیږی نو دتعلیق او حکم په مینځ کی دمنافات په وجه تعلیق سبب نشی کیدای.

تشریح : مصنف رحمہ اللہ وائی کله مجازاً غیر سبب ته سبب وویل شی لکه یمین ته چی سبب دکفاری وویل شی اوحال داده چی یمین په حقیقت کی سبب دکفاری نه ده ځکه سبب هغه وی چی ده ته مسبب او حکم مفضی وی یعنی دسبب او مسبب دوجود په منځ کی منافات نه وی او دلته خو یمین منافی ده له وجوب دکفاری سره ځکه کفاره دیمین ده نو کله چی داسی شونو کفاره یمین ته مفضی نه ده لهذا یمین حقیقتاً دکفاری سبب نه ده بلکه ده ته مجازاً سبب ویل شوی ده او همدا رنګه یعنی طلاق او اعتاق معلق کوی پر شرط باندی مجازاً سبب ده حقیقتاً سبب نه ده ځکه وجود دطلاق یا وجود داعتاق دشرط په وخت کی ثابت وی او تعلیق په وجود کی مانع کیږی لهذا دسبب یعنی تعلیق او حکم یعنی طلاق او عتاق په مینځ کی منافات شو مخکی یاده کړه چی دسبب او حکم په مینځ کی منافات نه وی نو تعلیق حقیقتاً سبب نشی کیدای.

فَصلٌ الأَحكَامُ الشّرعيّةُ تَتَعَلّقُ بِاَسبَابِهَا

فَصلٌ الأَحكَامُ الشَّرعيّةُ تَتَعَلّقُ بِاَسبَابِهَا وَذَالِک لِاَنَّ الوُجُوبَ غَيبٌ عَنّا فَلَابُدّ من عَلَامَةٍ يَعرِفُ العَبدُ بِهَا وُجُوبَ الحُكمِ وَبِهذَا الاعتبَارِ اُضِيفَ الأَحكَامُ الى الاسباب فَسَبَبُ وُجُوبِ الصَّلوة اَلوَقتُ بدَليل اَنَّ الخطَابَ بِاَدَاءِ الصَّلوة لَايَتَوَجَّهُ قَبلَ دُخُولِ الوَقتِ وَاِنَّمَا يَتَوَجَّهُ بَعدَ دُخُولِ الوقت وَالخِطَابُ مُثبِتٌ لِوُجُوبِ الأَدَاءِ وَمُعَرِّفٌ للعَبدِ سَبَبَ الوُجُوبِ قَبلَهُ وَهذَا كَقَولنَا اَدِّ ثَمَنَ المَبِيعِ وَاَدِّ نَفَقَةَ المَنكُوحَة وَلَا مَوجُودَ يَعرِفُهُ العَبدُ هَهُنَا الاَّ دُخُولَ الوَقتِ فَتَبَيَّنَ اَنَّ الوُجُوبَ يَثبُتُ بِدُخُولِ الوَقتِ وَلِاَنَّ الوُجُوبَ ثَابِتٌ عَلَى مَن لَايَتَنَاوَلُهُ الخِطَابُ كَالنَّائِمِ وَالمُغمى عَلَيهِ وَلَا وُجُوبَ قَبلَ الوَقتِ فَكَانَ ثَابِتًا بِدُخُولِ الوَقتِ .

ترجمه : فصل احکامو شرعیه په خپلو اسبابو پوری متعلق وی ځکه وجوب له موږ څخه غائب ده نو داسی علامه ضروری ده چی په هغه سره بندپیژند نه دحکم وکړی او په اعتبار ددی سره احکام مضافیږی واسبابو ته نو دصلوة دوجوب سبب وخت ده دلیل داده چی خطاب داداء دصلوة مخکی تر وخت متوجه نه ده بلکه دوخت له دخوله ورسته متوجه ده او خطاب دوجوب داداء ثبوت کوی او بندلره داوریپیژنی چی سبب تر ده مخکی ده لکه زموږ قول ادثمن المبیع او ادنفقة الزوجه او دلته له دخوله بغیر یو داسی شی نشته چی بنده لره نفس وجوب ورو پیژنی نو دا ظاهره شوه چی وجوب په دخول دوخت سره ثابت ده اوله دی وجه چی وجوب پر هغو خلکو هم ثابت ده چی هغوته خطاب شامل نه وی لکه بیده اوبی هوښه او حال داده چی داتر وخت مخکی وجوب نه ده نو په دخول دوخت سره ثابت ده.

تشريح: مصنف رحمه الله وائی هغه احکام چې په دلائلو اربعه وو سره ثابت وی هغه ټوله متعلق تر اسبابو دی یعنی ددوی لپاره وجود داسبابو ضروری ده ځکه احکام په حقیقت کی دالله جل جلاله په جوب سره واجب دی او دالله جل جلاله وجوب داحکامو زمونږ له نظرڅخه پټ ده مونږ ته معلوم نه ده چې ایاداوجوب په شپه کی ده او که په ورځ لهذا دداسی علامی ضرورت ده چې په هغه سره بنده ته وجوب دفعل معلوم شی ځکه چې زمونږ له نظره وجوب پټ ده او احکام منسوب اسبابو ته وی لکه دلمانځه دوجوب لپاره چې سبب وخت ده او دایادساته چې وجوب دوه قسمه ده یو نفس وجوب اوبل وجوب اداء دنفس وجوب سبب وخت ده اودوجوب اداء سبب خطاب ده دلیل ددی داده چې دلمانځه داداء په باره کی دالله جل جلاله خطاب مخکی تر وخت متوجه نه ده بلکه له دخوله دوخت ورسته متوجه ده ځکه الله جل جلاله فرمائی أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ په دی آیت کی ولدلوك لا م دتعلیل لپاره اویا دوخت لپاره ده په اول صورت کی ئی ترجمه داسی ده چې لمونځ اداء کړی ځکه لمر زائل شوی ده او دوهم صورت کی ئی معنی داسی ده لمونځ اداء کړی دلمر دزائلیدو په وخت کی له دواړه ترجمو څخه داثابته شوه چې دماپښين دلمانځه اداء له زیواله ورسته ده حاصل داده چې دالله جل جلاله خطاب دوخت له دخوله ورسته متوجه کیږی .

والخطاب مثبت الخ په دی عبارت سره مصنف رحمه الله دیو سوال جواب کوی .

سوال: کله چې نفس وجوب په سبب یعنی وخت سره ثابت کړشو نو دخطاب څه فائده شوه ؟.

جواب: داده چې دالله جل جلاله خطاب ددی لپاره ده چې وجوب داداء ثابت کړی او بنده لره داوروپيژنی چې سبب دوجوب مخکی تر وجوب داداء نه متحقق کیږی اودا دواړه وجوبه ځانته ځانته دی ځکه نفس وجوب ثابت په سبب سره ده اوخطاب په امر سره ثابت ده اوسبب غیر ده له امره څخه نوکله چې سبب اوامر دواړه بیل بیل دی لهذا په دوی چې کوم شی ثابت وی هغه به هم بیل بیل وی.

اودالله جل جلاله دخطاب مثال لکه قول دبایع ومشتری ته اد ثمن المبیع اویا دقاضی قول وخاوند ته اد نفقة الزوجه دلته دثمن نفس وجوب ثابت په عقد بیع سره ده او نفس جوب دنفقی ثابت په نکاح سره ده او ددی دواړو داداء وجوب ثابت په طلب سره ده نو لکه څنګه چې په مطالبه سره دثمن او نفقی وجوب اداء ثابیتږی همدارنګه دالله جل جلاله په قول سره دلمانځه وجوب اداء ثابیتږی اودلته له دخول وخت بغیر بل هڅ شی نشته چې هغه بنده لره دنفس وجوب علم ورکړی لهذا داثابته شوه چې نفس وجوب ثابت په دخول دوخت سره ده او ددی لپاره دوهم دلیل داده چې دلمانځه نفس وجوب پر هغو خلکو هم ده چې هغو لره خطاب شامل نه وی لکه بیده (نائم) اوبی هوښه او داښکاره خبره ده تر وخت مخکی وجوب ثابت نه ده نوکله چې تر وخت مخکی وجود ثابت نه شونو په دخول دوخت سره ثابت ده

وَبِهٰذَا ظَهَرَ اَنَّ الْجُزْءَ الْاَوَّلَ سَبَبٌ لِلْوُجُوْبِ ثُمَّ بَعْدَ ذَالِکَ طَرِیْقَانِ اَحَدُهُمَا نَقْلُ السَّبَبِیَّةِ مِنَ الْجُزْءِ الْاَوَّلِ اِلَی الثَّانِیْ اِذَالَمْ یُؤَدِّ فِی الْجُزْءِ الْاَوَّلِ ثُمَّ اِلَی الثَّالِثِ وَالرَّابِعِ اِلٰی اَنْ یَّنْتَهِیَ اِلٰی اٰخِرِ الْوَقْتِ فَیَتَقَرَّرُ الْوُجُوْبُ حِیْنَئِذٍ وَیُعْتَبَرُ حَالُ الْعَبْدِ فِیْ ذٰلِکَ الْجُزْءِ وَیُعْتَبَرُ صِفَةُ ذَالِکَ الْجُزْءِ وَبَیَانُ اِعْتِبَارِ حَالِ الْعَبْدِ فِیْهِ اَنَّهٗ لَوْکَانَ صَبِیًّا فِیْ اَوَّلِ الْوَقْتِ بَالِغًا فِیْ ذَالِکَ الْجُزْءِ اَوْ کَانَ کَافِرًا فِیْ اَوَّلِ الْوَقْتِ مُسْلِمًا فِیْ ذَالِکَ الْجُزْءِ اَوْکَانَتْ حَائِضًا اَوْ نُفَسَاءَ فِیْ اَوَّلِ الْوَقْتِ طَاهِرَةً فِیْ ذَالِکَ الْجُزْءِ وَجَبَتِ الصَّلٰوۃُ وَعَلٰی هٰذَا جَمِیْعُ صُوَرِ حُدُوْثِ الْاَهْلِیَّةِ فِیْ اٰخِرِالْوَقْتِ وَعَلَی الْعَکْسِ بِاَنْ یَّحْدُثَ حَیْضٌ اَوْ نِفَاسٌ اَوْ جُنُوْنٌ مُسْتَوْعِبٌ اَوْ اِغْمَاءٌ مُمْتَدٌّ فِیْ ذَالِکَ الْجُزْءِ سَقَطَتْ عَنْهُ الصَّلٰوۃُ وَلَوْکَانَ مُسَافِرًا فِیْ اَوَّلِ الْوَقْتِ مُقِیْمًا فِیْ اٰخِرِهٖ یُصَلِّیْ اَرْبَعًا وَلَوْکَانَ مُقِیْمًا فِیْ اَوَّلِ الْوَقْتِ مُسَافِرًا اٰخِرَهٗ یُصَلِّیْ رَکْعَتَیْنِ .

ترجمه: اوله دی څخه ظاهره شوه چې اول جز سبب دوجوب ده اوبیا له دی ورسته دوی طریقی دی یو داده چې له اوجز څخه سببیت نقل کول ودوهم جز ته هغه وخت چې په اول جز کی اداء نه شی اوبیا دریم او څلورم ته تر هغه وخته چې آخر دوخت ته ورسیږی داوخت نو وجوب متقرر ده او په دی جز کی دبنده دحال اعتبار کول کیږی او ددی جز دصفت اعتبار کول کیږی او په دی جز کی دبنده داعتبار دحال تفصیل داده چې که په اول وخت کښی کوچنی وؤ اوپه دی جزکی بالغ شو اویا په اول جز کی کافر وؤ په دی جز کی مسلمان شو او یاپه اول کی حائضه او نفاسه وه اوپه دی جزکی پاکه شوه نو لمونځ واجب ده اوپر دی باندی په اخر دوخت داهلیت دپیداکیدلو ټول صورتونه قیاس کیږی او ددی پر عکس باندی په دی طریقه چې په دی جز کی حیض او نفاس ورشی اویا تر یوه شپه او ورځ زیات لیونتوب اویا بی هوښیورباندی راشی په دی صورت کی له ده څخه لمونځ ساقط ده او که په اول وخت کی مقیم وو اوپه اخر وخت کی مسافر شو دوه رکعته به کوی .

تشریح : مصنف رحمہ اللہ وائی کله چې موږ داذکر کړل چې وجوب په دخول دوخت سره ثابتیږی له دی څخه دابنکاره شوه چې دوخت اول جز سبب ده لپاره دوجوب ځکه پر ټول وخت باندی وجوب موقوفه نه ده ځکه که پر ټول وخت باندی موقوف شي بیاوجوب دوخت له تیریدلو ورسته ثابتیږی او کله چې وجوب دوخت له تیریدلو ورسته ثابت شی بیا دننه په وخت کی دلمانځه اداء کول جائز نه ده ځکه په د ی وخت کی مسبب (لمونځ) پر سبب (وخت) باندی مقدم شو اوحال داده چې داجائز نه ده حاصل داده چې وجوب پر ټول وخت باندی موقوفه نه ده نو کله چې وجوب پر ټول وخت باندی موقوفه نه ده نو دوجوب سبب یو جز ده او که دا پوښتنه وشی چې هغه جز چې سبب ده کوم جز ده ددی په جواب کی موږ وایو چې اول جز چونګه پر ټولو اجزاء مقدم ده او راتلونکی نوری اجزاوی معدومی دی له دی وجه اول جز سبب ده ځکه مزاحم نشته او له دی ورسته دسببیت لپاره دوی طریقی دی یوه دا ده چې سببیت له اول جز څخه نقل شی دوهم جز ته اوله دوهم جزڅخه نقل شی دریم جزته او له دی څخه څلورم جزته تر هغه وخته چې اخری جزته رسیږی او په دی اخری

جزکی دبنده حال هم معتبر ده او د کمال او نقصان په وجه داخر ی جز حال هم معتبر ده دبنده دحال داعتبار تفصیل داده که په اول وخت کی یو شخص نابالغ وو او په اخر وخت کښی بالغ شو او یا په اول وخت کی کافرو په اخر جز کی مسلمان شو او یا په اول وخت کښی ښځه حائضه او نفاسه وه په اخر جزکی پاکه شوه په دی ټولو صورتو کی چونکه په اخر وخت کښی اهلیت دلمانځه موجود شو له دی وجه لمونځ واجب ده پر دی اهلیت باندی ټول صورتونه قیاس کیږی او همدارنګه ددی پر عکس داخر وخت هم اعتبار کول کیږی مثلاً که یو ښځه په اول وخت کی پاکه وه او په اخر وخت کی حیض یا نفاس ورغلی او همدارنګه که یو شخص په اول وخت کی روغ رمټ وو او په اخر وخت کښی لیونی شو اویا بی هوښی ورباندی راغله په دی صورت کښی لمونځ ساقط ده خلاصه داده که په اخر وخت کی دلمانځه اهلیت مو جود ؤو لمونځ واجب ده او که نه ؤو لمو نځ واجب نه ده او همدارنګه که یوشخص په اول وخت کښی مسافر ؤو او په اخر وخت کښی مقیم شو دده لپاره قصر جائز نه ده څلور رکعته لمونځ به کوی او که په اول وخت کی مقیم وو او په اخر وخت کښی مسافر شو دوه رکعته به کوی .

وَبَيَانُ اعتبَارِ صِفَة ذَالِكَ الجُزء اَنَّ ذَالِكَ الجُزءَ ان كَانَ كَا ملاً تَقَرَّرَت الوَظِيفَةُ كَاملَةً فَلاَيَخرُجُ عَن العُهدَة بِاَدَائهَا فى الأَوقَات المَكرُوهَة وَمثَالُهُ فِيمَا يُقَالُ اِنَّ اخرَ الوَقتَ فى الفَجر كَامِلٌ وَانَّمَا يَصيرُ الوَقتُ فَاسداً بطُلُوع الشَمس وَذَالكَ بَعدَ خُرُوج الوَقت فَيتَقَرَّرُ الوَاجبُ بوَصف الكَمَال فَاذَا طَلَعَ الشمسُ فِى اَثنَاء الصَلوة بَطَلَ الفَرضُ لاَنَّهُ لاَيُمكنُهُ اتمَامُ الصَلوة الاَّ بوَصف النُقصَان باعتبَار الوَقت وَلَوكَانَ ذَالكَ الجُزءُ نَاقصاً كَمَا فى صَلوة العَصر فَانَّ اٰخرَ الوَقت وَقتُ احمرَار الشَمس وَالوَقتُ عندهُ فَاسدٌ فَتَقَرَّرَت الوَظيفَةُ بصفَة النُقصَان وَلهذَا وَجَبَ القَولُ بالجَوَاز عندهُ مَع فَسَاد الوَقت

ترجمه: تفصیل اودا عتبارصفت ددی جز تفصیل داده که داجز کامل وو فریضه کامله ثابته ده بیا په مکروه اوقاتو کښی په اداء سره زمه نه فارغیږی او مثال ئی په دی صورت کی ده چی ویل کیږی چی په سهار کی اخر وخت کامل ده اوپه راختلو دلمر سره فاسدیږی او دا فساد دوخت له وتلو ورسته ده نو واجب له وصف دکمال سره ثابت شو لهذا کله چی دلمانځه په دوران کی لمر راپورته شی فرض باطل دی ځکه دلمانځه پوره کول ممکن نه ده لیکن په اعتبار دوخت سره له نقصان سره ممکن ده اوکه چیری داجزناقص ؤو لکه په لمانځه دمازدیګر کښی ځکه دلته اخروخت دلمر دسورالی وخت ده او داوخت فاسدده نو فریضه له نقصان سره ثابته شوه له دی وجه دلمر دسوروالی وخت له فساد سره سره قول کول په جواز سره واجب ده

تشریح : مصنف رحمه الله بیانوئی داخر وخت دصفت داعتبار کولو مطلب داده چی که اخر جز چیر ته کامل وؤ فریضه هم کامله ثابته ده بیا ددغی فریضه اداء په مکروه وخت کښی صحیح نه ده مثلاً دسهار دلمانځه آخروخت کامل ده اوپه دی سره دسهار لمونځ کامل واجبیږی اودلمر دراختلوپه

وجه وخت فاسدیږی نوکه دسهار دلمانځه په دوران کی لمر راوختی فرض باطل دی ځکه دلته دلمانځه پوره کول بی له نقصانه ممکن نه ده اوحال داده چی لمونځ پرده باندی کامل واجب شوی ده اوکامل فرض په ناقصه طریقه اداکول چونکه اداء نه ده له دی وجه دسهار لمونځ په ناقصه طریقه اداء کول اداء نه بلل کیږی اوکه دلمانځه اخر وخت ناقص وؤ لکه دمازیگر دلمانځه اخر وخت داوخت له دی وجه ناقص ده چی داوخت داحمرار دشمس ده اوداچونکه دکفارو ولمر ته دعبادت کولووخت ده له دی وجه فاسد ده نوپه دی وخت کښی فریضه هم ناقصه ثابتیږی اوناقص فرض په ناقصه طریقه اداء کول چونکه ادا ده له دی وجه دوخت له فساد سره سره په دی وخت کښی دمازیگر لمونځ اداء کول جائز ده .

وَالطَّرِيقُ الثَّانِي اَن يُجعَلَ كُلُّ جُزءٍ من اَجزاءِ الوَقتِ سَبَبًا لَاعَلي طَرِيقِ الانتِقَالِ فَاِنَّ القَولَ بِه قَولٌ بِاِبطَالِ السَّبَبِيَّةِ الثَّابِتَةِ بِالشَّرعِ وَلَايَلزِمُ عَلي هَذَا تَضَاعُفُ الوَاجِبِ فَاِنَّ الجُزءَ الثَّانِي اِنَّمَا اَثبَتَ عَينَ مَا اَثبَتَهُ الجُزءُ الاَوَّلُ فَكَانَ هذَا من بَابِ تَرَادُفِ العِلَلِ وَكَثرَةِ الشُّهُودِ فِي بَابِ الخُصُومَاتِ .

ترجمه: اودوهمه طریقه داده چی دوخت هر جز مستقل سبب وگرزوی نه پرطریقه دانتقال ځکه په انتقال دسببیت کول ابطال ده دهغه سببیت چی ثابت په شرع سره ده اوپه دی سره دواجب دمقدار زیادت لازمیږی ځکه دوهم جز هغه څه ثابتوی کوم چی اول جز ثابت کړی ده نودا دباب دترادف دعللو اودکثرت دشاهدانو په باب دخصومات کښی له دی قبیله ده.

تشریح: مصنف ؒ وائی دسببیت داعتبار دوهمه طریقه داده چی دوخت هر جز مستقل سبب شی داسی نه چی له اوله جزه دوهم جز ته اوله دوهمه دریم ته سببیت نقل کړی ځکه په انتقال دسببیت سره قول کول دهغه سبب انتقال ده چی په شریعت سره ثابت ده اوسببیت چی کله له اوله جز څخه نقل شو و دوهم جز ته په دی صورت کی اول جز سبب پاته نه شواوحال داده چی شریعت ده ته سبب ویلی ده لیکن پردی باندی یوسوال کیږی هغه داده چی هرجز ته مستقل سبب ویل دالازموی چی په یوه وخت کښی دی متعدد فرائض واجب شی اوحال داده چی په یوه وخت کښی یو فرض وی متعدد نه وی ولایلزم په دی عبارت سره مصنف ؒ ددی سوال جواب کوی په دی طریقه چی هرجز ته مستقل سبب ویل متعدد فرض نه لازموی ځکه دوخت دوهم جز چی کوم ثابت کړی ده هغه بعینه هغه ده چی اول جز ثابت کړی ده لهذا داسبابو له تعداد سره سره یوفرض لازم ده اودا داسی ده لکه دیوحکم چی ډیر علتونه وی اویاپه یوه مقدمه کی ډیر شاهدان وی نولکه څنگه چی دعلتوپه تعداد سره تعداد حکم نه لازمیږی اوپه تعداد دشاهدانو سره تعداد دمقدمی (واقعی) تعداد نه لازمیږی همدارنگه داسبابو په تعداد سره تعداد دفرضو نه لازمیږی.

وَسَبَبُ وُجُوبِ الصَّومِ شُهُودُ الشَّهرِ لِتَوَجُّهِ الخِطَابِ عِندَ شُهُودِ الشَّهرِ وَاِضَافَةِ الصَّومِ اِلَيهِ وَسَبَبُ وُجُوبِ الزَّكوةِ مِلكُ النِّصَابِ النَّامِي حَقِيقَةً اَوحُكمًا وَبِاعتِبَارِ وُجُوبِ السَّبَبِ جَازَ التَّعجِيلُ فِي بَابِ

الأَدَاءِ وَسَبَبُ وُجُوبِ الحَجِّ قَبلَ وُجُودِ الاستِطَاعَةِ يَنُوبُ ذَالِکَ عَن حَجَّةِ الاسلَامِ لِوُجُودِ السَّبَبِ وَبِهِ فَارَقَ اَدَاءَ الزَّکوٰةِ قَبلَ وُجُودِ النِّصَابِ لِعَدَمِ السَّبَبِ .

ترجمه : اودصوم دوجوب سبب شهود دشهر ده ځکه دشهود دشهرپه وخت کښې خطاب متوجه کیږی اوصومه منسوب وشهرته ده اودزکوة دوجوب سبب ملک دنصاب نامی ده حقیقتاً وی اوکه حکماً وی اودسبب دوجود په اعتبار په باب داداء کښې تلوار کول جائز ده اودحج دوجوب سبب بیت الله ده ځکه حج منسوب وبیت الله ته ده اوپه عمرکی فریضه نشی مکرر کیدای اوبناء پردی باندی که یوچا داستطاعت تروجود مخکی حج وکړ داحج دفریضی قائم مقامه ده ځکه سبب موجود ده اوترنصاب مخکی زکوة اداء کول داسی نه ده ځکه سبب نیستی ده .

تشریح : داعبارت پرسبب دوجوب دصلوة باندی معطوف ده مطلب داده چی دروژی دوجوب سبب ښکاریدل دمیاشتی درمضان ده ځکه دمیاشتی دښکاریدو په وخت کښې دالله ﷻ خطاب په دی آیت فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَليَصُمهُ سره متوجه ده اوبل د

دآنحضرت ﷺ داحدیت صوموا لرویته هم ددی اثابت کوی چی دروژی سبب ښکاریدل دمیاشتی د روژی ده اوبله داخبره هم ده چی روژه مضاف ده میاشتی درمضان ته لکه صوم رمضان اواضافت دسببیت علامه ده اودزکوة دوجوب سبب دنصاب نامی مالک کیدل ده خواه که حقیقتاً نامی وی لکه دتجارت مال اوکه حکما نامی وی لکه تیریدل دکال اوددغه سبب دوجود په وجه په ادااینه کښې تلوار کول جائز ده یعنی دنصاب دمالک کیدلوورسته دکال ترپوره کیدو مخکی زکوة اداء کول جائز ده ځکه سبب موجود ده اودحج دوجوب سبب بیت الله ده ځکه حج مضاف وبیت الله ته ده اوموږ وویل چی اضافت علامه دسببیت ده اوپه بیت الله کښې چونکه تکرار نشته له دی وجه په عمر کی یوځل حج فرض ده اوچونکه دحج سبب بیت الله ده له دی وجه که یوشخص تر استطاعت مخکی حج وکړی دحج فریضه ئی اداء ده ځکه دحج سبب یعنی بیت الله موجود ده اوکه یوشخص نصاب تروجود مخکی زکوةاداء کړ دزکوة فریضه ئی اداء نه ده ځکه سبب موجود نه ده حاصل داده چی که دسبب له وجوده ورسته فریضه اداء کړل شی دا اداء صحح ده اوکه سبب موجود نه وؤ اداء صحح نه ده.

وَسَبَبُ وُجُوبِ صَدَقَةِ الفِطرِ رَاسٌ يَمُونُهُ وَيَلِی عَلَيهِ وَبِاعتِبَارِ السَّبَبِ يَجُوزُ التَّعجِيلُ حَتّٰی جَازَ اَدَاءُهَا قَبلَ يَومِ الفِطرِ وَسَبَبُ وُجُوبِ العُشرِ اَلاَرَاضِیُ النَّامِيَةُ بِحَقِيقَةِ الرِّيعِ وَسَبَبُ وُجُوبِ الخَرَاجِ الاَرَاضِیُ الصَّالِحَةُ الزِّرَاعَةِ فَكَانَت نَامِيَةً حُكماً وَسَبَبُ وُجُوبِ الوُضُوءِ الصَّلوٰةُ عِندَالبَعضِ وَلِهٰذَا وَجَبَ الوُضُوءُ عَلٰی مَن وَجَبَت عَلَيهِ الصَّلوٰةُ وَلَا وُضُوءَ عَلٰی مَن لَا صَلوٰةَ عَلَيهِ وَقَالَ البَعضُ سَبَبُ وُجُوبِهِ الحَدَثُ

وَوُجُوبُ الصَّلٰوةِ شَرطٌ وَقَد رُوِيَ عَن مُحَمَّدٍ رحمه الله ذالک نَصاً وَوُجوبُ الغُسلِ اَلحَيضُ وَالنِفَاسُ وَالجَنَابَةُ .

ترجمه : اودصدقة الفطر دوجوب سبب داسی سرده چی دی ئی تکلیف برداش کوی او ځوک چی دی ئی ولی ده اوپه اعتبار دسبب تلوار جائز ده حتی چی تریوم الفطر مخکی اداء کول جائز ده اودعشردجوب سبب هغه ځمکه ده چی په حقیقی پیداوار سره نامی وی اودخراج دوجوب سبب هغه ځمکه ده چی دزراعت صلاحیت لری اوداحکماً نامی ده اودوضوء دوجوب سبب دبعض په نزد لمونځ ده له دی وجه اودس پرهغه شخص باندی واجب ده چی پرهغه باندی لمونځ واجب وی اوپر هغه شخص واجب نه ده پرکوم چی لمونځ واجب نه وی اوبعض وائی چی وضوء دوجوب سبب حدث ده اووجوب دصلاة شرط ده اوداله امام محمد رح ځخه صراحتاً مروی ده اودغسل دوجوب سبب حیض نفاس اوجنایت ده.

تشریح : مصنف رح وائی دصدقة الفطر دوجوب سبب داسی سر ده چی دهغه دی تکلیف برداش کوی یعنی دده اخراجات ترسره کوی اودده ولی وی نوکله چی دصدقة الفطر سبب داشوله دی وجه که تریوم الفطر مخکی صدقة اداء کړ شی دا اداء صحح ده ځکه سبب یعنی رأس موجود ده اودعشر دوجوب سبب هغه ځمکه ده چی دپیداوار په وجه نامی وی اودخراج دوجوب سبب هغه ځمکه ده چی دزراعت صلاحیت لری اوهغه ځمکه حکماً نامی ده او د اوداسه دوجوب سبب دبعضوپه نزد لمونځ ده اوهمدا وجه ده چی اودس پرهغه شخص واجب ده چی پرهغه باندی لمونځ واجب وی پرهغه شخص باندی نه ده واجب چی پرهغه باندی لمونځ واجب نه وی لکه حائضه اوبعض وائی چی دا اوداسه دوجوب سبب حدث ده اووجوب دصلاة شرط ده اوداخبره له امام محمد رح ځخه صراحتاً مروی ده اودادوهم قول صحح نه ده ځکه سبب هغه وی چی هغه ته حکم مفضی وی اوحدث چونکه مزیل دطهارت ده له دی وجه وضوء مفضی وطهارت ته نه ده لهذا حدث د اوداسه سبب نه ده اود غسل دوجوب سبب حیض نفاس جنابت ده ځکه غسل دی شیانوته مضاف وی.

فصل قَالَ القَاضی اَلاِمَامُ اَبُوزَيدِ اَلمَوَانِعُ اَربَعَةُ اَقسَامٍ مَانِعٌ يَمنَعُ انعِقَادَ العِلَّةِ وَمَانِعٌ يَمنَعُ تَمَامَهَا وَمَانِعٌ يَمنَعُ ابتِدَاءَ الحُكمِ وَمَانِعٌ دَوَامَهُ نَظِيرُ الاَوَّلِ بَيعُ الحُرِّ وَالمَيتَتِ وَالدَمِ فَاِنَّ عَدَمَ المَحَلِّيَةِ يَمنَعُ انعِقَادَ التَّصَرُّفِ عِلَّةً لِافَادَةِ الحُكمِ وَعَلى هذَا سَائِرُ التَّعلِيقَاتِ عِندَنَا فَاِنَّ التَّعلِيقَ يَمنَعُ انعِقَادَ التَّصَرُّفِ عِلَّةً قَبلَ وُجُودِ الشَّرطِ عَلى مَاذَكَرنَاهُ وَلِهذَ لَوحَلَفَ لَايُطَلِّقُ اِمرَاتَهُ فَعَلَّقَ طَلَاقَ اِمرَاتِه بِدُخُولِ الدَّارِ لَايَحنَثُ .

ترجمه قاضی امام ابوزید رح ویلی دی موانع څلورقسمه دی یومانع چی منع له انعقاد دعلت ځخه راولی اوبل مانع هغه ده چی منع له اتمامه دعلت راولی اوبل مانع هغه ده چی ابتداء دحکم منع

کوی اوبل مانع هغه ده چی دوام دحکم منع کوی داول مثال دآزاد اومردار ، اووینی بیع ده ځکه عدم ده محل ددی خبری منع کوی چی تصرف دبیع دی دحکم فائده کولو لپاره علت شی اوبناء پر دی باندی ټول تعلقات دی زموږ په نزد ځکه تعلیق تروجود دشرط مخکی منع راولی له دی ځخه چی تصرف دبیع دی علت شی اومنعقده دی شی بناء پرهغه باندی چی موږ ذکر کړل له دی وجه که یو شخص قسم وکړی چی زه خپلی ښځی ته طلاق نه ورکوم اوبیائی دخپلی ښځی طلاق معلق کړ پردخول ددار باندی حانث نه ده.

تشریح: قاضی ابوزید ؒ وائی چی موانع څلورقسمه دی یوقسم داسی مانع ده چی منع راولی له انعقاده دعلت اویوقسم داسی مانع ده چی منع داتمام دعلت کوی اویوقسم داسی مانع ده چی منع دابتداء دحکم کوی اویوقسم داسی مانع ده چی منع له دوام دحکم څخه راولی اوبعض وائی چی موانع پنځه دی څلوردغه مذکوردی اوپنځم هغه ده چی منع داتمام دحکم کوی لکه خیار رویت اوبعض وائی چی شپږ دی پنځه دغه مذکور دی اوشپږم داده چی دوام دعلت منع کوی لیکن که په دی کښی غور وشی داپه څلورقسم کی داخل ده.

حاصل داده چی مصنف ؒ څلور موانع ذکر کړل داول مثال دآزاد ، اومردار ،اووینی بیع ده په دی طریقه چی بیع علت ده اوملک حکم ده یعنی دبیع له انعقاده ورسته مشتری لره ملک ثابتیږی لیکن چونکه آزاد ، اومردار ، اووینه ، مال نه دی له دی وجه محل دبیع نه دی کله چی دوی محل دبیع نه شو نودوی منع کوی له دی څخه چی دابیعه علت شی دملک لپاره اوهمدارنګه زموږ په نزد ټول تعلیقات مانع دي له انعقاده دعلت یعني زموږ په نزد معلق باالشرط مخکی تروجود دشرط داسی ده لکه عدم مثلاً که یو شخص خپلی ښځي ته وویل ان دخلت الدار فانت طالق په دی صورت کی تعلیق یعنی ان دخلت الدار مخکی تروجود دشرط دانت طالق دعلت کیدلو لپاره مانع ده همداوجه ده چی که یو شخص قسم وکړ چی خپلی ښځی ته طلاق نه ورکوم اوبیائي دخپلی ښځی طلاق معلق پردخول ددار باندی کړ حانث نه ده.

وَمِثَالُ الثَّانِی هَلَاکُ النِّصَابِ فِیْ أَثْنَاءِ الْحَوْلِ وَامْتِنَاعُ أَحَدِ الشَّاهِدَیْنِ عَنِ الشَّهَادَةِ وَرَدُّ شَطْرِ الْعَقْدِ

ترجمه: اودوهم مثال دکال په مینځ کی دنصاب هلاک کیدل اوله دوو شاهدانو څخه دیوه انکار له شاهدی څخه اودعقد دیوه جز رد کوی.

تشریح: دمانع ددوهم قسم مثال دکال په مینځ کی دنصاب هلاک کیدل ده ځکه نصاب علت ده لپاره دوجوب دزکوة لیکن دعلت علت هغه وخت مکمل کیږی چی پرمال باندی کال تیرشی همداوجه ده چی دکال تر تیریدولو مخکی دزکوة مطالبه نه کول کیږی نودکال په مینځ کی که نصاب موجود شی مانع ده لداتمامه دعلت یعنی دکال په مینځ دنصاب هلاک له وجه علت مکمل نه ده ځکه خو په دی صورت کی زکوة ساقط هم ده اوهمدارنګه ددوو شاهدانو شاهدی علت تامه ده لیکن که یوه شاهد

شاهدي ورکړه اودوهم له شاهدي ورکولو څخه منع وکړه دلته علت تام نه ده يعني ديوه شاهدي منع نه شاهدي څخه مانع ده له اتمامه دعلت او همدارنګه په عقد بيع اوعقد نکاح کښي ايجاب او قبول علت تام ده نوکه ايجاب موجود شو او قبول موجو نه وؤ علت تام نه ده.

ومثال الثالث البيع بشرط الخيار وبقاء الوقت في حق العذر.

ترجمه: ددريم مثال بيع په شرط دخيار ده او بقاء دوخت ده په حق دا صاحب دعذر کي.

تشريح: دمانع ددريم قسم مثال بيع په شرط دخيار ده ځکه علت يعني ايجاب وقبول موجود دی په محل دبيع کی ليکن دخيار په وجه شرعاً ملک ثابت نه ده نو خيار شرط داسی مانع ده چی منع کوی ابتداء دحکم يعني ملک لپاره دمشتری دوهم مثال بقاء دوخت ده په حق دمعذورکی مسئله داده چی معذور مثلاً سلسل بوله به دوخت لپاره اودس کوی اودا اودس دوخت ترآخره باقی ده که څه هم دده دبولو څاڅکی لويږی نودلته داودس دماتوالی علت موجود ده ليکن دبقاء دوخت دحکم دنقض دوضوء منع راولی يعني ترڅو چی وخت باقی وی پرعلت باندی حکم دنقض دوضوء مرتبه نه ده.

ومثال الرابع خيار البلوغ والعتق والرؤية وعدم الكفاءة والاندمال في باب الجراحات على هذا الأصل.

ترجمه: اودمانع دڅلورم قسم مثال خيار بلوغ اوخيار عتق، خيار رويت، عدم کفاءت اوپه باب دجراحاتو کښي دزخم جوړيدل پردی اصل ده.

تشريح: اودمانع دڅلورم قسم مثال خيار بلوغ خيار رويت اوعدم کفاءت اودزخم جوړيدل ده يعني که ديوه کوچنی اويا کوچنی پلار يانيکه ددوی نکاح وکړه دانکاح ثابته ده مګر هغه وخت چی دوی بالغ (لوی) شی دانکاح فسخه کولای شی نوبلوغ ددی نکاح ددوام مانع ده اوهمدارنګه که مولی دمينځی نکاح وکړه دانکاح منعقده ده ليکن له آزاديدو ورسته دی ته دفسخ اختيار شته دلته خيار عتق ددی نکاح ددوام مانع ده اوهمدارنګه که مشتری مبيعه ليدلی نه وه اوبيع ئی وکړه په دی بيع سره مشتري ته ملک ثابت ده ليکن له ليدلو ورسته دخيار رويت په وجه مشتر دبيع دختمولو حق لری لهذا داخيار رويت دبيع دحکم ددوام مانع ده اوهمدارنګه که بالغی نجلی له غير کف سره نکاح وکړه ولی حق دفسخ لری لهذا عدم کفاءت مانع ده ددوام دحکم اوهمدارنګه که يوشخص بل ته يوی زخمی کړی اوبيا دازخم په داسی شکل جوړ شی چی هيڅ اثرئی باقی پاته نه وی پرزخم ورکونکی باندی ديت واجب نه ده لهذا دزخم جوړوالی هم مانع ده ددوام دحکم.

وهذا على اعتبار جواز تخصيص العلة الشرعية فأمّا على قول من لا يقول بجواز تخصيص العلة فالمانع عنده ٥ اقسام يمنع ابتداء العلة ومانع يمنع اتمامها ومانع يمنع دوام الحكم وأمّا عند تمام

العلّة فَيَثبُتُ الحُكمُ لَا مُحَالَةَ وَعَلى هذَا كُلُّ مَاجَعَلَهُ الفَرِيقُ الأوّلُ مَانِعًا لِثُبُوتِ الحُكمِ جَعَلَهُ الفَرِيقُ الثّانِى مَانِعًا لِتَمَامِ العِلّة وَعَلى هذَا الأصلِ يَدُورُ الكَلَامُ بَينَ الفَرِيقَينِ .

ترجمه : اوداعلت شرعيه دتخصيص دجواز په اعتبار سره ده اودهغو په قول چې په جواز دتخصيص دعلت قائل نه دی ددوی په نزد مانع دری دی يومانع هغه چې ابتداء دعلت منع کوی اويومانع هغه ده چې داتمام دعلت منع کوی يومانع هغه ده چې دوام دحکم منع کوی اوبهر حال دعلت داتمام په ووخت کی هغه حکم ضرور ثابت ده اوپه دی تقسم باندی هرهغه چې اول فريق دثبوت دحکم مانع گرزولی وی دوهم فريق هغه داتمام علت لپاره مانع گرزوی اوپردی اصل باندی کلام دائر ده په مينځ دفريقينو کښی.

تشريح : مصنف ؒ فرمائی چې موانع څلور قسمه دی دهغوحضراتو په نزدباندی چې دعلت دتخصيص په جواز سره قائل دی يعنی په دی سره قائل دی چې کيدی شی چې علت دی موجود وی مگرحکم موجود نه وی اومشائخ دعراق په دی سره قائل نه دی ليکن کوم خلک چې دعلت دتخصيص په جواز سره قول نه کوی دهغوپه نزد معانع دری قسمه ده يوقسم هغه مانع چې منع راولی له ابتداء دعلت څخه دوهم قسم هغه مانع ده چې منع راولی له اتمام دعلت څخه دريم قسم هغه مانع ده چې دوام دعلت منع کوی اوداقسم مانع چې ابتداء دحکم منع کوی جائز نه ده ځکه کله چې تام علت موجود وی دحکم وجود ضروری ده له دی وجه چې علت موجود وی اوحکم موجو د نه وی داصورت جائز نه ده مصنف ؒ وائی کوم شی چې اول فريق دثبوت دحکم لپاره مانع بللی ده دوهم فريق هغه دتمام دعلت لپاره مانع بولی پر دی اصولوباندی دفريقينوپه منيځ کی کلام دائر ده.

فَصلٌ اَلفَرضُ لُغَةً هُوَ التّقدِيرُ

فَصلٌ اَلفَرضُ لُغَةً هُوَ التّقدِيرُ وَمَفرُوضَاتُ الشّرعِ مُقَدّرَاتُهُ بِحَيثُ لَايَحتَمِلُ الزّيَادَةَ وَالنّقصَانَ وَفِى الشّرعِ مَاثَبَتَ بِدَلِيلٍ قَطعِيٍّ لَا شُبهَةَ فِيه وَحُكمُهُ لُزُومُ العَمَلِ بِه وَالاعتِقَادبِه .

ترجمه:فرض په لغت کی اندازه کول ده اومفروضات دشرع دشريعت اندازه کړشوی شيان دی چې دزيادت اونقصان احتمال نه لری اوپه شريعت کی فرض هغه شرعی حکم ده چې په دليل قطعی سره ثابت وی اوپه هغه کښی شبه نه وی اودهغه حکم داده چې په هغه عمل اواعتقاد کول واجب ده

تشريح: مشروعه عبادات څلورقسمه دی (۱) فرض (۲) واجب (۳) سنت (۴) نفل فرض په لغت کی اندازه کولوته وائی لهذا له مفرضات شرع څخه هغه شيان مراد دی چې په شريعت اندازه شوی وی اوپه هغوکښی دزيادت اوکمبوت احتمال نه وی الله ﷻ فرمائی فنصف مافرضتم ای قدرتم په اصطلاح دشريعت کښی فرض هغه شرعی حکم ته ويل کيږی چې ثابت په دليل قطعی سره وی اوپه

هغه کښې هيڅ شک او شبه نه وی لکه لمونځ او مقدارت شرعيه څلورقسمه دی يو قسم هغه دی چی په دوی کښې زيادت او کمبوت دواړه نشی کيدای لکه حدود دوهم هغه ده چی دواړه پکښې ممکن وی لکه الله ﷻ چی فرمائی ماتدری نفس ماذاتکسب غدا دريم هغه ده چی زيادت پکښې ممکن نه وی ليکن کمبوت پکښې ممکن وی لکه دامام صاحب په نزد خيار شرط او څلورم هغه ده چی په هغه کښې.

کمبوت ممکن نه وی ليکن زيادت ممکن نه وی لکه مده دسفر.

مصنف رحمه الله دفرض حکم داده چی په ده سره عمل او اعتقاد دواړه واجب دی لکه پريښوونکی چی ئی فاسق ده او منکر کافر ده.

وَالْوُجُوبُ هُوَ السُّقُوطُ يَعْنِى مَايَسقُطُ عَلَى العَبد بِلَا اختِيَارٍ مِنْهُ وَقِيلَ هُوَ مِنَ الوَجْبَة وَهُوَ الاضطِرَابُ سُمِّيَ الوَاجِبُ بِذَالِكَ لِكَونِه مُضطَرِبًا بَينَ الفَرضِ وَالنَّفلِ فَصَارَ فَرضًا فِى حَقِّ العَمَلِ حَتّٰى لَا يَجُوزَ تَركُهُ وَنَفلًا فِى حَقِّ الاعتِقَا دِ فَلَا يَلزَمُنَا الاعتِقَادُ بِه جَزمًا وَفِى الشَّرعِ هُوَ مَاثَبَتَ بِدَلِيلٍ فِيهِ شُبهَةٌ كَالآيَةِ المُؤَوَّلَةِ وَالصَّحِيحِ مِنَ الآحَادِ وَحُكمُهُ مَا ذَكَرنَا.

ترجمه : اودوجوب معنی سقوط ده يعنی هغه چی پربنده باندی بغير دده له احتيار ه ساقط وی اوچاه بيا ويلی دی چی وجوب ماخوذ له وجه څخه ده او هغه اضطراب ده واجب ته اضطراب وويل شو له دی وجه چی دی دفرض او نفل په مينځ کی مترد دد نودی په حق عمل کښی فرض ده ترداسی اندازی چی پريښودل ئی جائز نه ده او په حق داعتقاد کی نفل ده نوزمونږ لپاره پرده باندی قطعاً اعتقاد کول لازم نه ده او په شريعت کښی واجب هغه ده چی په داسی دليل سره ثابت وی چی په هغه کښی شبه وی لکه آيات مؤوله او صحح خبرواحد اود ده حکم هغه ده چی مونږ ذکر کړ.

تشريح : دوجوب دوی لغوی معانی دی يوه سقوط او بله اضطراب داولی معنی په اعتبار ئی وجه دتسميه داده چی واجب پربنده باندی بغير [illegible] ه ساقط وی يعنی طاری وی حتی چی بنده دی ته محتاج ده چی خپله ذمه فارغه کړی [illegible] اعتبار ئي وجه دتسميهٔ داده چی واجب دفرض او نفل په مينځ کی مضطرب او [illegible] په حق دعمل کی دفرض په شان ده څکه چی ترک ئی جائز نه ده که چاپريښودی فاسق ده او [illegible] کښی دنفل په شان ده څکه پرواجب باندی قطعاً اعتقاد کول لازم نه ده اود [illegible] په شان دده منکر کافر نه ده او په شريعت کی واجب هغه ده چی په داسی دليل سره ثابت وی چی په هغه کښی شبه وی لکه آيات مؤوله که او صحح خبرواحد او حکم ئی هغه ده چی مونږ ذکر کړچی عملاً دفرض په مرتبه کی ده او اعتقاداً دنفلو په مرتبه کی ده.

فوائد: داياد ساته چی دفرض او واجب مذکوره فرق دامام اعظم په نزد ده او دامام شافعی رحمه الله په نزد ددوی دوؤ په مينځ کی فرق شته څکه دده په نزد فرض هغه ده چی کونکی ئی لائق دمدح ده

او پرېښودونکی ئی لائق دذم ده او داتعریف فرض او واجب دواړو ته شامل ده لیکن دامام شافعی رح په نزد هم فرض دوه قسمه ده یو هغه ده چی ثابت په دلیل قطعی سره وی او پرهغه باندی عمل او اعتقاد دواړه ضروری وی دوهم هغه ده چی ثبوت ئی په دلیل ظنی سره وی په دی باندی عمل کول ضروری ده لیکن اعتقاد باندی کول ضروری نه ده البته دواړو ته فرض ویل کیږی او داحناف په نزد فرضو ته واجب ویل کیږی لیکن واجب ته مجازاً فرض نه ویل کیږی.

وَالسُّنَّةُ عِبَارَةٌ عَنِ الطَّرِيقَةِ الْمَسْلُوكَةِ الْمَرْضِيَّةِ فِي بَابِ الدِّينِ سَوَاءٌ كَانَتْ مِن رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ اَوْمِنَ الصَّحَابَةِ قَالَ عَلَيهِ السَّلَامُ عَلَيكُم بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ مِن بَعدِي عَضُّوا عَلَيهَا بِالنَّوَاجِذِ وَحُكْمُهَا اَنَّهُ يُطَالَبُ الْمَرءُ بِاِحيَائِهَا وَ يَستَحِقُّ اللَّائِمَةَ بِتَركِهَا اِلَّا اَن يَترُكَهُ بِعُذرٍ

ترجمه : او سنت هغه غوره کړشوی طریقه ده چی شریعت اختیار کړی ده خواه که هغه طریقه در سول الله علیه وسلم وی او که دصحابه کرامو وی آنحضرت ﷺ فرمائي زما طریقه اختیار کړی او له ماورسته دخلفاء طریقه ددی نیول وکړی په نواجذ (دمخ په غاښو) سره او دسنت حکم داده چی انسان څخه دهغه احیاء مطالبه کیږی او دده دترک په وجه دملامتیا مستحق ده نه هغه چی په عذر سره ئی ترک کړی وی.

تشریح : سنت په لغت کی طریقی ته ویل کیږی ښه وی او که بده او په شریعت هغه غوره کړشوی طریقی ته ویل کیږی چی هغه په دین کی اختیار شوی وی یعنی پرهغی باندی اکثر مداومت راغلی وی لیکن په طریقه دفرض او واجب نه وی خواه که داطریقه دآنحضرت ﷺ وی او که دصحابه کرامو وی دواړو ته سنت ویل کیږی څکه دنبی کریم ﷺ حدیث ده <u>علیکم بسنتی وسنته الخلفاء راشدین من بعدی عضوعلیها بالنواجذ</u> دسنت حکم داده چی له انسان څخه دهغه داحیاء مطالبه کول کیږی او دترک کولو په وجه مستحق دملامتیا ده نه هغه چی ترک ئي په وجه دعذر کړی وی.

وَالنَّفلُ عِبَارَةٌ عَنِ الزِّيَادَةِ وَالْغَنِيمَةُ تُسَمّٰى نَفَلًا لِاَنَّهَا زِيَادَةٌ عَلٰى مَا هُوَ الْمَقصُودُ مِنَ الْجِهَادِ وَفِي الشَّرعِ عِبَارَةٌ عَمَّا هُوَ زِيَادَةٌ عَلَى الْفَرَائِضِ وَالْوَاجِبَاتِ وَحُكْمُهُ اَن يُثَابَ الْمَرءُ عَلٰى فِعلِهِ وَلَا يُعَاقَبُ بِتَركِهِ وَالنَّفلُ وَالتَّطَوُّعُ نَظِيرَانِ

ترجمه : او نفل دزیادت نوم ده او دغنیمت دمال نوم نفل ښودل شوی ده څکه هغه دجهاد ترمقصد زیات شی ده او په شریعت کښی دهغه جز نوم ده چی ترفرائض او واجباتو زیادت وی او دد ی حکم داده چی په کولو سره ئي انسان ته ثواب ورکول کیږی او رپه نه کولو ئي عذاب نه ورکول کیږی او نفل او تطوع نظیر دی.

تشریح : نفل په لغت کی زائد شی ته ویل کیږی او دغنیمت مال هم چونکه ترمقصد دجهاد زیادت شی ده له دی وجه ده ته هم نفل ویل کیږی او په شریعت کی نفل هغه عبادت ته وائی چی تر فرائض

اوواجباتو زیادت وی دنفل حکم داده چی په کولو سره ئي انسان ته ثواب ورکول کیږی اوپه نه کولوسره ئی عقاب نه ورکول کیږی.

فَصلُ اَلعَزِیمَةُ هِیَ القَصدُ

فَصلُ اَلعَزِیمَةُ هِیَ القَصدُ اِذَا کَانَ فِی نِهَایَةِ الوَکَادَةِ وَلِهٰذَا قُلنَا اِنَّ العَزمَ عَلَی الوَطئِ عَودٌ فِی بَابِ الظِّهَارِ لِأَنَّهٗ کَالمَوجُودِ فَجَازَ اَن یُعتَبَرَ مَوجُوداً عِندَ قِیَامِ الدَّلاَلَةِ وَلِهٰذَا لَوقَالَ اَعزِمُ یَکُونُ حَالِفًا وَفِی الشَّرعِ عِبَارَةٌ عَمَّا لَزِمَنَا مِنَ الاَحکَامِ ابتِدَاءً سُمِّیَت عَزِیمَةً لِاَنَّهَا فِی غَایَةِ الوَکَادَةِ سَبَبُهَا وَهُوَکَونُ الاٰمِرِ مُفتَرِضَ الطَّاعَةِ بِحُکمِ اَنَّهُ اِلٰهُنَا وَنَحنُ عَبِیدُهٗ وَاَقسَامُ العَزِیمَةِ مَا ذَکَرنَا مِنَ الفَرضِ وَالوَاجِبِ.

ترجمه: عزیمت دا ایرادی نوم ده په دی شرط چی انتها ئی مؤکده به وی په دی وجه موږ وایو چی دوطی عزم په باب دظهار کی عود ده ځکه دوطی عزم دوطی دوجود په مرتبه کی ده نود دلالت دوجوب په وخت کی داعزم موجود بلل جائز ده له دی وجه که یوچا وویل اَعزِمُ حالف ده اوپه شریعت کی عزیمت دهغو احکامونوم چی پر موږ باندی ابتداءً لازم وی عزیمت له دی وجه ورته ویل شوی ده چی انتهائی مضبوط ده دده دسبب دتاکید په وجه اوهغه سبب دهغه ذات امر ده چی اطاعت ئی فرض ده په دی حکم سره چی هغه زموږ معبود ده اوموږ دده غلامان یو اودعزیمت اقسام هغه دی چی موږ ذکر کړل یعنی فرض او واجب.

تشریح: چونکه احکام مشروعیه دوه قسمه دی یو عزیمت اوبل رخصت له دی وجه مصنف رح ددوی تعریف اوتقسیم بیانوی په دی طریقه چی عزیمت په لغت کی انتهائی پخی اومؤکدی ایرادی ته ویل کیږی له دی وجه موږ وایو که مظاهر دوطی عزم وکړ داله ظهار څخه رجوع ده لکه څنګه چی حقیقتاً وطی رجوع ده لهذا پرده باندی دظهارکفاره واجب ده ځکه دوطی عزم په مرتبه دوجود دوطی کی ده اوکه یوچا اَعزِمُ وویل حالف ده دهغه په خلاف کولو باندی حانث کیږی په شریعت کی عزیمت دهغو احکامو نوم ده چی پرموږ باندی ابتداءً لازم وی عزیمت ته عزیمت له دی وجه وویل شو چی دی دا سبابو دتاکید په وجه مؤکد ده اودسبب تاکید داده چی امر هغه ده چی دهغه اطاعت پرموږ باندی فرض ده ځکه هغه زموږ دبیان مطابق فرض اوواجب دی.

وَاَمَّا الرُّخصَةُ فَعِبَارَةٌ عَنِ الیُسرِ وَالسُّهُولَةِ وَفِی الشَّرعِ صَرفُ الاَمرِ مِن عُسرٍ اِلٰی یُسرٍ بِوَاسِطَةِ عُذرٍ فِی المُکَلَّفِ وَاَنوَاعُهَا مُختَلِفَةٌ لِاختِلاَفِ اَسبَابِهَا وَهِیَ اَعذَارُ العِبَادِ وَفِی العَاقِبَةِ تَؤُولُ اِلٰی نَوعَینِ اَحَدُهُمَا رُخصَةُ الفِعلِ مَعَ بَقَاءِ الحُرمَةِ بِمَنزِلَةِ العَفوِ فِی بَابِ الجِنَایَةِ وَذٰلِکَ نَحوُ اِجرَاءِ کَلِمَةِ الکُفرِ عَلَی اللِّسَانِ مَعَ اِطمِینَانِ القَلبِ عِندَ الاِکرَاهِ وَسَبُّ النَّبِیِّ عَلَیهِ السَّلاَمُ وَاِتلاَفُ مَالِ المُسلِمِ وَقَتلُ النَّفسِ

ظُلمًا وَحُكمُهُ اَنَّهُ لَو صَبَرَ حَتّى قُتِلَ يَكُونُ مَاجَورًا لِامتِنَاعِهِ عَنِ الحَرَامِ تَعظِيمًا لِنَهيِ الشَّارِعِ عَلَيهِ السَّلَامُ .

ترجمه : رخصت داسانتیااوسهولت نوم اوپه شریعت کی دی ته وائي چی مکلف دعذر په وجه دسختی بدلیدل په اسانی سره اود رخصت انواع مختلفی دی په اعتبار داسبابو اوهغه عذرونه دبنده دی اوانجام ئی عول ده ودوؤ قسمو ته یو رخصت سره له حرمته لکه په باب دجنایت کی عفوه مثلاً لکه اجراء دکلمی دکفر پرژبه باندی په وخت داکراه کنبی سره له اطمنانه دزړه اوانحضرت ﷺ ته بنکنځل کول او دمسلمان مال تلف کول په ظلم سره اودیو انسان قتل کول اوددی حکم داده چی که صبر وکړشی ترهغه وخته چی قتل کړشی دی ماجورده په نزد دخدای ځکه منع ئی وکړه له حرام کار څخه په وجه دتعظیم دآنحضرت ﷺ .

تشریح : مصنف رح وائي رخصت په لغت کی آسانتیاته ویل کیږی اوپه شریعت کی دی ته وائی چی دحکم سختی بدله کړی په آسانی سره لپاره دعذر دمکلف اودرخصت اسباب چونکه مختلف دی له دئ وجه دده اقسام هم مختلف دی اوسباب درخصت دبندګانو عذرونه دی لیکن رخصت په اعتبار دانجام سره دوه قسمه ده یوداده چی دفعل کول مباح وی سره له حرمته یعنی فعل اصلاً مباح نه وی لیکن دبنده دعذر په وجه مباح ګرزول شوی وی ددی مثال داده لکه یوشخص چی یوجنایت وکړی اوبیاولی دجنایت ده ته بخښنه وکړی دجنایت کونکی مواخذه الله ﷻ نه کوی ددی مطلب دانه ده چی داجنایت مباح عمل ده بلکه داجنات اوس هم حرام ده لکه څنګه چی مخکی حرام وؤ لیکن دبخښنی صرف دافائده ده چی دجنایت کونکی لپاره اخروی مواخذه نشته اومصنف رح ددی لپاره مثال داذکر کوی چی داکراه په وخت کنبی صرف په ژبه دکفر کلمه وویل په دی شرط چی زړه به ئی مطمئین وی اوهمدارنګه آنحضرت ﷺ ته بدویل اودیو مسلمان مال په ظلم سره تلف کول اویو مسلمان قتل کول داکراه په وجه ددی تولو کارونو کولو اجازه شته لیکن ددی دامطلب نه ده چی داکارونه مباح دی بلکه اوس هم حرام دی لکه څنګه چی مخکی حرام وؤ لیکن داکراه په وجه صرف دومره شول چی اخروی مواخذه وربادی نشته مصنف رح فرمائی چی داکراه ددغه قسم حکم داده چی که مکره صبروکړی یعنی مذکوره کاورنه ونه کړی ترهغه وخته چی قتل کړشی نودی الله ﷻ په نزد صاحب داجر ده.

وَلنَّوعُ الثَّانِى تَغيِيرُ صِفَةِ الفِعلِ بِاَن يَّصِيرَ مُبَاحًا فِى حَقِّهِ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى فَمَنِ اضطُرَّ فِى مَخمَصَةٍ وَذَالِكَ نَحوَالاِكرَاهِ عَلٰى اَكلِ المَيتَةِ وَشُربِ الخَمرِ وَحُكمُهُ اَنَّهُ لَوِامتَنَعَ عَن تَنَاوُلِهِ حَتّٰى يَكُونَ اٰثِمًا بِامتِنَاعِهِ عَنِ المُبَاحِ وَصَارَكَقَاتِلِ نَفسِهِ .

ترجمه : او دوهم قسم دفعل صفت ته تغیر ورکول په دی طریقه چی هغه دده په حق کی مباح شی الله تعالی ﷻ فرمائی کوم شخص چی مجبور شی په سخته لوږه اوددی مثال دمردار خوړلو

اوڅښلو ته مجبور کیدل ده اوددی حکم داده چی که دهغه له خوړلوصبر وکړی ترهغه وخته چی مړشی گنهگاره ده دمباح کار په پریښودلو سره اودا داسی ده لکه خپل ځان چی قتل کړی.

تشریح: مصنف رحمه الله فرمائی درخصت دوهم قسم داده چی صفت دفعل متغیر کړ شی یعنی دده په حق کښی حرام حلال شی مثلاً که یوشخص له سختی لوږی اوتندی سره مخامخ شو په داسی اندازه چی دمرگ ویره ددی شخص په حق کښی مردار اوشراب حلا ل دی لهذا کله چی ددی شیانوخوړلواوڅښلو ته مجبورشی دومره اندازه خوړل اوڅښل ورته حلال ده چی له مرگه ځان په ژغوری اوددی قسم حکم داده که داشخص دمردار له خوړلومنع وکړی گنهگاره ده ځکه له مباح فعله ځخه ئی منع وکړه اوداشخص په مثل دهغه چاه ده چی خپل ځان ووژنی.

فَصلٌ اَلاحتجاجُ بلَا دَلیل

فَصلٌ اَلاحتجَاجُ بِلَا دَلِیل اَنوَاعٌ منهَا الاستدلَالُ بعَدَمِ العلّة علٰی عَدَمِ الحُکم مثَالُهُ اَلقَیئُ غیرُ نَاقض لاَنَّهُ لَم یَخرُج منَ السَّبِیلَین وَالاَخُ لَا یَعتقُ عَلَی الاَخ لاَنَّهُ لَا ولَا دَ بَینَهُمَا وَسُئلَ عَن مُحَمَّد اَیَجبُ القصَاصُ عَلٰی شَرِیک الصَّبیِّ قَالَ لَا لاَنَّ الصَّبیَّ رُفعَ عَنهُ القَلَمُ قَالَ السَّائلُ وَجَبَ اَن یَجبُ عَلٰی شَرِیک الاَبِ لاَنَّ الاَبَ لَم یُرفَع عَنهُ القَلَمُ فَصَارَ التَّمَسُّکُ بِعَدَم العلّة علٰی عَدَمِ الحُکمِ بِمَنزِلَة مَایُقَالُ لَم یَمُت فُلَانٌ لاَنَّهُ لَم یَسقُط منَ السَّطح.

ترجمه: داستدلال بلا دلیله څواقسام دی یودعلت په عدم سره دحکم پرعدم استدلال کول ده ددی مثال قی غیر ناقض ده ځکه خارج له سبیلین څخه نه ده او ورور پرور وربادندی نه آزادیږی ځکه ددوی په مینځ کښی دولادت رشته نشته له امام محمد رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چی دکوچنی پرشریک باندی قصاص واجب ده اوکه نه دوویل نه ده واجب اوسوالکونکی وویل نو پرشریک دپلار باندی واجب ده ځکه پلار غیر مکلف نه ده دااستدلال ده له عدم دعلت څخه پرعدم دحکم باندی داپه مرتبه ددی قول کښی ده چی فلانی مړ نه ده ځکه له بام څخه نه دراولیدلی.

تشریح: کله چی مصنف رحمه الله فارغه شوله بیانه ددلائلو اربعه وۏ اودهغو له ملحقاتو شروع ئی وکړه په بیان دهغوشیانو چی هغه په نفس لامر کښی دلیل نه دی ددی لپاره چی دلیل اوغیر دلیل فرق وشی.

مصنف رحمه الله فرمائي چی استدلال بلادلیله څوقسمه ده یواستدلال له عدم دعلت څخه پرعدم دحکم باندی ده مثلاً یوشخص داووائي چی قی اودس نه ماتوی اودلیل دا ووائي چی خارج له سبیلین څخه نه ده کوم شی چی خارج له سبیلین څخه نه وی هغه ناقض داوداسه نه ده لهذا قی ناقض داوداسه نه ده موږ وایو چی دااستدلال صحح نه ده ځکه داودس دماتولوعلت خارج من السبیلین نه ده بلکه وتل دنجاست ده خواه که خارج له سبیلین څخه وی اوکه نه وی اوله قی سره هم

کم ازکم یوځه ناپاکي خارجیږي لهذاقي اودس ماتوي اوکه پرخارج له سبیلینو باندی داودس ماتوالي منحصرکړشي بیامذکوره استدلالات صحح دي او حال داده ی ماتیدل د اوداسه حصر په خارج من السبیلین باندی نه ده او همدارنګه که یو شخص داووائي چي پروروورباندی ورور آزادنه ده یعنی که یو ورور دبل ورورمالک شي پرده باندی آزادنه ده اودلیل داووائي چي دورنو په مینځ کی دولادت رشته نشته دااستدلال هم صحح نه ده ځکه دمملوک دآزاد والی لپاره دمالک اومملوک په مینځ علاقه دولادت ضروری نه ده بلکه علاقه دمحرومیت کافی ده آنحضرت ﷺ فرمائی من ملک ذارحم محرم عتق علیه ؛ اوددوؤ ورنو په مینځ کی چونکه علاقه ده محرومیت موجوده ده لهذا مملوک وروړپرمالک ورورباندی آزاد ده.

اوهمدارنګه له امام محمد ؒ ځخه پوښتنه وشوه که بالغ اونابالغ په دواړو سره یوشخص قتل وکړی په دي صورت پرنابالغ باندی قصاص شته امام محمد ؒ ورته وویل نشته ځکه نابالغ غیر مکلف ده پرغیر مکلف باندی قصاص واجب نه ده نو چي دیوی حصی دقتل لپاره قصاس واجب نه شو لهذا په دوهمه حصه کی هم قصاص واجب نه ده یعنی پربالغ هم قصاص واجب نه ده .سوال کونکي وویل که پلار بل شخص له ځان سره ملګری کړی او خپل ځوی ووژنی نوباید پر دوهم نفر باندی قصاس جاری کړی شي ځکه پلارغیر مکلف نه ده دسوال کونکي داقول استدلال ده له عدم دعلت ځخه پرعدم دحکم اودا استدالال صحح نه ده ځکه دقصاص نه وجوب موقوفه پردی نه ده چي غیر مکلف به وی بلکه نور ډیر اسباب لری مثلاً مقتول دقاتل حقیقتاً یانسبتاً مملوک وؤ دامملوکیت هم دسقوط دقصاص لپاره علت ده اوځوی که څه هم دپلار حقیقتاً مملوک نه ده لیکن نسبتاً مملوک ده له دی وجه پلار پرځوی باندی نه قصاصیږی نوکله چي پرپلار باندی قصاص واجب نه شو لهذا دده پرشریک باندی هم قصاص واجب نه ده.

مصنف ؒ وائي استدلال له عدم دعلت ځخه پرعدم دحکم باندی داسی ده لکه یوځوک چی ووائي فلانی مړ نه ده ځکه له بام ځخه نه ده راولیدلی.

اَلّااِذَا کَانَت عِلَّةُ الحُکمِ مُنحَصِرَةً فِی مَعنی فَیَکُونُ ذَالِکَ المَعنی لَازِمًا لِلحُکمِ فَیُستَدَلُّ بِانتِفَائِهٖ عَلی عَدَمِ الحُکمِ مِثَالُهٗ مَارُوِیَ عَن مُحَمَّدٍ اَنَّهٗ قَالَ وَلَدَ المَغصُوبَةِ لَیسَ بِمَضمُونٍ لِاَنَّهٗ لَیسَ بِمَغصُوبٍ وَلَا قِصَاصَ عَلَی الشَّاهِدِ فِی مَسئَلَةِ شُهُودِ القِصَاصِ اِذَا رَجَعُوا لِاَنَّهٗ لَیسَ بِقَاتِلٍ وَذَالِکَ لِاَنَّ الغَصبَ لَازِمٌ لِضَمَانِ المَغصَبِ وَالقَتلُ لَازِمٌ لِوُجُودِ القِصَاصِ.

ترجمه : مګر هغه وخت که دحکم دعلت په وجه معنی کی منحصر وؤ هغه معنی دحکم لپاره لازمه ده نوددغی معنی په انتفاء سره استدلال پرعدم حکم باندی کول کیږی ددی مثال هغه ده چی له امام محمد ؒ ځخه مروی ده چی ده وویل دغصب کړشوی مینځی دکوچنی ضمان واجب نه ده ځکه هغه معصوب نه ده اوقصاص دشاهدانو په مسئله کی که شاهد له شاهدی ځخه رجوع وکړی

قصاص پرواجب نه ده ځکه قاتل نه ده او داله دی وجه چې دا غصب لازم ده او د قصاص دوجود لپاره قتل لازم ده.

تشریح: مصنف رح وائی له عدم دعلت څخه پرعدم دحکم باندی استدلال کول صحح نه ده لیکن هغه وخت که دحکم دعلت په یوه معنی کی منحصر وی هغه معنی دحکم لپاره لازم ده په دی صورت کی دعلت په عدم سره استدلال پرعدم دحکم باندی کیدای شی ځکه دا په حقیقت کی استدلال له انتفاء دلازم څخه ده پر انتفاء دملزوم باندی او استدلال له انتفاء دلازم څخه پر انتفاء دملزوم باندی صحح ده ددی مثال داده چی امام محمد رح فرمائي چی دمغصوب مینځي دکوچنی ضمان واجب نه ده او حال داده چی دغصب دضمان لپاره غصب لازم ده نوکله چی دکوچنی غیب موجود نه ده لهذا دده ضمان هم واجب نه ده او همدارنګه که دقتل شاهدانو دقاتل له قصاصه ورسته له شاهدی څخه منع وکړه پردوی باندی قصاص واجب نه ده ځکه شاهد قاتل نه ده او حال داده چی دقصاص لپاره قتل لازم ده.

وَكَذَا التَّمَسُّكُ بِاستِصحَابِ الحَالِ تَمَسُّكٌ بِعَدَمِ الدَّلِيلِ اِذ وُجُودُ الشَّيءِ لَا يُوجِبُ بَقَاءَهُ فَيَصلَحُ لِلدَّفعِ دُونَ الاِلزَامِ وَعَلَى هذَا قُلنَا مَجهُولُ النَّسَبِ حُرٌّ لَو اَدَّعَى عَلَيهِ اَحَدٌ رِقًّا ثُمَّ جَنَى عَلَيهِ جِنَايَةً لَا يَجِبُ عَلَيهِ اَرشُ الحُرِّ لِاَنَّ اِيجَابَ اَرشِ الحُرِّ اِلزَامٌ فَلَا يَثبُتُ بِلَا دَلِيلٍ.

ترجمه: او همدارنګه استدلال په استصحاب حال سره استدلال بی له دلیله ده ځکه دشی وجود دهغه بقاء ته مستلزم نه ده نو استصحاب حال ددفع صلاحیت لری دالزام صلاحیت نه لری بنا پردی باندی موږ وایو که یو شخص پرمجهول النسب باندی درقیت دعوه وکړی او بیا پر ده باندی جنایت وکړی نو پرده باندی دآزاد دیت واجب نه ده ځکه دآزاد دیت لازم ده بی له دلیله نه ثابیتیږی.

تشریح: مصنف رح وائي لکه ځنګه چی له عدم دعلت څخه استدلال پرعدم دکلمه استدلال بلا دلیله ده همدارنګه په استصحاب حال سره استدلال بلا دلیله ده ځکه دشی وجود دده بقاء ته مستلزم نه ده یعنی که یو شی په ماضی زمانه کی موجود وی دهغه لپاره دا ضروری نه ده چی هغه به فی الحاله هم باقی وی لهذا احناف وائي چی استصحاب حال ددفع لپاره دلیل کیدای شی لیکن دالزام لپاره دلیل نشی کیدای او شوافع وائي چی دالزام لپاره هم دلیل کیدای شی ددی په جواب کی احناف وائي چی استصحاب حال دالزام لپاره دلیل ګرزول استدلال بلا دلیله ده مصنف رح وائي چی بناء پردی چی استصحاب حال ددفع لپاره دلیل ده او دالزام لپاره دلیل نه ده موږ وایو که یو شخص مجهول النسب وی او بل شخص پرده باندی دادعوه وکړه چی دی رقیق ده او بیا دغه مدعی پرده باندی جنایت وکړ مثلاً لاس ئي ورمات کړ په دی صورت کی پرمدعی یعنی جانی باندی دآزاد دیت واجب نه ده بلکه دغلام دیت به ورکوی له دی خبری دا واضحه شوه چی دآزاد دیت په نسبت وغلام ته زیات ده ځکه پرمدعی باندی دآزاد دیت واجب کول الزام ده پرده باندی یعی دالازمیږی چی

استصحاب دی دلیل دالزام شی اوحال داده چی استصحاب دلیل دالزام نه ده لهذا دآزاددیت ثابتوی بلادلیله ده.

وَعَلی هذَا قُلنَا اذَا زَادَ الدَمُ عَلَی العَشرَة فی الحَیض وَللمَراة عَادَةٌ مَعرُوفَةٌ رُدَّت الی اَیَام عَادَتهَا وَالزَائدُ استحَاضَةٌ لاَنَ الزَائدَ عَلَی العَادَة اتَّصَلَ بدَم الحَیض وَبدَ م الاستحَا ضَة فَاحتَمَلَ الاَمرَین جَمیعًا فَلَو حَکَمنَا بنَقض العَادَة لَزمَنَا العَمَلُ بلَا دَلیل وَکَذَالکَ اذَا ابتَدَات مَعَ البُلُوغ مُستَحَاضَةً فَحیضُهَا عَشرَةُ اَیَام لاَنَ مَادُونَ العَشرَة تَحتَملُ الحَیضَ وَالاستحَاضَةَ فَلَو حَکَمنَا بارتفَاع الحَیض لَزمَنَا العَمَلُ بلَا دَلیل بخلَاف مَابَعدَ العَشرَة لقیَام الدَّلیل عَلی اَنَ الحَیضَ لَا تَزیدُ عَلَی العَشرَة.

ترجمه : اوبناء پردی اصولومونږ وایو که په زمان دحیض کښې وینه ترلس ورځې زیاته شوه اودښځې عادت معلوم وؤ ددی دعادت وورځوته رد کیږی اوزیادت استحاضه ده ځکه تر عادت زیاتی وینی دحیض اواستحاضی له وینو سره متصل دی ددواړو احتمال لری نوکه مونږ دعادت دنقض حکم وکړ پرمونږ باندی دبلادلیله عمل کولو الزام لګول کیږی اوهمدارنګه که ښځه له بلوغ سره مستحاضه شوه ددی حیض لس ورځي ده ځکه ترلس ورځي کم دحیض اواستحاضی دواړو احتمال لری نوکه مونږ دحیض دارتفاع حکم وکړ و نو پرمونږ دبلادلیله عمل الزام لګول کیږی اودډی پرخلاف له لس ورځی ورسته ده ځکه پرهغه باندی دادلیل موجو دده چی حیض ترلس ورځي زیات نه وی.

تشریح : مصنف رح وائي ددی اصل چی حکم دبلادلیله ثابت نه ده پربناء مونږ وایوکه په سلسله دحیض کښی دیو ښځي عادت معلوم وؤ مثلاً داعادت ئي وو چی دی ته په میاشت کی اوه ورځي وینه ورځي لیکن یوځل دعادت خلاف ترلس ورځی زیاته وینه ورشی په دی صورت کی ددی دعادت ورځوته ګرزول کیږی یعنی ددی حیض اوه ورځی شمارل کیږی هغه نوری زیادت ورځی استحاض ده ځکه ترعادت زیاته دحیض لپاره هم کیدای شی اوداستحاض لپاره هم کیدای شی نوکه مونږ دا ووایو چی ددی عادت بدل شو یعنی ددی عادت لس ورځي شو داعمل بلادلیله ده نوتعارض په وجه دحیض اواستحاضه دواړه جهة ساقط شو اوحکم پرمخکنی حالت یعنی عادت باندی باقی شو اوهمدارنګه که یوښځه په داسی حال کی بلوغ ته ورسیده چی ددی وینه راغله لیکن مسلسله راغلی په دی صورت کی لس ورځی دحیض دی باقی ورځی دمرض دی ترلس ورځی کم او تر دری ورځی زیات کښی دحیض او استحاضه دواړو احتمال شته که مونږ دحیض دانتفاع حکم وکړو مثلاً دا ووایو چی تراوه ورځی حیض له هغه ورسته ختم شو داثبوت دحکم ده بی له دلیله اوحال داده چی حکم بی له دلیله ثابت نه وی اوددی پرخلاف هغه وینه ده چی ترلس ورځی زیاته ده ځکه دلته دحیض پرعدم اوداستحاضی پروجود دلیل شته هغه داده چی حیض ترلس ورځی زیات نه وی لهذا ترلس ورځی زیات استحاضه ده.

وَمِنَ الدَّلِيلِ عَلٰى اَنْ لَا دَلِيلَ فِيهِ حُجَّةَ الدَّفْعِ دُوْنَ الْاِلْزَامِ مَسَاَلَةُ الْمَفْقُوْدِ فَاِنَّهٗ لَايَسْتَحِقُّ غَيْرُهٗ غَيْرُهٗ مِيْرَاثَهٗ وَلَوْمَاتَ مِنْ اَقَارِبِهٖ حَالَ فَقْدِهٖ لَا يَرِثُ هُوَ مِنْهُ فَانْدَفَعَ اِسْتِحْقَاقُ الْغَيْرِ بِلَادَلِيْلٍ وَلَمْ يَثْبُتْ لَهُ الْاِسْتِحْقَاقُ بِلَا دَلِيْلٍ.

ترجمه : اوددی لپاره دلیل چې استصحاب دلیل نه ده مگر په دفع کښې نه په لازم کښې مسئله دمفقود ده ځکه غیر مفقود دده دمیراث مستحق نه دی اوکه دده له اقرباء څخه دده مفقود والی په زمان کې مړشو مفقود دده وارث نه ده نوغیر استحقاق دفع شو بې له دلیله اوده لره بلادلیله استحقاق نه ثابتیږی.

تشریح :مصنف رح وائي ددی لپاره چې استصحاب حال په دفع کښې دلیل ده اوپه الزام کښې دلیل نه ده ددی لپاره دلیل مسئله دمفقود ده مسئله داده چې مفقود به دده په مال کې ژوندی شمارل کیږی ځکه مخکې تر مفقود کیدلو دی ژوندی وؤ لهذا په طریقه د استصحاب اوس هم ژوندی ده لهذا دده دمفقود والی په زمانه کښې دده یو رشته دار دده په مال کښې مستحق دمیراث نه ده اوکه دده په رشته دارانو کښې یووفات شو مفقود دده وارث نه ده ځکه که په دی صورت کې استصحاب حال دلیل کړ واو مفقود ژوندی شمارکړو دالازمیږی چې دنورو په مال کښې دمفقود دحق ثابتولو لپاره استصحاب دلیل دالزام شو اوحال داده چې استصحاب دلیل دالزام نه ده.

فَاِنْ قِيْلَ هٰذَا رُوِيَ عَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ اَنَّهٗ قَالَ لَا خُمُسَ فِي الْعَنْبَرِ لِاَنَّ الْاَثَرَ لَمْ يَرِدْبِهٖ وَهُوَ التَّمَسُّكُ بِعَدَمِ الدَّلِيْلِ قُلْنَا اِنَّمَا ذَكَرَ ذَالِكَ فِيْ بَيَانِ عُذْرِهٖ فِيْ اَنَّهٗ لَمْ يَقُلْ بِالْخُمُسِ فِي الْعَنْبَرِ وَلِهٰذَا رُوِيَ اَنَّ مُحَمَّدًا سَاَلَهٗ عَنِ الْخُمُسِ فِي الْعَنْبَرِ فَقَالَ مَابَالُ الْعَنْبَرِ لَا خُمُسَ فِيْهِ قَالَ لِاَنَّهٗ كَالسَّمَكِ فَقَالَ فَمَا بَالُ السَّمَكِ وَلَا خُمُسَ فِيْهِ قَالَ لِاَنَّهٗ كَالْمَاءِ وَلَا خُمُسَ فِيْهِ وَاللّٰهُ تَعَالٰى اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

ترجمه : که سوال وشي چې له امام ابوحنیفه رح څخه مروی ده چې په عنبر کښې خمس نشته ځکه پردی باندی حدیث وارد نه ده دا استدلال له عدم دلیل څخه مورِ وایو چې داذکرشوی ده په بیان دعذر کې په دی باره کې چې دی په عنبر کې په خمس سره قائل نه ده له دی وجه روایت کړشوی ده چې امام محمد رح له امام ابوحنیفه رح څخه په عنبرکې دخمس په باره کښې سوال وکړ بیا امام محمد رح وویل په عنبرکښې خمس ولی نشته امام صاحب وویل له دی وجه چې هغهِ په مرتبه دماهی کې ده بیا امام محمد رح وویل په ماهي کې خمس ولی نشته ده ورته وویل چې هغه په مرتبه داوبوکښې ده اوپه دی کښې خمس نشته.

تشریح : په دی عبارت کښې پردی باندی چې استدلال په استدلال بلا دلیله سره استدلال صحح نه ده پردی اصل باندی یوسوال کیږی سوال داده چې امام ابوحنیفه رح په عنبرکښې دخمس په باره کښې فرمائي چې په عنبرکښې خمس واجب نه ده ولی پردی باندی هیڅ حدیث نشته له دی وجه په عنبرکښې خمس واجب نه ده اودحدیث دعدم په وجه استدلال کول پرعدم دوجوب دخمس په عنبر

کښې دا استدلال ده په عدم دلیل سره نو کله چې امام ابو حنیفه رح په عدم دلیل سره استدلال وکړ
نو تاسو ولې ددې انکار کوی چې استدلال په عدم د دلیل سره صحح نه ده جواب داده چې دا سوال
په هغه وخت کې کیدای شي که امام صاحب رح اخبره په طریقه دا استدلال کړی وای بلکه دا په طریقه
دبیان دعذر ده په دې باره کښې چې دی په عنبر کښې په خمس باندې قائل نه ده لکه دی چې
فرمائي چې قیاس ددې تقاضې کوی چې په عنبر کې خمس واجب نه شي اودقیاس مخالف
یوحدیث هم نشته یعنی که دقیاس مخالف حدیث وای مونږ به په هغه سره عمل کړی وای قیاس به
مو ترک کړی وای نوچې په عنبر کښې پروجوب دخمس باندې حدیث نشته لهذا مونږ په قیاس سره
عمل کوو اوپه عنبر کښې خمس واجب نه بولو اوقیاس داده چې خمس دغنیمت په مال کښې
واجب ده او دغنیمت مال هغه ده چې له کفارو په زور نیول شوی وی اوعنبر چونکه له کفارو څخه
په زور نه ده نیول شوی بلکه له سمندر څخه اخستل شوی دی له دې وجه عنبر غنیمت نه ده کله چې
عنبر غنیمت نه شو نو په ده کښې خمس واجب نه ده داخبره په دې طریقه روایت شوی ده چې امام
محمد رح وخپل مهربان استاد ته امام اعظم رح ته وویل چې په عنبر کښې خمس واجب ده اوکه نه
ده ورته وویل خله واجب! ده یعنی واجب نه ده امام محمد رح ورته وویل په عنبر کښې دخمس دنه
وجوب دلیل څه ده امام صاحب ورته وویل چې عنبرپه مرتبه دماهی کښې ده په ماهي کښې خمس
واجب نه ده لهذا په عنبر کښې هم واجب نه ده امام محمد رح وویل په ماهی کښې ولې خمس واجب
نه ده امام صاحب ورته وویل چې ماهی په مرتبه دابو کښې ده په اوبو کښې خمس واجب نه ده لهذا
په ماهی کښې هم واجب نه ده.

تمّت بالخیر

الله ﷻ دې وامام اعظم ابو حنیفه رح اونور ائمه مجتهدینو او مصنف رح ته دخپل زیار او کوشش
اوددې عظیم خدمت کامله بدله ورکړی.

رَبَّنَا تَقَبَّل مِنَّا وَتُب عَلَینا اِنَّکَ اَنتَ التَّواب الرحیم

(مترجم: مولوی محمّد یوسی کلیم {انیس} (غفرله ولوالدیه)

دعا محتاج

ابو خالد